د امریکا ضد

# اسلامي جهاد

مهم اسناد

ژور اسرار

حکمتيار

Download from:aghalibrary.cm

# فهرست

| موضوع | صفحه |
| --- | --- |
| د ناشر وینا | ۱ |
| د امارت اسلامي مشر ملا محمد عمر آخوند ته | ۷ |
| د اکتوبر د اوومې په مناسبت | ۱۵ |
| تجدید عهد | ۲۳ |
| د جهاد په اړه څو مهمي پوښتني | ۲۶ |
| فرصت طلایی برای همسایه من | ۵۰ |
| بر درد های امت اشك بریزیم | ۵۵ |
| نامه سرکشاده به سران کشور های اسلامی | ۵۹ |
| بیان | ۶۷ |
| بیان | ۷۰ |
| افغانانو ته ډاډینه | ۷۵ |
| آیا د عراق تراژیدي پای ته ورسېده؟ | ۷۸ |
| له اسیرانو سره غیر انساني او وحشیانه سلوك | ۸۷ |
| بیان | ۹۱ |
| نظامي عمل او غوښتني ئې | ۹۴ |
| به دلیرمردان مؤمن کوهدامن وشمالي | ۱۰۴ |
| جنرال ته خطاب | ۱۰۸ |
| د اساسي قانون لوبه | ۱۱۲ |
| جهاد ضد امریکائی در افغانستان | ۱۲۴ |
| اسلامي نهضت انقلاب راوستی شي؟ | ۱۲۹ |
| بیان | ۱۴۷ |

پيغام ---------- ۱۵۱
د صدام حسين نيونه ---------- ۱۵۸
د قرآن فتوی ---------- ۱۶۰
د لوی اختر پيغام ---------- ۱۶۳
عمومي قيام ---------- ۱۶۶
بيان ---------- ۱۶۹
افغان ولس ته ---------- ۱۷۱
وضاحت ---------- ۱۷۵
مقاطعه با انتخابات امريکائی ---------- ۱۷۷
پيام ---------- ۱۸۰
له امريکائي انتخاباتو سره مقاطعه ---------- ۱۸۴
بيان ---------- ۱۸۷
بيان ---------- ۱۹۲
بيان ---------- ۱۹۷
بيان ---------- ۲۰۰
بيان ---------- ۲۰۴
بيان ---------- ۲۰۶
زموږ ملت او امريکائي انتخابات!! ---------- ۲۰۹
انتخابات او نتائج ئې ---------- ۲۱۳
پيغام ---------- ۲۳۲
ملت ما و انتخابات امريکائی!! ---------- ۲۳۵
امريکا د تجزيې او زوال په لور ---------- ۲۴۰
د کمکي اختر په مناسبت ---------- ۲۴۷
دروغجني سولي ته بلنه او زموږ ځواب ---------- ۲۵۱
د خان آباد د اډې تخليه ---------- ۲۵۵
د لوی اختر پيغام ---------- ۲۵۹

اعلامیه ---------------------------------------------------------------------------------- ۲۶۲
د دلوي ۲۲ --------------------------------------------------------------------------------- ۲۷۰
د ثور اوومه------------------------------------------------------------------------------- ۲۷۲
کومه فتوی سمه وه؟!! ---------------------------------------------------------------------- ۲۸۲
د کابل خونړۍ پېښې او زموږ غبرګون ------------------------------------------------------ ۲۸۸
پیام افغانها به برادران مجاهد عراقی شان----------------------------------------------- ۲۹۳
عراقي مجاهدینو ته د دوی د افغاني ورونړو پیغام ------------------------------------------- ۲۹۷
پیام به شهریان مؤمن کابل-------------------------------------------------------------- ۳۰۰
مصاحبه با هفته نامه چراغ! ---------------------------------------------------------------- ۳۰۸
توصیه هایی به محقق نسب و رفقایش -------------------------------------------------------- ۳۲۱
د لبنان اوربند --------------------------------------------------------------------------- ۳۴۱
پر لبنان د صهیونستي رژیم برید ------------------------------------------------------------ ۳۵۰
د استقلال ورځ ------------------------------------------------------------------------- ۳۵۴
د میزان ۱۵ ------------------------------------------------------------------------------ ۳۵۷
پیام تبریکی عید سعید فطر --------------------------------------------------------------- ۳۶۳
د اختر مبارکۍ پیغام------------------------------------------------------------------- ۳۷۰
د مذاکراتو په اړه زموږ دریځ ---------------------------------------------------------------- ۳۷۶
د نصرت مېنې او سپدونکو ته -------------------------------------------------------------- ۳۸۰
د دلوي ۲۲ -------------------------------------------------------------------------------- ۳۸۵
امریکایانو ته د افغاني او عراقي مجاهدینو ګډ پیغام------------------------------------- ۳۹۱
له سلطان صدیقي سره مرکه---------------------------------------------------------------- ۳۹۷
د امریکا د انتخاباتو نتایج ------------------------------------------------------------------ ۴۰۴
د لوی اختر په مناسبت پیغام --------------------------------------------------------------- ۴۰۵
د صدام په اعدامولو ځوك خوښ شو؟ ----------------------------------------------------- ۴۱۴
له کرستهوفر هار سل سره لومړۍ مرکه---------------------------------------------------- ۴۱۷
د کرستهوفر هارسل دوهمه مرکه---------------------------------------------------------- ۴۳۰

له سلیم صافي سره مرکه ---------------------------------------------- ۴۳۵
عراقي مجاهدینو ته ------------------------------------------------------ ۴۲۸
د باجوړ بمباري ---------------------------------------------------------- ۴۷۴
د الحیات د ورځپاڼې له خبریال جمال اسماعیل سره مرکه--------------------- ۴۷۲
د اسامه په شهادت به امریکا ډېره خوشحاله شي که ایران؟ ------------------ ۴۸۲
نابللی مېلمه ------------------------------------------------------------ ۴۹۴
ایران ته د امریکا ګواښونه------------------------------------------------- ۴۹۷
ایراني فلم ته امریکائي جائزه!!--------------------------------------------- ۵۰۴
د شیطان پاچایي----------------------------------------------------------- ۵۳۰
اوس باید جاسوسۍ ته نوی تعریف راپیدا کړو!!------------------------------ ۵۳۵
ایرانیانو ته څو مشورې------------------------------------------------------ ۵۴۰
له ورور حکمتیار سره د الجزیرې د خبریال مرکه ---------------------------- ۵۴۲
د چا خبره ومنو، د ملا متوکل که د مفتي حکیمي؟! -------------------------- ۵۵۷
خدایه! تا ته شکایت کوو؛ د دوست په جامه کې دښمن نه -------------------- ۵۲۲
د افغانستان لپاره کوم نظام غوره ګڼو ؟----------------------------------------- ۵۲۲
د لمر تلویزیون د خبریال مرکه--------------------------------------------------- ۵۷۷
د فرانسې له خبري آژانس سره مرکه ------------------------------------------- ۵۹۰
د الجزیرې له تلویزیون سره مرکه . ------------------------------------------ ۵۹۹
د نوا او صبا د رادیو او تلویزیون د خبریال مرکه ---------------------------- ۲۱۰
د NBC له خبریال سره مرکه--------------------------------------------------- ۲۳۲
د اسوشییتید پریس له خبریال سره مرکه------------------------------------- ۲۴۲
د شمشاد تلویزیون له خبریال سره مرکه ------------------------------------ ۲۴۸
د کریستوفر دربیمه مرکه ------------------------------------------------------ ۲۲۳
له سهیل قلندر سره مرکه------------------------------------------------------ ۲۷۳
د ARY له خبریال ضیاء الحق سره مرکه---------------------------------------- ۲۸۴
د یوه مبارك آیت صحیح تفسیر ------------------------------------------------ ۲۹۴

باغي معبود شو!! ---------------------------------------------------------- ۶۹۸
ادراك او احساس د زړه كار دى كه د دماغ ؟ ---------------------------------- ۷۰۴

بسم الله الرحمن الرحیم

# د ناشر وینا

د میثاق ایثار اداره ویاړي چي دا ځل د ورور حکمتیار د مقالو، مرکو او اعلامیو یوه داسي مجموعه د جهاد مینه والو او د خپل هېواد په آزادۍ مینو افغانانو ته وړاندي کوي چي د افغانستان د تاریخ د یوه ډېر حساس پړاو پېښي په کي انځور شوې، له هغي ورځي چي د امریکا جمهور رئیس په افغانستان د برید ګواښ وکړ، د برید لپاره تیاری پیل شو، د نړۍ له ټولو هېوادو مخصوصاً زموږ له ګاونډیو ئې وغوښتل چي په دې برید کي د امریکا ملاتړ او مرسته وکړي، مسکو، ډهلي، تهران او اسلام آباد د ملګرتیا او مرستي اطمئنان ورکړ، مسکو او تهران شمالي ائتلاف ته امر وکړ چي د امریکایانو د ځمکنیو فوځونو په څېر عمل وکړي او د طالبانو د حکومت نسکورول ورته آسانه کړي، چا ورته اډې ورکړې، چا په افغانستان د بمباریو لپاره له خپلي فضا نه د استفادې اجازه ورکړه، چا د امریکا مخالفین نیول او لاس پښې تړلي ئې امریکایانو ته سپارل، د افغانستان شاوخوا سیمي کي ئې ګڼ شمېر اډې جوړي او په زرهاوو عسکر ئې په کي ځای په ځای کړل، د ١٣٨٠کال د میزان په پنځلسمه برید پیل شو، طالبانو څو اونۍ په کابل کي او بیا لنډه موده په کندهار کي مقاومت وکړ، شمالي ټلواله چي د امریکائي

افسرانو تر قومندۍ لاندې او د دوی د ځمکنیو فوځونو په څېر جنګېدل، امریکائي بمبارد طیارو ته به ئې کوردینات ورکول او د دوی مشرانو به په خپلو مرکو کې له امریکایانو نه غوښتل چې خپلې بمبارۍ مزید تشدید کړي او لازیات ستر بمونه وکاروي، په طالبانو بده ورځ راغلې وه، کابل ئې ناڅاپي او د ډېرو د انتظار خلاف ډېر ژر پرېښود، په کندهار کې ئې هم مقاومت ونه شو کړی، دوی نه د داسې برید تصور کولی شو، نه ئې مناسب ترتیبات ورته نیولي وو او نه ئې د ماتې په صورت کې د خپلې تګلارې په ارتباط څه غور کړی وو، هر څوك په خپله مخه ولاړ، مشران ئې د پناه ځې په لټه کې شول، ډېری ئې پاکستان ته او ځینې ئې ایران ته واوښتل، خو پاکستاني او ایراني چارواکو ونیول، پاکستانیانو د دوی او د القاعدې نږدې اوه سوه غړي ونیول او لاس تړلي ئې امریکایانو ته وسپارل، او ایرانیانو نږدې شپږ سوه کسان ونیول چې افغانان ئې د کابل حکومت ته تسلیم کړل او نور ئې خپلو خپلو حکومتونو ته، تاسو به په دغه کتاب کې وګورئ چې د حزب اسلامي مشر د داسې حالت د راتلو وړاندوینه کړې وه، د طالبانو مشرانو ته ئې په خپلو لیکونو او تماسونو کې په پر له پسې توګه ویلي وو چې د افغانستان په ضد د واشنګټن او مسکو د ګډ اقدام احتمال ډېر قوي دئ، په دې برید کې به دوی له شمالي ټلوالې نه د ځمکني فوځ په توګه استفاده کوي، لومړی به تخار او مزار پرې نیسي او بیا به د کابل د نیولو لپاره اقدام کوي، د حزب اسلامي مشر د طالبانو د ځینو مشرانو له دې وړاندیز سره توافق وکړ چې د شمال دفاع حزب ته پرېږدي، دا په شمال او کابل کې د طالبانو د مسئولینو غوښتنه وه، د دوی د شمال او کابل شوراګانو په اتفاق سره له کندهاره وغوښتل چې له دې کار سره موافقه وکړي، خو د کندهار چارواکو له دې سره موافقه ونه کړه، د حزب اسلامي مشر دوی ته ویلي وو چې امریکایان به د ځمکې له لارې د خپلو ځواکونو د لېږلو غلطي نه کوي، دې ته به ترجیح ورکوي چې په هوائي بریدونو سره په تخار، مزار او د کابل په شمال کې د طالبانو لومړۍ دفاعي لیکې ماتې کړي او شمالي ټلوالې ته د مخکې تګ لار پرانېزي، باید سر له اوسه داسې ترتیبات ونیولی شي چې امریکایانو ته دا موقع په لاس ورنه شي، له افغانانو نه ځان ته ځمکنی فوځ جوړ نه کړی شي، دا اقدامات

باید د دوی له برید نه مخکې ترسره شي، باید له برید نه مخکې داسې اقدامات وشي چې امریکایانو ته داسې ځواك په لاس ورنه شي چې د ځمکنی فوځ په توګه ترې کار واخلي، دا له برید نه مخکې مشورې وې، خو تر دې د مخه ئې دوی او د شمال ټلوالې ته د بحران د حل سوله ییزه طرحه وړاندې کړې وه چې په دې کتاب کې به ئې تفصیلات ولولئ، د کندهار چارواکو ته نه یوازې د طالبانو نورو مشرانو او په ځانګړې توګه د دوی قومندانانو دا مشوره ورکوله چې له حزب اسلامي سره د یوې ګډې جبهې په جوړولو خبره وشي بلکې د اسامه بن لادن او طاهر یولداش په څېر د دوی ملګرو دا غوښتنه ترې کوله، خو د کندهار چارواکو د دې په ځای چې د داسې جبهې له جوړولو سره توافق وکړي د حزب اسلامي له مشره ئې وغوښتل چې هېواد ته د راتلو په ځای له ایراني چارواکو سره خبرې وکړي او له طالبانو سره مرستې ته ئې چمتو کړي!! خو هغه په ځواب کې ورته وویل: عجیبه ده چې تاسو له ایرانه د مرستې طمعه لرئ، ایران خو ستاسو په ضد په دې جګړې کې د امریکایانو ملګرتیا کوي، دا اوس ئې په پنجشیر، خواجه بهاء الدین، درهٔ صوف، او بلخاب کې د سوق او ادارې داسې ګډ مرکزونه جوړ کړي چې د امریکا ، انګلستان او ایران فوځي افسران ئې غړیتوب لري او په ګډه ستاسو په ضد جنګ اداره کوي، کومې امریکائي طیارې چې پر کندهار او هرات بمونه ورو‌ي د ایران له فضاء تېرېږي، له ایرانه د طالبانو د مرستې دا انتظار او له ګډ مقاومت سره د دوی مخالفت دومره عجیب برېښي چې هیڅوك ئې نه شي توجیه کولی. کله چې ورور حکمتیار له طالبانو نه د ګډ مقاومت په اړه مثبت ځواب ترلاسه نه کړ، پرېکړه ئې وکړه چې هېواد ته ستون شي او د حزب اسلامي مجاهدین په مقاومت کې د برخې اخیستو لپاره چمتو کړي، د کابل او کندهار له سقوط نه وروسته له حزب اسلامي نه پرته بل داسې ځواك نه وو پاتې چې میدان ته راووځي او د اشغالګرانو په ضد مقاومت پیل کړي، د حزب اسلامي مشر لا د مخه دا پرېکړه کړې وه خو د طالبانو د ځینو مشرانو د مخالفت په وجه دا سفر وځنډېدو ، په دې وخت کې امریکایانو له ایراني چارواکو نه وغوښتل چې دی ورتسلیم کړي، له ایرانه د ده د اخراج فیصله وشوه، د ایراني چارواکو له خبرولو پرته هېواد ته ستون شو او له ستنېدو سره سم ئې د جهاد

اعلان وکړ. دا هغه وخت وو چي پر افغانانو او ټولي نړۍ د امریکا د هیبت خپسکي خپل تور او مهیب وزر داسي خور کړی وو چي هیچا د امریکا په ضد د څه کولو جسارت نشو کولی، د مقاومت د پیل خبره هر چا ته خوب و خیال و جنون برېښېده، خو الحمد لله مقاومت پیل شو، په لومړي سر کي کمزوری او په محدوده کچه، خو ډېر ژر ئې لمن له یوې سیمي بلي ته خوره شوه، د طالبانو پلوي مجاهدین هم نږدې یو نیم کال وروسته میدان ته راووتل، په لومړي سر کي د خپلو مشرانو له موافقې پرته، بیا یوازي د کابل حکومت په ضد او په داسي بڼي کي چي پر بهرنیو ځواکونو له برید نه به ئې په کلکه ډډه کوله، خو ورو ورو د اشغالگرو ځواکونو په ضد په مقاومت کي برخي اخیستو ته اړ شول.

پر عراق د امریکایانو برید زموږ مقاومت ته نوي ابعاد ورکړل، ښایي الله تعالی اراده کړې وه چي امریکا په یوې بلي جگړي کي هم ښکېل شي، که امریکایان د اشغال په لومړیو شپو ورځو کي له پراخ او شدید مقاومت سره مخامخ شوي وی نو ښایي پر عراق ئې له برید نه ډډه کړې وی، په عراق کي هم عراقي فوځ ډېر ژر ماتې وخوړه، بغداد د اشغالگرانو په منگولو کي پرېووت، هلته هم عراقي شیعه وو د تهران په وینا د امریکایانو ملگرتیا وکړه، هلته هم ثابته شوه چي د اسلامي هېوادو فوځونه یوازي د خپلو مظلومو ولسونو د ځپلو لپاره جوړ شوي، نه له خپلو هېوادونو نه د دفاع او د بهرني تېري د دفعه کولو لپاره، د عراق هغه ستر فوځ نه دومره مقاومت وکړی شو لکه د فلوجې د وړې سیمي مجاهدینو او نه ئې دښمن ته دومره تلفات ورواړول لکه د همدغي سیمي مجاهدینو، دا دئ گورئ چي د پاکستان فوځ هم د کشمیر د آزادولو نه توان لري او نه جرأت، خو د خپل ولس د وژلو او ځپلو لپاره هر کار ته تیار دئ او هغه هم د امریکا په وینا او د هغوی د گټو لپاره، د اسلامي ملکونو د فوځونو بنسټ د هغو اشغالگرو ځواکونو په لاس اېښودل شوی چي نیمه پېړۍ مخکي ئې په ټولي اسلامي نړۍ مخامخ حکومت کولو، د دغو فوځونو واگي د هغو جنرالانو په لاس کي دي چي دوی او کورنۍ له همغه وخت نه تر نن پوري د بهرنیو ځواکونو تنخواه خواره دي او د هغوی لپاره د خپل ولس په ضد له هیڅ خیانت او جنایت نه ډډه نه کوي.

په دې کتاب کي به دا او دې ته ورته ډېري مهمي خبري، دقيق تاريخي اسناد او ژور اسرار ترلاسه کړئ، په دې کتاب کي به د دې پوښتنو ځوابونه ومومئ چي آيا امريکا ته د شوروي برخليك منتظر دی؟ د امريکا د يرغل لاملونه څه او پايلې به ئې څه وي؟ د امريکايانو په ضد روان مقاومت څنگه پيل شو؟ اوس په کوم پړاو کي دئ او راتلونکې به ئې څنگه وي؟

په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ويلی شو چي دا مجموعه د دغي حساسي مرحلې ډېر دقيق، ثقه او ډاډمن تاريخ زموږ مخي ته ږدي.

په افغانستان او عراق باندي د امريکائي ځواکونو د بريد له پيل نه د ۱۳۸۶کال د اسد ترمياشتي د امريکايانو مالي او ځاني تلفات د دوی د اعلان شوې احصايې له مخي داسي دي:

| | افغانســـتان | عـــراق |
|---|---|---|
| د فوځی مـــــاموريت ټولې ورځې | ۲۱۲۰ | ۱۵۹۲ |
| په فوځی عملياتو کې د مړو شمېر | ۲۲۵ | ۲۹۸۶ |
| له پوځی عملياتوپرته د مړو شمېر | ۱۲۱ | ۶۴۷ |
| د شديدو سوځيدلوفوځيانوشمير | ۸۷۲ | ۱۲۱۱۵ |
| ټولو استخدام شويو فوځيانو شمير | ۲۷۰۰۰ | ۱۵۷۰۰۰ |
| د ۲۰۰۷ کال تر سپټمبر پوري ټول مصارف | ۱۲۲بيليونه ډالره | ۴۴۸بيليونه ډالره |
| د هري ورځي مـــــــتوسط مصرف | ۵۸,۷ ميليونه ډالره | ۲۷۱ ميليونه ډالره |

دا شمېره د ۲۰۰۷ کال د جولای په ۲۴ نېټه تجديد شوې ده او په News Meat کي خپره شوې ده. کانگريس د **۲۰۰۵** کال لپاره اتيا ملیارده، شپېته د عراق او

شل د افغانستان لپاره ټاکلي وو ، د ۲۰۰۲ لپاره ئې یو سل شل او د ۲۰۰۷ لپاره ئې یو سل څلوېښت ملیارده منظور کړې. دا مالي او ځاني تلفات یوازي د امریکایانو دي، د امریکا د ائتلافي ملکونو تلفات هم د دوی د فوځونو د شمېر په تناسب دي، د بېلګي په توګه په افغانستان کي د آلمان په کال کې ۱،۲ ملیارده مصارف ښودل شوي.

که دا تلفات په افغانستان کي د روسانو او په ویتنام کي د امریکایانو له تلفاتو سره مقایسه کړو نو په ډاډ او اطمئنان سره ویلی شو چي امریکا ته نه یوازي یوه ستره ماتې انتظار کوي بلکي برخلیك به ئې تر شوروي اتحاد هم بد وي.

دا په پام کي ولرئ چي د ویتنام د جنګ ټول مصارف ۳۲۰ ملیارده او په افغانستان کي د روسانو ټول مصارف نږدې اتیا ملیارده ډالر وو.

دعا کوو چې الله تعالی په موږ او ټول اسلامي امت هغه ورځ هم وګوري چي دافغانستان او عراق د آزادۍ ورځې لمانځي او د امریکا د ماتې، زوال او د شوروي اتحاد په برخلیك د اخته کېدو شاهد وي. و ما ذلك علی الله بعزیز

د میثاق ایثار اداره

## د طالبانو د حکومت له نسکورېدو نه څو میاشتې مخکې د ورور حکمتیار لیك د طالبانو مشر ملا محمد عمر آخوند ته

بسم الله الرحمن الرحيم

## د امارت اسلامي محترم مشر ملا محمد عمر آخوند

السلا م علیکم و رحمة الله و برکاته و بعد:

محترم ورور مولوي صاحب هاشمي تهران ته راغلی وو، د امارت اسلامي د ځینو مسئولینو پیغامونه ورسره وو، غوښتل ئې د هېواد د روان بحران د حل په هکله خپل نظریات تاسو ته ولیکم، دا لیك د ده په وینا او د ده په لاس تاسو ته لیږم، د لیك ترڅنګ د هغې طرحې نسخه هم درلیږم چې د روان دردونکي حالت د خاتمې لپاره مو اعلان کړې.

د افغانانو مطلق اکثریت ته د روانې جګړې پایلې ډېرې خطرناکې برېښي، دا حالت نه د هېواد په ګټه دی او نه د ولس په ګټه، پدې نه خدای راضي کیږي او نه اسلام ته څه ګټه رسېږي، دا وضعیت د اوږدې مودې لپاره دوام نشي کولی، له روانې جګړې نه چې کومې ستونزې او کړاوونه راولاړ شوي، افغان مظلوم ولس ته د دې مزید تحمل ګران شوی، ما ته د هېواد د پېښو بهیر، د افغانستان په اړه سیمه ایز تحرکات، بهرنۍ مداخلې، د روسانو، امریکائیانو او هند جدي هڅې داسې برېښي چې باید د سریع او غیر مترقبه تبدیلي احتمال جدي وګڼو، که دا تبدیلي د

اسلام دښمنه ځواکونو په لاس او د دوی د ګډو هڅو په نتیجه کي ترسره شي معلومه ده چي نتایج به ئې څه وي، له تاسو سره به څه کیږي، له مجاهدینو سره به څه کیږي او په مجموع کي له اسلام غوښتونکو سره به څه کیږي؟!

د ښمنان په دې هڅه کي وو او دي چي د اسلام په لار کي د افغان ولس قربانۍ هدر شي، د اسلامي جهاد تجربه ناکامه شي، د افغان جهاد په نتیجه کي چي په ټولي نړۍ مخصوصاً اسلامي امت کي اسلام ته د بیا راګرځېدو کومه جذبه او شور او شوق راولاړ شوی، دا د تل لپاره پای ته ورسوي، د همدې لپاره ئې روانه جګړه په افغان ولس وتپله او د دوام لپاره ئې لګیا دي بې دریغه مصارف کوي.

څوك چي د اسلام سرلوړي غواړي او په خپل مظلوم ولس زړه سوی لري، باید د دښمنانو د دغي خطرناکي توطئې د شنډولو لاري چاري ولټوي، باید د جګړي د ختمولو او ډاډمني صلحي د تأمین او له روان حالت نه د یوه ثابت، آرام، مستقر او ډاډمن حالت په لوري د هېواد د روانولو هڅه وکړي.

موږ پدغو څو لسیزو کي ګڼ شمېر حکومتونه ولیدل چي یو په بل پسې راغلل او ولاړل، ډېرو دا ګمان نه کولو چي دومره ژر به ځي، خو ولاړل، نه د رقیبانو ټکول، نیول او وژل او نه د پردیو بې دریغه مرستو د دوی دوام تضمین کړی شو، داسي ولاړل چي یا ئې مرګ په برخه شو یا رسوایي، که دوی د تبدیلي او له یوه لاس نه بل لاس ته د قدرت د سوله ایز انتقال له یوې معقولي او عادلانه طرحي سره توافق کړی وی، د جګړي له لاري د خپلو رقیبانو د حذفولو او د پردیو په مرسته په قدرت کي د پاتې کېدو لار ئې نه وی غوره کړې، نه به هېواد ورانېدو، نه به زموږ ملت د ناروا جګړو په اور کي وریت کېدو، نه به دښمن ته د لاس وهنو موقع په لاس ورتله او نه به خپله د خپلو غلطو عزائمو او بې ځایه غرور او ځان غوښتني قرباني کېدل.

زما امید دا دی چي تاسو او ستاسو ملګري به د دغو حکامو د تګ لارو غندنه کوئ او یوه داسي لاره به غوره ګڼئ چي دا کرغېړنه جګړه د تل لپاره پای ته ورسوي. تاسو دا کار کولی شئ، دا هم ستاسو د دنیا او هم د آخرت په ګټه دئ.

زما عقیده دا ده چي زموږ طرحه نه یوازي د جګړي د ختمولو او د یوه با

ثباته اسلامي نظام په لوري د هېواد د ببولو ترټولو معقوله طرحه ده، بلکي ستاسو خير تر نورو د مخه په دې کي مضمر دئ. زه هيڅ دليل نه گورم چي ستاسو له خوا دي د دې طرحی مخالفت وشي. يوازي هغه کسان بايد د دی طرحې مخالفت وکړي چي له جگړو نه تغذيه کيږي، جگړو په داخل او خارج کي د مجللو قصرونو او آخرين ماډل موټرو خاوندان کړي، نه له خدايه وېرېږی او نه پر خپل مظلوم ملت او د دوی په غمجن حالت زړه سوی لري.

زه ډاډه يم چي که تاسو لدې سره توافق وکړئ جگړه ډېر ژر ختمېږي، په ټول هېواد کي به لدې بهير سره د يو ځای کېدو بيرغونه اوچت کيږي، بيا به هيڅوك كه هرڅومره له بهر نه تحريك او تقويه كيږي د دې بهير مخي ته نشي خنډ کېدی. په درناوي

حکمتيار

۱۳۸۰۱۵۱۲۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# طرحی برای حل بحران کشور

این طرح قبل از تجاوز نیروهای امریکائي بر کشور ما اعلان گردید که بخش اول آن به طالبان، ائتلاف شمال و بقیه گروهها ارسال شد.

..... ما معتقدیم که اکثریت مطلق افغان ها چه کسانی که در داخل اند و چه آنهائی که در خارج اند ، از وضع فعلی کشور خسته اند و در جستجوی راه حلی برای خاتمه بحران اند ، می خواهند جنگ خاتمه بیابد ، مردم مظلوم و بیچاره ما از وضع دردناك و غم انگیز کنونی نجات بیابند ، مداخلات بیرونی در امور داخلی کشور ما متوقف شود ، تلاش های ناجائز برای رسیدن به قدرت از طریق جنگ و استمداد از اجنبی در جنگ علیه هموطن و رقیب و حریف خود خاتمه بیابد ، نظام اسلامی در کشور قائم شود و حکومت منتخب منبعث از اراده مردم و در خدمت مردم تاسیس شود.

ولی در رابطه با اسلوب و روشی که برای تحقق این اهداف بکار می رود ، میان گروه های افغانی ، اختلاف رأی وجود دارد ، عده ای جنگ را راه حل می شمارند و بر آن اصرار می ورزند ، جنگ به کمك سلاح و مهمات اجانب؛ عده ای تشکیل حکومت ائتلافی و توزیع قدرت میان احزاب سیاسی را کلید حل بحران می شمارند ، برخی دیگر توافق میان حامیان بیرونی گروه های درگیر و کشورهای همسایه، مخصوصاً مسکو و واشنگتن را برای خاتمه بحران ضروری می شمارند و از اینرو به اجلاس ۲+۶ چشم امید بسته اند. برخی دیگری جرگه های انتصابی و

گردهم آئی هایی چون روم و بن را که تمویل و توجیه آن به اعتراف مسئولین امریکایی، از سوی امریکا صورت می گیرد ، راه حل می شمارند.

ما به این باوریم که با این طرح ها نمی توان به بحران کشور خاتمه بخشید ، اینها در واقع تکرار تجارب ناکام گذشته می باشند. نه با جنگ مشکل کشور ما حل شد ، نه با حکومت های ائتلافی، نه با لویه جرگه های انتصابی که سابقه طولانی دارد و نه با نظامهای گذشته شاهی، همهٔ اینها آزموده شده اند ، نباید این نسخه های ناکاره را دوباره سفارش کرد و نباید این تجربه ها ی ناکام را تکرار کرد.

ما معتقدیم که افغان ها به ابتکار تازه ای ضرورت دارند. باید تکرار تجارب ناکام گذشته و اصرار بر آن را کنار گذاشت. ما طرحی جدیدی ارائه کرده ایم که شامل تشکیل حکومت مؤقت غیر ائتلافی، شورای مقتدر و منتخب، تدوین و تصویب قانون اساسی برای کشور، تشکیل اردوی ملی به اساس دورهٔ مکلفیت و برگزاری انتخابات می باشد.

این طرح تقاضا می کند که نخست باید همهٔ جناح های افغانی بر چند نقطه اساسی به عنوان اصول و پرنسیب های مسلم و غیر قابل انکار و غیر قابل عدول توافق کنند و عهد نمایند که نسبت به آن صادقانه التزام می ورزند:

- شریعت اسلامی اولین و آخرین مرجع قانونگذاری در کشور بوده، همهٔ قضایا را به آن محول می کنیم.
- اقتدار امانت الهی و ودیعه مردم بوده و از سوی مردم به کسی سپرده می شود که از نظر آنها اهل این امانت شناخته می شود.
- انتخابات را طریق یگانه انتقال قدرت از یکی به دیگری می شماریم و همهٔ راههای دیگر رسیدن به قدرت را مردود و ناجائز می خوانیم و از آن به شدت خودداری می ورزیم.
- افغانستان خانه مشترك همهٔ اقوام و ملیت های ساکن این کشور بوده، باید همه برادروار با حقوق مساوی بدون ترس و بیم از همدیگر درآن زندگی کنند. نباید قبیله ای بر قبیله ای دیگری احساس برتری کند و نسبت به دیگران به اعمال تعصب

و تبعیض متوصل شود.

- پس از اینکه تمام گروه ها با این اصول کلی توافق کردند ، باید ادارۂ موقتی به این نحو تشکیل شود که:
- رئیس دولت از سوی طالبان معرفی گردد.
- کابینه از سوی رئیس دولت تشکیل و غرض اخذ رأی اعتماد به شوری معرفی شود.
- این ادارۂ مؤقت در کنار خود شورای مقتدری داشته باشد که از مردم نمایندگی‌کند ، اعضای شوری توسط مردم انتخاب می شوند که بر اجراءات دولت نظارت داشته و دولت در برابر آن مسئول خواهد بود.
- از هر ولسوالی تحت تسلط طالبان یك نفر توسط مردم انتخاب می شود.
- از ولسوالی های تحت سلطۂ جبهۂ شمال نیز مردم نمایندگان شانرا انتخاب می‌کنند.
- از پاکستان ۳۰ نفر، از ایران ۲۰ نفر، از کشورهای آسیای مرکزی ۵ نفر از اروپا و امریکا پنج پنج نفر و از کشورهای عربی پنج نفر توسط افغان های مقیم این کشورها انتخاب می شوند.
- این شوری باید اولین اجلاس خود را در داخل کشور و در پایتخت دایر کند و صلاحیت ها و وظایف شوری این خواهد بود: رأی اعتماد به کابینۂ دولت مؤقت، نظارت بر اجراءات دولت، تدوین و تصویب قانون اساسی جدید برای کشور، انتخاب رئیس ستره محکمه و اعضای شورای عالی قضا با دوثلث آراء، انتخاب اعضای کمیسیون دفاع بخاطر تشکیل اردوی ملی بر اساس دورۂ مکلفیت نه بر اساس توزیع قطعات اردو بر احزاب، انتخاب اعضای کمیسیون مستقل و با صلاحیت انتخابات غرض برگزاری انتخابات بر اساس قانون اساسی.
- اتخاذ تدابیر جدی برای تضمین استقلال قوه قضائیه به نحوی که پس از این احدی نتواند بدون حکم محکمه با صلاحیت کسی را زندانی یا مجازات کند.
- این اداره مؤقت باید برای دوسال دوام کند ، در پایان این مرحله مطابق قانون اساسی جدید کشور انتخابات برگزار می شود و قدرت به حکومت منتخب انتقال

می شود.

- ما معتقدیم که طرحی بهتر از این را نمی توان یافت، علی الاقل می توانیم بگوئیم که میان همهٔ راه های حلی که تاکنون جناح های مختلفی مطرح کرده، این طرح عملی تر و واقعبینانه تر است، با این طرح جنگ به پایان می رسد، جلو مداخلات بیرونی گرفته می شود، افغان ها بدون وساطت اجنبی مشکل شانرا حل می کنند و حکومت دلخواه مردم تأسیس می شود.
- در این طرح به خواسته های کسانیکه می گویند ما اکثریتیم و از تائید اکثریت مردم برخورداریم، جواب گفته شده.
- به خواست کسانی که می گویند باید ملت را در تعیین سرنوشت و انتخاب زعیم دلخواه شان آزاد گذاشت، جواب گفته شده.
- خواسته های کسانی در آن مراعات شده که می گویند از طریق یك جرگه بزرگ ملی بحران کشور حل شود.
- به این ترتیب هیچ دلیلی برای مخالفت با این طرح را نمی بینیم.
- اگر تمامی جناح ها با این طرح توافق کنند، در این صورت باید هیئتی به کشور های همسایه فرستاد تا از این کشور بخواهند که:
- از این طرح حمایت کند.
- بر جنگ سرمایه گذاری نکنند و از ارسال سلاح و مهمات به گروه های جنگی خودداری ورزند، ثبات و امنیت در این منطقه به نفع همه است و از جنگ به هیچکسی سودی نمی رسد.
- به این کشور ها باید اطمینان داد که افغانستان در آینده مایه درد سر آنان نخواهند شد، به مخالفین آنان پناه نخواهد داد، مرکز فعالیت های تروریستی نخواهد بود، جلو تولید و تجارت مواد مخدر را خواهد گرفت، در رقابت های منطقوی در حمایت از یکی علیه دیگری قرار نخواهد گرفت.
- اگر گروه های وابسته به اجنبی که خواهان ادامه جنگ در کشور ما اند، بر ادامه جنگ اصرار ورزند و با این طرح مخالفت کردند، در آنصورت باید بحران را با یك قیام بزرگ ملی حل کرد، مردم همهٔ ولایات همزمان و علیه همهٔ جنگسالاران و

تفنگداران قیام کنند ، به سلطه آنها خاتمه بخشند ، مردمی که گروگان تفنگداران اند ، باید از سلطه آنان آزاد شوند.

متصل پیروزی قیام ملی، شوری های محلی تشکیل شود ، تا برای هر ولایت اداره محلی بسازند و نمایندگان ولایت را به شوری مرکزی معرفی کنند.

شوری مرکزی حکومت مؤقت بسازد و قانون اساسی جدید کشور را تدوین و تصویب کند و راه را برای تأسیس حکومت منتخب اسلامی باز کند ، به اعتقاد ما اینکار هم ممکن است و هم آسان و مطمئن تر از هر راه دیگری، وهم آخرین چاره.

معتقدیم که هیچ نیرویی نمی تواند در برابر قیام ملی مقاومت کند.

نیروهای جنگ طلب و متکی به اجنبی دربرابر این قیام؛ چون خس و خاشاك در برابر طوفان ثابت خواهند شد.

۱۳۸۰۱۱۱۲۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اکتوبر د اوومې په مناسبت

په افغانستان د امریکایي ځواکونو له برید نه وروسته د دې هېواد د راتلونکي په هکله ځینو کړیو داسي ګمان کولو چي افغانستان د امریکا په دائمي اډې بدلېږي، د امریکا د خوښي نظام به په دې هېواد مسلط کېږي، نه د امریکا په خلاف د مقاومت امکان شته او نه د امریکا د لاس پوڅي رژیم نسکورول ممکن دی!! دغو ډلو له روان بهیر سره د تلو فیصله کړې وه، په دې قطار کي د سوربېدو لپاره له مخکنیو قطارونو او بسونو راکوزېدل او له مخکنیو ملګرو او صفوفو نه ئې خپله رابطه قطعه کوله او د امریکایانو په ډربورۍ نویو بسونو کي د هغه مجهول مقصد په لوري خوځېدل چي دوی په خپله نه بلکي امریکایانو ټاکلی وو!!

دوی ځانته توجیهات لرل، ویل ئې چي زموږ د هېواد او ولس وضعیت اوس او د امریکا د حملې په وخت کي هغه نه دی چي د شوروي ځواکونو د حملې په وخت کي وو. ولس له جګړې ستړی شوی، د امریکا تر مشرۍ لاندي نړیوال ائتلاف هومره ځواکمن دی چي په ټولي نړۍ کي حریف او رقیب نه لري. پاکستان، زموږ هغه ګاونډی هېواد چي د شوروي ځواکونو په خلاف د مقاومت په دوران کي د افغان ولس لوی پناه ځی او ستر ملاتړ وو اوس د امریکا په څنګ کي ودرېدلی او د افغانستان په اړه ټول هغه څه کولو ته تیار دی چي امریکایان ئې ترې غواړي، که

دا د حزب اسلامي په خلاف د طالبانو حمایت او ملاتړ وي او که د طالبانو په خلاف جګړې کې امریکایانو ته نظامي اډې ورکول او د پاکستان له ځمکې او فضاء نه امریکایانو ته په خلاص لاس د استفادې اجازه ورکول وي. له بلې خوا ایران زموږ بل ګاونډی هېواد، چې د امریکا په خلاف د افغان ولس د مقاومت د ملاتړ او حمایت طمعه ترې کېده، اوس د امریکا تر مشرۍ لاندې د بین المللی ائتلاف د هڅو ملاتړ کوي، د شمال جبهه ئې دې ته وهڅوله چې په نظامي ډګر کې د امریکا د ځمکنیو فوځونو په څېر عمل وکړي او په سیاسي ډګر کې د بن په هغو مذاکراتو کې برخه واخلي چې د امریکا تر مشرۍ لاندې ترسره شول او په نتیجه کې ئې له یوې خوا د افغانستان لپاره د امریکا د خوښې اداره جوړه شوه او د طالبانو اسلامي امارت او د شمال د جبهې اسلامي دولت ئې په یوه وخت کې نسکور کړل او له بلې خوا ئې افغانستان ته د بریتانیا او امریکا تر مشرۍ لاندې د خارجي فوځونو د راتلو سند امضاء کړ. ایران مخکې د پښتنو په خلاف د تاجکانو ترقیادت لاندې د اقلیتونو د ائتلافي جبهې ملاتړ کاوو، بیا ئې د امریکا په لاس د طالبانو د حکومت د نسکورېدو ملاتړ وکر او اوس هغه حکومت په رسمیت پېژني چې د بن د مذاکراتو په نتیجه کې جوړ شوی او د هغه د ساتنې او حمایت لپاره بهرني فوځونه په افغانستان کې مستقر شوي.

دا کسان وایي: په ټولې نړۍ کې داسې هېواد نشته چې په افغانستان کې د امریکا د نظامي حضور مخالفت وکړي او د امریکا په ضد مقاومت کې د افغانانو تر څنګ ودرېږي. دوی داسې فکر کوي چې طالبان ختم شوي او اوس له حزب اسلامي نه پرته د افغانانو ټولې سیاسي ډلې په څرګند یا مخفي توګه او په یوه او بل ډول د امریکایانو د حضور ملاتړ کوي، په دې خاطر د دوی له نظره د امریکایانو په خلاف هغه څه کول ممکن نه برېښي چې افغانانو د روسي ځواکونو په خلاف وکړل.

د دې کسانو په مقابل کې بلې ډلې داسې فکر کولو چې د امریکا په ضد به حتماً هماغه څه کېږي چې د روسانو په خلاف وشول او امریکا به هرو مرو له هماغه برخلیك سره مخامخ کېږي چې شوروي ځواکونه او شوروي اتحاد ورسره

مخامخ شو. د دې ډلي دلایل دا وو:

• دا د الله تعالی سنت دی چي هرځواك ته ئې د عروج او طغیان یو خاص حد ټاکلی. هیڅکله یو طاغوتي ځواك داسي نه پرېږدي چي د اوږدې مودې لپاره په ټولي نړۍ حکومت وکړي. قرآن داسي حالت د فساد عامل ګڼي او وايي چي الله تعالی د دې فساد د مخنیوي لپاره طاغوتي ځواکونه په زوال محکوموی. د دوی فساد په بل ځواك دفعه کوي. که نه نو ټوله نړۍ به له تباهي سره مخا مخ کېږي، د عبادت او د خدای د یادولو او لمانځلو ټول ځایونه به ورانېږي.

وَ لَوْ لا دَفْعُ اللّه النّاس بَعْضهُم بِبَعْضٍ لهُدّمَت صوامِعُ وَ بِيَعٌ وَ صلَوَتٌ وَ مَسجِدُ يُذكرُ فِيهَا اسمُ اللّهِ كثِيراً وَ لَيَنصرَنّ اللّهُ مَن يَنصرُهُ إِنّ اللّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ* الحج: ۴۰

او که دا الهي سنت نه وی چي ځیني د ځینو نورو په ذریعه دفعه کوي نو د راهبانو جونګړي، او د نصاراوو او یهودو د عبادت ځایونه او جوماتونه چي د خدای نوم په کي زیات یادېږي، ټول به وران شوي وو.

• که شوروي ځواکونه او د وارسا د پکت ګڼ شمېر مسلح قطعات چي د روسانو په څنګ کي افغانستان ته لېږل شوي وو، پایتخت او ټول لوی ښارونه د دوی په واك کي وو او د تېري په لومړنیو میاشتو کي په افغانستان داسي مسلط شول چي زموږ ګاونډیو او ټولو نړیوالو ګمان کاوو چي افغانستان د تل لپاره د شوروي په کومي کي پریووت، نور نه مقاومت ممکن دی او نه د افغانستان د آزادۍ احتمال شته!! خو پس له لنډې مودې مقاومت پیل شو، ورو ورو ئې لمن خوره شوه، په هر ځای کي په روسي فوځونو بریدونه پیل شول، روسان په خپلو نظامي اډو کي پاتې کېدو ته اړ او ښارونو ته له کوزېدو په دې خاطر منع شول چي په هیڅ افغان ئې اعتماد نه شو کولی، حتی له خپلو نږدې کمونستو ملګرو وېرېدل. هیڅ دلیل نشته چي همدا کار دې له امریکایانو او انګرېزانو سره ونه شي!! دا خبره د منلو نه ده چي هلته دا کار ممکن او اوس نا ممکن دی. په داسي حال کي چي

افغانانو نه په هغه وخت کي دومره جنګي تجربه درلوده، نه دومره وسایل او نه هومره قوی روحیه چي نن ئې لري.

- د امریکا په خدمت کي د افغانی ډلو ائتلافي جبهه به ډېر ژر له ژورو او پخلا نه کېدونکو اختلافاتو سره مخامخ کېږي، اختلافات به ئې مسلحانه شخړو ته رسېږي، شرایط به یو ځل بیا د یوه بل ملي پاڅون او عمومي قیام لپاره برابرېږي.

د دې جبهې په څنګ کي چي څوك راټول شوي اکثریت ئې بې هدفه، بد اخلاقه، مفسد او غله دي، همدا اوس ئې په ټولو سیمو کي د غارت، د خلکو ځورولو، د خلکو په سر، مال او ناموس د تېري بازار تود کړی. ممکنه نه ده چي دا وضعه د اوږدې مودې لپاره دوام وکړي.

- د امریکا تر مشرۍ لاندي ائتلاف هم نه شي کولی چي د تل لپاره دوام وکړي. د طالبانو تر نسکورولو د دوی هدف مشترك وو، خو اوس چي د طالبانو حکومت نسکور شوی، د افغانستان د راتلونکي او په دې هېواد کي د امریکایي فوځونو د پاتې کېدو په سر په همدې ائتلاف کي د داسي اختلاف شاهد یو چي ډېر ژر به تشدید کېږي. په دې اختلاف چي کوم نتائج مرتب کېدی شي هغه له هیڅ با درایته او پوه انسان نه پټ نه دي.

- امریکایانو چي په کومي بې رحمۍ، قساوت او وحشت سره عمل کړی، جوماتونه د لمانځه په وخت کي بمباردول، په کلو بمونه ورول، بې ګناه خلك وژل، په سلهاوو اسراء لاس تړلي او په یوځای وژل، د افغانستان په خاورې کي مستقل محبسونه جوړول، کیوبا ته د جنګي اسراوو انتقال، د هغو ډلو مشران سپکول چي د دوی ملګرتیا ئې کړې، د افغانانو کورونه لټول، خپلي شخصي وسلې ترې راغونډول، دوی ته سپکاوی او بې عزتي اړول... دا ټول حتماً او بې له شکه خپل عکس العملونه لري، افغانان به حتماً خپل غبرګ اخلي، افغانان هیڅکله د پردیو تسلط نه مني، تل د پردیو د سلطې په خلاف راولاړ شوي، پس له لنډې مودې به د پردیو په خلاف حساسیتونه او د دوی د نادودو په مقابل کي عکس العملونه، عملي بڼه غوره کوي او په مسلحانه مقاومت به بدلېږي.

- دا دی عملاً ګورو چي مقاومت پیل شوی، په ډېره چټکتیا وده کوي او لمن

ئې له يوې سيمي بلې ته خورېږي. كه په تېرو دريو مياشتو كي د مقاومت وضع، په امريكايي ځواكونو د مجاهدينو مسلسل بريدونه او په دې بريدونو كي د امريكايانو تلفات له هغه څه سره مقايسه كړو چي د شوروي اتحاد ځواكونه د تېري په لومړيو دريو مياشتو كي ورسره مخامخ شول نو په څرګنده توګه به وګورو چي هم په امريكايانو باندي د بريدونو شمېر زيات دی او هم ئې تلفات، او د مجاهدينو تكتيكونه پاخه او تلفات ئې له هيڅ سره برابر. آيا له امريكا نه وېرېدونكو او له قدير او خيرالناصرين خدای نه مأيوسو كسانو ته دا خبره كفايت نه كوي چي نن او پس له هغه چي د مقاومت له پيل نه فقط درې مياشتې تېرېږي، امريكائي فوځونه هره ورځ تر پنځو نه زيات خپل مړي او ژوبل كسان بګرام ته انتقالوي!! او دا په داسي حال كي چي لا تر اوسه مقاومت يوازي په كندهار، كنر، خوست، پكتيا او پكتيكا كي تشديد شوی او په كابل، لوګر، ننګرهار كي ئې لومړۍ څريكي څرګندې شوې او نورو ولاياتو ته ورو ورو په خورېدو دی، الحمدلله هلته هم مجاهدين ځانونه برابروي او ډېر ژر به وګورئ چي په دغو سيمو كي هم د نورو سيمو په څېر د شديد مقاومت لمن خوره شي. زه باور لرم چي كه مقاومت په همدې شكل دوام وكړي نو امريكايانو ته به ډېره ګرانه وي چي د اوږدې مودې لپاره په افغانستان كي پاتې كېدو ته زړه ښه كړي او دا ورځ په ورځ زياتېدونكي تلفات وزغمي. زه هيڅ ګمان نه كوم چي امريكا دې دا تلفات تر اوږدې مودې وزغملی شي.

- د امريكائي فوځونو په وتلو چي كوم خطرناك نتايج مرتب كېږي ښايي امريكا ته ئې جبران همدومره ګران وي لكه روسانو ته. او په دې مقاومت كي د مجاهدنو د بري اثرات به په افغانستان او ټولي اسلامي نړۍ تر هغه نه ډېر ژور او پراخ وي چي د شوروي ځواكونو په ضد ئې په برخه شو.
- له هغو كسانو سره چي د يرغلګرو ځواكونو په څنګ كي د خپل ولس په خلاف جنګېدلي او د دوی د متهو په زور قدرت ته رسېدلي او له افغانانو سره ئې د اسلام، مروت، پښتونولۍ او افغانيت خلاف هغه څه كړي چي د ډېرو بې ننګه او بې غيرته كسانو په تاريخ كي ئې هم مثال نه شو موندلی، د بهرنيو فوځونو له وتلو

نه وروسته به له دوی سره هماغه څه کېږي چي له دوی سره ښايي او د دوی له سلف سره شوي. کاش دوی د کمونستانو له تجربو نه پند او عبرت اخيستی وی او د هغوی په پله له ګام ايښودوئې ډډه کړې وی.

- هغه کسان چي د امريکا په لاس له جوړ شوي نظام سره د ملګرتيا اراده لري او په دې بهير کي ځانته د ځای پيدا کولو هڅه کوي، خپل تاريخ داغجن کوي او خپل ټول هغه جهادي هڅې په اوبو لاهو کوي چي له اسلام نه د دفاع په خاطر د پرديو کفري ځواکونو په خلاف ئې کړي. نه پوهېږو دوی به دا عمل څنګه توجيه کوي، ولې ئې دا کار د روسانو په وخت کي ونه کړ. څنګه د روسانو په لاس جوړ شوي نظام کي برخه اخيستل ورته حرام برېښېدو خو په امريکايي نظام کي برخه اخيستل ورته جايز برېښي؟! څنګه د روسانو په خلاف جهاد ورته فرض معلومېدو خو د امريکا او انګرېزانو په خلاف جهاد ورته اشتباه برېښي؟!! نه پوهېږو دوی هغه ځوك څنګه ملامتوي چي نن د امريکا په خلاف د مقاومت پلوي کوي، په داسي حال کي چي پرون او د روسانو په خلاف ئې د ده د مقاومت ستاينه کوله؟!! که ځوك خپل ټول عمر په محبس کي او يا له هېواد نه لري په هجرت کي تېر کړي تر دی ډېر غوره دی چي په يوه داسي نظام کي د مأمور په څېر کار وکړي چي د پرديو په لاس جوړ شوی او د حفاظت لپاره ئې کفري ځواکونه زموږ په ملك کي مېشت شوي او په افغانانو بمونه وروي. دا کسان دې په دې پوه شي چي له کافر سره د موالات او ملګرتيا په صورت کي نه الله تعالی د دوی ايمان قبلوي او نه ئې لمونځ او روژه. د شريعت له نظره هغه ځوك د کافرانو له ډلي څخه ګڼل کېږي او مباح الدم دی چي د کافر په څنګ کي له مسلمان سره جنګېږي. د دوی هيڅ دليل او عذر نه منل کېږي، د مجبوريت په صورت کي دوی ته د کفر د کلمې ويلو رخصت ورکړی شوی خو دا اجازه نه ده ورکړی شوې چي د کافرانو په څنګ کي د مسلمانانو په ضد وجنګېږي.

- هغه کسان چي د کفري ځواکونو په لاس جوړ شوي داسي نظام ته اسلامي نظام وايي او د اسلامي حکومت نوم ورباندي ږدي چي د مشر ساتنه ئې امريکايي کماندو کوي، د پلازمېنې امنيت ئې د هغو کفري ځواکونو په لاس کي دی چي

وايي: په افغانستان کي د شريعت نفاذ د منلو نه دی! او په داسي حال کي چي د هېواد آسمان او ځمکه د همدې ځواکونو په واك کي، ټول هوايي ميدانونه او ستراتيژيك نقاط د دوی په اختيار کي، په خپل سر او د افغانانو له اجازې او موافقې پرته هر څوك نيولی او وژلی شي، په داخل کي محبسونه لري او په سلګونو بې ګناه بنديان ئې د نړۍ په نورو ځايونو کي خپلو محبسونو ته انتقال کړي ... دا دين خرڅوونکي مفتيان يا له اسلام نه بې خبره دي او يا ايمان نه لري، دوی له خدای سره خدعه کوي او خپل ملت غولوي.

- متأسفانه ځيني نور بيا داسي دي چي د اصلي دښمن په ضد د څه کولو همت او جرأت نه لري خو د خپل زړه براسې يا د ويډيو کسيټونو په دوکانونو کي په انفجاراتو سره باسي او يا د مکتبونو په سوځولو سره!! ځيني نور خو په داخلي جګړو کي ډېر غښتلي او تورزن وو خو د يرغلګرو خلاف جګړو ته ئې ملا ماته او توره ئې په غلاف کي ده!! او ځيني نور له يوې خوا له دښمن سره يو ځای شوي او له بلي خوا په داخلي تصفيو کي مصروف دي او خپل ملګري ترور وي او د سياسي او تبليغاتي اغراضو لپاره حتی له دې نه هم ډډه نه کوي چي تر خپل تسلط لاندي ښارونو کي انفجارات وکړي او همغه بې ګناه ښاريان په وينو کي ورغړوی چي دوی ئې د سر او مال د خوندي ساتلو ذمه وهلې!! همدا دوی وو چي ډاکتر عبدالرحمن او حاجی عبدالقدير ئې ترور کړل او د اطلاعات او کلتور وزارت مخې ته ئې انفجار وکړ!!

- موږ يو ځل بيا ټولو هغو افغانانو ته بلنه ورکوو چي اسلام ته وفادار دي، د اسلام له دښمنانو سره د ملګرتيا او د دوی په وړاندي د سکوت او سازش په نتيجه کي خپل دين، ايمان او آخرت نه تباه کوي، د خپل هېواد استقلال او خپلواکي غواړي، د پرديو فوځونو په شتته والي رضايت او دوی ته تسليمېدل او د دوی ملګرتيا د ايمان او عقيدې منافي ګڼي او د امريکايانو په ضد جهاد همداسي ګڼی لکه د روسانو په ضد، دوی ته بلنه ورکوو چي يوه بل ته د ورورۍ لاس ورکړي او د جهاد لپاره ملا وتړي او په دې دې باور ولري چي قدير خدای به د دوی مرسته کوي، په دښمن به دوی ته بری ورکوي او امريکا او بې دينه ملګري به ئې له همغه

شوم برخليك سره مخامخ كوي چي روسان او د دوی كمونست ملگري ئې ورسره مخامخ كړل.

والسلام على من اتبع الهدى

حكمتيار

بسم الله الرحمن الرحیم

# تجدید عهد

مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صدَقُوا مَا عَهَدُوا اللّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نحْبَهُ وَ مِنهُم مَّن يَنتَظِرُ وَ مَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً * الاحزاب:۲۳

له مؤمنانو نه ځینو مېړنیو له الله سره خپلې ژمنې رښتونې کړې، له دوی نه ځینو خپله نذرانه سرته ورسوله او ځیني نور ئې منتظر دی، خو (په خپلو ژمنو کي ئې) هیڅ بدلون نه دی کړی.

د امریکائي ځواکونو په لاس د هېواد له اشغال نه وروسته، افغانان یو ځل بیا له یوه بل الهي آزمېښت سره مخامخ شول، په دې الهي امتحان کي به هم واقعي مؤمنان او د ایمان درواغجن مدعیان سره بېلېږي. ځوك چي په خدای او آخرت ایمان لري، د قرآن وعدې رښتونې ګڼي، د مرګ ژوند فیصله یوازې د الله په واك كي او د ده له لوري ګڼي، له اسلام نه دفاع او د اسلام د د ښمنانو په ضد جهاد د لمانځه او روژې په څېر الهي فریضه ګڼي، هغه به هرومرو جهاد ته ملا تړي او د الله په لاري کي به قربانۍ ته چمتو کېږي، خو هغه څوك چي په خدای او آخرت باور نه لري، د قرآن وعدو ته د شك په سترګه ګوري، له دښمن نه ئې هومره وېره وي چي له خپل خالق، مالك او رازق خدای نه دومره وېره نه لري، دا کسان به یا له دښمن سره

روغه جوړه او سازش کوي، یا به د خپل ناروا دریځ د توجیه لپاره د مجاهدینو په ضد تبلیغات کوي، یا به د سکوت او خاموشۍ لار غوره کوي او د دوست او د دښمن په ضد د څه ویلو په ځای به دې ته انتظار کوي چې وګوري په دې معرکې کې څوك بریا ترلاسه کوي او خپل حریف ته ماتې ورکوي، ترڅو هغه ته د ملګرتیا لاس ورکړي. الله تعالی د خپل ثابت او نه بدلېدونکي سنت مطابق د بېلولو دا عملیه حتماًسر ته رسوی او بیا به د مخلصو مجاهدینو د وروستۍ بریا پرېکړه کوي او دښمن به د دوی په لاس له ذلت او رسوائۍ سره مخامخ کوي. قرآن په دې هکله وایي:

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُترَكُوا وَ لَمَّا يَعْلَمِ اللّهُ الّذِينَ جَهَدُوا مِنكُمْ وَ لَمْ يَتّخِذُوا مِن دُونِ اللّهِ وَ لا رَسولِهِ وَ لا الْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً وَ اللّهُ خَبِيرُ بِمَا تَعْمَلُونَ *
التوبة: ۱۲

آیا ګمان مو کړی چې همداسې به پرېښودی شئ، حال دا چې تراوسه الله ستاسو هغه کسان نه دي معلوم کړي چې جهاد ئې کړی او له الله او د ده له رسول او مؤمنانو نه پرته ئې د اسرارو بل محرم ځانته نه دی غوره کړی. او الله ستاسو له کړو وړو ښه خبر دی.

موږ غواړو د دغه الهي سنت له غوښتنو سره سم، دا معلومه کړو چې د حزب اسلامي له پخوانیو غړو نه څوك اوس هم په خپل ایمان کلك ولاړ او له حزب سره په خپلو ژمنو عمل کولو ته چمتو دی، نه ئې په ایمان کې تغیر راغلی او نه ئې په ژمنو کې او څوك اوس د یوه بل اسلامي جهاد لپاره له موږ سره ملګرتیا ته تیار دی. د دې مقصد لپاره مو دا د تعهد پاڼه ترتیب کړې ، د دې پاڼې څو سوالونو ته د ځواب له مخې به دا معلوموو چې څوك زموږ د سنګر ملګری دی او څوك زموږ له ملګرتیا نه ډډه کوي او له موږ سره یو ځای د اسلام په لاري کې تر جهاد نه دې ته ترجیح ورکوي چې یا د انتظار لار غوره کړي او یا له دښمن سره د ملګرتیا لار!! څوك چې دې سؤالونو ته ځواب نه وایي یا منفي ځواب ورکوي، موږ هغه خپلو شخصي

کارونو ته پرېږدو او د شرائطو تر بدلېدو پورې ئې نه مزاحم کېږو.

| پوښتنه | هو | نه | بل ځواب |
|---|---|---|---|
| آيا د جهاد لپاره صادقانه تعهد ته تيار يې؟ | | | |
| آيا له کفري اشغالگرو ځواکونو سره ملگرتيا حرام گڼې؟ | | | |
| آيا د دې دښمن په ضد مسلحانه جهاد ديني فريضه گڼې؟ | | | |
| آيا د جهاد په اړه د خپل امير هر امر منې؟ | | | |
| د دښمن په ضد کوم عملي کار ته چمتو يې؟ | | | |
| يوازې او په خپل مصرف کوم کار کولی شې؟ | | | |
| د تنظيم د مرستي په صورت کي کوم کار کولی شې؟ | | | |
| د نورو ملگرو په څنگ کي څه کولی شې؟ | | | |

والله علی ما اقول وکيل

بسم الله الرحمن الرحيم

# د جهاد په اړه څو مهمي پوښتني

په دې شپو ورځو كي د جهاد په اړه څو داسي مهمي پوښتني راولاړې شوې چي په هرمحفل كي وربانديي بحثونه كېږي، هر مسلمان غواړي دې پوښتنو ته د قرآن او حديث په رڼا كي سم او صحيح ځواب پيدا كړي او د جهاد په هكله په خپل ايماني مسئوليت پوه شي. ما لازمه وګڼله چي دغو پوښتنو ته د قرآن او حديث په رڼا كي ځواب ووايم.

پوښتني دا دي:

۱. آيا له جهاد فی سبيل الله نه مراد يوازي قتال دی كه هر جد وجهد؟ آيا هر جد و جهد ته جهاد ويلی شو؟ آيا تبليغ او دعوت ته هم د جهاد فی سبيل الله نوم وركولی شو؟

۲. آيا د جهاد اعلان به د حكومت له خوا كېږي او له دې پرته جهاد جائز نه دی؟ او كه هرمسلمان په خپل سر دا كار كولی شي؟ او كه د اعلان لپاره ئې نور شرائط وي نو دا شرائط كوم دي؟

۳. آيا شهادت طلبانه او فدائي عمليات جائز دي؟ آيا هغه چا ته شهيد ويلی شو چي په ځان پسې بمونه تړي او د دښمنانو په منځ كي د دې بمونو په چاودلو سره ځان او دښمن له منځه وړي؟ آيا دا كار د قرآن له دې آيت سره مخالفت نه دی چي فرمايي: ولا تلقوا بايديكم الی التهلكة: په خپل لاس ځان په تهلكه كي مه اچوئ؟

۴. د قرآن د دې حكم معنی څه ده چي د دښمن په خلاف د خپل وس او توان په اندازه قوت او وسايل برابر كړئ؟ آيا معنی ئې دا ده چي زموږ وسايل به د شمېر او كيفيت له لحاظه له دښمن سره برابر وي بيا به د دښمن مقابله كوو او كه د خپل

موجود توان په اندازه د وسایلو په برابرولو مکلف یو؟

**۵.** آیا مسلمان د دې حق لري چې ووایي: زه د مکي دور په څېر صبر کوم، د نوح، ابراهیم، عیسی، یوسف او نورو هغو پیغمرانو علیهم السلام په شان له مسلحانه جهاد نه ډډه کوم چې د دښمن په خلاف ئې وسله نه ده استعمال کړې؟

د پورتنیو پوښتنو ځوابونه دا دي:

په دې خبري چې آیا له جهاد فی سبیل الله نه مراد یوازي قتال دی که هر جد وجهد؟ هلته ښه پوهېدی شو چې څو ټکي په پام کي ولرو:

- قرآن د هر کار او عمل لپاره ځانګړي او خاص اصطلاحات لري، هره اصطلاح باید په خپل ځای او خپل خاص مورد کي استعمال شي، څوك چې په قرآن ایمان لري هغه ته پکار ده چې د قرآن هره اصطلاح په خپل ځای کي وکاروي او له خپل خاص مورد نه پرته ئې د بل څه لپاره استعمال نه کړي.
- په قرآن کي د جهاد فی سبیل الله اصطلاح یوازي د دښمن په خلاف د مسلحانه جهاد په معنی راغلې، که قرآن ته مراجعه وکړئ نو وبه ګورئ چې د (جهاد فی سبیل الله) ذکر له (هجرت) نه وروسته راځي او دا ټول په هغو سورتونو کي راغلي چې په مدینه کي او د جهاد له فرض کېدو وروسته نازله شوې، د مکي دور په څو محدودو آیتونو کي د (جهد ایمانهم)، (وان جٰهدك) ، (جاهدوا فینا) او (ومن جاهد) په صیغه راغلي چې هلته ئې مراد زیار او زحمت ایستل دي.
- د اسلام ټول ائمه په دې متفق دي چې له جهاد فی سبیل الله نه مراد قتال فی سبیل الله دی نه بل څه.
- د قرآن له هیڅ آیت نه دا نه معلومېږي چې (تبلیغ) او (دعوت) ته دې (جهاد فی سبیل الله) ویلی شوي وي.
- د الله په لار کي مالي قربانۍ ته (انفاق فی سبیل الله) ویلی شوي نه جهاد فی سبیل الله.
- په مکي دور کي (دعوت) او (انفاق) وو خو دې ته په مکي سورتونو کي د جهاد نوم نه دی ورکړی شوی، جهاد په مدینه کي فرض شوی او اساسي او تفصیلي ذکر ئې په مدني سورتونو کي راغلی، له دې نه معلومېږي چې جهاد بېل شی دی او

دعوت او انفاق بېل.

- دا خبره چي (دعوت، تبليغ او انفاق) هم (جهاد فی سبيل الله) دي، په حقيقت کي هغه کسان کوي چي يا په دې نه پوهېږي چي د قرآن هره اصطلاح بايد په خپل ځای کي استعمال شي او يا د الله په لار کي د جهاد کولو اراده او همت نه لري. د دې لپاره چي په نه جهاد سره ئې څوك ملامت نه کړي نو وايي: زما دعوت او تبليغ، زما وينا او ليکنه او زما سياسي او اجتماعي مبارزه هم جهاد فی سبيل الله دي!! دوی ته وايو: ستا دا ټول کارونه د قدر وړ دي، الله تعالی دې مزيد توفيق درکړي، خو هيڅ يو ئې جهاد فی سبيل الله نه دی.

د دوهمې پوښتني په ځواب د پوهېدو لپاره بايد لاندي خبري په پام کي ولرو:

- د قرآن په هيڅ آيت کي نه صراحتاً دا راغلي او نه تلويحاً او اشارتاً دا موندلی شو چي د (جهاد اعلان) به د حکومت او رياست لخوا کېږي.
- په ټول قرآن کي نه د (حکومت) او (رياست) الفاظ راغلي او نه دا خبره چي د جهاد اعلان به د حکومت، رياست، خلافت او امارت يا حاکم، رئيس، خليفه او امير لخوا کېږي.
- د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي هم دا نه شو موندلی چي د جهاد د اعلان لپاره ئې د (حکومت) او (رياست) شته والی ضروري ګڼلی وي او دا په کي ويل شوي وي چي جهاد يوازي په هغه صورت کي جائز دی چي (حکومت) او (رياست) ئې حکم صادر کړي.
- څوك چي له قرآن او حديث نه ډېر لږ معلومات هم ولري په دې پوهېږي چي نه په قرآن کي د جهاد د اعلان لپاره د (حاکم) او (رئيس) يا (حکومت) او (رياست) شرط لګول شوی او نه په احاديثو کي. که څوك ووايي چي له جهاد نه مخکي جماعت ضروري دی، دا خبره صحيح ده، خو که څوك ووايي چي د جهاد اعلان به د يوه برحال حکومت لخوا کېږي، نو دا خوشې بې بنسټه خبره ده، دا له دين نه د يوه بې خبره سرکاري مفتي خبره کېدی شي خو د يوه واقعي عالم فتوی نه شي کېدی.
- د پيغمبر عليه السلام له قول او فعل نه دا معلومېږي چي د جهاد د پيل لپاره دوو اساسي شيانو ته ضرورت دی: (جماعت يعني حزب او ډله) او (مهجر يعني د

هجرت ځای)، پیغمبر علیه السلام فرمایي:

آمركم بخمس الله أمرني بهن بالجماعة والسمع والطاعة والهجرة والجهاد فی سبیل الله، فإنه من خرج من الجماعة قید شبر فقد خلع ربقة الإسلام من عنقه، إلاّ أن یرجع، ومن دعا بدعوی الجاهلیة فهو من جثاء جهنم، قالوا: یا رسول الله وإن صام وإن صلی؟ قال: وإن صام وإن صلی وزعم أنه مسلم:

په پنځو هغو شیانو تاسو ته امر کوم چي الله تعالی ماته د هغه امر کړی: په جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او جهاد فی سبیل الله او څوك چي د یوې لوېشتې په اندازه له جماعت نه لرې شو نو هغه د اسلام کړی له خپلي غاړې وایستله (له اسلام نه ووت) مگر دا چي بېرته راوگرځي او چا چي د جاهلیت شعارونو ته بلنه ورکړه هغه به د دوزخ خس شي، خلکو وویل: یا رسول الله! که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئي ویل: که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي او په ځان ئې دا گمان کړی وي چي مسلمان دی.

له دې مبارك حدیث نه په څرگنده توگه معلومېږي چي له جهاد نه مخکي باید جماعت جوړ شي او بیا د حاکم نظام له سلطې نه د وتلو په خاطر هجرت وشي او بیا مسلحانه مزاحمت پیل شي. پیغمبر علیه السلام په مکي دور کي جماعت جوړ کړ او مدینې ته له هجرت سره سم ئې د قریشو په ضد مسلحانه مزاحمت پیل کړ.

- باید دا خبره په خیال کي وساتو چي دغه پنځه کارونه پر مسلمانانو واجب دي، په دې مأمور شوي چي جماعت به جوړوي، داسي جماعت چي په سمع او اطاعت ولاړ وي، بیا به د حاکم سیاسي نظام له سلطې نه د وتلو لاري لټوي، د ضرورت په صورت کي به هجرت کوي او بیا به د همدې نظام د رانسکورولو لپاره وسلې ته لاس کوي.
- ریاست جوړول خو د اسلامي جهاد هدف او مقصد دی، نه دا چي لومړی به حکومت جوړېږي بیا به دا حکومت د جهاد اعلان کوي!! جهاد خو د دې لپاره فرض شوی چي په دې سره غیراسلامي نظام رانسکور کړی شي او پرځای ئې اسلامي حکومت قائم شي. پیغمبر علیه السلام د ابوجهل د حکومت د نسکورولو او د ټول حجاز په مرکز او پایتخت (مکه) کي د یوه اسلامي حکومت د قائمولو لپاره جهاد

پیل کړ. نه خو غیر اسلامي حکومتونه په خپله رانسکوربږي او نه اسلامي حکومت له جهاد نه پرته له بلې لاري قائمیدی شي، څوك چي دا غلطه او بابیزه خبره کوي او د جهاد د اعلان لپاره د حکومت شته والی شرط ګڼي، هغه دې ووایي چي پیغمبر علیه السلام ولې په داسي حال کي جهاد پیل کړ چي په حجاز باندي د قریشو واکمني وه، دی له پایتخت (مکي) نه د مدینې یوه وړ کلي ته مهاجر شوی وو، هلته ئې نه حکومت وو او نه فوځ!! دې جنابانو ته وایو: آیا د روسانو په ضد به د جهاد اعلان ببرك کارمل کولو ؟!! آیا په فلسطین کي به د جهاد اعلان شارون کوي، په کشمیر کي واجپائي، په چیچین کي پوتین او اوس په افغانستان کي جنرال ډیویډ بارنو یا کرزی!!

• د جهاد اعلان هغه څوك په حکومت پورې تړي چي یا د حکومت نوکر وي، یا د جهاد مخالف وي او یا د جهاد اراده او همت نه لري، داسي فتوی تل سرکاري مفتیان ورکوي، هیڅ داسي غیرسرکاري عالم نه شئ موندلی چي په قرآن او حدیث پوه وي او هغه دې جهاد په حکومتونو مخصوصاً موجوده مفسدو او غیراسلامي حکومتونو پورې مربوط کړي. که لږ دقت وکړئ او د دا راز مفتیانو پټې اړیکي وڅېړئ حتماً به درته معلومه شي چي دا کسان د اسلام او جهاد د مخالفینو له خوا استخدام شوي، د کومي مسیحي او تبشیري مؤسسې لپاره کار کوي، د کومي کلیسا لخوا د جوړې شوې خیریه مؤسسې مأمور دی. انګرېزانو په اسلامي نړۍ د خپلي سلطې په دوران کي داسي ډېر مفتیان استخدام کړي وو، اوس غربي مؤسسې په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چي د جهاد مفهوم د اسلامي امت له ذهنه وباسي، د هجرت، جهاد، شهادت، اسلامي خلافت، الفاظ د اسلامي هېوادونو له تعلیمي نصاب نه خارج کړي، امریکایانو په افغانستان او عراق کي همدا کار وکړ، له پاکستان او سعودي نه ئې همدا وغوښتل چي نه یوازي جهادي مفاهیم له نصاب نه وباسي بلکي قرآني آیات هم وباسي. که د پاکستان د تعلیم وزیر په پارلمان کي له تعلیمي نصاب نه د قرآني آیتونو د ایستلو خبره کوي، دا د ده خبره نه ده، دی خوارکی خو په هغه څه ویلو او کولو مکلف دی چي د امریکا سفیر ورته امر کوي.

• په مکه کي د ابوجهل حکومت او رياست وو، پيغمبر عليه السلام د بعثت له لومړۍ ورځي نه د دې رياست د نسکورولو او په ځای ئې د يوه الهي او ديني رياست د قائمولو لپاره کار پيل کړ، که په مکه کي ئې وسله وال جهاد نه دی اعلان کړی نو خلکو ته خو ئې ويل: ځوك چي په دې طاغوتي نظام کافر نه شي خدای ئې ايمان نه قبلوي، په الله ايمان هلته منظور او مقبول دی چي له طاغوتي رياست او نظام نه انکار وکړي. دې نظام ته به د خپلو شخړو او منازعاتو د حل او فصل لپاره رجوع نه کوئ، د ټولو منازعاتو د حل او فصل يوازنۍ مرجع به د الله دين گڼئ.

• د اسلامي نړۍ اوسني حکام او حکومتونه ټول غاصب او جابر حکومتونه دي، نه د ملتونو په خوښه او د داسي بيعت له لاري راغلي چي له اکراه او اجبار نه پرته ترسره شوي وي، نه د ملت په وړاندي د مسئوليت احساس کوي، نه په دې ځان مکلف گڼي چي په ما انزل الله به حکم کوي او له ولس سره مشوره، نه له خدايه وېره لري او نه په ولس ترحم، نه واکمني يو الهي امانت گڼي او نه بيت المال د ولس امانت، د پرديو د متو په زور مسلط شوي او د پرديو د گټو لپاره د خپل ولس قرباني کولو ته چمتو، يو هم له ابوجهل او د ابوجهل له حکومت نه غوره نه دي. ابوجهل ځانته خادم حجاج بيت الله او خادم الحرم الشريف ويل، ځان ئې د کعبې متولي گڼلو او په ديانت کي ئې ځان هومره په حقه گڼلو چي ويل به ئې: اې خدايه!! که محمد په حقه او موږ په ناحقه يو نو پر موږ له آسمانه تيږې ووروه!! دا جنابان دې ووايي چي په دې حکومتونو کي داسي کوم څه نشته چي د ابوجهل په حکومت کي وو؟ قرآن په مکه کي د فرعون قصه د دې لپاره رااخلي چي خلکو ته ووايي: ستاسو ابوجهل همغه فرعون دی چي موسي عليه السلام ئې مقابلې ته لېږل شوی وو، د دې لپاره چي خلك پوه کړي چي محمد عليه السلام د مکي د موجوده فرعوني نظام په ضد همغه څه کوي چي د ده سلف موسی عليه السلام کول. پيغمبر عليه السلام فرمايي چي ابوجهل زما د امت فرعون دی. د موجوده حکومتونو ملگري او حاميان په اصل کي د فرعون او ابوجهل ملگري دي، ځوك چي وايي: د دغو حکومتونو د اجازې په صورت کي جهاد جائز دی او له دې پرته جهاد په فساد او بې امنيتۍ منتج کېږي!! دا همغه کسان دي چي د موسی عليه السلام او محمد عليه السلام په

هکله به ئې ويل: دوی شر خوروي، بې امنيتي راولي، اقتدار غواړي. څوك چې د اسلامي ملكونو موجوده حالت د امن حالت گڼي او وايي يا غواړي چې دا حالت بايد دوام وكړي او دا وايي چې په دې كي داسي څه نشته چې د شديد بحران نوم وركړو او د جهاد ضرورت احساس كړو!! دا كس يا ډېر ناپوه او بې خبره دی، هم له دين نه او هم له دنيا نه او يا ډېر غرضي دی او د حكامو نوكر او خادم. د اسلامي ملكونو حالت هومره بد دی چې تر دې د زيات بد حالت تصور نه شي كېدی. فقر، لوږه، د غني او فقير تر منځ ژور تفاوت، د مظلومانو په سر، مال، عزت تېری، اخلاقي فساد، شرك، الحاد او بې ديني، د پرديو په وړاندي ذلت، اسارت او غلامي، دا ټول خو پرېږده نن اكثر اسلامي هېوادونه نه سياسي استقلال لري او نه اقتصادي، له سياسي، اقتصادي، نظامي او فرهنگي لحاظه پردي ورباندي حكومت كوي، نن په پاكستان كي ايف بې آي او سي آی اې حكومت كوي، هرڅوك په هر وخت كي نيولی شي، په پاكستان كي د امريكايانو نظامي اډې دي، له دغو اډو نه په افغانستان كي نظامي عمليات ترسره كوي، د پاكستان حكومت د د مظلومو مسلمانانو په وژلو او نيولو كي د امريكايانو مرسته كوي، حتي د خپل ولس په ضد جنگېږي، پاكستان ته د هر امريكائي هيئت له راتلو سره سم د پاكستان په سرحدي قبايلي سيمو كي د قبايلو په ضد د دې لپاره عمليات ترسره كېږي چي امريكايان په دې قانع كړي چي اسلام آباد د تروريزم په ضد جنگ كي د امريكا مخلص او وفادار ملگری دی او هرڅه كولو ته تيار، د پاكستاني تلويزيون په صفحه هر ورځ د بې دينۍ او اخلاقي فساد خورولو هغه صحنې ښودل كېږي چي مثال ئې يوازي د غرب په هغو سيكس تلويزيوني شبكو كي ليدل كېږي چي د رسمي فاحشه خانو لخوا اداره كېږي او د آزاد او بربنډ جنسي عمل فيلمونه ښيي. نه د فرعون په نظام كي تر دې زيات فساد وو او نه د مكي د جاهليت د دور په نظام كي. قرآن د فرعوني نظام څو ځانگړتياوې بيانوي چي دا ټول او تر هغه نه زيات په موجوده نظامونو كي گورو:

۱. فرعون ځان د مصر د ټولو شتمنيو واكمن گڼي، زموږ اوسني واكدران همدا سي د ملك هرڅه د ځان غنيمت گڼي.

۲. فرعون خپل ولس په حاکم او محکوم، شتمن او نیستمن وېشلي او په مصر کي ئې طبقاتي نظام رائج کړی وو، مرفه او حاکمه طبقه او ناداره او محکومه طبقه، نن همدا نظام په اسلامي ملکونو کي رائج دی، د حاکم او محکوم تر منځ تفاوت هومره ژور چي د فرعون په طبقاتي نظام کي تر دې زيات نه وو.

۳. فرعون ځان ټولواك ګڼي، د هري پرېکړې آخري مرجع، د جائز او ناجائز او حلال او حرام د تعيين آخري مرجع، نن زموږ حکام همداسي دي، د مصر تر فرعون زيات مستبد او مطلق العنان.

۴. فرعون د ستر قصر خاوند وو، زموږ د حکامو قصرونه که تر فرعون نه زيات ستر، اشرافي او مرفه نه وي تر هغه نه له هيڅ لحاظه کم نه دي او که دا قصرونه د عام ولس له څمڅو او ګوډلو سره مقايسه کړو نو تفاوت ئې هومره دی چي د فرعون د قصر او د يوه عادي مصري د کيږدۍ تر منځ دومره تفاوت نه وو.

۵. قرآن وايي چي فرعون د موسی عليه السلام د وژلو اجازه له خپلو درباريانو غواړي، همداراز وايي چي يوسف عليه السلام په داسي حال کي چي د مصر د هغه وخت ځواکمن وزير وو خو دا ئې نه شو کولی چي خپل ورور له قانوني دليل نه پرته څو ورځي له ځان سره وساتي، خو زموږ ټولواکان د هيچا د نيولو او وژلو په اړه له هيچا سره نه د مشورې ضرورت احساسوي او نه د قانوني مجوز ضرورت، د امريکا د وزارت خارجه د يوه مأمور ټيلفوني هدايت کافي دی چي د اسلام آباد چارواکي په وانه کي خونړي عمليات ترسره کړي، بمونه وورووي، توپونه او ټانکونه استعمال کړي او د لسهاوو مظلومو مهاجرو افغانانو، قبايلو او مليشو ويني توی کړي. امريکا ته د نظامي اډو په ورکولو کي او د افغانستان په ضد د امريکايانو ترقومندې لاندي جنګ کي د شريکېدو په اړه دا ضرورت نه محسوسوي چي له پارلمان نه موافقه ترلاسه کړي. شپږ سوه مظلوم مسلمانان نيسي او د کومي محاکمې نه پرته ئې امريکا ته حواله کوي.

۶. فرعون ويل چي سمه خبره همغه ده چي زه ئې کوم، ستاسو ښېګڼه يوازي په هغه څه کي ده چي زه ئې وايم، زموږ واکداران له دې لحاظه ترفرعون نه ډېر ډېر مخکي دي، نه د خدای او قرآن پروا کوي او نه د قانون. دوی ته پارلمان او خلك د

يوه توت په اندازه ارزښت نه لري، څه چي ئې زړه وغواړي همغه کوي.

• سرکاري مفتيان له جهاد سره د مخالفت په فتوی کي په دې خبري استناد کوي چي پيغمبر عليه السلام په مکي دور کي حتی هغه وخت هم د وسلې اخيستلو اجازه ورنه کړه چي ياران ئې يو په بل پسې وژل کېدل!! برعکس هغوی ته ئې د صبر توصيه کوله!! دې جنابانو ته وايو: دا دوی ولې وژل کېدل او دا تاسو ته ولې څوك څه نه وايي؟ نه دا ظالم، جابر او بې دينه حکام تاسو ځوروي، نه مو په زندان کي اچوي، نه مو وژني!! دا ستاسو او د صحابه وو د ايمان ترمنځ څه فرق دی چي هغوی د ايمان په خاطر وژل کېدل منل خو ابوجهل او د ده نظام ته نه تسليمېدل؟!! که هغوی دا ستاسو خبره کولی نو نه وژل کېدل او نه له ملك نه هجرت ته مجبورېدل. د دوی د وژل کېدو معنی خو دا ده چي دوی له حاکم نظام نه بغاوت کړی وو، د دې نظام واکمنان ئې نه منل، له نظام سره د ټکر او تصادم په حال کي وو، نظام له دوی نه وېره درلوده، د همدې لپاره ئې وژل. دا تاسو ولې په مکي کي د دوی په صبر استناد کوئ خو په مدينه کي د همدغو صحابه وو په مسلسل جهاد استناد نه کوئ؟!! ولې د دوی په هجرت استناد نه کوئ، ولې پر دښمن باندي د دوی په مسلسل بريدونو استناد نه کوئ؟!! ولې پر دې استناد نه شئ کولی چي پيغمبر عليه السلام د مدينې په لسو کلونو کي تر اويا نه زياتې نښتې له دښمنانو سره درلودې، يعني دا چي پيغمبر عليه السلام په هرو تقريباً څلورو مياشتو کي يوه داسي جګړه کړې چي په خپله ئې په کي برخه اخيستې ده او په هرو پنځوسو (۵۰) ورځو کي ئې يوه داسي نښته تنظيم کړې، چي يا ئې په خپله هم په کي برخه اخيستې او يا د ځينو خاصو وجوهاتو له مخې ئې په هغه کي شرکت نه دی کړی خو ويلي ئې دي: په هغه ذات مي قسم چي زما ژوند د ده په واك کي دی، که د يارانو خاطر نه وی نو زه به له يوې هغې وړې ډلې (سريې) نه هم وروسته نه وم پاتې شوی چي جهاد ته درومي!! په همدې ذات لوړه کوي او وايي: دا غواړم چي د الله په لار کي يو ځل شهيد شم بيا راژوندی شم، بيا شهيد شم او بيا راژوندی شم او بيا شهيد شم... دا ولې هغه د بار بار شهادت تمنا کوي خو تاسو د شهادت خبره خو پرېږده د جهاد د خبري له کولو نه هم ډډه کوئ؟!!

• که وغواړو چي د پیغمبر علیه السلام د سنت او اسلوب مطابق د سیاسي او اجتماعي مبارزې یو انځور وړاندي کړو نو په هغه کي لاندي څلور مرحلې په څرګنده توګه موندلی شو:

۱. د داسي دعوت مرحله چي په ټولنې مسلط ځواکونه ئې نه شي زغملی، د تعذیب، زندان، مقاطعې، محاصرې او د تبعید له ګواښونو سره مخامخ دعوت، چي سازش او مصالحه نه مني، چي له دښمن سره د روغې جوړې خبره په کي نه وي، چي له حاکم نظام نه د کامل بغاوت او عصیان بلنه ورکوي، د دې نظام له فکري او اعتقادي بنسټونو نه د برائت شعار ورکوي. داسي دعوت نه چي له نظام نه ئې مجوز ترلاسه کېږي او یوازي هغه خبره په کي کېږي چي واکداران ئې زغملی شي او نظام ئې اجازه ورکوي. مهمه نه ده چي دا دعوت به سري وي که علني، مهمه دا ده چي خپل خصوصیات حفظ کړي او د مکي دور ټول ځانګړتیاوې ولري.

۲. کوم دعوت چي د پیغمبر علیه السلام د دعوت په څېر وي، سیاسي، اجتماعي او فکري انقلاب غواړي او له دښمن سره د اصولو په سر سازش نه شي کولی، هغه به حتماً د هجرت له مرحلې سره مخامخ کېږي، هجرت د حقیقي اسلامي مبارزې یو طبیعي پړاو دی، دا پړاو په هوښیارۍ او احتیاط نه بلکي له اصلي مسیر نه په انحراف او له اصلي لاري نه په تېروتنې سره منتفي کېدی شي.

۳. د مبارزې درېیم پړاو له دښمن سره د مسلحانه تصادم پړاو دی، دا پړاو د مهجر له موندلو سره سم پیل کېږي، پیغمبر علیه السلام د مدینې په څېر د یوه وړوکي کلي له موندلو سره سم خپله مسلحانه مبارزه پیل کړه. په لومړي سر کي پټه مسلحانه مبارزه، د وړو وړو چریکي ډلو په واسطه، چي هدف ئې د دښمن سلطه متزلزل کول او هغه امنیت له منځه وړل وو چي د حاکم نظام په ګټه او د هغه د بقا باعث وو. او په دوهمه مرحله کي څرګنده مقابله او مخامخ نښته. د کفري نظام په ګټه (امنیت او اقتصاد) جړکول او په ولس باندي د واکدارانو مسلط رعب او هیبت ختمول د دې مرحلې اساسي او مهم اهداف دي. همدارنګ نظام مالي امکاناتو ته اړ دی، له دې نه پرته هغه دوام نه شي موندلی، د چریکي عملیاتو په نتیجه کي د حکامو د خوښي امنیت متلاشي کېږي، د لویو لارو امنیت ډېر ژر له منځه لاړ شي،

نظام له دې عاجز شي چې بډای او تاجر ته چې د نظام درېیمه ستنه ده ، د کار لازم او خوندي شرائط برابر کړي. هیڅ نظام دا حالت د اوږدې مودې لپاره نه شي زغملی، عام ولس چې د نظام له ظلم نه تل ځورېدلی خو له وېرې نه نه څه ویلی شي او نه څه کولی، د دغو عملیاتو په نتیجه کې د څه ویلو او کولو جرأت پیدا کړي او همدا د عمومي پاڅون مقدمه شي او د یوه ستر انقلاب کار له همدې ځایه پیل شي.
په دا راز عملیاتو سره د رژیمونو نسکورول او لویو ځواکونو ته ماتې ورکول ممکنه ده، دا ادعا کولی شو چې له کودتاګانو نه وروسته د رژیمونو د نسکورولو تر ټولو آسانه لار همدا ده. که د پیغمبر علیه السلام تر قیادت لاندې مسلحانه مبارزې ته ځیر شو نو وبه ګورو چې دا مبارزه د قریشو په ضد له چریکي بریدونو (سریو) نه پیل شوه، ورو ورو ئې لمن تر مخامخ نښتو خوره شوه، د مکې له فتحې نه وروسته د جزیرې له نورو ځواکونو سره او په پای کې په نړۍ واله سطحه د روم او فارس په څېر لویو ځواکونو سره مخامخ شوه. دا بهیر ښیي چې د مبارزې لمن باید په تدریج سره او په طبیعي توګه له محلي ځواکونو نه تر منطقوي او بین المللي ځواکونو پورې خوره شي.
۴. ځیني کارونه باید د مرکز تر فتحې پورې وځنډولی شي، په ټولنې کې اقتصادي اصلاحات یو له دغو کارونو څخه دی، دا ځکه چې پیغمبر علیه السلام د مکې له فتحې نه وروسته دا کارونه کړي، له سنت نه د متابعت تقاضا همدا ده چې هر کار په همغه وخت او همغه توګه ترسره کړو چې پیغمبر علیه السلام ترسره کړي.

- دا جنابان په دې هم نه پوهېږي چې په مکه کې د جهاد د اجازت نه ورکولو وجه دا وه چې هلته جهاد نه وو فرض شوی، مدینې ته له راتلو وروسته جهاد فرض شو، د جهاد دا فرضیت ترقیامته دوام کوي، دا ځکه چې د جهاد فرضیت نه دی منسوخ شوی. په مکې دور باندې د جهاد په اړه باید له دې اړخه استناد وشي چې که د مسلمانانو وضعیت داسې وي لکه په مکه کې او شمېر ئې هومره وي لکه په مکه کې د مسلمانانو شمېر، نو دوی ته په کار ده چې د صحابه وو په څېر صبر وکړي او وسلې ته لاس نه کړي. خو که د دوی وضعیت داسې شو چې مدني دور ته ورته وي او د مسلمانانو شمېر هومره وي چې هلته د مسلمانانو شمېر وو نو دوی

ته په کار ده چي جهاد ته ملا وتړي. د پیغمبر علیه السلام په سنت د عمل کولو تقاضا خو دا ده چي د جهاد په میدان کي هم هغه څه وکړو چي پیغمبر علیه السلام کړي، هغه مبارك خو په مکه کي د يوه مؤمن جماعت جوړولو په کار لګیا وو او په دې هڅه کي وو چي کوم مهجر پیدا کړي، داسي کوم قوم پیدا کړي چي ده ته پناه ورکړي او د الله په لار کي جهاد ته تیار شي، د مدینې يو شمېر اوسېدونکي دې ته تیار شول، مدینې ته له راتلو وروسته هغه جهاد پیل کړ، په لومړي سر کي ئې د عملیاتو لپاره واړه واړه څو کسیز ټولګي لېږل، دښمن ئې تنګولو، په هر ځای کي ئې دښمن ته تاوان رساوو، په ولس کي ئې د هغه رعب، وېره او اعتبار ختمولو، پرولس او ملك باندي د دښمن سلطه ئې جړقوله، بیا ئې د دښمن په تجارتي قافلو بریدونه پیل کړل، په بدر کي ئې له ۳۱۴ یارانو سره د دښمن مخامخ مقابله وکړه، تاسو ولې دا خبره نه شئ کولی چي کله د مسلمانانو شمېر دري سوه څوارلس ته ورسېږي کولی شي همغه څه وکړي چي پیغمبر علیه السلام وکړل؟!!

- د جهاد مخالفین په دې نه پوهېږي چي د اسلامي امت دا اوسنی وضع د هغه ماتې نتیجه ده چي اسلامي خلافت په کي له منځه لاړ او غربي ځواکونو اسلامي نړۍ په خپلو منځونو کي ووېشله او په هري برخي ئې بېل بېل ځواکونه مسلط شول، له هغه وروسته دا څوومه پېړۍ ده چي مسلمانان په ذلت، اسارت او محکومیت کي ژوند کوي، له آزادۍ او خپلواکۍ نه محروم دي، په سیاسي، اقتصادي او فکري لحاظ استعماري ځواکونه ورباندي حکومت کوي، لاس پوڅي حکومتونه ئې ورباندي مسلط کړي، له داسي اختناق او استبداد سره مخامخ دي چي د نړۍ په هیڅ ګوټ کي ئې مثال نه شو موندلی، واکداران ئې د پردیو په وړاندي سپك او ذلیل او د خپل ولس په مقابل کي مغرور او بې رحمه، دوی د پردیو غلامان دي او ولس د ځان غلامان ګڼي. د غلامۍ، ذلت او محکومیت دغه دردونکی حالت په ولسونو کي د عزت النفس احساس، د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه او د سرلوړي او پتمن ژوند تلوسه په کلکه ځپلې ده، يو وخت خو په ټولو اسلامي ملکونو استعماري ځواکونو مخامخ او د خپلو فوځونو په زور حکومت کولو، خو پس له هغه چي دا ځواکونه د خاصو عواملو په وجه ووتل نو داسي رژیمونه ئې شا

ته پرېښودل چي د دوی ګټې خوندي وساتي، د دې هېوادونو د مسلح ځواکونو جوړښت ئې داسي تنظيم کړ چي د لاس پوڅو رژیمونو مدافع او د هر ملي پاڅون د ځپلو لپاره د دغو ځواکونو په خدمت کي لاس په سینه ولاړ وي، تعلیمي نظام او نصاب ئې داسي جوړ کړ چي په علمي مؤسساتو کي تر روزنې لاندي ځوانانو کي د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه راولاړه نه شي، د پردیو په غلامۍ او تقلید کي د فخر احساس وکړي او له خپل اسلامي او ملي هویت نه پردي شي. د وتلو په وخت کي ئې د دې هېوادونو جغرافیائی نقشې داسي جوړې کړې چي له یوې خوا د دغو هېوادونو ترمنځ تل سرحدي منازعات روان وي او له بلي خوا هغه قومونه چي له استعماري ځواکونو سره جنګېدلي د مختلو ملکونو ترمنځ ووېشلی شي، په اقتدار کي له برخي نه محروم کړی شي، هغو اقلیتونو ته قدرت وسپارلی شي چي له استعماري ځواکونو سره ئې ملګرتیا کړې او په راتلونکي کي تل په دوی متکي وي او په اقتدار کي د پاتې کېدو لپاره د دوی شرائطو منلو ته اړ وي. د دې ښه مثالونه پښتانه او کردان دي، چي له استعماري ځواکونو سره د دوامدارې مبارزې په وجه یو په دریو او بل په څلورو برخو ووېشلی شو. استعماري ځواکونو په دې اوږدې مودې کي په پراخو تبلیغاتو سره قومي، ژبني او محلي تعصباتو ته هومره لمن وهلې چي هیڅوك د لوی او متحد ملت او امت تصور او فکر ونه شي کړی، استعماري لیکي مقدس او تغییر نه منونکي وګڼي، دا دره د هغې بلي ګاونډۍ درې اوسېدونکي پردي او حتی دښمن وګڼي او اصلي دښمن هېر کړي. په دې نه پوهېږي چي د اسلامي هېوادونو اکثر حاکم نظامونه یا پردیو تحمیل کړي او لاس پوڅي او په اسلامي هېوادونو د زاړه استعمار د سلطې پاتې شونې دي، یا خانداني دي چي خاصي کورنۍ د ولس د ارادې خلاف په زور او د پردیو په مرسته پر دوی حکومت کوي، یا قومي او فرقه ئي بڼه لري، د یوې مذهبي فرقې پلویان اختیارات په واك کي لري، نور ئې له خپلو ټولو انساني او اسلامي حقوقو نه محروم کړي، د دوی سیاسي او مذهبي مشران وژني، چا د شیعه ترنامه لاندي سنیان ځپلي او له خپلو ټولو اسلامي او انساني حقوقو نه ئې محروم کړي او چا د سني په جامه کي شیعه محروم کړي، د اسلامي هېوادونو په دې دردونکي حالت به

هغه څوك رضايت ښيي چي يا په غلامۍ او اسارت کي ستر شوی، د غلامۍ ذهنيت لري، آزادي نه پېژني او د آزادۍ خوند ئې نه دی څکلی او يا هغه څوك چي په خپلي ټولنې کي له خور فساد، ظلم، بې عدالتۍ او بې امنيتۍ نه خبر نه دی، په دې نه پوهېږي چي دلته څه روان دي، هره ورځ څومره کورنۍ تباه کېږي، د څومره بې وزلو انسانانو په سر، مال او عزت تېری کېږي، بډايان څنگه بډاي شوي او نادار ولې او د چا د ظلم او تېري په وجه له هرڅه نه محروم شوي؟!! هغه ته د ټولنې موجود حالت د امن حالت برېښي، په دې نه پوهېږي چي دلته يوازي واکداران په امن کي دي، له حاکمانو نه پرته هيڅوك د امن احساس نه کوي، په سلو کي د پنځه نوي خلکو سر، مال او عزت خوندي نه دی، که دلته تاسو له يوه عادي انسان نه پوښتنه وکړئ چي د يوه پوليس په خوا کي د تېرېدو په وخت کي څه احساس کوي؟ چي کله د ده کلي ته پوليسان ورشي کليوال څه احساس کوي؟ آيا دا گمان کوي چي دا پوليسان د دوی حفاظت کوي او که دوی په يونيفورم کي د رنړا ورځي غله گڼي او له دوی نه هومره وېره لري چي له غلو ئې نه لري؟!! د محکمې او قاضي په هکله څه فکر کوي؟ هغه د مظلوم مدافع گڼي که د ظالم حامي؟ د دفتر مأمور ته په کومه سترگه گوري؟ د ده په عدالت او امانت څومره باور لري؟ له نظام نه ئې څه ترلاسه کړي او څه خير ئې ترې ليدلی؟ له کوم ظلم نه ئې ژغورلي؟ چېري ئې د ده له سر، مال او عزت نه دفاع کړې او د چا په مقابل کي؟! راشئ وگورئ چي هر پوليس هره ورځ څومره خلك څوروي، هره ورځ په هرکلي کي خان، ملك، شتمن او د ځمکو خاوند په بې وزلو کليوالو څومره ظلمونه کوي، د څومره کسانو ځمکي او جايدادونه د ځواکمنو لخوا غصب کېږي، د بې وزلو څومره لوڼې په زور نکاح کېږي، د څومره پېغلو په عفت تېري کېږي، په هر دفتر کي هره ورځ څومره نارواوې او حق تلفي کېږي، په بيت المال کي څومره غدر او خيانت کېږي، چارواکو له هغه بيت المال نه په استفادې سره چي له بې وزلو انسانانو نه په يوه بل نامه په نارو ترلاسه شوي، ځانته څنگه اشرافي ژوند برابر کړی او عام خلك څنگه د فقر، لوږې، خوف او سپکاوي دردونکی ژوند تېروي!! دا ډېره عجيبه ده چي څوك دې حالت ته د امن نوم ورکوي او وايي: بايد داسي څه ونه کړو چي دې موجود امن ته صدمه

ورسېږي، باید هغه وخت د دې حالت د بدلولو هڅه وکړو چي مطمئن وو تر دې غوره حالت راوستی شو!! دغو له واقعیتونو نه بې خبره کسانو ته باید ووایو: ټولو پیغمبرانو ته همدا خبره شوې چي دوی موجود امنیت ختموي، شرارت خوروي، د شخړو او جګړو باعث دي!! دوی ته باید ووایو: هغه امنیت چي د بې عدالتۍ او ظلم په خدمت کي، د ظالمانو په ګټه، د دوی د سلطې د دوام ضامن او د بې وزلو او مظلومانو په تاوان او په مظلومیت او محرومیت کي د دوی د دوامدار پاتې کېدو باعث وي، دي ته اور اچول پکار دی، پیغمبران د دې لپاره راغلي چي دغه دروغجن امنیت ختم کړي او په ځای ئې هغه واقعي امنیت راولي چي په عدالت ولاړ وي او مظلوم له ظلم نه وژغوري. عجیبه ده که څوك په دې حقیقت نه پوهېږي چي د اسلامي نړۍ موجود حالت د داخلي ظالمانو او بهرنیو استعمارګرانو په ګټه دی، په دې کي هره تبدیلي د دوی د منافعو خلاف او د ملتونو په نفع دی. اوس په اسلامي هېوادونو کي یوازي اسلامي احزاب او ډلي منظم او ځواکمن سیاسي قوتونه دي، فقط دا ډلي کولی شي له دې تبدیلي نه استفاده وکړي.

د شهادت طلبانه عملیاتو په هکله او دا چي آیا دا عملیات جائز دي؟ آیا هغه چا ته شهید ویلی شو چي په ځان پسې بمونه تړي او ځان او دښمن له منځه وړي؟ آیا دا کار د قرآن له دې آیت سره مخالفت نه دی چي فرمایي: ولا تلقوا بایدیکم الی التهلکة: په خپل لاس ځان په تهلکه کي مه اچوئ؟ په دې هکله باید څو خبري په پام کي ولرو:

- دا مکمل آیت نه بلکي د یوه آیت یوه برخه ده، آیت داسي دي:

وَ أنفِقُوا فی سبِیلِ اللّهِ وَ لا تُلْقُوا بِأَیْدِیکُمْ إِلی التهْلُکَةِ وَ أَحْسِنُوا إِنّ اللّهَ یحِب الْمُحْسِنِینَ * البقرة: ۱۹۵

او د الله په لار کي انفاق وکړئ او ځان په خپل لاس په تهلکه کي مه اچوئ او احسان وکړئ چي الله محسنین خوښوي.

د دې آیت معنی دا ده چي د الله په لار کي انفاق نه کول، بخل او له قربانۍ نه

ډېره كول، تهلكه ده، بايد قرباني وركړئ او د الله په لار كي خپل مال ولګوئ تر څو له دې تهلكي وژغورلى شئ. له دې آيت نه مخكي ويل شوي چي كه څوك په تاسو تېرى وكړي نو تاسو هم بالمثله ځواب وركړئ (فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ) له دې نه معلومېږي چي په دې وروستي آيت كي له انفاق نه مراد د دښمن په ضد جهاد كي قرباني وركول او مال مصرفول دي. له دې آيت نه دا انتباه اخيستل چي ځان په خطر كي مه اچوئ، يوه غلطه انتباه ده، دا سمه نه ده چي څوك د يوه كلام نيمائي برخه راواخلي او مخكنۍ او وروستنۍ برخي ته له پام نه پرته، له هغې خاصه معنى راوباسي. په دې آيت استناد كول او دا خبره ترې ايستل چي شهادت طلبانه او فدائي عمليات جائز نه دي، نه يوازي بې بنسټه او غلط استناد دى بلكي له آيت نه معكوسه معنى او انتباه اخيستل دي. آيت د قربانۍ بلنه وركوي او د عدم قربانۍ عواقب او پايله تهلكه ګڼي خو دوى معكوس مطلب ترې راباسي!!

- په مخكني آيت كي له دښمن سره بالمثله عمل جائز ګڼل شوى، كه دا آيت او له دې وروسته راتلونكى آيت يو ځاى او د يوه مضمون د متصلو برخو په حيث په پام كي ولرو نو له دې نه دوه خبري معلومېږي: لومړى دا چي له انفاق نه په دې ځاى كي د دښمن په خلاف په جهاد كي قرباني وركول او د مال انفاق مراد دى او دا مطلب په ګوته كوي چي د جهاد په سامان او وسايلو باندي د مال د نه مصرفولو عاقبت خطرناك او په خپل لاس ځان مرګ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چي له دښمن سره بالمثله معامله جائز ده.
- دا د شهادت طلبانه عملياتو مخالفين ولې دې ته توجه نه كوي چي قرآن له دښمن سره بالمثله معامله جائز ګڼي؟! قرآن مضطر انسان ته حرام روا كړي، قرآن مجبور انسان ته د كفر د كلمي ويل هم روا كړي، قرآن مظلوم انسان په بدي وينا او ښكنځلو د مؤاخذي وړ نه ګڼي، د ده د مظلوميت په وجه، د يوه ناروا او ناجائز كار سره سره، هغه ته معافي اعلانوي. څوك چي د اسرائيلو او امريكا په ضد شهادت طلبانه عمليات ترسره كوي، له يوې خوا مظلوم دى، له بلي خوا له ظلم نه د نجات بله لار نه ګوري، له بلي خوا بالمثله عمل كوي او بالآخره دې ته مجبور شوى.

قرآن فرمايي:

وَ لَمَنِ انتَصرَ بَعْدَ ظلْمه فَأُولَئك مَا عَلَيهِم مّن سبيلٍ * إنّمَا السبيلُ عَلى الّذينَ يَظلِمُونَ النّاس وَ يَبْغُونَ فى الأرْضِ بِغَيرِ الْحَقّ أُولَئك لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ * سبا:۴۱-۴۲

او چا چي له مظلوميت نه وروسته انتقام واخيست هيڅ الزام وربandي نشته، الزام خو په هغه چا دی چي په ناحقه پر خلكو ظلمونه كوي او په ځمكه كي فساد لټوي، دغو لره دردناك عذاب دی.

• کوم کسان چي د امريکايانو په ضد شهادت طلبانه عمليات ناجائز ګڼي، هغوی په عراق او افغانستان کي پر امريکايانو د مجاهدينو نور بريدونه هم نه تائيدوی، دا سرکاري مفتيان دي، هغه خبره کوي چي د دوی حکومتونه ئې کوي، هغه فتوی ورکوي چي حکومت ورته ليکلي وي او پر هغې د مهر لګولو امر ورته شوی وي. که يو سرکاري مفتي په فرانسه کي د حجاب ممنوعيت د فرانسې داخلي مسئله ګڼي او همغه فتوی ورکوي چي د مصر حکومت ئې ترې غواړي نو دا به د امريکا په ضد د شهادت طلبانه عملياتو څنګه ملاتړ کوي او څنګه به د هغه د جواز فتوی ورکوي؟!! څوك چي يوه شېبه هم د الله په لار کي جهاد ته نه وي وتلی، نه ئې وسله اخيستې، نه په سنګر کي پاتې شوی، نه ئې زندان ګاللی، نه ئې د ظالمو حکامو په ضد يوه د حق خبره کړې، له دې نه څنګه دا طمع کوئ چي د شهادت طلبانه عملياتو ملا تړ وکړي او هغه جائز وګڼي؟!! د جهاد فتوی بايد له مجاهد عالم او مجاهد مفتي نه وغوښتی شي نه د قاعد او د جهاد مخالف سرکاري مفتي نه.

• که څوك شهادت طلبانه عمليات له هغې ځان وژنې سره مقايسه کوي چي يو کس د بې صبرۍ او د الله تعالی له رحمت نه د يأس او ناهيلۍ په وجه ځان وژني، دا ډېره غلطه مقايسه ده، د قرآن هغه آيتونه چي د خوف او وېرې په وجه له ځان وژنې نه ممانعت کوي په شهادت طلبانه عملياتو تطبيقول ډېر ناروا تطبيقول دي. دا خو د وېرې او يأس په وجه نه بلکي له الله سره د شديدې مينې او د ده پر دين باندي د

غيرت کولو په وجه ځان قرباني کوي.

• نه پوهېږو دا کار چې څوك په خپلې چانتې کي بمونه، کارتوس او د راکټ مرمۍ اچوي او د هغه دښمن مقابلې ته درومي چې هم ئې تر ده وسايل زيات او مخکي تللي دي او هم ئې شمېر زيات دی او له هغه سره د ده د نښتې لوی او قوي احتمال دا دی چې دي په شهادت رسېږي، خو سره له دې سنگر ته درومي او د دښمن مقابله کوي او بلآخره په شهادت رسېږي، دا کار له دې څه فرق لري چې يو کس همدا بمونه په ځان پسې وتړي او د دښمن منځته ننوځي او هلته دا بمونه منفجر کړي او دښمن له منځه يوسي؟!! دا په داسي حال کي چې دی دغه کار ته اړ وو، بله چاره ئې نه لرله، له ځرگندې وسلې سره دښمن ته نه شو نږدې کېدی، د دښمن د وژلو نورې لاري چارې ورته نه وې. ډېره عجيبه ده چې څوك هغه کار جائز او د مکافات وړ وگڼي او دا ناجائز او د سزا وړ. په کار خو دا ده چې دا کار په دې خاطر تر هغه بل هم د لوړ اجر مستحق وگڼلی شي چې دلته د الله په لار کي وژل کېدل يقيني او په هغه بل کي احتمالي دي. يو د الله په لار کي د شهادت وروستۍ او يقيني فيصله کوي او هغه بل د شهادت ترڅنگ د دې طمع هم لري چې ژوندی ببرته راوگرځي، دا د بريد په وخت کي ځا نته هم پام کوي او دا احتياط کوي چې ده ته صدمه ونه رسېږي خو هغه بل د ځان هيڅ پروا نه کوي، ټول هم او غم ئې دا وي چې د الله دښمن ته تر زيات نه زيات تلفات واړوي. که د هر معيار له مخې دا دواړه مقايسه کړو نو د عدالت تقاضا دا ده چې د دې شهادت غوښتونکي کار تر هغه بل نه ډېر ډېر لوړ وگڼو. دا به ډېره عجيبه وي چې څوك دا يو کار شهادت وگڼي او هغه بل ته د شك په سترگه وگوري او له شهادت گڼلو ئې ډډه وکړي.

• مخکي له دې چې څوك په دې هکله څه ووايي چې په نيويارك او اسرائيلو کي د غيرمحاربو کسانو د وژل کېدو حکم څنگه دی، هغه بايد دا خبره په پام کي وساتي چې آيا امريکايانو او اسرائيلو دې ته ورته کار کړی که نه، غيرمحارب کسان ئې وژلي که نه، لاسونه ئې د بې گناه خلکو په وينو سره دي که نه، د قاتلانو مرسته کوي که نه، قاتل ته ئې پيسې او وسلې ورکړې که نه، په ښار، کلي او جومات ئې بمونه ورولي که نه؟ که هغوی دا کارونه کړي وي نو د دوی مقابل طرف

ته له هره لحاظه دا حق حاصل دی چي د دوی په ضد همداسي وکړي، له دې لحاظه هم چي هغه مظلوم دی او د انتقام اخیستو حق لري او له دې لحاظه هم چي هغه ته هر عدالت د بالمثله عمل اجازه ورکوي. لکه څنګه چي اسرائیلیان هر فلسطیني محارب ګڼي، د هغه په وژلو صرفه نه کوي، نه په لوی رحم کوي نه په وړو، نه په ښځو رحم کوي نه په سړو، د شیخ احمد یاسین په څېر یوه سپین ږیری، له دواړو سترګو او پښو محروم، له جومات نه د راګرځېدو په حال کي، له امریکائي هلیکوپتر نه په راکټ ولي او له ګڼ شمېر کسانو سره ئې یو ځای په شهادت رسوي، امریکایان همدا ستر جنایت یو جائز عمل ګڼي او وایي چي اسرائیل له ځان نه د دفاع حق لري!! اوس که څوك د امریکایانو او اسرائیلو په ضد دې ته ورته عمل کوي، هغه شرعاً، عدلاً او عقلاً د دې حق لري. امریکایانو او اسرائیلو په هغه څه چي دوی ئې په فلسطین، افغانستان او عراق کي کوي هر فلسطیني او هر مسلمان ته د دې مجوز ورکړی چي هر امریکائي او اسرائیلي محارب وګڼي او خپل انتقام ترې واخلي. دا بېله خبره ده چي څوك مجاهدینو ته مشوره ورکړي او ورته ووایي: په کار ده خپل بریدونه د دښمن هغو ځواکونو او ځایونو ته متوجه کړئ چي د دښمن جنګي ماشین پرچاو او د ملا تېر ئې ورمات کړي. خو که هغه دا ونه کړی شي او ووایي چي هلته مي لاس نه رسي، هلته د رسېدو توان نه لرم، نو چي د خپل دښمن پر هرځای برید وکړي او خپل غچ ترې واخلي دا د ده مشروع حق دی.

- د دې پوښتني په ځواب کي چي د قرآن د دې حکم معنی څه ده چي د دښمن په خلاف د خپل وس او توان په اندازه قوت او وسایل برابر کړئ؟ آیا معنی ئې دا ده چي زموږ وسایل به د شمېر او کیفیت له لحاظه له دښمن سره برابر وي بیا به د دښمن مقابله کوو او که د خپل موجود توان په اندازه د وسایلو په برابرولو مکلف یو؟ باید ووایو: که څه هم د دې آیت مطلب ډېر څرګند او واضح دی خو د جهاد مخالفین له دې نه هم غلط تعبیر کوي او وایي چي یوازې هغه وخت به د دښمن مقابلې ته وځو چي د قوت او وسایلو له لحاظه له دښمن سره برابر وو!! د دوی د دغه غلطي انګېرنې په اړه څو خبري کول ضروري دي:

o په نوموړي مبارك آیت کي دا نه دي ویل شوي چي تاسو به خامخا د دښمن په

اندازه قوت او وسايل برابروئ، برعکس ويل شوي چي د خپل وس او توان په اندازه قوت او وسايل برابر کړی. آيت دغه دی:

وَ أَعِدُّوا لَهُم مَّا استَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَ مِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِه عَدُوَّ اللّه وَ عَدُوَّكُمْ وَ ءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لا تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَ مَا تُنفِقُوا مِن شيءٍ فى سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَ أَنتُمْ لا تُظلَمُونَ * الانفال: ۶۰

او د دوی لپاره له (قوت) او (له تړلو آسونو) نه چي څومره ستاسو په وس کي وي برابرکړئ، ترڅود الله دښمن او خپل دښمن او له دوی نه علاوه چي تاسو ئې نه پېژنئ خو الله ئې پېژني، ووېروئ او څه چي تاسو د الله په لار کي خرڅ کړئ، تاسو ته به ئې بشپړ ببرته درکړي او پر تاسو به هيڅ ظلم نه کېږي.

o په دې آيت کي خو د جنګي وسايلو په جوړولو او برابرولو کي مالي مصرف ته مسلمانان هڅول شوي او ورته ويل شوي چي په دې اړه ستاسو مصارف الله تعالی نه ضايع کوي، نتيجه به ئې په بشپړه توګه تاسو ته درکوي، د جهاد مخالف سرکاري مفتيان ولې د دې واضح مفهوم برعکس هغه د جګړې د شروع کولو لپاره د شرط په توګه معرفي کوي؟

o پيغمبر عليه السلام هغه وخت د قريشو په ضد جهاد پيل کړ چي نه ئې د مجاهدينو شمېر د قريشو د جنګياليو په اندازه وو او نه ئې وسلې او جنګي وسايل او امکانات. که زموږ پيغمبر عليه السلام له دې آيت نه دا مفهوم نه وي اخيستی چي جګړه به له دښمن سره د قوت او وسايلو له تعادل او توازن نه وروسته پيل کوئ، نو ته څنګه او په کوم دليل دا غلطه معنی ترې اخلې.

• اما دا پوښتنه چي آيا مسلمان د دې حق لري چي ووايي: زه د مکي دور په څېر صبر کوم، د نوح، ابراهيم، عيسی، يوسف او نورو هغو پيغمرانو عليهم السلام په شان له مسلحانه جهاد نه ډډه کوم چي د دښمن په خلاف ئې وسله نه ده استعمال کړې؟ په دې هکله لاندي وضاحتونه ضروري ګڼو:

• هیڅ په دین پوه انسان دا خبره نه کوي، څوك چي د اسلام نه ډېر لږ معلومات هم ولري دا خبره غلطه ګڼي او له کولو نه ئې ډډه کوي، هغه پوهېږي چي د جهاد له فرض کېدو نه وروسته هیڅوك دا حق نه لري چي ووايي: د جهاد ضرورت باید منتفي وګڼلی شي او په ځای ئې د مکي دور په څېر صبر ته مخه شي، په دې هم هر مسلمان پوهېږي چي د قرآن له نازلېدو وروسته ټول مخکني کتابونه منسوخ شوي، اوس له قرآن نه پرته په بل کتاب عمل کول حرام شوي، هسي هم له قرآن نه پرته بله داسي ډاډمنه مرجع او کتاب نه دی پاتې چي د نورو پیغمبرانو په هکله موږ ته ثقه او ډاډمن معلومات راکړي او پر دې مو پوه کړي چي هغوی د کفري نظامونو د بدلولو لپاره کومه طریقه خپله کړې وه، اسلام موږ ته وايي چي که عیسی علیه السلام ځمکي ته بیاراغی نو تورې ته به لاس کوي او د جهاد لپاره به ملا تړي، همغه عیسی علیه السلام چي بایبل خلکو ته د ده وینا داسي په ګوته کوي: که چا پر یوه مخ څپېړه درکړه، بل مخ هم ورواړوه!! که رومي عسکر درته وویل چي دا پېټی مي یو فرسخ راسره یوسه، ته ئې دوه فرسخه یوسه!! خو کوم عقل به دا خبره ومني چي د عیسی علیه السلام په څېر یوه مجاهد پیغمبر به داسي خبره کړې وي؟!! پیغمبرانو علیهم السلام په هکله خو موږ ته قرآن په ټول صراحت سره وايي چي هر یوه په خپل وخت کي د مسلطو نظامونو مقابله کړې، ځیني زندان ته تللي، ځیني هجرت ته اړ شوي، ځیني په اور کي اچول شوي، د چا په صلیب د خېژولو او په دار کولو فیصله شوې، یاران ئې وژل شوي، د اور په کندو کي ژوندي اچول شوي، موږ نه پوهېږو چي د دغو پیغمبرانو په څېر له صبر کولو نه د دغو کسانو مراد څه دی؟ له دغو پیغمبرانو نه خو یوه هم داسي صبر نه دی کړی چي دوی ئې وايي، نه پوهېږم ته د موسی علیه السلام په سنت عمل کول غواړې، که د ابراهیم علیه السلام، که نوح، داؤد، سلیمان او عیسی علیهم السلام؟!! ته خو د بې دینه، مفسدو او ظالمو حکومتونو تر حکم لاندي آرام ژوند کوې، نه ته د واکدارانو په ناروااوو اعتراض کوې او نه حکومت ستا مزاحم کېږي، د همدې حکومتونو نوکري کوې، نه زندان ته ولاړې، نه هجرت ته مجبور شوې، نه په اعدام محکوم شوې، نه په اور کي ولوېدې، نو زه نه پوهېږم تا د کوم پیغمبر په سنت عمل کړی او د دغو

پیغمبرانو په سنت له عمل کولو نه ستا مقصد څه دی؟!! د دوی په سنت د عمل کولو معنی خو دا ده چې ته د ابراهیم علیه السلام په څېر تبر راواخلې او د نمرودي نظام هغه بت نسکور کړې چې د ټول نظام ماڼۍ ورسره ولړزي او د دې پروا هم ونه لرې چې په اور کې دې اچوي او یا د موسی علیه السلام په څېر له یوې عصا سره د فرعون مقابلې ته ولاړ شې او یا د نوح علیه السلام په څېر له زر کاله پټ او ښکاره دعوت نه ستومانه نه شې، یا د عیسی علیه السلام په څېر چې له یوه ښار نه بل ته وایستلی شو او په پای کې د ده د وژلو او په دار کولو فیصله وشوه!! خو که مقصد دې دا وي چې په دې حکومتونو کې خپله نوکري د مصر په حکومت کې د یوسف علیه السلام له وزارت سره تشبیه کوې!! نو څو خبرو ته غوږ شه:

o یوسف علیه السلام دا کار په هغه وخت کې کړی چې لا په پیغمبرۍ نه وو مبعوث شوی. د پیغمرانو علیهم السلام یوازې په هغو کارونو د استناد کولو حق لرو چې له بعثت نه وروسته ئې کړي.

o یوسف علیه السلام له زندان نه دربار ته رسېدلی، هغه ته په دربار کې د مصر پاچا او ملك د وزارت عظمی وړاندیز کوي او ورته وایي: غواړم تا د ټول مصر کامل واکدار (مکین) او د ټولو شتمنیو (امین) وټاکم، یعني د ټول مصر دوهم باصلاحیته او ځواکمن واکدار، خو یوسف علیه السلام د سیاسي دندې په ځای دا غوره وګڼله چې د اجتماعي خدماتو وظیفه په غاړه واخلي او د راتلونکي احتمالي قحطي د مقابلې کار ورته وسپارلی شي. ده د صدارت او وزارت عظمی په ځای د وزارت مالیې دنده غوره وګڼله. خو په عمل کې هغه د مصر داسي بې رقیبه واکمن وو چې د ملك له مرگ نه وروسته دی د تخت او تاج خاوند شو. عجیبه ده چې ته د یوسف علیه السلام په دې کار باندي په موجوده حکومتونو کې خپل ذلیل مأموریت توجیه کوې، دا ډېره قبیح او شنیع توجیه او مقایسه ده.

o په داسي حکومتونو کې د کار کولو په هکله پیغمبر علیه السلام فرمایي: لَيَأتِيَنّ عَلَيْكُمْ أمراء يُقرّبونَ شرَارَ الناس، ويُؤخّرونَ الصّلاةَ عَنْ مواقيتها، فَمَنْ أدْرَكَ ذلكَ منْكُمْ، فلا يَكُونَنّ عَرِيفاً ولا شُرْطِياً ولا جَابِياً ولا خَازِناً * داسي امراء به پرتاسو مسلط شي چې ترټولو زیات شریر کسان به ځانته نږدې کوي او لمونځ به له خپل

اصلي وخت نه ځنډوي، له تاسو نه چي هر چا دا حالت بيامونډو نو نه دې (په دې نظام کي) د خلکو استاځيتوب کوي، نه دې پوليس شي، نه د زکات او عشر راټولوونکی او نه خزانه دار. د دې مبارك حديث په رڼا کي راشئ وګورو چي د اسلامي ملکونو په موجوده نظامونو کي د کار کولو حکم څه دی؟ که د داسي امراوو او حاکمانو تر قيادت لاندي له حکومتي کارونو نه منع شوي وو چي يوازي دوه عيبه لري: شرير او مفسد کسان ځانته نږدې کوي او لمونځ له خپل وخت نه لرې ځنډوي، نو په هغو حکومتونو کي د کار کولو حکم به څه وي چي چارواکي ئې د کفري ځواکونو په لاس مسلط شوي، په ماانزل الله حکم نه کوي، په فساد، بې دينۍ، خيانت او غدر کي ترستوني غرق دي، د دين، ايمان او اخلاق د جرړو د ايستلو لپاره له هيڅ څه نه ډډه نه کوي، سود او قمار حلال ګڼي، د شرابو بازار ئې ګرم کړی، رقص، سرود، د ښځو او نارينه وو اختلاط، د دوی د هر محفل لوازم، نه په پټه بلکي په ښکاره او بربنډه توګه او د ټلويزيون په صفحه!!

o قرآن موږ له دې نه منع کړي يو چي له ظالم، فاسق او کافر سره دوستي او ملګرتيا وکړو، که څه هم زموږ نږدې خپلوان وي. د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو کي په دې هکله صراحت شوی او ويل شوي چي که له مؤمنانو نه چا له کافرانو سره دوستي او ملګرتيا وکړه نو هغه له الله سره خپلي ټولي اړيکي قطع کړې او د کافرانو له ډلي نه ګڼل کېږي. لکه چي فرمايي:

لا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَفِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِن دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَ مَن يَفْعَلْ ذَلِك فَلَيْسَ مِنَ اللّهِ فِى شيءٍ* آل عمران:۲۸

مؤمنان دي له مؤمنانو پرته کافران په دوستۍ نه نيسي او چا چي دا کار وکړ نو يقيناً چي په هيڅ څه کي له الله سره تعلق نه لري (له الله سره د ده ټولي اړيکي قطع شوې)

قرآن هغه څوك د دوزخ د اور مستحق ګڼي چي د ظالمانو ملګرتيا کوي:

وَ لا تَرکَنُوا إِلی الّذِینَ ظلَمُوا فَتَمَسکُمُ النّارُ وَ مَا لَکم مِّن دُونِ اللّه مِنْ أَولِیَاءَ ثُمّ لا تُنصرُونَ* هود:۱۱۳

او د ظالمانو په لوري تمایل مه کوئ که نه نو په اور به اخته شئ، په داسي حال کي چي له الله پرته هیڅ اولیاء نه لرئ، بیا به مو هیڅوك مرسته ونه کړی شي.

پیغمبر علیه السلام فرمایي: من مشي مع ظالم لیعینه وهو یعلم أنه ظالم فقد خرج من الإسلام.

ثوك چي له یوه ظالم سره په دې خاطر درومي چي د هغه ملاتړ او مرسته وکړي، په داسي حال کي چي پوهېږي هغه ظالم دی، یقیناً چي له اسلام نه ووت.

وصلی الله تعالی علی سیدنا محمد وعلی آله واصحابه اجمعین

حکمتیار

شعله های آتش در خانه من

# فرصت طلایی برای همسایه من

ما افغان ها پس از آغاز حمله امریکا بر افغانستان، انتظار آنرا داشتیم که کشورهای اسلامي مخصوصاً آنهائی که یا ضد امریکا اند ، و یا امریکا ضد آنها ، و آنانکه حضور نظامي امریکا در منطقه را تهدید جدی برای مصالح ملي خود و خطری برای امنیت منقطه می خوانند ، نه تنها حمله بر افغانستان را محکوم کنند ، بلکه از افغان ها در مقاومت شان علیه تهاجم بی رحمانه امریکا حمایت نمایند. ولی متأسفانه، برخی موضع بی طرفی فعال اتخاذ کردند ، برخی مؤید غیر فعال شدند ، عده ای اجازه استفاده از حریم هوایی و فرودگاه های خود را به امریکا دادند ، پاکستان تمامی شرایط امریکا را پذیرفت و اجازه داد اولین عملیات کوماندوئي از حریم زمینی این کشور علیه افغانستان انجام شود ، ازبکستان نه تنها پایگاه بزرگی را در اختیار امریکا گذاشت که بیش از صد هواپیمای جنگی و تعداد زیاد سربازان امریکائی در آن مستقر شدند ، بلکه تعهد سپرد که تمامی قطعات نظامي ازبکستان که در زمان حضور نظامي اتحاد شوروي در افغانستان، در کنار قطعات روسي در کشور ما جنگیده اند و پس از خروج نیروهای شوروي از افغانستان در کنار جنرال دوستم ماندند و تجارب کافی جنگ در این کشور را دارند ، اکنون در خدمت امریکا خواهند بود و به عنوان نیروهای زمینی امریکا به افغانستان فرستاده خواهند شد. همکاری ازبکستان با امریکا به پیمانه ای است که در برابر آن هشت ملیارد دالر دریافت کرد. ازبکستان از نظر امریکا یکی از

نقاط ستراتیژیك است که تسلط بر آن به امریکا امکان خواهد داد تا بر منابع سرشار نفت و گاز آسیای مرکزی مسلط شود. اینك این منطقه حساس قبل از اشغال افغانستان بدست امریکا افتاد.

ترکیه نیز نیروهای‌کوماندوئي خود را در اختیار امریکا گذاشته که به پایگاه امریکا در ازبکستان انتقال یافته اند تا یکجا با قطعات خاص امریکا و ملیشه های ازبکستان، از طریق ترمز وارد افغانستان گردیده و شهر مزار را تصرف نموده و جنرال دوستم را در آن مستقر کنند.

در جمهوری اسلامي ایران با آنکه مقام رهبری آن، حمله امریکا را محکوم نموده و از مردم مظلوم افغانستان حمایت کرده است ولی عده ای موضع مغایر با موقف وی اتخاذ نموده و گفته اند که: حمله امریکا بر افغانستان فرصت طلایی برای ایران فراهم کرده است که باید با استفاده از این فرصت به روابط خود با امریکا بهبود بخشیده، و به ائتلاف ضد تروریزم برهبری امریکا بپیوندد و مثل اسلام آباد امتیاز بگیرد و سهم شایسته ای در ترکیب اداره بعدی افغانستان برای خود تدارك بیند.

ما اعتراضی بر این نداریم که ایران در پی بهبود روابط خود با امریکا باشد ولی این بهبود روابط نباید به بهای ویرانی مزید افغانستان، کشتار مردم بی‌گناه ما و اشغال کشور ما توسط امریکا باشد. برای ما حیرت آور است که این عده چرا پیآمدهای وخیم تسلط امریکا بر افغانستان را درك نمی کنند؟ چرا متوجه نیستند و یا عمداً از اعتراف به این حقیقت طفره می روند که ادامه جنگ در همسایگی ایران و استقرار نیروهای امریکایی در افغانستان بیش از هر کشور دیگری به ضرر ایران است و مصالح ملي ایران و امنیت منطقه را به خطر مواجه می کند؟ چرا از درك این حقیقت عاجز اند که تسلط بر افغانستان، امریکا را در موقعیتی قرار خواهد داد و غرور زمامداران قصر سفید را به آنجا خواهد رساند که هیچ نیرویی تاب ایستادگی در برابر سلطه کامل آن بر مجموع منطقه و حتی دنیا را نخواهد داشت، و کشوری چون ایران را که در لست سیاه و بعنوان حامی تروریزم درج کرده است هرگز نخواهد بخشید و به چیزی کمتر از تحمیل حکومت دست نشانده بر

ایران راضی نخواهد شد. این یك مغالطه قبیح است که عده ای در ایران می گویند: آیا ایران با برقراری روابط خوب با برخی از کشورهای اروپایی استقلال خود را از دست داد و یا به بهایی منافع ملي خود با این کشور ها کنار آمد؟! این استدلال، بی مایه است و یك مقایسه بی بنیاد. مقایسه کشورهای اروپایی با امریکا و برقراری روابط عادی اقتصادي با اروپا و صحه گذاشتن بر حضور نظامي امریکا در منطقه خیلی از هم تفاوت دارند. تنها افرادی آنرا یکسان می شمارند که جرأت انکار از حقایق را دارند!! مگر درست است که عزایم فرانسه و آلمان در مورد ایران را شبیه عزایم امریکا شمرد؟! امریکا به ایران به عنوان کشوری می نگرد که زمانی پایگاه نظامي این کشور در منطقه بود و پس از پیروزی انقلاب اسلامي آنرا از دست داد و همواره به فکر تسلط مجدد خود بر این کشور بوده، تلاش های گسترده ای برای اعاده تسلط خود بر ایران داشته، از جنگ علیه این کشور و کودتا ها برای سرنگونی رژیم حاکم حمایت کرده است.

اگر از دیدگاه دینی و مذهبی به قضیه بنگریم، حمایت از امریکا در برابر مردم مظلوم افغان و در برابر هر کشور اسلامي دیگر منافی ایمان و عقیده بوده و مترادف خروج از اسلام تلقی می شود. در مواردی که کشور اسلامي و ملت مسلمانی مورد هجوم مسلحانه نیروهای غیر اسلامي قرار می گیرد، بقیه مسلمانان نه این حق را دارند که بی تفاوت یا بی طرف باشند و نه این حق را که با قول و عمل، بطور مستقیم و غیر مستقیم، علنی و غیر علنی از چنین حمله ای حمایت کنند.

قرآن می فرماید:

لاتجد قوماً یؤمنون بالله و الیوم الآخر یوادون من حاد الله ورسوله.

هیچ گروهی را که به خدا و رستاخیز باور دارد چنان نخواهی یافت که با کسانی دوستی کنند که با خدا و پیامبرش دشمنی کرده است.

پیامبر علیه السلام می فرماید: من مشي مع ظالم لیقویه و هو یعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام.

هرکی با ستمگری همراهی کند غرض تقویه اش، با آنکه می داند او ستمگر

است، بی‌گمان که از دایره اسلام بیرون رفته است.

از نظر اسلام تجاوز بر افغانستان مثل تجاوز بر ایران است و دفاع از ملت مسلمان افغانستان بر هر ایرانی همانگونه فرض است که دفاع از ایران در برابر تجاوز اجنبی بر آنان فرض است.

ما تعجب می کنیم که عده ای در پارك های تهران برای کشته های حوادث نیویارك و واشنگتن شمع افروختند ولی برای هزاران کشته و زخمی افغان که در نتیجه بمباری های وحشیانه امریکا به خاك و خون کشانده شدند و ده ها هزار آواره های که خانه های گلی شان با خاك یکسان شده و به جستجوی سرپناه به کشور های دربسته همسایه خود سرازیر شده اند، نه شمع افروختند و نه شعار ضد جنگ و دفاع از صلح سردادند و نه به کسانی پیوستند که تظاهرات پرشکوهی در ایران و تمامی دنیا در تقبیح حمله امریکا بر افغانستان و حمایت از افغان های مظلوم داشتند. ما به تحلیل ها، تبصره ها و مقاله های آن عده روزنامه های ایرانی که ادعا می کنند آزاد و مستقل اند ولی بطور مستقیم و غیر مستقیم از کسانی نمایندگی می کنند که برای کشته های امریکا شمع افروختند، به امریکا حق می دهند بر افغانستان حمله کند و این نظریه منحط را تبلیغ می کنند که این حمله فرصت طلایی برای ایران فراهم کرده است، باید این فرصت را از دست نداد و از طریق همکاری با امریکا به روابط خود با این کشور بهبود بخشید!! این روز نامه ها برکسانی می تازند که حمله امریکا بر افغانستان را به حکم ایمان و عقیده خود محکوم می کنند و با مردم مظلوم و بی دفاع افغانستان بنابر عاطفه و ترحم انسانی اظهار همدردی می نمایند. اینها کشورهایی را می ستایند که در جنگ علیه افغانستان در کنار امریکا ایستادند و از افغان هایی ستایش می کنند که امریکا آنها را سربازان نیروی زمینی خود می خواند!! چه نفرت انگیز است حرف هایی که در ستایش از ستمگر مغرور و نکوهش از ستمدیده مقهور، دهن آلوده می کند و صفحه سفید کاغذ را سیاه.

از روزیکه حمله وحشیانه امریکا بر افغانسان آغاز شده است، برخی از روزنامه های ایرانی بجای آنکه این حمله غیر انسانی و ظالمانه را محکوم کنند و

از مردم مظلوم افغانستان بدفاع بپردازند ، از یکسو با تحلیل ها و تبصره های جانبدارانه خود اقدام امریکا را موجه جلوه می دهند و آنرا مبارزه برضد تروریزم و اقدام تلافی جویانه مشروع می خوانند و از سوی دیگر بر کسانی می تازند که این حمله را تقبیح می کنند و پیآمدهای آنرا برای تمامی منقطه وخیم می خوانند. این روزنامه ها از گروه هایی حمایت می کنند که از حمله امریکا استقبال نموده و به امریکا اطمینان داده اند که حاضرند در کنار سربازان امریکائی علیه ملت و کشور خود بجنگند. گروه هایی که رئیس جمهور و وزیر دفاع امریکا در کنفرانس های مطبوعاتی خود در باره آنها می گویند که امیدواریم این گروههای افغانی چون نیروهای زمینی ما عمل کنند ، ایشانرا کمك می کنیم و با بمباردمان خطوط مقدم طالبان، راه را برای پیشروی آنان بسوی پایتخت و شهرهای بزرگ باز می کنیم!

در صفحات برخی از این روزنامه ها پس از این روز بطور مکرر شاهد نوشتارهایی هستیم که علیه بنده بنشر رسیده است. اکثر آنها شبیه دشنام نامه هایی است که انسان شریف از جواب گفتن به آن نیز احساس شرمندگی می کند. نمی‌دانم جز دفاع از مردم مظلومم و تقبیح تجاوز وحشیانه امریکا برکشور چه گناهی را مرتکب شده ام که باعث تحریك خشم نویسندگان این دشنام نامه ها شده است؟!

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحیم

# بر درد های امت اشك بریزیم

انسان، هرگاه وضعیت موجود امت را با دوران مجد و عظمت گذشته اش مقایسه میکند ، دوران سربلندی امت را که بر همهٔ دنیا از لحاظ فکري و اخلاقي و بر قسمت اعظم زمین از لحاظ سیاسي و نظامي حکومت میکرد ، کشور بزرگ و امت عظیم و نیرومند و فاتحي از یك درالخلافه رهبري می گردید و کسي را در دنیا توان مقابله با آن نبود و احدی جرأت نمی کرد به مسلمان عادی، در یك گوشه دور افتادهٔ دنیا ، تحقیر و توهین روا دارد وبر او تجاوز کند ، برای دفاع از آبروی یك زن مسلمان لشکر های بزرگی بحرکت می افتاد و تا انتقام نکشیده و متجاوز را بجایش ننشانده بودند آرام نمی گرفتند و بر نمی گشتند. مسلمان در هرگوشهٔ دنیا سربلند و عزیز بود و برای همه الگوی شرف و آزادی.

زمانیکه دوران تابناك جلال و عظمت و سربلندی و عزت را با وضع دردناك فعلی مقایسه کنیم باید از دیده ها بجای قطرات اشك خون بریزیم و بر عاملین این فاجعه بزرگ و دردناك ترین سانحه تاریخ نفرین بفرستیم .

وقتی بجای کشور بزرگ اسلامی کشور های کوچك کوچکی را می بینیم که هریکی تحت سیطرهٔ یکی از کشور های بزرگ چون مستعمره، چون پایگاه نظامی، چون بازار فروش اسلحه، چون مارکیت برای عرضه مصنوعات، چون دست نگر، عقب مانده، جهل زده، در همه چیز محتاج دیگران، و مایه تمسخر.

و وقتی قبله اول مسلمانان را در اشغال یهود می بینیم و کشور های اسلامی را مصروف درگیریهای داخلی، استمداد از اجنبی علیه همدیگر، اسلحه می خریم نه برای دفاع از حریم اسلام و در برابر دشمن، بلکه برای جنگ با برادر، با مسلمان دیگر، با همسایه خود، با کسیکه در زمان سربلندی، اتباع یك کشور و اعضای یك امت بودیم.

کشور های اسلامی بمحاصره کشانده می شوند، به حمله و تجاوز تهدید می گردند، ولی ما یا ساکتیم، یا به نفع این محاصره ها و تحریم رأی می دهیم و یا تجاوزات را تائید می‌کنیم.

کشوری را سراغ نداریم که بگوید: ما با محاصره عراق موافق نیستیم و به قرار های امریکائی و ملل متحد وقعی نمی‌گذاریم. محاصره لیبیا را محکوم می کنیم، تهدید امریکا علیه ایران را تقبیح می نمائیم. امریکا حق ندارد بعنوان وصی و قیم دنیا و ژاندارم بین المللی، اراده اش را برکشور های دیگر تحمیل کند و حق تصمیم در این مورد را به خود اختصاص دهد که چه کشوری می تواند سلاح اتمی داشته باشد و چه کشوری نمی‌تواند !! اگر اسرائیل می تواند اسلحه اتمی تولید کند، اگر هند حق دارد اسلحه اتمی داشته باشد، چرا پاکستان، ایران و عراق از این حق محروم باشند. دلیل این برخورد دوگانه، تحقیرآمیز و مغایر عدالت و نا برابری چیست؟ آیا دلیلی جز ضعف و بیچارگی مسلمانان، ناشی از اختلاف شان، وجود دارد؟

اگر ایران مورد تهدید قرار می گیرد، رقبایش در کشور های اسلامی، بجای آنکه این تهدید را علیه خود بشمارند، و متوجه شوند که بعد از ایران نوبت آنان فراخواهد رسید بر عکس شادمان می شوند.

اگر عراق، لیبیا و سودان مورد مواخذه قرار می‌گیرند و در لست مغضوب علیهم گرفته می شوند، کشورهای حریف اینان در جهان اسلام از آن استقبال می کنند.

ایران از حملهٔ امریکا بر افغانستان و عراق نه تنها حمایت کرد بلکه امریکا را در اشغال کابل و بغداد به حدی کمك کرد که بدون این کمك اشغال کابل و بغداد

برای شان ممکن نبود ، مسئولین ایرانی به جای این که از این خیانت تاریخی احساس خجالت و شرمندگی کنند برعکس بر همکاری و تعاون شان با امریکا مباهات نموده و در کنفرانس های مطبوعاتی و خطبه های نماز جمعه به آن اعتراف می کردند و اظهار می داشتند که به این نوع همکاری ها در هر جائی دیگر آماده اند !!

ما چرا نمی توانیم علي الاقل برای نجات از تحقیر و تذلیل، برای دفاع از حریم اسلام، برای دفاع از مقدسات خود و برای آزادی قبله اول مسلمانان دست بهم بدهیم ، اختلافات داخلی خود را فراموش کنیم و علیه دشمن مشترك جبهه متحد بسازیم؟

اگر کشورهای اسلامی اختلافات خود را کنار بگذارند ، یکي بر تحقیر و تذلیل دیگری توسط دشمن شادمان نشوند ، برای دفاع از حریم اسلام جبهه متحد بسازند هم اسرائیل را بجای خود خواهند نشاند و قدس را آزاد خواهند کرد و هم پوز امریکا را به خاك خواهند مالید و دنیا را از شر این مادر فساد نجات خواهند داد .

اگر ملت مجاهد افغان توانست اتحادشوروی را با شکست مواجه سازد ، در هر ملت مسلمان دیگری نیز این توان و شایستگی وجود دارد که در برابر دشمن بایستد و دستآوردی شبیه به دستآورد افغانان در مقاومت داشته باشد .

بدون شك اگر یك کشوری به نمایندگی از مجموع امت وارد جنگ شود و کشور های دیگر، پول زکات خود را برای تمویل جبهه مقاومت در اختیار این کشور بگذارند ، برای پیروزی امت و نجات ازاین تحقیر و تذلیل کفایت خواهد کرد .

ولی آیا کسی هست که چنین تصمیمی بگیرد ، ابتکاری بکند ، برای توحید امت اقدام نماید ، ملیت گرایی را کنار بگذارد ، تعصبات مذهبی و قومی را تحریم کند ، خود را در راه خدا و دین وی و سربلندی امت وقف کند ؟

امت در انتظار چنین قیادتیست و جهان اسلام چشم براه چنین کشوری. اگر امت متحد می بود ، نه مشکل افغانستان را می داشتیم و نه مشکل فلسطین،

تاجکستان، بوسنیا، الجزائر، کشمیر، چچین ، برما....

همۀ این مشکلات ناشی از آن است که امت یتیم است، ولی و سرپرست ندارد، مدافع و پاسدار ندارد، به کاسۀ طعام چربی می ماند که از هر سو برای بلعیدنش دست ها دراز شده است، چون مال بدون وارث، چون باغی که میوه اش رسیده ولی چون دیوارهایش فروریخته هر رهروی می تواند سبدش را از میوه های آن پر کند.

امیدواریم پایان این دوران سیاه و تاریك نزدیك باشد و روزی بزودی فرا رسد که امت اسلامی سربلندی و عظمت گذشته اش را باز یابد و مقام رهبری عالم را بدست آورد.

تحقق این آرمان بزرگ حتمیست، ببینیم خدای قدیر و حکیم بدست پرتوان چه کسی و توسط کدام ملتی این وعده محتوم خود را تحقق می بخشد.

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# نامه سرکشاده به سران کشور های اسلامی

به شما سروران امت پر جلال و بزرگ !!

به شما وارثان تمدن عظیم و بی نظیر !

به شما رهبران پنجاه و پنج کشوریکه زمانی از یك پایتخت در شهر کوچك مدینه (برابر با یك ناحیه شهر های امروزی) اداره می شد ولی این شهر کوچك، که نه قصرهای مجلل داشت و نه ساختمان های چند طبقه ای، محور همۀ دنیا بود و سرنوشت همۀ عالم در اینجا رقم می خورد!

به شما رهبران هزار و دوصد ملیون مسلمان !

به اجلاس تان در تهران، امید های بزرگی بسته بودیم، انتظار داشتیم هشتمین اجلاس سرنوشت ساز باشد ، به دو دلیل:

۱ - شاید یکه تازي های امریکا پس از زوال اتحاد شوروی و برخورد تحقیر آمیزش با مسلمانان و ناکامی سیاست های اتکاء بر امریکا ، همه را بر آن واداشته تا برای دفاع از عزت امت و داشتن جایگاه آبرومند در جهان، قدمهای مؤثری برای توحید امت و بر خورد با قضایا به عنوان یك بلاك بزرگ نیرومند تصامیم جدی اتخاذ شود.

۲- تجارب تلخ اختلافات، وابستگی به غیر، دوری از اسلام، پناه بردن به روش های غیر اسلامی و ... همه را متوجه آن ساخته است تا به اصل خود برگردند.

اجلاس پرشکوهي بود ، در نوع خود بي سابقه، فضايش گرم و دوستانه، فيصله هايش جامعتر از گذشته، کسانيکه سايه همديگر را با توپ مى زدند ، باهم نشستند ، دست دوستي بهم دادند و حرف هاى همديگر را با حوصله مندى شنيدند ، ولى اجازه بدهيد از شما بپرسم:

آيا ممکن نبود از اين فرصت تاريخي در رابطه با قضاياى بزرگ سرنوشت ساز امت استفاده بعمل مى آمد ، چند مورد را حساب مى کنم:

۱ - امت از ناحيه اختلافات شديد مذهبى به سختى رنج مى‌کشد ، اين اختلافات متناسب با عودت مردم به دين، بيش از پيش تشديد مى‌گردد ، از شکل تعصب مذهبي بيرون رفته، بصورت جنون مذهبى درمى آيد ، همين حالا در برخى از کشور ها ، اين اختلافات بجاى رسيده که افراد يك گروه بر ديگرى در مسجد و در اثناى نماز حمله مى برند و بر صفوف مزدحم نماز گذاران با کلشنکوف ضربه نموده، نارنجك پرتاب مى‌کنند و صحن مسجد را به خون اشخاص بيگناه سرخ مى کنند ، از اين کار نه تنها احساس گناه نمى‌کنند بلکه بر موفقيت خود مى بالند و خود را مستحق ثواب مى شمارند! انجام اين درگيرى ها ونتائج دردناکى که براى امت تحويل خواهد داد کاملاًهويدا است!!

در برخى ديگرى از کشور ها مى بينيم که استبداد خشن مذهبى در آن حاکم است. اقليت هاى مذهبى از تمامى حقوق اسلامى و انسانى خود محروم اند ، عضويت در پارلمان و کابينه واشتغال در پست هاى رده بالاى دولتي را که بگذار ، حتي در استخدام آنان بعنوان مامور و مستخدم نيز احتياط بخرچ مى‌دهند !!

چرا يك قدم جدى در جهت تقارب و سپس توحيد مذاهب برداشته نشود؟ به اين شرح:

الف: جلسه سران کشور هاى اسلامى هيئت با صلاحيتي را که على الاقل شامل نمايندگان کشور هاى مصر، سعودي، ايران، پاکستان و اندونيزيا باشد ، مؤظف کند و صلاحيت اقدامات عملي براى توحيد مذاهب را به آنان بسپارند .

ب: اين کميسيون مجمع صدنفرى علماى غير متعصب و متبحر در علوم دينى و دانشمندان معتبر و وارد در علوم ديني، اجتماعي را که از همۀ فرقه ها و

گروههای مذهبی و سیاسي نمایندگی کند ، با هدف توحید مذاهب منعقد بسازد.

ج: مجمع مذکور نخست از پیروان تمامی مذاهب بزرگ اسلامی بخواهد که:

- در گیری های مذهبی را متوقف سازند.
- از تبلیغات سوء و مخاصمانه علیه همدیگر خود داری ورزند.
- از اعمال تبعیض و تعصب علیه اقلیت ها اجتناب کنند.
- نماز یکي در اقتدای دیگری را جائز بشمارند.
- برای این منظور از سران کشور های اسلامی بخواهند که در جریان اجتماعات شان همه در یك صف دراقتدای رهبر کشور میزبان نماز با جماعت اداکنند.

ثانیاً این مجمع با استفاده از همهٔ تفاسیر معتبر و در روشنایي تحقیقات علمی چند قرن گذشته، تفسیر واحد و متفق علیه از قرآن بعمل آرند و این تفسیر بعنوان یگانه تفسیر قابل تمسك برای تمامی مذاهب اعلان گردد و به نشر آن به پیمانه وسیع اقدام شود. با وجود احترام عمیق به مساعي جمیله مفسرین محترمی که هریکي به تنهایي به تفسیر قرآن پرداخته و خدمات شایسته و قابل قدری نموده اند ، برای رفع اختلافات همهٔ این تفاسیر گذشته فردی ممنوع الطبع اعلان شود. گویا در رابطه با ارائه تفسیر واحد کاری صورت گیرد شبیه به اقدام عاقلانه و مدبرانه عثمان رضي الله عنه در رابطه به توحید نسخه های متعدد قرآن، انتخاب یك نسخه و نشر وسیع آن و کنار گذاشتن بقیه نسخه ها و جلوگیری از اختلاف رای خطرناك و دارای عواقب وخیم.

این مجمع توافق نماید که پس از این احدی حق ندارد به تنهایي به تفسیر قرآن بپردازد ، تفسیر قرآن و تجدید نظر در آن از وظایف مجمع بزرگ، معتبر و شامل علمای مشهور و متقي و نماینده تمامی امت شمرده شود.

پس از توحید تفسیرها ، روایات قابل تمسك همهٔ مذاهب در روشنایي همین تفسیر بررسي گردیده هرچه با آن تصادم کند کنار گذاشته شود و کار تنقیح روایات در پرتو همین تفسیر صورت گیرد ، روایات غیر مؤثق، ضعیف و موضوعي و نظرات شخصي تحت عنوان تفسیر و مستند به روایات غیردقیق از

کتب روایات ما زدوده شود.

۲ - آیا این ضروت احساس نمی‌شود که تعارض نظام های سیاسي در جهان اسلام را باید از میان ببریم، با وجود ادعای پیروی از دین واحد، چرا شاهد نظام های گوناگون سیاسي، اجتماعي و اقتصادی در جهان اسلام هستیم؟ در حالیکه معتقدیم دین اسلام چون سائر ادیان نیست که تنها به بعد معنوی و روحي انسان اعتنا داشته سائر ابعاد زندگی فردی و اجتماعي انسانرا مهمل گذاشته و به صوابدید انسان محول کرده است، بلکه اسلام در رابطه با همهٔ ابعاد زندگی انسان هدایات روشن، جامع و کاملي دارد، چه شده که با وجود هدایات قاطع و روشن اسلام، ما دارای این همه نظام های متعارض و متضاد همدیگر هستیم ؟ در یك کشوری دیکتاتوری فردي، در دیگری استبداد خانوادگی و قبیلوي، در آن دیگری استبداد مذهبی و حزبی، در یکي اصلاً شوری بطور شکلي و سمبولیك نیز وجود ندارد، در دیگری شوری فرمایشي وانتصابی، در آن دیگری شوری منتخب ولی بر فرق آن و حاکم برآن شوری های انتصابی دیگری !! در یکي فرد واحد هم قانونگذار است و هم مجری قانون، در دیگری حزب و گروه واحدی زمام امور را بطور کامل در دست دارد، ملت نه نقشي در انتخاب زعیم دارد، نه حق اظهار رای در رابطه با وضع مقررات ولوائح و قرارداد های اجتماعي و چگونگی تصرفات شان در اموال مربوط به ملت، زمامدار می‌تواند در حق ملت هرچه بخواهد روا دارد، بهر سو بخواهد ببرد، بهرکي بخواهد بفروشد، نه از محاسبهٔ خدا بیمی دارد و نه ملت را مستحق پرسش و خود را ملزم به پاسخ می شمارد.

آیا ممکن نیست برای خاتمه بخشیدن به این حالت تأسف آور و متعارض با روح اسلام اقدام دلسوزانه وقاطع بعمل آریم؟ به این شرح:

سران کشور های اسلامی، هیئت با صلاحیتي را توظیف کنند تا طرح قانون اساسي نمونه اسلامی برای نظام سیاسي، اجتماعي و اقتصادی را از طریق مجمع علما و دانشمندان فوق الذکر به تصویب برساند، اجلاس سران کشور های اسلامی با آن توافق کند و فیصله نمایند که در جریان ده الي بیست سال آینده همهٔ کشور های عضو سازمان کنفرانس اسلامی نظام های سیاسي و اجتماعي و

اقتصادی شانرا مطابق به این طرح عیار می سازند. در طرح مذکور باید چند نقطه اساسي حتماً مراعات شود.

الف: با صلاحیت ترین مرجع تصمیم گیری باید شورای ممثل ملت باشد.

ب: اعضای شوری باید وکلا و نمایندگان مردم بوده، توسط مردم و در نتیجه انتخابات آزاد انتخاب گردند.

ج: (اقتدار) امانت مردم و تشخیص (اهل این امانت) حق و واجب مردم تلقي گردد. سلب این حق مسلم از مردم و غصب اقتدار از طرق دیگری جز موافقه مردم و مراجعه به آراء شان، عمل ناجائز و خلاف اسلام شمرده شود.

د: شوری مرجع واحد و نهایي وضع مقررات و لوائح، تصویب سیاست ها، تثبیت بودجه دولت و تحدید تشکیلات اداری پذیرفته شود.

هـ رئیس دولت و رهبر کشور مستقیماً توسط مردم انتخاب گردد و در رأس قوه اجرایي قرار داشته وظیفه اش اجرای قوانین و مقررات و تصرف در بودجه مشخص دولت و تعمیل فیصله های مجلس بوده، نه حق وضع مقررات را داشته باشد و نه صلاحیت عدول از فیصله های مجلس را.

و: قوه قضائیه علاوه بر حل و فصل منازعات قضایی و حقوقی، حیثیت نگهبان قانون را داشته، انطباق مقررات با قانون اساسی، و بررسی اعتراضات بر مغایرت قرار ها و فیصله ها با قانون اساسی از صلاحیت های مجلس اعلی قضا محسوب گردد.

به این ترتیب هر یکي از کشور های اسلامی دارای یك مجلس نیرومند، منتخب و ممثل واقعي مردم گردیده، از مشکلاتي که تعدد مجالس تصمیم گیری باعث می شود، جلوگیری بعمل آمده، دارای رئیس دولت منتخب و قوه اجرایی مورد اعتماد ملت بوده، از شر تعدد نهاد های اجرایی مستقل نجات یافته، برای نظارت بر عملیه قانون سازی و جلوگیری از مقررات مغایر قانون اساسی، دارای مجلس اعلای قضایی خواهد بود.

تا رسیدن به این هدف، کشور های اسلامی بر چند مطلب اساسي توافق کنند:

الف: وضعیت موجود در کشور های اسلامی را هر چند دردناك است بعنوان

واقعیت های موجود بپذیرند.

ب: از هر نوع مداخله در امور همد یگر خود داری ورزند.

ج: سازمان کنفرانس اسلامی را تا سطح شبیه اتحادیه اروپا ارتقاء دهند و از آن سازمان فعال تر و مؤثر تری بسازند.

د: بر بازار مشترك با هم توافق کنند.

هـ: سیاستی وضع کنند که در نتیجه آن تا ده سال آینده، کشور های اسلامی دارای کرنسی (واحد پولی) مشترك گردند.

و: اقداماتي صورت گیرد که در نتیجه آن ضرورت ویزه میان کشور های اسلامی تا پنج سال آینده منتفي شود.

ز: بر تشکیل محکمه باصلاحیت بین الدولی باهم توافق نمایند و تا چند سال آینده آنرا عملاً تأسیس کنند و بعنوان مرجع معتبر حل و فصل منازعات خود بپذیرند.

ع: بر دفاع مشترك تعهد نمایند و تعرض بر هر کشور اسلامی را تعرض بر مجموع جهان اسلام تلقي کنند و تا ده سال آینده اردوی نیرومند مشترك شبیه ناتو تشکیل دهند.

ط: عجالتاً از قرارداد خریداری اسلحه و فروش نفت و گاز با کشور هائیکه با مسلمانان درگیراند و یا نیروهای محارب را کمك می کنند، مشترکاً خود داری نمایند.

ی: بر موضعگیری واحد برای آزادی قدس شریف و همهٔ سرزمینهای اشغالي به توافق برسند.

ك: مطالبه تغییر در ساختار ملل متحد و شورای امنیت این سازمان و لغو امتیاز حق ویتوی پنج کشور غیراسلامی و جلوگیری از سلطه آنان بر این سازمان و تأکید بر حضور کشور های اسلامی در شوری امنیت ملل متحد، متناسب با حضور شان در اسامبله عمومی ملل متحد و متناسب با تعداد مجموعی مسلمانان کره زمین، یعنی یك چهارم باشد.

مگر شرم آورنیست که هزار و دوصد ملیون مسلمان در شورای امنیت یك

نماینده دائمی نیز ندارد؟ ولی کشورهای انگلستان و فرانسه که از خیلی کشورهای اسلامی از لحاظ زمین و نفوس کوچك تر اند عضو دائمی این شوری و دارای حق ویتو باشند.

ل: با تحریمها و محاصره های اعمال شده علیه کشورهای اسلامی مقابله صورت گیرد.

بدون شك اگر سران کشورهای اسلامی اقدامات سریع و جدی در جهت توحید امت و نجات از این وضع بعمل نیارند با عواقب بد تر از امروز مواجه خواهند شد.

گمان نکنند که با محافظه کاری، دفاع از وضع موجود و مقابله با تحولات مثبت، ادامه اقتدار خود و پایداری وضع حاکم را تضمین خواهند کرد، دنیا با سرعت زیاد بسوی نفی مرزها و نفی نظامهای استبدادی پیش می رود، امکان ندارد نظامهای غیر مردمی تا بیست سال دیگری دوام کنند، چه بهتر که آنرا بدست خود به نفع امت تغییر دهیم و آنرا در قالب اسلام بریزیم.

چنانچه کمپنی های بزرگ، جای کمپنی های کوچك را می‌گیرد، و کمپنی های کوچك برای بقای خود مجبور اند در شرکتهای بزرگ مدغم شوند، همچنان کشورهای کوچك ناچار اند برای بقای خود متحد شوند، اگر کشورهای مختلف اروپایی با وجود اختلاف در دین و مذهب و زبان و نژاد، بسوی اروپای متحد و بزرگ به سرعت پیش می روند و جریانات سیاسی، اجتماعی و اقتصادی عصر، این حرکت بسوی یکپارچگی و وحدت را بر آنها تحمیل می‌کند، کشورهای اسلامی نیز برای بقای خود چاره ای جز آغاز حرکت سریع، تند و جدی برای وحدت ندارند.

در غیرآن اگر امروز ۹۰% جنگهای داخلی، درگیری میان کشورها، بی امنیتی، بی ثباتي، فقر، جهل، فرارسرمایه ها، فرار استعدادها... در جهان اسلام است وکشورهای اسلامی به بازار فروش اسلحه و مارکیت مصنوعات دیگران تبدیل شده، با ادامه این وضع در آینده نه چندان دور، صد در صد این مصائب را در جهان اسلام شاهد خواهیم بود و با وضع نهایت بد تر از امروز مواجه خواهیم

شد.

آیا ما از سران کشورهای اروپایی خجالت نمی کشیم؟ آیا شرم آورنیست که امریکا با پنجا و دو ایالتی که هر یکی بزرگتر از خیلی کشورهاست بعنوان کشور واحد عمل می‌کند وامروز به فکر آقایی بر همهٔ دنیاست و ما افراد یك امت وسرنشینان کشور بزرگ اسلامی به پنجا و پنج کشور تقسیم شده ایم و بسوی تقسیم بیشتر جلو می رویم؟

اگر شما قادرید امت را از این وضعیت دردناك نجات بدهید و مجد و عظمت گذشته اش را با یك تصمیم قاطع، مدبرانه و مؤمنانه اعاده کنید ، اگر این کار را نکیند آیا ظلم و جفای نا بخشودنی ای را مرتکب نشده اید.؟؟

والسلام علی من اتبع الهدی
حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

وَ لَوْ لا دَفْعُ اللّه النّاس بَعْضهُم بِبَعْضٍ لهُدّمَت صوَامِعُ وَ بِيَعٌ وَ صلَوٰتٌ وَ مَسجِدُ يُذكرُ فِيهَا اسمُ اللّهِ كثِيراً وَ لَيَنصرَنّ اللّهُ مَن يَنصرُهُ إِنّ اللّهَ لَقَوِىٌّ عَزِيزٌ * الحج: ۴۰

موضوعات:

- په جهاد ټینګار او په بریا باور
- له طالبانو او القاعده سره د ګډې جبهې تردید
- د بهرنیو فوځونو تر کامل او بلاقید او شرط وتلو پورې د جهاد په دوام تأکید

متن:

افغاني مجاهدینو له خپل رب سره تعهد کړی چې امریکایان به د روسانو په څېر له خپل هېواد نه وتلو ته مجبوروي. دوی د الله په نامه هوډ کړی چې ترڅو ئې خپل هېواد نه وي آزاد کړی او اشغالګر ځواکونه ئې د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې څخه نه وي ایستلي وسله به په ځمکه نه ږدي او دښمن به یوه شېبه هم آرام نه پرېږدي. امریکایان دې په دې پوه شي چې نه له آزادي غوښتونکو افغانانو سره خپله ستونځه د بمباریو، ترور او وژنو له لارې حل کولی شي او نه له ټول اسلامي امت سره خپل بې شمېره مشکلات په عراق د برید له لارې او د اسرائیل د حمایت او په اسلامي هېوادونو کې د مزید نظامي اډو د جوړولو او د استبدادي، مفسدو او لاس پوڅو حکومتونو د تپلو او حمایت له لارې. د حل یوازې یوه لار په مخکې لرې: او هغه دا چې په اسلامي نړۍ او په زېرمو ئې له سلطې نه لاس په سر شي، د

لاس پوځو وطن پلورونکو واکمنانو له حمایت نه ډډه وکړي او مسلمانانو ته د پتمن، آزاد او خپلواك ژوند او د خپلې خوښې نظامونو د جوړولو موقع ورکړي. که په عراق مخکنۍ حمله د القاعدې د پیدابښت پیلامه شوه، نو د افغانستان له جگړې او په عراق له بل برید نه هم فقط د همداسې او تر دې نه د سترو لانجو راپیدا کېدو انتظار وکړئ.

دا باید یو ځل بیا ټولو افغانانو ته په ډاگه کړو چې ترڅو زموږ په گران هېواد امریکایان حکومت کوي او پردي ځواکونه زموږ په هېواد مسلط وي، موږ له مؤقتې ادارې او هیڅ افغاني ډلې سره، حتی له هغې سره چې ستر ستر ملي خیانتونه او تاریخي جنایتونه ئې کړي وي، د جنگ اراده نه لرو، نه غواړو خپل وخت، امکانات او فرصتونه له دوی سره په بې فایدې نښتو کې ضایع کړو. اوس یوازې د یرغلگرو ځواکونو په ضد په مسلسل او نه ستړي کېدونکي جهاد تأکید کوو او ټول دې جهاد ته رابلو. اوس باید ټولو ته معلومه شوې وي چې امریکا د طالبانو او القاعدې له ځپلو نه علاوه نور شوم مقاصد درلودل، د افغانستان دائمي اشغال د دوی لومړی ناولی مقصد وو او دا جگړه په حقیقت کې د بل صلیبي جنگ مقدمه وه.

موږ له طالبانو سره د دوی د اقتدار په وخت کې ونه جنگېدو، که څه هم دا کار مو کولی شو او ډېرو هېوادونو هم غوښتل چې موږ په هغې جگړې کې ښکیل شو، د بې دریغه مرستو وړاندیزونه ئې هم کول، خو موږ هغه جگړه د اسلام او د خپل مسلمان ولس په گټه نه گڼله، اما اوس او د امریکائي ځواکونو په لاس د هېواد له اشغال نه وروسته، له جهاد نه پرته د حل بله لار نه گورو، دښمن ټولې لارې زموږ په مخ تړلې دي. دا جهاد باید تر هغه ادامه وکړي چې ټول بهرني ځواکونه له هېواد نه ووځي او د افغان ولس له خوښې سره سم اسلامي حکومت جوړ شي.

دا هم باید واضح کړو چې موږ نه مخکې له طالبانو سره کومه معاهده درلوده او نه اوس. که څه هم اوس د ټولو مجاهدو او آزادي غوښتونکو ځواکونو ترمنځ د یوې متحدې جبهې جوړېدل تر بل هر وخت نه زیات ضروري گڼو خو متأسفانه داسې یوه جبهه د ځینو خاصو عواملو په وجه تراوسه نه ده جوړه شوې. د داسې

جبهې د جوړېدو په هکله چې کوم تبليغات شوي حقيقت نه لري. روان عمليات د آزادي غوښتونکو باايمانه مجاهدينو په ځای، طالبانو، القاعدې او له دوی سره جوړې شوي کومې مزعومي جبهې ته منسوبول يا د بې خبرۍ نښه ده يا د بدغرضۍ. نه عملاً داسي کومه جبهه شته او نه طالبانو او القاعدې د دغو عملياتو دعوی کړې!! موږ له ټولو افغانانو نه غواړو چې له هغو اتلو مجاهدينو سره لاس يو کړي چې د بهرنيو ځواکونو د بلاقيد او شرط، فوري او کامل وتلو او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د ملت د خوښې اسلامي حکومت د جوړېدو لپاره ئې دا مقدس جهاد پيل کړی. د دوی صادقانه ملگرتيا او رښتونی ملاتړ په ټولو مسلمانانو فرض دی.

زه افغان ولس ته اطمئنان ورکوم چې امريکائي ځواکونه له وتلو نه پرته بله هيڅ چاره نه لري، هغوی به حتماً وځي او ډېر ژر به وځي، د دنيا او آخرت ذلت او سپکاوی به د هغه چا په برخه وي چې له کفري يرغلگرو ځواکونو سره ئې داسلام او خپل مظلوم او ځورېدلي ولس په ضد ملگرتيا وکړه. بايد په دې پوه وو چې دا د الله ثابت او نه بدلېدونکی سنت دی چې کوم ځواك نړۍ له تباهۍ سره مخامخ کړي الله ئې حتماً نسکوروي او نړيوال د هغه له شر نه ژغوري، د همدې الهي سنت په اساس موږ په دې باور لرو چې امريکا به د شوروي اتحاد په څېر په زوال محکومېږي، ښايي الله تعالی اراده کړې چې د دې درېيم (شين سترگي ډايناسور) زوال هم د افغانستان په غرونو او سردرو کي پيل کړي او له نسل نه ئې (خړ سترگې چرموښکۍ) جوړه کړي، د ده د بريتانيائې پلار او روسي ورور په څېر.

مرگ پر امريکا او ملگرو ئې

ژوندي دي وي د اسلام د لاري زړه ور مجاهدين

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۱۱۱۰۱۱۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

موضوعات:

- په عراق حمله
- که له ټول عراقي ولس نه لس دولس زره مجاهدين چريکي عملياتو ته تيار شي، امريکا ته ماتې ورکولی شي.
- د عراق ولس دې د افغان مجاهدينو لار غوره کړي.
- د امريکا له شر نه د اسلامي امت او د ټولې نړۍ د ژغورلو چاره.
- مجاهدينو ته توصيه.
- د امريکا د خارجه چارو د وزارت د وروستۍ پرېکړې په هکله زموږ عکس العمل.

متن:

د امريکائي ځواکونو له پراخو تياريو او د امريکائي چارواکو له جنګ غوښتونکو ښرګندونو نه معلومېږي چي دوی په هر صورت او د ټولې نړۍ له مخالفت سره سره په عراق حمله کوي. د کارتر د وينا مطابق بش د عراقي رژيم د نسکورولو او د عراق د اشغال په تبی اخته شوی، هغه غواړي د يوه بل صليبي جنګ د فاتح لقب وګټي!

موږ په دې باور يو چي د عراق جګړه د هغې صليبي جګړې بل پړاو دی چي د بش اداري له افغانستان نه پيل کړه، فرق ئې صرف په دې کي دی چي د صليبيانو د مخکنيو جګړو په دوران کي اسلامي امت داسي مشران درلودل چي اسلام ته

وفادار وو او دښمن ته تسليمېدل ئې د پېغور خبره گڼله، هلته اسلامي امت د نورالدين زنگي او صلاح الدين ايوبي په څېر داسي مشران درلودل چي د اسلامي امت هغه شاځلميان راغونډ کړي چي د اسلام له عزت نه د دفاع په خاطر هري قربانۍ ته چمتو وو، متأسفانه اوس ئې مشران د مصر د فاطميانو په څېر له صليبيانو سره د مسلمانانو په ضد په دې صليبي جنگ کي مرسته کوي، امريکايانو ته په اسلامي ملکونو کي نظامي اډې ورکوي او په اسلام دردېدونکي مسلمانان د تروريست په نامه نيسي او امريکايانو ته ئې تسليموي. که دغه بې همته مشران نه وی او د اسلامي امت په عزت د لوبې کولو او د خپل ولس د خرڅولو مجال ئې نه درلودی، نو په اسلامي امت کي اوس هم د دې اهليت او کفايت شته چي په مېړانه د ټولو گواښونو مقابله وکړي او د اسلامي امت له عزت او خپلواکۍ نه دفاع وکړي، په اسلامي امت کي د هغو سرتېرو شمېر ډېر زيات دی چي د امريکا په وړاندي د ودرېدو همت او جرأت لري او د اسلام په خاطر هري قربانۍ ته چمتو دي. زه باور لرم چي که يوازي د عربي هېوادونو مشران خپلو خلکو ته اجازه ورکړي چي له قدس او عراق نه د دفاع په خاطر د رضاکارو مجاهدينو په حيث نومونه ثبت کړي او لومړۍ کرښې ته ولاړ شي نو دومره سرتېري به جهاد ته ملا وتړي چي هم به قدس آزاد او د صهيونستانو د سلطې ټغر ټول کړي او هم به د امريکائي چارواکو د کبر او غرور غاړه ماته کړي.

موږ د عراق مسلمان ولس ته وايو: وارخطا کېږئ مه، تاسو کولی شئ د امريکايانو مقابله وکړئ، امريکائي ځواکونه په سترو سترو اهدافو له وحشيانه بمباريو نه پرته بل څه نه شي کولی، د دوی فوځيان ډېر جبون او ډارن دي، له مرگ نه سخت وېرېږي، د مخامخ جنگ بډوگی نه لري، که له ټول عراقي ولس څخه يوازي لس دولسه زره مجاهدين هم مقابلې ته چمتو شي د امريکا د سل زره فوځ داسي مقابله کولی شي چي په عراق له حملې نه ئې پښېمانه کړي، د افغانانو روان مقاومت ستاسو لپاره ښه مثال دی، تاسو ته اطمئنان درکوو چي موږ به امريکائي ځواکونه د شوروي اتحاد د ځواکونو له برخليك سره مخامخ کوو، تاسو راشئ وگورئ چي امريکائي فوځونه اوس په افغانستان کي له څنگه بد وضعيت سره

مخامخ دي، دا په داسي حال کي چي د دې هېواد حکومت هم د امریکا لاس پوڅی دی او زموږ ګاونډي هم د امریکایانو مرسته کوي. له دې ناحیې ستاسو وضعیت زموږ په نسبت ډېر ښه دی.

د امریکا له شر نه د اسلامي امت او ټولي نړۍ د ژغورنی لپاره د دریو خبرو ضرورت وو:

- په امریکا کي کوم بریژنیف راپیدا شي.
- د امریکا فوځ، د شوروي اتحاد په څېر، په یوې اوږدې جګړې کي ښکیل شي.
- د افغانانو په څېر کوم مؤمن او مجاهد قوم ئې مقابلې ته ملا وتړی.
- دا دی لومړی شرط ترسره شو، دا خلا د جورج بش په راتلو سره ډکه شوه، دی د بریژنف په پل ګام ږدي او د هغه ناکام سیاستونه پلې کوي. دوهم شرط هم ترسره شو، امریکائي ځواکونه د افغانستان په جګړې کي ښکیل شول، په عراق باندي د حملې په صورت کي به مضاعف شي. درېیم شرط هم پوره کېدونکی دی، افغانانو د جهاد لپاره کلکه ملا تړلې او عراق به هغوی ته حتماً بل افغانستان شي.
- زما افغاني او عراقي ورونو! ښایي الله تعالی د همدې لپاره امریکایان افغانستان ته راوستي او د همدې لپاره په عراق د حملې فرصت ورکوي، راځئ موږ او تاسې هغه خلك شو چي الله تعالی د تاریخ تر ټولو ستر فرعون د دوی په لاس په زوال محکوموي.
- موږ هر هغه افغان او هري هغې افغاني ډلي ته ښه راغلاست وایو چي د جهاد لپاره ملا تړي، خو دوی ته زما توصیه دا ده چي:
- اوس له بهرنیو کفري ځواکونو سره له دوامدار او نه ستړي کېدونکي جنګ نه پرته، نه په بل کار ځان مصروف کړئ او نه په بلي جګړې کي خپل وخت او امکانات ضایع کړئ، په افغانستان کي د مؤقت حکومت په نامه داسي څه نشته چي د مخالفت او جنګ وړ وي، کوم وطن خرڅوونکي افغانان چي امریکایانو استخدام کړي، دوی به د امریکایانو له ماتې نه وروسته، د امریکایانو په لاس او د دوی د فوځ د ګاډو په باډۍ کي، د ناکاره پرزو په څېر له هېواد نه ایستل کېږي!!

- د مقاومت کومه طریقه چې همدا اوس اوس مجاهدینو غوره کړې همدې ته باید دوام ورکړی شي، په موجوده شرائطو کې تر ټولو غوره او بریالۍ طریقه همدا ده چې دښمن په دې نه پوهېږي چې څوك، څنګه او کله په دوی حمله کوي، نه حمله کوونکي پیدا کولی شي او نه ئې د برید مخنیوی کولی شي، اوس باید له جبهه اي جنګونو نه قطعاً ډډه وشي.
- زما په ارتباط د امریکا د خارجه چارو د وزارت د وروستۍ پرېکړې په اړه باید ووایم:
- زه په دې الحمدلله وایم چې د نړۍ ستر فرعون زما نوم د هغو کسانو په لیست کې اعلان کړ چې دی ئې تروریست ګڼي. له هغه حالت نه خدای ته پناه وړم چې دا د خدای او بشریت ستر دښمن مې په خپلو مخالفینو کې ونه شمېري او له ما نه د دوستۍ طمع ولري، ځکه په دې سره انسان د الله د دوستانو له لست نه لوېږي او د شیطان د ملګرو په ډله کې ګڼل کېږي.
- موږ له خپل هېواد نه بهر د افغانستان له هیڅ دښمن سره نه یو جنګېدلي، نه له روسانو سره او نه له امریکایانو سره، په خپل هېواد کې د یرغلګرو په ضد جهاد خپله دیني وجیبه ګڼو، د افغان ولس له روا مقاومت نه په ډاګه دفاع کوو او دا غواړو چې بهرني ځواکونه دې زموږ له هېواد نه ووځي.
- له طالبانو او القاعدې سره هیڅ تنظیمي اړیکي نه لرو. د بش اداره نه شي کولی چې د خپل هر مخالف په ټنډه د دې تور د ټاپې لګولو سره خپل جنګي جنایات توجیه کړي، په داسې تورونو نه نړیوال غولولی شي او نه خپل ولس، د نړۍ په ۱۲۰ ملکونو کې ۲۰۰ سترو سترو مظاهرو وښوده چې نړیوال د بش جنګ غوښتونکې سیاستونه غندي او د جنګ په اړه د ده له استدلال سره مخالفت کوي.
- په امریکائي بانکونو کې هیڅ نه لرو، که د امریکا خارجه وزارت ته څه معلوم وي زه موافق یم چې هغه مصادره کړي، خو په دې شرط چې په دغو پیسو لومړی د جورج بش لپاره څه مسکنه دوا واخلي چې د ده د جنګي جنون تبه راکمه کړي او پاتې برخه دې یا د هغو جوماتونو، کلیو، کورونو، ښارونو او د افغانستان نورو ملکي او نظامي تأسیساتو په بیا جوړولو مصرف کړي چې د امریکایانو د

وحشیانه بمباریو په ترخ کي وران شوي او یا د هغو زرهاوو معلولینو په معالجې چي د امریکائي ځواکونو په خوشه ئې بمونو ژوبل شوي او اوس په کابل کي د امریکا د سفارت او د کابل د امریکائي حکومت د جمهوری ریاست مانۍ مخې ته مظاهرې کوي.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۱۱۱۲۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# افغانانو ته ډاډينه

موضوعات:

- په عراق د حملې په صورت کي د جرمني ځواکونو وتل او زموږ دريځ.
- ټولو هېوادونو ته دا مشوره چي له افغانستان نه ووځي.
- د بهرنيو ځواکونو له وتلو نه وروسته به جګړه پای ته رسېږي.
- له هيڅ افغان نه د غچ او انتقام اخستلو اراده نه لرو.
- د افغانستان د خپلواکۍ په صورت کي موجوده اداره د ځينو تعديلاتو په شرط پاتې کېدی شي.
- د انتخاباتو، ملي اردو او پوليس په اړه زموږ دريځ.

متن:

موږ د جرمني د دې پرېکړې ستاينه کوو چي په عراق د حملې په صورت کي خپل فوځونه له افغانستان څخه باسي، کاش له امريکا او بريتانيا نه پرته نور هېوادونه هم دې ته ورته معقوله پرېکړه وکړي او پرېږدي چي افغانان خپل حساب له دغو شريرو ځواکونو سره تصفيه کړي. په کار خو دا ده چي د نړۍ هيڅ هېواد د امريکا او بريتانيا د جنګ غوښتونکو سياستونو ملا تړ ونه کړي او د بې ګناه افغانانو په وژلو کي د دوی مرسته ونه کړي. دوی بايد اوس پوه شوي وي چي امريکائي چارواکي نه په افغانستان کي د جنګ د دوام لپاره څه معقول دليل لري

او نه په عراق د حملې لپاره، هسې د جنګي جنون په تبه اخته شوي او نړيوالو ته خپل زور ښيي.

ځيني افغانان له دې نه مشوش دي چې د بهرنيو ځواکونو له وتلو نه وروسته به شايد له سخت حالت سره مخامخ شي. دوی ته بايد ووايو:

• روان کړکيچن امنيتي حالت د بهرنيو لاسوهنو زېږنده ده او د بهرنيو ځواکونو له شته والي نه راولاړ شوی. مسئوليت ئې ټول د امريکا او بريتانيا په غاړه دی. ترڅو چې دا ځواکونه زموږ د هېواد اشغال ته ادامه ورکوي نو په هېواد کې به جګړه دوام کوي، قدرت به د وطن خرڅوونکو مفسدو عناصرو په لاس کې وي، نه به امنيت وي او نه به د چا سر، مال او عزت خوندي وي.

• د دې ځواکونو له وتلو سره نه يوازې د افغانستان خپلواکي اعاده کېږي بلکې جګړې او بې امنيتي پای ته رسېږي او د واقعي سولې لپاره لار آواره کېږي.

• څوك چې اوس د دغو اشغالګرو ځواکونو د ايستلو لپاره جهاد کوي هغوی په دې باور دي چې دغو ځواکونو زموږ خپلواکي تر پښو لاندې کړې، زموږ د هېواد اسلامي هويت ئې له ستر ګواښ سره مخامخ کړی، مفسد، بې دينه او بد اخلاق عناصر ئې زموږ په ټولنې مسلط کړي او قدرت ئې جنګي جنايتکارانو او وطن خرڅوونکو جګړمارو ډلو ته سپارلی، له دې دردونکي حالت نه د هېواد او هېوادوالو د ژغورنې لپاره له مسلحانه مقاومت نه پرته بله لار نه ګورو، خو د پرديو اشغالګرو ځواکونو له وتلو نه وروسته د جګړې ضرورت منتفي کېږي.

• موږ ټولو افغانانو ته اطمئنان ورکوو چې د بهرنيو ځواکونو له وتلو نه وروسته به نه يوازې عام افغانان د جګړو او بې امنيتۍ له روانو ستونزو نه ژغورل کېږي بلکې هغه کسان به هم له څه ګواښ سره نه مخامخ کېږي چې په غلطۍ سره ئې د خپل ولس په خلاف د يرغلګرو فوځونو ملګرتيا کړې، په دې شرط چې توبه وکړي او د اسلام د دښمنانو له ملګرتيا نه لاس واخلي. موږ له هيڅ افغان نه د غچ او انتقام اخيستلو اراده نه لرو.

• موږ به إن شاءالله د افغانستان له آزادۍ او د اشغالګرانو له ايستلو نه وروسته په هېواد کې د ملت د خوښې اسلامي حکومت جوړوو، د ملت رأيې ته به

رجوع کېږي او د ملت د منتخبو استاځو لوی مجلس به د اسلامي اصولو په رڼا کي او له هر نوع ګواښ او فشار نه فارغ، د هېواد د راتلونکي په هکله تصمیم نیسي. له دې نه وروسته به هیڅا ته د وسلو په زور او د پردیو په مرسته په افغانانو د حکومت کولو موقع نه ورکوو.

• موږ په دې خبري هم بحث کولو ته تیار یو چي د بهرنیو ځواکونو له وتلو نه وروسته دې همدا موجوده اداره له ځینو ضروري تعدیلاتو نه وروسته تر انتخاباتو پورې په خپل حال پاتې شي. ملي اردو دې د پردیو له لاسوهنو او نظارت نه پرته جوړ شي، د ښارونو امنیت دې د پولیسو داسي ځواك ته وسپارلی شي چي د افغانانو د خپل منځي تفاهم په نتیجه کي له افغانانو نه او د افغانانو په لاس جوړېږي. په دې شرط چي نه به دا ځواکونه د ډلو او قومونو په بنیاد جوړېږي او نه به د اردو او پولیس په لیکو کي په جنګي جنایاتو تورن کسان نیول کېږي.

• افغانانو ته اطمئنان ورکوو چي د بهرنیو ځواکونو له وتلو نه وروسته به ډاډمنه سوله راځي، د بې امنیتۍ او جګړو وېره هغه کسان خوروي چي د همدې ځواکونود متو په زور په افغانانو مسلط شوي او دا اندیښنه لري چي د دې ځواکونو له وتلو نه وروسته به د دوی د کرکجن اقتدار ټغر ټولېږي، ځوك چي د پردیو ځواکونو په مزید پاتې کېدو او د دوی په لاس د مظلومو افغانانو د مزید مرګ ژوبلې پلوي کوي هغوی د خپل ولس او هېواد دښمنان او د پردیو مزدوران دي.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۱۱۱۲۱۷

بسم الله الرحمن الرحيم

# آيا د عراق تراژيدي پای ته ورسېده؟

د بغداد د سقوط په اړه ځيني کسان يا دا گمان کوي يا عمداً داسي ښيي چي د عراق جگړه پای ته ورسېده او امريکايان په دې جگړې کي بريالي شول. خو راشئ وگورو چي آيا دې ته د امريکايانو د بريا نوم ورکولی شو؟آيا دا د جگړي پای گڼلی شو؟ امريکا ته به د عراق د اشغال پايلې څه وي او په اسلامي نړۍ به د دې دردوونکي پېښې اغېزې څه وي؟ او د افغانانو په اسلامي مقاومت به دا پېښه څه تأثير وکړي؟

په دې کي هيڅ شك نشته چي عراقيانو له خپل هېواد نه د دفاع په دې نابرابر جنگ کي نه هېرېدونکی تاريخي مثال وړاندي کړ، له کومي جذبې او سرښندنې سره چي دوی مقاومت وکړ، د هر راز ستاينې وړ دي. په دې کي هم هيڅ شك نشته چي دا جگړه د امريکايانو او عراقيانو جگړه نه بلکه د امريکا د مخکي تللې جنگي تکنالوژي او د عراق د وروسته پاتې جنگي ماشين تر منځ جگړه وه. که امريکا په دې وسلو د شوروي اتحاد په څېر کوم زبرځواك ته ماتې ورکړې وي نو په خپل بري ئې د فخر او مباهات حق درلود، خو د عراق په نيولو او بغداد ته د بې **۵۲** تر چتر لاندي د ټانکونو په اوږد قطار کي ننوتل نه د دوی لپاره څه د فخر خبره ده او نه ستره بريا. په بغداد د ۲۰ ورځو مسلسل بمبارد په ترځ کي هره ورځ يو نيم زر نظامي پروازونه شوي او شل زره ليزري بمونه ورېدلي، دا په داسي حال کي چي عراقيانو نه له خپلو طيارو نه استفاده کولی شوی او نه له ټانکونو او توپونو څخه.

ځيني د بغداد اشغال د جگړي پای گڼي، خو په حقيقت کي دا د يوې جگړي پای او د بلي پيل دی. د جگړي خطرناك پړاو به له دې نه وروسته پيل کېږي. دغو

کسانو د کابل د اشغال په اړه هم همدا غلطي کوله، دوی هلته هم د کابل اشغال او د طالبانو د حکومت نسکوربېدل د جګړې پای او د امریکایانو وروستی بری ګڼلو، خو د افغانستان له اوسني حالت نه واقف کسان نن په دې خبري ښه پوهېږي چي دا یو سطحي، غلط او بې بنسټه تحلیل وو، په اصل کي د امریکا په خلاف د خطرناکي جګړې لړۍ له دې نه وروسته پیل شوه. په تسلیحاتي لحاظ برلاسي ځواك ته د ښارونو نیول آسان دی خو یوازي د وسلو په زور په ملکونو حکومت کول که په نولسمی پېړۍ کي ګران وو نن خو تقریباً ناممکن شوی. د عراقیانو اصلي جګړه له دې نه وروسته شروع کېږي، تراوسه خو امریکایان یا په خپلو داسي طیارو کي وو چي د عراقیانو مرمۍ نه وررسېدې، او یا په داسي ټانکونو او زغره والو ګاډو کي چي د عراق ټانکونو، توپونو او راکټونو نه شو ویجاړولی، خو اوس به امریکایان له خپلوطیارو، ټانکونو او زغره والو ګاډو نه د عراق په خاوره راکوزېږي او له عراقیانو سره به په داسي حال کي مخامخ کېږي چي دوست او دښمن نه شي بېلولی، او په دې هم نه پوهېږي چي څوك مسلح دی او څوك غیر مسلح. که عراقیان د افغانانو په څېر پراخه چریکي جګړه پیل کړي، په دې سره امریکائي او انګرېزي یرغلګران له خپل هېواد ته وتلو ته اړ کولی شي، په داسي جګړي سره د یوې فرقې په اندازه مجاهدین، لوی او په مډرنو وسلو سنبال فوځ ته ماتې ورکولی شي. په عراق کي د داسي یوې جګړې د پیل کېدو امکانات ډېر څرګند او ځلانده برېښي.

امریکایانو داسي ګمان کولو چي دوی به فقط جګړه پیل کوي، پاتې کار به عراقیان په خپله سر ته رسوي، فوځ به بغاوت کوي، ولس به په عمومي پاڅون لاس پورې کوي، یرغلګرانو ته به د عراق په ښارونو کي ښه راغلاست ویل کېږي، او عراقیان به د ګلانو په ګېډیو سره د دوی استقبال کوي!! خو خبره کاملاً د دې انتظار خلاف وه، نه فوځ بغاوت وکړ، نه ولس په عمومي پاڅون لاس پورې کړ او نه عراقیانو دوی ته د ګلانو ګېډۍ وړاندي کړې، عام عراقیان او د صدام حسین پلویان خو پرېږدی حتی د جنوب هغو شیعه پرګنو هم پاڅون ونه کړ چي امریکایانو د دوی پاڅون سل په سلو کي حتمي ګڼلو او ایران د دې پاڅون ډاډ ورکړی وو.

امریکایانو تر پایه دا خبره کوله چي د عدم پاڅون او بغاوت نه کېدو وجه له عراقي رژیم نه د خلکو وېره ده!! خو په دې کمزوري منطق سره دوی یو ماشوم هم نه شو قانع کولی. بالآخره مجبور شول چي د تبعیدی عراقیانو اوه سوه کسیزه ډله د کویټ له لاري د عراق جنوب ته ولېږي او هغوی ته وظیفه ورکړي چي د عراقیانو په استاځیتوب به د امریکائي ځواکونو استقبال کوي، ترڅو د دوی دا استقبال د تلویزیونونو له لاري منعکس شي او امریکایانو ته د وړو پوزه جوړه کړي!!

د بغداد له سقوط نه وروسته باید څو خبرو ته انتظار وکړو:

• په دې بری سره به د جنګ غوښتونکو امریکائي چارواکو (بد معاشي) او (مستي) مضاعف شي، د نورو هېوادونو په ضد به د دغي تجربې په تکرار ټینګار کوي، او دا به غواړي چي د دوی له نظره (باغي حکومتونو) ته د بغداد په څېر جزا ورکړي. د بغداد د نیولو په سبا د سوریې او ایران په ضد د دغو امریکائي چارواکو دا ګواښونه چي د سوریې، ایران او شمالي کوریا په څېر هېوادونه دې د صدام له برخه لیك نه عبرت واخلي، د همدې خبري غمازي کوي. نه یوازي دا چي امریکائي جنګ غوښتونکي واکداران به د جګړو لمن نورو سیمو ته غزوي، بلکي د دوی دا سیئه سنت او دوسلو په زور د رژیمونو صادرول او خپل برېښي په نورو مسلط کول به نور جنګ غوښتونکي ځواکونه هم ورته تېریو ته هڅوي، هغوی به له دې نه د جنګ د مجوز په توګه استفاده کوي، اسرائیل به د فلسطینیانو په ضد، هند د کشمېریانو په ضد، روسیه د چیچینیانو په ضد او... همدا کار کوي. باید دا خبره له یاده ونه باسو چي امریکایانو د بغداد اشغال د برلین د دیوال ړنګیدو ته ورته وګڼلو، په خبرو پوه کسان د دې مقایسې په معنی او مضمراتو ښه پوهېږي، د برلین دیوار د کمونیزم او غرب ترمنځ (سور خط) وو، چي ړنګیدل ئې د غرب د بري ښنه او د شرق په لوري د دوی د مخکي تلو پېلامه وه، دوی د بغداد سقوط په ټول خلیج د مکمل تسلط مقدمه ګڼي. جورج بش مکرر ویلي چي د بغداد د رژیم له نسکورېدو سره به په منځني ختیځ کي تروریستي ډلي خپل ستر او ځواکمن حامي له لاسه ورکړي او د فلسطین شخړه به حل شي. د دې خبري په معنی هم هر هوشیار انسان پوهېږي. په عراق له حملې سره سم په فلسطین کي د اسرائیلي ځواکونو په

عملیاتو کې پراخوالی او شدت د جورج بش دا وینا ښه تفسیرولی شي.

- د جګړې د پلوې امریکایانو دا مؤقته خوشحالي به هم ډېر ژر پای ته ورسېږي، څو ورځې وروسته به وګوري چې د بغداد نیونه کومه شهکاري نه وه، دې نیونې فقط د وژونکې او ورانوونکې ټیکنالوژۍ په زور او د بې دریغه او پراخه وژنو او ورانولو په بیه، د بی ۵۲ تر چتر لاندې د ټانکونو په اوږد قطار کې یوه ښار ته د ننوتلو معنی درلوده، هغه هم د عراقي ملت او د ټول اسلامي امت د سختي غصې او دښمنۍ په قیمت. په عراق وحشیانه برید، له نورو ښارونو نه علاوه یوازې په بغداد د پرش زره لیزري بمونه ورول، هوټلونه، ملکي تأسیسات، دفترونه، روغتونونه، جوماتونه، مارکیټونه،او ... په میزایلونو ویشتل، او د زرهاوو غیرنظامیانو وژنې د امریکا کرغېړنه توره څېره ټولو ته بربنډه کړه، که امریکایانو په ظاهر کې نظامي برۍ ترلاسه کړی، په سیاسي، اخلاقي، او فکري لحاظ ئې داسې سخته ماتې خوړلې چې جبران ئې په هیڅ صورت ورته ممکن نه دی. د امریکا په ضد چې په ټولې دنیا مخصوصاً اسلامي نړۍ کې کومه کرکه او دښمني راولاړه شوې دا نه په دې برې جبرانولی شي او نه په بل څه، د دې خطرناکې پایلې به ډېر ژر د دوی مخې ته راڅرګندې شي.
- دوی په تېرو اتلسو میاشتو کې اوه د پرش ملیارده ډالر د افغانستان په جګړې ولګول، خو تراوسه په دې نه دي موفق شوي چې د مرکزي آسیا له ځاګانو څخه د افغانستان له لارې تېل او ګاز انتقال کړي او په دې سره د جګړې دا دروند لګښت جبران کړي. اوس ئې د عراق د جګړې لپاره اتیا ملیارده ډالر مختص کړي خو هیڅوك دا نه شي تضمینولی چې دوی ته به حتماً دا مجال میسر شي چې د عراق د تېلو له ځاګانو څخه په ډاډ او اطمئنان سره تېل استخراج کړي، په عالمي مارکیټ کې د تېلو بیه په خپله ګټه کنټرول کړي او له دې لارې د جګړې خساره جبران کړي.
- امریکایان به اوس یا په خپله په عراق حکومت کوي، یا به د کابل د حکومت په څېر یو لاس پوڅی حکومت جوړوي. لومړی حالت ئې تر دوهم نه ډېر ډېر دوی ته خطرناك او د بدو پایلو لامل دی. که دوی د کرزي له حکومت نه په افغانستان کې څه ترلاسه نه کړی شو، په عراق کې ئې هم نه شي ترلاسه کولی، که دلته په اوضاع

مسلط نه شول، او د آزادي غوښتونکو مقاومت ئې ونه شو ځپلی دا کار په عراق کي هم نه شي کولی. د بغداد د اشغال په سبا د هغه شيعه مذهبي مشر ترور چي امريکايانو د عراقي شيعه وو د راجلبولو په غرض بصرې ته رارسولی وو، او په کرزي باندي په خپل ولايت او په داسي حال کي بريد چي امريکائي ساتندويان ورسره وو، دا خبره ثابته کړه چي اوس ملتونه د پرديو له لوري راوړاندي شوي سياسي او مذهبي مشران نه مني. له دوی سره به ولسونه همغه څه کوي چي له دغو دواړو سره ئې وکړل.

• امريکايان به په عراق کي هم د عبوري حکومت، لويي جرګې، اساسي قانون او انتخاباتو امريکائي نسخه عراقيانو ته وړاندي کوي، په دې سره به غواړي چي عراقيان په دې قانع کړي چي له دې لاري به د امريکائي ديموکراسۍ خيالي بهشت ته ورسيږي، خو لکه څنګه چي افغانان په دې خندوونکې ډرامې مسحور نه شول، دا نسخه په عراق کي هم نتيجه نه شي ورکولی. له دې نه معلوميږي چي د افغانستان له ناکامې تجربې نه دوی لازم درس نه دی اخيستی.

• پرون ځينو عراقيانو دا فيصله نه شوی کولی چي په دې جګړي کي د خپل داخلي رقيب ملګرتيا وکړي او که د خپل حريف د راپرځولو لپاره له بهرني دښمن سره ملګري شي او که بې طرفي غوره کړي، خو نن دا سؤال منتفي شوی، بهرنی دښمن راغلی، د دوی هېواد ئې اشغال کړی او دوی ته ئې وروستۍ پرېکړه آسانه کړې. ټول عراقيان به وګوري چي يرغلګر ځواکونه د دوی د ژغورنې لپاره نه وو راغلي بلکي د دوی د هېواد د اشغال، د دوی د شتمنيو د غارت، او د تېلو په زېرمو د تسلط لپاره راغلي وو. دا دی اوس د دوی خپلواکي سلب شوې، پردي پر دوی او د دوی په هېواد حکومت کوي او يوه وطن پلورونکي مفسده ډله ئې پرې مسلطه کړې. دوی به په دې پوه شي چي دا ځواکونه د دوی په هېواد کي د تل لپاره پاتې کېدل غواړي، او ترڅو چي په زور ونه ايستلی شي په خپله خوښه هيڅکله نه وځي. که تر پرون پورې يوازي د صدام پلويانو د يرغلګرو په وړاندي مقاومت کولو، له دې نه وروسته به ټول آزادي غوښتونکي عراقيان ميدان ته راوځي او د خپلواکي د لاس ته راوړو لپاره به د مسلحانه مقاومت لار غوره کوي. اوس به هغه

عراقيان هم په مقاومت لاس پورې کوي چي يا له رژيم نه مرور وو او يا د امريکايانو په غولوونکو شعارونو غولېدلي وو.

• له دې نه مخکي به د عربي هېوادونو سرتېرو نورو هېوادونو ته په امريکايانو پسې سفرونه کول، په ډېر زحمت به ئې ځان امريکا ته رساوو، خو اوس دښمن د دوی کور ته راغلی، په هر دفتر، او د هر سړك په سر ئې موندلی شي، وېزې او پاسپورت ته هم ضرورت نه لري، په هري گوښې کي ورته کمين نيولی شي، په هر ځای کي ورته بم ايښودلی شي او هره شېبه شهادت غوښتونکي عمليات ترسره کولی شي. اوس بايد د سلهاوو عراقي اسامه وو لپاره انتظار وکړي.

• په عراق د امريکا يوه اړخيز بريد هغه ائتلاف ته سخت گذار ورکړ چي د امريکا تر مشرۍ لاندي د طالبانو او القاعدې په ضد جوړ شوی وو، او امريکا له هغه نه د ټولو مسلمانانو په ضد استفاده کوله. په بغداد کي د روسيې سفارت خوا ته بمباري، د روسي ديپلوماتانو په قطار د امريکائي ځواکونو عمدي بريد او د روسيې د سفير په شمول د پنځو ديپلوماتانو ژوبلول، د آلمان او فرانسې په سفارتونو يرغل او د هغوی تالان ... دا ائتلاف مزيد وجړکاوو. په دې کي هيڅ شك نشته چي د دې ائتلاف تضعيف او ړنگېدل د ټولو ضعيفو ملکونو مخصوصاً د اسلامي نړۍ په گټه دی.

• د عراق وحدت او يووالی ساتل او له تجزيې نه ئې مخنيوی او په عراق کي يو داسي ځواکمن مرکزي حکومت جوړول چي دا هېواد اداره کړي، ملي وحدت تأمين کړي او د واحد عراق د تجزيې مخه ونيسي، که امريکا ته دا کار محال نه وي نو ورته ډېر گران خو حتماً دی، تر افغانستان نه هم ورته گران. او په عراق کي د اوږدې مودې لپاره د شخړو، جگړو، او بې امنيتۍ دوام د امريکا اعتبار ته هومره صدمه رسوي چي جبران ئې ورته ممکن نه دی. بدمسته امريکائي چارواکي به له دې نه وروسته پوه شي چي هر څه يوازي د بی ۵۲ په زور نه شي کېدی.

• هغه احزاب به په ولسونوکي خپل حيثيت له لاسه ورکوي او په دوی باندي د سي آی اې مخکنۍ ټوله پانگه اچونه به هدر ځي، چي په عراق ئې د امريکا د وحشيانه تېري ملاتړ کړی، لکه څنگه چي په پاکستان کي هغو سياسي ډلو په

انتخاباتو کي کلکه او تاريخي ماتې وخوړه او پاکستاني ولس ورټل چي په افغانستان ئې د امريکايانو د تېري حمايت او مرسته وکړه. هغه حکومتونه به هم له سختو ستونزو سره مخامخ کېږي چي د امريکايانو ملگرتيا ئې کړې. د دوی په ضد هم د کودتاگانو امکان نه شي رد کېدی او هم د پاڅونونو او شهادت غوښتونکو عملياتو. اسلامي امت داسي فکر کوي چي عراق امريکايانو يوازي د خپلو متو په زور نه دی نيولی بلکي اسلام او مسلمانانو ته د خائنو حکومتونو په مرسته ئې نيولی.

• د اشغال شوو ښارونو د امنيت په تأمين کي د اشغالگرو ځواکونو سخته ناکامي او د دفترونو، روغتونونو، سفارتونو، هوټلونو او نورو ملي او نظامي تأسيساتو د شتمنيو د پراخ غارت او تالان له مخنيوي نه د دوی عجز او ناتواني، هم د عراق د ننه د دوی پوزه پرې کړه او هم په ټولي نړۍ کي. د دې ناکامۍ وجه دا ده چي امريکا داسي عراقي ځواك په واك کي نه لري چي دا هېواد اداره کړی شي. په افغانستان کي هم دوی له همدې ستونزي سره مخامخ وو، د امريکا له نايټ کلپونو او کابارو نه راغونډ کړی شوو کسانو نه داسي ځواك جوړول چي د افغانستان او عراق په څېر ملکونه اداره کړی شي ممکنه نه ده. دوی به اوس هم د عراق د اردو او هم د پوليس د ځواك په جوړولو کي د هغو کسانو استخدام ته اړ کېږي چي تر پرونه صدام حسين ته وفادار وو. په بل صورت کي به دا بې امنيتي تر اوږدې مودې دوام کوي او اشغالگرو ځواکونو ته به په گرانه بيه تماميږي. له حالت نه معلومېږي چي د امنيت د تأمين په اړه به امريکايان په عراق کي همداسي پاتې راځي لکه په افغانستان کي چي پاتې راغلل. عجيبه دا ده چي امريکائي چارواکي مطبوعات په دې خاطر په پوچه خوله گواښي چي دا پراخ او بې ساري تالان ئې منعکس کړی، وايي: دا طبيعي خبره ده، خلك له يوه ديکتاتوري رژيم نه ژغورل شوي او دا د آزادۍ نښه ده، آسمان نه دی ړنگ شوی!! دا په داسي حال کي چي ټوله نړۍ د ملگرو ملتونو اړوند ادارو په شمول دا د تاريخ تر ټولو بد غارت او تالان گڼي او مسئوليت ئې د نيواکگرو ځواکونو په غاړه اچوي او پايلې ئې خطرناکي گڼي. او عراقيان دا تالان د امريکائي ديموکراسۍ او آزادۍ لومړۍ بېلگې گڼي او

وايي چي امريكايانو قصداً او د عراق د كاملې تباهۍ لپاره دا تالان په لاره اچولی.

• ټول پوهېږي چي د بش طرحه يوازي د عراق په اشغال كي نه راخلاصه كېږي، بلكي د منځني ختيځ تر نورو هېوادونو پورې به غزول كېږي، د دې يو اساسي هدف د ځواكمن او برلاسي اسرائيل جوړول او د اسرائيل په خلاف د مقاومت ټول امكانات د تل لپاره ختمول دي. دوی مكرراً وايي چي د عراق راتلونكي به د نورو هېوادونو لپاره هم ښه مثال وگرځي، يعني دا چي د عراق تجربه به په نورو هېوادونو كي هم تكرارېږي. شايد د دې هېوادونو واكداران به د واشنگټن له غوښتنو سره سم عمل وكړي، خو هيڅوك دا خبره نه شي تضمينولی چي د دې هېوادونو ولسونه دې د مخالفت او مقاومت لار غوره نه كړي، د بش دا طرحه به حتماً په يوه بل صليبي جنگ بدلېږي، كه څه هم پاپ د دې مخالفت وكړي.

• لكه څنگه چي امريكا د جگړې په پيل كي د ملگرو ملتونو پروا ونه كړه، له جگړې نه وروسته عراق كي به هم د هغه له فعالي او رغنده ونډې سره موافقه ونه كړي، نه د حكومت جوړولو په اړه او نه د عراق له تېلو نه د استفادې په اړه، دوی د دې خبري په كولو هيڅ شرم نه محسوسوي چي د عراق په نيولو كي زموږ وينه توی شوې او پيسې مو مصرف شوې نو خود به د عراق د راتلونكي په هكله موږ د خپلي خوښي پرېكړه كوو. وبه گورو چي په ملگرو ملتونو دا دوه ستر ستر گذارونه به دا ټولنه له كوم برخليك سره مخامخ كړي، څوك به له دې وروسته دې ناكاره ټولنې ته ارزښت وركړي او د نړۍ والو ستونزو په حلولو كي به له دې نه وروسته هغې ته طمعه وكړي؟ د ملگرو ملتونو اوسنی جوړښت د لويو ځواكونو مخصوصاً امريكا په گټه دی، د امريكايانو په لاس د دې ټولنې ختمېدل كه له يوې خوا د امريكا په ضرر دي له بلي خوا دوی ته له نړۍ والي ټولنې سره مخالفت، د لانجو د سوله ييز حل له بهير سره مخالفت، او د نړۍ والو معيارونو خلاف په غير انساني جگړو ټينگار به داسي تور نوم په تاريخ كي په ځای پرېږدي چي د هر شريف او سوله غوښتونكي انسان په زړه كي به د امريكا په ضد كركه او نفرت راولاړوي. دا هم واضح ده چي د دې ټولنې له ختمولو نه وروسته امريكا نه شي توانيدی تر دې غوره او تر سابق نه زيات د دوی په گټه، كومه بله نړۍ واله اداره جوړه كړي.

په عراق برید له ډېرو اړخونو نه داسي برېښي لکه په افغانستان د شوروي اتحاد برید ، تر کومي ورځي چي شوروي اتحاد د کارګرانو او بې وزلو پرګنو د ناجي په بڼې کي ځان څرګنداوو ، د کور ، کالي ، ډوډۍ شعارونه ئې ورکول ، د استعمار او امپریالیزم مخالفت ئې کولو ، ورځ په ورځ مخکي روان وو ، او د نړۍ په ګوټ ګوټ کي د دوی په ګټه انقلابونه کېدل ، خو چي د انقلاب صادرولو لپاره ئې د نظامي تېري لار غوره کړه او په افغانستان ئې تېری وکړ ، نو زوال ئې پیل شو ، امریکا هم د ویتنام له جګړي نه وروسته مؤقتاً د تېري لار پرېښوده ( که څه هم د بې وسۍ په وجه ) او د آزادۍ ، دیموکراسۍ او انساني حقوقو شعارونه ئې خپل کړل ، د دې په وجه د دوی په ضد مخکنۍ کرکه راکمه شوه ، او ډېرو غولېدلو خلکو د دغو غولوونکو شعارونو د تحقق په طمعه دوی ته مخه کړه ، خو په افغانستان او عراق د دوی برید حالت بېرته بدل کړ ، او د دوی په خلاف ئې داسي عمومي کرکه راولاړه کړه چي اندازه ئې له هغو جنګ ضد او امریکا ضد مظاهرو نه لګولی شو چي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي په ملیونهاوو کسانو په کي برخه واخیسته ، هومره ستري ستري مظاهري چي په تاریخ کي ئې مثال نه شو موندلی . دا به لویه اشتباه وي که د دې دواړو بریدونو او دواړو استعماري ځواکونو پایلې ورته ونه ګڼو .

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۲۱۱۱۲۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# له اسيرانو سره غير انساني او وحشيانه سلوك

وَ لا يحْسبنّ الّذينَ كَفَرُوا أَنّمَا نُمْلى لَهُمْ خَيرٌ لأَنفُسِهِمْ إِنّمَا نُمْلى لَهُمْ لِيزْدَادُوا إِثْماً وَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ*

او کافران دې گمان نه کوي چې زموږ له لوري مهلت ورکول ئې په گټه دی، موږ خو د دې لپاره دا مهلت ورکوو چې د لازياتو گناهونو مرتکب شي او سپکوونکی عذاب ئې په برخه شي.

موږ په داسي حال کي چي د يرغلگرو په ضد د هر عادلانه مقاومت ملاتړ کوو او د تجاوز په خلاف وسلې ته لاس کول د هر مظلوم او مقهور ولس جائز حق او واجب گڼو، خو دا د مسلمانو مجاهدينو له شأن او اخلاق نه لرې گڼو چي د انتقام او غچ تر جذبې لاندي له دښمن سره هغه څه وکړي چي اسلام ئې ناجائز او د خپلو لوړو اخلاقي اقدارو مغاير ئې گڼي. اسلام مظلومانو ته اجازه ورکوي چي د ظالمانو په ضد د خپل غصب شوي حق او د آزادۍ ترلاسه کولو لپاره وسله واخلي او د دښمن په خلاف وجنگېږي، خو په دې تأکيد کوي چي د جنگ هدف بايد دا وي چي د جگړي عوامل پای ته ورسېږي او عادلانه صلح تأمين شي او هيڅ بې وسه، بې وزله او مظلوم انسان ته عمداً تاوان ونه رسېږي، اسلام له محارب اسير سره هم د ښه اخلاقي او انساني سلوك سپارښتنه کوي.

د همدې لارښوونو په حکم وايو: چا چې د يوه غيرمحارب اسير د وژلو عکس خپور کړی، دا يا د هغه چا کار کېدی شي چې له اسلام نه بې خبره دی او له امريکايانو سره جنگ ئې د اسلام لپاره جنگ نه دی، بلکي په غچ، انتقام او بالمثله چلند باور لري او يا د هغه چا چې د دښمن لخوا استخدام شوی او ورته وظيفه ورکړی شوې چې په داسي کرکجنو تصرفاتو سره مسلمان مجاهدين بدنام کړي. په افغانستان کي دښمن همدا کار وکړ، د ټولنې بدمعاشان ئې د مليشو په ليکو کي وروزل، بيا ئې د مجاهدينو ليکو ته ولېږل ترڅو په خپلو وحشيانه او غيراخلاقي تصرفاتو سره د ولس او مجاهدينو ترمنځ فاصله ايجاد کړي، په الجزائر کي ئې همدا تجربه تکرار کړه او اوس په عراق کي همدا کار کوي. په يقين سره ويلی شو چې دا د امريکا، بريتانيا او د عراق د يوه گاونډي هېواد د استخباراتو گډ کار دی، له افغاني او عراقي بنديانو سره د امريکايانو او انگرېزانو د وحشيانه، بې رحمانه او اخلاق ضد چلند له افشاء کېدو سره سم مطبوعاتو ته د دې عکس راوتل همدا په گوته کوي چې دا هم د سي آی اې د تصرفاتو يوه بله بېلگه ده. د داسي زړه بوږنوونکو پېښو مسئوليت په اصل کي بدمعاشو امريکايانو او انگرېزانو ته راجع دی، نورو هم له دوی نه زده کړی.

زه ټولو مجاهدينو ته توصيه کوم چې د مقاومت په دې حساسې مرحلې کي ترمخکي نه زيات محتاط وي، په خپلو ليکو کي مجهول الهويه، غيرمهذبو او غيرملتزمو کسانو ته د ننوتو موقع ورنه کړي، د دښمن پر اصلي ځواکونو باندي په مسلسل او جرأتمندانه بريدونو سره خپل شهامت ثابت کړي او له بې وزلي او ضعيف دښمن سره داسي اخلاقي چلند وکړي چې نورو ته د شرافت او اوچت اخلاق درس ورکړي.

امريکايانو او انگرېزانو چې له بنديانو سره څه کړي دا د دوی د پربوتې اجتماعي اخلاق لوازم دي، د دې جرړې بايد په انفرادي او شخصي انحرافاتو کي ونه لټول او د څو باغي او بداخلاقه عسکرو کړنه ئې ونه گڼو، دوی د عراق او افغانستان په ټولو زندانونو کي له بنديانو سره ورته چلند کړی، بربنډول، جنسي تېری، برقي شوکونه، وهل ټکول، په روزل شوو سپيانو داړل او سپکول؛ د دوی

عام چلند دی، آیا د داسي پېښنو په زرهاوو عکسونه د دې ښودنه نه کوي چي دا یو عام، منظم او پلان شوی کار دی، نه انفرادي تېری؟ ما ته له همغو لومړیو ورځو نه دا راپورونه رارسېدل خو باور مي نه راتلو چي امریکایان به تر دې حده وحشي او ذلیل وي. د افغانستان او عراق جنګ او له مظلومو بندیانو سره د دوی چلند که له یوې خوا د دوی د کاواك نظامي ځواك ماهیت نړۍ والو ته افشاء کړ، له بلې خوا ئې د دوی پرېوتی اخلاق او د بشري حقوقو د دروغجنې ادعا اصلي څېره بربنډه کړه. امریکایان باید په دې پوه شي چي په دې تحقیر، توهین او تذلیل سره ئې د نړۍ د ټولو مسلمانانو په زړونو کي د انتقام او غچ داسي اور بل کړی چي معلومه نه ده کله او څنګه به سوړ شي، شاید د نیویارك په څېر ډېر عملیات هم د مظلومو مسلمانانو دردېدلي زړونه ساړه نه کړی شي.

افغانان او عراقیان د انتقام او غچ حق لري، خو د خپلو دیني او اخلاقي اصولو په رڼا کي، د مجاهدینو هر ګوزار باید د شر او فساد پر اصلي ځواکونو وي، نه پر هغو کسانو چي د دغه شریرو ځواکونو د شرارتونو او جنګ غوښتنو قربانیان دي، د امریکا عام ولس د څو بدمعاشو جنرالانو او ویني زبېښونکو بډایانو او ځمکه والو په لاس کي یرغمل دی. قرآن موږ ته امر کوي چي د جګړې په دوران کي باید د مهاجم لوري سرداران په نښه شي: فَقَتِلُوا أَئِمَّةَ الْكفر: د کفر سرداران ووژنئ.

موږ هغو خلکو ته حیران یو چي د امریکایانو په ځای په هغو ذلیلو اجیرو فوځیانو بریدونه کوي چي د څو ډالرو په مقابل کي استخدام شوي. هغو ته هم حیران یو چي په خپلو هېوادونو کي د کفر، فساد او الحاد په اصلي عواملو د ګوزار په ځای د خپل مخالف مذهب په جوماتونو کي انفجارات کوي او پر بې وزلو لمونځ کوونکو مشینګنې چلوي او دې ته له مذهب نه د دفاع نوم ورکوي!! په داسي حال کي چي پر تا او ستا پر وطن امریکایان او انګرېزان حکومت کوي، واکداران دې بې دینه، بداخلاقه، غله او د پردیو غلامان، سیاست، اقتصاد، فوځ او پولیس دې د پردیو په واك او خدمت کي، راډیو او ټلویزیون دې شپه ورځ د دین، مذهب او اخلاق په ضد زهر خوروي، د دین جرړې باسي او الحاد او بې دیني د ټولنې

گوتې گوتې ته رسوي، خو ته دا ټول زغمې ، هیڅ عکس العمل نه ښیې او خپل زور د یوه جومات له ملا او له څو بې وزلو لمونځ کوونکو سره آزمویې!! او گمان کوې چې په دې سره له مذهب نه دفاع کوې او د خدای رضا ترلاسه کوې!! افسوس د دغو خلکو په حالت!!

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۲۱۲۱۲۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# بیان

موضوعات

- د عراق د مسلمان ولس له مقاومت نه دفاع.
- اسلامي امت ته د جهاد بلنه.
- د اسلامي هېوادونو هغه واکداران د پېښو مسئول ګڼل چې د مسلمانانو په ضد د امريکائي يرغلګرو ملګرتيا کوي.
- د مسلمانانو په بري او د يرغلګرانو په ماتې باور.
- عراقيانو ته د صبر، مقاومت او په لوی الله د توکل توصيه.
- متن

موږ يو ځل بيا ټول اسلامي امت او د نړۍ ټولو آزادي غوښتونکو ته بلنه ورکوو چې په مظلوم عراق د نړۍ د شرير ځواك امريكا د وحشيانه حملې په ضد متحد شي، د مظلومو عراقيانو ملاتړ وکړي او پرې نږدي چې امريكا د وژونكو وسلو په زور مزيد عراقيان ووژني او دا آزاد هېواد اشغال كړي او په دې سره د امريكا د بدمعاشو واكدارانو غرور او په ټولي نړۍ د سلطې جنون هغه ځای ته ورسېږي چې هيڅوك په هيڅ ځای کي د دوی له ګواښونو نه خوندي نه وي. د جګړي کوم خطرناك اور چې واشنګټن او ملګرو ئې بل كړی كه ژر ترژره مړ نه شي له افغانانو او عراقيانو نه وروسته به ډېر نور په خپلو لمبو کي وسوځوي.

د دې بريد په وړاندي مسلمانان دوه اختياره په مخكي لري:

- يا به په دې صليبي جګړي کي يو په بل پسې بېل بېل ځپل كېږي، د دوی ټولي

زېرمي به د يرغلگرو په لاس کي پرېوځي، خپلواکي به له لاسه ورکوي، د صليبي ځواکونو د خوښي مزدور نظامونه به په دوی مسلط کېږي او د مسلمانانو لومړی قبله به د تل لپاره د صهيونستانو په واك کي پاتې کېږي.

- يا به همدا اوس اوس د مجاهدو افغانانو او مقاومو عراقيانو مرسته کوي، دا جگړه به په شا تمبوي، د دښمن غرور به ماتوي او هغه ته به عملاً ښيي چي مسلمانان ذلت ته نه تسليمېږي، غلامي نه مني، هري قربانۍ ته چمتو دي خو د يرغلگرو تر سلطې لاندي د ذلت او سپکاوي ژوند نه مني.

ټول بايد په دې پوه شي چي د مسيحيانو د مشر پاپ جان پال د وينا مطابق دا جگړي د افراطي مسيحيانو له لوري پيل شوې، د امريکا، بريتانيا، آسټراليا او ايټاليا افراطي مسيحي کړيو د دې جگړي اور بل کړی، دا په حقيقت کي يو بل صليبي جنگ دی چي له افغانستان نه پيل شو، دوهم پړاو ئې په عراق بريد وو، د بعدي پړاوونو په هکله ئې له همدا اوس نه وړاندوينه کولی شو. د عراق د بريد مسئوليت هم د هغو اسلامي ملکونو د واکدارانو په غاړه دی چي په افغانستان باندي ئې د امريکا د بريد ملا تړ وکړ او د دوی د مرستو په نتيجه کي امريکائي جنگ غوښتونکي چارواکي د طالبانو د واکمنۍ په نسکورولو موفق شول او په عراق بريد ته تشويق شول.

موږ د ټولو هغو ولسونو مننه کوو چي په افغانستان او عراق د امريکا د ظالمانه يرغل غندنه ئې کړې، د جگړي عاجل خاتمه او د يرغلگرو ځواکونو د فوري وتلو غوښتنه ئې کړې. له هغو علماوو نه هم مننه کوو چي د متجاوزينو مرسته او ملگرتيا ئې د ايمان منافي گڼلې او د تجاوز په ضد جهاد ئې فرض عين گڼلی.

موږ له هغو کسانو سره موافق نه يو چي د اسلامي هېوادونو له چارواکو نه د څه کولو طمع کوي او په جهاد کي د برخي اخستو لپاره د دوی اجازې ته انتظار کوي. مگر دوی نه گوري چي په دغو واکدارانو کي ځينو په اقتدار کي د پاتې کېدو په طمع ا و د څو ډالرو لپاره خپل ملك، ولس او خپلواکي په ډېرې ارزانې بيعې خرڅه کړه، دوی نه يوازي د امريکايانو د خوشحالولو او د دوی د حمايت

ترلاسه کولو په طمع د مظلومو مسلمانانو په نیولو او وژلو کي د دښمن مرسته وکړه بلکي اوس FBI په دې هېوادونو کي هر ځوك په هر وخت او هر ځای کي نیولی او اختطاف کولی شي!! همدا دوی وو چي په افغانستان باندي د امریکا په برید کي ئې عملاً برخه واخیسته، د زرهاوو افغانانو په وژلو کي د قاتلانو ملګري شول او خپله ځمکه او فضاء ئې د امریکایانو په واك کي ورکړه!! له دې بې همته غلامانو نه څنګه د خپل آقا د مخالفت طمع کوئ؟!!

مونږ امت ته اطمئنان ورکوو چي امریکائي ځواکونه په افغانستان کي نه یوازي د مقاومت په ځپلو او خپلو موخو ته په رسېدو کي ناکام شوي، بلکي له بدو ورځو سره مخامخ دي، په تېر یوه کال کي د دوی د مړو او زخمیانو شمېر تر ۱۰۰۰ نه اوښتی، تلفات ئې ورځ په ورځ هومره مخ په زیاتېدو دي چي ممکن نه ده دا درانه تلفات د اوږدې مودې لپاره تحمل کړي او په افغانستان کي مزید پاتې کېدو ته زړه ښه کړي. که د عراق مسلمان او غیرتي ولس هم د مجاهدو افغانانو لار غوره کړي، په خدای توکل وکړي، د اسلام په لار کي او له خپل عزت او خپلواکۍ نه د دفاع په خاطر قربانۍ ته چمتو شي او بې صبره نه شي، امریکا به په عراق کي هم له ماتې سره مخامخ کېږي، إن شاء الله د دې ماتې پایلې به امریکا ته همغسي وي چي شوروي اتحاد په افغانستان کي له ماتې نه وروسته ورسره مخامخ شو.

د اسلام د بري او د مسلمانانو د سرلوړۍ په هیله
حزب اسلامي افغانستان
۱۳۸۲۱۱۱۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# نظامي عمل او غوښتني ئې

د نظامي عملیاتو لپاره باید څو اساسي خبري په نظر کي ولرو:

- د هېواد روان وضعیت.
- په هېواد کي د د ښمن د حضور څرنګوالی او هدف ئې.
- د دښمن د ځواکونو شمېر او د وسائلو څرنګوالی ئې.
- د د ښمن په هکله د عام ولس د کرکي او نفرت کچه.
- د عملیاتو هدف.
- له مجاهدینو سره د ولس د مرستي کچه.
- د مجاهدینو شمېر، وسائل او امکانات ئې.
- د عملیاتو څرنګوالی.

د افغانستان د روان وضعیت په اړه لاندي اساسي خبري زموږ مخې ته پرتې دي:

- زموږ هېواد د یرغلګرو ځواکونو له لوري اشغال شوی، د بهرنیو ځواکونو شمېر تقریباً ۲۰۰۰۰ دی چي د هېواد ټول ستراتیژیك او حساس ځایونه د هوایي میدانونو په شمول د دوی په واك کي دي، دوی یوازي د پښتنو په سیمو کي په جګړو بوخت دي.
- په داسي حال کي چي اصلي واك د یرغلګرو ځواکونو په لاس کي دی خو دوی د افغانانو او د نړۍ والو د غولولو لپاره یوه وطن پلورونکې مفسده افغاني ډله استخدام او د هېواد په ځینو سیمو د مرکز په شمول د چارواکو په بڼه کي

راوړاندي کړي.

• دښمن هڅه کوي چې له خپلو افغاني مزدورانو څخه ډېر ژر داسي ځواك جوړ کړي چې د افغان ولس په ضد جنګ کي له هغه څخه اعظمي استفاده وکړي او په دې سره د امريکايانو د مرګ ژوبلي مخه ونيسي. په دې اړه د دوی هڅو تر اوسه په زړه پورې نتيجه نه ده ورکړې، کوم کسان چې دوی استخدام او د ملي اردو د قطعاتو تر نامه لاندي روزلي او لومړي خط ته ئې لېږلي، اکثراً تښتېدلي.

• د يرغلګرو په ضد د افغان ولس کرکه ورځ په ورځ په زياتېدو ده، له يوې خوا د بهرنيو ځواکونو په لاس د بې وزلو افغانانو مرګ ژوبله، د کورونو تلاشي، د افغانانو سپکاوی، تذليل او توهين، د با عزته افغانانو سپکول، نيول او وژل او د ذليلو او سپکو ټوپکيانو حمايت او په افغانانو د دوی تېل، ټولو افغانانو ته د يرغلګرانو موخي څرګندي کړې او له بلي خوا د پرديو په لاس د هېواد د اشغال په دې اوږدې مودې کي د امريکائي ځواکونو د ټولو هغو دروغجنو او غولوونکو وعدو حقيقت افغانانو ته څرګند شو چې د افغانستان د بياودانولو او د افغان ولس د خوښي حکومت د جوړولو او په دې هېواد کي د ديموکراسۍ د راوستلو په اړه ئې له دوی سره کړې وې، خلکو عملاً او په خپلو سترګو وليدل چې يرغلګرو نه يوازي ټول هېواد ورته ودان نه کړ بلکي هغه ويجاړې ئې هم ورته ودانې نه کړې چې د دوی د يرغل او بمباريو په ترڅ کي رامنځته شوې، غله او داړه ماران ئې په دوی مسلط کړل، د دوی تر تسلط لاندي سيمو کي نه د چا سر خوندي دی، نه مال او عزت، نه په لويو ښارونو کي امنيت شته او نه په لويو لارو کي. د بې امنيتۍ بد وضعيت هغه حد ته رسېدلی چې نه يوازي عادي افغانان ترې شکايت لري بلکي د ملګرو ملتونو اړوند ادارې، په بين المللي جاسوسي شبکو پورې تړلې خيريه مؤسسې او په خپله افغاني چارواکي او د دوی بهرني حاميان ورباندي اعتراف کوي. ټول همدا وايي چې که دا ځواکونه په تېرو اتلسو مياشتو کي د هېواد په ادارې او د امنيت په تأمينولو موفق نشوو، جګړه ئې پای ته ونشوی رسولی او ورځ په ورځ وضع د دوی له کنترول نه وځي، نو له دې نه وروسته خو په هيڅ صورت کي نه امنيت تأمينولی شي او نه په اوضاع مسلط کېدی شي.

• د یرغل په لومړیو شپو ورځو کي په افغان ولس کي زیاته وېره وه، د دښمن بې رحمانه او وحشیانه بمباریو زیاته وېره راپیدا کړې وه، هیچا دا تصور نه شو کولی چي د دې بې رحمه دښمن په ضد وسلې ته لاس کړي او د مسلحانه مقاومت په نتیجه کي دښمن له خپل هېواد نه وتلو ته اړ کړي، نه ئې د مقاومت د پیل تصور کولی شو، نه ئې د هغه د دوام او د بري طمع، خو ځو زړه ورو او په خدای مینو مجاهدینو په خپل مولا توکل وکړ، وسلې ته ئې لاس کړ او د ښکیلاك ګرو په ضد ئې مقاومت پیل کړ. مقاومت ورځ په ورځ تشدید شو او لمن ئې له یوې نه بلې سیمې ته خوره شوه، په لومړي سر کي د دښمن په اډو توغندوی بریدونه پیل شول او ورپسې په قطارونو او ګزمو مخامخ او ناڅاپي حملې شروع شوې. د دغو بریدونو په نتیجه کي له یوې خوا هغه د لومړیو شپو ورځو وېره له منځه ولاړه، مجاهدین تشویق شول، دښمن په خپلو افغاني ایجنټانو او ټول افغان ولس بې اعتماده شو، تلفات ئې ورو ورو زیاتېدل، نه د مجاهدینو په پېژندواو نیولو موفق کېدل او نه ئې د بریدونو د مخنیوي چاره کولی شوی، دوی ته تر بریدونو دا خبره زیاته خوا شینونکې وه چي ولې له دې خور جاسوسي جال، د زرهاوو افغاني جاسوسانو استخدام او د مخکي تللو وسائلو، جاسوسي طیارو او سپوږمکیو سره سره نه حمله کونکي پېژندلی او نیولی شي او نه ئې د خوربدونکي او ځواکمن کېدونکي مقاومت مخه نیولی شي، راتلونکي ورته تیاره برېښي او خپل شته والی بې فایدې ګڼي. د دوی وېره او تشویش هلته لا زیات شو چي مجاهدینو د دښمن د قطارونو او ګزمو په ضد له ریموټ کنټرول ماینونو نه کار اخستل پیل او یو په بل پسې ئې د دښمن ګڼ شمېر ګاډي ویجاړ کړل، کار ئې هغه ځای ته ورسولو چي په ځینو سیمو کي د سړك په سر د دوی تګ راتګ متوقف شو، دا په داسي حال کي چي له دې نه مخکي به هرځای ته په هر وخت کي په ډېر ډاډ او اطمئنان تلل راتلل او د تلاشۍ او نیونو عملیات به ئې ترسره کول.

• د هېواد د اشغال په اتلسمه میاشت کي د مقاومت وضعیت د دښمن د اعتراف له مخې داسي دی چي په همدې میاشت کي څلور سوه توغندي د دوی په اډو توغول شوي او د معتبرو او باخبرو سرچینو په وینا هره ورځ د بهرنیو ځواکونو

حد اوسط پنځه کسان مړه یا ژوبل کېږي. او د مقاومت له پیل نه تر اوسه پورې د دښمن د مړو او ژوبلو مجموعي شمېر له زرو نه اوښتی. په دې میاشت کي خو ځینو افغانانو حتی د جبهه ئې جګړو لپاره ملا وتړله او په کندهار، هلمند او ارزګان کي ئې له دښمن سره داسي مخامخ نښتې درلودې چي په هغوی کي دښمن له بي **۵۲** طیارو نه استفادې ته اړ شو!! او د نړۍ په مطبوعاتو کي دا خبره منعکس شوه چي امریکائي ځواکونه پس له اتلسو میاشتو مسلسل جنګ نه اوس هم له سخت مقاومت سره مخامخ او له بي **۵۲** نه استفادې ته اړ دي!!

- له دښمن نه د افغانانو د ژورې کرکي کچه او په افغانانو د بهرنیو ځواکونو عدم اعتماد نه یوازي د مقاومت له وضعیت او د امریکایانو په لاس د ګڼ شمېر افغاني امریکایانو له نیولو نه معلومولی شو، بلکي په خوست کي د امریکائي ځواکونو هغه اعلامیې ئې ښه انځوروي چي د خوست له راډیو نه یوه په بل پسې خپرې شوې او په هغوی کي امریکائي ځواکونو د خوست له ولس نه مکرر وغوښتل چي خپل ماشومان له دې نه منع کړي چي په امریکایانو یا د تېږو وارونه کوي او یا د پېچکاریو په ذریعه په دوی ناپاکي اوبه شیندي!! د راډیو له لاري په دې خبري اعتراف ډېرې سترې پټې خبري او له امریکایانو څخه د افغانانو ژوره کرکه څرګندوی.

- په افغانستان باندي د امریکایانو د یرغل هدف یوازي دا نه وو چي د طالبانو حکومت نسکور کړي او د القاعدې د ټېکي او پناه ځایونه له منځه یوسي، که یوازي دا ئې اساسي اهداف وی نو د طالبانو د حکومت له نسکورېدو او د القاعدې د مراکزو له ختمېدو نه وروسته به زموږ له هېواد نه وتلي وو، نه به ئې دائمي اډې جوړلې او نه به ئې دا خبره مکرر کوله چي امریکا په افغانستان کي ستراتیژیکي ګټې لري، د اوږدې مودې لپاره به دلته پاتې کېږي او خپل ملګري به یوازي نه پرېږدي، حتی په عراق له برید نه وروسته هم!! امریکایانو ته د افغانستان دائمي اشغال د دې لپاره ضروري برېښي چي د مرکزي آسیا د تېلو په زېرمو د تسلط او له لنډې او ډاډمني لاري نه د دې زېرمو د ګاز او تېل د انتقال غوښتنه همدا ده. د همدې لپاره امریکایانو د یونیکال د کمپنۍ دوه افغاني مأمورین په

افغانستان کي په تر ټولو لوړو دندو وګمارل، يو ئې د جمهور رئيس په حيث او بل ئې د بش د خاص استاځي په توګه!! او دې کمپنۍ ته ئې وظيفه ورکړه چې د پايپ لاين د غزولو کار عملاً او ژر پيل کړي. خو الحمد لله چې د مجاهدينو مقاومت د دوی هيلې په خاورو ولړلې، نه په اوضاع داسي مسلط شول چې د خپلي خوښي امنيت تأمين او د پايپ لاين د غزولو کار پيل کړي او نه ئې داسي افغاني ځواک جوړ کړی شو چې په جګړو کي د امريکائي ځواکونو د مخامخ برخي اخيستو ضرورت منتفي کړي او د خپلي مرګ ژوبلې کچه راکمه کړي.

• افغانان اوس ښه پوهېږي چې امريکائي استعمار د همغه اسلوب غوره کولو ته اړ شوی چې د دوی استاد ، زوړ بريتانيائي استعمار په نولسمه پېړۍ کي غوره کړی وو ، دا دی د غيرمستقيم استعمار په ځای، مستقيم ښکيلاك او استعمار او د فوځونو په زور د هېوادونو د نيولو لار ئې غوره کړې، لومړی ئې په افغانستان تېری وکړ او بيا په عراق، "اشغال" ته د "آزادۍ" نوم ورکوي او د ورانولو په دوران کي د بيا ودانولو خبره کوي!! انګرېزانو هم د "ودانولو" تر غولوونکي شعار لاندي هېوادونه نيول، د همدې لپاره د دوی د مستعمراتو اصلي اوسېدونکو دوی ته د "استعمار يعني ودانولو" نوم ورکړ!! دا اصطلاح د ښکيلاك ګرو ځواکونو له خوا د غلط استعمال په وجه په يوې کرکجنې اصطلاح بدله شوه، هومره چې اوس هرڅوك ترې کرکه لري او هيڅوك ئې په اصلي معنی نه استعمالوي. له امريکائي "ديموکراسۍ" او "آزادۍ" سره به هم همداسي کېږي!! څو کاله وروسته به ټول خلك دا د ښکيلاك او اشغال په معنا استعمالوي.

• مجاهدين غواړي چې خپل هېواد آزاد کړي، ټول بهرني ځواکونه له خپل هېواد نه وباسي او په آزاد او خپلواك افغانستان کي اسلامي حکومت قائم کړي. دا مقدس اهداف له مسلح جهاد نه پرته له بلي لاري نه شي ترلاسه کولی، نورې لاري ئې په مخ تړل شوې، په نورو لارو نه خپلواکي ترلاسه کولی شي او نه ښکيلاك ګر ځواکونه ايستلی شي، څوك چې په نورو لارو فکر کوي هم ځان غولوي او هم خپل ولس. خو په دې اړه مجاهدين له څو ستونځو سره مخامخ دي:

۱. امکانات ئې محدود دي، د اکمال ډاډمنه مرجع نه لري، ګاونډيان ئې له دښمن

سره ملګري شوي، پاکستان، ازبکستان او تاجکستان امریکایانو ته اډې ورکړې، د دوی له ځمکې او فضاء نه په استفادې سره امریکائي ځواکونه په افغانستان کې عملیات ترسره کوي او په افغانانو بمونه وروي، د پاکستان چارواکو نه یوازې د افغانانو په ضد د امریکایانو مرسته وکړه بلکې د امریکا پولیس ایف بي آی ته ئې اجازه ورکړه چې خپل مخالفین په پاکستان کې ونیسي او ګوانتنامو ته ئې انتقال کړي، دوی په ډېر افتخار سره وایي چې په تېرو اتلسو میاشتو کې ئې څلور سوه اتیا کسان ونیول او امریکایانو ته ئې لاس تړلي تسلیم کړل!! ایران له خپلو مخکنیو امریکا ضد شعارونو سره سره، په دې تېرې کې د امریکایانو ملګرتیا وکړه، شمالي ټلواله ئې د امریکایانو تر قومندې لاندې جنګېدو ته تیاره کړه او شیعه ډلو ته ئې وویل چې د امریکایانو ملګرتیا ستاسو په ګټه ده، له دې لارې کولی شئ په حکومت کې په زړه پورې برخه ترلاسه کړئ. همدا وجه ده چې نن امریکائي افسران له دغو ډلو نه پوره راضي دي او وایي چې د بامیان امنیتي وضعیت او له امریکایانو سره د دې ولایت د خلکو مرسته تر ټولو ولایاتو ښه ده، په هغه ولایت کې ئې په درې سوه اتیا زره ډالره لګښت یو پوهنتون جوړ کړ.

۲. په دې شرائطو کې له دښمن سره "مخامخ جنګ" او د "جبهو پرانستل" نه مفید دي او نه ئې وخت. په دې سره د اصلي دښمن په ځای اکثراً هغه کسان تلف کېږي چې امریکایانو د څو ډالرو په مقابل کې استخدام کړي او د افغانانو په ضد ئې په لومړي خط کې جنګوي. د دوی مرګ ژوبله که هرڅومره زیاته وي په دښمن څه تأثیر نه کوي، باید عملیات داسې تنظیم شي چې اصلي دښمن ته تر زیات نه زیات تاوان ورسوي. د جبهه ئې جنګ په ځای باید په دښمن ناڅاپي بریدونو او کمین ته ترجیح ورکړی شي، په دې سره د یوې جبهې له مجاهدینو نه په لسهاوو واړه واړه ټولګي جوړېدی شي او دا ټولګي اصلي دښمن ته تر جبهه ئې جنګ نه څوڅو ځله زیات تلفات رسولی شي. د مخامخ او جبهه ئې جګړو لپاره چې مجاهدین کومو امکاناتو ته اړتیا لري، په دې ظروفو او شرائطو کې هغه نه شي ترلاسه کولی. باید په هغو محدودو امکاناتو اکتفاء وکړي چې په واك کې ئې لري او یا ئې په آسانۍ ترلاسه کولی شي. خپل مقاومت باید داسې تنظیم کړي چې په کمو امکاناتو سره دښمن ته

زيات تلفات اړولی شي او د اوږدې مودې لپاره مقاومت کولی شي. خو دا گمان دې نه کوي چي دا وضعيت او له امريکايانو سره د نورو هېوادونو دا ملگرتيا به د اوږدې مودې لپاره په خپل حال پاتې شي. د امريکائي چارواکو بدمعاشي او مستي به حتماً يوه ورځ او شايد ډېر ژر په دې منتج کېږي چي نه يوازي د امريکا تر مشرۍ لاندي دا ائتلاف ختم شي بلکي د دوی په ضد يوه نړۍ واله جبهه جوړه شي. د ملگرو ملتونو او د نړۍ د اکثرو هېوادونو له مخالفت سره سره په عراق د امريکا يو اړخيز او وحشيانه بريد او له دې بريد سره د ډېرو هېوادونو شديد مخالفت او په ټولي نړۍ کي د امريکا ضد پرتمنو او سترو سترو مظاهرو دا خبره ثابته کړه چي د داسي يوې جبهې د تبلور لړۍ عملاً پيل شوې.

۳. که مقاومت په اوسنۍ بڼې کي دوام وکړي او مزيد تشديد شي، ډېر هېوادونه به د امريکا په اړه خپلو سياستونو کي تجديد نظر ته تشويق کړي.

۴. د مجاهدينو وسائلو او امکاناتو ته په پام سره بايد د عملياتو داسي طريقه غوره شي چي هم دښمن ته مسلسل تلفات واړوي، هم ئې د عملياتو له مخنيوي نه عاجز کړي، هم له مجاهدينو څخه د کم مالي مصرف غوښتنه وکړي او هم د مجاهدينو ځاني تلفات تر کم نه کم حد ته راکوز کړي. اوس نه د مخامخ جنگ وخت دی او نه د جبهو پرانستل مفيد او گټور، د دې په ځای بايد چريکي جگړو ته ترجيح ورکړو ، د جگړې ابتکار بايد د تل لپاره د مجاهدينو په واك کي وي، د بريد وخت، ځای او څرنگوالی بايد دوی وټاکي، په دښمن باندي ټول بريدونه بايد ناڅاپي وي، په داسي وخت کي بايد په هغه بريد وشي چي کاملاً غافل وي او د بريد د مقابلې هيڅ تياری نه لري، په داسي ځای کي ورباندي بريد وشي چي د سيمي جوړښت د مجاهدينو په گټه او د دښمن په تاوان وي، دوی په پټې او مصئونې مورچلې کي او هغه په آوار او خلاص ميدان کي، دوی د غره په ډډې او ځنگل کي او هغه په بيديا کي او د مجاهد د وسلې خولې ته، لومړی گوزار د مجاهد له خوا وي او دښمن ته د دفاع مجال هم په لاس ورنه شي.

۵. دښمن هڅه کوي چي لومړی په بريدونو اعتراف ونه کړي او که اعتراف ته اړ شو نو خپل تلفات پټ وساتي، داسي چي نه نړۍ وال ترې خبر شي او نه د امريکا

ولس، دا ځکه چي په بریدونو او اړول شوو تلفاتو اعتراف له یوې خوا په نړۍ کي د امریکا کاذب اعتبار ته کلکه صدمه رسوي او له بلي خوا د جنګ د دوام په ضد د امریکائي ولس مخالفت مزید تشدیدوی. متأسفانه مجاهدین تراوسه په دې نه دي توانېدلي چي د خپلو عملیاتو او په هغوی کي د دښمن د تلفاتو مؤثق او مستند فیلمونه جوړ او د نړۍ د تلویزیونونو له لاري ئې د نړۍ والو مخې ته کېږدي. مجاهدین باید دې ته خاصه توجه وکړي، د دوی عملیات په خپل ذات کي اهمیت لري، خو د دې عملیاتو اهمیت به هلته څو برابره شي چي نړۍ وال ترې خبر کړی شي. موږ دوی ته د داسي عملیاتو یوه طرحه وړاندي کوو چي هم دښمن ته درانه تلفات اړول ممکن کوي او هم ئې مستند فیلم جوړیدی شي، په دې شرح:

- په دې عملیاتو کي به تقریباً پنځلس مجاهدین برخه اخلي، چي له دوی سره به پنځه راکټ لانچرې، پنځه پیکا او له نوروسره وړې وسلې وي. معمولاً د دښمن د هري ګزمې د ګاډو شمېر تقریباً پنځه شپږ وي او د افرادو شمېر ئې د دېرشو شا او خوا کي، د همدې شمېر ګاډو او سورلیو لپاره باید ضروري وسائل برابر کړی شي.
- د عملیاتو لپاره به داسي تنګه دره انتخابوي چي د سړك یوې بلي خوا ته لوړې ژورې، غر او ځنګل وي.
- د سړك په هغې ژۍ کي چي ګاډي ئې خوا ته تېرېږي، پنځه شپږ ځایه د هاوان تقریباً شپږ شپږ مرمۍ داسي ځای په ځای کړئ چي دوه ئې له ریموټ کنټرول نه لس پنځلس ګزه لرې، ښي اړخ ته، دوه په همدې فاصلې کیڼ اړخ ته او دوه د ریموټ کنټرول خوا ته. د دې لپاره تاسو تقریباً شپږ دېرش د هاوان مرمیو او شپږ ریموټ کنټرول او یو مقدار سیم ته ضرورت لرئ.
- ټولي مرمۍ باید د سړك په ژۍ کي د سړك له سطحې نه تقریباً یو ګز اوچت ښخې کړئ، له ټانك نه پرته د نورو متحرکو اهدافو لپاره د سړك په منځ کي د ماین له ښخولو نه تل ډډه وکړئ، دا ځکه چي په دې صورت کي د چاودنې ټولي چرې پورته درومي او د چاودنې له ځای نه یو او دوه ګزه لرې هدف ته هیڅ تاوان نه شي رسولی، حال دا چي د سړك په جګې ژۍ چاودنه کم له کمه تر پنځوسو ګزو، ښي او کیڼ اړخ ته، ټول اهداف تخریبوي. او تاسو په دغو شپږ ځایه چاودنو سره په شپږو

سوو گزو فاصلې کي د دښمن ټول روان ګاډي تخریبولی شئ، که څه هم د هري چاودنې خوا ته روان وي او یا له ماین څخه یوې بلې خوا ته تېر شوي وي.

- تاسو کولی شئ ټول ماینونه په یوه وخت او هلته منفجر کړئ چي د هر ماین خوا ته د دښمن د قطار یو ګاډی رارسېدلی وي او یا هر یو بېل بېل منفجر کړئ.
- په راکټ او پیکا مسلح مجاهدین باید داسي ځای په ځای شوي وي چي له چاودنې سره سم هر ګاډی لومړی د راکټ او بیا د پیکا تر اور لاندي ونیولی شي او په پای کي له وړې وسلې نه استفاده وشي.
- ویډیوئې کامرې باید داسي ځای په ځای شوې وي چي د عملیاتو ټوله ساحه ئې تر نظر لاندي وي، له عملیاتو نه مخکي د ټولي ساحې دقیق فیلم واخلي، د قطار د راتلو، د عملیاتو ساحې ته د رارسېدو،د چاودنو، د راکټونو او پیکاوو د ډزو، د تخریب شوو ګاډو او د مړو او ژوبلو کسانو فیلم واخستی شي.
- دا عملیات باید ډېر سریع او چټك ترسره شي، د عملیاتو له پیل نه تر پای پورې او د عملیاتو له سیمي نه وتل باید تقریباً پنځه څلوېښت دقیقې ونیسي. دا ځکه چي د مخکنیو تجربو له مخې که دښمن له برید نه مطلع شي نو په همدومره وخت کي ئې جازونه ساحې ته رارسېدی شي. که څه هم په داسي عملیاتو کي طیارې څه خاص او مؤثر کار نه شي کولی، نه په غرونو او ځنګلونو کي محدود شمېر مجاهدین موندلی شي او نه په غرونو او ځنګلونو کي د دوی بمباری څه اثر لري.
- که داسي څو عملیات ترسره شي او فیلمونه ئې نړۍ والو ته وښودی شي، امریکائي ځواکونو ته به په افغانستان کي پاتې کېدل ګران او ناممکن کړي. دوی له لبنان نه په خپلو دوو اډو کي د چاودنو او تقریباً دوه سوه اتیا کسانو د وژل کېدو په وجه ووتل او له صومال نه د دوی په قطار د یوه داسي برید په وجه ووتل چي څو امریکائي کماندوګان په کي ووژل شول او صومالیائې سرتېرو د امریکائي فوځیانو مړي په جیپانو پسې وتړل او په سړکونو کي ئې وګرځول. د دې عملیاتو فیلم د امریکا ولس هومره د جنګ په ضد او په صومال کي د امریکائي فوځونو د مزید پاتې کېدو په خلاف راوپاراوو چي چارواکي ئې دې ته اړ کړل چي له دې

هېواد نه فوراً او له ځنډ نه پرته ووځي. د دا راز عملیاتو لپاره د افغانستان شرائط تر بل هر هېواد نه زیات مساعد دي. کوم مجاهدین چي دا راز تاریخي عملیات ترسره کړي هغوی به د افغان ولس سرلوړي اتلان ګڼل کېږي او نومونه به ئې د جهاد په تاریخ کي په زرینو تورو لیکل کېږي. زموږ هیله دا ده چي د مجاهدینو ځیني په خدای مین او زړه ور ټولګي د دا راز عملیاتو لپاره چمتو شي او په دې سره د هېواد د آزادی ورځ رانږدې کړي.

افغانستان

۱۳۸۲۱۱۱۲۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# به دلیرمردان مؤمن کوهدامن وشمالي

به شما سروران سربلند مقاومت در برابر تجاوز شوروی، که با قربانی ها، حماسه آفرینی ها و حملات کوبنده و خستگی ناپذیر تان داستانهای همیشه به یادماندنی را در صفحات زرین تاریخ مقاومت ثبت کردید، حماسه هائی که هم دشمن همواره به یاد خواهد داشت و هم ملت سرافراز ما، به شما می گویيم: چرا امروز که کشور تان باری دیگر بدست دشمنان اسلام اشغال شده است و وضعیت بدتر از سابق را بر کشور تان تحمیل نموده، استقلال، آزادی و حاکمیت ملي تان توسط نیروهای اشغالگر سلب گردیده و هویت اسلامي میهن تان به شدت تهدید می گردد، چرا خاموش و ساکت نشسته اید و نظاره گر این وضعیت غم انگیز و دردآور؟! مگر غیرت وهمت سلف مجاهد و آزاد منش تانرا از دست داده اید؟! آیا به این زندگی ذلت آور و ننگین راضی شده اید و ترس از دشمن، شهامت و ایمان تانرا کم رنگ ساخته و شما را به کرنش و سرخم کردن در برابر دشمن واداشته است؟! چرا راضی شده اید که عده ای از وطن فروشان بی ننگ و بی ایمان، گاهی شما را به روسها و کمونست ها می فروشند و تحت قومنده جنرالهای روسي و پرچمی با برادران افغانی تان می جنگانند و گاهی به انگلیسها و امریکائی ها می فروشند و فرزندان تانرا بخاطر منافع بیگانگان می جنگانند؟! به چشم خود می بینید که امروز در میدان هوايي بگرام و در اطراف پایگاه های نظامي نیروهای اشغالگر در کابل چه می گذرد، و هر شب و روز به عفت و ناموس چه تعداد دختران

افغان تجاوز صورت می گیرد ؟! مگر نمی بینید که این وطنفروشان پست فطرت، دختران باعفت شما را وادار می سازند تا به این پایگاهها رفته و خاطر سربازان امریکائی و انگلیسي را شاد کنند و آرزوی شانرا برآورده سازند ؟ اینها در محافل شبانه سربازان امریکائی شرکت می کنند ، پیکهای شراب را از دست ساقی هائیکه که معمولاً دختران افغانی اند می گیرند و سرمی‌کشند ، به رقص و پای کوبی می پردازند و در پایان محفل هر افسر امریکائی دخترافغانی ای را در آغوش می کشد و به خلوت می برد. پدران و برادران مجاهد شما در گذشته بخاطر دفاع از ننگ و ناموس خود به هر قربانی آماده بودند ، از این باکی نداشتند که در راه دفاع از ننگ و ناموس، وجب وجب کابل و کوهدامن به خون آنان سرخ شود.

ما در این مدت بیش از یك ونیم سال هر روز منتظر بودیم که حماسه آفرینان شمالی و کوهدامن امروز و فردا قیام خواهند کرد ، یکجا با مجاهدین ولایات شرقی، جنوبی و جنوب غربی کشور بر دشمنان هجوم خواهند برد ، ناهید های دیگری از میان آنان سر خواهد افراشت، جوانان دلیر و سربه کفی در هر قدمی در برابر دشمن در کمین خواهند نشست و عده ای از اشغالگران را به جهنم خواهند فرستاد ، و... ولی متأسفانه این انتظار تا حال برآورده نشد!! بر عکس دیدیم که تفنگداران این منطقه به کمك امریکائی ها و تحت قومنده آنان به پکتیا و کندهار فرستاده می شوند و علیه مجاهدین این ولایات جنگانده می شوند!! وقتی خبر حمله بر جیپ افسران امریکائی در کابل پخش شد گمان کردیم که کار مجاهدین کابل و شمالي خواهد بود ، ولی بزودی معلوم شد که این نیز کار دیگران بود. از داستان این حمله قهرمانانه حتماً اطلاع دارید. امیرخان مجاهد ، باشنده خوست که برای کار شخصی به کابل آمده بود ، تصادفی صحنه تعقیب یك دختر افغانی توسط چند سرباز امریکائی را مشاهده می کند ، می بیند که دختر افغانی با پریشانی و سرآسیمگی خود را به این سو و آن سو می زند تا از شر این خائنان که به به آبرو و عفت او چشم دوخته اند نجات بیابد ، چاره ئي جز این نمی یابد که به پوسته امنیتی سربازان افغانی پناه ببرد ، سربازان ترتیبی می گیرند که او را بطور مخفیانه و بدون آنکه امریکائی ها بفهمند ، توسط تکسی از صحنه می کشند ،

امریکائی ها فرا می رسند، از آنان می خواهد تا این دختر را هر چه زودتر در اختیار آنان بگذارند و یا آدرسش را به آنان بدهند، قومندان پوسته امنیتی به قومندان مافوق خود با مخابره تماس می گیرد و از او طالب هدایت می شود، از بالا به او هدایت داده می شود تا امریکائی ها را ناراض نکند، دختر را حاضر نموده و به امریکائی ها تسلیم کند او نیز مطابق این دستور عمل می کند و دختر بیچاره را به امریکائی ها تسلیم می کند، امیرخان از مشاهده این صحنه دردناك چنان تحریك گردیده، غیرت افغانی اش چنان به جوش می آید که تصیم عملیات قهرمانانه و شهادت طلبانه ای را علیه متجاوزان خائن می گیرد، سه عدد بم دستی تهیه نموده، در شهر کابل به جستجوی امریکائی ها می پردازد، در چند موردی امریکائی ها را می یابد ولی به این دلیل از اقدام به عمل منصرف می شود که در آنجا احتمال صدمه به عده ای از افغانها نیز وجود داشت، بلآخره این جیپ افسران امریکائی را در نزدیکی مسجد پلخشتی می یابد و با پرتاب یك بم دستی بسوی آنان و کشتن و زخمی کردن تمامی سرنشینان آن انتقام می کشد و صحنه را ترك می گوید، پولیس افغانی او را تعقیب می کند او در حالیکه دو عدد بم دستی دیگری نیز در اختیار داشت و با استفاده از آنها می توانست خود را نجات دهد، ولی غیرت افغانی اش اجازه نداد تا اسلحه اش را علیه این افغانان بی غیرت و نوکر اجنبی بکار گیرد، دستگیر شد او را به وزارت داخله بردند، تاج محمدوزیر داخله شخصاً از او پرسید که چرا به این عملیات متوصل شد، گفت: حقیقت جریان را به شما می گویم مشروط به اینکه مرا به امریکائی ها تسلیم نکنید، وزیر با او تعهد می کند و وی نیز تمامی این جریان را حکایت می کند، امریکائی ها می آیند و از وزیر داخله می خواهند تا نامبرده را به ایشان تسلیم نماید، وزیر از باداران امریکائی اش می خواهد تا اجازه بدهند پس از تکمیل مراحل ضروری تحقیقات او را تسلیم کنند، امریکائی ها به کرزی زنگ می زنند و به او می گویند که به وزیر داخله هدایت بدهد تا امیرخان را بدون تأخیر تسلیم دهند، کرزی نیز بلادرنگ به وزیر دستور می دهد، و وزیر بی ایمان، برخلاف تعهد خود، امیرخان قهرمان را دست بسته حاضر ساخته به سربازان امریکائی تسلیم می دهد، زمانیکه امیرخان

قهرمان را به دفتر وزیر حاضر کردند و به او گفتند که به دستور کرزی به امریکائی ها تسلیم داده می شوی، گفت: یا دستهای مرا باز کنید تا در اثنای تسلیم دهی هرچه توانستم انجام دهم و یا مرا همینجا تیرباران کنید و بگوئید که خود کشي کرد ، مرا به دشمن دست بسته تسلیم نکنید ، ولی خائنان وطنفروش هیچ یکی از خواسته های او را نپذیرفته او را به امریکائی ها تسلیم کردند ، در اثنائیکه او را از دفتر وزیر به بیرون می کشیدند ، بسوی وزیر داخله نزدیك رفته، بر رویش تف نموده، به او می گوید: نامرد ناجوان ، به عهدت وفا ننموده با من خیانت کردی.

مردم غیور کوهدامن و شمالي!

- آیا میان شما یك امیرخان قهرمان نیز یافت نمی شود ؟
- تا چه زمانی این ذلت و رسوايي و تجاوز به ننگ و ناموس را تحمل می کنید ؟
- مطمئن باشید که نیروهای امریکائی مثل نیروهای اشغالگر شوروی از میهن عزیز ما رانده خواهند شد.
- اگر اشغالگران در نتیجه مقاومت ها و قربانی های مجاهدان سربلند سائر ولایات، از کشور اخراج شدند ، جواب شما به آنان و به تاریخ آینده کشور چه خواهد بود ؟
- بیائید با سهمگیری فعال در جهاد اسلامی، و بی زاری و برائت از وطنفروشان خائن به اسلام و ملت، دین اسلامی تانرا ادا نموده، تاریخ پر شکوه آباء و اجداد تانرا زنده کنید و خلف ناصالح و بی همت برای آنان نباشید.

افغانستان

۱۳۸۲۱۳۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# جنرال ته خطاب

## جنرال صاحب! پاکستان دي ډېر ارزان خرڅ کړ، د ممپليو په بيه!!

پاکستان له امريکا سره د افغانانو په ضد جګړي کي ملګری شو، امريکايانو ته ئې نظامي اډې ورکړې، له دغو اډو نه امريکائي طيارو په افغانانو باندي د بمباريو لپاره ۷۸۰۰۰ الوتنې وکړې، هري طيارې خپل بمونه او راکټي په افغانانو وورولې، د پاکستان له فضا نه په استفادې سره په سلهاوو کروز ميزايلونه د افغانستان په لوري وتوغول شول، د امريکا د کماندوئي ځواکونو په سلهاوو ټولګي له پاکستان نه د عملياتو لپاره افغانستان ته ننوتل، د افغاني شخصيتونو د وژلو لپاره ئې په کليو او ښارونو کي کماندوئي عمليات ترسره کړل، د امريکايانو د بريدونو په ترڅ کي تر ۲۵۰۰۰ نه زيات افغانان ژوبل او وژل شوي، امريکائي ځواکونو د طالبانو هغه حکومت چي پاکستان قانوني حکومت ګڼلو او هغه ئې په رسميت پېژندلو، نسکور کړ او په ځای ئې داسي حکومت جوړ کړ چي روسانو او ملګرو ئې غوښتو او په تېرو کلونو کي د زياتو مصارفو په کولو د هغه په راوستو نه وو موفق شوي، امريکايانو د کابل واګې هغو ډلو ته وسپارلې چي د پاکستان په رقيبانو (روسيې، هند او ايران) پورې تړلې دي.

پاکستان نه يوازي په افغانستان باندي د امريکايانو د وحشيانه او ناجائز بريد ملاتړ وکړ او په دې راضي شو چي د ده يو مسلمان ګاونډی هېواد د کفري ځواکونو په لاس اشغال شي، بلکي د طالبانو د حکومت په نسکورولو او د دوی په وژلو، نيولو او لاس تړلي دښمن ته په سپارلو کي ئې داسي له شرم او پېغور نه ډک خدمت کړی چي په انساني تاريخ کي د هغه مثال نشو موندلی!! په تاريخ کي داسي خو ډېر ځله ليدل شوي چي بې همته واکدارانو د ګواښونو په وجه خپل خارجي

سیاست بدل کړی، د خپلو وقتي گټو او مصالحو لپاره ئې له خپلو زړو دوستانو نه لاس اخستی، د یوې ډلي په ځای ئې بله ډله غوره کړې، له مخکنۍ ډلي سره ئې خپلي کړې ژمنې هېرې کړې او له خپلو تعهداتو په شا شوی، خو د داسي شرمناك عمل مثال نه شو موندلی چي یو حکومت دې د پردیو د گټو لپاره هم خپلي ملي گټې قرباني کړي او هم دې خپل ملگري د نورو په پښو کي ذبح کړي!! او دې ته دې تیار شي چي د خپلو ملگرو په وژلو، نیولو، سپکولو او له هېواد نه په شړلو کي د دوی د دښمن ملگرتیا وکړي او هغوی دې لاس تړلي دښمن ته وسپاري!! او حتی دې ته دې تیار شي چي په خپل هېواد کي د دغه اشغالگر ځواك استخباراتي شبکو ته دا اختیار ورکړي چي هرڅوك په هر وخت او هر ځای کي نیولی او خپلو محبسونو ته لېږدولی شي او د مخالفینو په نیولو کي په هومره خلاص لاس عمل کولی شي چي په خپل هېواد کي ئې نه شي کولی، هلته د قانون په مراعات مکلف وي خو دلته هیڅ قانون او هیڅ اداره نه د هغه مخه ډپ کولی شي او نه له هغه نه د تپوس جرأت کولی شي، سی آی اې او اف بی آی د شپې په تیاره کي په کورونو برید وکړي، خپل مخالفین ونیسي، د خپلي خوښي پټو ځایونو ته ئې انتقال کړي، خو نه داخله وزیر خبر وي، نه وزیر اعلی او نه د سیمي نورې اړوند اداري!!

پاکستاني چارواکي وایي چي موږ د افغانستان په خلاف جگړي کي له امریکا سره د ملگرتیا په نتیجه کي اته سوه ملیونه ډالره ترلاسه کړل!! د دې معنی خو دا ده چي گواکي پاکستاني چارواکو پاکستان او افغانستان په اته سوه ملیونه ډالره خرڅ کړل!! او دا خو په حقیقت کي د ممپلیو په بیه د دوو هېوادونو د خپلواکۍ، استقلال، عزت او تاریخ خرڅول دي!! په داسي شرمناکي خبري خو هر باعزته انسان د شرم احساس کوي، هیڅ باضمیره انسان به د دې جرأت ونه کړي چي په داسي کرکجنې خبري خپله خوله ناولې کړي، د څو ډالرو لپاره د گاونډي دوست ملك په ضد په ناروا جگړي کي داخلېدل او د بې گناه افغانانو په بې رحمانه وژنو کي شرکت، او دښمن ته د خپلو پرونیو دوستانو لاس تړلي سپارل، د یوه خپلواك حکومت د چارواکو له شان نه خو پربېږده له اجرتي قاتلانو نه هم بعیده برېښي!! ترکیې چي له کلونو کلونو د امریکا فوځي اډه وه، د شپږ ملیارده ډالرو په مقابل

کي هم د داسي کار له کولو ډډه وکړه.

امريکائي اړوند اداري وايي چي پاکستان ته له امريکا سره په دې جګړې کي د ملګرتيا په وجه لس مليارده ډالره خساره رسېدلې، پاکستاني چارواکي دا خبره نه مني او وايي: لس مليارده نه فقط يو مليارد تاوان رارسېدلی!! لومړی خو د دوی خبره د منلو نه ده، دوی په دې جګړې کي د پاکستان د برخي اخيستو د څرنګوالي د ډېرو برخو په اړه خپل ولس ته نه يوازي حقايق نه دي ويلي بلکي په ډېرو مواردو کي ئې هغوی ته دروغ ويلي!! د ۷۸۰۰۰ نظامي الوتنو په هکله هم هغوی خپل ولس ته هيڅ نه وو ويلي، په پاکستان کي د ايف بي آی او سی آی اې د هر يرغل نه وروسته امريکايان په مسلسله توګه وايي چي موږ د پاکستاني ادارو په ملګرتيا دا عمليات ترسره کړل، او دا دا کسان مو ونيول، خو پاکستاني چارواکي د خپل ولس په سترګو کي خاورې اچوي او په دروغو دعوی کوي چي په دې نيونو کي د هيڅ بهرني ملك کومي اداري برخه نه درلوده!! که له دوی سره دا خبره ومنو چي پاکستان ته يو مليارد خساره رسېدلې نو د دې معنی خو دا شوه چي تاسو د امريکايانو د خدائي خدمتګارانو په څېر په جنګ کي برخه واخيسته!!

په افغانستان باندي د روسي ځواکونو له تېري نه وروسته د امريکا د هغه وخت جمهور رئيس جيمی کارتر غوښتل پاکستان ملګرتيا ته چمتو او د شوروی اتحاد د فوځي ګواښ د مخنيوي په کار کي د امريکا په څنګ کي ودريدو ته تيار کړي، د دې لپاره ئې مرحوم جنرال ضياءالحق ته د ۲۰۰ مليونه ډالرو بلاعوض مرستي وړانديز وکړ، ضياءالحق نه يوازي دا مرسته قبوله نه کړه بلکي د امريکايانو په ځواب کي ئې وويل: دا خو نو په ممپليو خوشحالول شو!! دا په داسي حال کي چي د هغه وخت شپږ سوه مليونه ډالرو د اوس وخت شپږو مليياردو ډالرو ارزښت درلود، او په داسي حال کي چي هغه وخت پاکستان په خپله د شوروی ځواکونو له مخامخ او مستقيم ګواښ سره مخامخ او د امريکا ملګرتيا ته اړ وو، خو اوس پاکستان د يوه ګاونډي هېواد په نيولو کي د امريکا په جګړې کي شريك شوی!!

پاکستاني چارواکي د مظلومو افغانانو د نيولو او امريکا ته د سپارلو په اړه

وايي چي موږ پاکستان ته په غيرقانوني توګه راغلي کسان نيولي دي!! دوی ته بايد څو خبري ورپه ياد کړو:

- په غير قانوني توګه له راغلو کسانو سره خو بايد د پاکستان د مروجه قوانينو مطابق عمل شوی وی، نه دا چي اف بی آی ته تسليم او له پاکستان نه ګوانتنامو ته انتقال شي.
- آيا تاسو امريکايانو ته هم ويلي چي افغانستان ته د تلو لپاره هم د پاکستان ويزې ته ضرورت لري او هم د افغانستان!! تر اوسه مو څومره امريکائي کماندوګانو او پيلوټانو ته په افغانستان د بمبارۍ او په دې هېواد کي د کماندوئي عملياتو لپاره ويزې ورکړې؟
- په پاکستان کي مېشت افغان مهاجرين نه پاسپورت لري او نه په ويزه راغلي، آيا د ويزې د نه درلودو په وجه د دوی هر يو نيولی شئ او له هغوی سره د هري ناروا معاملې کولو حق لرئ؟

موږ د پاکستاني چارواکو دې وينا ته حيران يو چي وايي: که څوك د کفر او اسلام جګړه کوي په خپل ملك کي دې وکړي، دلته دې د کفر او اسلام ترمنځ د جګړي خبره نه کوي!! دلته د کفر او اسلام نه بلکي د ايماندارۍ او بې ايمانۍ او ... خبره ده!! دوی ته ناچار بايد څو خبري وکړو:

- افغانان خو پاکستان ته د کفر او اسلام ترمنځ د جګړی لپاره نه دي راغلي، دلته خو هغوی د داسي کومي جګړي بيرغ نه دی اوچت کړی او داسي کومه جګړه ئې دلته نه ده کړې او ستاسو د دې خبري په مقصد هم نه پوهېږي!!
- دا خو تاسو يئ چي په افغانستان کي د کفر او اسلام ترمنځ جګړې کي شريك شوئ، او د مسلمانو افغانانو په خلاف مو د اسلام دښمنه امريکايانو مرسته او ملګرتيا وکړه.
- افغانان په خپله خوښه او د مېلمې لپاره پاکستان ته نه دي راغلي، بلکي د مجبوريت او د هغې جګړي په وجه راغلي چي ستاسو امريکائي ملګرو وربانديتحميل کړه.
- د کفر او اسلام تر منځ جګړه خو په هر وخت او هر ځای کي روانه ده، اوس خو د

نړۍ اکثر جګړې د اسلام په ضد د کفري ځواکونو جګړې دي، که دا د کشمېر جګړه ده یا د فلسطین، چیچین، عراق، افغانستان، صومالیا او ... جګړه، دا جګړه د پاکستان له جوړېدو نه رانیولې تر نن پورې په پاکستان کې هم روانه ده، د ایمانداری او بې ایمانۍ ترمنځ جګړه هم د اسلام او کفر تر منځ جګړه ده، د مظلومو کشمېریانو په ضد د هندوانو ملګرتیا هومره د اسلام ضد عمل دی لکه د افغانانو او عراقیانو په خلاف د امریکا، د فلسطینیانو په ضد د اسرائیل او د چیچینیانو په خلاف د روسانو ملګرتیا. په داسې ملګرتیا سره انسان د اسلام له دائرې وځي، الله تعالی د هغه د ایمان دعوی دروغجنه او بې بنسټه ګڼي. داسې ګمان مه کوئ چې د مسلمان په ضد له کافر سره د ملګرتیا باوجود څوك مسلمان پاتې کېدی شي. تاسو خپل سیاست وکړئ، په سیاست کې دروغ، دوکه، عوام فریبي، وعده خلافي... هم پېرونکې او پلویان لري، د کفر او اسلام خبره علماوو ته پرېږدئ، له علماوو نه تپوس وکړئ چې آیا له کافر سره د مسلمان په ضد جګړې کې د ملګرتیا باوجود څوك مسلمان پاتې کېدی شي؟ آیا اسلام د دې اجازت ورکوي چې څوك د ځان ژغورنې لپاره د یوه قاتل په وینا بل ووژني یا د یوه مظلوم انسان په وژلو کې د ظالم ملګری شي؟؟ هغوی به د قرآن د صریحو آیتونو په استناد درته ووایي چې نه!!

- امریکا نه افغانستان یوازې د خپلو متو په زور نیولی او نه عراق، که له افغانانو او عراقیانو سره خیانت نه وی شوی او د اسلامي هېوادو واکدارانو امریکایانو ته دا اجازه نه وی ورکړې چې خپل ټوپك د دوی په اوږه کېږدي او د افغانانو او عراقیانو سینې په نښه کړي، نه ئې افغانستان نیولی شو او نه ئې عراق. دا هم باید هېره نه کړو چې که څه هم امریکائي ځواکونو په افغانستان او عراق کې مؤقته نظامي بریا ترلاسه کړې خو په اخلاقي او سیاسي لحاظ ئې داسې ماتې خوړلې چې په هیڅ څه ئې نه شي جبرانولی. د دې وحشیانه یرغل په نتیجه کې چې د امریکا په ضد په ټولې نړۍ کې کومه ژوره کرکه او نفرت راولاړ شوی د انساني تاریخ په اوږدو کې د هیڅ استعماري ځواك په ضد د هغه مثال نه شو موندلی، نه د چا په ضد دومره مظاهرې شوې او نه ئې دومره بیرغونه او د مشرانو عکسونه

سوځول شوي. دا د زړونو ژوره کرکه به ورو ورو مقاومتونه زېږوي او په عکس العملونو او انقلابونو به بدلېږي. د استعماري ځواکونو زوال هغه وخت پیل شي چي په اخلاقي او سیاسي لحاظ ماتې وخوري. امریکایانو په افغانستان او عراق خپل بربنډ تېري ته د تروریزم په خلاف د جګړې نوم ورکړ خو په دې یرغلونو سره ئې نه یوازي هغه څه ختم نه کړی شو چي دوی ئې تروریزم ګڼي، بلکي هغه مزید تشدید شو، مزید تروریستان راپیدا شول او مزید تروریستي عملیات ترسره شول. دا تروریزم په حقیقت کي د امریکائي تروریزم زېږنده ده، چاره ئې دا ده چي امریکا په خپلو استعماري سیاستونو کي تجدید نظر وکړي، په نورو ملکونو کي خپلي نظامي اډې وتړي او خپل فوځونه وباسي، که امریکایانو خپل ځواکونه له ۱۱سپتمبر نه د مخه له سعودي نه ایستلي وی نو ښایي د نیویارك او واشنګټن خونړې پېښي به نه وې ترسره شوې. که له سعودي نه وتلو ته اړ کېږي نو له عراق او افغانستان نه خو به خامخا وځي، دوی په عراق او افغانستان کي فقط دوه رژیمونه نسکور کړي، نه د امنیت په تأمینولو موفق شوي او نه د یوې قوي مرکزي ادارې په جوړلو، نه ئې جګړه ختمه کړی شوه او نه ئې په دې هېوادونو خپله سلطه قائمه کړی شوه، ټول افغانستان او عراق خو پرېږده یوازي په کابل او بغداد کي هم د امنیت په راوستلو او د دې ښارونو په اوضاع مسلط کېدو موفق نه شول. دا دی ګورو چي د مجاهدو عراقیانو او افغانانو مقاومت او په یرغلګرو ځواکونو د دوی پرله پسې بریدونه روان دي او ورځ په ورځ تشدید کېږي، د امریکائي ځواکونو تلفات د جګړې په دوران کي هومره نه وو لکه له جګړې نه وروسته. د امریکایانو په ضد اصلي جګړه اوس پیل شوې.

- پاکستاني چارواکو دا هم ویل چي د افغانستان په جګړې کي له امریکا سره د ملګرتیا په نتیجه کي به امریکا د کشمیر په مسئله کي د پاکستان مرسته وکړي، د دوی له وینا نه داسي معلومېده چي ګواکي امریکایانو په دې اړه له دوی سره خاصه ژمنه کړې!! خو دا دی اوس د دې خبري حقیقت هم ټولو ته څرګند شو، امریکا د آزادي غوښتونکو کشمیریانو جهادي ډلي د تروریستي ډلو په لست کي ونیولې او له اسلام آباد نه ئې مکرر وغوښتل چي د دغو تروریستي ډلو له حمایت نه لاس

واخلي، په پاکستان کي د دوی مرکزونه بند کړي، او له سرحد نه د دوی د اوښتلو مخه ونیسي، او متأسفانه پاکستاني چارواکو هم دوی ته لاس په سینه کیښود او وئې ویل: داسي مرکزونه نشته، که وي نو سر له سبا به بند وي!! له دې نه معلومېږي چي امریکا د کشمیر په اړه همغه سیاست لري چي د فلسطین په اړه ئې لري، هلته د ابو مؤذن په لاس د مجاهدو فلسطینیانو ځپل غواړي او دلته د پاکستاني جنرالانو په لاس د آزادي غوښتونکو کشمیریانو ځپل!! گمان نه کوو چي امریکایانو دې له پاکستاني چارواکو سره د کشمیر په اړه د مرستي ژمنه کړې وي، که بالفرض محال داسي کومه اشاره شوې وي نو نه پوهېږو چي پاکستاني چارواکو څنگه د هغو امریکایانو په درواغجنو وعدو باور کاوو چي تل ئې ملگري د خپلو گټو لپاره قرباني کړي او په سخت حالت کي ئې یوازي پرېښي، څوك چي خپل ولس غولوي، له پردیو سره به څنگه صادقانه چلند وکړي، دوی خو خپل ولس ته په عراق د حملې په څېر د لویې پېښې په اړه دروغ وویل!! بش او بلیر په عراق د برید لپاره ویل چي عراق گڼ د وژنې وسلې جوړوي او کولی شي په پنځه څلوېښت دقیقو کي دا وسلې د استعمال لپاره تیارې کړي، خو دا وسلې نه د جگړې د دریو اونیو په حساسو شېبو کي استعمال شوې او نه د ټول عراق له نیولو نه وروسته پیدا کړی شوي، او اوس د امریکا او بریتانیا استخباراتي ادارې وایي چي په عراق له برید نه مخکي ئې خپلو حکومتونو ته هیڅ داسي کوم راپور نه وو ورکړی چي په عراق کي د دغو وسلو شته والی ثابت کړي!!

دا د امریکائي یرغلگرو خدائي خدمتگاران باید په دې پوه شي چي نه به دوی تل د واك په گدۍ ناست وي، نه به دا مظلومان چي دوی ئې نیسي او خپلو امریکائي بادارانو ته ئې لاس تړلي سپاري تل بې وسه، مظلوم او په زندانونو کي وي، او نه به پولیس، فوځ، اف بی آی او سي آی اې د تل لپاره د دوی حفاظت او ساتنه کوي او د ځورول شوو له غچ او انتقام نه به ئې ساتي! د هغو ورځو په فکر کي هم باید واوسي چي د قدرت له گدۍ نه راکوز شوي، نه ئې پردي ځواکونه حفاظت کوي او نه ئې فوځ او پولیس په خدمت کي وي او د عادي خلکو په څېر داسي ژوند کوي چي هرڅوك له دوی سره محاسبه کولی شي، له گرېوانه ئې نیولی

شي او خپل غچ ترې اخیستی شي!! او مخصوصاً هغه ساعت باید هېر نه کړي چي د ذوالانتقام حسیب خدای په وړاندي به ودرېږي، نه به د مرستي لپاره څوك لري او نه د شفاعت لپاره.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۲۱۳۱۱۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اساسي قانون لوبه

موضوعات:

- د هېواد د اشغال په حالت کي د اساسي قانون د جوړولو مقصد او معنی دا ده چي نیواکگر ځواکونه د خپلو برېڅو لپاره د قانون حصار جوړ کړي او په افغانستان خپلي سلطې ته قانوني بڼه ورکړي!!
- د هېواد اساسي قانون باید هغه وخت جوړ شي چي خپلواکي ترلاسه شوې وي، ولس د خپلي آزادي ارادې د ابراز توان او استقلال ولري، په هېواد باندي د ولس د خوښي نظام مسلط وي نه د پردیو په زور مسلط شوی نظام او د اساسي قانون ضرورت د یوې داسي شورى له خوا تشخيص شي چي د ټول ملت استاځیتوب کوي، د قانون د تسوید او تصویب مراحل هم د همدې ممثلې شورى لخوا ترسره شي.
- د جینیوا د کنوانسیون له مخې هیڅ نیواکگر ځواك حق نه لري چي د اشغال شوو هېوادونو په اساسي قانون، درسي نصاب او جزائي او مدني قوانینو کي تغیرات راولي.
- هغه حکومت چي خپل امنیت نه شي ساتلی، له ارگ نه بهر ئې فرمان نه چلېږي، څنگه د اساسي قانون د جوړولو خبره کوي؟ مگر مخکني اساسي قانون خلکو ته امنیت، کور، کار، کالي، ډوډۍ، دوا، درمل، تعلیم، ورکړ چي دا به ئې ورکړي؟ مگر هغه قانون د ملي شتمنیو د غارت، اختلاس، رشوت، خیانت، داخلی جگړو، ډله ییزو وژنو او د عوامو په سر، مال او عزت د تېري مخنیوی وکړی شو چي نوی اساسي قانون به ئې وکړي؟!

- قرآن موږ ته د دې لارښوونه کوي چې لومړی باید خپلواکي ترلاسه شي، بیا باید د ټولنې د اجتماعی‌امورو د تنظیم لپاره قانوني اقدامات وشي او اقتصادي اصلاحات ترسره شي.

متن:

د اساسي قانون د تسوید او تصویب په اړه چې د کابل د لاس پوڅي حکومت له لوري کومه لوبه روانه ده د تېرې لویې جرګې په څېر یوه غولوونکي او خندوونکي ډرامه ده. په داسي حال کي چي زموږ هېواد د انګرېزانو او امریکایانو لخوا اشغال شوی، د هېواد په پلازمېنې او لویو ښارنو کي بهرني فوځونه ځای په ځای شوي، په بګرام، خواجه رواش، خوست، ګردیز او کندهار کي ئې نظامي اډې جوړې کړې، په جلال آباد، مزار، هرات ... کي د دوی قطعات مستقر شوي، ځمکه او فضا د دوی په واك کي ده، د دوی ځمکني او هوایي ځواکونه د افغانانو له اجازې پرته ځي راځي، په هري سیمي چي وغواړي برید کوي، په هر کلي چي وغواړي بمونه وروي، د هر چا د نیولو او وژلو حق ځان ته ورکوي، د افغانستان په داخل کي ئې زندانونه جوړ کړي، په زرهاوو کسان ئې نیولي، ځیني ئې د خپلو داخلي اډو په زندانونو کي ساتلي او ځیني ئې په نورو هېوادونو کي خپلو اډو ته انتقال کړي، کرزی ئې د کارمل په څېر په خپلو عسکري طیارو کي کابل ته انتقال کړ، د حفاظت لپاره ئې د امریکائي کماندو قطعه په ارګ کي مستقر شوه، د بن په غونډي کي ئې د خپلي خوښي ډلي راغونډي کړې، د خپلي خوښي فیصلې ئې په دوی امضاء کړې، په افغانستان باندي د خپل ناروا تېري او په دې هېواد د یوه لاس پوڅي حکومت د تپلو موافقه ئې له دوی نه واخیسته، د لویې جرګې د جوړولو لپاره ئې د خپلي خوښي داسي کسان په یوه کمیسیون کي راغونډ کړل چي نه د کومي سیاسي ډلي لخوا معرفي شوي، نه له کوم افغان نه د دوی په هکله پوښتنه شوې او نه د دوی حیثیت او سابقه چا ته معلومه ده!! جرګې ته ئې د هماغه ځواکونو استازي راوبلل چي د بهرنیو ځواکونو په مرسته د افغانستان په بېلو بېلو سیمو مسلط شوي او ... نو په داسي حالت کي چي د افغانانو خپلواکي سلب او ملي حاکمیت ئې تر پښنو لاندي شوی، د دوی برخلیك د پردیو په لاس کي او د

پردیو د خوښي افراد او ډلي ورباندي مسلط شوي، په دې حالت کي د هېواد لپاره د اساسي قانون د جوړولو معنی دا ده چي نیواکګر ځواکونه د خپلو برېڅو لپاره د قانون حصار جوړ کړي او په افغانستان خپلي سلطې ته قانوني بڼه ورکړي!! لکه څنګه چي د تېري غولوونکي لویې جرګې ډرامه ئې د دې لپاره جوړه کړه چي په بن کي جوړ شوي لاس پوڅي حکومت ته د مشروعیت پرتوګ ورواغوندي، اوس هم غواړي د امریکایانو د خوښي سیکولر نظام ته قانوني بنسټ جوړ کړي.

هرڅوك په دې پوهېږي چي د یوه هېواد لپاره اساسي قانون بایدپه داسي حالت کي جوړ شي چي:

- خپلواك وي او ولس ئې د خپلي آزادې ارادې د ابراز توان او استقلال ولري.
- په هېواد باندي د ولس د خوښي نظام مسلط وي نه د پردیو په زور مسلط شوی نظام.
- د اساسي قانون ضرورت د یوې داسي شورى له خوا تشخیص شي چي ټول ملت تمثیلوي. د قانون د تسوید او تصویب مراحل هم د همدې ممثلې شورى لخوا ترسره شي.
- د قانون په تسوید کي باید د ټولنې دیني او مذهبي جوړښت او فکري او فرهنګي بنسټونه په کلکه مراعات شي، د ملت رأیې او غوښتنو ته پاملرنه وشي او د هېواد خپلواکي او ملي حاکمیت تضمین شي. دا کار یوازي په هغه صورت کي ممکن دی چي هېواد د پردیو له سلطې آزاد وي او ممثل منتخب پارلمان د هېواد لپاره اساسي قانون جوړ او تصویب کړي.

د جینیوا د کنوانسیون له مخې هیڅ نیواکګر ځواك حق نه لري چي د اشغال شوو هېوادونو په اساسي قانون، درسي نصاب او جزائي او مدني قوانینو کي تغیرات راولي. د دې کنوانسیونونو په وړاندي امریکا او انګلستان تعهد او امضا کړې!! خو سره له دې زموږ د هېواد د اشغال په وخت کي راته اساسي قانون جوړوي، زموږ تعلیمي نصاب ئې بدل کړ او د قضائي نظام د بدلولو لړۍ ئې پیل کړې!!

زموږ له نظره اساسي خبره دا ده چي لومړۍ دې بهرني فوځونه له افغانستان

نه ووځي، د افغانانو خپلواکي او ملي حاکمیت دی تأمین شي، افغانانو ته دې له بهرنۍ مداخلې او فشار پرته د خپل برخلیك د ټاکلو حق ورکړی شي، د افغانانو واقعي استاځي دې د انتخاباتو له لارې او په خپله د دوی په خوښه غوره شي، د منتخبو استاځو لویه غونډه دې د افغانستان د راتلونکي سیاسي نظام په اړه تصمیم ونیسي. افغانان په خپل هېواد کې نه پردي ځواکونه مني، نه د پردیو په لاس تپل شوي حکومتونه او نظامونه او نه د پردیو د متو، وسلو او پیسو په زور مسلط شوي واکداران. که د روسانو کارمل ئې ونه منلو د امریکایانو کارمل او د انګرېزانو بل شاه شجاع به هم ونه مني. که روسان ونه توانېدل چې د لسو کلونو جګړو او یونیم ملیون افغانانو په وژلو د خپلې خوښې کمونست رژیم په افغانستان تحمیل کړي، امریکایان او انګرېزان هم نه شي توانیدی چې سیکولر نظام او مربیي حکومت په دې شهید پالونکي هېواد تحمیل کړي.

دا تل د یرغلګرو بد خوی پاتې شوی چې تر غولوونکو شعارونو لاندې په بې دفاع ملکونو تېری کوي، د ښکیلاك شوو هېوادونو خپلواکي او ملي حاکمیت سلبوي، ملي مشران ئې یا وژني، یا ئې د محبسونو تورو خونو ته لېږي او یا ئې له هېواده شړي او د دوی په ځای مزدور واکداران راوړاندې کوي، د دوی ملي هویت او هغه اجتماعي نظام ختموي چې د دوی د مذهب او معتقداتو په بنسټ ولاړ وو او د هغه په ځای د خپلې خوښې هغه نظامونه په دې هېوادونو مسلطوي چې د تل لپاره د استعمارګرانو ګټې خوندي وساتي، خو له دې سره سره د دغو نیول شوو سیمو له اوسېدونکو نه غواړي چې ښکیلاك ګران وستایي، دوی خپل ژغورونکي وګڼي، د دوی مننه وکړي او په نوي حالت او ټول هغه څه سل په سلو کې راضي وي چې یرغلګرانو له خپلې سلطې نه وروسته په دوی پېرزو کړي، د دوی له لورې تپل شوی نظام او چارواکي ئې وستایي او هغه چا ته بد و رد ووایي چې د یرغل مخې ته ودرېدلي، له خپل ملي هویت او ملي حاکمیت نه دفاع کوي او د خپل هېواد استقلال غواړي. روسانو همداسي وکړل او دا دی امریکایان او د دوی ګوداګي انګرېزان همداسي کوي.

امریکایانو افغانستان اشغال کړ، ۲۵۰۰۰ افغانان ئې په قتل ورسول،

مخکنی رژیم ئې نسکور او د هغه په ځای ئې د خپلي خوښي نظام او واکداران د کروز میزایلونو، بی ۵۲ او ایف ۱۲ طیارو په زور په افغانستان تحمیل کړل او بیا ئې د خپلي بربنډې او ایستل شوې تورې لاندي د خپلي خوښي کسان د لویې جرګې تر غولوونکي نامه لاندي راغونډ کړل ترڅو هغه نظام ته مشروعیت ورکړي چي دوی د لیزري بمونو په زور په افغانانو مسلط کړ او دا همغه کار وو چي انګرېزانو د نادرخان د راوستلو په وخت کي وکړ. د لویې جرګې کمیسیون امریکایانو جوړ کړ، غړي ئې د دوی له خوا وټاکل شول، بیا همدې کمیسیون د هر استاځي د غوره کولو لپاره د خپلي خوښي شل شل کسان غوره کړل!! نه د شلو کسانو په هکله له عام ولس نه پوښتنه شوې او نه دوی ته د خپلو استاځو د انتخاب حق ورکړی شوی، د دې خبري معنی دا وه چي د کمیسیون غړي په مستقیمه توګه او د لویې جرګې غړي په غیرمستقیمه توګه د امریکایانو لخوا غوره شول، د امریکایانو لخوا جوړې شوې دغي جرګې هغه حکومت ته د اعتماد رایه ورکړه چي امریکایانو لا د مخه جوړ کړی وو، هم ئې ترکیب د دوی لخوا جوړ شوی او هم ئې رئیس او د کابینې غړي د دوی لخوا غوره شوي وو، جرګې فقط لاسونه اوچت کړل او امریکایانو په دې لاس اوچتولو استناد وکړ او نړیوالو ته ئې وویل چي دا ده موږ په افغانستان کي د طالبانو د دیکتاتوری نظام په ځای یو ښکلی دیموکراتیك نظام او د خلکو د خوښي حکومت جوړ کړ!! نړیوال په دې ځه پوهېږي چي د دیموکراسۍ په دې امریکائي نسخې کي نه د رأیې کارت شته، نه د رأی اچولو صندوق شته، نه کاندید شته، نه ولس د رأیې ورکولو حق لري او نه د خپلي خوښي استاځي غوره کولی شي، دا په حقیقت کي د بی ۵۲ دیموکراسي ده. د دې دیموکراسۍ بنسټ له هېواد نه بهر په بن کي کېښودلی شوی، هلته امریکایانو د هغو ډلو استاځي راغونډ کړل چي په افغانستان باندي ئې د امریکا د حملې ملاتړ وکړ او په جګړي کي ئې د امریکا د ځمکنیو فوځونو په څېر عمل وکړ. امریکایانو د بن جرګه په داسي وخت کي دائره کړه چي د طالبانو واکمني په نسکورېدو وه او امریکایانو غوښتل چي له دې جرګې نه له یوې خوا په افغانستان باندي د خپل وحشیانه او ناروا تېري د مشروعیت سند ترلاسه کړي او نړیوالو ته دا حمله د افغانانو د

غوښتنو مطابق وښيي او له بلي خوا د افغانستان لپاره راتلونکی امريکائي نظام د افغان ولس د خوښي نظام معرفی کړي. د بن جرګې هم د حملې ملاتړ وکړ او هم ئې د راتلونکي نظام هغه ترکيب تائيد کړ چي طرحه ئې امريکايانو وړاندي کړې وه او هم ئې هغه چا ته رايه ورکړه چي امريکايانو د همدې نظام په سر کي د ده راوستل غوښتل!! د جرګې په ورځ هر چا ته دا خبره جوته شوه چي د افغانستان اصلي واکمن د جورج بش خاص استاځی زلمی خليل زاد دی چي په حقيقت کي د افغانستان لپاره امريکائي وايسرا دی.

د اساسي قانون د تسويد او تصويب بهير په څرګنده دا ښيي چي دا هم د امريکائي لويې جرګې په څېر هسي د عوامو د غولولو لپاره يوه خندونکي ډرامه ده چي غواړي د خلکو پام له اصلي مسئلو نه بل لوري ته واړوي او په خوشو بېهوده خبرو ئې مصروف کړي!!

هغه حکومت چي خپل امنيت نه شي ساتلی، له ارګ نه بهر ئې فرمان نه چلېږي، په ارګ کي هم د تش په نامه جمهور رئيس امنيت امريکائي کوماندو تأمينوي، نه په لويو ښارونو کي د چا د سر، مال او عزت حفاظت کولی شي او نه په لويو لارو او اطراف کي، په حکومت کي شامل ډلي په خپلو منځونو کي په دوامدارو جګړو بوختې دي، هره ورځ د دوی د ښتو او د بې ګناه خلکو په سر، مال او عزت د دوی د وحشيانه تېريو او ډله ييزو وژنو راپورونه خپرېږي، خو حکومت نه په خپله او له دې رسوايي نه د ځان ژغورلو په اړه د څه کولو توان لري او نه ئې بهرني حاميان دا ستونزه ورته حل کولی شي... نو داسي حکومت په اساسي قانون څه کول غواړي، په دې سره به د ځان، هېواد او ولس کوم مشکل حل کړی شي؟! مګر مخکني اساسي قانون د دوی کومه ستونزه حل کړه چي نوی اساسي قانون به ئې ورته حل کړي؟! مګر مخکني اساسي قانون خلکو ته امنيت، کور، کار، کالي، ډوډۍ، دوا، درمل، تعليم... ورکړ چي دا به ئې ورکړي، مګر هغه قانون د ملي شتمنيو د غارت، اختلاس، رشوت، خيانت، داخلی جګړو، ډله ييزو وژنو او د عوامو په سر، مال او عزت د تېری مخنيوی وکړی شو چي نوی اساسي قانون به ئې وکړي؟!

قرآن موږ ته د دې لارښوونه کوي چې لومړی باید خپلواکي ترلاسه شي او د طاغوتي ځواکونو استبدادي سلطه پای ته ورسېږي، بیا باید د ټولنې د اجتماعی امورو د تنظیم لپاره قانوني اقدامات وشي او اقتصادي اصلاحات ترسره شي. موږ ته وایي چې موسی علیه السلام ته تورات د فرعون له نسکورېدو وروسته ورکړی شو او محمد علیه السلام د سود تحریم د مکې له فتحې نه وروسته اعلان کړ. یعني قانوني اقدامات له آزادۍ نه وروسته او اقتصادي اصلاحات له برۍ نه وروسته.

امریکایان او د دوی بریښي دغې خندوونکې ډرامې ته د یوه دیموکراتیک بهیر!! نوم ورکوي او په خپلو تبلیغاتو کې همدا له شرمه ډك ارتجاعي حرکت د دیموکراسۍ په لوري د ستاینې وړ خوځښت ګڼي!! افغانان وایي: په داسې دیموکراسۍ دې لعنت وي، دې دیموکراسۍ خو زموږ خپلواکي سلب کړه، بهرني ځواکونه ئې په موږ مسلط کړل، د دوی له سلطې وروسته په هیڅ سیمې کې نه د چا سر خوندي دی، نه مال او نه عزت او ناموس. جانیان په موږ مسلط شوي، د ملك واګې د پردیو او د دوی د مفسدو ملګرو په لاس کې دي، غله، داړه ماران او بدنام جنایتکاران په افغانستان حکومت کوي، د امریکایانو د ټولو هڅو او درواغجنو تبلیغاتو سره سره د کوکنارو کرهنه سږ کال د تېرو کلونو په نسبت کم له کمه دوه برابره زیاته شوې، په ډېرو هغو سیمو کې چې هیڅکله هلته کوکنار نه کرل کېدل د امریکائي نظام له راتلو نه وروسته هلته په وسیع پیمانه کوکنار کرل شوي، امریکایانو چې د کوکنارو د مخنیوي لپاره کومې پیسې مختص کړې وې هغه اکثراً د دوی د غلو ملګرو په جیبونو کې ولوېدې!!

د تأسف خبره خو لا دا ده چې ځینو مقلدو او تور زړو روشنفکرانو، له مجاهدینو سره د اختلاف په وجه، یو ځل بیا خپل غږ له یرغلګرو سره یو کړ او په هغه کاروان کې شامل شول چې د لومړي اوښ مهار ئې د امریکا په لاس کې دی!! دغو تور زړو روشنفکرانو له دې نه د مخه د روسانو د یرغل ملا تړ وکړ، ځینو ئې د روسانو تر قومندې لاندې د خپل ولس په خلاف په خونړیو جګړو کې برخه واخیسته، ځینو نورو دا جګړه د ارتجاع او امپریالیزم په خلاف د مترقي ځواکونو

جګړه وګنډله او په ټول توان طاقت ئې د هغې مرسته کوله او ویل به ئې: د ارتجاعي مذهبي ځواکونو د ختمولو او ټکولو یوازنۍ لار همدا ده چې د روسانو د همدې تېري ملاتړ وکړو!! همدا تور زړي او له خپل ولس نه پردي روشنفکران دي چې اوس له همغه امپریالیزم سره یو ځای شوي او د امریکایانو وحشیانه تېری د دیموکراسۍ په لوري موثر ګام ګڼي او په دې خاطر په هېواد کي د بهرنیو ځواکونو د مزید پاتې کېدو ملاتړ ضروري شمېري چې افغاني روشنکفران د بهرنیو ځواکونو له مرستي پرته له بلي لاري نه شي کولی د ملي او مذهبي ځواکونو مقابله وکړي، دا ځکه چې د دوی شمېر کم دی او د اجتماعي بدلون راوستو په موقعیت کي نه دي، د نیواکګرو ځواکونو تر سیوري لاندي نظام د دوی لپاره په زړه پورې او یوازنی بدیل دی!! خو دوی په دې نه پوهېږي چې د اجتماعي بدلون راوستو لار هیڅکله دا نه ده چې ځوك په خپل هېواد او ولس د پردیو د مسلحانه برید ملاتړ وکړي او د پردیو د متو او وسلو په زور اجتماعي بدلون راولي!! د پردیو د وسلو او فوځونو په زور چې کوم بدلون راځي دا یوازي د پردیو ګټې تأمینوي او تر هغې ورځي دوام کوي چې دا فوځونه ستا په هېواد مسلط وي، د دوی له وتلو سره سم به نه یوازي د داسي بدلون ټغر ټولېږي بلکي د دا راز بدلونونو په مقابل کي به د ولس حساسیت داسي حد ته رسېږي چې له دې نه وروسته هر بدلون ته د شك په سترګه وګوري او د خپلي ټولنې له اجتماعي او فکري جوړښت نه د هر منفی او مثبت حرکت په وړاندي په کلکه دفاع وکړي. په دې کي هیڅ شك نشته چې بهرني ځواکونه په هیڅ صورت کي د تل لپاره په اشغال شوو هېوادونو کي نه شي پاتې کېدی، دوی به یا په خپله او د خپلو داخلي ستونزو په وجه او یا د دې هېوادونو د آزادي غوښتونکو د مقاومت په نتیجه کي وځي او د دوی له وتلو سره سم به د دوی په لاس مسلط شوی نظام او تحمیلی واکداران رانسکورېږي.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۲/۳/۱۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# جهاد ضد امریکائی در افغانستان

قَتلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّهُ بِأَيْدِيكمْ وَ يخْزِهِمْ وَ يَنصركُمْ عَلَيْهِمْ وَ يَشف صدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمنِينَ * وَ يُذْهِب غَيْظ قُلُوبِهِمْ وَ يَتُوب اللّهُ عَلى مَن يَشاءُ وَ اللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ *

التوبة: ۱۴-۱۵

به فضل و عنایت الهي، مقاومت مجاهدین حماسه آفرین افغان علیه نیروهای اشغالگر امریکائی، باوجود تمامی فشارها و محدودیت ها، موفقانه ادامه داشته، بطور روزافزون از قوام و پختگی هرچه بیشتر برخوردار گردیده، دامنه آن گسترش می یابد و عرصه را بر دشمن تنگتر و تنگتر می سازد. این مقاومت که از اولین عملیات مسلحانه آن علیه دشمن تقریباً يك سال سپری می گردد، در این مدت کوتاه دستآوردهای عظیم و بالاتر از انتظار داشته است. اگر تمامی مجاهدین هدفمندی که با توکل به خدا به صفوف رزمندگان مؤمن می پیوندند، از تجارب برادران مجاهد شان در جنگ علیه اشغالگران شوروي استفاده نموده و برنامه های عملیاتی شانرا با درنظرداشت شرائط خاص افغانستان تنظیم کنند، إن شاء الله نتائج بیشتر و بهتری برمقاومت دلیرانه شان مرتب خواهد شد. ما شرائط کشور، توانمندی ها و امکانات مجاهدین و محدودیتها، محاصره ها و فشارها علیه آنان، و وسائل و امکانات دشمن را چنان می یابیم که مراعات مطالب آتی را در جریان مقاومت و در طرح ریزی برنامه های عملیات نظامي حتمی و ضروری می

شماریم:

- تعداد نیروهای بیگانه در افغانستان، به مقایسه نیروهای شوروي در این کشور، خیلی کم است، با این تعداد نه قادر به تأمین امنیت در جاده ها اند و نه قادر به دفاع از پایگاههای عسکری خود و گزمه ها و قطارهایش، در هر جائی آسیب پذیر بوده و امکان عملیات موفق علیه آن خیلی زیاد است.
- غربی ها و در رأس آن امریکا به مقایسه روسها نه روحیه خوب رزمی دارند و نه حوصله تحمل تلفات زیاد. اگر تلفات آنها در افغانستان کمی بیش از روند موجود شود ، حتماً و بزودی افغانستان را ترك می گویند. باید در تمامی عملیات خود به تزئید تلفات دشمن توجه و اهتمام داشت، نه به چیز دیگری. تا آنجا که مقدور است تمامی امکانات دست داشته را باید بسوی این هدف توجیه کرد و از بکار گیری آن در جهت اهداف دیگری خودداری ورزید. اقدامات علیه رژیم دست نشانده را باید به مرحله بعد از اخراج نیروهای بیگانه محول کرد.
- امریکائي ها با تجاوز خود بر افغانستان فقط توانستند رژیم طالبان را سرنگون کنند ، هیچ موفقیتی دیگر نداشته اند ، نه بر اوضاع افغانستان مسلط شدند ، نه حکومت قوی مرکزی درست کردند ، نه امنیت مورد نظر شان را تأمین کردند ، نه قادر به انتقال گاز ونفت آسیای مرکزی از طریق افغانستان شدند ، نه به سرکوبی مقاومت موفق شدند ، نه از حملات مجاهدین بر پایگاهها و گزمه های شان مانع شدند ، نه جلو کشت و تجارت مواد مخدر را گرفتند ، نه از درگیری های خونین میان گروههای وابسته و مزدور خود مانع شدند و نه ... در تمامی اهداف و مقاصد بعد از جنگ کاملاً ناکام و ناموفق بوده اند ، ادامه حضور ناکام در افغانستان، برای مدت طولانی و در صورت ازدیاد تلفات، برای شان مقدور نخواهد بود.
- از تقاضاهای عملیات چریکی این است که در نتیجه آن دشمن همه مردم را دشمن خود تلقی نموده، از هر افغاني بیم داشته، بر هیچکسی نتواند اعتماد کند. این ذهنیت را باید ایجاد کرد که جز عده محدودی تمامی افغانها با دشمن می جنگند ، دشمن باید نتواند به مردم بقبولاند که عده محدودی از افغانها یا گروه و

گروههای مشخصی علیه آنان مصروف جنگ اند. دشمن تلاش می ورزد تا علیه برخی از گروهها به پیمانه ای تبلیغات کند که حضور خود در افغانستان و ادامه جنگ را توجیه نموده، سربازان خود، ملت خود و حامیانش را متقاعد ساخته و به ادامه جنگ مشروعیت بدهد. اگر مجاهدین، تحت پوشش گروههای متعدد، با نامهای مستعار و ناشناخته وارد عمل شوند، هر یکی مسئولیت عملیاتی را به عهده بگیرد و اعلان کند که با گروههای مورد نظر دشمن ارتباطی ندارد، برای آزادی کشور خود می جنگد، برخاسته از ملت بوده و از احساسات مردم خود نمایندگی می کند، با این کار این ذهنیت میان افغانها و در صفوف هواداران دشمن ایجاد می گردد که در افغانستان دشمنان زیادی دارند، تمامی افغانها از آنان نفرت داشته و خواهان خروج نیروهای بیگانه از وطن شان اند

- باید راههای عبور و مرور دشمن را به پیمانه وسیع و بطور دقیق ماین گذاری نموده، از ریموت کنترول و انفجار با شارت برقی استفاده اعظمی صورت گیرد. تجربه نشان داده که تعبیه ماینها در سطح هموار، جز در مورد تانکها، در بقیه موارد مفید و مؤثر نیست، در مورد وسائط عادی و پیاده دشمن نتائج خوب تحویل نمی دهد، چون چره های انفجار به سمت بالا رفته و روی زمین را نمی پوشاند و به اهدافی که در فاصله دو متری اش قرار داشته باشد آسیبی نمی رساند، باید ماین ها را در دو طرف مرتفع جاده و به ارتفاع تقریباً يك و نیم متر از سطح زمین جابجا کرد، در این صورت طرف راست و چپ و روبروی انفجار همه به فاصله زیادی و به تناسب قدرت انفجار تحت پوشش چره ها گرفته می شود. در این نوع ماین گذاری ها در عوض استفاده از ماین ضد تانك یا باروت و آهن پاره ها، از مرمی هاوان، سرگلوله مرمی توپ، تانك و میزایل استفاده شود.
- در این مرحله باید از عملیاتی خودداری شود که احتمال تلفات در آن بیشتر باشد، عملیاتی موفق که مجاهدین در آن تلفات نداشته، دشمن متحمل تلفات گردیده، در جریان عکس العمل خود دست آوردی نداشته باشد، باعث تقویه روحیه مردم می گردد.
- در کمین گیری ها، دو الی سه گروپ مستقل یکجا گردیده تحت قومنده

واحد عمل کنند.

- باید از تشکیل گروپ های بزرگ خودداری نموده و در عوض مجاهدین را در گروپهای کوچك شامل سه تا پنج نفر تنظیم کرد.
- از تأسیس مراکز ثابت و عملیات جبهه ئی باید خودداری شود.
- لازم است بر عملیات چریکی شامل حملات راکتی، کمین گیری ها ، ماین گذاری ها و ترور جواسیس اکتفا کرد. اگر این نوع عملیات بطور گسترده انجام شود ، مرحله عملیات جبهه ای نیز بزودی فراخواهد رسید. باید متوجه باشیم که عملیات جبهه ای به امکاناتی زیاد ضرورت دارد که مجاهدین در شرائط کنونی قادر به تأمین آن نیستند.
- ما زمانی موفق خواهیم بود که دشمن هرگز نداند که چه کسی، چه زمانی و چگونه بر آن حمله می کند. از شناسائی مجاهدین عاجز باشد ، ابتکار جنگ را به نفع مجاهدین از دست بدهد ، قادر به انتخاب میدان جنگ ، وقت و چگونگی آن نباشد. ابتکار بطور کامل در دست مجاهدین باشد. نباید در جنگی با دشمن درگیر شد که او خواسته است و زمان و مکان آنرا دشمن انتخاب کرده است.
- از هجوم بر قرارگاهای دشمن که دارای استحکامات دفاعی اند باید خودداری شود.
- نباید بر قطارهای بزرگتر دشمن که شامل بیش از ده عراده وسائط باشد ، حمله شود ، در این موارد فقط از ماین ها استفاده شود. حمله برقطارهای بزرگ باید در مراحل پیشرفته صورت گیرد. این کار زمانی مفید است که مناطق وسیعی بطور کامل در اختیار مجاهدین افتاده، از جواسیس و حامیان دشمن تصفیه شده و مردم منطقه از مجاهدین و اهداف و برنامه های شان حمایت کنند.
- در این مرحله، بحث در باره چهارچوب حکومت آینده، تشکیل شوری ها ، معرفی شخصیتهای مهم و امثال آن، نه لزومی دارد و نه سودی، بر عکس مضر است و دارای نتائج منفی، در باره حکومت بایدبا الفاظ عام گفت: ما خواهان حکومت اسلامي، خادم مردم، منبعث از اراده ملت، متشکل از افراد صالح، خداترس و مهربان برمردم، حامی مستضعفان و دشمن خیانت، ظلم، بي عدالتی و

تبعیض می باشیم. هدف ما آزادی کشور، خروج تمامی نیروهای بیگانه، دفاع از استقلال و تمامیت ارضی کشور و هویت اسلامي آن بوده، بر وحدت ملي و انتخاب حکومت توسط خود مردم و بدون مداخله اجنبی تأکید می ورزیم. اگر کسی بگوید که ما خواهان اعاده حکومت خود هستیم، نه تنها با مخالفت دیگران مواجه خواهند شد بلکه در داخل صفوف خود نیز با مخالفتهای شدیدی روبرو خواهند شد. همچنان معرفی اشخاص مهم این عیب را دارد که با دستگیری و قتل هر یکی از آنان روحیه افراد صدمه می بیند.

هر برنامه ای را که مجاهدین برای عملیات نظامی خود درست می کنند باید نقاط اساسی فوق را مدنظر داشته باشند. عملیاتی که در یك سال گذشته و قبل از فعال شدن مجدد طالبان، از ثور ۱۳۸۱ تا ثور ۱۳۸۲ جریان داشت، خیلی موفقانه و با درنظرداشت شرائط حاکم بر کشور بود، گر چه فعال شدن مجدد طالبان در ماه ثور سال جاری، هر چند پس از تأخیر کافی، انکشاف خوبی بود، ولی متأسفانه آنها کارشانرا به نحوی آغاز کردند که شرائط موجود کشور اجازه آنرا نمی دهد، تأسیس جبهات و اقدام به جنگهای جبهه ای در این شرائط از لحاظ نظامي اشتباه بزرگ تلقی می شود. کسانیکه بدون توجه به ظروف و شرائط موجود و تقاضاهای آن وارد عمل می شوند، مرتکب اشتباهات جبران ناپذیر گردیده، بیش از آنکه به دشمن صدمه ای برسانند به خود صدمه می زنند، اشتباه تأسیس جبهات و توصل به جنگهای جبهه ای مثل همان اشتباهاتی است که تعداد زیادی از نیروها به اعتماد کسانی چون جنرال مالك به شمال اعزام و به کام مرگ فرستاده شدند و یا به اعتماد بر جنرال دوستم به او تسلیم شدند و همه بطور دسته جمعی به قتل رسیدند. کشته شدن بیش از ده هزار نفر در نتیجه این اشتباهات را نباید عادی گرفت و از تجارب تلخ آن برای جلوگیری از این ضایعات استفاده نکرد.

افغانستان

۱۳۸۲۱۴۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# اسلامي نهضت انقلاب راوستی شي؟

د اسلامي نهضت په ليکو کي لګيا مبارزين چي په خپلو خپلو سيمو کي د سياسي او اجتماعي بدلونو لپاره په مبارزې بوخت دي، بايد په څو مهمو خبرو يو ځل بيا غور وکړي:

- آيا د دوی د مبارزې له اسلوب نه د دې طمع کېدی شي چي په ټولني کي سياسي او اجتماعي انقلاب او بدلون راشي؟
- آيا په دې اسلوب کي ټول هغه مراحل مراعات شوي چي پيغمبر عليه السلام مراعات کړي؟
- په خپل هېواد کي او په نړۍ واله کچه د دې امکان ګورئ چي اسلامي نهضت د يوه واقعي اسلامي انقلاب په راوستو بريالی شي؟ آيا په اسلامي نهضت کي دا وړتيا شته؟ آيا کورني شرائط او نړۍ وال وضعيت د دې اجازه ورکوي؟ آيا مسلمان مبارزين د داخلي او بهرني خنډونو، ګواښونو او کړاوونو مقابله کولی شي؟
- دا څوومه پېړۍ ده چي مسلمانان په ذلت، اسارت او محکوميت کي ژوند کوي، له آزادۍ او خپلواکۍ نه محروم دي، په سياسي، اقتصادي او فکري لحاظ استعماري ځواکونه ورباندي حکومت کوي، لاس پوڅي حکومتونه ورباندي مسلط شوي، له داسي اختناق او استبداد سره مخامخ دي چي د نړۍ په هيڅ ګوټ کي ئې مثال نشو موندلی، واکداران ئې د پرديو په وړاندي سپك او ذليل او د خپل ولس په مقابل کي مغرور او بې رحمه، دوی د پرديو غلامان دي او ولس د ځان غلامان ګڼي. د غلامۍ، ذلت او محکوميت دغه دردونکي حالت په ولسونو کي د عزت النفس احساس، د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه او

د سرلوړي او پتمن ژوند تلوسه په کلکه ځپلې ده، آیا د دې طمع کېدی شي چې دا ولسونه قربانۍ ته چمتو شي، انقلابي تګلاري ومني او پاڅون ته تیار شي؟

• یو وخت خو په ټولو اسلامي ملکونو استعماري ځواکونو مخامخ او د خپلو فوځونو په زور حکومت کاوو، خو پس له هغه چې دا ځواکونه د خاصو عواملو په وجه ووتل نو داسي رژیمونه شا ته پرېښودل چې د دوی ګټې خوندي وساتي، د دې هېوادونو د مسلح ځواکونو جوړښت ئې داسي تنظیم کړ چې د لاس پوڅو رژیمونو مدافع او د هر ملي پاڅون د ځپلو لپاره د دغو ځواکونو په خدمت کي لاس په سینه ولاړ وي، تعلیمي نظام او نصاب ئې داسي جوړ کړ چې په علمي مؤسساتو کي تر روزني لاندي ځوانانو کي د آزادۍ او خپلوکۍ جذبه راولاړه نشي، د پردیو په غلامۍ او تقلید کي د فخر احساس وکړي او له خپل اسلامي او ملي هویت نه پردي شي. د وتلو په وخت کي ئې د دې هېوادونو جغرافیائي نقشې داسي جوړي کړې چې له یوې خوا د دغو هېوادونو ترمنځ تل سرحدي منازعات روان وي، او له بلې خوا هغه قومونه چې له استعماري ځواکونو سره جنګېدلي د مختلو ملکونو ترمنځ وویشل شي، په اقتدار کي له برخي نه محروم کړی شي، هغو اقلیتونو ته قدرت وسپارلی شي چې له استعماري ځواکونو سره ئې ملګرتیا کړې او په راتلونکي کي تل پدوی متکي وي، او په اقتدار کي د پاتې کېدو لپاره د دوی شرائطو منلو ته اړ وي. د دې ښه مثالونه پښتانه او کردان دي، چې له استعماري ځواکونو سره د دوامدارې مبارزې په وجه یو په دربو او بل په څلورو برخو وویشلی شو. آیا اسلامي نهضت ولسونه دې ته تیارولی شي چې له استعمار نه پاتې په دغه جغرافیائي جوړښت کي تبدیلي ضروري وګڼي؟ دا پداسي حال کي چې استعماري ځواکونو په دې اوږدې مودې کي په پراخو تبلیغاتو سره قومي، ژبني او محلي تعصباتو ته هومره لمن وهلې چې هیڅوك د لوی او متحد ملت او امت تصور او فکر ونکړی شي، استعماري لیکي مقدس او تغییر نه منونکي وګڼي، دا دره د هغې بلې ګاونډۍ درې اوسېدونکي پردي او حتی دښمن وګڼي او اصلي دښمن هیر کړي. آیا له پېړیو پېړیو راپاتې دا حالت بدلېدی شي؟ آیا په اسلامي نهضت کي دا توان شته او آیا ولسونه لدوی سره دا خبره مني؟

• دا ولې په دې اوږدې مودې کي ګڼ شمیر اسلامي تحریکونه له اوږدې مبارزې او ډېرو مقدماتي بریاوو وروسته هر ځل ناکام شوي او د انقلاب په راوستو ندي بریالي شوي؟ اکثراً استعماري ځواکونه د دوی د مبارزو په نتیجه کي وتلو ته اړ شوي خو دا ولې د بهرني دښمن له ماتې او وتو نه وروسته په دې ندي توانېدلي چې اسلامي حکومت قائم کړي؟ دا د دوی قصور دی، که د دوی د ولسونو ضعف او که د دښمن ځواکمني او زرنګي؟

څه کولی شو چې دا ترخې تجربې بيا تکرار نشي؟

دغو اساسي پوښتنو ته د ځواب موندلو لپاره بايد لاندي ټکي په بام کي ولرو:

مونږ د هغه اسلامي نهضت مبارزه د پيغمبر عليه السلام د سنت او اسلوب مطابق ګڼلی شو چې د مبارزې په تګلاري کي ئې لاندي څلور مرحلې په څرګند طور وموندلی شو:

۱. د داسي دعوت مرحله چې د پيغمبر عليه السلام د مکي دور دعوت ته ورته وي، هغه چې په ټولني مسلط ځواکونه ئې نشي زغملی، د تعذيب، زندان، مقاطعې، محاصرې او د تبعيد له ګواښونو سره مخامخ دعوت، چې سازش او مصالحه نه مني، چې له دښمن سره د روغي جوړي خبره پکي نه وي، چې له حاکم نظام نه د کامل بغاوت او عصيان بلنه ورکوي، د دې نظام له فکري او اعتقادي بنسټونو نه د برائت شعار ورکوي. داسي دعوت نه چې له نظام نه ئې مجوز ترلاسه کېږي، او يواځې هغه خبره پکي کېږي چې واکداران ئې زغملی شي او نظام ئې اجازه ورکوي. مهمه نده چې دا دعوت به سري وي که علني، مهمه دا ده چې خپل خصوصيات حفظ کړي او د مکي دور ټول ځانګړتياوې ولري.

۲. کوم دعوت چې د پيغمبر عليه السلام د دعوت په څېر وي، سياسي، اجتماعي او فکري انقلاب غواړي، او له دښمن سره د اصولو په سر سازش نشي کولی، هغه به حتماً د هجرت له مرحلې سره مخامخ کېږي، هجرت د حقيقي اسلامي مبارزې يو طبيعي پړاو دی، دا پړاو په هوشياري او احتياط نه بلکي له اصلي مسير نه په انحراف او له اصلي لاري نه په تيروتني سره منتفي کېدی شي.

۳. د مبارزې دريم پړاو له دښمن سره د مسلحانه تصادم پړاو دی، دا پړاو د مهجر له موندلو سره سم پيل کېږي، پيغمبر عليه السلام د مدينې په څېر د يوه وړوکي کلي له موندلو سره سم خپله مسلحانه مبارزه پيل کړه. په لومړي سر کي پټه مسلحانه مبارزه، د وړو وړو چريکي ډلو په واسطه، چې هدف ئې د دښمن سلطه متزلزل کول او هغه امنيت له منځه وړل وو چې د حاکم نظام په ګټه او د هغه د بقا باعث وو. او په دوهمه مرحله کي څرګنده مقابله او مخامخ نښته. د کفري نظام په ګټه "امنيت او اقتصاد" چړکول او په ولس باندي د واکدارانو مسلط رعب او هيبت ختمول، د دې مرحلې اساسي او مهم اهداف دي. همداراز نظام مالي امکاناتو ته اړ دی، له دې نه پرته هغه دوام نشي موندلی، د چريکي عملياتو په نتيجه کي امنيت متلاشي کېږي، د لويو لارو امنيت ډېر ژر له منځه ولاړ شي، نظام له دې عاجز شي چې بډای او تاجر ته چې د نظام دريمه ستنه ده ، د کار لازم او خوندي

شرائط برابر کړي. هيڅ نظام دا حالت د اوږدې مودې لپاره نشي زغملی، عام ولس چې د نظام له ظلم نه تل ځورېدلی خو له وېرې ئې نه څه ويلی شو او نه څه کولی، د دغو عملياتو په نتيجه کې د څه ويلو او کولو جرأت پيدا کړي او همدا د عمومي پاڅون مقدمه شي او د يوه ستر انقلاب کار له همدې ځايه پيل شي. په دا راز عملياتو سره د رژيمونو نسکورول او لويو ځواکونو ته ماتې ورکول ممکن ده، دا ادعا کولی شو چې له کودتاګانو نه وروسته د رژيمونو د نسکورولو تر ټولو آسانه لار همدا ده. که د پيغمبر عليه السلام تر قيادت لاندې مسلحانه مبارزې ته ځير شو نو وبه ګورو چې دا مبارزه د قريشو په ضد له چريکي بريدونو "سريو" نه پيل شوه، ورو ورو ئې لمن تر مخامخ نښتو خوره شوه، د مکې له فتحې وروسته د جزيرې له نورو ځواکونو سره او په پای کې په نړۍ واله سطحه د روم او فارس په څېر لويو ځواکونو سره مخامخ شوه. دا بهير ښيي چې د مبارزې لمن بايد په تدريج سره او په طبيعي طور له محلي ځواکونو نه تر منطقوي او بين المللي ځواکونو پورې خوره شي.

۴. ځينې کارونه بايد د مرکز تر فتحې پورې وځنډول شي، په ټولني کې اقتصادي اصلاحات يو لدغو کارونو څخه دی، دا ځکه چې پيغمبر عليه السلام د مکې له فتحې نه وروسته دا کارونه کړي، له سنت نه د متابعت تقاضا همدا ده چې هر کار په همغه وخت او همغه طور ترسره کړو چې پيغمبر عليه السلام ترسره کړي.

- د اسلامي هېوادونو اکثر حاکم نظامونه يا پرديو تحميل کړي او لاس پوڅي او په اسلامي هېوادونو د زاړه استعمار د سلطې پاتې شونې دي، يا خانداني دي چې خاصي کورنۍ د ولس د ارادې خلاف په زور او د پرديو په مرسته په دوی حکومت کوي، يا قومي، او فرقه ئي بڼه لري، د يوې مذهبي فرقې پلويان اختيارات په واک کې لري، نور ئې له خپلو ټولو انساني او اسلامي حقوقو نه محروم کړي، د دوی سياسي او مذهبي مشران وژني، چا د شيعه ترنامه لاندې سنيان ځپلي او له خپلو ټولو اسلامي او انساني حقوقو ئې محروم کړي او چا د سني په جامه کې شيعه محروم کړي ... د دې هېوادونو ولسونه د ډېرو قربانيو په ورکړې سره هم ونتوانېدل دا استبدادي رژيمونه نسکور او د خپلې خوښې اسلامي نظامونه قائم کړي، د اسلامي هېوادونو سياسي او اجتماعي نظامونه اکثراً د استعماري ځواکونو په لاس تپل شوي، جغرافيائي جوړښت ئې هم غير طبيعي، د قومونو د وېش او د ګاونډيو ترمنځ د دائمي شخړو او جګړو باعث دی، پښتانه او کشميريان په دوو برخو ويشل شوي، بلوڅان په درېو برخو، کردان په څلورو برخو او ... که دا غير طبيعي جوړښتونه او دا تحميلي استبدادي نظامونه له هرې لارې بدل شي، حتی که د

یرغلگرو ځواکونو د مداخلو په نتیجه کي وي، په طویل المدت کي به ئې گټه مسلمانانو ته رسېږي، که څه هم په ظاهر کي او د لنډې مودې لپاره دا یرغلگر ځواکونه له هغه نه سیاسي او اقتصادي گټې ترلاسه کړي. د هېوادونو د اوږدمهاله اشغال دوران تېر شوی، هیڅ ځواك نشي کولی چي د وسلو په زور د اوږدې مودې لپاره نور ملکونه اشغال کړي. د اسلامي نړۍ موجود حالت د استعمارگرانو په گټه دی، په دې کي هره تبدیلي د دوی د منافعو خلاف او د ملتونو په نفع دی. اوس په اسلامي هېوادونو کي یواځې اسلامي احزاب او ډلې منظم او ځواکمن سیاسي قوتونه دی، فقط دا ډلې کولی شي له دې تبدیلي نه استفاده وکړي.

- له افغان جهاد نه وروسته په اسلامي ملکونو کي گڼ شمیر مسلح ډلې میدان ته راووتلې، ډېرو ډلو د افغان مجاهدینو له تنظیمي او جهادي تجربو نه له گټې اخیستو پرته خپل کار پیل کړ، خو تر اوسه یوه ډله هم په دې نده توانېدلې چي له خپلې مسلحانه مبارزې نه هغه نتائج ترلاسه کړي چي افغان مجاهدینو ترلاسه کړل. ځینې هغه ځانگړتیاوې چي افغان جهاد درلودې خو دغه مسلح ډلې ترې محرومي دي په لاندي ډول بیانولی شو:

۱. افغان جهاد د داسي اسلامي حزب په لاس پیل شو چي د جهاد له پیل نه مخکي ئې د یوه ځواکمن او ډېر منظم حزب بڼه غوره کړې وه، په ځوانانو کي ئې تر ټولو نورو سیاسي ډلو زیات او ژور نفوذ درلود، د محصلینو د اتحادیې په آخري انتخاباتو کي ئې دوه ثلثه چوکۍ ترلاسه کړې وې، په تعلیمي مؤسساتو مسلط شوی وو، د دې حزب مظاهرې به تر ټولو ډلو سترې او منظمې وي.
۲. د خپلو غړو له لاري ئې په فوځ کي مسلمان افسران وپیژندل، هغوی ئې د خپلو خپلوانو په ذریعه په احتیاط سره دعوت او تنظیم کړل، څو ځله ئې د فوځ له لاري د عسکري انقلاب هڅه وکړه، که څه هم دا هڅي د خاصو عواملو په وجه بریالۍ نه وې خو د دې حزب په لیکو کي تنظیم شوو افسرانو د مسلحانه جهاد په دوران کي ستر ستر کارونه کړي او له مجاهدینو سره د ډېرو عسکري قطعاتو د یو ځای کېدو باعث شوي.
۳. د کمونستانو له سلطې نه وروسته دې حزب په ولس کي ژور ملاتړ ترلاسه کړ، له هېواد نه بهر ئې پناه ځی او مهجر وموند، لومړی یوه گاونډي او بیا دوهم گاونډي ورته پناه ورکړه، د روسانو له تیري نه وروسته ئې پراخ بین المللي ملاتړ او تائید وموند.

- په اسلامي هېوادونو کي دوه مراکز داسي دي چي هلته د ټولنیز سیاسي کار مجال

شته او له هغه نه په استفادې سره د ټولني نظام بدلېدی او يو اجتماعي بدلون راتلی شي: فوځ او تعليمي مؤسسات، په دې هېوادونو کي نه فابريکي شته او نه ځواکمنې صنفي اتحاديې، د جوماتونو له لاري يواځې فکري او تربيتي کار کېدی شي، حکومتونه جوماتونه سخت څاري او د خپلې خوښې امام او خطيب ورته ټاکي، امام او خطيب له اقتصادي لحاظه سخت محتاج او بې وزلی او د خان، ملك، بډای او محلي چارواکو تر ژورې اغيزې لاندي، دوی يواځې د پاڅون په مخکي تللې مرحلې کي مؤثر رول ادا کولی شي، د پاڅون په ملاتړ کي د دوی ونډه اغېزمنه او مؤثره وي خو د پاڅون د پيل کولو توان او امکان ئې ضعيف او کمزوری. د اسلامي هېوادونو په اوسنيو شرائطو کي تعليمي مراکز د مبارزې تر ټولو تاوده سنګرونه او د يوه انقلاب راوستو لپاره تر ټولو ډاډمنه او مؤثره مورچل ګڼلی شو، د اسلامي هېوادونو چارواکي نه له فوځ نه هومره ويره لري چي لدغو مراکزو نه ئې لري او نه له جوماتونو نه. هر حزب چي د دغو مؤسساتو د زده کونکو او ځوان نسل تائيد او ملګرتيا ترلاسه کړي راتلونکي د هماغه حزب ده. په يو شمير هېوادونو کي د محصلينو رغنده او مؤثرو تظاهراتو وښوده چي ځوانان په پېښو او تحولاتو کي مؤثره ونډه اخيستی شي او د دوی په لاس ډېر کار کېدی شي.

- په اسلامي ملکونو کي سياسي، اجتماعي او اقتصادي وضعيت هومره دردونکی دی چي اکثر منورين، که دا په فوځ کي دي که په تعليمي مؤسساتو او ملکي ادارو کي او که عام ولس دی، له چارواکو نه کرکه لري، د نظام مخالف دي، له اختناق، استبداد، فساد، خانداني حکومتونو، طبقاتي نظام، فقر، لوږې، وروسته والي، د پرديو سياسي او اقتصادي سلطې او ... څخه سخت ځوريږي او تبديلي غواړي، له اسلام نه پرته بل بديل نه ګوري، د اسلامي نهضت په ليکو کي منظم کېدو ته ليوال دي. اسلامي احزابو ته په کار ده چي له دې فرصت نه اعظمي استفاده وکړي، تعليمي مؤسساتو او فوځ ته جدي توجه وکړي، د فوځ افسران د خپلو هغو غړو له لاري دعوت او تنظيم کړي چي حزب ته ئې د اخلاص او صداقت امتحان ورکړی، په وينا ئې اعتماد کېدی شي، کافي هوشياري او زيرکتيا لري. د فوځ له لاري تبديلي راوستل ممکن او آسانه ده ،خو دې ته بايد متوجه وو چي د تجربو له مخې د فوځ افسرانو د انقلاب د رهبري په اړه په هيڅ ځای کي سم امتحان ندی ورکړی، د افسرانو روزنه داسي شوې چي له ځان نه بر ته تل سلامي کېږي او له ځان نه کوز څخه د سلامي او کامل اطاعت توقع کوي، دوی ته چي قدرت په لاس ورشي نو د بهرنيو سترو ځواکونو په وړاندي ډېر خاضع او مطيع او له خپل ولس سره په معامله کي مغرور، مستبد او ديکتاتور شي.

- د کودتا په اړه باید څو مهم او اساسي ټکي په پام کي وساتو:

۱. کودتا پداسي هېواد کي ترسره کېدی شي چي محدود فوځ ولري. په اسلامي هېوادونو کي له دوه درېو نه پرته په نورو ټولو کي د فوځ جوړښت داسي دی چي دا کار په کي ممکن دی.
۲. د یوې کودتا د بریا لپاره نه د لوړ رتبه افسرانو ملګرتیا ضروري ده او نه د لوی شمیر افسرانو تنظیم ته اړتیا شته، برعکس زیات کسان د افشاء کېدو او د کودتا د ناکامېدو عامل کېدی شي، د دې لپاره د څو ضروري او مهمو قطعاتو ملګرتیا کفایت کوي. که تاسو د زرهدارو د فرقې څو ټولي او په ګارد او کماندو کي څو ټولګي ولري او په هوائي ځواکونو کي هومره کسان چي د اقدام په وخت کي له هوائي ځواکونو نه د کودتا په ضد او د دولت په ګټه د کار اخیستو مخه ونیسي، چي دا کار په رن وی کي د څو ټانکونو په ودرولو هم کېدی شي، همدا ځواك د یوې کامیابي کودتا لپاره کفایت کوي. او که څو سرتېرې ولرئ او د اقدام په وخت کي د څو مخالفو مهمو افسرانو چاره د دوی په کور کي یا خپلې قطعې ته د تلو په دوران کي وکړي، د اقدام بریا ډېره آسانه او یقیني کوي.
۳. کودتا د جنرالانو کار نه دی. د یوې کامیابي کودتا لپاره یواځې د څو هغو افسرانو ښه او محتاطانه تنظیم ته ضرورت دی چي د ټولي او کنډك په کچه د څو خاصو مسلح قطعاتو قومنده یې مخامخ په لاس کي وي، د ټولي او کنډك د قومندانانو له موافقې او برخي اخیستو نه پرته هیڅوك کودتا نشي کولی. که تاسو د داؤد کودتا او بیا د ثور د اومې کودتا او د اسلامي ملکونو هره کودتا وڅیړئ و به ګورئ چي په ټولو کي مهمه ونډه د وړو ضابطانو، برید منانو او تورنانو وه.

- په افغانستان کي اسلامي تحریك له پوهنتون څخه پیل شو ، له جوماتونه ئې ملاتړ ترلاسه کړ او فوځ ورسره ملګري شو. په ایران کي هم دې ته ورته کار وشو. د ایران او افغانستان تجربو دا هم وښوده چي کله حاکم نظامونه متلاشي شوي او عام ولس په صحنې کي فعال حضور موندلی نو قدرت په دې خاطر ملایانو ته په لاس ورغلی چي د عام ولس قیادت د جوماتونه لاري د ملا په لاس کي دی، په دې اړه هیڅ ډله له ملا سره د رقابت په موقعیت کي نده.
- د کمونیزم له ختمېدو وروسته د نړۍ اسلامي نهضت له نوي وضعیت سره مخامخ شو. په اسلامي ملکونو مسلط غربي ښکېلاکګرو یواځې اسلامي نهضت، د استعمار ضد

خوځښتونو او ملي پاځونونو لامل وموند ، له دې نه مخکې به یا له نشنلستي مقاومتونو سره مخامخ وو او یا له کمونیزم نه متأثره شوو خوځښتونو سره، که څه هم د مبارزې صحنې ته د اسلامي نهضت له راوتلو نه وروسته هم تر یوې مودې غربي ځواکونو کمونیزم خپل اصلي حریف او رقیب ګڼلو ، په دې خاطر چې د شوروي اتحاد او وروسته د چین په څېر دوه ستر ځواکونه ئې ترشا ولاړ وو، او اسلامي نهضت داسي کوم حامي ځواك نه درلود ، د شوروي اتحاد له ماتې او زوال نه وروسته غربي ځواکونو خپله ټوله توجه اسلامي نهضت ته واړوله او هغه ئې اصلي خنډ او خطر وګڼلو ، د کمونیزم دوه ستر حامي ځواکونه هم له غرب سره په هغې مبارزې کې ملګري شول چې د اسلامي نهضت په ضد پیل شوې، دا ځکه چې یو ئې په چچین او مرکزي آسیا او بل ئې په شرقي ترکستان کې له اسلامي نهضت سره اوږدې ستونزې لري. دا اوس چې د امریکا تر مشرۍ لاندې د تروریزم ضد بین المللي مبارزې په نوم کومه جګړه روانه ده دا په حقیقت کې د اسلامي نهضت خلاف د غرب او کمونیزم ګډه جنګ دی چې د اسلامي ملکونو غلام چارواکي هم ورسره ملګري شوي.

- نن نن اسلامي نهضت هومره پراخ امکانات په واك کې لري چې له دې نه مخکې ئې هیڅکله نه درلودل، په لوی شمیر کې مخلص، پوه، با ایمانه او منور غړي، قربانۍ ته چمتو شاځلمیان او د ولسونو پراخ ملاتړ، که دا ټول وسیع امکانات په منظمه توګه وکارولی شي، ډېر څه کېدی شي. متأسفانه اوس دا امکانات په ډېر نامنظم او متشتت ډول استعمالېږي، په یوه وخت کې په ګڼ شمیر جبهو کې داسي کار روان دی چې له هیڅ یوه ئې د یوې سترې او اساسي نتیجې طمع نشي کېدی، که د دې امکاناتو یوه برخه هم د یوه مهم هدف په لوري توجیه شي نو په زړه پورې نتیجه ترلاسه کېدی شي. د اسلامي نهضت لپاره اوس تر ټولو مهمه خبره دا ده چې په کوم هېواد کې انقلاب راولي او قدرت ترلاسه کړي. له دې نه پرته به ئې هلې ځلې هیڅکله هغه نتیجه ورنکړي چې انتظار ئې کوي. باید وګوري چې په کوم ځای کې د یوه اسلامي انقلاب لپاره تر نورو ځایونو زیات مناسب شرائط موجود دي، په کوم ځای کې دا کار تر نورو ځایونو په لنډ وخت، کمو امکاناتو او آسانۍ ترسره کېدی شي؟ همغه ځای باید انتخاب شي او په همدې باید ترکیز وشي. زه د افغانستان او افغانانو وضعیت داسي ګورم چې دلته ډېر کار کېدی شي. په افغانستان کې د امریکا د ماتولو ټول امکانات شته، دلته چې کوم امکانات شته د نړۍ په هیڅ ګوټ کې ئې نشو موندلی، ولس قرباني ته چمتو دی، د اوږده جنګ تجربه لري، یوه ستر ځواك ته ئې څو کاله د مخه ماتې ورکړې، امریکا تر هغه ډېر ضعیف ورته برېښي، د

هېواد دنګو دنګو غرونو، تنګو اوږدو درو او ګڼو ځنګلونو د چريکي جنګونو لپاره ښه شرائط برابر کړي. د اسلام په ضد بل صليبي جنګ له افغانستان نه پيل شوی، د امت برخليك د دې جګړې په پايلو پورې تړلی دی، که د الله جل شأنه په فضل سره دښمن دلته ماتې وخوړه نو انشاءالله د شوروي اتحاد له عاقبت سره به مخامخ کېږي او مظلوم اسلامي امت به د دې لوی فرعون له شر نه ژغورل کېږي.

- متأسفانه د اسلام په نامه ځينې جوړې شوې ډلې د دې په ځای چې خپل وسائل، امکانات او قرباني ته چمتو افراد د اصلي دښمن په ضد توجيه کړي او يا د مفسدو رژيمونو په نسکورولو کې ترې استفاده وکړي برعکس پداسي فعاليتونو کې ترې استفاده کوي چې نه ئې دوی ته ګټه رسېږي او نه اسلام ته، دا امکانات يا په مذهبي نښتو کې ضايع کړي او يا د عادي خلکو په وژلو او نورو پريوتو او بيهوده فعاليتونو کې. کله کله په همداسي فعاليتونو کې د دغو ډلو تلفات هومره زيات شي چې په دې سره يو وسله وال انقلاب ترسره کېدی شي.
- د افغانستان موجوده جنګي شرائطو کې له دښمن سره "مخامخ جنګ" او د "جبهو پرانستل" نه مفيد دی او نه ئې وخت. په دې سره د اصلي دښمن په ځای اکثراً هغه کسان تلف کېږي چې امريکائيانو د څو ډالرو په مقابل کې استخدام کړي او د افغانانو په ضد ئې په لومړي خط کې جنګوي. د دوی مرګ ژوبله که هرڅومره زياته وي په دښمن څه تأثير نکوي، بايد عمليات داسي تنظيم شي چې اصلي دښمن ته تر زيات نه زيات تاوان ورسوي. د جبهه ئي جنګ په ځای بايد په دښمن ناڅاپي بريدونو او کمين ته ترجيح ورکړی شي، په دې سره د يوې جبهې له مجاهدينو نه په لسهاوو واړه واړه ټولګي جوړېدی شي، او دا ټولګي اصلي دښمن ته تر جبهه ئې جنګ نه څوڅو ځله زيات تلفات رسولی شي. د مخامخ او جبهه ئې جګړو لپاره چې مجاهدين کومو امکاناتو ته اړتيا لري، په دې ظروفو او شرائطو کې هغه نشي ترلاسه کولی. بايد په هغو محدودو امکاناتو اکتفاء وکړي چې په واك کې ئې لري او يا ئې په آسانۍ ترلاسه کولی شي. خپل مقاومت بايد داسي تنظيم کړي چې په کمو امکاناتو سره دښمن ته زيات تلفات اړولی شي او د اوږدې مودې لپاره مقاومت کولی شي. خو دا ګمان دې نه کوي چې دا وضعيت او له امريکائيانو سره د نورو هېوادونو دا ملګرتيا به د اوږدې مودې لپاره په خپل حال پاتې شي. د امريکائي چارواکو بدمعاشي او مستي به حتماً يوه ورځ او شايد ډېر ژر په دې منتج کېږي چې نه يواځې د امريکا تر مشرۍ لاندي دا ائتلاف ختم شي بلکه د دوی په ضد يوه نړۍ واله جبهه جوړه شي. د ملګرو ملتونو او د نړۍ د اکثرو هېوادونو له مخالفت سره سره په عراق د امريکا يو

اړخیز او وحشیانه برید ، او له دې برید سره د ډېرو هېوادونو شدید مخالفت او په ټولې نړۍ کې د امریکا ضد پرتمنو او سترو سترو مظاهرو دا خبره ثابته کړه چې د داسې یوې جبهې د تبلور لړۍ عملاً پیل شوې.

- که مقاومت په اوسنۍ بڼې کې دوام وکړي، او مزید تشدید شي، ډېر هېوادونه به د امریکا په اړه خپلو سیاستونو کې تجدید نظر ته تشویق کړي.
- د مجاهدینو وسائلو او امکاناتو ته په پام سره باید د عملیاتو داسې طریقه غوره شي چې هم دښمن ته مسلسل تلفات واړوي، هم ئې د عملیاتو له مخنیوي نه عاجز کړي، هم له مجاهدینو څخه د کم مالي مصرف غوښتنه وکړي او هم د مجاهدینو ځاني تلفات تر کم نه کم حد ته راکوز کړي. اوس نه د مخامخ جنګ وخت دی او نه د جبهو پرانستل مفید او ګټه ور، د دې په ځای باید چریکي جګړو ته ترجیح ورکړو، د جګړې ابتکار باید د تل لپاره د مجاهدینو په واك کې وي، د برید وخت، ځای او څرنګوالی باید دوی وټاکی، په دښمن باندې ټول بریدونه باید ناڅاپي وي، پداسې وخت کې باید په هغه برید وشي چې کاملاً غافل وي او د برید د مقابلې هیڅ تیاری نلري، پداسې ځای کې ورباندې برید وشي چې د سیمې جوړښت د مجاهدینو په ګټه او د دښمن په تاوان وي، دوی په پټې او مصئونې مورچلې کې او هغه په آوار او خلاص میدان کې، دوی د غره په ډډې او ځنګل کې او هغه په ښېدیا کې او د مجاهدد وسلو خولې ته، لومړی ګوزار د مجاهدله خوا وي او دښمن ته د دفاع مجال هم په لاس ورنشي.
- دښمن هڅه کوي چې لومړی په بریدونو اعتراف ونکړي او که اعتراف ته اړ شو نو خپل تلفات پټ وساتي، داسې چې نه نړۍ وال ترې خبر شي او نه د امریکا ولس، دا ځکه چې په بریدونو او اړول شوو تلفاتو اعتراف له یوې خوا په نړۍ کې د امریکا کاذب اعتبار ته کلکه صدمه رسوي، له بلې خوا د جنګ د دوام په ضد د امریکائي ولس مخالفت مزید تشدید کوي. متأسفانه مجاهدین تراوسه په دې ندي توانېدلي چې د خپلو عملیاتو او په هغوی کې د دښمن د تلفاتو مؤثق او مستند فیلمونه جوړ او د نړۍ د تلویزیونونو له لارې ئې د نړۍ والو مخې ته کېږدي. مجاهدین باید دې ته خاصه توجه وکړي، د دوی عملیات په خپل ذات کې اهمیت لري، خو د دې عملیاتو اهمیت به هلته څو برابره شي چې نړۍ وال ترې خبر کړی شي. مونږ دوی ته د داسې عملیاتو یوه طرحه وړاندې کوو چې هم دښمن ته درانه تلفات اړول ممکن کوي او هم ئې مستند فیلم جوړېدی شي، په دې شرح:

o په دې عملیاتو کې به تقریباً پنځلس مجاهدین برخه اخلی، چې لدوی سره به پنځه

راکټ لانچری، پنځه پیکا او له نورو سره وړې وسلې وي. معمولاً د دښمن د هرې ګزمې د ګاډو شمیر تقریباً پنځه شپږ وي، او د افرادو شمیر ئې د دیرشو شا او خوا کي، د همدې شمیر ګاډو او سورلیو لپاره باید ضروري وسائل برابر کړی شي.

o د عملیاتو لپاره به داسي تنګه دره انتخابوئ چي د سړك یوې بلي خوا ته لوړې ژورې، غر او ځنګل وي.

o د سړك په هغې ژۍ کي چي ګاډي ئې خوا ته تیرېږي، پنځه شپږ ځایه د هاوان تقریباً شپږ شپږ مرمۍ داسي ځای په ځای کړئ چي دوه ئې له ریموټ کنټرول نه لس پنځلس ګزه لرې، ښي اړخ ته، دوه په همدې فاصلې کیڼ اړخ ته او دوه د ریموټ کنټرول خوا ته. د دې لپاره تاسو تقریباً شپږ دېرش د هاوان مرمیو او شپږ ریموټ کنټرول او یو مقدار سیم ته ضرورت لرئ.

o ټولي مرمۍ باید د سړك په ژۍ کي د سړك له سطحې نه تقریباً یونیم ګز اوچتې ښخي کړئ، له ټانك نه پرته د نورو متحرکو اهدافو لپاره د سړك په منځ کي د ماین له ښخولو نه تل ډډه وکړئ ، دا ځکه چي په دې صورت کي د چاودنې ټولي چرې پورته درومي او د چاودنې له ځایه یو او دوه ګزه لرې هدف ته هیڅ تاوان نشي رسولی، حال دا چي د سړك په جګې ژۍ چاودنه کم له کمه تر پنځوسو ګزو، ښې او کیڼ اړخ ته، ټول اهداف تخریبوي. تاسو په دغو شپږ ځایه چاودنو سره په ښپږو سوو ګزو فاصلې کي د دښمن ټول روان ګاډي تخریبولی شئ، که څه هم د هرې چاودنې خوا ته روان وي او یا له ماین څخه یوې بلي خوا ته تیر شوی وي.

o تاسو کولی شئ ټول ماینونه په یوه وخت او هلته منفجر کړئ چي د هر ماین خوا ته د دښمن د قطار یو ګاډی رارسېدلی وي. او یا هر یو بیل بیل منفجر کړئ.

o په راکټ او پیکا مسلح مجاهدین باید داسي ځای په ځای شوي وي چي له چاودنې سره سم هر ګادی لومړی د راکټ او بیا د پیکا تر اور لاندې ونیولی شي او په پای کي له وړې وسلې نه استفاده وشي.

o ویډیوئي کامرې باید داسي ځای په ځای شوې وي چي د عملیاتو ټوله ساحه ئې تر نظر لاندې وي، له عملیاتو نه مخکي د ټولي ساحې دقیق فیلم واخلي، د قطار د راتلو، د عملیاتو ساحې ته د رارسېدو، د چاودنو، د راکټونو او پیکاوو د ډزو، د تخریب شوو ګاډو او د مړو او ژوبلو کسانو فیلم واخستی شي.

o دا عملیات باید ډېر سریع او چټك ترسره شي، د عملیاتو له پیل نه تر پای پورې او د عملیاتو له سیمې نه وتل باید تقریباً پنځه څلویښت دقیقې ونیسي. دا ځکه چي د

مخکنیو تجربو له مخې که دښمن له برید نه مطلع شي نو په همدومره وخت کي ئې جازونه ساحې ته رارسېدی شي. که څه هم پداسي عملیاتو کي طیارې څه خاص او مؤثر کار نشي کولی، نه په غرونو او ځنګلونو کي محدود شمیر مجاهدین موندلی شي او نه په غرونو او ځنګلونو کي د دوی بمبارۍ څه اثر لري.

o که داسي څو عملیات ترسره شي، او فیلمونه ئې نړۍ والو ته وښودی شي، امریکائي ځواکونو ته به په افغانستان کي پاتې کېدل ګران او ناممکن کړي. دوی له لبنان نه په خپلو دوو اډو کي د چاودنو او تقریباً دوه سوه اتیا کسانو د وژل کېدو په وجه ووتل او له صومال نه د دوی په قطار د یوه داسي برید په وجه ووتل چي څو امریکائي کماندوګان په کي ووژلی شوو او صومالیائي سرتیرو د امریکائي فوځیانو مړي په جیپانو پسې وتړل او په سړکونو کي ئې وګرځول. د دې عملیاتو فیلم د امریکا ولس هومره د جنګ په ضد او په صومال کي د امریکائي فوځونو د مزید پاتې کېدو په خلاف راوپاراوو چي چارواکي ئې دې ته اړ کړل چي له دې هېواده فوراً او له ځنډه پرته ووځي. د دا راز عملیاتو لپاره د افغانستان شرائط تر بل هر هېواده زیات مساعد دي. کوم مجاهدین چي دا راز تاریخي عملیات ترسره کړي هغوی به د افغان ولس سرلوړي اتلان ګڼل کېږي او نومونه به ئې د جهاد په تاریخ کي په زرینو تورو لیکل کېږي. زمونږ هیله دا ده چي د مجاهدینو ځینې په خدای مین او زړه ور ټولګي د دا راز عملیاتو لپاره چمتو شي او په دې سره د هېواد د آزادۍ ورځ رانږدې کړي.

• د افغانستان اوسنی حکومت په بهرنیو فوځونو متکي دی، له بهرنۍ حمایې نه پرته څو ورځې هم دوام نشي کولی، په افغانستان کي د بهرنیو ځواکونو شمېر، د شوروي اتحاد د ځواکونو په تناسب ډېر محدود دی، په دې شمیر سره نه د لویو لارو امنیت تأمینولی شي او نه د ښارونو او خپلو اډو، ګزمو او قطارونو، په هر ځای کي د دوی په ضد بریالي عملیات ترسره کېدی شي.

• غربیان او د دوی په رأس کي امریکائیان د روسانو په مقایسه نه ښه رزمي روحیه لري او نه د زیاتو تلفاتو د تحمل حوصله. که په افغانستان کي د دوی تلفات تر اوسني شمېر نه لږ نور زیات شي، نو حتماً او ډېر ژر به له دې هېواده وځي. باید په خپلو ټولو عملیاتو کي د دښمن د تلفاتو تزئید زمونږ اصلي هدف وي او تر هر څه زیات دې ته توجه او اهتمام وکړو، تر هغه ځایه چي مقدور وي باید ټول امکانات د همدې هدف لپاره په کار واچوو او د نورو اهدافو په غرض ئې له کارولو نه ډډه وکړو، د لاس پوځي رژیم په ضد

اقدامات باید تر هغه وځنډوو چې بهرني ځواکونه له هېواده وایستلی شي.

• امریکائیانو په افغانستان له خپل تیري نه فقط یوه نتیجه ترلاسه کړې او هغه د طالبانو د رژیم نسکورول، له دې نه پرته ئې هیڅ موفقیت او لاس ته راوړنه نه درلوده.، نه د افغانستان په اوضاع مسلط شول، نه ئې قوي مرکزي حکومت جوړ کړی شو، نه ئې د خپلې خوښې امنیت تأمین کړی شو، نه د افغانستان له لارې د مرکزي آسیا د ګاز او نفت په انتقال موفق شوو، نه د مقاومت په ځپلو وتوانېدل، نه ئې په خپلو اډو او ګزمو د مجاهدینو د پرله پسې بریدونو مخنیوی وکړی شو، نه ئې د مخدره موادو د کښت او تجارت مخه ونیولی شوه، نه ئې د هغو افغاني ډلو ترمنځ د خونړیو نښتو لړۍ پای ته ورسولی شوه چې د دوی په خدمت کې او پدوی پورې تړلې دي، او نه ... له جګړې وروسته مرحلې په ټولو موخو کې ناکام دي، په افغانستان کې د دې ناکام حضور اوږدمهاله دوام ورته ممکن ندی، مخصوصاً د تلفاتو د مزید زیاتوالي په صورت کې.

• د چریکي جنګ له مهمو غوښتنو څخه یوه دا ده چې باید په هېواد کې داسې حالت راپیدا شي چې واکمنه طبقه او د دوی بهرني حامیان، ټول ولس د ځان دښمنان وګڼي، له هر چا ویره ولري، په هیچا اعتماد ونشي کړی. دا ذهنیت باید ایجاد شي چې له محدود شمیر کسانو نه پرته ټول ولس د دوی په ضد او د بهرنیو ځواکونو په خلاف جنګېږي، د دشمن او ولس تر منځ کرکه، دشمني او بې اعتمادي راپیدا کول د چریکي جنګ یوه مهمه او اساسي برخه ده. دښمن باید په دې ونتوانېږي چې په ولس دا خبره ومني چې محدود شمیر افغانان، او یا یوه خاصه ډله او ډلې د دوی په ضد په جګړه لګیا دي، دشمن تل هڅه کوي چې د خاصې ډلې په ضد هومره پراخ تبلیغات وکړي چې د مخالفینو په ضد خپل هر اقدام موجه وښیي، جنګ په خپله ګټه توجیه کړي او هغه د ولس په نفع ثابت کړي، خپل عسکر، ملت او حامیان قانع کړي چې د دې ډلې په ضد د جنګ دوام تر پایه ضروري دی او مشروعیت لري! که مجاهدین، ګڼ شمیر مختلف مستعار نومونه تبلیغ کړي او داسې وښیي چې دا بیلې بیلې ډلې دي چې هره یوه په مستقل طور په جهاد لګیا ده، هر ګروپ ته ځینې عملیات منسوب شي او دا خبره اعلان کړي چې د دښمن له خوا په ګوته شوو ډلو سره ارتباط نلري، د هېواد د آزادۍ او د ملت د ژغورنې لپاره جنګېږي، د ولس له متنه راولاړ شوی، د ولس د احساساتو او غوښتنو نمایندګی کوي، ټولو جهادی ځواکونو ته احترام لري، د ټولو یووالی غواړي او ... په دې سره په ولس کې او د دښمن پلویانو کې دا ذهنیت راپیدا کېږي چې دښمن په دې هېواد کې ډېر مسلح مخالفین لري، د افغانانو اکثریت لدوی نه کرکه لري او له خپل هېواده د پردیو ځواکونو وتل غواړي. خو باید متوجه

وو چي په دې سره د مختلفو ډلو د زېږېدو باعث نشو، داسي ډلې د مسجد ضرار په څېر د دښمن په مورچلو بدلې شي. د مختلفو مسلح ډلو جوړول يو له هغو مشکلاتو څخه وو چي د اسلام دښمنانو افغان جهاد ورسره مخامخ کړ. همدا ډلې وې چي ځيني له روسانو سره يوځای شوې او ځيني له امريکائيانو سره او دا دی اوس د امريکائيانو تر قومندې لاندي د خپل ولس په ضد جنګېږي.

• مبارزينو ته د شعارونو انتخاب هم ډېر اهميت لري، بايد په ډېر دقت سره خپل ورځني شعارونه انتخاب کړي، له داسي شعارونو نه بايد په کلکه ډډه وکړي چي ولس لدوی نه بيلوي، او دښمن ته د دې موقع ورکوي چي له دې نه تبليغاتي استفاده وکړي او د ولس خواخوږي ترلاسه کړي. آزادي، خپلواکي، اسلام، عدالت، امنيت، ملي وحدت، د بهرنيو ځواکونو ايستل، د ملت د خوښې ځواکمن مرکزي حکومت جوړول، د ظلم مخنيوی، د مظلومې او محرومې طبقې خدمت او د دوی له حقوقو نه په کلکه دفاع، دا بايد د مجاهدينو اساسي شعارونه وي.

• بايد د دښمن د تلو راتلو ټولي لاري، په پراخه پيمانه او په دقيقه توګه ماين کاري شي. له ريموټ کنټرول او د برقي شارت په ذريعه انفجاراتو نه اعظمي استفاده وشي. تجربو دا ښودلې چي په آواره ځمکي کي د ماينونو تعبيه او ځای په ځای کولو، له ټانکونو نه پرته په نورو مواردو کي په زړه پورې نتائج نه دي ورکړي. د دښمن د عادي وسائطو او پلو ځواکونو په ضد ښه نتائج نه ورکوي، دا ځکه چي د چاودنې چرې پور ته درومي او د ځمکي سر نه نيسي او هغه اهداف نشي احتوا کولی چي له چاودنې نه په دوه درې متره فاصله واقع وي، بايد ماينونه د لارو دوو خواوو ته د سړك په جګې ژی، د ځمکي له سطحې نه تقريباً يونيم متر اوچت شخ کړی شي، په دې صورت کي د چاودنې چرې ښې او کيڼ اړخ او مخې ته ډېره ساحه نيسي او د چاودنې د قوت په تناسب پراخه ساحه احتوا کوي. پداسي چاودنو کي بايد د دې په ځای چي د ټانك ضد ماين يا باروت او د اوسپنې له ټوټو نه کار واخلئ برعکس د هاوان له مرميو، د توپ، ټانك او ميزايل د مرميو له سرګلولو نه استفاده وکړئ.

• د چريکي جنګ په ابتدائي مراحلو کي بايد له داسي عملياتو نه په کلکه ډډه وشي چي په هغه کي د تلفاتو احتمال زياد وي، داسي بريالي عمليات چي مجاهدين په کي تلفات ونلري، دښمن د زياتو او مسلسل تلفاتو متحمل شي، او له خپل عکس العمل نه هم هيڅ ترلاسه نکړی شي، دا د مجاهدينو او ولس روحيه مزيد پياوړې کوي او راتلونکي ته ئې لازيات هيله من کوي.

- باید د لویو لویو جنګي ډلو له جوړولو نه ډډه وشي، د دې په ځای مجاهدین په وړو وړو ، درې او پنځه کسیزو ټولګیو کې تنظیم کړئ.
- د کمین په عملیاتو کې دوه او درې مستقل ګروپونه سره یو ځای کړئ.
- له جبهه ئې عملیاتو او د ثابتو مرکزونو له جوړولو نه ډډه وکړئ.
- لازمه ده چې په چریکي عملیاتو، راکټي حملو، کمین نیونو، ماین کاري او د دښمن د جواسیسو په ترور اکتفا وشي. که دا ډول عملیات په پراخه پیمانه ترسره شي نو د جبهه ئې عملیاتو مرحله به هم ډېر ژر راورسېږي. دې ته باید متوجه وو چې جبهه ئې عملیات ډېرو داسي امکاناتو ته ضرورت لري چې مجاهدین ئې په اوسنیو شرائطو کې نشي تأمینولی.
- مونږ به هلته ډېر موفق وو چې دښمن په دې له پوهېدو نه عاجز وي چې څوك، کله، څنګه او چیرته په ده برید کوي، برید کونکی هیڅکله ونه پیژني، د جګړې ابتکار د مجاهدینو په نفع له لاسه ورکړي، په دې ونتوانېږي چې د نښتې میدان، وخت او ځرنګوالی انتخاب کړي، ابتکار په بشپړه توګه د مجاهدینو په لاس کې وي، پداسي نښتې کې له ښکېلېدو نه باید ډډه وشي چې وخت، ځای او ځرنګوالی ئې دښمن ټاکلی.
- د دښمن په هغو اډو له برید نه باید ډډه وشي چې کافي دفاعي استحکامات لري، د دښمن ضعیف نقاط تشخیص او د بریدونو لپاره ئې غوره کړئ.
- په دې مرحله کې نباید د دښمن په هغو لویوقطارونو برید وشي چې د ګاډو شمیر ئې لسو ته نږدې وي. پداسي مواردو کې فقط له ماینونو نه استفاده وکړئ. په لویو قطارونو برید باید بعدي او مخکې تللو مرحلو ته پریښودی شي، دا کار هغه وخت ګټه ور دی چې پراخې سیمې په مکمل ډول د مجاهدینو په لاس کې پریوتې وي، د دښمن له جاسوسانو او حامیانو نه تصفیه شوې وي او خلك ئې د مجاهدین او د دوی د اهدافو ملاتړ کوي.
- له کامل بري نه مخکې د حکومت جوړول، د دولتي ادارو لپاره مسئولین نومول، د راتلونکي حکومت مهم غړي معرفي کول او دې ته ورته کارونه نه یوازې بې ځایه او له وخت نه مخکې کارونه دي بلکې منفي نتائج وربانديې مرتب کېږي، د راتلونکي حکومت په اړه باید په عامو الفاظو وویلی شي چې مونږ داسي حکومت غواړو چې اسلامي وي، د ولس خادم ، د ملت په خوښه او آزادې ارادې جوړ شوی، له صالح، باکفایته، با ایمانه، له خدایه ویرېدونکو او په ولس مهربانه افرادو نه جوړ حکومت، د مستضعفانو حامي، د خیانت، ظلم، بې عدالتۍ او تبعیض مخالف حکومت. له خپل وخت نه مخکې حکومت جوړول بې ځایه حساسیتونه راولاړوي او د مهمو کسانو معرفي کول دا عیب لري چې د هر

يو ه وژنه او د دښمن په لاس کي پريوتنه د غړو روحيه مړاوې کوي.

- په افغانستان کي طالبانو ته ښه موقع په لاس ورغلې وه، له دې مهم فرصت نه په استفادې سره زيات کارونه کېدی شو خو متأسفانه هغوی څو ستر ستر اشتباهات درلودل:

۱. دوی د بهرنيو ځواکونو په لمسون له حزب اسلامي سره جګړه پيل کړه، پداسي حال کي چي په افغانستان کي اسلامي نهضت د حزب اسلامي په لاس پيل شوی او د جهاد د اوږدو کلونو په دوران کي دا حزب د مقاومت د ملا تير ګڼل کېدو، په کار خو دا وه چي طالبان له حزب اسلامي سره يو ځای شوی وی او په ګډه ئې د اسلام لپاره کار کړی وی. متأسفانه د دوست او دښمن عدم تفکيك، د دې باعث شو چي طالبان تر هر چا د مخه له دوستانو سره د جګړې لويه او نه جبرانېدونکي اشتباه وکړي.

۲. د جنرال مالك په څېر کمونست جنرال باندي اعتماد او د ده په ملګرتيا کي په زرهاوو سرتېري شمال ته لېږل او ټول لاس تړلي د مرګ کومي ته سپارل، او يا په جنرال دوستم اعتماد او هغه ته د زرهاوو کسانو تسليمول، چي ټول په ډله ايزه توګه په قتل ورسېدل، له لسو زرو نه زيات طالب جنګيالي د دغو دوو سترو اشتباهاتو قرباني شول. دا شمېر سرتېري په ټول افغانستان د کاملې سلطې لپاره کافي وو. په دومره قربانۍ سره ستر ستر کارونه ممکن وو.

۳. دوی د پاکستان په استخباراتي ادارې دومره اعتماد وکړ چي هغوی ته ئې په خلاص لاس د افغانستان د ننه د کار کولو اجازه ورکړه، چي په پای کي همدا اداره له امريکا سره د طالبانو په ضد جګړې کي يو ځای شوه او د دوی حکومت ئې نسکور کړ او د دوی پنځه سوه غړی ئې ونيول او امريکا ته ئې لاس تړلي تسليم کړل.

۴. له مکتب او پوهنتون سره حساسيت، له تعليم او تربيې نه د نجونو محرومول، د مکتب او مدرسې د توحيد او د يوه جامع تعليمي نصاب د جوړولو په ځای پداسي مدرسو او نصاب ټينګار چي نه د طالب آخرت شيرازه کولی شي او نه دنيا، نه د قرآن، حديث، اسلامي تاريخ، د هېواد تاريخ، ليك او لوست ښودنه په کي کېږي او نه د ورځني ژوند د ضروري علومو زده کړه، هلته د صرف او نحوې څو ابتدائي کتابونه او د فقهې څو مختصر کتابونه، د يونان د زړې او تاريخ وهلې فلسفې او منطق په څنګ کي لوستل کېږي، هغه فلسفه او منطق چي نه د چا د دنيا په درد خوري او نه د آخرت، خو پدغو مدرسو کي همدا له موده لوېدلې فلسفه او منطق تر ټولو نورو مضامينو مهم ګڼل کېږي. پيغمبر عليه السلام خو ابو ذر غفاری، بلال حبشي، صهيب رومي او سلمان فارسی ته هم د قرآن درس

ورکولو پداسي حال کي چي نه په ليك لوست پوهېدل، نه ئې صرف او نحوه او د يونان فلسفه او منطق لوستلی وو!! خو متأسفانه زمونږ په محلي او کليوالو ديني مدرسو کي د قرآن له تدريس سره مخالفت کېږي، که په لويه دوره کي د قرآن تدريس جائز ګڼي نو هلته هم په قرآن کي نحوه لولي او تر هر څه زيات په نحوي تحقيق ترکيز کېږي!!

- مسلسل ناکامي او د اوږدې مودې لپاره په ذلت او اسارت کي ژوند، په ملتونو کي د حقارت، ضعف، ناتوانۍ او بې چارګۍ احساس راولاړوي، دا احساس نه په مجردې فرهنګي مبارزې له منځه تلی شي او نه په اقتصادي ودې او ترقي، دا فقط په يوه ملي قيام او دښمن ته په يوې لويې ماتې او په يوې نابرابرې جګړې کي د سترې بريا او فتحې په نتيجه کي له منځه ځي او ځای ئې عزت النفس، غرور، سرلوړي او په ځان ويسا او اعتماد نيسي. که څوك غواړي چي اسلامي امت دې له روان دردناك حالت نه وژغورلی شي او د ده تير برم، مجد او عظمت دې بيا اعاده شي، دا هدف له جهاده پرته له بلې لاري نشي ترلاسه کېدی، تاسو وليدو چي شوروي اتحاد ته ماتې ټول اسلامي امت راويښ کړ، او د پرديو له سلطې نه د آزادۍ احساس، عزم او جذبه ئې په امت کي راپيدا کړه. دا احساس هومره قوي، ځواکمن او خوځنده وو چي استعماري ځواکونو هغه خپلو ګټو ته جدي ګواښ وګڼلو، خپل داخلي رقابتونه ئې شاته وغورځول، د دې ستر او يوائځنې ګواښ په ضد ئې يوه بل ته لاس ورکړ او ګډه مقابله ئې پيل کړه. که د الله جل شأنه په فضل سره امريکا په افغانستان او عراق کي د شوروي اتحاد له برخليك سره مخامخ شي د دې بريا اغېزې به په اسلامي امت هومره ژورې وي چي د عزت او سرلوړۍ اوج ته د رسېدو په وړاندي ټول پراته خنډونه به ئې له مخې لرې شي، د دې بريا پايلې به امريکا ته خامخا همغسي وي چي شوروي اتحاد ورسره مخامخ شو. په يقين سره ويلی شو چي په دې سره به نه يوائځې په اسلامي نړۍ د غربي ځواکونو دا د څو پېړيو سلطه پای ته رسېږي او د دوی لاس پوځي حکومتونه به يو په بل پسې رانسکورېږي بلکي د امريکا متحده ايالات به د شوروي په څېر ټوټې ټوټې کېږي. د هغه چا په شعور او عقل ژړا په کار ده چي ګمان کوي امريکا زوال نه منونکی ځواك دی او تر اوږدې مودې به د يوائځني زبر ځواك په څېر پاتې کېږي، دا کسان نه د امريکائی ټولني له کاواك اجتماعي جوړښت او په هغه کي د زوال له خورو او ژورو عواملو نه خبر دي او نه له هغه الهي سنت نه چي هر عمر خوړلی فرد او ټولنه په زړښت او بيا زوال محکوموي، د امريکا له وضعيت نه باخبره پوهانو دا انتظار کولو چي امريکا به له شوروي اتحاد نه مخکي په زوال محکومېږي، په امريکائي ټولني کي ئې د

فساد او زوال عوامل تر شوروي اتحاده ډېر ژور او پراخ ليدل، تاسو کي د غربي نړۍ د ټولو پوهانو او مفکرينو تحليلونه او وړاندويني له نظره تيري کړئ وبه گورئ چي د غرب مخصوصاً د امريکا راتلونکي تياره او ويرونکي ښيي او زوال ئې نږدې گڼي. امريکا يوه بريژنف او يوه افغانستان ته ضرورت درولود چي نړۍ ئې له شر نه وژغورلی شي، د بش په څېره کي بريژنف په لاس ورغلی او په افغانستان او عراق کي د شوروي په څېر ښکېل شوی او په دواړو کي له چريکي جنگ سره مخامخ. د افغانستان په لوري د شوروي اتحاد مخکي تگ هم ځينو بادي الرأی کسانو د ځواکمنۍ او قدرت اوج گاڼو خو په دې نه پوهېدل چي اوج يعني د زوال پيل!! او همدا په طبيعت او انساني تاريخ حاکم الهي سنت.

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۲۱۴۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

زه يو ځل بيا خپل مؤمن ولس ته اطمئنان ورکوم چې د تل په څېر به د خپل ولس په څنګ کې وو او تل به له اسلام او هېواد نه دفاع کوو. له خپلواك او سرلوړي افغانستان او د افغان ولس د خوښې اسلامي حکومت نه پرته به په بل څه راضي نه شو، د دوی د اطمئنان لپاره لاندې وضاحتونه ضروري ګڼو:

- موږ د کابل له ادارې سره هيڅ خبرې آترې نه لرو، داسې خبرې مفيد نه ګڼو، د کابل له حکومت سره خبرو په هغه صورت کې معنی درلوده چې څه واك ئې په لاس کې وی، اوس خو د افغانستان سياسي واك په کابل کې د امريکا د سفير او نظامي واك ئې د امريکائي ځواکونو د قومندان په لاس کې دی، همغسې لکه چې په عراق کې ټول واك د پال بريمر په لاس کې دی.
- موږ د هر هغه افغان ستاينه او ملاتړ کوو چې خپلواك او آزاد افغانستان غواړي، د اشغالګرو ځواکونو په فوري وتلو ټينګار کوي او له خپل دين او وطن نه د دفاع لپاره ئې د جهاد ملا تړلې او قربانۍ ته چمتو شوي، دا د هر مؤمن افغان ديني فريضه ګڼو.
- په دې باور وو او يو چې د افغانستان اساسي مسائل دا دي: د افغانانو د خپلواکۍ او ملي حاکميت اعاده، د ټولو اشغالګرو ځواکونو فوري او بلاقيد او شرط وتل، د ټولو بهرنيو لاسوهنو توقف، افغانانو ته د خپل برخليك د ټاکلو حق ورکول، له بهرني ګوابن، فشار او منځګړيتوب نه پرته د افغانانو تر منځ خپل منځي تفاهم، عادلانه او آزاد انتخابات او د افغانانو د خوښې منتخب اسلامي حکومت.

• د اشغالگرو ځواکونو په شته والي او په افغانستان د دوی په واکمنۍ کي د اساسي قانون تسوید او تصویب، د جرگو جوړول او په حکومت کي تغییر او بدلون هیڅ ارزښت نه لري او د افغانانو هیڅ مسئله نه شي حل کولی. هم به اساسي قانون د دغو ځواکونو په خوښه جوړېږي، هم به جرگو ته د دوی د خوښي کسان راځي او هم به په حکومت کي هر تغییر او بدلون د دوی په امر تر سره کېږي.

• دا دی گورو چي د اساسي قانون له هغې مسودې نه چي کمیسیون وړاندي کړې وه ګڼ شمېر مادې د امریکائي ځواکونو د قومندان او د امریکا د سفیر په وینا وایستلې شوې، د مثال په توگه د کمیسیون په مسودې کي لیکل شوي وو چي د افغانستان د ټولو قوانینو مأخذ به اسلامي شریعت وي، خو هغه ماده حذف شوه او په اعلان شوې مسودې کي د هغې په ځای ولیکلی شو: په افغانستان کي هیڅ قانون نه شي نافذېدلی چي د اسلام د سپیڅلي دین او په دې اساسي قانون کي د راغلو ارزښتونو مخالف وي. هرڅوك پوهېږي چي د دغي او مخکنۍ مادې ترمنځ څومره فرق دی!! همداراز په اعلان شوې مسودې کي دا اساسي او تر ټولو مهمه ماده ونه لیکلې شوه چي په افغانستان کي هیڅ بهرني مسلح ځواك په هیڅ نامه او په هیڅ صورت کي نه شي ځای په ځای کېدی.

• هر افغان پوهېږي چي راتلونکي لویه جرگه به همغسي وي لکه تېره لویه جرگه چي فیصلې به خلیلزاد کولې او لاسونه ئې د لوئې جرگې په غړو اوچتول!

• که امریکایان وگوري چي د انتخاباتو له لاري د خپلي خوښي لاس پوڅی حکومت نه شي جوړولی او د دوی مخالفین اکثریت ترلاسه کوي نو انتخابات به ځنډوي.

• مونږ د مظلومو افغانانو او عراقیانو په ضد د امریکایانو جنایات په کلکه محکوموو، په دې باور یو چي امریکایان نه شي کولی په وحشیانه بمباریو او بې رحمانه وژنو سره د آزادي غوښتونکو افغانانو او عراقیانو روا مقاومت وځپي او د افغانستان او عراق اشغال ته دوام ورکړي، امریکایان به د فوځونو د شمېر په زیاتولو سره فقط د خپلو فوځیانو مرگ ژوبله زیاته کړي نه بل څه. دا مقاومتونه اوس داسي مرحلې ته رسېدلي چي ځپل ئې د امریکایانو له وس نه وتلی.

• امریکایان دې په دې پوه شي چې فقط یوه د حل لار په مخکې لري: له افغانستان او عراق نه وتل، د مظلومو فلسطینیانو بې رحمانه وژنه ودرول، د مسلمانانو له ځورولو ، سپکولو ، د دوی د شتمنیو له تالان او د دوی په هېوادونو د سیاسي، اقتصادي او نظامي واکمنۍ نه لاس اخستل او مسلمانان دې ته پرېښودل چې د خپلي خوښي اسلامي نظام او له خپل لوري غوره کړي واکمنان ولري. دوی نور ستاسو د دیموکراسۍ، آزادۍ او بشري حقوقو په غولوونکو شعارونو نه غولېږي، په فلسطین کي ستاسو د بشري حقوقو اصلي څېره گوري او په افغانستان او عراق کي ستاسو د آزادۍ او دیموکراسۍ مصداق.

• امریکایان باید پوه شوي وي چې په بدمعاشۍ سره خپله لویي په نورو نه شي منلی، که ټوله نړۍ ئې ومني مسلمانان داسي لوئې ته سر نه ټيټوي، مسلمان مرگ مني خو غلامي، ذلت او سپکاوی نه مني.

• د گاونډیو هېوادونو مخصوصاً د پاکستان چارواکو ته مي توصیه دا ده چې نور دې نو د مظلومو افغانانو په وژلو کي د دوی د بې رحمه قاتلانو له ملگرتیا نه لاس واخلي، تر اوسه ئې چې د گاونډیتوب او اسلامي ورورولۍ د غوښتنو خلاف زموږ د دښمنانو ملگرتیا کړې په همدې دې اکتفاء وکړي، هغه ورځ باید په پام کي ولري چې امریکایان به له افغانستان او ټولي سیمي وتلي وي او موږ به یو د بل څنگ ته پاتې وو.

• د اروپائې اتحادیې له ځینو ملکونو نه مو انتظار دا وو چې دوی به د افغانستان په اړه همغه سیاست غوره کړي چې د عراق په اړه ئې غوره کړی، د حملې او اشغال غندنه او د ژرترژره وتلو مطالبه، متأسفانه هغوی داسي سیاست غوره کړ چې د افغانستان د اشغال په دوام کي د امریکایانو د ملاتړ معنی ورکوي، نه پوهېږو چې په دې ناروا جنگ کي د امریکا له ملگرتیا نه دوی د کومي گټې طمع لري، ولې باید د اروپائیانو زامن د امریکائي چارواکو د جنگ غوښتونکو سیاستو لپاره قرباني شي، ولې باید د مظلومو افغانانو په وژلو کي د امریکایانو مرسته وکړي!!

• له کابل نه بهر د ایساف د ځواکونو استقرار یوه لویه غلطي او د امریکا په

ګټه يوه ناکامه او بې فايدې هڅه ګڼو ، امريکائي چارواکي غواړي چي په دې سره نور ملکونه په جګړې کي راښکيل کړي او د خپلو ناکامو سياستونو په بدو پايلو کي نور راشريك کړي. امريکايان ونتوانېدل چي په تېرو دووکلونو کي جګړه پای ته ورسوي، سوله او امنيت تأمين کړي، واکمن مرکزي حکومت جوړ کړي، د مخدره موادو د کشت او تجارت مخه ونيسي، په ائتلاف کي د شاملو ډلو ترمنځ د خونړيو جګړو مخنيوی وکړي او ... نو خود دا غوره ګڼي چي د دې رسوايي او بدنامۍ پېټی نور ورسره پورته کړي، د جګړې له دوام سره نړۍ والو او په خپله د امريکا د ولس د ورځ په ورځ زياتېدونکي مخالفت د راکمولو په اړه هم د نورو ملکونو راښکيلول مفيد ګڼي خو دا هڅي به هيڅکله هماغه نتيجه ورنه کړي چي امريکائي چارواکي ئې انتظار کوي.

• امريکائي ځواکونه به حتماً له افغانستان څخه وځي او إن شاء الله ډېر ژر، مجاهدين به ئې دې ته اړ کوي، افغان آزادي غوښتونکی ولس به ئې دې ته اړ کوي، خپلي ناکامۍ او د فوځيانو ورځ په ورځ زياتېدونکی مرګ ژوبله به ئې دې ته اړ کوي. امريکايانو په تېرو دوو کلونو کي هيڅ "ښه خبر" له افغانستان نه وانه اورېدو ، ګمان نه کوو چي تر اوږدې مودې دی د "بدو خبرونو" د مسلسل اورېدو حوصله ولري!!

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۲۱۸۱۱۷

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیغام

الحمد لله و كفى و سلام على عباده الذين اصطفى

وَ الّذِينَ ءَامَنُوا وَ هَاجَرُوا وَ جَهَدُوا فى سبيل اللّهِ وَ الّذِينَ ءَاوَوا وّ نَصرُوا أُولَئكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لهُّم مّغْفِرَةٌ وَ رِزْقٌ كَرِيمٌ * صدق الله العظيم

گرانو وطنوالو!

وروڼو خويندو! السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

انگرېزانو او امريكايانو په دوو كلونو كي د مظلومو افغانانو په ضد او د دوى د مقاومت د ځپلو لپاره له هيڅ جنايت نه ډډه ونه كړه، په ښارونو، كليو، كورونو او جوماتونو ئې بمونه وورول، په زرهاوو بې گناه افغانان ئې ووژل، په سلگونو ئې ونيول او دافغانستان د ننه او په بهر كي د خپلو اډو محبسونو ته ئې ولېږدول او د گوانتانامو په اوسپنيزو قفسونو كي ئې په وحشيانه او بې رحمانه توگه تعذيب كړل، د سيمي د تصفيې په نامه ئې له كنر نه تر هلمند پورې ټولو ولاياتو ته په وار وار او په لوى شمېر كي فوځونه ولېږل او سترې جگړې ئې ترسره كړې، د يوه يوه مجاهد د وژلو لپاره ئې مكمل كلي بمبارد كړل او په جوماتونو ئې د لمانځه په وخت كي راكټې وورولې، خو د بې گناه افغانانو له ځورولو نه پرته په بل څه ونه توانېدل، نه ئې مقاومت وځپلى شو، نه ئې جگړه پاى ته ورسولې شوه او نه ئې مزعوم امنيت او سوله راوستى شوه. دوى نه د هيروئينو د توليد او قاچاق مخنيوى وكړ او نه ئې د بيا ودانولو په اړه خپلي دروغجنې او

غولونکي وعدې ترسره کړې!! د انګرېزانو او امریکایانو د ټولو هڅو سره سره نن د افغانستان وضعیت داسي دی چي نه د پلازمېنې په شمول په لویو ښارونو کي امنیت شته او نه په لویو لارو کي، نه په عام ولس کي د چا سر، مال او عزت خوندي دی، نه چارواکي د ځان د امنیت په اړه ډاډه دي او نه د بهرنیو ځواکونو قطارونه، اډې او ګزمې له بریدونو مصئونې!! د ملګرو ملتونو استاځي او پلاوي د افغانستان امنیتي وضعیت وخیم ګڼي، د کابل د امریکائي اداري چارواکي د نورو فوځونو د رالېږلو مکرر غوښتنه کوي او امریکایان په جګړې کي د ناټو د راښکیلولو هڅه کوي او افغانستان ته نور فوځونه رالېږي!! خو حقیقت دا دی چي د فوځونو په زیاتولو سره به یوازې د دوی جنګي مصارف اود دوی د عسکرو مرګ ژوبله زیاتېږي نه بل څه، نورو سیمو ته د فوځونو د خورولو یوازنۍ نتیجه به فقط دا وي چي هغو سیمو ته هم جګړه خوره شي چي نن نه په کي بهرني ځواکونه شته او نه جګړه!! نه پوهېږو دا مغرور او کودن یرغلګر ځواکونه ولې په دې نه پوهېږي چي په جګړو او د مزید فوځونو په لېږلو سره هیڅ نه شي ترلاسه کولی، دا خبره هم د روسانو زړې تجربې ښوده او هم د انګرېزانو او امریکایانو ناکامې اوسنۍ تجربې!! د امریکا چارواکي ولې په دې نه پوهېږي چي په تېرو دوو کلونو کي دوی له افغانستان نه یو ښه خبر ترلاسه نه کړی شو، تل مأیوسونکي او بد خبرونه وررسېدلي، له دې وروسته څنګه د ښه خبر انتظار کوي، اوس خو مقاومت داسي مرحلې ته ورسېدو چي ځپل ئې ممکن نه دی. آیا د امریکایانو په دوستانو او ملګرو کي یو داسي هوشیار انسان نشته چي دوی ته ووایي: څوك چي افغانستان ته د مزید فوځ لېږلو مشوره درکوي او له کابل نه بهر د ځواکونو ځای په ځای کول ضروری ګڼي، په اصل کي د دې ناکامې جګړې په ډنډ کي ستاسو مزید ښکیلېدل غواړي! او که له افغانانو نه څوك دا غوښتنه لري، هغوی دا خبره د ځان لپاره کوي نه ستاسو لپاره او نه د افغانانو او افغانستان لپاره، د دوی مقصد د بحران حل نه بلکي ستاسو د متهو په زور په قدرت کي پاتې کېدل دي!!

افغانانو او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته اوس دا خبره کاملاً څرګنده شوې چي د افغانستان جنګ نه د طالبانو په ضد جنګ دی او نه د القاعدې په ضد، د طالبانو

حکومت ختم شوی او القاعدې ته اوس امریکایانو په عراق کې داسې جبهه پرانستلې چې نور نو افغانستان ته ضرورت نه لري، د افغانستان او عراق جنګ په حقیقت کې د مخکني صلیبي جنګ په څېر بل صلیبي جنګ دی، فرق ئې یا په دې کې دی چې د مخکني صلیبي جنګ قومنده د ایټالیا په لاس کې وه او د اوسني جنګ د امریکا په لاس کې، هلته اسلامي امت واحد خلافت درلود او د امت اکثریت د دښمن مخې ته تر یوې قومندې لاندې ودرېدلی وو، خو اوس له وحدت نه محروم دی، په وړو وړو ملکونو وېشل شوی، اکثر ئې د دښمنانو مستعمرې او حکومتونه ئې لاس پوڅي او په دې جګړې کې یا له صلیبي ځواکونو سره ملګري شوي او یا ئې د منافقت او سازش لار غوره کړې!! خو الحمد لله اوس په اسلامي امت کې د داسې شاځلمیانو شمېر زښت زیات دی چې له دین نه د دفاع په خاطر هرې قربانۍ ته چمتو دي، که مخامخ منظمه جګړه نه شي کولی، نو په سرتېرو بریدونو او چریکي جنګ سره دښمن ته هغه ګذارونه ورکولی شي چې د مخامخ جګړې خلا ورباندې ډکه کړي. دا ده د افغانستان او عراق تجربې زمونږ مخې ته پرتې دي، په افغانستان او عراق کې امریکایانو جنګ بایللی دی او إن شاء الله ډېر ژر به له دې هېوادونو نه په کډه کېږي. په عراق کې د امریکائي عسکرو روحیه دومره لوېدلې چې جورج بش ئې اړ کړ، بغداد ته په پټه، د شپې لخوا او غلچکی سفر وکړي او په دې سره د دوی پرېوتی مورال اوچت کړي، عجیبه ده!! د دوی هغه بدمعاشي او غرور او داسې له شرمه ډك غلچکي سفرونه!! همداراز د کلنټن مېرمنې په همدې موخې کابل ته سفر وکړ!! خو وبه ګورو چې په دې سره به څنګه دا پرېوتی مورال رااوچت شي!!

امریکایان دې خبریالانو ته اجازه ورکړي چې په کنړ، پکتیکا، زابل، ارزګان، هلمند او نورو سیمو کې د دوی تصفیوي عملیات په خپلو سترګو وګوري او د پېښو حقیقي انځور نړۍ والو ته وړاندې کړي او خلك مخصوصاً په خپله د امریکا ولس په دې خبر کړي چې دلته څه تېرېږي، امریکائي جنایتکارو عسکرو دلته کوم کوم جنایات کړي، څومره بې ګناه افغانان ئې وژلي او نیولي، په کلیو، کورونو او جوماتونو ئې بمونه ورولي، خو سره له دې څنګه افغانان مقاومت کوي او ځای په

ځای او قدم په قدم په دوی بریدونه کوي او دښمن ته نه هېرېدونکي تلفات اړوي. دا خبريالان دې پرېږدي چي له امريکائي عسکرو نه پوښتنه وکړي چي د دغو جګړو په هکله څه وايي، مورال ئې څومره پرېوتی او له جګړې څومره تنګ، مأيوس او نااميده دي او څنګه په خپلو چارواکو لعنت وايي!!

اوس بايد ټولو ته ثابته شوې وي چي د افغانستان بحران د جګړې له لاري او په بهرنيو ځواکونو او د لاس پوڅي حکومت په تپلو سره نه شي حل کېدی، نه شوروي اتحاد په دې موفق شو او نه به امريکايان او انګرېزان په دې موفق شي. د حل يوازنۍ لار دا ده چي بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي، د افغانستان په کورنيو چارو کي د بهرنيو لاس وهنې بندې شي، د افغانانو د خوښي مؤقت حکومت جوړ شي او بيا د دې مؤقت حکومت تر اشراف لاندي آزاد انتخابات ترسره شي او واك يوه منتخب اسلامي حکومت ته وسپارلی شي. افغانان انتخابات غواړي خو له خپلواکۍ وروسته، نه د اشغال په حالت کي، نه د امريکايانو د بي ۵۲ تر چتر لاندي!! د ملي پخلاينې نه وروسته او د يوه افغاني مؤقت حکومت تر نظارت لاندي انتخابات غواړي، نه تر امريکائي حکومت لاندي انتخابات!! د مؤقت حکومت د جوړولو طبيعي لار يا دا ده چي افغاني ډلي د پرديو له قيموميت نه پرته په خپلو منځونو کي خبرو آترو ته کښېني او په يوه مؤقت حکومت توافق وکړي او يا دا چي لومړی يوه ممثله شوری جوړه شي او بيا دغه شوری مؤقت حکومت جوړ کړي. د ممثلې شوری د جوړولو طبيعې او آسانه لار دا ده چي د هر جامع جومات په سطحه د خلکو په خوښه محلي شوری جوړه شي، دا شوری، د ولسوالۍ شوری ته خپل استازي معرفي کړي او د ولسوالۍ شوری، د ولايت شوری او مرکزي شوری ته خپل استازي ولېږي او له دغو استازو نه جوړه شوې شوری، هم مؤقت حکومت جوړ کړي او هم په مؤقتې مرحلې کي د ملي شوری چارې مخکي بوځي، طبيعي ده چي په دې مرحلې کي به محلي ادارې د محلي شوراګانو له خوا جوړېږي او د امنيت تأمين به د همدغو محلي ادارو او محلي شوری ګانو په غاړه وي. تجربو دا ثابته کړه چي نه بهرني ځواکونه امنيت راوستی شي، نه لاس پوڅي تحميلي حکومتونه او نه د پرديو د متو په زور د اقليت حکومت په اکثريت

باندي. اشغالگر ځواکونه د دې لپاره تل د اقليتونو حکومت خوښوي چې دا په مستعمراتو کې د دوی د مزيد پاتې کېدو لپاره ګټور وي، داسې حکومتونه په پرديو متکي وي او د اکثريت له وېرې تل د اشغالګرو ځواکونو په پاتې کېدو ټينګار کوي. د بن غونډې ته د همدې لپاره د اقليتونو او وړو ډلګيو استازي وبلل شول او په روس او امريکا پورې د تړلو ډلو حکومت ئې جوړ کړ. امريکايانو او روسانو دا ګمان کولو چې دې غونډې ته د خپلو مخالفينو په نه رابللو او په مؤقت حکومت کې د دوی په بې برخې کولو سره به د خپلې خوښې حکومت جوړ او بقا به ئې تضمين کړي او مخالفين به د تل لپاره له صحنې حذف کړي، خو د تېرو دوو کلونو جرياناتو يو ځل بيا دوی ته وښوده چې اشتباه ئې کړې او د شوروي اتحاد ناکامه تجربه تکراروي.

امريکايان دې ګمان نه کوي چې د غولوونکو انتخاباتو له لارې به په افغانستان کې همغه څه وکړي چې په ګرجستان کې ئې وکړل، افغانان به په انتخاباتو کې هم دوی ته ماتې ورکوي، که دوی ته رأيې د ورکولو موقع ورکړی شوه نو يوازې هغه چا ته به رأيه ورکوي چې د افغانستان استقلال او آزادي او د ټولو پرديو فوځونو عاجل، فوري او بلاقيد او شرط وتل غواړي، له سرلوړو افغانانو دې دا طمع نه کوي چې د دوی غلامانو ته به رأيه ورکړي!

هغو ملکونو ته چې د امريکا لوبې نه مني او د نړۍ د مشرۍ لپاره ئې اهل او ښايسته نه ګڼي او د امريکائي چارواکو له جنګ غوښتونکو سياستونو سره موافق نه دي، وايو چې د مسلمانانو او اسلام په ضد د امريکايانو په دې روان جنګ کې برخه مه اخلئ او د امريکايانو مرسته او ملګرتيا مه کوئ، برعکس يا د مسلمانانو په ضد د دوی ظلم او تېری وغندئ يا بې طرفي اختيار کړئ او د جنګ پايلو ته انتظار وکړئ، لږ تر لږه د عراق په اړه چې تاسو کوم سياست غوره کړی د افغانستان په اړه همدا سياست غوره کړئ. د دغو ملکونو او ټولې نړۍ لپاره دا غوره ده چې امريکا په خپلو ماجرا غوښتونکو سياستونو کې ناکامه شي او په افغانستان او عراق کې له ماتې سره مخامخ او د شوروي اتحاد په انجام مبتلا شي او نړۍ وال د دوی له شر نه وژغورلی شي.

موږ مسکو ته هم وایو چي که د اروپا نور هېوادونه دا کار نه کوي، تاسو خو باید دا کار وکړئ، گمان مه کوئ چي امریکایانو به د روسیې په نسبت خپله زړه دښمني هېره کړي وي او په دې به راضي شي روسیه بیا هم د امریکا لپاره یو ځواکمن رقیب وي، برعکس هغوی غواړي ستاسو پاتې اعتبار او حیثیت هم د تل لپاره ختم کړي او ستاسو ټول سابقه ملگري یو په بل پسې وځپي، ځیني په یوه ډول او ځیني په بل ډول، عراق هغسي او گرجستان دغسي، یو د جنگ له لاري او بل د بغاوت له لاري، دوی سوریې او ایران ته هم بدې رابروهلې دي او د مرکزي آسیا په هېوادونو کي چي دوی کوم فوځونه ځای په ځای کړي، دا به همداسي دلته پاتې وي، ستاسو مطالبې له دوی نه داسي دي لکه د فیل په غوږ کي د ماشې بنگا. د بش وروستۍ وینا په دې هکله د شك هر مجال ختم کړ او تاسو ته ئې واضح پیغام ولېږو چي د فوځونو د ایستلو په اړه د هیچا عرایضو ته اهمیت نه ورکوي. دا فوځونه به تر هغه دلته پاتې وي چي ستاسو ټول اثر او رسوخ په کي ختم شي. نه پوهېږو تاسو په دې کي څه گټه لیدلې چي د امریکا په لاس د افغانستان له اشغال سره موافق یاست او مسکو پلوه افغاني ډلو ته وایاست چي د امریکایانو ملگرتیا ته دوام ورکړي!!

موږ د افغانستان د روان بحران عادلانه او پایدار حل غواړو او د جگړي د فوري ختمولو طرفدار یو. که له جگړي پرته له بلي لاري د هېواد خپلواکي ترلاسه کول ممکن وي، نو موږ به ترهرڅا د مخه همغه لار غوره کړې وي. که دا اوس اشغالگر ځواکونه له افغانستان نه ووځي او افغانانو ته د خپل برخلیك د ټاکلو موقع ورکړی شي، موږ په نورو ټولو مسئلو خبرو ته تیار یو. کومي افغاني ډلي چي په انگرېزانو او امریکایانو ځان ساتي، هغوی ته وایو چي په افغانانو باور وکړئ، موږ د امنیت تضمین درکوو، که په افغانانو باور نه کوئ له کوم بې طرفه اسلامي هېواد نه به وغواړو چي ستاسو د امنیت لپاره څو کسان راولېږي!! موږ خپلواك اسلامي افغانستان غواړو، په عفوې، بخښنې او پخلاینې باور لرو، نه د انتقام په فکر کي یو او نه د جنگ له لاري قدرت ته د رسېدو تلوسه لرو!! موږ د بهرنیو اشغالگرو ځواکونو د ایستلو لپاره جهاد کوو او افغانانو ته وایو: تر څو چي ټول

اشغالگر ځواکونه له افغانستانه نه وي وتلي وسله په ځمکه مه ږدئ او له مقاومت نه لاس مه اخلئ. انګرېزان د اسلام او مسلمانانو زاړه دښمنان دي، د اسلامي امت د اکثرو مصيبتونو او ستونځو باعث همدا انګرېزان دي، دوی ته بايد يو ځل بيا د ميوند او جګدلك جګړې ور په ياد کړئ. امريکايانو بد معاشی ته ملا تړلې، د زور له ژبې پرته په بله ژبه نه پوهېږي، فقط په خپل جهادي مقاومت او پر له پسې ګذارونو سره هغوی دی ته اړ کولی شئ چې له افغانستان نه ووځي. بايد همت وکړئ، بل اسلامي پاڅون ته ملا وتړئ، په هرځای کې پر دښمن بريد وکړئ، د هېواد په هيڅ ګوټ کې ئې يوه شېبه آرام مه پرېږدئ، خوب ورباندي حرام کړئ، دوی ته وښيئ چې افغانان غلامي او اسارت نه مني، له اسلام نه لاس نه اخلي، د پرديو سلطې ته سر نه ټيټوي، له خپل دين، خپلواکی، عزت او ناموس نه د سر په بيه دفاع کوي او په دې لار کې هري قربانی ته چمتو دي. افغانان د دې پېړی د جهاد سالاران او مخکښان دي، مبادا له نورو وروسته پاتې شي، مبادا عراقي مجاهدين له دوی نه دا مقام وګټي!!

افغانان دې مطمئن وي چې انګرېزان او امريکايان به د روسانو په څېر له افغانستان نه وځي. الله تعالی به د دوی ټولي هلې ځلې ناکامه کوي، هغه افغانان چې په روان اسلامي جهاد کې برخه وانه خلي ډېر ژر به په خپلو کړو ندامت وکړي، إن شاء الله هېواد به آزاد شي، اشغالګر کفري ځواکونه به له افغانستان نه ووځي او هغه وخت به د جهاد مخالفين نه د خدای په وړاندي د منلو وړ عذر لري او نه د خپل ولس په وړاندي!! هم به خپل رب ته شرمنده وي او هم خپل ولس ته!!

زه يو ځل بيا مجاهدينو ته اطمئنان ورکوم چې ستاسو د بري او د دښمن د ماتې ورځ نږدې ده.

د افغانستان د آزادی او د اسلام د بري په هيله.

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۲۱۹۱۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# د صدام حسين نيونه

وَ لا يحْسبنّ الّذِينَ كَفَرُوا أنّمَا نُمْلى لَهُمْ خَيرٌ لأنفُسهِمْ إنّمَا نُمْلى لَهُمْ لِيزْدَادُوا إِثْماً وَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ *

امريكايانو د صدام حسين نيونه لوی بری وګڼلو، له ده سره په چلند كي ئې د كم ظرفو بدمعاشانو په څېر د بداخلاقۍ كركجنه مظاهره وكړه، خو د ده نيونه به نه يوازي د عراقي ولس په مقاومت هيڅ منفي اغېز نه كوي بلكي برعكس اوس به هغه عراقيان هم په مقاومت كي برخه اخلي چي له دې د مخه ئې د دې واهمې په وجه له مقاومت نه ډډه كوله چي ښايي د مقاومت د بري په صورت كي يو ځل بيا مخكنی نظام په عراق مسلط شي. اوس به ټول آزادي غوښتونكي عراقيان په يوه مجاهد قيادت راغونډيږي.

د افغانستان او عراق مجاهدين د اسلام او خپل هېواد د آزادۍ لپاره جنګېږي، هيڅوك د كوم شخص لپاره خپل ژوند په خطر كي نه اچوي، د ظلم په ضد او د آزادۍ په شان د سترو او مقدسو آرمانونو لپاره قربانۍ ته چمتو كېږي. امريكائي چارواكي په دې نه پوهېږي چي د شخصيتونو په وژلو سره دا آزادي غوښتونكي مقاومتونه نه شي ځپلی.

د عراق په نيولو سره امريكا د عربي هېوادونو تر ټولو لوی او ځواكمن هېواد اشغال كړ، نور ضعيف او ناتوانه او واړه واړه عربي هېوادونه د دوی د كاملې سلطې په وړاندي نه شي خنډ كېدی، دا هېوادونه اكثراً په سياسي، اقتصادي او نظامي لحاظ د دوی د مستعمراتو حيثيت لري او له كلونو كلونو رادېخوا هلته نظامي اډې لري. كه له دې د مخه د دغو هېوادونو كوم چارواكي د امريكا او اسرائيلو په وړاندي څه حيثيت درلود نو دا هم د عراق او صدام حسين په وجه وو،

له دې وروسته به دغو چارواکو ته هيڅ اهميت نه ورکوي، برخليك به ئې په واشنګټن کي ټاکل کېږي او هر څه به د جان ابی زید په امر تر سره کوي، هغه به د ټول خليج وای سرا وي!!

د اسلامي هېوادونو واکمنان دې مخکي له دې چي د صدام حسين په څېر معامله ورسره وشي، بايد خدای ته مخه کړي، د خپلو ولسونو اعتماد دې ترلاسه کړي او له دې حالت نه دې ځان وباسي چي خپل ولس ته فرعونان او پرديو ته غلامان وي. د عربو چارواکي دې واشنګټن ته د صدام د نيولو مبارکي نه ورکوي، دا کار به امريکائي يرغلګر دې ته هڅوي چي له تاسو سره هم همدا کار وکړي، ستاسو په لرې کولو سره به د همداسي مبارکۍ پيغامونو طمع کوي!! بش لا د مخه اعلان کړی چي د عراق ديموکراسي به په ټول خليج کي د ديموکراتيك انقلاب پيلامه وي!! هر هوښيار انسان د دې خبري په معنی ښه پوهېږي.

د صدام له نيولو نه وروسته به يو ځل بيا ټولي نړۍ ته څرګنده شي چي د امريکائي جنګ غوښتونکو چارواکو د دوهمې بهانې ختمېدو سره سره دا دی دوی د عراق له اشغال نه لاس نه اخلي، بيا به هم د ديموکراسۍ د پلې کولو په پلمه د عراق اشغال ته دوام ورکوي. د عراق او د ټولي نړۍ مسلمانانو ته به هم څرګنده شي چي دا د عراق د اتمي او کيماوي وسائلو ختمولو او د صدام حسين د نيولو جنګ نه وو، بلکي بل صليبي جنګ دی چي له افغانستان او عراق نه پيل شوی.

د عراق او افغانستان پېښو وښوده چي نه د اسلامي نړۍ حکومتونه او فوځونه د امريکائي يرغلګرو مقابله کولی شي او نه ئې حکام او چارواکي، فقط د ملت له غېږ نه راپورته شوي مجاهدين کولی شي د اشغالګرانو مخې ته ودرېږي او د خپل هېواد له اشغال نه ئې مأيوس کړي.

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۲/۹/۲۵

بسم الله الرحمن الرحیم

# د قرآن فتوی

الّذینَ ءَامَنُوا یُقَتلُونَ فی سبیل اللّه وَ الّذینَ کَفَرُوا یُقَتلُونَ فی سبیل الطّغُوتِ فَقَتِلُوا أَوْلِیَاءَ الشیْطنِ إِنّ کَیْدَ الشیْطنِ کانَ ضعِیفاً *
النساء: ۷۶

د الله د لاري سرتېرو مجاهدینو!

د اسلامي امت د ژغورنې لپاره قربانۍ ته چمتو سپاهیانو!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

تاسو د اسلام د اصلي دښمن په ضد مقدس جهاد ته رابولم، د امریکا په ضد جهاد ته، د دې پېړۍ لوی دجال، هغه چي کابل او بغداد ئې اشغال کړي، د اسرائیلو متولي، د مظلومو فلسطینیانو قاتل، د صلیبي جنگ سر لښکر، د کفر، فساد او الحاد منبع، په اسلامي هېوادونو د تپل شوو ټولو استبدادي، ظالمو او مفسدو حکومتونو حامي او مرستندوی، د امت په ټولو زېرمو قابض او د نړۍ د ټولو شخړو، جګړو او ستونزو عامل.

هر هغه چا ته چي غواړي د جهاد الهي فریضه ادا کړي؛ وایو: اوس هغه وخت دی چي باید خپل ټول توان طاقت د ستر دښمن په ضد جنګ ته سوق کړو، په نورو جبهو کي ثانوي او غیرضروري فعالیتونه متوقف کړو او په بل جنګ او په وړو جبهو کي له مصروفېدو ډډه وکړو. دا صحیح نه ده چي په یوه وخت کي په ډېرو جبهو کي مصروف شواو په ګڼ شمېر محاذونو کي خپل محدود ځواك ووېشو. دښمنان باید درجه بندي کړو، لومړی باید د لوی او اصلي دښمن چاره وکړو، حج موږ ته همدا درس راکوي چي د جمراتو د رمي په ورځو کي لومړۍ ورځ د جمرة الکبری د رمي ورځ ده، جمرة الاولی او جمرة الوسطی په دوهمه او درېیمه ورځ رمي کېږي، په لومړۍ ورځ د دواړو لخوا نه آرام تېرېږو، له رمي نه ئې ډډه کوو او

ځان جمرة الکبری ته رسوو، لوی دښمن ته، د وړو دښمنانو ترشا ولاړ دښمن ته، اصلي کار چي ترسره شي واړه او فرعي کارونه له څه زحمت نه پرته ترسره کېږي، زموږ تېره تجربه؛ د شوروي اتحاد ماتې؛ په همدې حقیقت شهادت ورکوي.

د فلسطین جهادي تنظیمونو ته مي هم مشوره دا ده چي خپل سرتېري د تل ابیب په ځای بغداد ته ولېږئ، د غلام په ځای د هغه آقا او بادار په نښه کړئ، سل اسرائیلیان له یوه امریکائي سره مه برابروئ، نن د فلسطین جنګ او د اسلام او کفر تر منځ اصلي جنګ په افغانستان او عراق کي روان دی، د فلسطین په شمول د اسلامي امت د ټولو مسائلو برخلیك په همدې جنګ پوري تړلی دی. که د اسلام دا لوی او اصلي دښمن دلته له ماتې سره مخامخ او وتلو ته اړ شو نو د شوروي اتحاد په برخلیك به اخته کېږي او له خپلو ټولو مستعمراتو نه به وځي.

اوس هر مسلمان په دې پوهېږي چي د کمونیزم له ماتې وروسته د جنګ مخکنۍ درې جبهې په دوو بدلې شوې او د کمونیزم خلاف له جنګ نه د امریکایانو له فارغېدو وروسته؛ دوی خپل ټول توان طاقت د اسلام په ضد جنګ ته متوجه کړ. په افغانستان او عراق له یرغل نه مخکي ، صلیبي ځواکونو د اسلام په ضد د جنګ داسي جبهه پرانستې وه چي په هغې کي امریکایان د پردي تر شا جنګېدل، په فلسطین کي ئې صهیونستان جنګول، په کشمېر او چچین کي ئې د روسانو او هندوانو ملاتړ کاوو، عراق او ایران، عراق او کویټ ئې جنګول او په اسلامي هېوادو کي ئې د مفسدو لاس پوڅو حکومتونو په ذریعه اسلامي تحریکونه ځپل، خو اوس په خپله په دې جنګ کي ښکیل شوي، مخکي د دوی فوځیان له مرګ ژوبلې خوندي وو؛ خو اوس هره ورځ کافي شمېر مړي او ټپیان انتقالوي، له دې د مخه به د دوی اجیر فوځیان په قتل رسېدل؛ خو اوس دوی په خپله په قتل رسېږي، مخکي به دوی د جنګ مصارف له شتمنو عربي هېوادونو نه ترلاسه کول او په خپله به ئې د جګړو ډېره محدوده برخه مصرف په غاړه اخیست؛ خو اوس یوازي په افغانستان او عراق کي باید د کال ۱۲۰ ملیارده ډالر مصرف کړي. مخکي د جګړو له منفي پایلو نه دوی تر ډېره خوندي پاتې کېدل؛ خو اوس به په دې جګړو کي د ناکامۍ پایلې دوی ته کټ مټ هغسي وي لکه شوروي اتحاد ته

د افغانستان په جگړې کي د ماتې پایلې.

زما ورونو! د سرکاري مفتیانو او بې همته دین خرڅوونکو ملایانو غلطو فتواگانو ته اعتناء مه کوئ، دوی خو حکومتونو د دې لپاره استخدام کړي او د مفتي او عالم لقب ئې ورکړی چي د حکامو هري پرېکړې ته شرعي رنگ ورکړي، د دوی وظیفه خو د واکدارانو په اوامرو باندي په پټو سترگو د تائید مهر لگول دي نه بل څه، د الله تعالی د صریح حکم په موجودیت کي د هیچا فتوی ته ضرورت نه لرئ، هلته چي فرمایي:

وَ مَا لَكُمْ لاَ تُقَتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَاءِ وَ الْوِلْدَنِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظالِمِ أَهْلُهَا وَ اجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنك وَلِيًّا وَ اجْعَل لَّنَا مِن لَّدُنك نَصِيراً * الَّذِينَ ءَامَنُوا يُقَتِلُونَ فِى سَبِيلِ اللَّهِ وَ الَّذِينَ كَفَرُوا يُقَتِلُونَ فِى سَبِيلِ الطَّغُوتِ فَقَتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَنِ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَنِ كَانَ ضَعِيفاً * النساء: ۷۵-۷۶

په تاسو څه شوي چي د الله په لار کي او د هغو بې وزلو سړو، ښځو او ماشومانو (د ژغورنې لپاره) نه جنگېږئ چي وایي: اې زموږ ربه! موږ له دغه ملك نه چي واکداران ئې ظالمان دي وباسه او له خپل لوري موږ ته کوم ولي وټاکه او له خپلي خوا موږ ته کوم مرستندوی وټاکه. څوك چي ایمان لري د الله په لار کي جنگېږي او څوك چي کافر وي د طاغوت په لار کي جنگېږي، نو د شیطان له ملگرو سره وجنگېږئ، یقیناً چي د شیطان هر کید او چل کمزوری دی.

باید پوره ډاډه او مطمئن وئ چي إن شاء الله امریکا به په افغانستان او عراق کي له ماتې سره مخامخ کېږي او په دې ماتې سره به اسلامي امت او ټوله نړۍ د امریکائي بدمعاشانو له شر نه ژغورل کېږي او د اسلامي امت د تېر برم او مجد د اعادې لار به پرانستل کېږي. و ما ذلك على الله بعزيز

و السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۲۱۱۱۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# د لوی اختر پیغام

وَ إِذِ ابْتَلى إِبْرَهِيمَ رَبُّهُ بِكلِمَتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِى جَاعِلُك لِلنَّاسِ إِمَاماً قَالَ وَ مِن ذُرِّيَّتِى قَالَ لا يَنَالُ عَهْدِى الظلِمِينَ*

صدق الله العظيم

ورونړو خويندو!

گرانو هېوادوالو! السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

افغانان نن لوی اختر په داسي حال کي لمانځي چي هېواد ئې د انگرېزانو او امریکایانو تر مشرۍ لاندي د صلیبي ځواکونو په لاس اشغال شوی، د دوی جازونه د افغانانو په سر گرځي، په هر وخت او هرځای چي وغواړي بمونه وروي، د هر افغان د نیولو او وژلو حق ځانته ورکوي، هره ورځ په لسهاوو مظلوم افغانان په خپلو وینو کي رغړوي، په کابل کي ئې د خپلي خوښي حکومت نصب کړی، راډیو، تلویزیون، هوائي میدانونه، نظامي اډې، لویې لاري او ټول ستراتیژیك نقاط د دوی په واك کي دي. نو دا د افغانانو لپاره د واقعي اختر ورځي نه دي، اختر به هلته وي چي افغانستان آزاد او افغانان خپلواك وي، د پردیو سلطه پای ته رسېدلې وي، د خوف او وېرې حالت په ډاډ او اطمئنان بدل شوی وي، په هېواد کي د اسلام بیرغ رپانده او قدرت د ولس د خوښي منتخب اسلامي حکومت په لاس کي وي او ټول خواره واره مهاجر افغانان په لوړ سر او ډاډه زړه خپل هېواد ته ستانه شوي وي.

ورونړو خويندو!

مسلمانان دا لوی اختر د ابراهیم علیه السلام د قربانۍ د کلیزې په توگه لمانځي او په دې سره د خپل جد د قربانۍ سنت ته خپله ژمنه او التزام څرگندوی.

خو راشئ وګورو ؛ آیا موږ عملاً د خپل جد ابراهیم علیه السلام په سنت عمل کوو ؟ آیا د ده په پل د ګام ایښودو اراده لرو؟ آیا له نمرود او نمرودیانو سره د هغه څه کولو عزم او جرأت لرو چي زموږ جد کړي وو؟ آیا د نمرود د لښکرو په مقابل کي خدای ځان ته کافي ګڼو او په یوازي سر او یوازي یوه تبر سره د دوی د معبودانو د نسکورولو او ویجاړولو جرأت او همت لرو؟ آیا د نمرود له سره اور نه په دې خاطر وېره بې ځایه ګڼو چي د مرګ ژوند پرېکړه د عرش مالك کوي نه د ځمکي په سر د زور ځواك خاوندان؟ آیا د خپل اسمعیل قرباني کولو ته چمتو یو؟ آیا خپل اسمعیل او هاجر د خدای په اسرې په شاړې وادي کي یوازي پرېښودی شو؟ آیا د نمرود د ګواښ په وړاندي دا ویلی شو چي "ربي الذي یحیي و یمیت"؟ که داسي نه وي نو ما ته ووایه چي د لوی اختر له لمانځلو نه ستا هدف څه دی او طمع دې څه؟

نن خو د تاریخ تر ټولو ستر نمرود په کابل او بغداد کي راڅرګند شوی، له بره اور وروي، ځمکه ئې د مظلومانو لپاره د اور کنده ګرځولې، وایي: خدای پرېږدئ، دین او اخلاق هېر کړئ، د خپلواکۍ او آزادۍ خبره مه کوئ، خدای همغه دی چي زه ئې درښیم، دین همغه دی چي زه ئې معرفي کوم، اخلاق یعني زما په څېرکېدل، خپلواکي او آزادي یعني د خپل دین او خپل ملي دود دستور له دائرې وتل، زنا ، شراب، قمار، سود او خنزیر حلال ګڼل، حلال همغه دي چي زه ئې حلال ګڼم او حرام همغه چي زه ورته حرام وایم!! آیا له دې نمرود نه د بغاوت او یوازي د رب العالمین د بندګۍ اراده لرې؟ آیا د نمرود په سره اور کي لوېدل منې خو له خپل دین نه لاس اخستل نه؟ آیا د اختر په ورځ د پسه ذبح دې د خپل سر او وینو د قربانۍ مقدمه ده؟ آیا د جمراتو رمي دې د دې نښه ده چي د الله د دښمن د ویشتو اراده لرې؟ آیا د کعبې د طواف مقصد دې دا دی چي یوازي د الله د کور طواف کوې او هري بلې دړې ته له ودرېدو ډډه کوې؟ که داسي وي نو ستا اختر اختر دی او حج دې حج، که نه نو اختر دې مېله ده او حج دې سفر.

الله تعالی دې زموږ اختر اختر کړي او زموږ حج حج.

الله تعالی دې موږ ته د ده په لار کي د صادقانه جهاد توفیق راکړي او د هر نمرود په وړاندي د قیام همت او جرأت.

الله تعالی دې اسلامي امت له دې ذلت او اسارت نه وژغوري او د امت تېر مجد او عظمت دې اعاده کړي.

د افغانستان د آزادۍ په هيله او په خپلواك افغانستان كي د اسلامي حكومت د قائمېدو په اميد.

والسلام علیکم و رحمة الله و بركاته

ستاسو ورور حكمتيار

افغانستان

۱۳۸۲۱۱۱۱۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# عمومي قيام

قَتلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّهُ بِأَيْدِيكمْ وَ يخْزِهِمْ وَ يَنصركُمْ عَلَيْهِمْ وَ يَشف صدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ * وَ يُذْهِب غَيْظ قُلُوبِهِمْ وَ يَتُوب اللّهُ عَلى مَن يَشاءُ وَ اللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ * التوبة: ۱۴-۱۵

د افغانستان له روان وضعيت نه معلومېږي چي إن شاء الله دلته هم د عمومي پاڅون وخت رانږدې شوی او افغانان به هم ډېر ژر د عراقي مجاهدينو په څېر د نيواکګرو په ضد د عمومي پاڅون لار غوره کوي. هيڅا دا ګمان نه کولو چي عراقي مجاهدين به تر افغانانو مخکي شي، د دوی جنګي تجربو ته په پام سره د هرچا انتظار دا وو چي افغانان به تر عراقيانو د مخه په عمومي پاڅون لاس پورې کوي، په پرله پسې بريدونو سره به د هېواد له لوېشت لوېشت نه اشغالګران باسي او افغانستان به تر عراق نه د مخه خپلواکي ترلاسه کوي. إن شاء الله افغانان به دا کار کوي خو په مناسب وخت کي.

موږ لا د مخه ويلي وو چي د کابل او بغداد نيول آسان دي خو ساتل ئې ګران او دا چي د اشغالګرانو تر ټولو ښې ورځي به د اشغال لومړۍ ورځي وي، له هغه نه وروسته به هره ورځ ترمخکي نه زيات بد خبرونه ترلاسه کوي، دوی ته تر اوسنيو بدو ورځو نه لا زياتې بدې ورځي په انتظار کي دي.

موږ د مقتدا صدر د پلويانو پاڅون ته ښه راغلاست وايو، دا يو په زړه پورې انکشاف ګڼو چي نه يوازي د عراقي ولس د آزادۍ جنګ ته به نوې ساه ورکړي، بلکي د شيعه مذهب پلويان به هم له هغه تاريخي رسوائۍ او پېغور نه وژغوري چي په عراق او افغانستان کي له صليبي اشغالګرو ځواکونو سره د ملګرتيا په وجه

د دوی په برخه شوی، همدا راز به دا حکیمانه اقدام د دښمن په ضد د عراقي ولس او سني شیعه په یووالي کي مؤثر ثابت شي او د کربلا او کویټې په څېر د هغو خونړیو او دردونکو پېښو د تکرار مخه به ونیسي چي د امت دښمنان ئې غواړي او له دښمن سره د یوې ډلي له سازش نه راولاړېږي. دا یوه لویه غلطي وه چي ځینو مذهبي مشرانو او د دوی پلویانو په افغانستان، عراق او کشمیر کي له مجاهدینو نه بېل دریځ غوره او له دښمن سره د روغې جوړې او ملګرتیا لار اختیار کړه. د عراق او افغانستان ټولو مسلمانانو ته پکار ده چي له مجاهدینو سره یو ځای شي او د دین خرڅوونکو آخوندانو او ملایانو له متابعت نه لاس واخلي.

امریکایان او انګرېزان دې په دې پوه شي چي په زور د ملکونو د اشغال دور تېر شوی، په هیڅ پلمه او تر هیڅ نامه لاندي نه ملتونه اشغال ته غاړه ږدي او نه ئې نړیوال تائیدوی، د دیموکراسۍ راوستو پلمه هم نور کار نه ورکوي، خلك دا هم د نورو دروغجنو پلمو په څېر ګڼي، په افغانستان کي د کیمیاوي او اټمي وسلو استعمال، په کلیو، کورونو او جوماتونو وحشیانه بمبارۍ او د عراق په بې وسلو مظاهره کونکو د ماشینګڼو ډزو د اشغالګرو دیموکراتانو ماهیت هرچا ته بربنډ کړ، حتی په دغو شعارونو غولېدلو ته هم.

که انګرېزانو او امریکایانو دې ته زړه ښه کړی وي چي له بدنامو ملیشو نه به افغاني فوځ او پولیس جوړ کړي او د افغانانو په ضد به ئې وجنګوي او په دې سره به د خپلو عسکرو د مرګ ژوبلې مخنیوی وکړي، باید د تېرو دوه نیمو کلونو ناکامو هڅو ورته ثابته کړې وي چي دا خوشې او کاواکه هیله ده. په پیسو اخیستل شوي جنګیالي سر په پیسو نه خرڅوي او د څو ډالرو لپاره د مرګ خطر نه قبلوي، مګر نه ګورئ چي اکثر استخدام شوي کسان لومړي خط ته د لېږلو په وخت او حتی ترهغه د مخه تښتېدلي. تښتېدلو کسانو خپلو خپلوانو ته ویلي چي د فوځ او پولیس لپاره تر روزنې لاندي نیول شوو افغانانو ته شراب او د خنزیر غوښه ورکوي، ترڅو په دې سره معلومه کړي چي دوی له دین نه لاس اخیستو او د امریکایانو او انګرېزانو هر خدمت ته تیار دي که نه.

مونږ د کابل د امریکائي حکومت ستري محکمې ته هم وایو چي په شرابو، د

خنزیر په غوښه، فحشاء او فساد باندي اعتراض سره او د لاس پوڅي حکومت چاروکو ته د عرائضو په وړاندي کولو سره نه تاسو له الهي مسئولیت نه خلاصیږئ او نه له دنیوي ذلت او سپکاوي نه. د نجات لار دا ده چي د کفري ځواکونو په لاس د تپل شوي حکومت له ملګرتیا لاس واخلئ، توبه وکړئ او له ملت سره یو ځای شئ.

موږ په دې کلك باور لرو چي الله تعالی به د شیخ المجاهدین احمد یاسین شهید او د فلسطین، افغانستان او عراق د نورو مظلومو شهیدانوویني نه ضایع کوي او حتماً به د دوی له بې رحمه قاتلانو نه انتقام اخلي.

وما ذلك على الله بعزيز

حکمتیار

افغانستان
۱۳۸۳۱۱۱۲۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

حزب اسلامي افغانستان د کابل امريکائي حکومت ته د ځينو کسانو د تسليمېدو په اړه لاندي وضاحتونه کوي:

- دا د ګوتو په شمېر څو کسان دي چي ځيني ئې ډېر د مخه له حکومت سره يو ځای شوي او امريکايانو له دوی نه مکرر غوښتل چي د حزب اسلامي په نامه په کابل کي دفتر پرانيزي او ځيني ئې په پاکستان کي اوسېدل او امريکايانو ترفشار لاندي نيولي وو چي يا به له کرزي سره ملګري کېږئ يا به د ډاکټر غيرت بهير په څېر د F B I لخوا نيول کېږئ او لاس تړلي به شورای نظار ته سپارل کېږئ.
- په کابل او شاوخوا کي ئې د حزب اسلامي د ډېرو غړيو وروستۍ نيونې هم د دغه جريان کړۍ وې.
- دا کسان د يوه ستر او سمسور بڼ څو نړېدلو او ورستو ونو ته ورته دي چي دښمن ته به يوازي دومره کار وکولی شي چي څو ورځي ئې د تبليغاتو تنور ورته تود کړي.
- حزب چي د تأسيس له لومړۍ ورځي نه کومه تګلاره غوره کړې او په دې لار کي ئې په زرهاوو شهيدان ورکړي، همداسي به د مخکي په څېر او تر هغه لازيات په استواره او مضبوطو ګامونو مخ په وړاندي درومي او له اسلام، هېواد او خپل ولس نه د دفاع په خاطر به خپل جهاد ته دوام ورکوي.
- له اشغالګرانو سره سازش او د يوه لاس پوڅي حکومت په ناولي ډنډ کي د ورګډېدو جسارت هغه څوک کولی شي چي خدای او دين ته ئې شا کړې وي او د يوه اسلامي حزب په ليکو کي د مبارزې همت ئې له لاسه ورکړی وي.

- نن افغان مؤمن ولس هغه ثوك او ډله د خپلو هيلو او آرمانونو ترجمان ګڼي چي د اسلام او خپلواکۍ لپاره يو ځل بيا قربانۍ ته ملا تړي، د ټولو اشغالګرو ځواکونو وتل غواړي او له خپلواك اسلامي افغانستان نه په کم څه نه راضي کېږي. دوی له هغه چا ژوره کرکه لري چي د ثو ذليلو کرسيو ترلاسه کولو لپاره د کمونستانو په څېر د نيواکګرو ملګرتيا کوي.

حزب اسلامي افغانستان

۱۳۸۳۱۲۱۱۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# افغان ولس ته

فَلا تَهنُوا وَ تَدعُوا إِلى السلْمِ وَ أنتُمُ الأعْلَوْنَ وَ اللّهُ مَعَكُمْ وَ لَن يَترکمْ أعمَلَكُمْ*

گرانو هېوادوالو!

غيرتي او با ايمانه مجاهدينو! السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

د الله تعالی په رښتونو وعدو مي دا باور دی او راتلونکي ته مي دا ډاډمن انتظار چي إن شاء الله ډېر ژر به زړه ور او مجاهد افغانان له غرونو ، سردرو او کليو راکوز شي، شنه بيرغونه په لاس کي، د تکبير له نارو سره، د ښارونو له باايمانه او ديندارو اوسېدونکو سره به يو ځای شي، د ښکيلاکگرو اډې به محاصره کړي، د جگدلك او ميوند خاطرې به راتازه کړي، په ارگ باندي به د اسلام بيرغ ورپوي، د زندانونو دروازې به پرانيزي، ټول هغه کسان به آزاد کړي چي د اسلام او آزادۍ غوښتلو په تور نيول شوي وو، د دوی په ځای به د انگرېزانو او امريکايانو جاسوسان او ملي خائنان په دې زندانونو کي واچوي، نړۍ والو ته به اعلان کړي چي نور نو افغانان آزاد او خپلواك دي، د خپلي خوښي اسلامي حکومت به جوړوي، خپل مشران به په خپله غوره کوي، هغه ورځ به ټول هغه کسان خړ سترگي او سرکوزي وي چي د يرغلگرانو په ضد ئې له جهاد نه ډډه کوله او په لاس پوځي حکومت کي د کوم ذليل مقام ترلاسه کولو لپاره ئې له دښمن او د ده له جاسوسونو سره سازشونه کول.

مورږ مجاهدو افغانانو او عراقيانو ته وايو چي ستاسو د آزادۍ او عزت يوازنۍ لار د مقاومت ادامه ده، آزادي او عزت له قربانيو نه پرته له بلي لاري نه شي ترلاسه کېدی، پام چي د دښمن له لوري د روغې جوړې او مذاکراتو په نامه

غورېدلي دام کي ونه نښلئ، داسي نه چي په ملل متحد اعتماد وکړئ، امریکا به اوس په عراق کي د اخضر ابراهیمي په لاس هغه څه کوي چي د پال بریمر په ذریعه ئې ونه کړی شول، د ابراهیمي لومه تر بریمر نه ډېره خطرناکه ده، د ده په لاس به امریکایان په عراق کي همغه څه کوي چي په افغانستان کي ئې وکړل، هلته به هم د امریکائي لویې جرګې غولوونکي ډرامه جوړوي او له دې لاري به د امریکایانو د خوښي حکومت ته قانوني بڼه ورکوي، عراقیانو ته به حتماً معلومه وي چي د کابل لویو جرګو د همغه لاس پوڅي حکومت په تندي د تائید ټاپه ووهله چي امریکایانو په بن کي جوړ کړي وو. د اشغال په وخت کي انتخابات او داسي جرګې د مخدره موادو په څېر د ولسونو د تخدیر، بې حسه کولو او تحمیق وسایل دي. څوك چي عراقیان او افغانان له نیواکګرو سره خبروآترو ته هڅوي او غواړي د منځګړیتوب دنده ترسره کړي هغه په حقیقت کي د اشغالګرانو استاځي دي چي غواړي د عراقیانو او افغانانو په سر له امریکایانو سره معامله وکړي.

څوك چي له اشغالګرانو سره سازش او د دښمن د برلاسي په وخت کي د دوی شرائطو ته تسلیمېدل جائز سوله ګڼي او داسي ښیي چي شریعت د داسي مداهنت اجازه ورکړې، هغوی یا له اسلام نه بې خبره دي یا د جهاد او له اسلام نه د دفاع همت نه لري، په دې نه پوهېږي چي پیغمبر علیه السلام د دښمن د برلاسي په وخت کي سوله نه ده کړې، برعکس هغه وخت ئې سوله کړې چي دښمن د یرغل او برید توان له لاسه ورکړی وو، د مسلمانانو ځواك د پوره برلاسي په حال کي وو، د دښمن ټول بریدونه ئې په شا تمبولي وو او اوس هغه د تهاجم په حال کي او دښمن د دفاع په حال کي وو. له دښمن سره سوله نه په مکي دور کي شوې او نه د مدني دور په لومړیو کلونو کي، برعکس په دې موده کي د قرآن لارښوونه دا وه:

فَلاَ تَهِنُوا وَ تَدْعُوا إِلى السلْمِ وَ أَنتُمُ الأَعْلَوْنَ وَ اللّهُ مَعَكُمْ وَ لَن يَتِركمْ أَعْمَلَكُمْ* محمد:۳۵

نو مه سست کېږئ او مه روغې جوړې ته بلنه ورکوئ او تاسو خو تر ټولو لوړ یاست او الله له تاسو سره دی او هیڅکله به ستاسو عملونه (جهاد او

قربانۍ) ضايع نه کړي

د تاريخ هر لوستونکی په دې پوهېږي چې له غالب لوري سره د مغلوب سوله فقط يوه معنی لري: ذلت ته تسليمېدل، د دښمن برلاسي منل او شرائطو ته ئې غاړه اېښودل. او هر چا چې دا کار کړی په دائمي ذلت او غلامۍ کي پرېوتی او دا هغه څه دي چې نه عزيز اسلام د هغه اجازه ورکوي او نه هيڅ غيرتي مسلمان هغه ته غاړه ږدي.

ځيني خلك او ځيني هېوادونه او واکداران ئې د دې هڅه کوي چې د افغانستان او عراق جګړې دوه بېلې بېلې جګړې ثابت کړي!! دوی غواړي داسي وښيي چې د عراق جګړه د افغانستان له جګړې نه فرق لري، يوه د امريکا جګړه ګڼي او بله د ملګرو ملتونو، يوه ناجائز او بله جائز، دلته چې کومه وينه توئېږي له هغې بلې نه ئې بېله ګڼي، په دې جګړې کي برخه اخيستل د انسانيت غوښتنه او هلته برخه نه اخيستل د بشري حقوقو تقاضاء شمېري، دوی په دې متناقض او دوه رنګي سياستونو سره غواړي خپل ولسونه وغولوي او داسي وښيي چې په خپلو سياستونو کي مستقل دي او د اصولو له مخې پرېکړه کوي!! خو هرڅوك پوهېږي چې دا خوشې بې بنسټه خبري دي، څوك په دې نه پوهېږي چې دا دواړه جګړې د امريکايانو د ګټو جګړې دي، په دې جګړو کي د نورو هېوادونو فوځونه فقط د اجير او مجبور فوځ په څېر د امريکائي افسرانو تر قومندې لاندې جنګول کېږي، دوی نه د جګړې په سوق او اداره کي څه ونډه لري او نه ئې د پيل او پايلو په اړه د څه ويلو مجال لري، ملګري ملتونه د امريکايانو په لاس يوه غولوونکې وسيله ده. دا حکومتونه د امريکايانو د ارضاء لپاره په هغې ظالمانه او وحشيانه جګړې کي برخه اخلي چې هره ورځ د امريکايانو په ناولو لاسونو په لسهاوو بې دفاع او بې ګناه افغانان په کي وژل کېږي خو ملګري ملتونه د بې ضميره تماشاچي په څېر د هغه ننداره کوي!! دا هڅه هغه حکومتونه کوي چې په جګړو کي د امريکايانو د ملګرتيا په وجه ئې په خپلو هېوادونو کي خپل اعتبار له لاسه ورکړی، د ولسونو حساس وجدان چې دا وحشيانه تېری او دا بې رحمانه وژنې نه شي زغملی، په جګړو کي برخه اخيستل نه مني او په چارواکو له هري خوا غږ کوي چې د دوی

زامن د امریکا د ګټو لپاره قرباني نه کړي. د دغه مخ په زیاتېدو فشار له امله ځیني حکومتونه دې ته اړ شول چي خپل فوځونه له عراق نه وباسي، ځیني نور هڅه کوي چي هم خپل ولس راضي کړي او هم امریکا، له عراق نه د فوځونو د ایستلو پرېکړه کوي خو د افغانستان په اړه له امریکا سره خپلي ملګرتیا ته دوام ورکوي!! خو داسي معلومېږي چي ولسونه په منافقتونو پوهېږي او له منافقو او جنګ غوښتونکو حکامو سره د هسپانیي د مخکني حاکم أزنار په څېر د معاملې هوډ لري!!

زه باید دا خبره نړۍ والو ته اعلان کړ م چي له عراقي مظلومو بندیانو سره د امریکایانو او انګرېزانو هغه ذلیلانه او له قساوت نه ډك چلند چي د نړۍ په مطبوعاتو کي ئې یوه وړوکي برخه منعکس شوه، دا د دوی عام چلند دی، له افغاني بندیانو سره تر دې زیات وحشیانه او ذلیلانه چلند شوی، نه یوازي دا چي هغوی ئې بربنډ کړي، جنسي تېری ئې پرې کړی، برقي شوکونه ئې ورکړي، بلکي روزل شوي سپي ئې ورتوشلي چي هم سپکاوی ورواړوي او هم ئې وداړي. د کندهار او بګرام په اډو کي چي امریکایانو له بندیانو سره څه کړي د انسانیت په تاریخ کي ئې ډېر کم مثال موندلی شو، دوی په خپلو بې رحمانه جنایاتو سره د روسانو مخ هم سپین کړ او دا ئې وښوده چي د KGB تعذیبونه باید د CIA په پرتله د شریفو اروپائیانو چلند وګڼو. امریکایانو یوازي د بګرام په زندان کي د دریو بندیانو په وژلو اعتراف کړی! او دا هم هغه وخت چي د بشري حقوقو یوې ټولنې د امریکایانو په لاس د دوی تعذیب او وژنه افشاء کړه.

مرګ پر اشغالګرانو

سرلوړي او بریالي دي وي مجاهدین

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

حکمتیار

۱۳۸۳۱۲۱۱۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# وضاحت

حزب اسلامي افغانستان د څو خبرو وضاحت کوي:

- په کندز کي په چينائي کارګرانو باندي د بريد په اړه بايد ووايو چي دا د مجاهدينو د هيڅ ډلي لخوا نه دی شوی، مجاهدين په انګرېزانو، امريکايانو او په هغه چا بريد کوي چي افغانان وژني او د دوی هېواد ئې نيولی دی، په چينائي کارګرانو د بريد لپاره هيڅ توجيه او دليل نه ګوري. په يقين سره وايو چي دا بريد د امريکايانو لخوا شوی، همغه امريکايان چي په ګوادر کي ئې هم په چينائي کارګرانو بريد وکړ او په يوګوسلاويا کي ئې هم د دوی په سفارت بمونه وورول. د دې تر شا د سي آی اې لاس دی، غواړي چين په افغانستان او پاکستان کي د فعال حضور له هڅو لاس په سر کړي. د چين چارواکي بايد دې ته متوجه وي چي په سي آی اې پورې د تړلو حلقو په راپورونو باور ونه کړي، شورای نظار چي په دې اړه کوم څه ويلي دا ئې د امريکايانو په وينا ويلي، هرچا ته معلومه ده چي دا ډله د ډبل جاسوسانو ډله ده، مخکي د کي جي بي لپاره د خپل ولس په ضد لګيا وه او اوس د سي آی اې نوکري کوي.
- په دې اونۍ کي په ځينو پاکستاني اخبارونو کي ورور حکمتيار ته منسوب بيان نشر شوی چي نه دا بيان د ده دی او نه په هغه کي راغلې خبري د ده دي، د حزب اسلامي کوم بل مقام او دفتر هم داسي بيان نه دی ورکړی، معلومه نه ده چي دا بيان چا ورکړی او د څه لپاره؟! خو يوه خبره څرګنده ده چي بيان ورکوونکي غوښتي له يوې خوا د حزب اسلامي او طالبانو ترمنځ سوء تفاهم راولاړ کړي او له بلي خوا داسي وښيي چي حزب اسلامي په هرڅه کي د طالبانو حمايت کوي. خو موږ نه د طالبانو په داخلي امورو کي مداخلت کوو او نه له طالبانو سره تراوسه

کومه موافقه لرو. موږ ببېل او د خپلي اسلامي تگلاري مطابق په جهاد لگيا يو او دوی ببېل.

- د انتخاباتو په اړه زموږ دريځ دا دی چي د هېواد د اشغال په حالت کي انتخابات، لويه جرگه او د اساسي قانون تصويب د اشغالگرانو غولوونکي ډرامې گڼو چي غواړي افغانان مصروف کړي او خپل لاس پوڅي حکومت ته مشروعيت ترلاسه کړي، خو د دې سره سره زموږ نظر دا وو چي که داسي کوم کس د جمهوريرياست لپاره کانديد شي چي د هېواد په خپلواکۍ باور ولري، د روسي او امريکائي يرغلگرو ملگرتيا ئې نه وي کړې، له افغانستان نه د ټولو بهرنيو ځواکونو بلاقيد او شرط او فوري وتل وغواړي او په خپلواك افغانستان کي د واقعي اسلامي نظام قائمول ئې هدف وي، نو موږ به ئې ملاتړ کوو او ولس ته به وايو چي همدې کس ته په رأيو ورکولو سره دښمن ته په خوله سوك ورکړئ او ورته وښيئ چي افغانان نه د پرديو غلامي مني او نه د پرديو غلامانو ته رأيه ورکوي، خو متأسفانه تراوسه پورې داسي کوم کس نه دی راواړاندي شوی، نو ځکه اوس ولس ته وايو چي په دې انتخاباتو کي په برخي نه اخيستلو سره دنيا ته وښيئ چي افغانان له غلامۍ او غلامانو نه کرکه لري.
- موږ به ترهغه جهاد ته ادامه ورکوو چي ټول نيواکگر ځواکونه زموږ د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې نه ووځي او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د افغان ولس د خوښي اسلامي حکومت قائم شي، د اشغال په دوران کي له دښمن او د هغه له ذليلو گوډاگيانو سره هر راز تفاهم او سازش د خپلو اسلامي اصولو خلاف گڼو. افغان ولس ته بلنه ورکوو چي دا په نيمه لار کي پاتې مخکنی انقلاب تکميل کړي، د شر او فساد د ځواکونو او د ظالمانو، مفسدينو، ملي خائنانو او جنايکارانو واکمني پای ته ورسوي او په عدالت ولاړه سوکاله اسلامي ټولنه جوړه کړي. په دې مبارزه کي به موږ د سابق په څېر په هر محاذ او هر وخت کي د خپل ولس په څنگ کي وو.

حزب اسلامي افغانستان
۱۳۸۳/۳/۱۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# مقاطعه با انتخابات امریکائی

در حالیکه کشور عزیز ما افغانستان توسط نیروهای صلیبي اشغال گردیده، زمام امور کشور بطور مطلق در دست جنرالان امریکائي بوده، و این اشغالگران امریکائي اند که از میان خائنین به ملت، جنایتکاران جنگی، عناصر دین فروش، وطن فروش، مفسد و منافق، فرومایه ترین آنان را ، همانهائی که بیش از دیگران بیگانه پرست، وفادارتر به اجانب و خادم تر به منافع آنان اند ، انتخاب نموده، عده ای را در حکومت، برخی را در صفوف اردو ، و شماری را در پولیس بکار می گیرند ، این جنرالان امریکائي اند که تصمیم می گیرند چه کسی را بکدام کاری بگمارند ، چه کسی را به زندان بکشند ، تبعید و تعقیب کنند ، بر کجا بم بریزند ، کدام خانه و دفتر را تفتیش نموده، برعزت و آبروی صاحب خانه، مامور و افسر تجاوز کنند ، آنها نیز مثل روسها عده ای از افغانان فرومایه، بی مروت و نامرد را که دیروز روسها آنها را علیه ملت ما جنگاندند و امروز تحت قومنده جنرالان امریکائی و انگلیس برضد مردم خود می جنگند ، بکار گرفته اند. حکومت دست نشانده کابل که به زور بازوی امریکائي ها بر کابل مسلط شده، در واقع به خواست و موافقه واشنگتن و مسکو تشکیل گردیده و وزارتخانه هایش به گروه هائی تعلق گرفته که سابقه خدمت به اجانب را داشته و وابسته به کشورهای بیگانه اند. حال امریکا می خواهد بر پیشانی این حکومت دست نشانده ساخت بن مهر حکومت منتخب بزند ، برای این منظور درامه مسخره و مضحکه آمیزی تحت عنوان انتخابات را براه انداخته، انتخاباتی که امنیت آنرا نیروهای صلیبي تأمین نموده، مصارف آنرا امریکا تأدیه می کند ، کولن پاول وزیر خاجه امریکا قبل از برگزاری انتخابات اعلان می کند که اگر در افغانستان انتخابات برگزار شود ، یا به تأخیر بیفتد و یا برگزار نشود در هر صورتی کرزی جوان رئیس جمهور خواهد بود!! خلیلزاد نماینده خاص بش و جاسوس بدنام سی آی ای می گوید: کرزی بدیل ندارد!

از ترکیب کاندیدان ریاست جمهوری به صراحت معلوم می شود که حکومت آینده همان حکومت ساخت بن خواهد بود، حکومتی که وزراء آن توسط هیئت های امریکائي و روسي برگزیده شد، حال و بعد از انتخابات امریکائي رئیس جمهور آن وفادار به امریکا و معاونین آن وابسته به روسیه خواهند بود.

امریکائی ها می خواهند این انتخابات قبل از انتخابات آینده امریکا برگزار شود، تا جورج بش از آن در مبارزات انتخاباتی اش به عنوان دستآورد و موفقیت در سیاست خارجی اش و چون نمونه صدور دیموکراسی امریکائی به افغانستان تحت اشغال نیروهای امریکائی استفاده کند! انتخابات افغانستان در واقع جزء کمپاین انتخاباتی جورج بش است. افغانان غیور و سر بلند باید با عدم شرکت خود در این انتخابات امریکائي سیلی محکمی بر روی بش بکوبند و به جهانیان ثابت کنند که افغانها آزادی می خواهند، نه حکومت دست نشانده اجانب را می پذیرند ونه انتخابات مسخره در زیر برچه سربازان امریکائي و در سایۀ بی **۵۲** امریکائی را.

برادر عزیز افغانی ام! اگر ایمانت را حفظ کرده ای، به آزادی کشورت عشق می ورزی، از زندگی ننگین در اسارت اجانب نفرت داری، سلطه بیگانگان و غلامانش را بر کشورت نمی پسندی، تجاوز اجانب بر عزت، آبرو و ناموس افغانان را که هر روز شاهد نمونه هایش هم در زندانهای امریکائي و هم در پایگاه های نظامي اش هستی تحمل نمی کنی، باید کم از کم از اشتراك در انتخاباتی ابا ورزی که تحت سلطه اجانب برگزار می شود و دادن رأی به کسی را مایه شرم و سرافگندگی بشماری که نوکر دشمنان دین و وطن تو اند. اشتراك در این انتخابات و رأی دادن به یکی از کاندیدان آن چنان است که به جورج بش، بلیر و پوتین رأی بدهی، و از جنگ و تجاوز آنان علیه تمامی مسلمانان جهان حمایت کنی، با چنین حمایتی در دنیا در زمره آنان محسوب خواهی شد و در آخرت نیز در قطار آنان و تحت پرچم شان در برابر محاسبه الهی قرار خواهی گرفت. افغانان متدین، خداپرست، متعهد به اسلام، وطنخواه و آزادی خواه باید به دنیا باری دیگر ثابت کنند که نه به غلامی تن می دهند، نه به غلامان اجانب رأی می دهند و نه در

انتخابات مورد پسند بیگانگان شرکت می کنند.

کسانیکه در جهاد مقدس ضد تجاوز شوروی بااخلاص و صداقت شرکت ننموده، بخاطر پول، چوکی، و اغراض پست دیگری با مجاهدین یکجا شده بودند، این عناصر منافق اکنون از صفوف مجاهدین کنار خواهند رفت، علیه جهاد و مجاهدین تبلیغات خواهند کرد، در برابر امریکائي ها دست بر سینه خواهند گذاشت، از حکومت امریکائي حمایت خواهند کرد، و تحت فرمان آنان علیه ملت خود خواهند جنگید. اینها عناصر فرومایه، ذلیل و بی مروتی اند که دوستی شان با هیچ کسی صادقانه نبوده، و سود شان به هیچ کسی نمی رسد، تجرید شان از صفوف مجاهدین موجب تقویه هرچه بیشتر مجاهدین خواهد شد.

افغانهای مؤمن باید در این امر هیچ تردید و شکی نداشته باشند که اشغالگران امریکائي، به فضل و عنایت الهی، و در نتیجه قربانی ها، صبر و صمود مجاهدین مؤمن مثل نیروهای متجاوز شوروی با سرافگندگی از کشور ما خارج خواهند شد و آنگاه، إن شاء الله، افغانهای امریکائي با همان وضعیتی ذلتبار مواجه خواهند شد که رفقای کمونست شان و مؤتلفین آنان با آن روبرو شدند. تاریخ گواه صادق این حقیقت است که پیروزی نهائي از آن حق پرستان و آزادی خواهان مجاهد بوده، عاقبت مستکبرین و همکیشان فرعون و غلامان شان چیزی جز رسوايي و ذلت نمی باشد.

قرآن می فرماید:

... استَعینُوا بِاللّهِ وَ اصبرُوا إنّ الأَرْض للّهِ يُورِثُهَا مَن يَشاءُ مِنْ عِبَادهِ وَ الْعَقبَةُ لِلْمُتّقِينَ *

... از خدا استمداد بجوئید و شکیبائی ورزید، زمین ملك خداست، به هر كي از بندگانش بخواهد به میراث می دهد، و انجام نیکو از آن پرهیزگاران است.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۳/۵/۱۲۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیام

وَ مَا لَکمْ لا تُقَتِلُونَ فی سبیِل اللّه وَ الْمُستَضعَفینَ منَ الرّجَالِ وَ النّساء وَ الْوِلْدَنِ الّذینَ یَقُولُونَ رَبّنَا أخْرجْنَا منْ هَذه الْقَرْیَةِ الظَالِمِ أهْلُهَا وَ اجْعَل لّنَا مِن لّدُنَك وَلِیًّا وَ اجْعَل لّنَا مِن لّدُنك نَصِیراً *

به دلیر مردان مجاهد شمال کشور!

به شما وارثان مجاهدین سربلند و قامت کشیده دوران مقاومت در برابر تجاوز شوروي!

به شما که سلف مجاهد تان با قربانی ها، حماسه آفرینی ها و حملات کوبنده شان بردشمن، داستانهای همیشه به یادماندنی را در صفحات زرین تاریخ مقاومت ثبت کردند، حماسه هائي که هرگز فراموش نخواهد شد، هم دشمن همواره به یاد خواهد داشت و هم ملت سرافراز ما!

به شما می گویم: چرا امروز که کشور تان بار دیگری بدست دشمنان اسلام اشغال شده است و وضعیت بدتر از سابق را بر کشور تان تحمیل نموده، استقلال، آزادی و حاکمیت ملي تان توسط نیروهای اشغالگر سلب گردیده و هویت اسلامی میهن تان به شدت تهدید می گردد، چرا خاموش و ساکت نشسته اید و چرا نظاره گر بی تفاوت این وضعیت غم انگیز و دردآور؟! مگر غیرت وهمت سلف مجاهد و آزاد منش تانرا از دست داده اید؟! آیا به این زندگی ذلت آور و ننگین راضی شده اید و بیم از دشمن، شهامت و ایمان تانرا کم رنگ ساخته و شما را به سکوت در برابربیگانگان واداشته است؟! چرا راضی شده اید که عده ای از وطن فروشان بی ننگ و بی ایمان، گاهی شما را به روسها و کمونست ها می فروشند و تحت

قومنده جنرالهای روسی و پرچمی با برادران افغاني تان می جنگانند، و گاهی به انگلیسها و امریکائی ها می فروشند و فرزندان تانرا بخاطر منافع بیگانگان می جنگانند؟! به چشم خود می بینید که امروز در میدان هوايي بگرام و در اطراف پایگاه های نظامی نیروهای اشغالگر در کابل چه می گذرد، مگر از تجاوزات وحشیانه و بی رحمانه امریکائی ها بر زندانیان مظلوم در زندان جهنمی گوانتانامو و بیست زندان امریکا در پایگاهای نظامی اش در افغانستان، بر علاوه چندین زندان خصوصی دیگر در شهر کابل اطلاعی ندارید؟ مگر از داستان تجاوز عساکر امریکائی بر هشت مترجم پروانی و پنجشیری شان اطلاع نیافتید؟ مگر نمی بینید که جنایتکاران امریکائی بر تمامی این زندانها در پایگاههای نظامی شان اکتفا ننموده، به همکاری شورای نظار زندان خصوصی دیگری را در شهر کابل کشوده، زندانیان بي دفاع و مظلوم را با بی رحمانه ترین و وحشیانه ترین شیوه ها شکنجه نموده، برای ساعات طولانی از سقف اطاقها از پا آویزان کرده و آب جوش بر بدن برهنه شان پاشیده، شکنجه هائی که کمونستها و روسها از آن شرم داشتند و شکنجه گران سفاك امریکائی در زندانهای ابوغریب، بگرام و گوانتانامو از اعتراف به آن احساس خجالت می کنند، ولی سردمداران خبیث گروههای وابسته نه از همکاری شان با شکنجه گران امریکائی انکار کردند و نه آنرا محکوم نمودند!! مگر نمی بینید که این وطنفروشان فرومایه و ذلیل، فرزندان شما را وادار می سازند تا به پایگاههای نظامی بیگانگان رفته به عنوان مزدور و سرباز ثبت نام کنند، و در کنار سربازان امریکائی و انگلیسي و تحت فرمان آنان علیه ملت خود بجنگند؟ پدران و برادران مجاهد شما در گذشته بخاطر دفاع از ننگ و ناموس خود به هر قربانی آماده بودند، از این باکی نداشتند که در راه دفاع از دین و آزادی، وجب وجب کشور به خون آنان سرخ شود، نمی دانیم شما را چه شده و سکوت شما را در برابر این وضع غم انگیز و شرم آور چگونه توجیه کنیم؟

ما در این مدت دونیم سال گذشته هر روزی منتظر بودیم که حماسه آفرینان شمال کشور امروز و فردا قیام خواهند کرد، یکجا با مجاهدین مؤمن ولایات شرقی، جنوبی و جنوب غربی کشور بر دشمنان هجوم خواهند برد، مجاهدانی چون

استاد عبدالودود شهید، انجینیر حمیدالله شهید، شهادتیار شهید، سید حمیدالله شهید، سیدجان شهید، شاهد شهید، نیازی شهید، انجنیر سلیم شهید، منصور شهید، بنوال شهید، ثارنوال عبدالروف شهید، موحد شهیدو سائر سروران حماسه آفرین، بار دیگری از میان آنان سر خواهد افراشت، و جوانان دلیر و سربه کف این سرزمین مردخیز در هر قدمی در برابر دشمن در کمین خواهند نشست و هر یکی عده ای از اشغالگران را به جهنم خواهند فرستاد و در مجموع شمال کشور عرصه را بر دشمن تنگتر و تنگتر خواهد ساخت و... ولی متأسفانه این انتظار تا حال برآورده نشد!! بر عکس می بینیم که در شمال کشور ملیشه های دوران شوروی و گروه های وابسته به مسکو امروز در خدمت متجاوزین امریکائی اند و به زور بازوی آنان بر آن حوزه حکومت می کنند، و تفنگداران مزدوری را از این منطقه به کمك امریکائی ها به کنر، پکتیا و کندهار می فرستند تا تحت قومنده آنان علیه مجاهدین این ولایات بجنگند!!

مردم غیور شمال کشور!

- برادران مجاهد شما در سائر ولایات، با خدای خود تعهد کرده اند که تا آخرین قطره خون خود در برابر دشمن خواهند جنگید و تا راندن آخرین فرد نیروهای اشغالگر از کشور خود سلاح را برزمین نخواهند گذاشت.
- مطمئن باشید که نیروهای انگلیس- امریکائی مثل نیروهای اشغالگر شوروی، با ذلت و سرافگندگی از میهن عزیز ما رانده خواهند شد، و مجاهدین مؤمن و قهرمان ما از این آزمون بزرگ الهی نیز پیروزمند و سربلندبیرون خواهند رفت، و شرمندگی دائمی برای کسانی خواهد ماند که یا به دشمن تسلیم شدند و یا از پیوستن به صفوف مجاهدین آزادی خواه خودداری ورزیدند.
- اگر اشغالگران در نتیجه مقاومت ها و قربانی های مجاهدان سربلند سائر ولایات، از کشور اخراج شدند، جواب شما به آنان و به تاریخ آینده کشور چه خواهد بود؟
- تا چه زمانی این ذلت و رسوایی وسلطه اجنبی و اجنبی پرستان و تجاوز به ننگ و ناموس را تحمل می کنید؟

- آیا رابطه تانرا با گذشته های تابناك و با سلف قهرمان و مجاهد تان بریده اید و امروز میان شما چند رزمنده متعهد به اسلام و مجاهد آزادمنش نیز یافت نمی شود؟
- بیائید باعدم اشتراك در انتخابات امریکائی و عدم رأی به تمامی کاندیدان وابسته، حامی حضور نیروهای بیگانه در کشور و موافق با اشغال میهن بدست نیروهای صلیبی، سیلی محکمی بر روی جورج بش و تونی بلیر بکوبید و به دنیا باردیگری ثابت کنید که افغانهای مؤمن و آزادیخواه، جز آزادی کامل و خروج تمامی نیروهای اجنبی و تأسیس حکومت منتخب اسلامی در افغانستان آزاد و مستقل، به هیچ چیزی دیگر راضی نخواهند شد، نه انتخابات امریکائی را می پذیرند، نه حکومت مزدور و وابسته را و نه نامزدهای تحت حمایه اجانب را.
- بیائید با سهمگیری فعال در جهاد اسلامی، و بیزاری و برائت از وطنفروشان خائن به اسلام و ملت، و عدم حمایت از دین به دنیا فروشان، مسئولیت بزرگ الهی و واجب اسلامی تانرا ادا نموده، تاریخ پر شکوه آباء و اجداد تانرا زنده کنید و خلف ناصالح، زبون و بي همت برای آنان نباشید.

مرگ بر امریکای جنایتکار و وحشي
زنده باد اسلام
پیروز و سربلند باد مجاهدین

حکمتیار
افغانستان ۱۳۸۳۱۵۱۲۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# له امريکائي انتخاباتو سره مقاطعه

په داسي حال کي چي افغانستان د صليبي ځواکونو په لاس اشغال شوی، د هېواد واګې د امريکائي جنرالانو په لاس کي دي او دا امريکائي اشغالګران دي چي له ملي خائنانو، جنګي جنايتکارانو، دين پلورونکو، وطن خرڅوونکو، مفسدينو او منافقينو نه د خپلي خوښي څېرې او هغه چي ترنورو زيات دوی ته وفادار وي غوره کوي، ځيني په حکومت کي نيسي، ځيني په اردو کي او ځيني په پوليسو کي، دا پرېکړه دوی کوي چي څوك چيرته او په کوم کار وګماري، څوك په زندانونو کي واچوي، څوك تبعيد کړي، چيرته بمونه ووروي، کوم کور او دفتر تلاشي کړي، د کور باعزته خاوند سپك او د مامور او افسر په عزت تېری وکړي. دوی د روسانو په څېر همغه بې مروته او نامرده افغانان استخدام کړي چي پرون روسانو د افغانانو په ضد وجنګول او نن د امريکايانو تر قومندې لاندي د ولس په ضد جنګېږي، د امريکايانو په زور پر افغان مظلوم ولس مسلط شوی لاس پوڅی حکومت په اصل کي د واشنګټن او مسکو په خوښه او موافقه جوړ شوی او وزارتونه ئې په هغو ډلو وېشل شوي چي په پرديو پورې تړلې دي. اوس امريکا غواړي دغه لاس پوڅي حکومت ته د يوه منتخب حکومت نوم ورکړي، د دې لپاره ئې د مسخره انتخاباتو خندوونکې ډرامه جوړه کړې، داسي انتخابات چي صليبي ځواکونه ئې امنيت تأمينوي، د امريکا خارجه وزير کولن پاول لا د مخه وايي چي که انتخابات وشي يا ونشي په هرصورت کي به ځوان کرزی جمهور رئيس وي! د بش خاص استاځی او د سي آی اې بدنام جاسوس خليلزاد وايي چي کرزی بديل نه لري! او د کانديدانو له ترکيب نه په ډاګه معلومېږي چي راتلونکی حکومت به

همغه وي چي په بن کي جوړ شو او وزيران ئې امريکائي او روسي هئيتونو غوره کړل، اوس به ئې جمهور رئيس امريکا پلوه او معاونان ئې روس پلوه وي.

امريکايان غواړي دا انتخابات د امريکا له انتخاباتو نه د مخه ترسره شي، ترڅو جورج بش له هغه نه په خپلي انتخاباتي مبارزې کي د بوې لاس ته راوړنې او بريا او په اشغال شوي افغانستان کي د امريکائي ديموکراسۍ د پلې کولو د بېلگي په توگه استفاده وکړي. د افغانستان انتخابات په اصل کي د جورج بش د انتخاباتي کمپاين يوه برخه ده. غيرتي او ميړنی افغان ولس بايد په دې امريکائي انتخاباتو کي په نه برخه اخيستو سره جورج بش ته پر مخ کلکه څپېړه ورکړي او نړۍ والو ته وښيي چي افغانان آزادي غواړي، نه د پرديو لاس پوڅی حکومت مني او نه د امريکايانو د بی ۵۲ تر سيوري لاندي مسخره انتخابات.

زما ورونو، خويندو! که څوك ايمان لري، له خپلواکۍ سره ئې مينه وي، د غلامۍ ژوند نه خوښوي، پر خپل هېواد د پرديو او د دوی د غلامانو واکمني نه غواړي، د افغانانو په ننگ، عزت او ناموس د پرديو هغه تېري نه زغمي چي بېلگې ئې هم په امريکائي زندانونو کي او هم د دوی په نظامي اډو کي هره ورځ په سترگو گوري، نو لږ تر لږه بايد په هغو انتخاباتو کي له برخي اخيستو ډډه وکړي چي د پرديو تر سلطې لاندي ترسره کېږي او هغه چا ته رأيه ورکول د شرم او پېغور خبره وگڼي چي زموږ د دين او وطن د دښمنانو نوکران دي. په دغو انتخاباتو کي برخه اخيستل او په صندوقونو کي ئې کوم کانديد ته رأيه ورکول داسي ده لکه چي څوك بش، پوتين او بلير ته رأيه ورکړي او د نړۍ د ټولو مسلمانانو په ضد د دوی د يرغلونو ملاتړ وکړي، په دې ملاتړ سره به په دنيا کي هم د دوی په ډله کي شمېرل کېږي او په آخرت کي به هم له دوی سره يو ځای د خدای په وړاندي ودرېږي. پرخپل دين ولاړ او پر آزادي او خپل وطن مين افغانان بايد دنيا ته ثابته کړي چي نه غلامي مني، نه غلامانو ته رأيه ورکوي او نه د پرديو د خوښي انتخاباتو کي برخه اخلي.

چا چي د روسانو په ضد مقدس جهاد کي په اخلاص سره برخه نه وه اخيستې او د پيسو او کرسيو لپاره له مجاهدينو سره يوځای شوي وو دا منافقين به نن د

مجاهدينو له ليكو نه ببلېږي، د جهاد او مجاهدينو په ضد به تبليغات کوي، امريکايانو ته به لاس په سينه ودرېږي، د امريکائي حکومت ملاتړ به کوي او د پرديو تر قومندې لاندې به له خپل ولس سره جنګېږي. خو دا هغه ذليل او بې مروته کسان دي چې له هيڅا سره ئې ملګرتيا صادقانه نه ده او هيڅا ته ئې ګټه نه رسېږي، د مجاهدينو له ليکو نه د دوی رتل کېدل د جهاد د مزيد پياوړتيا باعث کېږي.

افغانان بايد په دې کې هيڅ شك ونه لري چې امريکايان به د الله په مرسته او د مجاهدينو د قربانيو او صبر په نتيجه کې د روسانو په څېر سرکوزي له افغانستان نه وځي او بيا به إن شاء الله په امريکائي افغانانو همغه حالت راځي چې په کمونستانو او د دوی په ائتلافي ملګرو راغی. تاريخ په دې شهادت ورکوي چې وروستۍ بريا د حق پالونکو او آزادي غوښتونکو ده او د مستکبرينو او ظالمانو او د دوی د ملګرو او غلامانو پای او عاقبت له رسوايي او سپکاوي نه پرته بل څه نه وي.

قرآن همداسي فرمايي:

... استَعينُوا بِاللّهِ وَ اصبرُوا إنّ الأرْض للّهِ يُورِثُهَا مَن يَشاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَ الْعَقبَةُ لِلْمُتّقِينَ *

... له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، ځکه خو د الله ده، له خپلو بندګانو نه ئې هغه چا ته په ميراث ورکوي چې دی ئې غواړي او نيکه پايله خو د متقيانو ده.

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۳۱۵۱۲۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

يَأيهَا الّذِينَ ءَامَنُوا لا تَتّخذُوا الْيهُودَ وَ النّصرَى أوْلِيَاءَ بَعْضهُمْ أوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَ مَن يَتَوَلهُم مّنكُمْ فَإِنّهُ مِنهُمْ إِنّ اللّهَ لا يَهْدِى الْقَوْمَ الظلِمِينَ * المائدة:۵۱

اې مؤمنانو! يهود او نصارى په ملګرتيا مه نيسئ، دوى خو په خپلو کې سره ملګري دي او له تاسو نه چې هرڅوك له دوى سره ملګرتيا وکړي، د دوى له ډلي نه به (يهودي او مسيحي) ګڼل کيږي او الله د ظالمانو دا ټولى نه هدايت کوي.

ګرانو هېوادوالو!

o يو ځل بيا خپل مظلوم ولس ته اطمئنان ورکوم چې له اسلام نه د دفاع او د خپل هېواد د آزادۍ په روان جنګ کې به د تل په څېر دوى په ټنګ کې وو ، جهاد ته به ترهغه ادامه ورکوو چې ټول بهرني اشغالګر ځواکونه زموږ له هېواد نه ووځي او په خپلواك او آزاد افغانستان کې د ملت د خوښي اسلامي حکومت قائم شي. د الله د لاري مخلص مجاهدين نه د خپل هېواد په يوې لوېشت باندي د بهرنيو ځواکونو شته والى او سلطه مني، نه د هېواد د اشغال په دوران کې له جهاد او مقاومت نه د يوې شېبې لپاره لاس اخيستو ته تيار دي او نه د پرديو د وسلو او پيسو په زور تپل شوو حکومتونو کې د برخي اخيستو تور داغ په خپلي لمنې منلى شي.

o موږ له لومړۍ ورځي نه اعلان کړى چې بهرني ځواکونه دې له افغانستان نه

ووځي او افغانان دې پرېږدي چې خپل برخليك په خپله ، د خپلو معتقداتو په رڼا کي او له بهرني فشار او مداخلې نه پرته وټاکي، اوس هم زموږ خبره همدا ده، که دا شرائط ومنلی شي، هم خبرو ته تيار يو، هم په هېواد کي د امنيت په تأمين کي مرستي ته او هم په انتخاباتو کي برخي اخيستو ته. امريکايان دې هم پوه شي چې د افغانانو جهاد به د هېواد تر کاملې خپلواکۍ او له افغانستان نه د ټولو بهرنيو ځواکونو ترايستو او د يوه آزاد، خپلواك او اسلامي افغانستان تر جوړېدو دوام کوي. موږ ډاډه يو چې د اشغالګرانو په ضد د بل اسلامي پاڅون ورځي رانږدې دي، په کنر، ننګرهار، پکتيا، پکتيکا، زابل، ارزګان او نورو ولاياتو کي چې د مقاومت او په اشغالګرو ځواکونو د مسلسلو بريدونو کوم حال دی او شمال ته چې د مقاومت د پلوشو د خورېدو کوم وضيعت دی، د همدې خبري زېری ورکوي، افغانان تر دې زيات د انګرېزانو او امريکايانو ظلمونه، فسادونه او په دين، عزت او ناموس د دوی تېری نه شي زغملی.

o امريکا په تېرو دريو کلونو کي د ټولو وحشيانه بريدونو، بمباريو، نيونو او وژنو سره سره په دې ونتوانيده چې مقاومت وځپي او د پراختيا مخه ئې ونيسي، د طالبانو د حکومت له نسکورولو نه پرته ئې خپل هيڅ هدف ترلاسه نه کړی شو. له دې نه وروسته خو به نه د دې هېواد په هيڅ ځای کي آرامه ورځ تېره کړی شي، نه به ئې له افغانستان نه د ښو خبرونو ترلاسه کولو آرمان ترسره شي، نه به امنيت راوستی شي، نه به د مرکزي آسيا تېل او ګاز له دې لاري انتقال کړی شي او نه به د اسلامي حکومت د جوړېدو مخه ونيولی شي، له افغانستان نه به د شوريانو په څېر وځي او إن شاء الله د شوروي اتحاد په برخليك به اخته کېږي او د دوی ګوډاګی حکومت به هم د دوی له وتلو سره سم نسکورېږي.

o موږ مطمئن يو چې جورج بش به په خپلو جنګ غوښتونکو سياستونو سره د امريکا لپاره غوره بريژنف ثابت شي او امريکا به له همغو پايلو سره مخامخ کړي چې بريژنف شوروي ورسره مخامخ کړ، د نړۍ په ګوټ ګوټ کي ډېرو پوهانو او هغو چې غواړي نړۍ وال د امريکا له شر نه وژغورل شي، د دې تمنا کوله چې کاش بش يو ځل بيا انتخابات وګټي او امريکا څو کاله نور هم د بش د بدمعاشو

انډیوالانو په لاس کي پاتې شي، ترڅو امریکا د مزید تباهۍ په لور بوځي، شاید الله تعالی د همدغو کسانو د تمنا د تحقق لپاره بش ته د امریکا زمام سپارلی وي.
په عراق کي د دوی د مړو او ژوبلو شمېر ۱۱۴۰۰ او په افغانستان کي ۱۷۰۰ته ورسېدو، دا تلفات د اوږدې مودې لپاره نه شي زغملی، سږ کال امریکا تر شپږ سوه ملیاردو ډالرو نه زیاته تجارتي خساره درلوده، د ډالرو بیه ئې د یورو په نسبت **۳۵%** راپرېوته، د تېلو بیه تر پنځوسو ډالرو واوښته، د امریکا حکومت **۷۴۰۰** ملیارد ډالره پوروړی دی، سږ کال درې سوه اتیا ملیارده ډالره د بودجې کسر لري، په ټولي نړۍ کي د امریکا په ضد د عام او شدید تنفر کچه هغه ځای ته ورسېده چي د تاریخ په اوږدو کي د هیڅ استعماري ځواك په ضد نه وه لیدل شوې، په ټولي نړۍ کي د امریکا په ضد هومره مظاهرې وشوې چي مثال ئې په تاریخ کي نه شو موندلی... دا خبري د دې زېری ورکوي چي د امریکا د زوال ورځي رانږدې شوې. دا خبره عادي مه ګڼئ چي جان کیري د انتخاباتو د نتائجو له اعلان نه وروسته بش ته وویل: باید د امریکا د تجزیې مخه ونیولی شي!!

o امریکایان دې په دې هم پوه شي چي که پاکستان او ایران د دوی مرسته نه وی کړې نو نه ئې افغانستان نیولی شو او نه عراق او اوس هم که د دغو ملکونو مرسته نه وي نو ډېره ګرانه ده چي په عراق او افغانستان کي آرامه ورځ تېره کړي. خو وبه ګورو چي د دې هېوادونو چارواکي تر کومه د خپلو ولسونو د غوښتنو خلاف ستاسو ګوابښونو ته سر ټیټوي او د مظلومو افغانانو او عراقیانو په ضد ستاسو مرسته کولی شي!

په ایران کي زما د بانکي حساب د بندېدو په هکله چي له درواغو او مبالغو ډك کوم خبر خپور شوی په دې هکله څو وضاحتونه ضروري ګڼم:

o په داسي حال کي چي زما بانکي حساب درې کاله د مخه په همغه ورځ بند شوی چي ایراني چارواکو د امریکایانو په وینا او د هغوی د ارضاء لپاره له ایران نه زما د ایستلو فیصله وکړه، نه پوهېږم چي دوی د کوم غرض لپاره دا خبر په دې وخت کي او په دې غلط انداز کي خپور کړی، که دا پر ایران د برید په اړه د واشنګټن د وروستیو ګوابښونو په وجه وي نو زه ئې معذور ګڼم، سره له دې چي

باور لرم ایران په خپلو تنازلاتو سره نه یوازي امریکا نه شي راضي کولی بلکي هغه مزید جرئ کوي، په افغانستان او عراق کي چي ایران د امریکا کومه مرسته وکړه، تر دې چي د ایران په لاس روزل شوي او مسلح شوي افغانان او عراقیان د امریکایانو تر قومندې لاندي د خپلو ولسونو په ضد وجنګېدل او پکتیا او فلوجې ته د جنګ لپاره ولاړل، که دغو مرستو واشنګټن قانع نه کړ، بل به څه وي چي هغوی راضي کړي او د ګوانبونو مخه ئې ونیسي؟ که په افغانستان او عراق کي مقاومت نه وی نو خدای خبر چي امریکا به تراوسه له ایران سره څه نه وو کړي!! که امریکا پر ایران برید وکړ نو ستره وجه به ئې دا وي چي ایران د افغانستان او عراق په نیولو کي د امریکا ملګرتیا وکړه!

o دا هم د حیرانتیا وړ ده چي ولې په دروغو د اویا ملیونه ډالرو خبره کوي، په داسي حال کي چي ښه پوهېږي په دې حساب کي یو ډالر هم نشته، که زما په نامه د ایران په کوم بانك کي ډالر وي نو زه ئې ایران ته بخښم، د منجمد کولو په ځای دې هغه یا امریکایانو ته ورکړي او یا دې حزب الله او فلسطینیانو ته او یا د کابل هغو چارواکو ته چي یو وخت د دوی ملګري وو خو اوس د (شیطان بزرګ) په خدمت کي دي او د ډالرو په خاطر ئې د دوی وسله او خپل دین او وطن خرڅ کړ. ما همغه وخت ایراني مشرانو او چارواکو ته ولیکل چي د دې حساب بندول نه شرعي مجوز لري او نه حقوقي او قانوني توجیه، په دې کي د هغو افغاني کارګرانو د محدودو امانتونو نه پرته بل څه نه شته چي په ایران کي ئې کار کولو. نه خو د حضرت علی ( رض) مذهب د دې اجازه ورکوي او نه د امام حسین (رض) مذهب له ظالم او یرغلګر کافر سره د مظلوم مسلمان په ضد د ملګرتیا اجازه، نه خو امریکا په دې درواغجنو تبلیغاتو سره زما ولس غولولی شي او نه زما د جهاد مخنیوی کولی شي او نه تاسو امریکا خوشحالولی شئ، مخصوصاً که امریکایان پوه شي چي په دې کي هغه رقم نشته چي دوی ته په دروغو ویل شوي!! که زما د شهید پلار، ورونو، خپلوانو او د مبارزې او سنګر د ملګرو په نیولو او وژلو سره نه روسان وتوانېدل چي زما د جهاد مخه ونیسي او نه امریکایان، نو إن شاءالله په بل څه هم زموږ مخنیوی نه شي کولی، موږ جهاد داسي ګڼو لکه لمونځ او روژه او پرېښودل ئې داسي لکه د لمانځه

پرېښودل، موږ ژوند ته د يوه الهي امانت په سترګه ګورو چي د الله په لار کي وقف کول ئې خپل ديني مسئوليت او د نجات ذريعه ګڼو.

مرګ پر امريکا او د دوی پر بې ايمانه ملګرو

بريالي دي وي د اسلام د لاري مجاهدين

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۳/۱۰/۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

حزب اسلامي افغانستان د وروستيو جرياناتو په هکله لاندي وضاحتونه ضروري گڼي:

- موږ خپل مجاهد ولس ته اطمئنان ورکوو چي د حزب اسلامي مخلص مجاهدين به د تل په څېر د دوی په څنگ کي وي او د هر يرغلگر په ضد به په لومړي خط کي جنگېږي، هيڅکله به خپل مظلوم ولس يوازي پرې نه ږدي. موږ به تر هغه جهاد ته ادامه ورکوو چي د اشغالگرو ځواکونو آخري فوځي د جنرال گراموف په څېر سر ټيټی له افغانستان نه ووځي، افغانان خپلواکي ترلاسه کړي او زموږ د هېواد په هيڅ گوټ کي نه د پرديو بيرغونه رپېږي، نه ئې اډې وي، نه ئې راډيوگانې او ټلويزيونونه او نه محبسونه.
- د کابل د امريکايي حکومت دا ادعا په کلکه ردوو چي گواکي د حزب ځيني قومندانان امريکايانو ته تسليم شوي. دا ښکر ور دروغ دي، د سلهاوو نورو دروغجنو ادعاگانو په څېر، په کابل کي اوس د دروغجنو پاچايي ده، جورج بش د نړۍ د ټولوو دروغجنو پاچا دی، څوك چي خپل ولس، کانگريس او ټولي نړۍ ته په عراق د بريد په اړه هغه دروغ ويلی شي او د اټمي او کنږوژنو وسلو د شتون هغه دروغجنه دعوی کولی شي، نو د ده لاس پوڅو ته د داسي دروغو ويل گران کار نه دی. مسيحي امريکايان هره ورځ هومره دروغ وايي چي کمونست روسان پرې شرمېدل، دوی تراوسه په افغانستان او عراق کي د خپلو فوځيانو د مرگ ژوبلې حقيقي شمېر اعلان نه کړ، د افغانانو او عراقيانو د مرگ ژوبلې شمېر ئې څرگند نه کړ، د خپلو ملگرو انگرېزانو دا خبره ئې رد کړه چي په يوه کال کي يو لك عراقيان وژل شوي او اوس هره مياشت تر لس زره زيات عراقيان مري، که په عراق کي د

خبريالانو شتون دوی په ځينو خبرو اعتراف ته نه مجبورولی نو دا به ئې هم نه وو منلي چي تر اوسه يوزر پنځه سوه اويا امريکايان وژل شوي، لکه چي په افغانستان کي په خپلو تلفاتو اعتراف نه کوي او خپل ولس ته دروغ وايي.

- هيڅ با ايمانه او غيرتي افغان به پرديو ته تسليم نه شي، يا به مليشه دښمن ته تسليمېږي او يا کمونست چي نه ايمان لري او نه غيرت. افغانان په هر هغه چا لعنت وايي چي دښمن ته تسليم شوی او پر خپل هېواد د پرديو سلطې او واکمنۍ ته غاړه ږدي، قرآن هغه کسان د کافرانو په ډله کي ګڼي چي د کافرانو تر واکمنۍ لاندي ژوند کوي، په دې راضي وي او غواړي چي نور هم د دوی په څېر دښمن ته تسليم شي: قرآن فرمايي:

وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سواءً فَلا تَتَّخذُوا منهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتى يهَاجرُوا فى سبيل اللّه فَإِن تَوَلّوا فَخُذُوهُمْ وَ اقْتُلُوهُمْ حَيْث وَجَدتُّمُوهُمْ وَ لا تَتَّخِذُوا مِنهُمْ وَلِيًّا وَلا نَصِيراً * النساء: ۸۹

دا خوښوي چي تاسو هم داسي کافران شئ لکه دوی چي کافران شول، نو بيا به سره برابر شئ، نو تر هغه له دوی نه دوستان مه نيسئ چي د الله په لار کي هجرت وکړي، نو که ئې ډډه وکړه، نو وئې نيسئ او هر ځای چي ئې مومئ وئې وژنئ او مه له دوی نه کوم دوست نيسئ او مه کوم مرستندوی.

ګورئ چي قرآن داسي کسان منافقين ګڼي او مسلمانانو ته امر کوي چي تر هغه ئې خپل ملګري او دوستان مه ګڼئ.چي د کفر له سلطې نه راونه وځي او د کافرانو له ملګرتيا لاس وانه خلي، له دوی نه ځان وساتئ، د دوی هڅه دا ده چي تاسو هم د دوی په څېر شئ، تاسو هم له جهاد نه لاس واخلئ او دښمن ته تسليم شئ، دوی بايد د دښمن له ډلي څخه وګڼئ او په نيولو او وژلو ئې هيڅ صرفه مه کوئ او همغه څه ورسره وکړئ چي له دښمن سره ئې کوئ، هيڅ يو ئې مه خپل دوست ګڼئ او مه ترې د ملګرتيا طمع کوئ.

- امریکایانو ته وایو: موږ نن د واشنګټن د امپراطور په کالبوت کې د روم د امپراطور روح ګورو، نن ګورو چې له مظلومو مسلمانانو سره همغه څه کېږي چې دوه زره کاله مخکې د بش نیکونو له عیسی، یحیی او زکریا علیهم السلام او د دوی له باایمانه ملګرو سره کول. تاسو چې نن د ګوانتانامو، ابوغریب، بګرام او کندهار په زندانونو کې په مظلومو افغانانو او عربانو کوم وحشیانه ظلمونه کوئ، ستاسو پلرونو له عیسی علیه السلام او د ده له حواریونو سره همداسې کړي وو، که هغه صلیب د دوی د زامنو د غاړو طوق شو چې پلرونو ئې د عیسی علیه السلام حواریون ورباندې ځړول، په لاسونو او پښو ئې مېخونه ورټکوهل او په اور کې ئې غورځول او اوس د دوی د کلیساوو په دېوالونو هغه د ظلم او وحشت تصویرونه انځور شوي او ستاسو د پلرونو بې رحمي او قساوت خلکو ته ورپه یادوی، همداسې به راتلونکې نسلونه د دې زندانونو په تصویرونو کې ستاسو وحشت او بې رحمي رایادوی، دا به راتلونکې تاریخ او نسلونو ته په میراث پاتې کېږي او د تل لپاره به ستاسو د زامنو د غاړو طوق وي. که دلته ستاسو راتګ دا ټول وحشت له ځان سره درلود، خو له دې پلوه ښه وو چې تاسو راغلئ او موږ تاسو، ستاسو مذهب، ستاسو دیموکراسي او بشري حقوق په سترګو ولیدل، زموږ ځیني کم عقلان، ستاسو د مذهب، دیموکراسۍ او بشري حقوقو په هکله غولېدلي وو او رنګین رنګین خوبونه ئې ورته لیدل، اوس په حقیقت پوه شول او تاسو ئې ښه وپېژندئ، په خپلو سترګو ئې ولیدل چې تاسو له ځان سره څه راوړل: د غلو او ملي خائنانو واکمني، رشوت، اداري فساد، د ماشومانو تښتونې، شراب، قمار، نڅا، هندي او غربي بربنډ فلمونه، مخدره مواد، ایډز، ځان وژنې، غلا، شوکې، بې امنیني، فقر، لوږه ... دا افغانانو ته ستاسو سوغاتونه وو، تاسو یوازې په وطن پلورونکو او ملي خائنانو، بې دینه او بداخلاقو او لاابالي ناانسانانو اعتماد کوئ، څوك چې خپل هېواد په څو ډالرو پلوري، هغه به ولې رشوت نه خوري او ولې به په ظلم، اداري فساد او اختلاس کې ترستونې نه وي غرق؟ یو شریف افغان ستاسو په څنګ کې نه لیدل کېږي، شریف او وطنپال افغانان خو یا تاسو تروریست ګڼئ، یا ئې وژنئ او یا ئې ګوانتانامو ته لېږئ.

• په دې هم پوه شئ چې ستاسو له نظره تروریستان د خپل ملت له نظره اتلان دي او ستاسو په ناولو لاسونو چې کوم افغانان، عربان او پاکستانیان وژل شوي، خلکو د دوی د یاد ژوندي ساتلو لپاره د دوی پر قبرونو زیارتونه جوړ کړي، او هغوی ته د عیسی علیه السلام د حواریونو په سترګه ګوري.

• د ثور اتمه او له هغه نه راوروسته ټولي خونړۍ پېښې په حقیقت کې د اسلام او مجاهدینو په ضد د مسکو او واشنګټن د ګډې دسیسې نتایج وو، دوی او په دوی پورې تړلو ګاونډیو په ګډه د جبل السراج ائتلاف جوړ او د جګړو اور ئې بل کړ، د ثور اتمه د پرچمیانو کودتا وه، د جنرال نبي عظیمي او جنرال آصف دلاور تر مشرۍ لاندې، دا کودتا د جنرال دوستم د ملېشو په زور ترسره شوه، دا دوی وو چې نجیب ئې تیښتې ته اړ کړ او اقتدار ئې په لاس کې ونیو، غوښتل ئې کارمل راوړاندې کړي، خو د حزب اسلامي مجاهدین ئې مخې ته خنډ شول او د دوی کودتا شنډه شوه. د هغه چا عقل ته د هر باضمیره افغان ژړا راځي چې دا ورځ د مجاهدینو د بریې د ورځې په نامه یادوی، دا خو د جهاد او مجاهدینو په ضد او د یوه اسلامي حکومت له جوړېدو نه د مخنیوي لپاره د CIA او KGB د ګډې کودتا یوه کرغېړنه توره ورځ وه!! دا د ثور بله اوومه وه، هسې ئې نوم د ثور اتمه کړ!! که دا د جهاد د بریې ورځ وی نو نن به د هغو امریکایانو تر فوځي واکمنۍ لاندې نه لمانځل کېده چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له مسلمانانو سره په بل صلیبي جنګ کې بوخت دي!! امریکایان او روسان دې نړیوالو ته ووایي چې د ثور له اتمې وروسته ئې له دې ائتلاف سره څومره مالي او نظامي مرستې کړې او د څه لپاره؟ شل زره ملیارده افغانۍ ئې د څه لپاره شمالي ائتلاف ته چاپ کړې؟ هره ورځ ئې څو طیارې مهمات د څه لپاره بګرام او بیا تخار ته لېږل؟ د کولاب روسي اډه ئې ولې دې ائتلاف ته سپارلې وه؟ آیا دا ټول د دې لپاره نه وو چې په افغانستان کې د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه ونیسي، مجاهدین بد نام کړي او په پای کې د افغانستان د اوسني دیموکراتیك اشغال لپاره لار آواره کړي؟ آیا د ۱۱ ستمبر نه مخکې مسکو او واشنګټن په دې نه وو سلا شوي چې د تاجکستان او ازبکستان له لارې او د ۱۷۰۰۰روسي فوځونو په مرسته په ګډه پر افغانستان برید وکړي،

تخار او مزار ونیسي او شمالي ائتلاف ته ئې وسپاري؟

- مجاهدین به إن شاء الله د جهاد د بري ورځ هغه مهال لمانځي چي ټول بهرني فوځونه د افغانستان له لوېشت لوېشت خاورې څخه ووځي، د پردیو او د پردیو د بریځو سلطه پای ته ورسېږي، د افغان ولس د خوښي منتخب اسلامي حکومت جوړ شي، افغانان د خپل واك خاوندان شي او د اسلام شین بیرغ د هېواد په ګوټ ګوټ کي ورپېږي.
- افغانان دې مطمئن وي چي امریکایان به نه یوازي له افغانستان او عراق څخه وځي بلکي له پاکستان، ازبکستان، تاجکستان او عربي هېوادونو نه به هم خپلي اډې ورټولوي او بیا به إن شاء الله د شوروي په برخلیك اخته کېږي.

والله علی کل شئ قدیر

حزب اسلامي افغانستان

۸۴۱۲۱۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

د صلحې د کميسيون د هغو اظهاراتو په هکله چي په اسلام آباد کي ئې کړي، لاندي وضاحتونه کوو:

۱. معلومه نه ده چي دا کميسيون د چا لخوا ټاکل شوی، امريکايانو ټاکلی که د کابل چارواکو؟

۲. که د کابل چارواکو غوره کړی وي، دا چارواکي خو څه قدرت او اختيار نه لري، د دوی وضعيت خو داسي دی چي هره ورځ امريکايانو ته سوال کوي چي له خپلو نظامي عملياتو نه موږ خبروي تر څو بې گناه خلك ونه وژل شي، خو امريکايان نه دومره اهميت ورکوي او نه ورباندي اعتماد کوي او نه دا ضرورت احساسوي چي دوی خبر کړي، په کومه ورځ چي کميسيون په اسلام آباد کي کانفرانس درلود امريکايانو د لغمان په عليشنگ باندي لويه وحشيانه حمله وکړه، کلي ئې بمبارد کړل او په لسهاوو مظلوم او بې وزلي کليوال ئې په وينو کي ورغړول.

۳. که امريکايانو لېږلی وي نو د دوی وياند خو د کميسيون د مشر خبره تکذيب کړه، هغوی خو کرزی دې ته اړ کړ چي څه کسان به د لويې جرگې د غړو په نامه راغونډوي او دا فيصله به ورباندي امضا کوي چي امريکا دي په افغانستان کي دائمي نظامي اډې جوړي کړي!!

۴. د جگړي اصلي لامل خو د بهرنيو فوځونو حضور او د افغانستان اشغال دی، آيا بهرني فوځونه وتلو ته تيار دي؟ آيا کميسيون ته په دې هکله د څه ويلو او کومي فيصلې کولو صلاحيت ورکړی شوی؟ که دا صلاحيت نه لري نو کميسيون له

مجاهدينو سره په څه باندي خبري كوي؟

**۵.** د كميسيون لخوا دا خبره شوې چي مجاهدين به اساسي قانون مني!! دا اساسي قانون خو د امريكايانو اساسي قانون دی، د يوې امريكائي جرګې لخوا جوړ شوی، د هېواد د اشغال په دوران كي جوړ شوی، دا خو د كوم منتخب پارلمان لخوا نه دی جوړ شوی، د آزادۍ او خپلواكۍ په وخت كي د ولس د منتخبو استاځو لخوا نه دی تصويب شوی، مجاهدين به څنګه د پرديو د تسلط په وخت كي جوړ شوی اساسي قانون مني، دا قانون خو په كابل كي ناست كسان هم نه مني، كميسيون دې ووايي چي د دغه امريكائي قانون كومه برخه عملي شوې؟ آيا په كابل كي موجود فساد، بې ديني، فحشاء، بربنډ هندي او غربي فلمونه، شراب، قمار، نشه، بې امنيتي، شوكي، اداري فساد، اختلاس، د خلكو په سر، مال او عزت تېری، د ماشومانو تښتونې، د مخدره موادو تجارت، دا د دې اساسي قانون مطابق روان دي كه په خلاف ئې؟ كه د روغې جوړې معنا دا وي چي مجاهدين به د امريكايانو له تېري نه بيا د بن تر امريكائي جرګې او د كابل تر جرګو او د هغوی تر پرېكړو پورې او بيا اوس چي په كابل كي څه روان دي دا ټول به مني، نو دا خو يوازي هغه څوك منلی شي چي نه ايمان لري او نه غيرت، هيڅ با ايمانه افغان دا حالت نه شي منلی او دا خو يوازي په هغه صورت كي ممكن دی چي اشغالګران په اوضاع مسلط شي، مقاومت وځپي او ټول افغانان دوی ته تسليم شي!! خو تاسو له امريكايانو نه پوښتنه وكړئ چي دا هيله ئې شته كه نه؟ په تېرو درې نيموو كلونو كي خو دوی مقاومت ونه شو ځپلی، حتی د ورځ په ورځ پياوړي كېدو مخه ئې ونه شوی نيولی، نن چي پردوی كوم بريدونه كېږي او نن چي دوی هره ورځ كوم تلفات ګوري ، په تېره موده كي سابقه نه لري، چي مخكي مجاهدين تسليم نه شول اوس به څنګه تسليمېږي؟

**۶.** ترڅو چي بهرني فوځونه په افغانستان كي وي، نه امنيت راتلی شي، نه افغانان د خپلي خوښي حكومت جوړولی شي، نه د ملت او هېواد مدافع ملي فوځ او پوليس درلودی شي او نه يو اسلامي اساسي قانون جوړولی شي، فوځ او پوليس به ئې د اشغالګرانو لاس پوځي او د پرديو په خدمت كي وي او د خپل ولس

په ضد به جنگول کېږي، راډيو او ټلويزيون به ئې اخلاقي فساد خوروي او د دين او مذهب جرړې به قطع کوي، اقتدار به د مفسدينو او ملي خائنانو په لاس کي وي او هر شريف او وطنپال افغان به تروريست او د صلحې او امنيت دښمن ګڼل کېږي.

۷. موږ دغه کميسيون ته هم او ټولو افغانانو ته هم بلنه ورکوو چي د امريکايانو او انګرېزانو له ملګرتيا نه لاس واخلي او له خپل دين او وطن نه دفاع وکړي.

والسلام على من اتبع الهدى و جاهد فى سبيل الله

حزب اسلامي افغانستان

۸۴۱۲۱۲۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

وَ لَئِن قُتِلْتُمْ فی سبیل اللّهِ أَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّهِ وَ رَحْمَةٌ خَیرٌ مِّمَّا یجْمَعُونَ * آل عمران ۱۵۷

گرانو محصلينو !

دين پالونكو افغانانو!

د اسلام زړه ورو سپاهيانو! السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

پر قرآن ستاسو غيرت د نړۍ د ټولو مسلمانانو سر لوړ كړ، په ټول امت كي ئې نوې جذبه راژوندۍ كړه، په رښتيا چي ستاسو په رګونو كي د شهيدانو او غازيانوويني او ستاسو د زړه ورو او مجاهدو پلرونو احساسات او جذبات څپې وهي، تاسو نړيوالو ته وښوده چي د خپل دين، ايمان او وطن لپاره د خپل سر او وينو قرباني كولو ته تيار يئ، ستاسو د شهيدانو هره قطره وينه د دين په تله كي هومره وزن لري چي غرونه ورسره نه شي برابريدی، ستاسو د زخميانو هر په وينو سور وښتنه د زرهاوو هغو تش په نامه مسلمانانو او د دوی د ټول عمر تر هغه عبادت نه ډېر ډېر غوره دی چي د دښمن تړواكمنۍ او سلطې لاندي ئې كوي، ځان مسلمان ګڼي خو په داسي حال كي ئې هم وينه په جوش نه راځي او غيرت ئې نه خوځي چي قرآن ته سپكاوی شوی، د ده هېواد اشغال شوی، د ده په هېواد كي د پرديو بيرغونه رپېږي، هره ورځ په لسهاوو افغانان وژل كېږي او د لسهاوو افغانانو كورونه لټول كېږي او په عزت ئې تېری كېږي. دين پلورونكي سركاري مفتيان او د انګرېزانو مزدور مبلغين په خپلو كرغيړنو تبليغاتو سره ستاسو د قربانيو ستر قدر او لوړ ارزښت نه شي راكمولی، ځوك چي پر قرآن د غيرت په ځای خلكو ته د سكوت او د دښمن په وړاندي د سرټيټولو بلنه وركوي او د منبر په سر وايي چي د

دغو مظاهرو تر شا د دښمن لاس دی!! دا ډېر ذليل او سپك ناانسانان دي، د پرديو نوكري له پلار نيكه نه ورته په ميراث پاتې ده. خلك له دوی نه پوښتنه كوي چي كوم دښمنان د دغو مظاهرو تر شا دي؟ دښمنان خو اوس پر كابل حكومت كوي، دښمنان خو تاسو ته ډالر دركوي، تاسو ورته سركاري فتواګانې صادروئ او تبليغات ورته كوئ، هغه قرآن ته سپكاوی كوي او ته د دې په ځای چي امريكا وغندې يا د مظاهره كونكو ظالم او بې رحمه قاتلان محكوم كړې، برعكس مظاهره كوونكي ملامتوې، تا ته د دفتر ميز او چوكۍ اهميت لري خو د افغانانوويني اهميت نه لري!! دښمن خو دا دی ستا پوليس او فوځ د ولس په ضد جنګوي، په بې وزلو مظاهره كوونكو مشينګنې چلوي، اوس خو هم روس او هم امريكا او په دوی پورې تړلې ملكونه د كابل د موجوده نظام ترشا ولاړ دي او هم پاكستان او ايران، د پاكستان قنسلګري ته اور واچولی شو او ايران خو حتی د ګوانتانامو د پېښې په هكله څه غبرګون هم ونه ښودو، نو د مظاهرو تر شا د افغان ولس د ايمان او عقيدې پرته د چا لاس دی؟

دښمن غلط شوی چي ګومان كوي افغان ځوانان به په خپل دام كي واچوي، د دين او اخلاق ضد تبليغاتي هلو ځلو په نتيجه كي به له ځوانانو نه د دوی دين او ايمان واخلي، د دوی غيرت به ختم كړي او د دښمن غلامۍ ته به ئې چمتو كړي، دښمن ټول ځوانان په هغو څو ناانسانانو قياسوي چي د دښمن په لومو كي پرېوتي، خپل ديني او ملي هويت ئې له لاسه وركړي او خپل هر څه ئې د پرديو په پښو كي غورځولي.

زما وروڼو!

په ګوانتانامو كي د قرآن د بې حرمتۍ خبره د دې لپاره د نيوزويك په مجلې كي خپره شوې چي امريكائې چارواكي د متعصبو مسيحيانو او يهودانو لازيات ملا تړ او تائيد ترلاسه كړي، كه نه نو د اسلامي مقدساتو د سپكاوي دا سلسله له هماغه لومړيو ورځو نه د بګرام، كندهار او ګوانتانامو په زندانونو كي پيل شوې او تراوسه ئې لړۍ روانه ده، بش د جنګ په پيل كي وويل چي دا بل صليبي جنګ دی، كولن پاول د امريكا مخكني خارجه وزير وويل: ما پرويز مشرف ته په ټيلفون

کي وويل: په ۴۸ ساعتونو کي به ځواب راکوي چي په صليبي جنگ کي زموږ خوا ته ودرېږي که نه؟ او هغه د دې نېټې تر پوره کېدو د مخه د ملگرتيا اطمئنان راکړ!! د ابوغريب، بگرام او گوانتانامو له بنديانو سره د هغه وحشيانه او سپك چلند عکسونه هم د دغه مقصد لپاره د امريکا له انتخاباتو نه لږ مخکي مطبوعاتو ته وايستل شول او اوس د قرآن د سپکاوي خبره هم په دغه موخه د نيوز ويك لخوا خپره شوې. دا د مسلمانانو د نبض معلومولو يوه هڅه هم ده، که نن او د داسي لويې پېښې په اړه د نړۍ مسلمانان څه عکس العمل ونه ښيي، معلومه نه ده چي د واشنگټن کاو بای واکمنان چي د اسلام او مسلمانانو په ضد خطرناك او شوم عزايم په سر کي لري، څومره نورو ناولو کارونو ته به لاس اچوي او څومره نورې فتنې به راولاړوي، دوی د افغانستان او عراق په نيولو اکتفا نه کوي، نور شيطاني پلانونه هم لري.

موږ له ټولي اسلامي نړۍ او ټول امت نه غواړو چي له خپلو مقدساتو نه دفاع ته ملاوتړي، که څوك نور هيڅ نه شي کولی او د کوم مؤثر کار کولو همت او جرأت ونه لري، لږ تر لږه د مظاهراتو په ترځ کي دې دا سپکاوی وغندي. له ځينو هېوادونو نه زموږ انتظار دا وو چي تر نورو به شا ته نه پاتې کېږي او له قرآن نه د دفاع لپاره به هغوی هم له ټول امت سره خپل غبرگون يوځای کوي، خو متأسفانه هلته نه رسمي اعتراض گورو او نه ولسي عکس العمل، موږ گومان کاوو چي پر افغانستان او عراق باندي د حملې په اړه به له امريکايانو سره د دوی ملگرتيا يوازي سياسي وجوهات ولري، خو اوس چي گورو پر قرآن باندي د امريکايانو تېري ته هم کوم غبرگون نښيي، له دې نه نور څه معلومېږي. د باميان او پنجشير له خلکو نه هم زموږ انتظار دا نه وو چي له قرآن نه د دفاع په کار کي به له نور افغان ولس سره نه يوځای کېږي او د مظاهراتو په ترځ کي به دا سپکاوی نه محکوموي!! که مخکي تاسو له امريکايانو او انگرېزانو سره خپله ملگرتيا په دې توجيه کوله چي طالب زموږ دښمن دی!! اوس خو د طالب خبره نه ده، اوس خو له قرآن نه د دفاع خبره ده!!

په جلال آباد، خوگيانيو، وردگ ميدان، گرديز او غزني کي د پوليسانو او

فوځيانو له لوري په غيرمسلح مظاهره کوونکو ډزې او د پنځلسو افغانانو مظلومانه شهادت او تر سلو نه د زياتو افغانانو په وينو کي رغړولو دا خبره ثابته کړه چي د امريکايانو او انگرېزانو په ناولو لاسونو روزل شوی فوځ او پوليس په اصل کي د افغانانو په ضد د جنگولو لپاره روزل شوي، مهار او قومنده ئې د امريکايانو په لاس کي ده، په هرځای کي به ئې د افغان ولس په ضد جنگوي، موږ تراوسه مجاهدينو ته ويل چي خپله ټوله توجه يرغلگرو ځواکونو ته واړوئ او د دوی له افغاني مزدورانو سره ځان مه مصروفوئ، خو دغو پېښو وښوده چي دوی تر بهرنيو دښمنانو هم زيات خطرناك دي. تاسو وليدو چي د کابل چارواکو د يو سل پنځلسو کسانو د وژل کېدو او زخمي کېدو په هکله ويل: په افغانستان کي اوس ديموکراسي ده!! په داسي حال کي چي په مظاهرو کي د امريکا بيرغونه سوځېدل، د بش مجسمو ته اور اچول کېدو، د امريکا په ضد شعارونه ورکول کېدل، خو دوی ويل: دا مظاهرې د امريکا په ضد نه دي!! له دوی سره يوازي دا غم وو چي امريکا او امريکائي ديمکراسي بدنامه نه شي!!

زما وروڼو!

إن شاء الله ستاسو د شهيدانو او زخميانوويني به نه ضايع کېږي، ستاسو مجاهد وروڼه به له دښمن نه دا انتقام اخلي، امريکا له يونيم مليارد مسلمانانو سره د جنگ ملا تړلې، د دوی جنگ له خدای او د خدای له ټولو مظلومو بندگانو سره دی، دوی د انسانيت دښمنان دي، دوی د اخلاق دښمنان دي، دوی له هر شريف او آزاد ملت او هر شريف او آزادي غوښتونکي انسان سره جنگېږي، د دې جنگ پايله د دوی له ماتې او زوال نه پرته بل څه نه شي کېدی.

والله عزيز ذوانتقام.

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

حکمتيار

۱۳۸۴/۱۲/۲۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# بيان

د سپيني ماڼۍ د وروستۍ ګډي اعلاميې او امضا شوې معاهدې په هکله زموږ او د ټول افغان ولس دريځ دا دی:

- موږ دا معاهده په کلکه محکوموو او هغه د ګندمك د معاهدې په څېر يو ستر ملي خيانت او د افغانستان د استقلال او خپلواکۍ په ضد ګڼو.
- دا هماغه معاهده ده چي ببرك کارمل له بريژنف سره امضاء کړې وه.
- دغي معاهدې وښوده چي پر افغانستان باندي د امريکا يرغل د دې هېواد د دائمي اشغال لپاره وو نه د القاعدې د ختمولو او د طالبانو د حکومت د نسکورولو لپاره. د طالبانو د حکومت له نسکورېدو نه درې نيم کاله تېر شوي او القاعده اوس د افغانستان په ځای په عراق کي جنګېږي خو امريکا بيا هم په افغانستان کي دائمي اډې غواړي.
- په کرزي باندي دا معاهده امضا کول چي بګرام به د اوږدې مودې لپاره د امريکايانو په واك کي وي، بندي خانې به لري، بنديان به په خپله ساتي او د کابل چارواکو ته به ئې نه سپاري، د دوی فوځ به د عملياتو په اړه پوره استقلال لري، د کابل د چارواکو په وړاندي به هيڅ مسئوليت نه لري، د خپلو قومندانانو تر امر لاندي به عمل کوي، ..... د دې معاهدې معنا له دې پرته بل څه نه شي کېدی چي امريکايان غواړي په خپله مخامخ پر افغانستان حکومت وکړي، په خپلو افغاني مزدورانو هم باور نه لري او د دوی له لاري په دې هېواد حکومت کول کافي نه ګڼي.
- موږ تل ويل چي امريکائي اشغالګران به هيڅکله په خپله خوښه نه وځي، په زور به ايستل کېږي، د افغانانو مقاومت به ئې وتلو ته اړ کوي، که نه نو هغوی د

تل لپاره دلته د پاتې کېدو او د دائمي اډو جوړولو اراده لري. له امريکا سره له اوږد مهاله ستراتيژيکي ملګرتيا نه د کابل د امريکائي حکومت د غوښتنې معنا همدا وه، دوی ته ويل شوي وو چې امريکا ته له سفر نه مخکې بايد داسې اظهارات وکړئ چې وښيي دا د افغانانو غوښتنه ده نه د امريکايانو!!

- په معاهدې کې امريکايانو ته د لازياتې آزادۍ ورکولو خبره شوې، افغانان پوښتنه کوي چې امريکائي فوځيان تر مخکې څومره زياته آزادي غواړي؟ تر اوسه ئې څه کم وو؟ څه او چا ئې مخه نيوله؟ موږ خو د دوی له مخکنۍ خپل سرۍ نه پوزې ته رارسېدلي وو، اوس او له لازياتې آزادۍ ورکولو وروسته به دوی له افغانانو سره څه کوي؟!
- امريکايان به إن شاء الله دا ارمان له ځان سره خاورو ته يوسي چې د تل لپاره به افغانستان د دوی تر واک او سلطې لاندې وي، بګرام به ئې دائمي اډه وي او حکومت به د دوی لاس پوڅی. دائمي اډه يعني دائمي جنګ او د تل لپاره له افغانستان نه د خپلو مړو تابوتونه انتقالول.
- په اعلاميه کې ويل شوي: بنديان به د امريکايانو په واک کې وي، دا ځکه چې افغان حکومت د دې اهليت او توان نه لري چې بنديان وساتي او دا د کرزي د هغو خبرو ځواب وو چې ويل ئې: موږ اوس خپلواک يو، منتخب حکومت لرو، بنديان ساتلی شو، بايد ټول بنديان موږ ته وسپارل شي!! خو غلامانو ته د بادارانو ځواب تل همدغسې وي!! تل ورته وايي: ته په خپله ځان نه شې ساتلی، زما ترسيوري لاندې به ژوند کوې، له غلامانو سره دا نه ښايي چې د آزادۍ او خپلواکۍ خبره وکړي، تل به د آقا او بادار دا احسان منې چې دی ئې د غلام په حيث قبول کړي او تر خپل سيوري لاندې ئې ساتي!!

حزب اسلامي افغانستان

۸۴۱۳۱۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# بیان

موضع ما و فرد فرد ملت مؤمن افغان در رابطه به اعلامیه اخیر قصر سفید و معاهده همکاریهای طویل المدت ستراتیژیك میان امریکا و افغانستان چنین است:

- ما این معاهده ننگین را به شدت محکوم می کنیم، آنرا چون معاهده گندمك خیانت بزرگ ملي می شماریم، و منافي استقلال و آزادی کشور خود می خوانیم.
- از نظر هر افغان غیور و آزادیخواه این معاهده شرم آور چون معاهده ایست که ببرك کارمل با بریژنف امضاء کرده بود.
- این معاهده نشان داد که تجاوز امریکا بر افغانستان برای اشغال دائمی کشور ما بود نه برای نابودی القاعده و سرنگونی رژیم طالبان. در حالیکه از سقوط حکومت طالبان بیش از سه ونیم سال می گذرد، و القاعده از مدتها قبل افغانستان را ترك گفته و اکنون در عراق می جنگد، ولی امریکا با وجود آن می خواهد پایگاهای دائمی در افغانستان داشته باشد.
- افغانها می پرسند: چرا کرزی را وادار ساختند تا معاهده ای را امضاء کند که به حکم آن باید امریکائی ها برای مدت طولانی در افغانستان حضور نظامی داشته، بگرام پایگاه دائمی آنان باشد، در داخل کشور ما زندانها داشته باشند، حق دستگیری هر کسی را داشته، زندانیان افغان را در زندانهای خود نگهدارند، از سپردن آنان به حکام اداره کابل خودداری ورزند، نیروهای مسلح شان با دست باز و با آزادی و استقلال کامل عمل کنند، هیچ مسئولیتی در برابر حکمرانان نامنهاد اداره کابل نداشته و تحت فرمان مستقیم افسران امریکائی خود به

عمليات مى پردازند، آيا معناى چنين معاهده اى غير از اين چيزى ديگريست كه امريكائيها مى خواهند خود و مستقيماً بر افغانستان حكومت كنند، بر مزدوران خود نيز اعتماد ندارند و حكومت از طريق آنانرا كافي نمى شمارند؟!!

ما همواره گفته ايم كه اشغالگران امريكائي هرگز به طيب خاطر كشور ما را ترك نخواهند گفت، بايد به زور اخراج شوند، بايد مقاومت افغانان آزاديخواه آنانرا به خروج از افغانستان وادار سازند، در غير آن اشغالگران مى خواهند همواره بركشور ما حاكم بوده و پايگاههاى دائمى در افغانستان تأسيس كنند. مطالبه اداره امريكائى كابل از قصر سفيد مبنى بر همكاريهاى درازمدت ستراتيژيك امريكا با افغانستان تعبيرى ديگر جز اشغال دائمى كشور ما ندارد، طرح تأسيس پايگاه نظامي در افغانستان نخست از سوى هيئت سناتور هاى امريكائي عنوان شد، سپس وزير دفاع امريكا در سفرش به كابل تكرار كرد، به حكام اداره كابل هدايت داده شد تا آنرا به عنوان مطالبه افغانها از ايالات متحده امريكا مطرح نموده پيشنهاد اعضاى لويه جرگه وانمود كنند و در ديدار با جورج بش به عنوان مطالبه اين جرگه و خواست افغانها پيشنهاد گردد.

- در معاهده تذكر رفته كه لازم است نيروهاى امريكائي از آزادي عمل بيشتر برخوردار باشد!! افغانها مى پرسند: معناى آزادي عمل بيشتر چيست؟ مگر تا حال محدوديتهائى در برابر عمليات خودسرانه و بى مهار آنان وجود داشت؟ چه و كى جلو شانرا مى گرفت؟ افغانها كه از خودكامگى ها و خودسري هاى گذشته آنان به ستوه آمده بودند پس از امضاى اين معاهده و اعطاى آزادى عمل بييشتر به نيروهاى بدمست امريكائي چه نتائج دلخراشى تحويل خواهد داد؟ با افغانهاى مظلوم چه خواهد كرد؟ چه تعداد قريه هاى ديگرى با خاك يكسان خواهد شد؟ و چه تعداد ديگر افغانها به خاك و خون كشانده خواهند شد؟
- نيروهاى امريكائي اين آرمان را إن شاء الله به گور خواهند برد، كه افغانستان در اشغال دايمى آنان بوده، بگرام پايگاه هميشه گى آنان و حكومت كابل همواره دست نشانده و غلام شان باشد. تلاش براى اشغال دايمى افغانستان نتيجه ديگرى جز جنگ دوامدار و انتقال اجساد كشته هاى بيشتر از اين كشور براى امريكا

نخواهد داشت.

- در اعلامیه تذکر رفته که زندانیان افغان چون گذشته در اختیار امریکائیها و در زندانهای تحت نظارت شان نگهداری خواهند شد ، زیرا حکومت کابل تا هنوز کفایت و توان لازم نگهداری آنانرا کسب نکرده است!! و این پاسخی بود به مطالبه کرزی که جسارت کرده بود قبل از سفر به امریکا از طریق کنفرانسهای مطبوعاتی اش به امریکائیها بگوید: لازم است تمامی زندانیان افغان به حکومت کابل سپرده شوند ، چون توان و کفایت نگهداری آنان را کسب کرده است!! آری؛ پاسخ بادار به غلامش همواره چنین است، باید همواره به او گوش زد کند که قادر به دفاع از خود نیستی، به حمایتم نیازمندی، باید زیر بال حمایه ام بسر بری، با هیچ غلامی نمی سزد که حرفی از آزادی و استقلال یه زبان آرد ، همواره باید ممنون احسان آقا باشد که او را چون غلام پذیرفته و زیر بال حمایه اش قرار داده است!!

حزب اسلامي افغانستان

۸۴۱۳۱۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# زموږ ملت او امريكائي انتخابات!!

الحمد لله و كفى و سلام على عباده الذين اصطفى و بعد:
گرانو هېوادوالو!
خداى پالونكو افغانانو! السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

د راتلونكو پارلماني انتخاباتو په هكله هر هغه مسلمان او پر خپل وطن مين افغان پوښتني كوي چي د هېواد د آزادۍ لپاره د مقاومت تر څنگ په نورو لارو چارو هم غور كوي او غواړي په هر محاذ كي د دښمن مقابله وكړي او د سيسې ئې شنډې كړي، دوى غواړي پوه شي چي په پارلماني انتخاباتو كي كوم دريځ غوره كول د اسلام او هېواد په گټه دى، په دې كي برخه نه اخيستل گټور دي او كه برخه اخيستل؟ كه برخه اخلي نو چا ته رأيه وركړي، د كوم كانديد او د كومو انتخاباتي شعارونو ملاتړ وكړي؟ د دوى په ځواب كي زموږ عرايض دا دي:

- د افغانستان اوسنى حالت همغسي دى لكه د شوروي ځواكونو د اشغال په وخت كي، زموږ هېواد د پرون په څېر د اشغالگرو ځواكونو په واك كي دى، پردي وربانديي حكومت كوي، امريكايانو د خپلي خوښي كرغېړنه او خونړۍ نظامي ديموكراسي پرې مسلطه كړې، د افغانانو د غولولو لپاره ئې داسي افغاني څېرې صحنې ته راايستلې چي په ظاهر كي افغانان برېښي خو په اصل كي د امريكايانو مامورين دي، د امريكا د تابعيت كارتونه لري او د امريكا د گټو لپاره كار كوي، وزيران افغاني امريكايان دي خو د وزارتونو واك د امريكائي مشاورينو په لاس كي دى. اوس غواړي خپل نظامي حضور او د افغانستان دائمي اشغال توجيه كړي، نړيوالو ته وښيي چي افغانان د دوى په حضور اعتراض نه لري بلكي د ديموكراسۍ راوستو لپاره د دوى شتون ضروري او مفيد گڼي، كه داسي نه واى نو خپله وسله به

ئې دښمن ته نه سپارله!! او د دوی د جازونو تر وزر لاندي به ئې په انتخاباتو کي برخه نه اخيستله!! په دې حالت کي د اسلام حکم او د هېواد د آزادۍ يوازينۍ لار دا ده چي افغانان يو ځل بيا جهاد ته ملا وتړي او اشغالگران له خپل هېواد نه وتلو ته اړ کړي، بايد په دې پوه وو چي آزادي او خپلواکي د انتخاباتو له لارې نه بلکي د جهاد له لاري ترلاسه کولی شو.

• انتخابات هسي د نورو غولوونکو لوبو په څېر يوه خندوونکي ډرامه ده، په دې سره امريکايان غواړي خپل نظامي حضور او خپل لاس پوڅي حکومت ته مشروعيت ورکړي، د اشغال په حالت کي انتخابات له دې پرته بله معنی نه لري چي د پرديو د متو، وسلو او پيسو په زور مسلطې شوې څېرې به د ولس د نمايندگانو په نامه پارلمان ته لار مومي او د امريکايانو د خوښې کابينې ته به رأيه ورکوي.

• دوی په خپله وايي چي د عادلانه انتخاباتو لپاره بايد مسلح ډلي بې وسلې شي، دا ځکه چي وسله والې ډلي د انتخاباتو پر نتايجو منفي اغېز کوي او پارلمان ته د دوی د راتلو سبب کېږي!! که دا خبره سمه وي نو د امريکائي مسلح ځواکونو شتون به ولې انتخابات تر خپل اغېز لاندي نه راولي، په داسي حال کي چي دا ځواکونه مخالفين نيسي، عام ولس په وسلو او بمباريو وېروي او بې ضميره ناانسانان په پيسو اخلي، د چا په لاس کي چي هم وسله وي، هم پيسه وي، هم اخبارونه، مجلې، راډيوگانې او تلويزينونه وي، هم زندانونه، هم هوايي ميدانونه وي، هم خلك نيولی او وژلی شي او هم ئې په پيسو اخيستلی شي، معلومه ده چي د داسي اشغالگرو ځواکونو تر وزر لاندي انتخابات به څنگه او نتيجه به ئې څه وي؟!

• دې حقيقت ته په پام سره بايد ووايو: که په کومي سيمي کي ستاسو مقاطعه دا امريکائي ډرامه شنډولی شي نو حتماً دا کار وکړئ، خو که وضعيت داسي نه وي چي عمومي مقاطعه اعمال شي او رأی اچونه په هر صورت کي ترسره کېږي نو بيا په کار ده چي کانديدان په لاندي ډلو ووېشئ:

۱. هغه چي د روسانو ملگرتيا ئې کړې او د خپل ولس په ضد د شوروي افسرانو تر قومندې لاندي جنگېدلي او اوس هم په سياسي او فکري لحاظ په مسکو پورې تړلي دي.

۲. هغه چي کمونستان نه وو خو له روسانو او کمونستانو سره ملګري شول او د هغوی د ګټو لپاره ئې ائتلافي جبهه جوړه کړه او د پردیو په اشاره ئې په هېواد کي د نوي جګړي اور بل کړ.

۳. هغه چي هم له روسانو سره ملګري شول او هم له امریکایانو سره، پرون د مسکو په ګټه جنګېدل او نن د واشنګټن په ګټه.

۴. هغه غرب پالونکي لاابالي عناصر چي نه دین او مذهب لري او نه اخلاق او شرافت، په اخلاقي فساد کي ترستوني غرق دي او کمال ئې دا دی چي د جهاد په دوران کي غرب ته وتښتېدل، خپل ملي هویت ئې له لاسه ورکړ او له کاباره ئې افکارو او اخلاقو سره هغه وخت هېواد ته راستانه شول چي امریکایانو زموږ هېواد اشغال کړ او اوس په دې ټینګار کوي چي زموږ په هېواد کي د امنیت د تأمین لپاره د دغو اشغالګرو ځواکونو نظامي حضور تر اوږدې مودې ضروري دی!!

۵. هغه چي منافقین دي، دین په دنیا خرڅوي، ځان ته مسلمان وايي خو د اسلام په ضد له هر دښمن سره لاس یو کوي او خطر ئې اسلام او مسلمانانو ته تر هر بهرني دښمن هم زیات دی.

۶. هغه چي د افغانستان د تجزیې لپاره هڅه کوي، قومي او ژبني تعصباتو ته لمن وهي، په هغو ګاونډیو هېوادونو پورې تړلي دي چي خپلي ګټې د افغانستان په ورانولو او د افغانانو په وېشلو کي لټوي.

دغو شپږو ډلو او په دوی پورې تړلو کاندیدانو ته د رأی ورکولو مخنیوی وکړئ، په انتخاباتو کي د دوی ناکامي په اصل کي د دښمنانو د توطئو شنډول دي، د دوی د ناکامولو لپاره باید مناسب اقدام وکړئ، خلکو ته دا کرغېړني څېرې افشاء کړئ او دې ته ئې چمتو کړئ چي یوازي د هغه چا مرسته وکړي چي مسلمان وي، د هېواد په آزادۍ، خپلواکۍ او یووالي باور لري او له هېواد نه د ټولو بهرنیو ځواکونو د عاجل او بلاقید و شرط وتلو حامي وي.

هر با ایمانه افغان د خپل ایمان په رڼا کي پوهېږي چي په دې حساسو ظروفو او شرایطو کي د ده ایمان څه حکم کوي او د ده اسلامي مسئولیت څه دی، د چا په

ملگرتیا او ملاتړ مکلف دی او د چا له ملگرتیا منع شوی، پیغمبر علیه السلام فرمایي:

من مشي مع ظالم ليعينه وهو يعلم أنه ظالم فقد خرج من الإسلام:

څوك چي له یوه ظالم سره په دې خاطر درومي چي د هغه ملاتړ او مرسته وکړي، په داسي حال کي چي پوهېږي هغه ظالم دی، یقیناً چي له اسلام نه ووت.

زه خپل مؤمن او مجاهد ولس ته اطمئنان ورکوم چي إن شاء الله خیرالماکرین خدای به د اشغالگرانو ټولي توطئې شنډوي، زموږ له هېواده به ئې وتلو ته هرو مرو اړ کوي، د دوی ناولې او خونړۍ دیموکراسي به د کمونستی رژیم په څېر نسکورېږي او په آزاد او خپلواك افغانستان کي به ستاسو د خوښي اسلامي نظام راځي، د دغه مقدس آرمان د تحقق لپاره به هر غیرتي او باایمانه افغان د خپل ژوند تر وروستۍ سلگۍ او د خپل شاجور تر وروستۍ مرمۍ جهاد کوي. والله علی کل شئ قدیر

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

حکمتیار

۸۴۱۵۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# انتخابات او نتائج ئې

د امريكا حكومت غواړي د دوی د فوځونو تر واكمنۍ لاندي په افغانستان كي انتخابات ترسره شي، د انتخاباتو وخت، څرنګوالی، ضوابط او مقررات ئې دوی ټاكلي، مصارف ئې دوی وركوي، هم د انتخاباتو كميسيون ته او هم د خپلي خوښي كانديدانو ته، او امنيت ئې دوی تأمينوي، طبيعي ده چي د دې انتخاباتو نتائج به هم هغسي وي چي امريكا ئې غواړي، كه داسي نه وي او امريكايان احساس كړي چي نتائج به ئې د دوی د پلان او غوښتنو خلاف او د دوی د مخالفينو په ګټه وي نو انتخابات به په يوې او بلې بهانې ځنډوي او هغه وخت او شرايطو ته به ئې معطله كوي چي د دوی د خوښي نتايج پرې مرتب شي. اوس دوی د ستمبر اتلسمه د پارلماني انتخاباتو لپاره غوره كړې او دا د سپتمبر د يولسمې نه يوه اونۍ وروسته ده، د دې مياشتې او دې نيټې انتخاب هم خاص مطلب افاده كوي، په يولسم سپتمبر د نيويارك او واشنګټن ستره او تاريخي پېښه شوې وه، دا دی په همغه مياشت او له هغې نيټې يوه اونۍ وروسته د دوی د فوځونوترواكمنۍ او د دوی د جازونو تر وزر لاندي په افغانستان كي د دوی د خوښي انتخابات ترسره كېږي!!

انتخابات به په خپل وخت وشي كه به بيا هم وځنډېږي؟ او نتائج به ئې همغسي وي چي امريكا ئې غواړي كه بل څه؟ په دې هكله څه ليكلو ته ضرورت نشته، څو ورځې وروسته به هر څوك د دې خبرو په حقيقت پوه شي، په دې هكله هم ډېر څه ويل شوي چي د بهرنيو ځواكونو په شته والي كي هر انتخابات، كه دا د جمهوري رياست انتخابات وي او كه پارلماني انتخابات، له يوې غولوونكي

ډرامې پرته بل څه نه شي کېدی، انتخابات په هغه هېواد کي ګټور وي چي د خپل واك خاوند وي، پردي وربانديې حکومت نه کوي، بهرني ځواکونه د دوی په کورنيو چارو کي د مداخلې توان ونه لري، د ولس د سياسي شعور سطحه اوچته او په ټولنې کي منظم، ځواکمن او هېواد شموله سياسي احزاب وي. د افغانستان په اوسنيو شرايطو کي د دې انتخاباتو پايلې له دې پرته بل څه نه شي کېدی چي د اشغالګرو ځواکونو ترځنګ، زموږ د بدو او غرضي ګاونډيو د خوښې څېرې صحنې ته راووځي، پارلمان ته لار ومومي او په راتلونکي حکومت کي په زړه پورې برخه ترلاسه کړي، راتلونکی حکومت به هم د هغو هېوادونو د خوښې حکومت وي چي په بن کي ئې د حکومت وزارتونه په خپلو کي ووېشل او په هر يوه پورې مربوطې ډلې ته مناسبه برخه ورکړی شوه، هلته د يوه پټ توافق له مخې وزارتونه ووېشل شول او اوس به هر يو د هغه مصرف متناسب برخه ترلاسه کوي چي په انتخاباتو ئې کوي او د خپلو برېځو په انتخاباتي کمپاين ئې لګوي. دا خبره به يوازې له بې خبرو خلکو پټه وي چي د کمونستانو او شورای نظار انتخاباتي مصارف به کوم هېواد ورکوي، د شيعه او تاجك کانديدانو مصارف به کوم هېواد، د نشنليانو او جنبش مصارف کوم هېوادونه، امريکا او ملګري به ئې د کومو کومو کانديدانو مالي لګښت په غاړه اخلي، کوم هېوادونه چي مخکي ئې ښکيلو ډلو ته د جګړې د دوام لپاره وسلې، مهمات او د دوی جنګې مصارف ورکول، اوس ورته په خپل هېواد کي د دغو ډلو د کانديدانو پوسټرونه چاپوي او د انتخاباتو ټول مصارف ئې ورکوي. د دوی د پرون او نن په لاسوهنو کي يوازې دا بدلون راغلی چي پرون ئې خپل برېځي په وسلو سنبالول او د خپلو موخو لپاره ئې جنګول او نن ئې په پيسو او تبليغاتي کمپاين پالي او په اقتدار کي ئې د شريکولو هڅه کوي. د بن غونډه په حقيقت کي د امريکا، انګلستان، جرمني، پاکستان، روسيې او ايران د استاځو غونډه وه، حکومت د دوی په توافق جوړ شوی، دې غونډې ته د هغو افغاني ډلو استاځي بلل شوي وو چي توجيه او اکمال ئې د دغو ملکونو لخوا کېږي، په موقت حکومت کي د دوی برخه د دغو ملکونو په توافق وټاکلې شوه، اوس به په انتخاباتو کي بيا هم د دغو ملکونو د اثر، نفوذ، اغېز، نظامي حضور او

مالي مصرف له مخې د دوی د پلوي ډلو برخه ټاکل کېږي.

اشغالگرانو نه یوازې خپل فرهنگ، کلتور، افکار، اخلاق، دین، مذهب او ایډیالوژي له ځان سره راوړې او د تپلو لپاره ئې بې شمېره وسایل په کار اچولي، بلکې اساسي قانون او سیاسي نظام ئې هم راوړی، انگرېزانو د خپل اقتدار په وخت کې پاچایان په خپلو مستعمراتو تپل، دا ځکه چې د انگلستان سیاسي نظام پاچائي وو، امریکا خپل صدارتي نظام مسلط کړ او دا دی اوس چې زموږ هېواد د امریکایي نیواکگرانو په واک کې دی نو خود به ئې انتخابات هم د امریکا انتخاباتي نظام ته ورته وي. راشئ وگورو دا انتخابات څومره نواقص لري او د افغانستان د موجوده شرایطو له غوښتنو سره څومره توپیر لري.

د غرب انتخابات څو اساسي ستونزې لري:

- انتخابات ئې د قمار په څېر دي، له څو کاندیدانو نه یو هغه کس پارلمان ته ځي چې تر نورو ئې څو رأیې زیاتې ترلاسه کړې وي، کېدی شي د ناکامو کاندیدانو مجموعي رأیې تر کامیاب کاندید نه زیاتې وي. چا چې ناکامو کاندیدانو ته رأیه ورکړې په پارلمان کې ممثل او استازی نه لري. په دې ترتیب پارلمان د یوه اقلیت ممثل وي نه د اکثریت او نه د ټول ملت.
- غربي انتخابات د بډایانو په گټه او حاکم نظام ته د مشروعیت ورکولو انتخابات دي، په دې سره نه په ټولنې کې مثبت بدلون او انقلاب راتلی شي او نه د غریبانو او محرومي طبقې په گټه کوم تحول. دا د شتمنو او په ټولنې د حاکمې طبقې سلطې ته قانوني جواز برابروي، یوازې شتمن کسان کولی شي په دې انتخاباتو کې برخه واخلي او مصارف ئې متحمل شي.
- په ټولو هغو ملکونو کې چې دا راز انتخابات ترسره کېږي، د نادارې طبقې نه هیڅوک د پارلمان غړیتوب نه شي ترلاسه کولی، اکثر غړي ئې د جگې طبقې او ډېر کم ئې د متوسطې طبقې څخه وي. په انگرېز ډوله پارلماني نظام کې انتخابات په اصل کې د حاکم او مسلط سیاسي او اجتماعي نظام د بقا او هغه ته د مشروعیت ورکولو وسیله وي. په سیاسي، اقتصادي او اجتماعي لحاظ مسلطه طبقه له دې لارې پارلمان ته لار مومي.

• د هېواد صدراعظم د محدودو کسانو له خوا غوره کېږي، د محدودو کسانو اخيستل ډېر آسانه وي، هم ئې بهرني ځواکونه په آسانۍ اخيستی شي او هم هغه ډلي چي مالي امکانات ئې زيات وي او شتمن بهرني حامي ولري. دا د افغانستان په شان يوه ملك ته چي له هري خوا د ځواکمنو رقيبانو په ولگه کي دی له احتياط نه ډېر لرې دی چي د هېواد د مشر ټاکل په يوه محدود ټولگي پورې وتړلی شي. که د هېواد د مشر ټاکل په ټول ملت پورې مربوط وي دا تر دې ډېر ډېر مصئون دی چي د پارلمان څو سوه غړو ته دا صلاحيت ورکړی شي.

• په پارلماني نظام کي بايد صلاحيتونه د صدراعظم او جمهور رئيس تر منځ په يوه تناسب ووېشلی شي، دا له يوې خوا د دوو ځواکمنو تر منځ د تنافس او سيالۍ ډگر پرانېزي، له بلي خوا د تشکيلاتو د تراکم باعث کېږي او له بلي خوا په عام ولس کي د شخړو او منازعاتو باعث. زموږ د گاونډيو هېوادونو تجربې زموږ مخې ته پرتې دي. په پاکستان کي انگرېزانو دا نظام په ميراث پرېښود ، خو تر اوسه يوه صدر اعظم هم خپله قانوني دوره تکميل نه کړی شوه، کله ئې جمهور رئيس عزل کړي او کله ئې ځواکمن جنرالان. په ايران کي هم د پارلماني نظام تجربه ناکامه شوه، ايرانيانو د انقلاب په لومړيو کلونو کي د رهبر او جمهور رئيس تر څنگ صدراعظم درلود ، خو وروسته مجبور شول چي د صدراعظم پست او منصب حذف کړي. پارلماني نظام د انگلستان د ملکي په څېر يوې تشريفاتي ملکي يا پاچا ته ضرورت لري، له دې پرته نه شي چلېدی. يوه ټولنه که وړه وي که ستره، که د يوې کورنۍ په اندازه وي او که د يوه ستر ملت په اندازه، په سر کي بايد يو قيم او رئيس ولري نه متعدد رئيسان له خاصو صلاحيتونو سره، دا حتماً په نزاع او شخړو منتج کېږي. قرآن وايي: که د کائناتو واگې د دوو خدايانو په لاس کي وی نو حتماً تباه کېدو او هر يوه به هڅه کوله چي عرش ته ورسېږي او په بل بر لاسی شي.

• په دې کي يوازي هغه څوك بريا ترلاسه کولی شي چي مالي امکانات او تبليغاتي وسايل ئې تر خپل حريف زيات وي. د امريکا هغه حزب په انتخاباتو کي تر نورو زياتې رايې گټي چي بډايان، د پراخو ځمکو او د لويو لويو شرکتونو د خاوندانو لخوا ئې ملا تړ کېږي. هلته معتبرې ورځپاڼې، مجلې، تلويزيونونه او

نورې خبري رسنۍ د بډایانو په واك کې دي، انتخابات به یوازې هغه څوك ګټې چې د دغو تبلیغاتي وسایلو ملاتړ ترلاسه کړي.

- امریکایانو لومړی زموږ هېواد اشغال کړ، اقتدار ئې د خپلې خوښې چارواکو ته وسپارو، خپل مخالفین ئې یا ونیول، یا ئې ووژل، یا ئې له اقتدار نه ګوښه کړل او له هغه وروسته چې د نظام مهار ئې په خپل لاس کې ونیو، اوس غواړي له یوې خوا دغه لاس پوخې تحمیلي نظام ته د انتخاباتو تر پردې لاندې مشروعیت ورکړي او له بلې خوا خلك په دغې لوبې کې مصروف کړي، له اصلي موضوع ئې پام بلې خوا ته واړوي، د انتخاباتي مبارزې په ترځ کې د دوی ترمنځ تربګني، رقابتونه او نه پخلا کېدونکي اختلافات راولاړ کړي.
- دا انتخابات د دې لپاره نه ترسره کېږي چې د ملت د واقعي استازو پارلمان جوړ شي، ملت د خپل برخلیك خاوند شي، د ملت د خوښې حکومت جوړ او د استبدادي او تحمیلي حکومتونو مخنیوی وشي.
- د افغانستان په موجوده شرایطو کې د یوه واقعي پارلمان د جوړېدو غوښتنې دا دي:

§ انتخابات باید هغه وخت ترسره شي چې ټول بهرني ځواکونه زموږ د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې وتلي وي او افغانستان خپلواك او مستقل هېواد وي.

§ د انتخاباتو مصارف باید هومره وي چې افغانان ئې په خپله تأمین کړی شي، نه دا چې د نورو په مصرف، د هغوی تر نظارت لاندې او د دوی د جاژونو تر وزر لاندې ترسره شي. په اوسنیو انتخاباتو کې د ملګرو ملتونو د ادارو په وینا باید ۱۴۸ ملیونه ډالر لګښت وشي، دا په هغو ملا ماتوونکو لګښتونو سربېره ده چې پنځه زره کاندیدان به ئې په خپل انتخاباتي کمپاین باندې کوي، که دا هر کاندید لږ تر لږه شل زره ډالر مصرف کړي، نو د انتخاباتو ټول لګښت به دوه نیم سوه ملیونه ډالرو ته رسېږي. په دې پیسو له تورخم نه تر حیرتان او تورغونډۍ پورې پوخ سړك جوړېدی شي.

§ د افغانستان لپاره د یوه شورایي نظام او یوه منتخب مجلس د جوړولو تر ټولو غوره او آسانه لار دا کېدی شي:

۱. د هېواد مشر د ولس د مستقيمې رأيې له لاري غوره شي.

۲. منتخب جمهور رئيس خپله کابينه مجلس ته وړاندې او د اعتماد رأيه ترلاسه کړي.

۳. په هېواد کي بايد يوازي يوه منتخبه با صلاحيته شوری وي، نه د امريکا او انګلستان په څېر يوه د عوامو شوری او بله د اشرافو او خواصو شوری ، د (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) په نامه، دا دوه جرګې په پانګوالو نظامونو کي په اصل کي د دې لپاره رامنځته شوې چي د (عوامو شوری) د (خواصو د جرګې) په واسطه مهار کړي او ولس ته د اقتدار د انتقال مخه ونيسي. نه داسي دوو بېلو بېلو جرګو ته ضرورت شته او نه زموږ مالي امکانات هومره دي چي په داسي جرګو مصرف شي. افغانستان يوې شورى، يوه مشر، يوه حکومت او يوې وړې ادارې ته ضرورت لري، امکانات ئې د پېچلو او پراخو ادارو په ځای بايد د هېواد په ودانولو او د بې وزلو هېوادوالو د ستونزو په حلولو مصرف شي.

د يوه ممثل مجلس د جوړولو لپاره دوه لاري غوره کولی شو:

لومړی: د متناسبې نمايندګۍ په اساس انتخابات، داسي چي رأيه به د سياسي احزابو او انتخاباتي جبهو مجموعي لست ته ورکول کېږي او هر حزب او انتخاباتي مجموعه به د خپلو آراوو د شمېر په تناسب له خپل لست نه استازي مجلس ته لېږي. د انتخاباتو تر ټولو آسانه، مصئونه ، عادلانه او کم مصرفه طريقه همدا ده دا ځکه چي:

- ټول افغانستان يوه انتخاباتي حلقه ګڼل کېږي او دا مسئله د تل لپاره منتفي شي چي د نفوس له مخې او يا د اداري واحدونو په اساس دې انتخاباتي حوزې وټاکلی شي.
- هر افغان په هر ځای کي رأيه ورکولی شي، په دې مکلف نه وي چي يوازي په خاصي انتخاباتي حوزې کي رأيه ورکولی شي.
- رأيه يوازي يوه شخص او د هغه معاون ته نه بلکي د کانديد شوو کسانو مجموعي پلان، منصوبې او د دوی له لوري د مجلس لپاره غوره شوو کسانو ته ورکول کېږي. يعني څوك چي د جمهوري رياست لپاره کانديد کېږي هغه يوازي يو

داسي شخص نه دی چي د اقتدار لاس ته راوړو لپاره په خپل سر او يوازي ميدان ته راوتلی، بلکي هغه د يوې ډلي له خوا کانديد شوی، دا ډله کېدی شي يو حزب وي او يا يوه ائتلافي جبهه او يا يوه انتخاباتي مجموعه او د خاص کانديد ملاتړي، دا مجموعه به د ټول هېواد او د هېواد د اداري لپاره واضح منصوبه او کافي باکفايته پرسونل معرفي کوي، د جمهوري رياست لپاره د دوی کانديد بايد ملت ته ووايي چي تګلاره ئې څه ده او د هري انتخاباتي حوزې لپاره څوك اهل ګڼي. په دې سره ولس دا موقع ترلاسه کوي چي د خاصي تګلاري خاوند او د ده مجموعې ته رأيه ورکړي.

- له انتخاباتو نه وروسته هره انتخاباتي مجموعه د خپلو ترلاسه کړو آراوو په تناسب د خپل اعلان شوي لست له لومړيو کسانو نه مجلس ته غړي لېږي، کومي مجموعې چي مثلاً ۳۰% آراء ترلاسه کړل، د دوی د لست له لومړيو نومونو نه به د مجلس د غړو دېرش په سلو کي غوره کېږي او چا چي تر دې کم يا زيات ترلاسه کړل د خپلو آراوو په تناسب به له خپل لست نه غړي معرفي کوي.
- انتخابات يو ځل وي او د څو ځله رأيې اخيستني، بې ځايه مصرف او د ولس له بې ځايه لالهانده کولو نه ډډه کېږي.
- د محلي رقابتونو مخنيوی کېږي.
- منتخب استاځي ځان د خاصي سيمي او ولس وکيل نه بلکي د ټول ملت استاځي ګڼي، په مجلس کي په ملي ګټو او مصالحو تأکيد کوي نه د مؤکلينو د خوشحالولو لپاره د خاصي سيمي لپاره د امتيازاتو ترلاسه کولو لپاره.
- هره رأيه چي صندوق ته لوېږي اعتبار او وزن لري او په مجلس کي ممثل او استاځی لري. داسي نه وي چي ناکام کانديد ته د رأيې په ورکولو سره په مجلس کي د استاځي او وکيل له درلودو محروم شي.
- په دې طريقې کي د ټولنې له اقليتونو سره عادلانه چلند کېږي او د اقليت او اکثريت معضله نه راپور ته کېږي.
- په دې کي د انتخاباتي حلقو د تثبيت ضرورت هم منتفي کېږي، هر افغان په هر ځای کي رأيه ورکولی شي.

• هره مجموعه هڅه کوي چي تر ټولو صالح کسان د کانديدانو په لست کي معرفي کړي تر څو د ملت باور او اعتماد ترلاسه کړي. انتخابات د بډايانو او فيوډالانو له ولګې باسي او د دربيمې او متوسطې طبقې غوره او صالح کسانو ته هم لار پرانيزي.

دوهمه: يا دا چي د هر جامع جومات په سطح د مربوطه سيمي د خلکو په رأيه محلي شورى جوړه شي، دا شورى به يا په اتفاق سره او يا د انتخاباتو له لاري يو کس د ولسوالۍ شورى ته معرفي کوي، د ولسوالۍ شورى به خپل استاځى د ولايت شورى ته او د ولايت شورى به ئې پارلمان ته معرفي کوي.

دغو محلي شوراګانو ته بايد دا واك ورکړى شي چي د خپلي سيمي د ورځنيو لانجو او شخړو د حل و فصل، روغې جوړې او د ضرورت په صورت کي قضا ته د محول کولو صلاحيت ولري، د زکات او عشر راغونډولو، د سيمي له بې وزلو سره د مرستي او د ضروري اجتماعي خدماتو د تر سره کولو لازم او کافي اختيار به ورسره وي، داسي نه چي ټول امکانات مرکز ته راغونډ شي، د مرکز او سېدونکو ته هومره تسهيلات ورکړى شي چي له اطراف سره ئې مقايسه ممکن نه وي، برېښنا، پاکي اوبه، روغتونونه، پوهنتونونه، پاخه سړکونه، پارکونه، بنګلې، ... ټول په مرکز کي او اطراف له دې ټولو محروم، دا کار له يوې خوا د عدالت خلاف او ظالمانه دى او له بلي خوا په ښارونو کي د خلکو د تجمع او له اطراف نه ښارونو ته د خلکو د راکوزېدو باعث کېږي.

منتخب مجلس بايد ترټولو اوچته باصلاحيته مرجع وي، د جمهور رئيس او حکومت په کړو وړو به نظارت کوي، د جمهور رئيس لخوا وړاندي شوې کابينه، تګلاره او کلنۍ بودجه به تصويبوي، د قانون د پلې کېدو بهير به څاري، له چارواکو نه به د استيضاح او پوښتني او د نااهله وزيرانو د عزل صلاحيت به لري، په بهر کي د هېواد لوړ پوړي استاځي، سفيران او دائمي استاځي به د دوى په موافقه ټاکل کېږي.

ځيني ټګماران له دين نه بې خبرو خلکو ته وايي چي اسلام د اهل حل و عقد شورى جوړول او له دې لاري د مشر او زعيم غوره کول لازم کړي، بايد د انتخاباتو

په ځای د حل و عقد شوری جوړه شي!! دا هغه تګماران دي چي د شمالي اتحاد د سلطې په وخت کي ئې د کابل او هرات جهادي - کمونیستي جرګو ته هم د حل و عقد شوری نوم ورکاوو او د امریکایانو د جازونو تر وزر لاندي لویه جرګه ئې هم په دې نامه یادوله!! دغو دین تحریفوونکو ته باید ووایو: نه په ټول قرآن کي او نه د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کي، نه صراحتاً او نه تلویحاً دا خبره موندلی شو چي زعیم او مشر دې د څو کسانو په خوښه او د تړلو دروازو تر شا غوره شي، د اهل حل و عقد ذکر نه په قرآن کي راغلی او نه په احادیثو کي، نه د پیغمبر علیه السلام تر رحلت وروسته له ځلورو خلفاوو څخه کوم یو له دې لاري غوره شوی او نه زموږ له فقهاوو څخه چا دا خبره کړې چي د حل و عقد شوری به د مسلمانانو امیر غوره کوي!! دا اصطلاح د اموي او عباسي مستبدو امراوو د اقتدار په وخت کي رامنځته شوې، دوی اقتدار د اسلام د واضح حکم په خلاف په موروثي توګه ترلاسه کړی، پلار زوی ته په میراث پرېښی، بیا ئې د خپلي خوښي خلك راغونډ کړي، دې ته ئې د حل و عقد شوری نوم ورکړی، د دوی بیعت ئې د ټول امت بیعت ګڼلی، ځینو سوء علماوو دې ته شرعي او اسلامي رنګ ورکړی او اوس زموږ د زمانې دین خرڅوونکي هري فرمایشي او د مستبدو حکامو انتصابي شوری ته د حل وعقد نوم ورکوي او هغه د ولس ممثله شوری ګڼي. یوه ډله خو داسي ده چي پرون ئې خپله انتصابي جرګه د حل وعقد شوری ګڼله خو نن د همغې جرګې غړي په دې خاطر واجب القتل ګڼي او یو په بل پسې ئې وژني چي له بل سره ملګري شوي، اسلام هم د دې په کلکه مخالف دی چي اقتدار د یوې کورنۍ موروثي حق وګڼلی شي او هم د دې چي زعیم دې د تړلو دروازو تر شا د څو کسانو په خوښه وټاکلی شي، اسلام د زعامت لپاره عام او معلن بیعت د اساسي شرط په توګه ټاکلی او هغه څوك شرعي امیر ګڼي چي د ولس لخوا له فشار او زور نه پرته د امارت لپاره غوره شي، ولس ورسره بیعت وکړي، اسلام ټولو مؤمنانو ته دا وظیفه ورکوي چي د امارت امانت هغه چا ته وسپاري چي د دې دندې اهلیت او کفایت ولري.

د النساء د سورې په ۵۸ او ۵۹ آیت کي راغلي:

یقیناً چي الله تاسو ته د دې امر کوي چي امانتونه خپل اهل ته وسپارئ او کله

چي د خلکو ترمنځ پرېکړه کوئ نو په عدل سره پرېکړه وکړئ، بې شکه چي الله په ډېر غوره څه تاسو ته نصيحت کوي، يقيناً چي الله بصير اوربېدونکی دی.

ای مؤمنانو! د الله اطاعت وکړئ او د پيغمبر او د خپلو چارواکو اطاعت وکړئ، نو که په کوم څه کي مو په خپلو کي شخړه وکړه، نو الله او پيغمبر ته ئې راجع کړئ، که پر الله او د آخرت په ورځ ايمان لرئ، دا ډېر غوره دی او د پايلې له لحاظه ډېر ښايسته.

په دغو دوو آيتونو کي د اسلامي نظام په هکله څو داسي اساسي لارښوونې شوې چي که په ټول قرآن کي يوازي همدا آيتونه راغلي وی نو د دې نظام د معرفي لپاره کافي وو. په دې آيتونو کي لاندي مطالب راغلي:

- الله تعالی ټول اسلامي امت ته امر کوي چي امانتونه خپل اهل ته وسپاري. د امانت معنی عامه هم کېدی شي او په هر مادي او معنوي امانت ئې هم اطلاق کېدی شي، خو دلته له امانت نه مراد د واکمنۍ او اقتدار امانت دی.
- د اسلام له نظره اقتدار يو امانت دی او د اقتدار خاوند د خلکو د امانتونو يو امين.
- دا (امانت) به د مسلمانانو لخوا هغه چا ته سپارل کېږي چي (اهليت) ئې ولري. او دا د ټول اسلامي امت مأموريت او الهي فريضه ده چي د اقتدار امانت او په هغه پورې مربوط ټول امانتونه به داسي چا ته سپاري چي د دې وړتيا او اهليت په کي وي.
- چا ته چي د امارت او واکمنۍ امانت وسپارل شي، هغه به په دې امانت کي د يوه امين په څېر تصرف کوي، نه د يوه مطلق العنان حاکم په څېر.
- دا د امانتونو امين په دې مکلف دی چي د خلکو ترمنځ به ئې هر قضاوت پر عدالت ولاړ وي.
- که د دې امين (امير) او د امانت د اصلي خاوندانو (خلکو) ترمنځ په کوم څه کي اختلاف راولاړ شي، نو منازعه به د الله کتاب او د رسول سنت ته راجع کېږي، ورروستۍ پرېکړه به د قرآن او سنت له مخې کېږي.
- د قانون په وړاندي ټول برابر دي، هيڅوك دا حق نه لري چي ځان له قانون نه

اوچت وګڼي، قانون ځان ته تابع او ځان د وروستۍ پرېکړې وروستۍ مرجع وګرځوي.

له دغو مبارکو آيتونو نه لاندې خبرې معلومېږي:

اسلام د امير انتخاب هم د مسلمانانو وجيبه ګڼي او هم ئې حق. د خلکو لخوا (ښکاره) او (په خپله خوښه) بيعت ئې د امارت لپاره شرط ګرځولی.

له امير سره د خلکو بيعت داسې نه دی چې لومړی به هغه له کومې بلې لارې امير کېږي او بيا به خلک د بيعت شکلي مراسم د دې لپاره ترسره کوي چې د ده په وړاندې د خپل اطاعت ښکاره ونه کړي، خبره داسې نه بلکې برعکس ده، دا بيعت دی چې په هغه سره څوک امير کېدی شي، تر څو چې خلک له چا سره بيعت ونه کړي امارت ئې نه شي مسلم کېدی، امير هغه دی چې خلک ورسره بيعت وکړي، له بيعت نه پرته مسلط شوی واکمن يو جابر او غاصب حاکم دی.

ابوبکر رضي الله عنه هلته امير شو چې خلکو په جومات کې له ده سره بيعت وکړ، عمر رضي الله عنه له هغه وروسته امير شو چې د خلکو بيعت ئې ترلاسه کړ، د ابوبکر رضي الله عنه لخوا څخه د ده انتخاب يوازې يو وړانديز وو، هغه ولس ته د عمر رضي الله عنه د غوره کولو وړانديز وکړ او عمر رضي الله عنه له شهادت نه مخکې شپږ کسان د دې لپاره غوره کړل چې له خپل منځ نه يو کس انتخاب کړي او بيا دغه کس د بيعت لپاره ولس ته معرفي شي.

د عثمان رضي الله عنه انتخاب داسې ترسره شو چې لومړی عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د ده او د علي رضي الله عنه په هکله، د مديني له خلکو نه، د ښځو په شمول، او له ولاياتو نه د راغلو خلکو په شمول، تر درېو ورځو مسلسل پوښتنې وکړې، د دوی رأيه ئې ځان ته معلومه کړه، په جومات کې ئې دا خبره اعلان کړه چې د مديني زياتره خلک د عثمان رضي الله عنه په امارت راضي دي، زه له دوی دواړو نه تاسو ته عثمان رضي الله عنه غوره کوم، خلکو توافق وکړ، بيعت ترسره شو او له دې وروسته عثمان رضي الله عنه خليفه شو، د ده له شهادت نه وروسته علي رضي الله عنه په جومات کې او له بيعت نه وروسته خليفه شو. دا بهير موږ ته ښيي چې بيعت د امارت لپاره شرط دی، يوازې له بيعت نه وروسته څوک

امير کېدی شي نه له بيعت نه مخکې.

له دې بهير نه دا هم معلومېږي چې بيعت څرګند کار دی نه پټ، د عامو خلکو کار دی نه د خاصو ، په جومات کې تر سره شوی نه په کوم قصر کې، ټول هغه خلك په کي برخه اخيستي شي چې جومات ته ئې په راتلو بنديز نشته.

د پيغمبر عليه السلام سنت او د اصحابو رضي الله عنهم منهج ته په پام سره ويلی شو چې:

- د يوې غيراسلامي ټولنې په سياسي حاکم نظام کي به له برخي اخيستو ډډه کوو ، حتی که د دې نظام رياست هم موږ ته ومنلی شي.
- په دې نامسلمانې ټولنې کي د انتخاباتو له لاري د تبديلي راوستو او قدرت ته د رسېدو هڅه به نه کوو ، دا ځکه چې پيغمبر عليه السلام داسي نه دي کړي.
- اسلام موږ ته امر کړی چې لومړی به انقلاب راولو ، غيراسلامي ټولنه به د جهاد له لاري په اسلامي ټولنې بدلوو او اقتدار به له ظالمانو نه صالح کسانو ته انتقالوو ، خو د انقلاب له راتلو او د اسلامي ټولنې له جوړېدو وروسته به قدرت ته د رسېدو هره هڅه حرامه ګڼو ، هلته به وسلې ته لاس کول او يا د زور او سازشونو له لاري قدرت ته د رسېدو هڅه نه کوو ، اقتدار به د مسلمانانو امانت او دا به د خلکو حق ګڼو چې قدرت د خپلي خوښي صالح او اهل کس ته وسپاري، دلته به امير د مسلمانانو په خوښه او د دوی د بيعت له لاري ټاکل کېږي.
- د امير انتخاب د ټولنې د ټولو مسلمانانو کار دی نه د څو محدودو کسانو کار، دا ځکه چې خلفای راشدين په جومات کي غوره شوي، نه د تړلو دروازو تر شا او د څو کسانو په خوښه.
- د امارت لپاره له يوه نه زيات کسان هم نومول کېدی شي، داسي لکه چې عمر رضي الله عنه ونومول.
- که له يوه نه زيات کسان د امارت لپاره راوړاندي کړی شول، د استفتاء او د خلکو رأيې ته د مراجعې له لاري کولی شو د دوی له منځ نه هغه څوك غوره کړو چې د مسلمانانو اکثريت ئې د امارت لپاره اهل ګڼي.
- د امارت لپاره خاص مواصفات ټاکل شوي، د دغو مواصفاتو له مخې به اهل

کسان نومول کېږي، خو د اهل کسانو له منځ نه د یوه انتخاب به د مسلمانانو د اکثریت په رأیه ترسره کېږي.

دا ډېره عجیبه ده چي د دغو څرګندو نصوصو په موجودیت کي او په داسي حال کي چي د راشدینو خلفاوو د انتخاب څرنګوالی ئې په مخکي پروت دی، ځیني امارت موروثي حق ګڼي، حال دا چي موروثي نظام او سیاسي، اجتماعي او مذهبي زعامت په موروثي توګه له پلار نه زوی ته انتقال، هم د عقل خلاف دی او هم د عدل او هم د دین. د پیغمبرانو یو اساسي مأموریت تل دا وو چي دغه ظالمانه او د عدل او عقل خلاف نظام ختم کړي. متأسفانه په مسلمانانو کي ځیني د دغي غلطي مفکوري پلوي کوي او هغې ته دیني رنګ ورکوي.

شیعه هم امامت موروثي ګڼي او په دې عقیده دي چي امامت یوازي د علي او د ده د اولاد رضي الله عنهم مسلم حق دی!! او وایي چي دوی د الله له لوري غوره شوي!! د دوی په ځواب کي باید ووایو: که دا خبره سمه وی نو لومړی خو به په قرآن کي حتماً په دې هکله صریح آیت راغلی وو، پیغمبر علیه السلام به خلکو ته په واضح الفاظو ویلي وو، صحابه وو به هغه د لومړي خلیفه په حیث او د ده اولاد له ده نه وروسته د امراوو په حیث غوره کړي وو، علي رضي الله عنه به له مخکنیو خلفاوو سره بیعت نه کاوو او تر ټولو مهمه خبره دا چي په قرآن کي به دا آیت نه راتلو چي ای مسلمانانو! الله تاسو ته امر کوي چي د امارت امانت اهل ته وسپارئ، که امارت موروثي وی او امیر د الله او پیغمبر له لوري غوره کېدی نو مسلمانانو ته به ولې دا خبره کېده؟! او که موروثي وی نو میراث خو ورثه وو ته پرته له دې سپارل کېږي چي وګوري هغه ماشوم دی که ستر، هغه روغ دی که ناروغ، عقل لري که بې عقله دی، په میراث کي خو د اهلیت شرط نه شي وضع کېدی. آیا تاسو نه ګورئ چي د نړۍ په ظالمانه موروثي نظامونو کي دې خبري ته څوك نه ګوري چي د واکمن وارث د دې منصب اهل دی که نه، زوی، لور او ښځي ته ئې په میراث پاتې کېږي. د قرآن په لسهاوو آیتونه د اهل کتابو د دغي غلطي انګېرنې د تردید لپاره راغلي چي دوی په موروثي نظام او له پلار نه اولاد ته د مذهبي مقام او منزلت په انتقال باور درلود.

دا هم ډېره عجيبه ده چي ځيني وايي: د يو چا د امارت لپاره د پنځو کسانو بيعت هم کافي دی، که له ټول امت نه يوازي پنځه کسان او حتی يو کس له چا سره بيعت وکړي هغه مسلم امير دی او په ټولو ئې اطاعت واجب!! دا هسي بې بنسټه خبري دي هم د څرګندو نصوصو خلاف او هم د صحابه وو د منهج خلاف. دا خبري يا هغه څوك کولی شي چي دا ټول حقايق له پامه وغورځوي او يا هغه چي د کوم دربار مفتي وي.

امارت د امانت په نامه يادول، دا حقيقت په ګوته کوي چي امير به په ټولو هغو امانتونو کي د مسلمانانو په مشوره تصرف کوي چي د خلکو له لوري ورسپارل شوي، هيڅوك د چا په امانت کي د امانت ورکوونکي له موافقې پرته د تصرف حق نه لري او اسلام داسي تصرف په امانت کي خيانت ګڼي.

له دې حکم څخه چي د امير او خلکو ترمنځ اختلافي قضايا به قرآن او سنت ته راجع کېږي، دا حقيقت په ډاګه معلومېږي چي امير په مشوره مکلف دی، د اختلاف په صورت کي ده ته د وروستۍ پرېکړي حق نه دی ورکړي شوی، وروستۍ فيصله به د قرآن او سنت له مخې کېږي. او همدا پر الله او د آخرت پر ورځي د ايمان تقاضاء ګڼل شوې.

خو دلته له اولوالامر منکم نه مراد د مسلمانانو کوم چارواکي دي؟ هر آمر که يوازي خليفه او اميرالمؤمنين؟ که څه هم د اولي الامر منکم اطلاق په هر آمر کېدی شي، خو په دوه دليله په اطمئنان سره ويلی شو چي له دې نه مراد د مسلمانانو عمومي امير دی: له الله او پيغمبر نه وروسته ئې ذکر شوی. له نورو امراوو او چارواکو نه اطاعت په اصل کي له عمومي امير نه اطاعت دی.

§ دې خبري ته هم بايد متوجه وو چي د افغانانو غوڅ اکثريت اسلامي نظام غواړي، د اسلام لپاره ئې قرباني ورکړې، له اسلام نه پرته په بل څه نه راضي کېږي، که بل نظام د وسلې په زور او د بهرنيو لاسوهنو، سازشونو او فشارونو له لاري د دوی په هېواد وتپلی شي پايله به ئې د شوروي اتحاد د وسلو او فوځونو په زور د تپل شوي نظام پايله وي او فقط تر هغه به دوام کوې چي افغان ولس ئې د نسکورولو توان او فرصت ترلاسه کوي.

§ افغانان اوس اسلامي نظام له غير اسلامي نظام نه تر ډېره حده پېژندی شي، د جهاد په کلونو کي دوی له اسلام نه هومره څه زده کړي چي اوس ئې څوك په آسانۍ نه شي غولولی.

§ اسلامي نظام هغه دی چي په هغه کي: اسلامي شريعت د ټولو قوانينو يوازنی مأخذ وي، ټولي شخړې او منازعات د اسلامي شريعت په رڼا کي حل وفصل شي، چارواکي په خپلو ټولو اجرءاتو کي شريعت ته التزام ولري، له ملت سره په مشوره مکلف وي او د ملت له استاځو جوړه شوې شوری تر ټولو با صلاحيته مرجع وي. د چارواکو په واك کي صلاحيتونه او ملي شتمنۍ امانت وګڼلی شي، د ولس معلن او بلا اجبار بيعت او رأيه د نظام د مشروعيت مبنا وي او ولس مشر د ولس په خوښه غوره شي.

§ د دغو اصولو په رڼا کي موږ د هېواد لپاره داسي نظام غواړو چي:

§ ولس مشر به د ملت په خوښه او د آزاد ، معلن او غير اجباري بيعت له لاري ټاکل کېږي، نه د محدودو کسانو له خوا او په پټه، په جومات کي به ټاکل کېږي نه په قصرونو کي، ټول خلفاء راشدين په جوماتو کي غوره شوي نه په کوم قصر يا پټ ځای کي، له بيعت نه وروسته خليفه شوي نه له بيعت نه مخکي، بيعت د خليفه له انتخاب نه وروسته شکلي يا رسمي مراسم نه دي بلکي خليفه له همدې لاري غوره کېږي، خليفه هغه دی چي ملت ورسره بيعت وکړي، دا د کوم شخص يا کورنۍ موروثي حق نه دی چي له پلار نه زوی ته په ميراث پاتې شي، دا د ملت امانت دی چي په خپله خوښه به ئې اهل ته سپاري. هم د دې امانت د اهل تشخيص د ولس حق او وظيفه ده او هم ئې سپارل، يوازي هغه څوك د مسلمانانو جائز مشر ګڼل کېږي چي مسلمانانو په خپله خوښه انتخاب کړی وي او په خپله رضاء ئې ورسره بيعت کړی وي. په صندوق کي رأيه اچول د بيعت ښه نعم البدل دی. ځکه مخامخ بيعت په يوې وړې ټولنې کي ممکن دی نه په سترې ټولنې کي.

§ منتخب مشر به له يوې خوا په دې مکلف وي چي په ټولو چارو کي به د شريعت په نسبت التزام لري، له بلي خوا به له ولس سره په مشورې مکلف وي. په اسلامي ټولنې کي امور په مشوره ترسره کېږي، نه دا چي حاکم آخري مرجع وي. د

قوانینو مرجع شریعت، عرف او اجماع ده، واکدار او هیچا ته دا حق نه دی ورکړی شوی چې له خپلي خوا قوانین صادر کړي. قضایا به د شریعت مطابق حل و فصل کېږي او امور به د خلکو په مشوره تر سره کېږي. اولي الامر هم له شریعت نه د انحراف په صورت کي مستحق العزل دی او هم د استبداد، مطلق العناني او د مشورې له اصل نه د انحراف په صورت کي.

§ په دې نظام کي چارواکي د ولس مالك الرقاب او د هېواد ټولواك نه بلکي د ولس خادم او د دوی د امانتونو امین وي. فقط په هغه صورت کي او تر هغه وخته د واك امانت له ده سره پاتې کېدی شي چي د امانت اصلي خاوندان یعني ولس وغواړي او په امانتونو کي ئې خیانت نه وي کړی.

§ هم د ده صلاحیت د شریعت په رڼا کي او د مسلمانانو په خوښه ټاکل کېږي او هم ئې حقوق، وجائب او مسئولیتونه.

§ د اسلام له نظره هغه د ولس (مستخدم) دی، نه آقا او بادار، د (خدمت) په دوران کي یوازي هومره (اجوره) ترلاسه کولی شي چي ولس ئې ورته ټاکي، واکمني ده ته په نورو مسلمانانو هیڅ مادي امتیاز نه بخښي.

§ په اسلامي ټولنې کي د مشر لپاره، د سلطان، پاچا، واکدار، حاکم او رئیس په ځای د خلیفه نوم او مفهوم غوره شوی، چي ځای ناستي ته وایي، دا ځکه چي په اسلامي ټولنې کي مشر د خلکو له خوا غوره کېږي او د خلکو نائب او ځای ناستی وي، خلك ئې د بیعت له لاري غوره کوي، په ملي شتمنیو کي د ولس د استازي په حیث او د دوی په مشوره تصرف کوي. هغه (آمر) نه دی، (امیر) دی، فرمانونه نه صادروي، کارونه ترسره کوي، د آمر او امیر ترمنځ فرق همدا دی: آمر یعني امر کوونکی، حکم کوونکی او امیر یعني د امورو ترسره کوونکی او د چارو سنبالوونکی.

§ نظام باید داسي وي چي په دیکتاتورۍ او استبداد منتج نه شي. داسي نه چي واك د یوه کس یا کورنۍ په لاس کي پرېوځي نو ټولواك شي او اقتدار د دغي کورنۍ موروثي حق.

§ اسلام، سلطنتي نظام هم د فساد او تباهۍ عامل ګڼي او هم ئې د انساني

عدالت او برابرۍ مغاير. هغه اختيارات چي په سلطنتي نظام کي يوه (پاچا او سلطان) ته ورکول کېږي، اسلام دا اختيارات فقط د الله تعالی لپاره مختص کړي. د اسلام له نظره پاچا هغه څوك دی چي ځان د خدای ځای ناستی ګڼي، که څه هم دا خبره په خوله نه کوي. قرآن د فرعون په هکله وايي چي هغه ځان د خلکو (اله) او (رب اعلی) ګڼلو، يعني ځان ته ئې هغه اختيارات ورکړي وو چي يوازي له خدای سره ښايي. قرآن د فرعوني نظام څو ځانګړتياوې بيانوي:

۱. فرعون ځان (اله) ګڼي، د حلال او حرام، جائز او ناجائز د ټاکلو وروستۍ مرجع.

۲. ځان ته ټولواك وايي او د مصر د ټولو شتمنيو مالك.

۳. هغه خلك په ډلو ډلو وېشلي: مرفه او حاکمه طبقه، محرومه او محکومه طبقه، فوځ او واکمنه طبقه.

• قدرت بايد په مرکز کي داسي متمرکز نه شي چي څو کسان د کودتا له لاري وکولی شي دا مرکز اشغال او په ټول هېواد مسلط شي او يا بهرني ځواکونه د مرکز په نيولو سره ټول هېواد اشغال کړي، هم بايد د کودتاګانو ټول امکانات د تل لپاره له منځه يووړی شي او هم بهرني ځواکونه داسي ګمان ونه کړي چي د مرکز په نيولو سره ټول هېواد نيولی شي. نه داسي نظام چي په انارشيزم منتج شي او هېواد د تجزيې په لور وخوځوي او تجزيه غوښتونکي شرير ځواکونه، منطقوي، محلي او قومي خپلواکۍ او تجزيې ته وهڅوی او يا بهرني ځواکونه د مرکز د ضعف په وجه د هېواد ځيني برخي اشغال کړی شي، نه له مرکز نه تېښته او نه په مرکز کي ذوب کېدل، بلکي د دواړو تر منځ تعادل، نه دا چي په مرکز د څو کسانو تسلط په دې منتج شي چي د هېواد او ولس هر څه د دوی د خوښي مطابق تغيير ومومي، فرهنګ، مذهب، اخلاق، دود دستور، خارجي او داخلي سياست، اقتصادي او اجتماعي نظام او هر څه، پنځه کمونست افسران کمونستي انقلاب اعلان کړي او پنځه د اروپا او امريکا په نايټ کلپونو کي ستر شوي د امريکا په زور په مرکز مسلط او په ټول هېواد امريکائي ديموکراسي او کوبايي اخلاق مسط کړي، راډيو، تلويزيون، اخبار او مجلې، مسجد او منبر د دوی په لاس کي پرېوځي.

• نظام بايد داسي نه وي چي اقتدار له بر نه د لاندي په لور او له مرکز نه د

اطراف په لور خور شي.

• اجتماعي عدالت تأمين کړي، د مرکز او اطراف تر منځ ژور تفاوت رامنځ ته نه کړي. داسي نه شي چي ټول تسهيلات او وسايل د مرکز په واك کي وي او واکمنان او د مرکز اوسېدونکي ترې برخمن وي او د اطراف اوسېدونکي له ټولو ابتدائي تسهيلاتو محروم وي. بايد اطراف د مرکز قرباني نه شي، بايد اطراف د مرکز د استحصال او استثمار وسيله نه وي، دا نه له عدالت سره اړخ لګوي او نه په هيڅ معيار او ميزان کي د منلو دی چي سړك، برق، ګاز، پاکي اوبه، روغتونونه، پوهنتون، مکاتب او مدارس، پارکونه او ... په مرکز کي وي او د اطراف خلك له دې ټولو محروم!! په دې سره له يوې خوا عدالت تر پښو لاندي کېږي، له بلي خوا خلك له اطراف نه د مرکز په لور مخه کوي، په ښارونو کي ازدحام جوړېږي، اطراف ورو ورو تخليه کېږي، زراعت او مالداري چي د ملت د عوايدو ستره او اساسي منبع ده صدمه ګوري.

• د دولت د ټولو عوايدو منبع په اصل کي خلك دي، که دا ماليه ده او که د ګمرکاتو محصول، د ګمرك اصلي تأديه کوونکي هم خلك دي نه تاجران، تاجر چي د ګمرك په نامه څه ورکوي له عام اخيستونکو نه ئې ببرته تر لاسه کوي! د عدالت غوښتنه دا ده چي له شتمن نه واخستلی شي او نادار ته ورکړی شي. اسلام هغه نظام مردود ګڼي چي له غريب نه ئې اخلي او په مرفه او بډای طبقې ئې مصرفوي. په اسلامي نظام کي دولت د محرومانو متکفل دی، هغه مکلف دی چي له شتمنو څخه به عشر او زکات اخلي او محرومانو ته به ئې ورکوي. قرآن د دې مخالف دی چي سرمايه د محدودو کسانو ترمنځ لاس په لاس شي، د محروم له مجبوريت نه ناروا استفاده وشي، اسلام احتکار د دې لپاره تحريم کړی چي په دې سره بډايان د بې وزلو له احتياج نه ناروا استفاده کوي، ضروري شيان احتکار کړي او په دې سره ئې بيه لوړه او له بې وزلو نه ګټه ترلاسه کوي، اسلام سود د همدې لپاره حرام کړی چي دا د محرومانو له مجبوريت نه د شتمنو د استفادې ذريعه ده.

د اجتماعی عدالت معنی دا ده چي د ټولنې ټول وګړي برابر وګڼلی شي، له خلکو سره برابره معامله وشي، دولت په خپلو اجراءاتو کي دا برابري او عدالت

مراعات کړي. بډايان او واکمنه طبقه دا حق ونه لري چي له خپل واك او شتمنۍ نه د محرومانو او مظلومانو د استثمار لپاره استفاده وکړي، دا حق هم ونه لري چي له دولتي حيثيت نه په استفادې سره کومه تجارتي او اقتصادي معامله ترسره کړي، داسي ګټه شريعت تحريم کړې. انګريز ډوله انتخابات په اصل کي بډايانو ته دا موقع په لاس ورکوي چي په اقتدار کي شريك شي او بيا له دې اقتدار نه په استفادې سره د خپلو شتمنيو د زياتولو فرصتونه ترلاسه کړي، نه يوازي دا چي د نورو رأيه ارزانه اخلي او ګرانه ئې خرڅوي، بلکي د ملي شتمنيو په غارت کي له چارواکو سره شريك شي.

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۴|۵|۲۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# پيغام

وَ لَيَنصرَنّ اللّهُ مَن يَنصرُهُ إِنّ اللّهَ لَقَوِىٌ عَزِيزٌ *

گرانو هېوادوالو!

غيرتي او با ايمانه مجاهدينو! السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

الله تعالى زموږ مجاهدو پلرونو ته ۸۲ كاله د مخه پر انگرېزانو برى وركړ او ۱۲ كاله د مخه ئې موږ ته د اتحاد شوروي پر ځواكونو فتحه راپه برخه كړه، خو موږ نه هلته په دې بريالي شوو چي آزاد، خپلواك او اسلامي افغانستان جوړ كړو او نه اوس. انگرېزان ووتل خو خپل لاس پوڅي ظالم او مستبد پاچايان ئې ترشا پرېښودل، روسي فوځونه مو وايستل خو اقتدار ئې هغې ائتلافي جبهې ته په لاس وركړ چي د دوى پر ځاى له افغان ولس سره وجنگېږي او د روسي فوځونو نيم گړى مأموريت پوره كړي!! دا دى اوس يو ځل بيا زموږ په هېواد كي د انگرېزانو او امريكايانو ترمشرۍ لاندي د صليبي ځواكونو بيرغونه رپېږي، موږ ته پېغور راكوي، زموږ غيرت آزمويي او زموږ دين، مذهب، خپلواكي او آزادي گواښي. بيا گورئ چي نيواكگران له خپلو افغاني غلامانو نه د آزادۍ او ديموكراسۍ اتلان جوړوي او د دوى افغاني غلامان، خپل باداران د آزادۍ بخښونكو او بيا ودانونكو په نامه ستايي، بيا آزادي غوښتونكي مجاهدين د (اشرارو)، (تخريبكارانو) او (تروريستانو) په نامه يادوى او زموږ ملت او مجاهدينو ته همغه څه وايي چي انگرېزانو او د دوى شاه شجاع ۸۲ كاله د مخه ويل او روسانو ۱۲

کاله مخکي ويل، دا دی تاريخ بيا تکرار شو او بيا ئې زموږ پر اوږو د آزادۍ د يوې بلې جګړې درونده پېټی کېښود ، بيا له موږ نه غواړي چې د ميوند او جګدلك خاطرې راژوندۍ کړو او بل ستر او تاريخي جهاد ته ملا وتړو. الحمد لله دا جهاد پيل شوی، ورځ په ورځ ئې لمن پراخه شوې او اوس داسې مرحلې ته رسېدلی چې بری ئې نږدې برېښي، إن شاء الله زموږ زړه ور مجاهدين به صليبي ځواکونو ته داسې ماتې ورکوي لکه چې پلرونو ئې انګرېزانو او روسانو ته ماتې ورکړې وه، موږ د الله تعالی په رښتونو وعدو دا باور لرو او راتلونکي ته دا ډاډمن انتظار چې إن شاء الله ډېر ژر به زړه ور او مجاهد افغانان له غرونو، سردرو او کليو راکوز شي، شنه بيرغونه په لاس کې، د تکبير له نارو سره، د ښارونو له باايمانه او ديندارو اوسېدونکو سره به يو ځای شي، د ښکيلاکګرو اډې به محاصره کړي، د جګدلك او ميوند خاطرې به راتازه کړي، په ارګ باندې به د اسلام بيرغ ورپوي، د زندانونو دروازې به پرانيزي، ټول هغه کسان به آزاد کړي چې د اسلام او آزادي غوښتلو په تور نيول شوي وو ، د دوی په ځای به د انګرېزانو او امريکايانو جاسوسان او ملي خائنان په دې زندانونو کې واچوي، نړۍ والو ته به اعلان کړي چې نور نو افغانان آزاد او خپلواك دي، د خپلې خوښې اسلامي حکومت به جوړوي او خپل مشران به په خپله غوره کوي.

موږ هغو خلکو ته حيران يو چې د انګرېزانو تر بيرغ لاندې له انګرېزانو نه د آزادۍ ورځ لمانځي، نه پوهېږو دا څنګه آزادي ده او دا څنګه جشن او لمانځنه ئې!! نه پوهېږو په دې ځان دوکه کوي که خپل ولس او که نړيوال!! په داسې حال کې چې اوس ئې په هېواد کې د انګيريزانو نظامي اډې دي، هلته زندانونه لري، راډيويي او تلويزيوني نشرات کوي، د افغاني فوځ او پوليس روزنه د انګرېزانو په لاس ترسره کېږي، هم د هېواد ځمکه او هم هوا د دوی په واك کې ده، د جمهور رئيس امنيت، حتی په ارګ کې هم دوی ساتي!! نو څوك به دا ومني چې افغانستان آزاد دی او افغان ولس د خپل برخليك څښتن!! إن شاء الله افغانان به د واقعي آزادۍ جشن لمانځي، خو هغه وخت چې ټول بهرني نيواکګر ځواکونه زموږ د ګران هېواد له لوېشت خاورې نه وتلي وي، په هېواد کې د اسلام بيرغ رپانده وي او

موږ د خپلي خوښي منتخب اسلامي حکومت ولرو.
مرگ پر اشغالگرانو
سرلوړي او بريالي دي وي مجاهدين
والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

حکمتيار

افغانستان
۱۳۸۴۱۵۱۲۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# ملت ما و انتخابات امریکائی!!

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:
هم میهنان عزیز!
ملت خداپرست و مؤمن! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

افغانهای غیور و سربلند که آزادیخواه، خدا پرست و وطن دوست اند و هرگز زیربار سلطه اجنبی نرفته، شهادت در راه خدا و در راه دفاع از عزت و سربلندی را بر زندگی ننگین غلامی و اسارت همواره ترجیح داده اند، در مورد توطئه های خطرناك دشمن برای ادامه اشغال کشور به شدت نگران اند، برگزاری انتخابات پارلمانی آنهم زیر چتر سلطه بیگانه را یکی دیگر از این دسایس خوانده، معتقد اند که در کنار تداوم مقاومت علیه اشغالگران، باید راههای دیگری را نیز جستجو کرد و در سنگرهای دیگری نیز به مقابله دشمن رفت و توطئه هایش را خنثی کرد؟ می خواهند بدانند که در رابطه به انتخابات پارلمانی کدام موضعگیری به نفع اسلام و کشور بوده، عدم اشتراك در آن و مقاطعه با آن سودمند است و یا شرکت در آن؟ اگر شرکت در انتخابات ضروری و احیاناً مفید باشد، به کي رأی بدهند و از کدام کاندید و کدام شعارهای انتخاباتی حمایت کنند؟ در جواب این عزیزان و در پاسخ به این نگرانی عرایضی داریم:

• وضع کنونی کشور ما چه از دیدگاه اسلام و مسئولیتهای دینی ما و چه از ناحیه اسارت و آزادی کشور، همانگونه است که نیروهای شوروي افغانستان را اشغال کرد، تنها با یك تفاوت که امروز کشور ما توسط نیروهای امریکائي اشغال شده. مقدرات کشور و ملت ما چون گذشته در دست بیگانگان بوده، اجانب برآن

حکومت می کنند. اشغالگران امریکائي سلطه استعماري شانرا تحت پوشش دیموکراسي منفور، خونین و نظامي بر کشور ما تحکیم می بخشند، غرض اغوای افغانها و جهانیان چهره هائی را به صحنه کشیده اند که در ظاهر افغان جلوه می کنند ولی در واقع ماموران امریکائي بوده، کارتهای تابعیت امریکائي دارند و برای منافع امریکا تلاش می ورزند. در حالیکه وزراء کابینه حکومت دست نشانده افغانهای امریکائي اند ولی تمامی اختیارات وزارتخانه ها بطور مطلق در اختیار مشاورین امریکائي است، حال می خواهند برای حضور درازمدت نظامي و اشغال دائمی افغانستان زمینه سازی نموده، به جهانیان وانمود کنند که افغانها بر حضور نظامي امریکا در کشور شان اعتراضی نداشته، برعکس آن را در راستای تحکیم دیموکراسی ضروری و مفیدمی خوانند، اگر چنین نبود باید اسحله شانرا به این نیروها تسلیم ننموده، و زیر بال طیاره های جنگی امریکا در انتخابات شرکت نمی کردند!! بدیهی است که در چنین حالتی، ملت سربلند و آزادیخواه افغان، برای رسیدن به آزادی و استقلال و طرد دشمن، هیچ راه دیگری جز جهاد را نخواهند یافت، جهاد برای طرد دشمن هم حکم اسلام است و هم تقاضای ظروف و شرائط حاکم بر کشور ما، باید افغانهای مؤمن بار دیگری کمر همت ببندند و اشغالگران را با جهاد و مقاومت خود به خروج از کشور شان وادار سازند، باید در این حقیقت هیچ افغانی شك نداشته باشد که اشغالگران به طیب خاطر کشور ما را ترك نخواهند گفت و ملت ما از هیچ طریق دیگری جز جهاد به آزادی و استقلال کشور نایل نخواهد شد، با انتخابات نه بلکه با جهاد می توان دشمن را از کشور خود طرد کرد.

- انتخابات پارلمانی زیر بال طیاره های جنگی امریکا چون سائر تلاشهای فریبنده دشمن مضحکه ای بیش نبوده، نتائج آن از قبل مشخص شده است، از این طریق می خواهد به حضور نظامي و حکومت دست نشانده ا ش مشروعیت بدهند. هر کسی بخوبی می داند که انتخابات در اثنای اشغال کشور نتیجه ای جز این نخواهد داشت که چهره های دلخواه اشغالگران به زور بازوی سربازان شان و بانثار بی دریغ دالر به پارلمان راه بیابند و به عنوان نمایندگان منتخب ملت به کابینه

مورد پسند امریکا رأی بدهند.

• خود می گویند که برگزاری عادلانه انتخابات ایجاب می کند که گروههای مسلح خلع سلاح شوند ، زیرا موجودیت گروههای مسلح، عادلانه بودن انتخابات را زیر سوال می برد ، بر نتایج انتخابات تأثیر منفی می گذارد و موجب راه یابی تفنگسالاران به پارلمان می شود!! اگر این حرف درست است، پس حضور قطعات تا دندان مجهز امریکائي چرا باید انتخابات را زیر شعاع خود نگیرد و باعث راه یابی چهره های دلخواه شان به پارلمان نگردد ؟! در حالیکه این نیروها هم سلاح در اختیار دارند ، هم پول، هم اخبارها ، مجله ها ، رادیوها و تلویزیونها ، هم زندانهای مهیب و هم میدانهای هوایی، هم اختیار دستگیری و کشتار مخالفین را دارند ، و هم صلاحیت بمباریهای بی رحمانه و وحشیانه قراء و دهات را ، بر قراء و دهات در اثنای برگزاری مراسم عروسی و بر مساجد در اثنای نماز بم می ریزند ، مخالفین را می کشند ، مردم را می ترسانند و عناصر ضعیف النفس و ضمیر فروش را می خرند ، معلوم است که نتایج برگزاری انتخابات در سایه سلطه مطلقه این نیروهای اشغالگر چه خواهد بود!!

• با در نظرداشت این حقایق باید گفت: نخست لازم است سعی کرد تا این درامه مسخره امریکائي را با اعمال مقاطعه خنثی کرد، ولی اگر وضعیت حوزه انتخاباتی شما چنان نباشد که مقاطعه عمومي اعمال گردد و رأی گیری باوجود امتناع شما انجام می یابد ، در آن صورت لازم است کاری کنید که مهره های وابسته اجانب به پارلمان راه نیابند ، برای این مأمول کاندیدها را به دسته های ذیل درجه بندی کنید:

۱. آنانکه ( رفیق ) روسها و دشمن مردم خود شدند ، تحت فرمان افسران اتحاد شوروی علیه ملت خود جنگیدند ، و اکنون و بعد از مرگ اتحاد شورو ی نیز از لحاظ فکري و سیاسی به مسکو وابسته اند.

۲. آنانکه کمونست نبودند ، ولی دست در دست روسها و کمونست ها گذاشتند ، برای منافع مسکو جبهه ائتلافی تشکیل دادند و به اشاره اجانب آتش جنگ دیگری را افروختند.

۳. کسانیکه چون جنگنده مزدور هم در خدمت روسها قرار گرفتند و هم در خدمت امریکائیها، دیروز برای مسکو جنگیدند و امروز به نفع امریکا می جنگند.

۴. عناصر غرب پرست و لاابالی که نه دین و مذهب دارند و نه اخلاق و شرافت، در فساد اخلاقی تا گلو غرق اندو کمال شان این است که در دوران جهاد به سوی غرب فرار کردند، در کاباره ها بزرگ شدند، هویت ملي شانرا از دست دادند و با اخلاق و افکار کاباره ئی زمانی به کشور برگشتند که پرچم امریکا را در افغانستان در اهتزاز دیدند و نیروهای امریکائي را حاکم بر کشور ما، و اکنون اصرار دارند که حضور نیروهای اشغالگر در افغانستان غرض تأمین امنیت و تحکیم دیموکراسی، برای سالهای متمادی دیگر ضروری است!!

۵. آنانکه منافق و دین به دنیا فروش اند، خود را مسلمان می نامند ولی با هر دشمنی علیه اسلام یکجا شده اند، آنانکه خطر شان به اسلام و مسلمانان نسبت به هر دشمن دیگری بیشتر است.

۶. دسته هایی که برای تجزیه افغانستان تلاش می ورزند، به تعصبات قومی و لسانی دامن می زنند و به کشورهائی وابسته اند که منافع شانرا در تخریب افغانستان و تضعیف وحدت ملي افغانها جستجو می کنند.

لازم است به این گروهها و کاندیدان مربوط به آنها از دادن رأی مانع شوید، شکست آنها در انتخابات در واقع شکست توطئه انتخاباتی دشمن می باشد، غرض جلوگیری از راه یافتن این عناصر به پارلمان از هیچ تلاشي دریغ نورزید، باید این چهره های منفور را هرچه بیشتر و بیشتر افشاء کنید، به مردم بگوئید تا از کسانی حمایت کنند که مسلمان اند، به استقلال، آزادی افغانستان و وحدت ملي افغانها باور دارند و حامی خروج بلاقید و شرط و فوری تمامی نیروهای اجنبی از کشور اند.

هر افغان با ایمان و وطنخواه در روشنائی ایمان خود بخوبی درك می کند که در این مرحله حساس و سرنوشت ساز، ایمانش چه تقاضائی از او دارد، مسئولیت اسلامي اش چه حکم می کند، به همکاری و مساعدت چه کسی مکلف است و از

تعاون و همکاری با چه کسی منع شده است. پیامبر علیه السلام می فرماید:

من مشي مع ظالم ليعينه وهو يعلم أنه ظالم فقد خرج من الإسلام.

هر کی با ظالمی به خاطر تقویه و اعانتش همراهی کرد، در آن حالیکه می داند او ظالم است، یقیناً که از دائره اسلام خارج شد.

برادران و خواهران عزیز!

باید مطمئن باشید که خداوند خیرالماکرین تمامی دسایس دشمنان را خنثی خواهد کرد و اشغالگران را به خروج از کشور عزیز ما وادار خواهد ساخت، إن شاء الله دیموکراسی پلید و خونین امریکائیها نیز چون رژیم کمونستی سرنگون گردیده و در افغانستان آزاد و مستقل، حکومت منتخب و نظام دلخواه اسلامي شما تشکیل خواهد شد. برای تحقق این آرمان مقدس، هر افغان مؤمن و غیور تا آخرین رمق زندگی و تا آخرین مرمی شاجور خود به جهاد ادامه خواهد داد. والله علی کل شئ قدیر

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

حکمتیار

افغانستان

۸۴/۱۲/۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# امریکا د تجزیې او زوال په لور

د شوروي اتحاد له زوال او پر افغانستان او عراق د امریکایانو له یرغل او د کابل او بغداد له نیولو نه ځینو کسانو داسي غلطه انتباه واخیسته چي اوس امریکا په یوه داسي زبرځواك بدله شوې چي نه سیال لري، نه ئې څوك مقابله کولی شي او نه داسي کوم ځواك شته چي پر ټولي نړۍ د امریکا د سلطې مخه ونیولی شي. دوی نه په افغانستان کي د مقاومت د پیل او دوام تصور کولی شو او نه هم په عراق کي. په افغانستان کي د مقاومت پیل او ګړندۍ ودي او له یوې سیمي بلي ته خوربدل او بیا د عراقي مجاهدینو شدید مقاومت؛ د ډېرو دا ګمان وجړکاوو، په امریکا کي د جنګ ضد مظاهرو د دوی مخکنی تصور مزید متزلزل کړ او زیات ئې دې نتیجې ته ورسول چي په افغانستان او عراق باندي د امریکایانو یرغل یوه اشتباه وه، پایلې به ئې واشنګټن ته همغسي وي چي شوروي اتحاد په افغانستان کي ورسره مخامخ شو، خو د امریکا په انتخاباتو کي د جورج بش بریا یو ځل بیا د غو کسانو زوړ باور تازه کړ، راشئ وګورو چي د امریکا د مستقبل په اړه دا باور صحیح دی چي زوال ئې نږدې دی او د شوروي پایله ورته منتظر ده او که دا چي امریکا په زوال نه منونکي ځواك بدله شوې؟ راشئ وګورو چي د بش د بیا انتخاب نتیجه به څه وي او د ده سیاستونه به امریکا په کوم لوري بوځي؟

دې پوښتني ته د ښه ځواب موندلو لپاره باید لاندي خبري په پام کي ولرو:

§ د واشنګټن واکدارانو داسي ګمان کولو چي د کابل او بغداد په نیولو سره به امریکا نه یوازي خپل هغه سپکاوی جبران کړي چي په ۱۱ ستمبر دوی ته

ورواوښت، بلکي د اسلام په ضد په خپلي جګړي کي به دوه هغه ملکونه ونیسي چي یو ئې مخکي د اسلامي خلافت پلازمېنه وو او په اسلامي نړۍ کي یو منل شوی فوځي ځواك ګڼل کېږي او بل ئې شوروي ځواکونو ته په ماتې ورکولو سره نړۍ وال اعتبار ترلاسه کړی او په اسلامي امت کي د عزت او درناوي خاص مقام لري.

§ امریکا په افغانستان او عراق له برید نه معکوس نتائج ترلاسه کړل، د دې په ځای چي د ۱۱ ستمبر سپکاوی جبران کړي برعکس ئې مزید سپکاوی په برخه شو، د دې په ځای چي د امریکا ضد مقاومت وټکوي برعکس دا مقاومت مزید مضبوط او خور شو، د دې په ځای چي د عراق د تېلو ځاګاني ئې په واك کي راشي او له دې نه هرکال په ملیاردونو ډالر ترلاسه کړي او د تېلو بیه د دوی په خوښه وټاکلی شي برعکس نن د تېلو د هر بیلر بیه له نهو ډالرو نه اویا ډالرو ته اوچته شوه، د دې په ځای چي د افغانستان له لاري د مرکزي آسیا د تېلو په زېرمو قبضه وکړي، برعکس د افغانستان او عراق پر جګړي ئې هره میاشت تقریباً لس ملیارده ډالر لګښت راځي، تراوسه ئې په دې جګړي درې سوه اتیا ملیارده ډالر مصرف راغلی، په افغانستان او عراق کي ئې نه امنیت تأمین کړی شو، نه پر اوضاع مسلط شول او نه ئې د مرکزي آسیا له زېرمو نه تېل او ګاز د افغانستان له لاري انتقال کړی شول.

§ د ستمبر د یولسمې له پېښې او پر افغانستان د امریکا له برید نه وروسته تر اوسه امریکا هر کال نږدې ۲۰۰ ملیارده ډالره تجارتی خساره لري، د جون په میاشت کي د امریکا تجارتی خساره ۲۸,۹ ملیارد ډالره وه، چي د مې د میاشتی په پرتله ۲,۱ زیاته وه، په دې حساب به سږ کال د دوی تجارتی خساره ۲۸۲ ملیارده ډالره وي او دا به د تېر کال په پرتله ۱۱% کي زیاته وي

§ امریکا د لومړي ځل لپاره څلور سوه ملیارده ډالره د بودجې کسر لري.

§ په ټولي نړۍ مخصوصاً اسلامي هېوادونو او اروپا کي د امریکا په ضد شدید نفرت او کرکه؛ هومره چي نن نن د امریکا په ضد نړیواله کرکه هغې کچي ته رسېدلې چي په ټول تاریخ کي د هیڅ استعماري ځواك په ضد دومره کرکه او نفرت نه شو موندلی. د ګوانتانامو، ابوغریب، بګرام او کندهار په زندانونو کي له بې

وزلو بندیانو سره د دوی وحشیانه، سپك او له اخلاق او انسانیت نه لرې چلند د دوی تور مخ لازیات تور او کرغېړن کړ، د دوی حقیقت ئې ټولو ته بربنډ کړ او د دوی په ضد ئې نړیواله کرکه لازیاته کړه.

§ د بغداد له نیولو وروسته تر اوسه یو زر اته سوه پنځوس امریکایان وژل شوي او نږدې اته زره ژوبل شوي، یوازي په فلوجه باندي د دوی د وروستي وحشیانه یرغل په دوران کي په دریو اونیو کي ۵۱ امریکایان ووژل شول او تر پنځه سوه زیات ژوبل شول، په افغانستان کي تر اوه نیم سوه زیات وژل شوي او نږدې اتلس سوه ژوبل شوي، د عراق او افغانستان توپیر په دې کي دی چي هلته ئې د ځواکونو شمېر زیات او تحرك او د کار ساحه ئې پراخه ده او په افغانستان کي ئې شمېر لږ، تحرکات ئې کم او د فعالیت ساحه ئې محدوده ده.

§ دوه کاله وروسته هم امریکایان په عراق کي د فلوجه، موصل او رمادی په څېر ښارونو د نیولو لپاره او په افغانستان کي د کنر، لغمان، ننګرهار، خوست، پکتیکا، زابل او د ارزګان په ولایتونو کي سترو سترو عملیاتو ته اړ کېږي!!

§ دې ته مو باید پام وي چي امریکا د نړۍ تر ټولو لوی پوروړی ملك دی، سږ کال ئې پور اوه زره څلور سوه ملیارده ډالرو ته رسېدلی. هره ورځ دوه ملیارده ډالره مزید پوروړی کېږي. په راتلونکي کال کي به د امریکا حکومت اته زره دوه سوه ملیارده ډالر پوروړی وي.

§ که د افغانستان او عراق د جګړي په تېرو دریو کلونو کي د امریکایانو مالي او ځاني تلفات د ویتنام د جګړي له لومړیو دریو کلونو سره مقایسه کړئ وبه ګورئ چي د دې جګړي مالي او ځاني تلفات تر هغې زیات دي. هلته امریکا په ټول جنګ ۲۰۰ ملیارده ډالر ولګول، خو اوس ئې یوازي په تېرو درې نیمو کلونو کي ۳۸۰ ملیارده ډالر مصرف شوي!! ځاني تلفات ئې هم د هغه وخت په پرتله زیات دي، د ویتنام له ماتې وروسته امریکا تر شلو کلونو پورې له هجومي حالت نه لوېدلې وه، د کمونیزم په وړاندي ئې په هر ځای کي تدافعي حالت وو او ورځ په ورځ په شا تمبېده، غرب په مجموع کي دفاعي حالت درلود، ورځ په ورځ شاته روان وو، یو په بل پسې ئې د شوروي اتحاد په ګټه خپلي اډې له لاسه ورکولې، د وسلو د خرڅلاو

بازارونه او د مصنوعاتو تجارتي مارکیټونه ئې کمونستي بلاك ته تخلیه کول. کمونیزم نه یوازي په آسیا، شرقی اروپا او افریقا کي په ډېره چټکتیا مخکي روان وو او د غربی حریف سنگرونه ئې فتح کول، بلکي په لاتیني امریکا کي هم د غربي ځواك د مشرتابه د غوړ تر څنګ ئې د خطر زنګونه اوچت وو، ټوله شرقي اروپا، شمالي کوریا، ویتنام، کمبودیا، یمن، سوریه، عراق، مصر، سودان، کیوبا، چلي او ګڼ شمېر د بري په حال کي سیاسي احزاب، د وارسا پکت سره تړلي او له مسکو نه خړوبېدل، پېښې د کمونیزم په ګټه او د غرب د مزید کمزورتیا په لور روانې وې، امریکا د پېښو له مهارولو عاجزه وه، په ویتنام کي د امریکا شرموونکی ماتې د غرب روحیه په کلکه ځپلې وه او د کمونیزم د مقابلې او په دې مقابلې کي د بري طمع ئې ترې سلب کړې وه. د اسلامي نړۍ په سترو سترو مهمو هېوادونو د کمونیزم سلطه او په مصر، سوریې او عراق کي د اسلامي ډلو ځپل، کمونیزم ته له اسلام سره په منازعې کي هم د برلاسي احساس وربښلی وو. کمونیزم له غرب سره په خپلې مقابلې کي تل برلاسی وو، هیڅېري ئې ماتې نه وه خوړلې، خو له اسلام سره په خپلې مقابلې کي هم له فکري لحاظه او هم له نظامي لحاظه له ماتې سره مخامخ شو.

§ د امریکا نظام د بډایانو نظام دی، خواران په کي ځپل شوي، هرڅه د څو بډایانو او د لویو لویو شرکتونو خاوندانو په لاس کي دي. کمونیزم په اصل کي د دغه نظام په ضد په اروپا کي وزېږېدو او محرومو کارګرانو هغه له ظلم او بې عدالتۍ نه د ژغورنې وسیله وګڼلو، خو کمونیزم د اختناق، سانسور، استبداد او له حزبي دیکتاتورۍ نه د فردي دیکتاتورۍ په لور ولاړ او ناکام شو، کمونیزم د غرب په وړاندي ماتې نه ده خوړلې، له غرب سره په خپلې مقابلې کي تل بریالی وو، له اسلام سره په مقابله کي مات شو، خو متأسفانه له دې ماتې څخه د دې په ځای چي مسلمانان ګټه واخلي غرب ترې ګټه اوچته کړه. د ملګرو ملتونو په راپور کي ویل شوي چي د امریکا ۳۷ .ملیونه وګړي په خوارۍ کي ژوند کوي، نه کار روزګار لري او نه د ژوند عادي امکانات، د امریکا اصلي اوسېدونکي ریډ انډین تر سږ کاله له دې منع وو چي د تکزاس په څېر ښارونو ته داخل شي، سږ کال دا

قانون لغو شو او دوی ته اجازه ورکړی شوه چي هغو ښارونو ته ننوتی شي چي د انګرېزانو په لاس د امریکا له اشغال نه مخکي د دوی ښارونه وو.

§ د امریکا متحده ایالات په حقیقت کي یو هېواد نه بلکي د شوروي اتحاد په څېر د **۵۲** هېوادونو مجموعه ده، داسي مجموعې د برلاسۍ په وخت کي متحد پاتې کېدی شي، خو د ماتو او کړاوونو په وخت کي له یوه بل نه بېلېدل ئې حتمي وي، مخصوصاً چي ولسونه ئې نه د کومي ګډي عقیدې او مفکورې په مزي سره تړل شوي وي او نه عدالت او انصاف د یوه بل څنګ ته ودرولي وي. د دې خبري په حقیقت هغه څوك ښه پوهېدی شي چي د امریکا په ګڼ شمېر ایالتونو کي د آزادۍ او خپلواکۍ غوښتونکو خوځښتونو نه خبر وي، په امریکا کي د موجوده نظام د مخالفو غیرقانوني ډلو شمېر تر دوو سوو زیات دی. که د امریکا ظالمانه پانګوال نظام، کومي ستري ماتې وجړکاوو، یقیناً چي دا زړه ماتۍ به رانسکورېږي، دغه حقیقت ته په پام سره، جان کیري د بش انتخاباتي حریف ده ته په هغه پیام کي چي د بش له بري وروسته ئې ورولېږو وویل: د جورج بش په وړاندي تر ټولو مهمه مسئله دا ده چي د امریکا د تجزیې مخنیوی وکړي!!

§ د کاترینا طوفان او د نیواورلیانز د طوفان ځپلي ایالت بد وضعیت وښوده چي امریکایي ټولنه څومره کاواکه او په داخل کي له څومرو سترو سترو ستونزو سره مخامخ ده، هلته بې ساري لوټمار، ډزو، چاودنو، د امریکا له فوځ او پولیس سره د ولس نښتو، په مرکزي حکومت د تور پوستو د مشرانو دغو نیوکو چي د دې سیمي طوفان ځپلو خلکو ته په دې خاطر توجه نه کېږي چي دوی تور پوستي دي او په حکومت کي هیڅ برخه نه لري، جورج بش ویل چي لومړۍ مسئله د امنیت تأمین ده، فوځ ته امر وشو چي لوټماران وولي او وئې وژني، دغه وضعیت نړیوالو ته ثابته کړه چي د امریکا ټولنه یوې داسي وني ته ورته ده چي له لرې ستره او شنه برېښي خو منځ ئې کاواك دی او د نسکورېدو لپاره ئې یوه درنه سېلۍ کافي ده.

که امریکا په عراق او افغانستان کي ماتې وخوري او له دواړو هېوادونو نه ووځي نو له شکه پرته چي دا ماتې به د ویتنام له ماتې نه امریکا ته ډېره خطرناکه او نه جبرانېدونکي وي، وضعیت په ډاګه شهادت ورکوي چي په افغانستان او

عراق کي د امريکا ماتې او له دې هېوادونو نه د دوی وتل حتمي دي. په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ويلی شو چي جورج بش به د امريکا بريژنف او له ده وروسته راتلونکی جمهور رئيس به د امريکا گورباچوف ثابت شي، چي يوه ئې شوروي اتحاد د افغانستان ناکام جنگ ته سوق کړ او بل د ماتې په حال کي د وتلو پرېکړه وکړه او په همدې سره د شوروي اتحاد زوال پيل شو او د همدې گورباچوف په وخت کي ئې جنازه پورته شوه. په تشدد، زور زياتي او د مخالفينو په وژلو او تړلو هيڅ نظام خپله بقا نه شي تضمينولی، دا د يوه نظام د نسکورېدو او زوال عوامل دي نه د بقا او دوام، له کفر سره نظام دوام کولی شي خو له ظلم سره نه، د ظلم او تېري پای تور او تريخ دی که څه هم وځنډېږي. حسيب خدای مهلت ورکوي خو هيڅکله له ظالم نه غچ او انتقام نه هېروي، دا کېدی شي چي ظالم او بې رحمه واکداران يو ځل، دوه ځله، لس ځله عدالت غوښتونکي وځپي او په ټولنې کي داسي حالت راپيدا کړي چي د څه مودې لپاره هيڅوك د دوی پرخلاف د غږ اوچتولو جرأت ونه کړي، په اوضاع داسي مسلط شي چي بادي الرأی او ساده لوح خلك گمان وکړي چي دا نظام نور د نسکورېدو نه دی او په ټولنې کي هيڅ داسي ځواك نه دی پاتې شوی چي واکمن رژيم ته گواښ ثابت شي او د هغه اقتدار تهديد کړي، خو دا د الله سنت دی او د تاريخ په اوږدو کي په وار وار تکرار شوی چي د ظالمو واکدارانو اقتدار به خامخا د مظلومانو په لاس نسکورېږي او د دوی په لاس به له هغوی نه غچ اخيستل کېږي.

§ د امريکا ولس اوس په دې پوهېږي چي د عراق او افغانستان له جگړې نه يوازي هغه امريکائي کمپنۍ گټه ترلاسه کوي چي په بش او د بش په ملگرو پورې تعلق لري، لکه د هاليبورټن کمپنۍ، خو د امريکا ولس هم مرگ ژوبله گالي او هم د جگړې ملاماتوونکي لگښتونه.

امريکا په نورو ملکونو کي پنځه شپېته اډې لري، چي په دې کي نږدې شپږ لکه امريکايان مستقر دي، د امريکا نظامي بودجه د نړۍ د ۱۹۰ ملکونو د نظامي بودجې ۴۵% ده او له امريکا وروسته د ۱۵ بډايو ملکونو له نظامي بودجې سره برابره ده. د ملل متحد ټوله بودجه د امريکا د دفاع وزارت د بودجې ۰٫۴% او د

امریکا د بودجې ۰٫۰۷% ده، د ملل متحد کلنۍ بودجه هومره ده چې پنتاګون ئې په ۳۲ ساعتونو کې مصرفوي. دا ټول ملاماتونکي نظامي لګښتونه د څه لپاره؟ دا په داسي حال کي چي د ملګرو ملتونو په کلني راپور کي ویل شوي چي په ۲۰۰۵ کال کي د امریکا ۳۷ ملیونه وګړي په فقر کي ژوند کوي!! دا ولې د امریکا چارواکي د دې په ځای چي د خپل ولس ستونزي حل کړي، برعکس خپلي شتمنۍ په نظامي چارو، د اتمي او ټول وژونکو وسلو په تولید لګوي؟ دې ته مو هم باید پام وي چي دا مصارف له کومه کېږي؟ دا خو یا د امریکا له ولس نه ترلاسه کېږي او یا د نورو ملکونو له غارت نه!! دوی د نړۍ د غارت لپاره غواړي خپله نظامي برلاسي پر نورو تحمیل کړي، د نړۍ په ګوټ ګوټ کي نظامي اډې جوړې کړي او د خپلو هغو شرکتونو لپاره په زړه پورې شرایط برابر کړي چي د نړیوالو په غارت لګیا دي. د امریکا لوی لوی کثیر القومي شرکتونه د ټولي نړۍ په غارت او لوټلو مصروف دي، یوازي میکدونالډ شرکت ئې په ۱۲۰ ملکونو کي تر دېرشو زرو نه زیات رستورانونه لري.

د امریکا له سیاسي، اقتصادي او نظامي وضعیت نه معلومېږي چي دا وحشي او له اخلاق او دین نه عاري امپراطوري هم په هغه لور روانه ده چي شوروي اتحاد له خپل زوال نه مخکي او په افغانستان له برید نه وروسته درروان وو، ډېر ساده لوح کسان به دا ګمان کوي چي د امریکا مستقبل به د شوروي اتحاد له مستقبل نه توپیر ولري.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۴/۲/۱۰

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کمکي اختر په مناسبت

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:

وَ الّذِینَ ءَامَنُوا وَ هَاجَرُوا وَ جَهَدُوا فی سبیل اللّهِ وَ الّذِینَ ءَاوَوا وَّ نَصرُوا أُولَئك هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لهُم مّغْفِرَةٌ وَ رِزْقٌ کَرِیمٌ *

صدق الله العظیم

گرانو وطنوالو!

ورونو خویندو! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د کمکي اختر د رارسېدو په مناسبت خپل مظلوم او ځوربدلي ولس ته مبارکي وایم، دعا کوم چې راتلونکي اخترونه په داسي حال کي ولمانځو چي ټول بهرني اشغالگر ځواکونه زموږ له هېواد نه وتلي او جگړه د تل لپاره پای ته رسېدلې وي او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د خپلي خوښي اسلامي حکومت ولرو. په دغه هیله او د دغي ورځي په مناسبت خپل مؤمن ولس ته څو عرایض لرم:

- اوس باید ټولو ته ثابته شوې وي چي زموږ پر هېواد د امریکایي یرغلگرو ځواکونو تېری د همغو موخو لپاره وو چي روسي ځواکونو درلودو او دوی له افغانانو سره همغه څه کوي چي روسانو کول، د بیاودانولو او د سولې، امنیت او دیموکراسۍ شعارونه هسي غولوونکي شعارونه دي چي هر یرغلگر ځواك ئې د ولسونو د غولولو لپاره کاروي. افغانان په خپلو سترگو گوري چي امریکایانو او انگرېزانو په تېرو څلورو کلونو کي له دوی او د دوی له هېواد سره څه کړي، د دوی

وحشيانه سلوك كه تر روسانو زيات كركجن نه وي نو په هيڅ صورت كي ترې كم نه دی، مگر هغه څه چي دوی د بگرام، كندهار او گوانتانامو په زندانونو كي له مظلومو بنديانو سره كړي او هغه څه چي د نظامي عملياتو په وخت كي ئې له بې وزلو كليوالو سره كوي، د كورونو لټول، بې گناه خلك له مجاهدينو سره د ارتباط په نامه نيول، وهل او وژل او بيا د مړو پر اجسادو تېل شيندل او اور وراچول، دا ټول او ډېر نور ئې چي قلم ئې له ليكلو حياء كوي او ډېر هغه څه چي ورو ورو به افشاء كېږي، مگر دا ټول هغه څه نه دي چي افغانان ئې هر ورځ په خپلو سترگو گوري؟

• دا خبره هم بايد نن ټولو ته جوته شوې وي چي بهرني ځواكونه د جگړي د دوام باعث دي نه د سولي او امنيت د راوستو باعث، تر څو اشغال دوام لري او تر څو چي بهرني ځواكونه د دې هڅه كوي چي د خپلي خوښي لاس پوڅي حكومتونه پر افغانانو تحميل كړي، جگړه به دوام كوي. د جگړي كوم اور چي روسانو بل كړ، امريكايانو د دوی پر پل گام كېښود او د جگړي د دوام باعث شول، دا دی گورئ چي د انگرېزانو او امريكايانو د ټولو هڅو سره سره نن د افغانستان وضعيت داسي دی چي نه د پلازمېني په شمول په لويو ښارونو كي امنيت شته او نه په لويو لارو كي، نه په عام ولس كي د چا سر، مال او عزت خوندي دی، نه چارواكي د ځان د امنيت په اړه ډاډه دي او نه د بهرنيو ځواكونو قطارونه، اډې او گزمې له بريدونو مصئون!! د حل يواځنۍ لار دا ده چي بهرني ځواكونه له افغانستان نه ووځي، د افغانستان په كورنيو چارو كي د بهرنيو لاس وهنې بندې شي، د افغانانو د خوښي مؤقت حكومت جوړ شي، ترڅو د دې مؤقت حكومت تر اشراف لاندي آزاد انتخابات ترسره شي او واك يوه منتخب اسلامي حكومت ته انتقال شي.

• افغانان انتخابات غواړي خو له خپلواكۍ وروسته، نه د اشغال په حالت كي او د امريكايانو د جهازونو تر وزر لاندي انتخابات!! د ملي پخلاينې نه وروسته او د يوه افغاني مؤقت حكومت تر نظارت لاندي انتخابات غواړي، د امريكايانو تر سلطې لاندي تېر انتخابات او پر هغوی ټول مصارف د دې لپاره وو چي امريكا خپل لاس پوڅي د ولس د استاځو په نامه راوړاندي كړي او داسي پارلمان جوړ

کړي چي په افغانستان کي د دوی د فوځونو د دائمي حضور په ګټه رأیه ورکړي.

• زه افغان ولس ته اطمئنان ورکوم چي امریکائي ځواکونه له وتلو نه پرته بله هیڅ چاره نه لري، هغوی به حتماً وځي او ډېر ژر به وځي، باید په دې پوه وو چي دا د الله ثابت او نه بدلېدونکی سنت دی چي کوم ځواك نړی، له تباهۍ سره مخامخ کړي، الله ئې حتماً نسکوروي او نړیوال د هغه له شر نه ژغوري.

• مجاهدینو له خپل رب سره تعهد کړی چي امریکایان به د روسانو په څېر له خپل هېواد نه وتلو ته مجبوروي. دوی د الله په نامه هوډ کړی چي ترڅو ئې خپل هېواد نه وي آزاد کړی او اشغالګر ځواکونه ئې د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې څخه نه وي ایستلي وسله به په ځمکه نه ږدي او دښمن به یوه شېبه هم آرام نه پرېږدي.

• باایمانه مجاهدین له اصلي دښمن سره جنګېږي او له هغو کسانو او د دوی له عملونو نه برئ او بې زاره دي چي د اصلي دښمن په ځای په جوماتونو کي انفجارات کوي او ملایان وژني، دوی نه پوهېږي چي د داسي خلکو په وژلو سره دښمن ته هیڅ تاوان نه رسېږي، ذلیل او اجیر مبلغین دښمن ته هیڅ ارزښت نه لري، برعکس د دوی په وژلو سره دښمن ته تبلیغاتي مواد په لاس ورځي، هغه کسان چي د دوی د وژلو فتوی ورکوي ډېر ناپوه مفتیان دي، دغو مفتیانو له مخلصو مجاهدینو سره د جنګ او له کمونستو جنرالانو سره د ائتلاف فتوی هم ورکوله.

• موږ له ټولو افغانانو غواړو چي له هغو اتلو مجاهدینو سره لاس یو کړي چي د بهرنیو ځواکونو د ایستلو او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د ملت د خوښي اسلامي حکومت د جوړېدو لپاره ئې دا مقدس جهاد پیل کړی. د دوی صادقانه ملګرتیا او رښتونی ملاتړ په ټولو مسلمانانو فرض دی. هغه افغانان چي په روان اسلامي جهاد کي برخه وانخلي ډېر ژر به په خپلو کړو ندامت وکړي، إن شاء الله هېواد به آزاد شي، اشغالګر کفري ځواکونه به له افغانستان نه ووځي او هغه وخت به د جهاد مخالفین نه د خدای په وړاندي د منلو وړ عذر لري او نه د خپل ولس په وړاندي!! هم به خپل رب ته شرمنده وي او هم خپل ولس ته!! د دنیا او آخرت ذلت او سپکاوی به د هغه چا په برخه وي چي له کفري یرغلګرو ځواکونو سره ئې د اسلام

او خپل مظلوم او ځورېدلي ولس په ضد ملګرتيا وکړه.

- موږ د افغانستان د روان بحران عادلانه او تلپاتې حل غواړو او د جګړې د فوري ختمولو غوښتونکي يو. که له جګړې پرته له بلې لارې د هېواد خپلواکي ترلاسه کول ممکن وی، نو موږ به ترهرڅا د مخه همغه لار غوره کړې وه. که دا اوس اشغالګر ځواکونه له افغانستان نه ووځي او افغانانو ته د خپل برخليك د ټاکلو موقع ورکړی شي، موږ په نورو ټولو مسئلو خبرو ته تيار يو. کومي افغاني ډلي چي په انګرېزانو او امريکايانو ځان ساتي، هغوی ته وايو چي په افغانانو باور وکړئ، موږ د امنيت تضمين درکوو، موږ خپلواك اسلامي افغانستان غواړو، په عفو، بخښنې او پخلاينې باور لرو، نه د انتقام په فکر کي يو او نه د جنګ له لاري قدرت ته د رسېدو تلوسه لرو!!
- زه يو ځل بيا مجاهدينو ته اطمئنان ورکوم چي إن شاء الله ستاسو د بري او د دښمن د ماتې ورځ نږدې ده.

د افغانستان د آزادۍ او د اسلام د بري په هيله.

مرګ په امريکا او ملګرو ئې

ژوندي دي وي د اسلام د لاري زړه ور مجاهدين

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۴/۸/۱۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# دروغجنې سولې ته بلنه او زموږ ځواب

د مظلوم او اشغال شوي کابل په تیاره فضاء کې یو ځل بیا د سولې او روغې جوړې غلوونکې نارې سورې پورته شوې، خو د هغه چا په خوله چې نه څه واك لري او نه ئې خبره څه وزن او دروندوالی! دا همغه خبري دي چې د نجیب په وخت کې د پلار وطنې ملي جبهې لخوا کېدې او د انګرېزانو د مخکني تسلط په دوران کې د هغه چا په خولې چې انګرېزانو د همدې مقصد لپاره له هند نه له ځان سره راوستل او په افغانستان کې ئې میشت کړل، چا چې حبیب الله کلکاني ته د قرآن د پاڼو په حاشیه کې د سولې د بلن لیك لاندې امضاء کړې وه او په همدې ئې هغه په دام کې واچولو او ارګ ته له رارسېدو سره سم ئې ووژلو او د ده او د ده د ملګرو جسدونه ئې تر څو ورځو په دار ځوړند پرېښودل، اوس د همغو کسانو زامن د امریکایانو په اشاره مجاهدینو ته د سولې پیغامونه لېږي، هغه هم د راډیوګانو په څپو کې، دا کسان په حقیقت کې د امریکایانو په لومو کې هغه خوارکۍ سپینې کوترې دي چې د لوړو غرونو بازان وربانديې نیول غواړي، د داسې کاواکو بلنو په ځواب کې څه ویل بې ګټې او د خپل وخت ضایع کول برېښي او موږ نه غوښتل څه ځواب ووایو خو د دوی بیا بیا اعلان مجبور کړو څه ورته ووایو او هغه دا چې: دا تاسو څوك یئ چې موږ ته د سولې بلنه راکوئ او یا د مجاهدینو د محاکمې خبرې کوئ؟! د پردیو ګوډاګیان، د پردیو په دسترخوان ناست مزدوران، د خدای او ولس په وړاندې مختورن او محکوم کسان او د دښمنانو پښو ته پرېوتې ذلیل وطن پلورونکې، تاسو څنګه او په کومه خوله او کومو سترګو د سولې یا د نورو د محاکمې خبرې کوئ؟!! تشویش مه کوئ، إن شاء الله موږ کابل ته درروان یو، ستاسو بلنې ته

ضرورت نشته، نن هم هملته ستاسو شاوخوا کي یو او تاسو هره ورځ زموږ د مضبوطو گامونو غږ اورئ او سبا بله ورځ خو به إن شاء الله موږ د کابل په واټونو کي له شنو بیرغونو سره وگورئ، د ملي خائنانو او جنایتکارانو محاکمه به هم إن شاء الله ترسره کېږي، لږ صبر وکړئ، چي کله ستاسو باداران له افغانستان او عراق نه ووځي، موږ به د آزادۍ له شنو بیرغونو سره کابل ته درځو، په هغه ورځ به إن شاء الله افغانان د واقعي سولې او رښتونې الهي محاکمې او وروستۍ پرېکړې شاهد وي.

افغانان په خپلو سترگو گوري چي امریکایان په کابل کي د سولې ډول ستاسو غاړو ته دراچوي خو په زابل کي مظلوم افغانان نیسي او ژوندي ئې سوځوي!! افغانان په دې ښه پوه شوي چي سوله د بهرنیو ځواکونو په شته والي کي نه شي راتلی، امنیت یوازي په هغه وخت کي راتلی شي چي ټول بهرني اشغالگر ځواکونه له افغانستانه ووځي او د افغان ولس د خوښي هغه اسلامي حکومت قائم شي چي یو نیم ملیون شهیدان ئې د هغه لپاره ورکړي.

عجیبه ده چي تاسو بیا هم په ډېره بې شرمۍ سره ادعا کوئ چي پردي او گاونډي هېوادونه مجاهدین هڅوي!! خلك په دې خبرو خاندي، هغوی پوهېږي چي پردي ځواکونه خو اوس په کابل کي دي او تاسو د هغوی د جازونو تر وزر لاندي هلته د ذلت شپې تېروئ او گاونډیان خو له همغې اولې ورځي له امریکایانو سره د افغان مظلوم ولس په ضد ملگري شول، چا ورته اډې ورکړې، چا مجاهدین ونیول او لاس تړلي ئې امریکایانو ته وسپارل او چا خپلو لاس پوڅو ډلو ته امر وکړ چي له امریکایانو سره یو ځای شي او د دوی تر قومندې لاندي د افغان ولس په خلاف وجنگېږي، که د گاونډیو مرسته نه وای نو صلیبي ځواکونو نه افغانستان نیولی شو او نه تراوسه هلته پاتې کېدلی شول، دا مبالغه نه ده چي د افغانستان روان جنگ زموږ هغو بې رحمو گاونډیو پر موږ تحمیل کړی چي تاسو ئې کابل ته رسولي یئ، دوی گمان کوي چي له افغانانو سره هرڅه کولی شي، نه مرستندوی لري او نه د پوښتني او گروېژني مرجع، لوی او منتقم خدای ئې هېر کړی، خو دا دی گورئ چي منتقم خدای هم د مظلومو افغانانو انتقام ترې اخلي، له چا نه په

طوفانونو سره او له چا نه په زلزلو سره او لا معلومه نه ده چي ذوالانتقام رب به له دوی سره مزید څه کوي، دا یو تصادف مه ګڼئ، یوازي ناپوه او له الهي سننو نه غافل کسان به دا یو تصادف ګڼي چي د پاکستان زلزله په همغه ورځ وشوه چي ځلور کاله د مخه په همدې ورځ امریکائي ځواکونو د پاکستان له فضا او ځمکي نه په استفادې سره پر افغانستان خپل وحشیانه برید پیل کړ او په څو اونیو کي ئې تر پنځوس زره زیات بې وزلي افغانان په وینو کي لت پت کړل. دا هم یو تصادف مه ګڼئ چي د دې زلزلې وروستۍ جټکي تر هغې ورځي رواني وې چي ځلور کاله د مخه تر همدې ورځي پورې پر افغانستان د امریکایانو پراخې بمبارۍ رواني وې. پاکستاني چارواکو به ویل چي په دې برید کي له امریکا سره د پاکستان ملګرتیا به د دې باعث شي چي امریکا د کشمیر په مسئله کي د پاکستان مرسته وکړي، خو دا دی ګورئ چي امریکا نه یوازي د کشمیر په مسئله کي د هند د دریځ ملاتړ کوي، کشمیري مجاهدین تروریستان ګڼي، اسلام آباد ئې دې ته اړ کړ چي د دوی له مرستي لاس واخلي، مرکزونه ئې په ټول پاکسان کي وربند کړي او کشمیر ته له اوښتو ئې مخه ونیسي، بلکي د کشمیر د دغي غمیزي په دوران کي امریکا د خپل دغه ملګري په هکله داسي بې اعتنایي وکړه چي پرویز مشرف مجبور شو ووایي: که دا زلزله په کوم غربي هېواد کي شوې وای نو عکس العمل به دومره سوړ نه وو او دا چي موږ مجبور یو د ایف ۱۶ طیارو اخیستل وځنډوو!! کاش پاکستاني چارواکو د امریکا په ځای خدای ته مخه کړې وی، له امریکا نه د طمعې او وېرې په ځای ئې له خدای نه طمع او وېره درلودی، د مظلومو مسلمانانو په ضد له کفري ظالم او متجاوز طاقت سره د ملګرتیا په ځای او د خپل بې وزلي ګاونډي هېواد په خلاف په یوې ناروا او ظالمانه جګړي کي د برخي اخیستو په ځای له خدای نه وېرېدلي وي او په دې پوهېدی چي خدای د مظلوم فریاد اوري او د هغه انتقام خامخا اخلي، خو داسي ئې ونه کړل، له ظالم سره په ناروا ملګرتیا کي مخکي ولاړل، د امریکایانو د خوشحالولو لپاره ئې د افغانانو په خلاف له هیڅ څه نه ډډه ونه کړه، مهاجرین ئې په زور له پاکستانه وشړل، د ختو کورونه ئې په بلدوزرو وربانديي ړنګ کړل، هیچا د دغو مظلومانو چیغې وانه ورېدې، ویل ئې تر

افغانستانه د تلو کرایه نه لرو ، هلته کور نه لرو ، څه چي لرو هغه ټول دلته رانه پاتې کېږي، خو هیڅ ورته اعتنا ونه کړه.

امریکایان دې په دې پوه شي چي نه په خپلو دیموکراتو جاسوسانو او نه په خپلو ږیرورو او سپین پګړیو غلام مبلغینو، افغانان نه شي غولولی، دا همغه د شورویانو ناکامي تجربې دي چي تاسو ئې تکراروئ، افغان ولس اوس ښه هوښیار شوی، دوست دښمن پېژني، په دې پوه دی چي تاسو د څه لپاره زموږ هېواد ته راغلي یئ او تراوسه مو زموږ له ولس او د دوی له دین، مذهب، مقدساتو او د دوی له هېواد سره کوم ظلمونه او ناروا وې کړي!! ستاسو شوم عزائم اوس هر افغان ته بربنډ شوي، دوی له خپل رب سره کلکه ژمنه کړې چي تر هغه به وسله پر ځمکه نږدي چي خپل هېواد آزاد نه کړي او د خپلي خوښي اسلامي حکومت قائم نه کړي.

مرګ پر امریکا او ذلیلو انډیوالانو ئې

مرګ پر هغو مکارو څېرو چي د دین په جامه کي د دین د دښمنانو نوکري کوي

بریالي دي وي زړه ور مجاهدین

سرلوړي دي وي باایمانه افغانان

حزب اسلامي افغانستان

۱۳۸۴/۸/۲۸

بسم الله الرحمن الرحیم

# د خان آباد د اډې تخليه

او افغان ولس ته د دې بريا مبارکي

دا له شکه پرته د افغان مجاهد ولس لپاره يوه لويه بريا ده چې د ازبکستان له ستري نظامي اډې نه امريکايي ځواکونه په پوره سپکاوي ووتل، زه ټولو زړه ورو او باايمانه افغانانو ته د دې بريا مبارکي وايم، إن شاء الله دا وتل له افغانستان او ټولي سيمي نه د دوی د وتلو پيلامه ده. معلومېږي چې په راتلونکي کال کې به امريکائي ځواکونه هم له افغانستانه وځي او هم له عراقه او له هيچا بايد دا حقيقت پټ نه وي چې له دې ماتې او وتلو وروسته به د امريکا وحشي امپراطوري له کوم برخليك سره مخامخ کېږي او د دوی د لاس پوځو پايله به څه وي!!

نه امريکايان په دې نيت دې سيمي ته راغلي وو چې داسي ژر به بېرته وځي او نه نړيوالو دا گمان کاوو چې دومره ژر او مخکي له دې چې د افغانستان له لاري د مرکزي آسيا د تېلو او گازو د انتقال په اړه د دوی خوبونه پوره او شوم عزايم ترسره شي، د سيمي پرېښودو ته به اړ کېږي. زه په ډېر يقين او ډاډ سره دا خبره کولی شم چې إن شاء الله ۲۰۰۷ کال به امريکا ته داسي کال ثابت شي لکه چې روسانو ته ۱۹۸۸کال ثابت شو ، چې دا له افغانستان نه د روسانو د وتلو او د شوروي اتحاد د زوال د پيل نېټه وه ، د شوروي اتحاد ځواکونه هم د ترمز له لاري ازبکستان ته په شا شول او د همدې خان آباد له اډې نه د شوروي اتحاد نورو جمهوريتونو ته ولاړل، امريکايان د شورويانو په لار درومي او د شورويانو په برخليك به اخته کېږي. په امريکا کي د تجزيي عوامل تر شوروي اتحاد ډېر ځواکمن او پراخ دي، د

نیوآیرلینز پېښنو د دې ژوروالی او پراخوالی ښه بربنډ کړ، هلته له یوې خوا د سپین پوستو واکمني ده او نور ولسونه، د امریکا د اصلي خاوندانو ریډ انډین په شمول له خپلو انساني حقوقو محروم دي او سپك او ذلیل ګڼل کېږي، له بلې خوا د امریکا ټولي شتمنۍ، د تولید وسایل، فابریکي، شرکتونه، بانکونه، راډیو، تلویزیون، ... د څو سپین پوستو بډایانو په لاس کي دي او د ټولنې اکثریت د دوی په خدمت کي، دا یوازي امریکا نه بلکي غرب په مجموع کي دې ته ورته سیاسي او اجتماعي نظامونه لري، د امریکا او فرانسې وروستیو پېښنو ډېر پټ حقایق راڅرګند کړل، له دې پېښنو مخکي هیچا دا خبره په آسانۍ نه منله چي غربي هېوادونه په دروغو او د بې خبرو خلکو د غولولو لپاره د بشري حقوقو خبره کوي، په داسي حال کي چي دوی تر هرچا زیات د بشري حقوقو ترپښنو لاندي کوونکي دي، هم په خپلو ملکونو کي او هم له خپل ملك نه بهر په خپلو مستعمراتو کي، دا دوی دي چي افریقایي او آسیایي ملکونه ئې له پېړیو پېړیو راایسي لوټلي، مستبد، ظالم او بې رحمه دیکتاتوران، پاچایان او جنرالان ئې ورباندي مسلط کړي، غرب چي تر پرونه د بشري حقوقو کومي دروغجني ادعاګاني کولې او د دوی ذلیلو او وطن پلورونکو پلویانو په ډکه خوله د دوی ستاینه کوله، د نیوآیرلینز او پاریس د محرومو طبقو قیامونو له دې پرده اوچته کړه او د دوی د کرغېړن اجتماعي نظام بده څېره ئې هر باشعوره انسان ته بربنډه کړه.

که الله تعالی افغان مجاهدینو ته یو ځل بیا یوه بله تاریخي بریا ورپه برخه کړه او صلیبي اشغالګر ځواکونه هم زموږ له هېواده په وتلو مجبور شول، نو إن شاء الله دا به نه یوازي په افغانستان کي د یوه واقعي اسلامي حکومت د راتلو باعث شي بلکي په ټولي سیمي کي به د یوې ژورې تبدیلي لپاره لار آواره کړي.

ځیني خلك دا تبلیغات کوي چي د بهرنیو ځواکونو د وتلو په صورت کي به بیا هغه مخکنی حالت راشي او قدرت ته د رسېدو لپاره به د مختلفو ډلو ترمنځ د جګړو اور بل شي، دوی نه دې ته ګوري چي جګړې خو د بهرنیو ځواکونو لخوا تحمیل شوې او د دوی د لاسوهنو په وجه ئې دوام کړی او نه دې ته چي د روسانو له وتلو نه وروسته افغانان له یوې ستري بین المللي توطئې سره مخامخ شول، ټولو

کفري ځواکونو زموږ په خلاف يوه بل ته لاس ورکړ، د اسلامي ملکونو منافق او بې دينه چارواکي هم ورسره ملګري شول او په افغانستان کي ئې د مجاهدينو په لاس د يوه واقعي اسلامي حکومت د جوړېدو مخنيوی وکړ، په دې توطئې کي امريکا د مخکښ ونډه درلوده. د کمونستي رژيم له سقوط نه وروسته جنګونه د مجاهدينو ترمنځ خپل منځي جنګ نه بلکي هغه په نوې بڼې کي د مخکني جنګ تسلسل وو، په دې جنګونو کي د کمونست حزب مخصوصاً د پرچم د ډلي ونډه هومره وه چي په تېرو جنګونو کي ئې وه، فرق ئې فقط په دې کي وو چي مخکي کمونستان يوازي وو خو په دې مرحلې کي نور مفسدين او منافقين هم ورسره يو ځای کړي شول او په بهر کي واشنګټن او مسکو او په دوی پورې تړلو ملکونو يوه بل ته لاس ورکړ او د واقعي مجاهدينو په ضد ئې ګډه ائتلافي جبهه جوړه او د مخکني جنګ د دوام عوامل ئې برابر کړل. د امريکا ترمشرۍ لاندي د ائتلافي ځواکونو بريد هم د همغو داخلي او خارجي ځواکونو په ملګرتيا ترسره شو چي لادمخه او د کمونستانو د حکومت د نسکورېدو په وخت کي ئې هغه ائتلافي جبهه جوړه کړې وه. خو إن شاءالله اوس او په عراق او افغانستان کي د امريکا له ماتې وروسته به د مجاهدينو دا ستونزه، هم زموږ په هېواد کي او هم په نورو هېوادونو کي د تل لپاره حل شي.

مخلص مجاهدين او ټول افغان ولس بايد سرله اوسه د هغې مرحلې لپاره تياری ونيسي چي اشغالګر ځواکونه به زموږ له هېواده وځي او د دوی له وتلو وروسته به په ټول هېواد کي سريع تبديلي راځي، بايد دې ته متوجه وو چي مخکنی حالت بيا تکرار نه شي او د اسلام دښمنان په دې ونه توانېږي چي د خپلو لاس پوڅو په ذريعه د کومي بلي جګړي اور بل کړي.

موږ ټول هغه افغانان په يوې لويې جبهې کي د راغونډېدو لپاره رابلو چي د جګړي عاجل او دائمي خاتمه او په خپلواك او آزاد افغانستان کي د ملت د خوښي واقعي اسلامي حکومت غواړي.

آزاد او خپلواك دي وي افغانستان

سرلوړي دي وي زړه ور افغانان
ژوندي دي وي مجاهدين
مړه دي وي د اسلام او مسلمانانو دښمنان

حکمتيار
افغانستان
۱۳۸۴۱۹۱۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# د لوی اختر پیغام

ورونو خویندو!

باایمانه افغانانو!

د اسلام د لاري مجاهدینو! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د لوی اختر د رارسېدو له امله تاسو ته مبارکي وایم، دعا کوم چي الله تعالی زموږ د بې وزلي ولس او د اسلامي امت دا د امتحان سختې ورځي پای ته ورسوي، په روانې ستري صلیبي جګړي کي ئې بریا په برخه شي، آزادي او خپلواکي ترلاسه کړي او د آزادي بخښونکي اسلام په رڼا کي د خپلي خوښي نظام، صالح او له الله وېرېدونکي چارواکي ولري. زموږ واقعي اختر به هغه ورځ وي چي هېواد مو د پردیو او د دوی د لاس پوڅو له سلطې آزاد وي، نه مو له الله پرته بل چا ته لاس اوږد وي او نه بل ته سر ټیټ. دې مقدس او سپېڅلي هدف ته د رسېدو لپاره په هر افغان او هر مسلمان جهاد فرض دی. الحمدلله افغانانو مخکي د شوروي اتحاد د یرغل په ضد هم د همدې مقصد لپاره جهاد وکړ او دا دی اوس د امریکایانو او انګرېزانو تر مشرۍ لاندي د روان صلیبي یرغل په ضد هم په جهاد بوخت دي، إن شاء الله دا جهاد به هم تر هغه دوام کوي چي ټول یرغلګر ځواکونه زموږ د هېواد له لوېشت لوېشت نه ووځي او په خپلواك افغانستان کي د افغانانو د خوښي اسلامي حکومت جوړ شي. إن شاء الله دا اختر به هم راځي او ډېر ژر به راځي.

ورونو او خویندو!

د پردیو تر واکمنۍ لاندي او د دوی په قومنده چي نن هر څه زموږ په هېواد

کي تېرېږي دا د افغان ولس او اسلام په ضد او د اشغالگرانو د استعماري گټو لپاره دي: دوی پوليس او فوځ د دې لپاره روزي چي د افغانانو په ضد ئې وجنگوي او په جگړې کي خپله مرگ ژوبله راکمه کړي، دا فوځ او پوليس په کامله توگه د دوی تر قومندې لاندي دي، له فرقې نيولې تر ټولي پورې، د هر تش په نامه افغان قومندان ترڅنگ امريکايي مشاور مؤظف دی او د قطعاتو قومنده ئې په لاس کي. دا دی تاسو گورئ چي په فوځ او پوليس کي همغه خلك استخدامېږي چي پرون د روسانو تر قومندې لاندي د ملت په ضد وجنگېدل، همغه چي په تېرو کلونو کي د ټولو جگړو، ورانيو او وينو تويولو مسئوليت ئې په غاړه دی، همغه د پرون ورځي ستر ستر جنگي جنايتکاران!! په نورو برخو کي ئې هم کمونستان، وطن خرڅوونکي، مفسدين او جنايتکاران پر افغانانو مسلط کړي.

دوی انتخابات د دې لپاره ترسره کوي چي خپل لاس پوڅي د خلکو استازي وښيي، خپلي استعماري سلطې ته د ديموکراسۍ نوم ورکړي، د خپلي خوښي بې خاصيته او محکوم پارلمان جوړ کړي، د غلامۍ سندونه پرې امضاء کړي، د دوی سلطې ته قانوني بڼه ورکړي او د دوی له خوا او د دوی د فوځونو او وسلو په زور مسلط شوی نظام د ملت د خوښي نظام وگڼلی شي!!

تاسو وليدل چي تېر انتخابات څنگه وو؟!! او دا دی گورئ چي د امريکايي انتخاباتو له لاري جوړ شوی پارلمان څنگه پارلمان دی، غړي ئې د چا استازي دي؟!! د انتخاباتو څرنگوالی امريکايانو وټاکو، کارتونه دوی جوړ کړل، رأيې دوی وشمېرلې، صندوقونه ئې هم په خپله خوښه ډك کړل، هم خالي، هم ئې د اعتبار وړ وگڼل او هم بې اعتباره، چي کوم ئې لازم گاڼو د شمېرلو لپاره ئې راوړاندي کړ او چي کوم ئې د مخالفينو په گټه گاڼو قرنتين ئې کړ او له شمارلو ئې بې برخي کړل. نه ئې هغه چا ته د کاندېدو حق ورکړ چي د امريکا مخالف وو او نه ئې مهاجرينو او د هغو سيمو خلکو ته د رأيې ورکولو اجازه ورکړه چي د امريکا مخالفينو ته به ئې رأيه ورکوله.

که په پارلمان کي داسي غړي شته چي څو زرو کسانو ورته رأيه ورکړې، داسي غړي هم په کي شته چي څو سوه رايې ئې ترلاسه کړې، په انگرېزي

ديموكراسۍ او امريكايي معيارونو كي دا دواړه برابر حيثيت لري!!! دې پارلمان ته چي كوم غړي د كاميابو كانديانو په نامه ننوتي، د ټولو مجموعي رأيې تر يو مليون كمې دي، دا د كوم معيار له مخې د دې حق لري چي د نږدې ديرش مليونو افغانانو استازيتوب وكړي. څلور مليونه مهاجرين د دې لپاره محروم كړی شول چي دوی د مجاهدينو كورنۍ دي، مجاهد ته به رأيه وركوي، د دغو مهاجرينو رأيې تر ټولو هغو كسانو زياتي دي چي د اوسني پارلمان اتيا په سلو كي غړو ترلاسه كړې!! دا ولې د عراق په انتخاباتو كي يو مليون هغه عراقيان د برخي اخيستو مجال ترلاسه كوي چي په بهر كي او اكثراً په غربي هېوادونو كي مېشت دي، خو د افغانستان په انتخاباتو كي څلور ميليونه مهاجرين ترې محرومه كېږي؟ آيا وجه ئې دا وه چي دلته د عراق په څېر انتخابات ممكن نه وو او كه دا چي دلته امريكايانو نه غوښتل چي مهاجرين په انتخاباتو كي د رأيې وركولو فرصت ترلاسه كړي او هغو كانديانو ته رأيه وركړي چي امريكايان ئې په پارلمان كي ليدل نه غواړي؟!!

په ټولو غربي ديموكراسيو كي نارينه او ښځي د كانديدېدو او رأيې وركولو مساويانه حق لري، د نړۍ په هيڅ ځای كي دا نه شو لېدلی چي ښځو ته ئې بېله برخه ټاكلې وي، خو په افغانستان كي ئې د پارلمان څلورمه برخه د ښځو لپاره بېله كړه، دا يوازي د امريكايانو د بي **۵۲** نظامي ديموكراسي ده چي دا خبره ئې پر افغانانو د دې لپاره تپلې چي وښيي دوی ښځي د محروميت له يوې انتها نه د امتيازاتو بلي انتها ته رسولې، خو په حقيقت كي د دوی مقصد دا وو چي په دې ترتيب د خپلي خوښي غړي په پارلمان كي زيات كړي.

دوی چي د مرستو په نامه څه زموږ په حساب نشر ته سپاري دا يا د دوی نظامي مصارف دي، يا ئې خپل نظامي پرسونل او مشاورينو ته وركوي، يا ئې هغو مؤسساتو او انجيوګانو ته چي مسيحت ته د افغانانو د رابللو په كار بوختې دي، بې ديني او اخلاقي فساد خوروي، د دوی مذهب له سندرو، نڅا، شراب، قمار، بربنډتوب ... پرته بل څه نه دی. كه څه ئې د افغانانو لپاره كړي دا هم د هغه مقاومت په وجه ده چي د دوی په ضد روان دی او د دې لپاره چي د مجاهدينو په ضد د

افغانانو ملاتړ ترلاسه کړي، که مقاومت نه وی نو دا محدود کارونه به ئې هم هيڅکله نه وو کړي، مگر نه گورئ چي ټول کارونه ئې تبليغاتي جنبه لري، داسي کار ئې ونه کړ چي د افغانستان د بياودانولو لپاره ضروري دی، نه ئې د کومي فابريکي مرسته وکړه، نه د کوم بند د جوړولو او د ښارو ځمکو د آبادولو.

دوی د گاونډيو د مداخلاتو په هکله په داسي حال کي تبليغات کوي چي همدغو گاونډيو د دوی په اشاره او مرسته زموږ په هېواد کي د جگړو اور ته لمن وهلې، دوی دا تبليغات د دې لپاره کوي چي په افغانستان کي خپل دايمي شتون توجيه کړي، د پاکستان له سرحد نه د مجاهدينو د اوښتو په دروغجنو تبليغاتو سره غواړي خاص ناولي اغراض ترلاسه کړي، دوی ښه پوهېږي چي دا تبليغات نه حقيقت لري او نه د روسيې او ايران د خوشحالولو لپاره دي، په پاکستان کي چي څه تېرېږي، امريکايان ترې دقيقاً خبرېږي، سي آی اې د کابل د ارگ له جرياناتو نه دومره ژر او دقيق نه خبرېږي لکه د اسلام آباد د ايوان صدر له جرياناتو چي خبرېږي، په پاکستان کي سي آی اې او ايف بي آی تر افغانستانه که زيات فعال نه وي نو کم خو په هيڅ صورت کي نه دی، په پاکستان کي د امريکا د سي آی اې او ايف بي آی همدومره فعال دفترونه دي لکه په افغانستان کي، هلته هم هر وخت، هر څوك نيولی شي او د خپلي خوښي زندانونو ته ئې لېږدولی شي، هلته هم د مخالفينو کورونه د خپلو جاسوسي طيارو په ذريعه په راکټونو ولي خو سبا ته پاکستاني چارواکي اعلان وکړي چي په دې کور کي د بم جوړولو په وخت کي چاودنه وشوه او فلانی ستر دهشت گرد په کي ووژل شو!! داسي لکه امريکايانو چي د بگرام، سپين بولدك، خنجان، بغلان او په ډېرو نورو گڼ مېشتو سيمو کي سلاح کوټونه د ليزري وړانگو په ذريعه له لرې منفجر کړل او ډېر بې گناه افغانان ئې په وينو کي ورغړول خو سبا به ئې اعلان وکړ چي دا سلاح کوټ په خپله منفجر شوی!!

په سرحد کي د فوځونو د ځای په ځای کېدو وجه دا نه ده چي د مجاهدينو د اوښتو رااوښتو مخنيوی وکړي، دوی او هرڅوك پوهېږي چي مجاهدين په داخل کي اوسېږي او د هېواد په مرکز، شمال، جنوب، شرق او غرب کي عمليات کوي،

مقصد دا دی چي امريکايانو پاکستاني چارواکو ته ويلي: د کشمير له داعيې لاس واخلئ، په عوض کي ئې د ډيورند کرښه درته رسمي او يقيني کوو او د هغو آزادو قبايلو په رامولو او د دوی د سيمو په فتح کولو کي درسره مرسته کوو چي انګرېزانو رام او فتح نه کړی شول، د اسلام آباد چارواکو ورسره منلې، د فوځونو ځای په ځای کول، د پوستو جوړول، په شمالي او جنوبي وزيرستان کي عمليات کول، له دغو سيمو مهاجرين په زور ايستل او کورونه ئې په بلدوزرو وړورانول، دا ټول د همدې معاهدې برخي دي.

دوی په داسي حال کي چي افغانستان ته د جنګ لپاره راغلي، شوم اغراض او ناولې موخې لري، په سيمي کي د تل پاتې کېدو لپاره راغلي، د تېل او ګازو د زېرمو ترلاسه کولو او د چين او ايران د محاصرې لپاره راغلي، که څه هم د ايران ليبرالانو د افغانستان او عراق په نيولو کي ورسره مرسته وکړه ، خو په دې قانع نه شول، غواړي ايران د شاه د وخت په څېر د دوی اډه وي، د افغانستان په اشغال ټينګار کوي، د ناټو فوځونه رالېږي، که مقاوت نه وي، نو د تل لپاره دلته د پاتې کېدو اراده لري، خو الحمد لله مقاومت له دائمي اشغال نه مأيوس کړي، له دې ټولو سره سره او په داسي حال کي چي پر افغانانو بمونه ورو وي او بې وزلي افغانان وژني، په درواغو او د خلکو د غولولو لپاره د سولې او روغې جوړې خبري کوي او د دې لپاره کميسيونونه ټاکي، له دې ئې مقصد نه امنيت راوستل او جګړه پای ته رسول دي او نه واقعي سوله، غواړي مجاهدين وسله پر ځمکه کېږدي او دوی ته تسليم شي، د دوی له نظره سوله دا ده چي افغانان د دوی دايمي غلامۍ ته غاړه کېږدي او له مقاومت او آزادي غوښتلو نه لاس واخلي، ښه پوهېږي چي سوله نه په افغانستان کي د بهرني اشغال په حالت کي راتلی شي، نه په عراق او د نړۍ په بل ګوټ کي، سوله به هلته راځي چي ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي. انګرېزانو چي د سولې په نامه کوم کميسيون جوړ کړی، هغه ته ئې دا دنده سپارلې چي مجاهدين د ځان په څېر د دښمن په وړاندي سرټيټولو ته تيار کړي!! داسي خلك د پيغمبر عليه السلام په وخت کي هم وو ، هغوی به هم د قريشو په اشاره او ګټه د جهاد خلاف او د دروغجنې سولې په ګټه تبليغات کول، مقصد به ئې دا وو چي

مجاهدين له جهاد نه لاس واخلي، قرآن د هغوی په باره کي فرمايي:

وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاء فَلاَ تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاء حَتَّى يُهَاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَإِن تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدتَّمُوهُمْ وَلاَ تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلاَ نَصِيرًا * النساء: ۸۹

خوښه ئې دا ده چي تاسو هم داسي کافران شئ لکه دوی چي کافران شول، نو بيا به سره برابر شئ، نو تر هغه له دوی نه دوستان مه نيسئ چي د الله په لار کي هجرت وکړي، خو که ئې ډډه وکړه، نو وئې نيسئ او هر ځای چي ئې مومئ وئې وژنئ او مه له دوی نه کوم دوست نيسئ او مه کوم مرستندوی.

امريکايان په افغانستان کي له ځينو مواردو پرته خپل تلفات نه اعلانوي، د خاص غرض لپاره ټول عمليات طالبانو او القاعدې ته منسوبوي، په عراق کي ئې په دوه زره يو سل اتيا مړو باندي اعتراف کړی، خو په حقيقت کي ئې شمېر تر دې ډېر زيات دی، ټول عمليات ځان مرګي بريدونه ګڼي خو په حقيقت کي داسي نه ده له ځينو مواردو پرته ټول عمليات يا مخامخ بريدونه دي او يا له لرې د کنترولېدونکو بمونو چاودنې.

وروڼو او خويندو!

ځيني هېوادونه، زموږ د ځينو ګاونډيو په شمول ډېر بد سترګي او ناسپاسه دي، افغانانو دوی د کمونيزم له سره سېلابه وژغورل خو دوی له افغانانو سره د خواخوږۍ په ځای د افغانستان د ورانولو لپاره ملاتړلې، د شرقي اروپا هېوادونه افغانانو د شوروي له سلطې آزاد کړل خو د دې په مقابل کي دوی د افغانستان په اشغال کي د امريکايانو مرسته کوي، دا هېوادونه لاتراوسه د مخکنۍ غلامۍ له اغېزه نه دي راوتلي، د يوه له غلامۍ آزاد شول خو د بل د غلامۍ کړۍ ئې په غاړه کړه!! د برلين ديوال زموږ د قربانيو په وجه مات شو خو اوس جرمني د امريکا په وينا په افغانستان کي نظامي اډې جوړوي، دوی که دومره مېړني دي د امريکا

شپیته زره فوځ دي له خپله هېواده وباسي، دا اډه دې د افغانستان په ځای په برلین کي جوړه کړي!!

د افغانستان د خپلواکی په هیله

رپانده دي وي د اسلام بیرغ

بریالي دي وي مجاهدین

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# اعلاميه

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لاَ يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّواْ مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ * صدق الله العظيم

گرانو هېوادوالو!

خدای پالونکو افغانانو!

ورونو خويندو! السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

دا دی غربيانو يو ځل بيا له اسلام او مسلمانانو سره خپله ژوره دښمني بربنډه کړه، په غربي ورځپاڼو کي د اسلام د ستر پيغمبر عليه السلام د کارتونونو خپرولو وښوده چي صليبي ځواکونو له اسلامي امت سره خپله زړه او ژوره دښمني نه ده هېره کړې، د افغانستان او عراق په نيولو او د لسهاوو زرو فلسطينيانو، افغانانو او عراقيانو په وژلو ئې لا زړه نه دی يخ شوی، په دې سره دا مغرور او مست غربيان په جگ غږ موږ ته وايي چي نه ستاسو ويني موږ ته اهميت لري او نه ستاسو دين، مذهب او مقدسات، په افغانستان، عراق او فلسطين کي بمونه دربانديو وروو او په خپلو ورځپاڼو کي ستاسو د پيغمبر سپکاوی او اهانت کوو، دا زموږ حق دی او دا زموږ د ديموکراسۍ او آزادۍ غوښتنه!!

د نړۍ مسلمانان بايد پوه شي چي غربي ځواکونه افغانستان او عراق ته له اسلام سره د جنگ لپاره راغلي، د دې بريدونو تر شا همغه زړه او ژوره کينه پټه ده چي د دغو کارتونونو تر شا پرته ده، همغه چي مخکني صليبي جنگونه ئې راوپارول، ټوله اروپا ئې له اسلامي امت سره په جگړې کي ښکيل کړه. دوی په دې

اکتفا نه کوي چي اسلامي خلافت ئې ختم او د مسلمانانو واحد ستر ملك ئې په وړو وړو مستعمراتو ووېشو، ظالم او بې رحمه دیکتاتوران، جنرالان او پاچایان ئې پرې مسلط کړل او دا څو پېړۍ پر له پسې د دوی شتمنۍ غارت کوي.

موږ په داسي حال کي چي د غربي هېوادو په ورځپاڼو کي د اسلام د ستر پیغمبر علیه السلام د کارتونونو خپرېدل په کلکه غندو، د ټولو هغو مسلمانانو ملاتړ کوو چي د دې کرکجن عمل په وړاندي ئې شدید عکس العمل ښودلی، د دوی د سفارتونو د بندولو، له دوی سره د دیپلوماتیکو روابطو د قطع کولو او د دوی د مالونو په پیر پلور د بندیز لګولو غوښتنه ئې کړې. او په داسي حال کي چي د فلسطین زړه ورو مجاهدینو ته سلام کوو چي په دې میدان کي هم تر نورو مخکي شول او تر هر چا زیات او مخکي ئې غبرګون وښود، د لغمان، زابل، فاریاب، کندز، پروان، کابل، کندهار او ننګرهار د دین پالونکو او مجاهدو خلکو او د ټولو هغو افغانانو ستاینه کوو چي له دین او پیغمبر علیه السلام نه د دفاع لپاره میدان ته راووتل، د غربي ملکونو بیرغونو ئې وسوزول او له افغانانو نه ئې وغوښتل چي د دغو اسلام دښمنه هېوادو فوځونه له خپل هېواده وباسي. خو وایو چي دا کافي نه ده، باید د غربي استعمار له شر نه د نجات اساسي لاري ولټوو، دا مست او مغرور غربیان باید په خپل ځای کښېنوو، په افغانستان او عراق کي سم سبق ورکړو، دلته داسي ماتې ورکړو لکه څو کاله د مخه مو چي شوروي اتحاد ته ورکړه او ټوله نړۍ مو د هغه سره سېلاب له شره وژغورله، که مسلمانان همت وکړي نو دا کار نه یوازي ممکن دی بلکي د غربي استعمار له شر نه د نجات یوازنۍ لار همدا ده، که د اسلامي ملکونو بې غیرته او ذلیل واکمنان له غرب سره د افغانانو او عراقیانو په ضد له ملګرتیا لاس واخلي، نو غرب ته په افغانستان او عراق کي ماتې ورکول آسانه ده، دوی زموږ ملکونه د خپلو متو په زور نه بلکي د دغو حکامو په مرسته نیولي.

ورونو خویندو!

دغو کرکجنو کارتونونو وښوده چي دا بې دینه غربي هېوادونه له مسلمانانو او د دوی له دین سره څومره زړه او ژوره دښمني لري. د دوی دښمني تر کمونستانو هم

ډېره ژوره ده، دا څو پېړۍ کېږي چې دوی له مسلمانانو سره په جګړو بوخت او لاسونه ئې د لکونو لکونو مسلمانانو په وینو سره دي. باید په افغانستان او عراق کې خپل غچ ترې واخلو، په هر ځای کې پرې بریدونه وکړو، د میوند او جګدلك خاطرې راژوندۍ کړو، له خپل هېواده ئې د روسانو په څېر سرکوزي او سپك وشړو او دوی ته وښیو چې د دنیا هېڅ ځواك پر باایمانه افغانانو حکومت نه شي کولی.

قرآن موږ ته امر کوي او وايي:

يَأَيها الَّذينَ ءَامَنُوا لا تَتَّخذُوا بِطانَةً مِّن دُونكُمْ لا يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّوا مَا عَنتُّمْ قَدْ بَدَت الْبَغْضاءُ منْ أفْوَههِمْ وَ مَا تُخْفَى صدُورُهُمْ أَكْبرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الاَيَت إِن كُنتُمْ تَعْقلُونَ * آل عمران: ۱۱۸

**اې مؤمنانو! له خپلو مؤمنانو نه پرته نور ځان ته رازدار مه نیسئ، هېڅ خرابي درنه نه سپموي، هغه څه خوښوي چې تاسو ځوروي، بغض خو ئې له خولو ښکاره شوی، خو څه چې د دوی سینې ئې پټ ساتي تر دې هم ستر دي، موږ خو تاسو ته آیتونه بیان کړل که تعقل کولی شئ.**

په دې آیت کې مؤمنانو ته امر شوی چې کافران ځان ته مه نږدې کوئ، دوستي ورسره مه کوئ، دوی تاسو ته په تاوان رسولو کې سپماوی نه کوي، هڅه او خوښه ئې دا وي چې تاسو له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ شئ، د دښمنۍ او عداوت کومې خبرې چې تاسو د دوی له خولې اورئ په زړونو کې تر دې زیاته کینه درته لري، هم د الله د لارښوونو تقاضاء دا ده چې له دوی سره دوستي ونه کړئ او هم د عقل تقاضاء.

ورونو خویندو!

په تش لاسو مظاهره کوونکو باندې د ائتلافي ځواکونو او د دوی په لاس د روزل شوو پولیسانو بې رحمانه ډزو او د بې ګناه افغانانو وژلو وښوده چې دا د انګرېزانو په ناولو لاسو روزل شوي ذلیل پولیسان او فوځیان د پردیو نوکران او د خپل ولس او وطن دښمنان دي، انګرېزانو د دې لپاره روزلي چې د افغانانو په ضد

ئې وجنگوي. له هغه پوليس او فوځ نه چې د اسلام دښمنان ئې روزنه کوي او وسلې او معاش ورکوي؛ له دې پرته د بل څه طمع نه شي کېدی.

باید هغه ځان او ایمان پلورونکي ناافغانان په کلکه وغندو چې د انگرېزانو نوکرۍ ته ئې ملا تړلې او افغانان دې ته رابولي چې دښمن ته تسلیم شي او په خپل بام د پردیو د بیرغ رپېدل وزغمي، دا هغه خلك دي چې د پردیو نوکري په میراث ورته پاتې شوې، د افغانانو د تسلیمېدو راپورونه د دې لپاره خپروي چې اشغالگرانو ته خپل صداقت ثابت او زیاته اجوره ترلاسه کړي. افغانانو ته ښه معلومه ده چې تراوسه هېڅ رښتونی مجاهد دښمن ته نه دی تسلیم شوی، په تسلیم شوو کسانو کې یو داسې افغان نشته چې پر امریکایانو ئې یو ډز کړی وي، هسې څو له مخکې تسلیم شوي بې هویته افغانان د خبریالانو مخې ته ودروي، له هغو پیسو چې د دې کار لپاره ئې انگرېزان ورکوي ۷۰% په خپل جیب کې واچوي او ۳۰% ئې د خبریالانو په وړاندې په دوی ووېشي. غواړي په دې سره سرلوړي افغانان د دښمن په وړاندې سر ټیټولو ته چمتو کړي، خو الحمد لله افغانان هوښیار دي، دوست او دښمن ئې پېژندلی او د عزت او آزدۍ لار ئې موندلې، نه ئې څوك په خپل زور ځواك وېرولی شي او نه ئې په خپل شیطاني مکر غولولی شي.

مړه دې وي د اسلام دښمنان

بریالي دې وي مجاهدین

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۴۱۱۱۱۸

بسم الله الرحمن الرحیم

# د دلوي ۲۶

گرانو هېوادوالو!

د اسلام د لاري سرتېرو مجاهدینو! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

نن د افغانستان د تاریخ یوه ستره او نه هېرېدونکي ورځ ده، هغه ورځ چي د اتحاد شوروي یرغلګر ځواکونه زموږ له هېواده وایستل شول او د دوی قومندان جنرال ګراموف له پولي د تېرېدو په وخت کي وویل: پر افغانستان تېری یوه غلطي وه او روسان به داسي غلطي بیا تکرار نه کړي!! دا غلطي یوازي داسي نه وه چي دوی ئې په یوه ناکام جنګ کي ښکیل او له تاریخي ماتې سره ئې مخامخ کړل، بلکي د شوروي اتحاد په متلاشي کېدو او زوال منتج شوه. هغه زبرځواك چي پر ټولي نړۍ ئې د تسلط خوبونه لیدل، امریکا ته ئې په ویتنام کي ماتې ورکړې وه او د نړۍ تر ټولو ستر او خطرناك نظامي ځواك ترې جوړ شوی وو، له دغي ورځي او د باایمانه افغانانو په لاس له ماتې وروسته ئې زوال پیل شو، لنډه موده وروسته ئې ټغر ټول شو او ټوله نړۍ د دې سره سېلاب له خطره وژغورل شوه.

ورونو خویندو!

الله تعالی افغانانو ته د دې توفیق ورکړ چي خپل هېواد د روسانو له سلطې آزاد کړي، د آزادۍ په هغه اوږد او نابرابر جنګ کي ئې دوی ته لوړ همت او صبر ورپه برخه کړ، د خپل کور کلي ورانېدل ئې ومنل خو د خپل بام په سر د پردیو د بیرغ رپېدل ئې ونه زغمل، سترو سترو قربانیو ته چمتو شول خو د پردیو په وړاندي ئې سر ټیټ نه کړ. الله تعالی د دغه جهاد، همت او صبر په وجه دوی ته دا

ستره او تاریخي بریا ورپه برخه کړه. خو متأسفانه د خاصو عواملو په وجه په دې ونه توانېدل چې په خپل هېواد کې یو واقعي اسلامي حکومت قائم کړي، د پردیو له لاس وهنو او مداخلو ئې د تل لپاره وژغوري او د خپلو شهیدانو آرمانونه پلي کړي. له یوې خوا روسان ووتل خو کمونستان ئې تر شا پرېښودل، هماغسې لکه تر دوی د مخه چې انګرېزان ووتل خو خپل لاس پوڅي ئې تر شا پرېښودل، له بلې خوا زموږ کینه کښو ګاونډیو له روسانو سره لاس یو کړ او د دې لپاره ئې له مسکو سره ملګرتیا وکړه چې افغانان ونه توانېږي یو خپلواك، څواکمن او اسلامي افغانستان جوړ کړي، د نورو د سیالۍ شي، د پردیو له هر راز سلطې آزاد او له هر راز لاس وهنو ئې خوندي شي او له بلې خوا په بهر کې د اسلام دښمنه هېوادو او په داخل کې د منافقینو او کمونستانو ګډه جبهه جوړه شوه. دغه عوامل باعث شول چې د روسانو په لاس تپل شوې جګړه د دوی له ایستلو وروسته هم دوام وکړي، د ثور له کودتا تر نن پورې دا ټولې جګړې، که د روسانو د وخت او د دوی له وتلو وروسته جګړې وې او که نن د امریکا ترمشرۍ لاندې پر افغانانو تپل شوې جګړه، دا ټولې د هماغې جګړې تسلسل دی چې د روسانو په لاس پیل شوه. په دې اوسنۍ جګړې کې هم مسکو او په مسکو پورې تړلې ملکونه او ډلې لویه ونډه لري. که د دوی مرسته نه وی نو نه به امریکایانو پر افغانستان برید ته زړه ښه کړي وو او نه به ئې زموږ هېواد داسې ژر او په دومره آسانۍ سره نیولی وو او نه به دومره موده دلته په پاتې کېدو توانېدلي وو.

وروڼو خویندو!!

انګرېزان زموږ زاړه دښمنان دي، د افغانستان د ډېرو ستونزو اصلي سبب انګرېزان دي، دوی افغانستان تجزیه کړ او له دې ئې محروم کړ چې بحر ته د رسېدو لار ولري، مفسد ، ظالم او منحط شاهي رژیمونه ئې پر افغانانو وتپل، نیم افغانستان ئې پاکستان ته ورکړ، پښتانه ئې د دې لپاره په دوو برخو ووېشل او ترمنځ ئې د ډیورند ظالمانه کرښه تېره کړه چې د انګرېزانو په ضد جنګ کې تر ټولو مخکې ول، انګرېزان غواړي له موږ نه د میوند او جګدلك غچ واخلي، دوی پښتانه د خپل شکست او د هند له نیمي وچې د وتلو باعث ګڼي. د اسلامي امت د

اکثرو ستونزو باعث همدا انګرېزان دي، په هند باندي د مسلمانانو واکمني دوی پای ته ورسوله، د هند مسلمانان دوی داسي وووېشل چي د تل لپاره هندوان پرې حکومت وکړي، دا دوی ول چي کشمېريان ئې په دوو برخو، بلوڅان ئې په دريو او کردان ئې په پنځو برخو ووېشل، دا د دوی کار وو چي اسلامي خلافت ئې تجزيه او په وړو وړو مستعمراتو ئې ووېشو او د دوی تر منځ ئې داسي لانجمني پولي او سرحدات وټاکل چي له يوې خوا ورونه قومونه سره بېل کړي او له بلي خوا تل د دغو ملکونو تر منځ سرحدي مناقشات دوام وکړي او په خپلو کي ئې جنګونو ته تيار کړي، دا دوی ول چي يهودان ئې د نړۍ له ګوټ ګوټ نه راغونډ او په فلسطين کي ئې ځای په ځای کړل، دوه مليونه مظلوم فلسطينيان ئې له خپلو کورونو او ځمکو وشړل او يهودان ئې په کي مستقر کړل، دا اوس يهودان د دوی په زور فلسطينيان وژني او نه ئې پرېږدي چي بېرته خپل ملك ته ستانه شي. په بوسنيا کي لس زره مظلوم مسلمانان د دوی په اشاره او د هالينډي فوځ په لاس مسيحيانو ته تسليم او ټول ووژل شول. دا نن د افغانستان او عراق د جګړو اصلي محرك دوی دي. ستاسو به په ياد وي چي دغو انګرېزانو په هغه وخت کي د طالبانو سخته ستاينه کوله او بي بي سي ئې ورته تبليغات کول چي دوی له مجاهدينو سره جنګېدل، خو کله چي طالبانو له عرب مجاهدينو سره ملګرتيا پيل کړه، دا ستاينې په دښمنانه تبليغاتو واوښتلې او په پای کي همدا انګرېزان ول چي د طالبانو حکومت په نسکورولو کي تر ټولو مخکي شول.

انګرېزان په داسي وخت کي افغانستان ته د نورو فوځونو د رالېږلو اعلان کوي او د ناټو د يرغلګرو ځواکونو قومنده په لاس کي اخلي چي امريکايان ستړي شوي او وتلو ته ځان برابروي، تراوسه انګرېزانو غوښتل چي د جنګ د مالي او ځاني تلفاتو درووند پېټی د امريکايانو په اوږو وي، خو اوس چي هغوی وځي غواړي دا خلا په خپله ډکه کړي او پرې نږدي چي افغانان آرامه ورځ ولري، له جګړو او ورانيو فارغ شي او د پرديو له سلطې آزاد شي.

د سپين بولدك انفجار د انګرېزانو لخوا شوی، د مجاهدينو په ضد د تبليغاتو په غرض، د دې انفجار په اړه په څو ښارونو کي مظاهرې او د امريکائي

ځواکونو د نطاق له لوري د دې مظاهرو ستاينه ښيي چې دا چاودنه د ټولو هغو چاودنو په څېر د دوی لخوا شوې چې د سپين بولدك، خنجان، بگرام، ... او د گن شمېر نورو سيمو په سلاح کوټونو کې شوي او په سلهاوو بې گناه افغانان په کې مړه او ژوبل شوي.

د لندن کنفرانس د انگرېزانو لخوا د يوه بل شرارت په نيت دائر شوی، نور ملکونه د بې وزلو او مظلومو افغانانو له وژلو ستړي شوي وو، د جنگ پايلو ته ئې هيلې د ختمېدو په حال کې وې، شريرو انگرېزانو وغوښتل چې دوی بيا وهڅوي او د افغانانو په ضد د جگړې دوام ته ئې تيار کړي. له ډېرو ذيدخلو هېوادونو سره دا وېره راپيدا شوې وه چې ښايي د پارلمان له جوړېدو وروسته په هغې کابينې کې تغيرات راشي چې په بن کې جوړه او هر ملك ته خپله برخه ورکړی شوه، داسي نه چې د دوی په استخباراتو پورې تړلي وزيران له کابينې وايستلی شي، دوی وغوښتل د تشو او دروغجنو وعدو له لارې هم افغانان وغولوي او هم نړيوال او ترڅنگ ئې دا تضمين ترلاسه کړي چې د حکومت په جوړښت کې به تبديلي نه راځي، د دوی عمال به د سابق په څېر په نظام کې فعاله ونډه او په زړه پورې برخه لري.

افغانان ښه پوهېږي چې په بن کې د جوړ شوي لاس پوڅي حکومت وزارتونه د دوه جمع شپږ ملکونو تر منځ وېشل شوي او د هغو ملکونو لاس پوڅو ډلو ته په کې برخه ورکړی شوې چې د افغانستان په نيولو کې ئې د امريکا ملگرتيا وکړه. افغانان په دې هم ښه پوهېږي چې له افغانستان سره د مرستو په نامه چې دغو ملکونو اوس او له دې مخکې کوم اعلانونه کړي دا مرستې نه بلکې دا په حقيقت کې هغه لگښتونه دي چې اشغالگر ځواکونه ئې د اشغال د دوام لپاره کوي، دوی هغه مصارف هم له افغانانو سره د مرستو په لست کې نيسي چې په خپل نظامي او غيرنظامي پرسونل ئې کوي او يا ئې په خپلو هغو فعاليتونو لگوي چې د اسلام په ضد ئې روان کړي. دوی د دېرش زره بهرني فوځ، نږدې يو لك هغه مامورين چې په انجيوگانو کې ئې استخدام کړي، چې يا استخباراتي کار ترې اخلي، يا مسيحيت ته د افغانانو د منحرف کولو فعاليت پرې کوي او يا د اخلاقي فساد په خورولو کې

ترې استفاده کوي، د دغو معاشات او مصارف هم له افغانانو سره د مرستو په ضمن کي نيسي. دا داسي وګڼئ لکه روسان چي د افغانستان د اشغال په دوران کي خپل لګښتونه د پور په نامه يادوی او د لندن په کنفرانس کي ئې د بخښلو اعلان کوي!! يعني دا چي روسانو دا لس مليارده ډالر د افغانستان په ورانولو او د يو نيم مليون افغانانو په وژلو نه دي مصرف کړې بلکي له افغانانو سره ئې داسي مرسته کړې لکه انګرېزان چي ئې اوس کوي، تو پېر ئې يوازي دا دی چي روسان ئې د پور په نامه يادوی او انګرېزان د مرستو نوم ورکوي، روسان هم هغه لګښتونه پور ګڼي چي په جنګ ئې لګولې او يا ئې کمونستانو او شورای نظار ته ورکړي او انګرېزان هم خپل جنګي مصارف او هغه پيسې چي خپلو انجيوګانو ته ئې ورکوي د مرستو په نامه يادوی!!

ورونړو خويندو!!

دا دی ګورئ چي نن د امريکا تر مشرۍ لاندي د دنمارك، هسپانيې، ايټاليا ، هالينډ، جرمني او فرانسې په څېر د هغو هېوادونو عسکر د افغانانو په ضد جنګېږي چي په خپلو ورځپاڼو کي زموږ ګران پيغمبر عليه السلام ته له سپکاوي هم ډډه نه کوي، د تروريست په نامه ئې يادوی، په پګړۍ ئې د بم انځور او په لاس کي ئې توره او متروکه ورکوي او هغه هم د ښځو د وژلو او وهلو لپاره!! دا هماغه هېوادونه دي چي څو پېرۍ ئې اسلامي هېوادونه لوټلي او دا دی اوس ئې په ګډه د اسلام او مسلمانانو په ضد بل صليبي جنګ پيل کړی. هم په فلسطين کي مسلمانان وژني او هم په عراق او افغانستان کي.

هېڅ مسلمان بايد په دې کي شك ونه لري چي ترڅو د انګرېزانو ناولي لاسونه له دې سيمي نه وي قطع شوي؛ نه به زموږ په هېواد کي سوله راشي او نه به د عراق جګړه پای ته ورسېږي او نه به د فلسطين او کشمير غميزې پای ومومي، همداسي به د تل لپاره په اسلامي نړۍ کي د فتنو او جګړو اورونه بل وي، مفسد ، ظالم او منافق حکام به پرې حکومت کوي، شتمنۍ به ئې د غربي استعمارګرانو په لاس لوټل کېږي، دين او مذهب ته به ئې سپکاوی کېږي.

افغانان بايد يو ځل بيا ملا وتړي او له هغه خبيث زاړه دښمن نه خپل غچ او

انتقام واخلي چي په تېرو دريو پېړيو كي د مسلمانانو په ضد جګړو كي بوخت دي او لاسونه ئې د لكونو لكونو مظلومو مسلمانانو په وينو سره دي، په كار ده چي اوس په اشالغګرو ځواكونو خپل بريدونه څو برابره زيات كړو ، اصلي توجه مو بايد انګرېزانو ته وي، دوى بايد تر روسانو او امريكايانو هم خطرناك دښمنان وګڼو.

ورونړو خويندو!!

إن شاء الله د استعمارګرانو په لاس په مظلومو مسلمانانو مسلطه شوې توره شپه خپل پاى ته نږدې شوې، د آزادۍ او عزت روڼ سباوون په راختو دى، پر افغانستان او عراق د صليبي ځواكونو ګډ لوى بريد له ماتې سره مخامخ شوى، دې بريد او د مجاهدو افغانانو او توريااليو عراقيانو مقاومت ټوله اسلامي نړۍ راويښه كړې او دا درس ئې وركړى چي له داخلي او بهرني دښمنانو نه د نجات يوازنۍ لار جهاد دى، په دې جهاد سره به إن شاء الله صليبي ځواكونه د شوروي اتحاد په برخليك اخته كېږي. و ما ذلك على الله بعزيز

د صليبي ځواكونو د ماتې په اميد

د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې په هيله

ژوندي او بريالي دي وي زړه ور مجاهدين

و السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

حكمتيار

افغانستان

۲۲دلو ۱۳۸۴

بسم الله الرحمن الرحیم

# د ثور اوومه

گرانو هېوادوالو! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

نن یو ځل بیا هغه توره، سپېره او کرغېړنه ورځ رایادوو چې د دوو تورو او خونړیو کودتاوو ورځ وه؛ لومړۍ ئې یوازې د کمونستانو کودتا او دوهمه ئې د پرچمیانو او منافقینو ګډه کودتا، لومړۍ ئې د یوه خونړي جنګ پېلامه، چې د روسانو تېرى ورپسې وو، د شوروي ځواکونو په لاس د هېواد د اشغال لپاره مقدمه او د یو نیم ملیون افغانانو د وژلو باعث، دوهمه ئې د پرچمیانو تر مشرۍ لاندې هغه کودتا چې پرېکړه ئې په مسکو کې وشوه، د یوه ګاونډي هېواد په وساطت د جبل السراج ائتلاف ورته جوړ شو، کمونستان او منافقین په کې راغونډ کړای شول، واشنګټن او مسکو ئې ترشا ول او په دواړو پورې تړلو ملکونو هم د هغې ملاتړ وکړ. په لومړۍ کودتا کې مسکو او واشنګټن په خپلو کې اختلاف درلود، خو په دوهمې کې سره متفق ول، داسې لکه د امریکا تر مشرۍ لاندې د ائتلافي ځواکونو په لاس د افغانستان د اشغال په اړه چې ئې یوه بل ته لاس ورکړ، توپېر ئې فقط دومره وو چې په هغې کودتا کې امریکا د پردې تر شا د روسانو مرسته او ملګرتیا کوله او اوس د امریکایانو د برید په دوران کې مسکو د دوی ځرګنده مرسته وکړه او خپلو لاس پوڅو ته ئې وویل چې د امریکایي افسرانو تر قومندې لاندې د مظلومو افغانانو په ضد وجنګېږي. دلته بهرني فوځ برید وکړ، خو هلته د وسلو او پیسو په لېږلو اکتفاء وشوه. هغه کرغېړنه کودتا او دا خونړی برید دواړه د دې لپاره وو چې په افغانستان کې د مجاهدینو په لاس د یوه واقعي اسلامي حکومت د جوړېدو مخنیوی وشي.

وروڼو خويندو!

د هېواد د آزادۍ او په خپلواك افغانستان كي د يوه واقعي اسلامي حكومت د جوړولو لپاره موږ يوه بل انقلاب ته اړ يو، ستاسو مجاهدو پلرونو او وروڼو د خپل سر او وينو په قربانۍ كولو سره دا هېواد د شوروي له سلطې آزاد كړ او تاسو ته ئې په ميراث پرېښود، كه په رښتيا د خپلو سرلوړو پلرونو صادق خلف ياست بايد خپل هېواد د صليبي ځواكونو له سلطې آزاد كړئ، بايد راتلونكي نسل ته يو خپلواك، آزاد او اسلامي افغانستان په ميراث پرېږدئ. د هر مسلمان افغان لپاره دا د ستر پېغور خبره ده چي نن د ده په هېواد كي د پرديو بيرغونه رپېږي، په گوټ گوټ كي ئې د پرديو نظامي اډې جوړې شوې، ځمكه او فضاء ئې د پرديو په واك كي، پردي ورته حكومتونه جوړوي، نن د كابل د لاس پوڅي حكومت واگې په مطلقه توگه د پرديو په لاس كي دي، كابينه ئې په كابل كي نه بلكي په بن كي جوړه شوې، په دې كي هر بدلون د امريكايانو په امر او پرېكړې راځي، د كابل اصلي جمهور رئيس د امريكايانو د قطعاتو قومندان دى نه كرزى، د دې حكومت وزارتونه په ۲+۲ هېوادو وېشل شوي، هغه ډلي په كي نيول شوې چي په دغو اتو ملكونو پورې تړلې دي، كه د شوروي اتحاد د اشغال په وخت كي له كمونستنه پرته بل څوك په كابينه كي نه شو راتلی اوس هم يوازي هغه څوك راتلی شي چي مسيحيت ته اوښتی وي، په كابينه كي د كمونستانو برخه د امريكايانو لخوا ټاكل شوې، خارجه وزارت دوی شعله يانو ته وركړی وو، مخكنی وزير هم په شورای نظار كي د شعله جاويد د ډلي غړی وو، اوس ئې هم د دغي ډلي بل غړي د هغه ځای ناستی وټاكو، د دې ډلي د ښځو برخه د راوا په نامه فعاليت كوي چي غربيانو تل د مجاهدينو په ضد كارولې، فرانسې د دغي ډلي مشرې ته د بشري حقونو د اتلولۍ جائزه وركړه، غربيان اوس د اسلام او مجاهدينو په ضد له كمونستانو اونورو مرتدو ډلو استفاده كوي، اوس اوه وزارتونه شعليانو ته وركړی شوي، په كابينه كي نيمائي وزيران كمونستي سابقه لري، مخكي د سره استعمار برېڅي شول او اوس د تور غربي استعمار لاس پوڅي. اوس كفري ځواكونه افغانانو ته تعليمي نصاب جوړوي، هدف ئې دا دی چي زموږ راتلونكی ځوان نسل له اسلامه واوړي،

مرتد شي، په اخلاقي فساد او د محرف مسيحيت په ډنډ کي پرېوځي او د پرديو د غلامۍ کړۍ په غاړه کي واچوي. د عبدالرحمن پنجشيري ارتداد، څرگند اعتراف، نيونه، د بش، بلير، پاپ او نورو فوري عکس العمل او له څه ځنډه پرته د ده ژر خوشي کېدا او ايټاليا ته تگ؛ د اسلام او مسلمانانو په ضد د همدغي شرمناکي توطئې يوه کړۍ وه، دا ډرامه د دې لپاره جوړه شوې وه چي مرتد شوو افغاني مسيحيانو ته وښيي چي افغانستان اوس ستاسو د ملگرو په واك کي دی، حکومت او چارواکي ئې ستاسو هممسلکه او ستاسو په خدمت کي دي، څوك مو د ارتداد په جرم نه نيولی شي او نه محاکمه کولی، دوی ته ويل شوي وو چي په افغانستان کي زيات شمېر کسان مخصوصاً د انجيوگانو پرسونل او د حکومت لوړ پوړي چارواکي مسيحيت ته اوښتي، خو له وېرې خپل ارتداد نه شي اعلانولی، د ايټاليې استخباراتو دا پرېکړه وکړه چي عبدالرحمن پنجشيری دې ته تيار کړي چي خپل ارتداد بربنډ کړي، د کورنۍ غړي ئې اړوند ادارې ته اطلاع ورکړي، ونيولی شي، په محکمه کي په خپل ارتداد اعتراف وکړي، د محکمې بهير څرگند شي، ټول خلك ترې خبر شي، خو د امريکا، انگلستان، ايټاليا، کاناډا، استراليا او نور حکومتونه فوراً او جدي عکس العمل وښيي، د فوري خوشي کولو غوښتنه وکړي، خلاص شي او په ايټاليا کي پناه ورکړي شي، تر څو په دې سره د هغو کسانو وېره ختمه شي چي خپل ارتداد نه شي اعلانولی. دا په حقيقت کي د مسيحيت په لوري د خلکو د تشويقولو لپاره يوه کرکجنه توطئه وه.

غرب د اسلامي امت له راويښېدو وېرېدلی، دا ويښتيا د خپلو استعماري گټو لپاره ستر گواښ گڼي، اسلام ته د ځوان نسل د پراخ راتگ، په غربي نړۍ کي له محرف مسيحيت، پانگه وال اقتصادي نظام، بې هدفي او بې فرهنگي نه د صالح وگړو ژوره کرکه او د اسلام په لوري د دوی ورځ په ورځ پراخه رجوع؛ غربي استعمارگران سخت وېرولي، د مقابلې لپاره ئې ملاتړلې، پر افغانستان او عراق د دوی وحشيانه يريد او دلته په پاتې کېدو د دوی د ټينگار اصلي وجه او موخه همدا ده. خو إن شاء الله دوی به په دې صليبي جنگ کي همداسي له ماتې سره مخامخ کېږي چي شوروي اتحاد ورسره مخامخ شو. افغان مجاهدين او عراقي

سرتېري به دوی ته هم د کمونيزم په څېر ماتې ورکوي.

ورونو خوېندو!

د شمالي ټلوالي مشرانو ته زموږ توصيه دا ده چې د افغان ولس په ضد د امريکايانو له ملګرتيا لاس واخلي، نور نو د پرديو د ګټو لپاره خپل وطنوال په وينو کې ونه رغړوي، د شمالي سيمو باايمانه ولسونه جهاد ته رابلم، دوی ته د خپلو شهيدانو ويني ورپه يادوم، دوی ته وايم چې ستاسو د ايمان او عقيدې غوښتنه دا ده چې د دين خرڅوونکو او وطن پلورونکو له ملګرتيا ډډه وکړئ، بايد ټول افغان ولس پښتون او غيرپښتون په يوه صف کې د دښمن مقابله وکړي او هغه څوك خپل ګډ دښمن وګڼي چې قومي او ژبني تعصبات راپاروي او ورونه قومونه د يوه بل خلاف او د دښمن په ګټه جنګوي. د هغه وطن خرڅوونکي سياسي او قومي مشر، ټګمار پير او دين پلورونکي آخوند خبره مه منئ چې د انګرېزانو غلامۍ ته ئې ملا تړلې او د څو ډالرو لپاره د دين د دښمنانو نوکري کوي.

د عراق مذهبي مشرانو او د دوی مشر سيستاني ته هم زموږ توصيه دا ده چې د امريکايانو له ملګرتيا لاس واخلي، نه اسلام له کافر سره د ملګرتيا اجازه ورکوي او نه شيعه مذهب، څوك چې د کربلا پېښه له څوارلس پېړيو وروسته د تورو جامو په اغوستو او په زنځيرونو د ځان وهلو سره لمانځي او پر يزيد لعنت وايي څنګه نن د هغه چا ملګرتيا کوي چې د اسلام او مسلمانانو تر ټولو زوړ او خطرناك دښمن دی او لاسونه ئې د لکونو لکونو مسلمانانو په وينو سره دي او هره ورځ په لسهاوو مسلمانان د دوی په لاس په عراق، افغانستان او فلسطين کې وژل کېږي!! د دې دښمن لويه توطئه دا ده چې په امت کې قومي او مذهبي اختلافات راولاړ کړي، تاسو له سنيانو سره وجنګوي، ګمان مه کوئ چې انګرېزان د دې لپاره د سنيانو په ضد تاسو مسلح کوي او جنګوي چې د عراق واګې تاسو ته وسپاري او پر عراق ستاسو دائمي واکمني تضمين کړي، د دوی مقصد په اسلامي نړۍ کې د شيعه او سني په نامه د يوې بلې جګړې تپل دي، دا جګړه تر هر چا د مخه ستاسو په تاوان ده، هره قطره وينه چې په عراق کې توئېږي تاسو به ئې په مسئوليت کې شريك وئ، جناب سيستاني دې د خليلزاد دې وينا ته زړه نه ښه کوي چې له نجف نه به واتيکان

جوړ کړي او له سیستاني نه د شیعه وو پاپ!! ستاسو په سپېڅلو ځایونو بریدونه د انګرېزانو کار دی چي غواړي تاسې د سنیانو په جوماتونو بریدونو ته وهڅوي او درته وښیي چي سنیان ستاسو او ستاسو د مذهب اصلي دښمنان دي او انګرېزان ستاسو خواخوږي او ملګري. دا به د ډېر تأسف ځای وي چي تاسو د دښمن دا خطرناکه توطئه درك نه کړئ او د شنډولو لپاره ئې ملا ونه تړئ. د عراق او افغانستان شیعه باید د هغو مذهبي مشرانو له تقلید نه لاس واخلي چي دوی له انګرېزانو سره ملګرتیا او د سنیانو په ضد جنګ ته هڅوي. د هغه چا تقلید دې وکړي چي دوی له سنیانو سره وحدت او د ګډ دښمن په ضد جهاد ته رابلي او ورته وایي چي د امام حسین رضي الله عنه په لار ولاړ شئ نه د امام حسین د دین او مذهب د دښمنانو په لار.

ورونو خویندو!

افغانان په دې ښه پوهېږي چي د دوی مجاهد ورونه د دې لپاره راپورته شوي، د جهاد لپاره ئې ملا تړلې، کړاوونه ګالي او قربانۍ ورکوي چي خپل مظلوم ولس له دې دردناك حالت نه وژغوري، له خپل دین او وطن نه دفاع وکړي، دوی هېڅکله داسي کار نه کوي چي ولس او هېواد ته ئې تاوان ورسېږي او بې ګناه افغانان په کي ژوبل شي، دا صلیبي ځواکونه دي چي پر مظلومو افغانانو بمونه وروي، دا دوی دي چي د هر ستر برید نه مخکي داسي کارونه کوي چي د افغانانو په ضد خپل وحشیانه عملیات توجیه کړي او له مجاهدینو سره د افغان ولس خواخوږي متزلزله کړي، دا دوی دي چي په کنر کي د خپلو پراخو وحشیانه عملیاتو نه مخکي ئې په مکتب باندي راکټونه وویشتل، د ماشومانو د وژل کېدو په هکله ئې پراخ تبلیغات وکړل، تور ئې پر مجاهدینو ولګاوو او ورپسې ئې پراخ عملیات پیل کړل، په حقیقت کي پر مکتب برید او ورپسې تبلیغات د دغو عملیاتو مقدمه وه.

موږ خپل مؤمن ملت ته اطمئنان ورکوو چي د هېواد تر بشپړې آزادۍ او د هېواد له لوېشت لوېشت نه د اشغالګرو ځواکونو ترایستو او په خپلواك افغانستان کي د ملت د خوښي اسلامي حکومت ترقائمېدو پوري به زموږ جهاد

ادامه لري، إن شاء الله سږ کال به له کنر نه تر بادغیس پورې او له بدخشانه تر نیمروز پورې پر صلیبي اشغالګرانو د مجاهدینو لخوا پرله پسې بریدونه کېږي او دښمن به ډېر ژر په دې حقیقت پوه شي چې د دنیا هېڅ ځواك نه شي کولی افغانان په غلامۍ کي وساتي او د دوی پر هېواد حکومت وکړي. د هېواد روان حالات او د مقاومت ورځ په ورځ خورېدا او ځواکمنېدا ښیي چې اشغالګر ځواکونه په خپلو ټولو ناولو موخو کي ناکام دي، نه ئې مقاومت وځپلی شو، نه ئې امنیت راوستی شو، نه ئې ځواکمن حکومت جوړ کړی شو، اقتدار ئې خائنانو، غلو، ملحدینو او مفسدینو ته سپارلی، له دې پرته بله چاره نه لري چې زموږ له هېواده ووځي او افغانان پرېږدي چې خپل برخلیك په خپله وټاکي او د خپلي خوښي حکومت ولري. إن شاء الله دا ورځ به راځي او ډېر ژر به راځي.

مړه دې د اسلام دښمنان

سرلوړي دي وي افغانان

ژوندي دي وي مجاهدین

حزب اسلامي افغانستان

۱۳۸۵۱۲۱۷

بسم الله الرحمن الرحيم

# کومه فتوی سمه وه؟!!

د مولوي فیاض وژنې او ورپسې د ده د فاتحې په مراسمو کې لویې چاودنې له یوې خوا په ټول ولس کې سختې اندېښنې راولاړې کړې او له بلې خوا دا پوښتنه چې په لاندي څلورو فتواگانو کې کومه یوه صحیح وه؟:

- د طالبانو د اقتدار په وخت کې د مولوي فیاض او د ده د ملگرو هغه فتوی چې ملا عمر ته ئې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ!!
- د کرزي له راتلو وروسته د دوی هغه فتوی چې د ملاعمر عزل ئې اعلان کړ او کرزی ئې د اسلامي حکومت امیر وگاڼو!!
- د مولوي فیاض د قتل فتوی.
- د ده د فاتحې په مراسمو کې په جومات کې د چاودنې فتوی!!

دې پوښتنو ته باید شرعي او اسلامي ځواب ورکړی شي نه سیاسي ځواب، باید وگورو چې د شریعت له مخې کومه فتوی سمه ده او کومه ئې غلطه؟ د اسلام له نظره څوك د فتوی ورکولو حق لري؟ آیا شریعت دا حق کوم فرد، کومې ډلې یا کوم مفتي ته ورکړی چې چا ته د امیرالمؤمنین لقب ورکړي، یا ئې عزل کړي؟! آیا د داسي مفتیانو وژل جائز دي؟ آیا په جومات کې د چاودنې جواز موندلی شو؟

له دې د مخه چې د اسلام له نظره د امیرالمؤمنین او د دولت د رئیس د انتخاب په هکله د فتوی ورکولو په اړه څه ووایو باید څو خبري واضح شي:

- جومات یو له هغو درنو ځایونو څخه دی چې قرآن ئې د شعائرالله په نامه

يادوی او مسلمانانو ته په کلکه امر کوي چې د هغه له هرراز سپکاوي او عدم احترام نه به ځان ساتئ او فرمايي: ولاتحلوا شعائر الله: د شعائر الله هتك حرمت مه کوئ، د جومات په هکله دا تأکيد هم شوی چې په هغه کي به له پلورلو، پېرلو او راکړې، ورکړې نه هم ډډه کوئ، دا د عبادت ځای دی او د مهمو او حياتي مسائلو د پرېکړې او مشورې ځای، دا د خدای کور دی، د دې کور درناوی او احترام پر هر مسلمان لازم دی، سپکاوی ئې د بې ايمانۍ نښه ګڼل کېږي، په جومات کي د يوه بې ګناه انسان وينه توييول خو پرېږده دلته به له قاتل نه هم د غچ اخيستو هڅه نه کوو ، حتی له دې به هم ځان ساتو چې زموږ د خولو يا خولې له بوی نه څوك اذيت شي، په داسي حالت کي به جومات ته له ننوتلو ډډه کوو چې ځان مو ناولی وي، له جامو نه مو د خولو بوی ځي، د اوږې او پيازو په څېر داسي څه مو خوړلي وي چې بد بوی لري، جومات ته به له سلام سره ننوځو او د سلام معنی دا ده چې موږ په جومات کي شته کسانو ته سلامتيا غواړو، سلام هم د سلامتيا دعا ده او هم د سلامتيا اعلان.

- د کابل چارواکي دا غواړي چې له منبر نه د دوی په ګټه تبليغات وشي، خپل پلوي مذهبي مشران او امامان دې ته تشويقوي چې د حکومت په ګټه فتواوي ورکړي، په افغانستان کي د امريکايي ځواکونو شتون جائز وګڼي، د بهرنيو ځواکونو په خلاف هر مقاومت محکوم کړي، امريکايان ذميان او مستأمنين وګڼي او د دوی امنيت ساتل د ټولو افغانانو شرعي وجيبه وبولي او د حکومت په خلاف هر حرکت که څه هم سوله ييزې مظاهرې وي وغندي، خو نه چارواکي دې ته اهميت ورکوي چې د دغو فتوی ورکوونکو او مبلغينو امنيت وساتي او نه هم دا مفتيان او مبلغين په خپله دا فکر کوي چې داسي فتواګانې په حقيقت کي په روان جنګ کي له شاملېدو سره مترادف کار دی، خپلي ځانګړې پايلې لري، که يو پرې خوښ کېږي بل ځوروي، چې په جنګ کي د يوه لوري ملاتړ کوي او له منبر نه د هغه په ګټه کار اخلي بيا خو بايد خپل امنيت هم وساتي، بيا خو بايد په کور کي هم پيره داران ولري او په جومات کي هم، دوی ته خو د حکومت تر نورو چارواکو لازيات خطر متوجه دی، چارواکي بايد د دوی پر ژوند لوبې ونه کړي او د خپلو دښمنانو د

توپ خولې ته ئې ونه دروي.

- ځوك چې امريكايانو ته د روسانو په څېر د اشغالگرانو په سترگه گوري او د دوی په ضد جهاد داسي فرض گڼي لکه د روسانو په ضد جهاد، هغوی په دې باور دي چې د امريكايانو ملگري مباح الدم دي او په دې کي هيڅ شك نه لري چې د امريكايانو تر امر لاندي چې ځوك له مسلمانانو سره جنگېږي حکم ئې د امريكايانو د عسكرو په څېر دی. دغو خبرو ته جدي توجه په كار ده، هم چارواكي بايد دې ته متوجه وي او هم هغه کسان چې له اوسني نظام نه ملاتړ كوي او هغه هم په جومات كي او د منبر له سر نه.
- په دې كي شك نشته چې كه جومات د كافر په لاس كي پربوتی وي او له هغه نه د سنگر په حيث استفاده كوي نو په جومات كي ئې وژل جائز دي، خو د بې گناه کسانو په شتون كي په جومات بريد او بيا داسي ړنده چاودنه چې د گڼ شمېر بې وزلو، غيرمحاربو او مسلمانانو د مرگ، ژوبلې باعث شي په هيڅ مذهب كي ئې جواز نه شو موندلی. اسلام حتی په جنگي حالاتو كي هم پر هغه كلي له بريد نه ممانعت كوي چې د آذان غږ په كي اوچت شي.
- مولوي فياض يو له هغو کسانو څخه وو چې د طالبانو د اقتدار په وخت كي ئې د طالبانو مشر ته د اميرالمؤمنين لقب وركړ، خو د دوی د اقتدار له نسکورېدو وروسته ئې خپله مخکنۍ فتوی لغوه كړه او په نوې فتوی كي ئې د نوې حکومت مشر شرعي امير او د ده اطاعت ئې پر ټولو افغانانو واجب وگاڼه.
- د دغو فتواگانو نه كوم شرعي حيثيت شته او نه ئې د چا په تعيين او عزل كي څه اغېز، دا هسي يو تبليغاتي كار دی، د طالبانو په وخت كي هم د تبليغاتو لپاره وو او اوس هم.
- فتوی د حلال او حرام په اړه وركول كېږي، نه په دې اړه چې ځوك د امارت وړ دی او ځوك د عزلولو مستحق، د حلال او حرام په اړه فتوی به هم هغه ځوك وركوي چې مسلمانان ئې په علم، تقوی او ديانت باور لري، د چا مامور نه وي او په خپلې فتوی اجوره نه اخلي.
- كه ځوك د يوې فتوی په وركولو په مرگ محکومېږي نو دې ته دې د مولوي

فیاض قاتل ځواب ووايي چي دی اوس او په دې نوې فتوی سره د وژلو مستحق شوی وو او که د مخکنۍ فتوی په سبب، که هغه وخت چا وژلی وی ستاسو غبرگون به څه وو او که هغه وخت ئې د ده په فاتحې کي په جومات کي داسي چاودنه کړې وی تاسو به د دې کار په هکله څه ويل؟!!

• عمر رضي الله عنه فرمايي: څوك چي د مسلمانانو له خوښي او موافقې نه پرته د چا د امير کولو هڅه کوي له دې څخه دې وويرېږي چي دی او د ده د خوښي امير دواړه په قتل ونه رسېږي. په رښتيا چي د داسي فتواگانو پايله له دې پرته بل څه نه شي کېدی.

• که د راشدينو خلفاوو د انتخاب او تعيين څرنگوالي ته لږ ځير شو نو څو خبري په ډېر وضاحت سره راته جوته کېږي:

۱. هيڅ يو ئې د کومي فتوی له مخې نه دی ټاکل شوی.

۲. هيڅ يو ئې د څو محدودو کسانو لخوا د تړلو دروازو تر شا نه دی غوره شوی.

۳. هر يو ئې په جومات کي غوره شوی.

۴. له عام او څرگند بيعت نه وروسته ئې د امير لقب ترلاسه کړی.

• له بده مرغه ځيني کسان دا اشتباه کوي چي د ابوبکر رضي الله عنه لخوا د عمر رضي الله عنه نومول او د عمر رضي الله عنه لخوا د شپږو کسانو نومول داسي گڼي چي گواکي په همدې نومولو سره هغوی د مسلمانانو لپاره امير او خپل ځای ناستی ټاکلی!! دا يوه لويه اشتباه ده، هغوی خپل ځای ناستی يا امير نه دی ټاکلی، يوه ئې يو کس او بل ئې شپږ کسان نومولي، نومول شوو کسانو يوازي په دې نومولو سره د امارت مقام نه دی ترلاسه کړی، بلکي له بيعت نه وروسته د دوی امارت مسلم شوی، که په جومات کي له عمر رضي الله عنه او عثمان رضي الله عنه سره بيعت نه وی شوی يو ئې هم نه شو امير کېدی، د شريعت له مخې بيعت د امارت لپاره شرط دی، بيعت يعني په امير خپل اعتماد څرگندول او د اطاعت او منني ډاډ ورکول. ځيني بې خبره کسان بيعت داسي شکلي مراسم گڼي چي د امير له انتخابه وروسته د ده په وړاندي ترسره کېږي، قرآن په ډېر صراحت سره وايي چي دا د ټولو مسلمانانو حق او وجيبه ده چي د امارت ستر امانت به اهل کس ته سپاري،

په کوم مبارك آیت کي چي دا مطلب راغلی هلته څو خبري د دې تر څنګ شوې:

۱. امارت یو امانت دی، الهي امانت او د مسلمانانو امانت.

۲. ټول مسلمانان مکلف دي چي دا امانت به داسي چا ته سپاري چي د دې اهل وي.

۳. امیر به د خلکو ترمنځ عدالت تأمینوي.

۴. که د امیر او خلکو ترمنځ په کومي قضیې کي اختلاف راولاړ شو، اختلافي مسئله به قرآن او سنت ته راجع کېږي، داسي نه چي امیر به د پرېکړو وروستۍ مرجع وي او د ده هره پرېکړه به وروستۍ پرېکړه ګڼل کېږي.

- که قرآن دا حق ټولو مسلمانانو ته نه وی ورکړی او د امیر ټاکل په فتوی ترسره کېدی نو پیغمبرعلیه السلام به حتماً تر خپل رحلت نه مخکي یو څوك خپل ځای ناستی ټاکلی وو. که دا د مسلمانانو حق نه وی نو ابوبکر رضي الله عنه به له کافي مناقشې نه وروسته په جومات کي نه غوره کېدو، عمر رضي الله عنه به د تقرر لپاره جومات ته په راتلو نه مکلف کېدو، د عثمان رضي الله عنه او علي رضي الله عنه له منځ نه د یوه تعیین به د خلکو په رأیه او په جومات کي نه ترسره کېدو، د عثمان رضي الله عنه له شهادت نه وروسته به علي رضي الله عنه هغو کسانو ته چي له ده نه ئې د امیر کېدو غوښتنه درلوده دا نه ویل چي د امیر د انتخاب حق د خلکو دی باید په جومات کي د دې پرېکړه وشي!!

- متأسفانه ځیني مفتیان داسي وي چي هرڅوك قدرت ترلاسه کړي نو دوی د امیرالمؤمنین لقب ورکوي که څه هم هغه شاه شجاع وي او د پردیو د متو په زور د قدرت پر ګدۍ ناست واکمن؟ موږ نه پوهېږو څوك چي د اقتدار لپاره جنګېږي د داسي مفتیانو په وژلو کي څه ګټه ګوري؟ ته قدرت ترلاسه کړه همدا فتوی به بیا ستا لپاره ورکوي؟!! تر اوسه خو نه څوك د دوی د فتوی په وجه د امارت په ګدۍ کښېنستی او نه هم له امارت نه عزل شوی، دوی خو تل د امارت په ګدۍ ناستو کسانو ته د امیر المؤمنین لقب ورکړی. نو په دې حالت کي د دوی د وژلو ګټه څه ده؟ او افغان ولس هم نه د داسي فتواوو په وجه له حکومت سره ملګري کېږي او نه هم له مجاهدینو او د حکومت له مخالفینو سره، خلك هوښیار دي، کافي تجربه

لري، په دې پوهېږي چې کومه فتوی له ایمان او عقیدې راولاړه شوې او کومه له غرض او مرض نه، کومه وینا د اسلام او مسلمانانو په ګټه ده او کومه د اسلام د دښمنانو په ګټه، نه د غرضناکو مفتیانو فتوی ته څه اهمیت ورکوي او نه د تورزړو مبلغینو وینا ته؟ که حقیقت دا وي چې افغان ولس د حق او باطل تر منځ د تمییز او تفکیك کفایت او اهلیت لري او په هري خبري پسې په پټو سترګو نه ځي او څوك ئې په آساني نه شي غولولی نو بیا خو د یوې فتوی لپاره د داسي کسانو د وژلو به څه دلیل وي او ګټه به ئې څه وي؟

• آیا د حکومت لپاره دا ټولي راډیوګانې، ټلویزیونونه، مجلې او اخبارونه، په داخل او خارج کي، په خپله د کابل د حکومت او د حکومت د حامي ملکونو، د بي، بي، سي، امریکا غږ، راډیو آزادي او راډیو اشنا په څېر خبري رسنۍ کفایت نه کوي چې اوس له محراب او منبر نه هم غواړي تبلیغاتي استفاده وکړي او له دې مقدس ځای نه هم متنازع فیه ځای جوړ کړي؟!!

• آیا دا د پاکستان په جوماتونو کي بې رحمانه او سفیهانه چاودنې، چې هم د مذهب خلاف دي او هم د عقل ضد، کافي نه دي چې اوس په افغانستان کي هم د دې لړۍ پیلوي؟!!

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کابل خونړۍ پېښې او زموږ غبرګون

د کابل مؤمن او زړه ور ولس ته سلام کوم، د امریکائي اشغالګرانو په ضد د دوی پاڅون ستایم، په دې پاڅون سره دوی د روسانو په ضد د قیام نه هېرېدونکې خاطرې راژوندۍ کړې، إن شاء الله د کابل مجاهد ولس به د صلیبي ځواکونو په ضد په روان مسلحانه قیام کې همغه ونډه اخلي چې د روسانو په ضد ئې درلوده، ټول افغان ولس د دوی شهامت او مېړانې ته په درنه سترګه ګوري او په روان مقاومت کې د دوی د فعالې ونډې اخیستو انتظار لري.

د کابل وروستیو خونړیو پېښو له یوې خوا دا وښوده چې صلیبي اشغالګران څومره بې رحمه او وحشي دي او د مظلومو افغانانو وینې ورته څومره بې ارزښته، او له بلې خوا ئې نړیوالو ته څرګنده کړه چې افغانان څومره له اشغالګرانو کرکه لري، زړونه ئې له کینې او غصې ورته ډك او د فرصت په انتظار کې دي، په تش لاس هم د دوی مقابلې ته تیار دي. دې پېښو ثابته کړه چې نور نو افغان ولس د بهرنیو ځواکونو شته والی نه شي زغملی، غواړي په یوه بل ستر اسلامي پاڅون لاس پورې کړي او له دغو وحشي ډوله دیموکراتو اشغالګرانو سره همغه څه وکړي چې له کمونستو اشغالګرانو سره ئې وکړل.

وحشي او مستو امریکایانو ته د افغانانو وینې هیڅ ارزښت نه لري، دا دی په کابل کې ئې په بې وسلو مظاهرینو ډزې وکړې، په سلهاوو تش لاسي ښاریان ئې په وینو کې ورغړول، په ارزګان کې ئې د واده پر مراسمو، په پکتیکا کې ئې زیارت ته په راغلو خلکو، په خوست کې ئې پر جومات د تراویح د لمانځه پر وخت، په پکتیا کې ئې کابل ته په تلونکې کاروان، په کنړ، ننګرهار، غزني او کندهار کې

ئې پر کليو باندي بمونه ورولي، هره ورځ بې ګناه او بې وسلې افغانان وژني او بيا په ډېره بد سترګۍ او بې شرمۍ اعلان کوي چي د دولت مخالفين ئې ووژل!! او خپلو ګوډاګيانو ته امر کوي چي ووايي: دا مخالفين د پاکستان له پولو رااوړي او پاکستان ورته وسلې ورکوي!!

ټول افغانان په دې حقيقت پوه دي چي د اسلام د لاري مجاهدينو د صليبي اشغالګرانو په ضد روان مقاومت د خپل ايمان او عقيدې په حکم پيل کړی، څوك چي دا مقاومت بهرنيو ځواکونو ته منسوبوي هغوی په خپله د پرديو غلامان دي، پرون د روسانو تر قومندې لاندي د خپل ملت په ضد وجنګېدل او نن د انګرېزانو تر قومندې لاندي جنګېږي، په پرديو ځان ساتي او د کور په دروازه کي ئې امريکائي کوماندو پهره کوي، دا هماغه بې غيرته او بې ايمانهناافغانان دي چي د آزاد ژوند خوند ئې نه دی څکلی، هر څوك په خپل ځان قياسوي، مجاهدين نه پېژني، د دوی له جذباتو بې خبره دي، په دې نه پوهېږي چي افغانان د عزت مرګ د غلامۍ تر ژونده سل ځله غوره ګڼي.

عجيبه ده چي څوك مجاهدين په پاکستان پورې تړي، پاکستان خو اوس د امريکايانو اډه ده، که د پاکستان مرسته نه وی نه دوی کابل نيولی شو او نه تر اوسه دلته پاتې کېدی شول. د امريکايانو د بريد په لومړيو مياشتو کي د طالبانو د حکومت تر نسکورېدو پورې له پاکستانه اته اويا زره نظامي الوتنې وشوې، هره طياره د پاکستان له نظامي اډو والوته او پر افغانانو ئې بمونه وورول، تر اوسه د امريکايانو اکمالات د پاکستان له لاري کېږي، کرزی له پاکستانه لومړی ارزګان ته بيا کندهار ته په امريکائي هليکوپټرو کي انتقال شو. د ګوانتانامو زندان په هغو مجاهدينو ډك دی چي پاکستان نيولي او امريکايانو ته ئې لاس پښې تړلي سپارلي. مجاهدين او طالبان به څنګه پر پاکستان اعتماد کوي. پاکستان د امريکا په اشاره خپل طالبان وژني، په جنوبي او شمالي وزيرستان او باجوړ کي ئې د طالبانو تر نامه لاندي د پښتنو په ضد جګړه پيل کړې او په خپل ولس بمونه وروي، خو امريکا لا قانع نه ده، نه پوهېږو پاکستاني چارواکي تر دې زيات څه کولی شي چي واشنګټن قانع شي؟!!

امریکایان په دې ښه پوهېږي چې په ۱۰۰۰ کي ۹۹۹ پاکستانیان د امریکا خلاف دي، امریکا د پاکستان په هکله همغه عزایم لري چې د عراق او ایران په هکله ئې لري، خو غواړي دا هېواد د دوستۍ او ملګرتیا تر پردې لاندي او د خپلو چارواکو په لاس ټوټې ټوټې کړي، نن ډهلي او واشنګټن د اسلام آباد په ضد لاس یو کړی، امریکایانو د پاکستان پر حکومت ټول هغه کارونه ترسره کړل چې ډهلي ترې غوښتل، دا اوس امریکایانو هند ته اجازه ورکړې چې د افغانستان له لاري په پاکستان کي لاس وهنې وکړي، وسلې ولېږي او چاودنې وکړي.

ځیني پاکستانیان داسي ګمان کوي چې د دوی په خلاف تبلیغات د شمالي ټلوالې او کمونستانو له خوا کېږي، حال دا چې د پاکستان په ضد ټول فعالیتونو که شمالي ټلواله ئې کوي او که کمونستان او نور، دا ټول د امریکایانو په اشاره او امر کوي، دوی غواړي زموږ د ګاونډیانو خپل منځي رقابتونه افغانستان ته راانتقال کړي، دلته یو د بل په ضد وجنګوي، د همدې لپاره دوی کابل د پاکستان د رقیبانو د هڅو په اډې بدل کړي، دا ټول د یوې اوږدې او سنجول شوې منصوبې لاندي ترسره کېږي. هدف دا دی چې په پاکستان کي هم د افغانستان په څېر حالات راولاړ کړي، که امریکا ځواکمن عراق او اتمي ایران نه شي زغملی، پر عراق ئې د اتمي وسلې په نامه برید وکړ او اوس ایران په همدې نامه ګواښي؛ نو پاکستان به څنګه د یوه اتمي ځواك په حیث وزغمي، ډېر ناپوه او بې خبره انسان به دا غلط ګمان کوي.

موږ د ننګرهار د محصلینو او ټولو هغو ځوانانو ستاینه کوو چې د اشغالګرانو په ضد ئې د افغان ولس کرکه او نفرت څرګند کړی، مظاهرې ئې ایستلې او د اشغالګرانو په ضد ئې شعارونه ورکړي او په ټولو هغو ملي خائنانو لعنت وایو چې پر دغو تش لاسو مظاهرینو ئې د پردیو په وینا ډزې کړې دي، ځوانانو او محصلینو ته مي پیغام دا دی چې باید راوړاندې شي، باید د اسلامي انقلاب د شهداوو د رښتونو وارثینو په څېر جهاد ته ملا وتړي، په دې انقلاب کي باید د دوی ونډه د مخکښانو ونډه وي، دوی د هغه څه کولو توان لري چې د افغان ولس په هیڅ بلې ټولنې کي ئې نه شو موندلی، په نیمې لاري کي پاتې اسلامي

انقلاب باید د دوی په لاس وروستي پړاو ته ورسېږي.

د افغانستان امریکائي واکمن جنرال ایکنبري ته مي ځواب دا دی چي: که تاسو تر اوږدې مودې دلته د پاتې کېدو او له دې ځایه د نورو تابوتونو د انتقال حوصله لرئ، نو وبه ګورئ چي د باایمانه افغانانو حوصلې تل اوچتې او متې ئې مضبوطې دي، د مقاومت د دوام هوډ به ئې هیڅکله کمزوری ونه مومئ، له هر زړه ور افغانه به واورئ چي وایي: څه له به د خپل غچ او انتقام اخیستو لپاره امریکا ته در پسې درځو، ښه ده چي دلته تر هغه پاتې وئ چي خپل انتقام درنه واخلو، مطمئن اوسه چي زموږ جهاد به تر هغه دوام کوي او ورځ په ورځ به لازیات پیاوړی کېږي چي ټول بهرني ځواکونه زموږ د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې ووځي، که نن هره ورځ په اوسط توګه لس - دولس عملیات ترسره کېږي او تاسو یوازي په یوه دوه اعتراف کوئ، إن شاء الله څو میاشتې وروسته به دا دوه برابره شي. ته ښه پوهېږې چي موږ د دې مقاومت د دوام عزم او توان لرو، د دوام لپاره ئې د هیچا مرستې ته اړ نه یو، نه ایران زموږ مرسته کوي او نه پاکستان، هم د ایران لیبرالانو ستاسو مرسته وکړه او هم د پاکستان جنرالانو، ته پوهېږې چي د سړك د سر ستاسو د یوه کاروان په وړاندي په یوې چاودنې باندي زموږ مصارف سلو ډالرو ته نه رسېږي، نه ئې په موادو او وسایلو کي بهرنۍ مرستي ته ضرورت لرو او نه ئې په مصارفو کي، إن شاء الله داسي جنګ په یوازي سر او تر اوږدې مودې جاري ساتلی شو، که موږ په کال کي لږ تر لږه زر داسي چاودنې وکړی شو نو مجموعي مصارف مو سل زره ډالرو ته نه رسېږي، که تاسو په کال کي لږ تر لږه د زرو تابوتانو د انتقال حوصله ولرئ نو د افغانانو ملا دې ماتې شي که دومره مصارف ونه شي زغملی. که انګرېزانو یوه پېړۍ مخکي زموږ د پلرونو پر افغانستان حکومت ونه شو کړی، موږ به د خپلو غازي نیکونو ناخلفه لمسیان وو چي نن ستاسو بیرغونه دلته په رپېدو وي او تاسو زموږ د هېواد په کوم ګوټ کي یوه شېبه آرامه تېره کړی شئ.

دروغجنو صلح غوښتونکو ته د مجاهدینو پرېکنده ځواب دا دی چي نه له اشغالګرانو سره روغه جوړه کېدی شي او نه د بهرنیو ځواکونو په شته والي کي صلح او امنیت راتلی شي.

ټولو مخلصو مجاهدينو ته مي توصيه دا ده چي خپل يووالی او وحدت ټينګ وساتئ، له جبهه اي جنګونو ډډه وکړئ، د مخکي په څېر په چريکي جنګونو اکتفاء وکړئ، په دې سره دښمن ته هغه تلفات رسولی شئ چي په جبهه اي جنګونو ئې هيڅکله نه شئ رسولی. بايد ډاډه وئ چي په همدې جنګ سره کولی شئ دښمن ته ماتې ورکړئ او له خپله هېواده ئې وتلو ته اړ کړئ.

بريالي دي وي باايمانه مجاهدين

مړه دي وي د اسلام دښمنان

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۵۱۳۱۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# پيام افغانها به برادران مجاهد عراقی شان

به نمایندگی از مجاهدین افغان، به مناسبت شهادت قهرمان بزرگ ابومصعب الزرقاوي، به خانوداه شهید پرورش، به همسنگران مجاهدش و به قاطبه امت اسلامي تسلیت عرض می کنم. با شهادت او امت اسلامي از شخصیت بزرگ، مجاهد دلیر و رهبر قهرمان محروم شد ، دعا می کنم که خداوند قدیر این خلأ بزرگ را با مجاهدین هدفمند و شجاعی چون او پر کند. إن شاء الله مجاهدین دلیر و قهرمان عراق به راهی ادامه خواهند داد که به خون زرقاوی و همسنگران مؤمنش سرخ شده، راه حصول آزادی و نیل به عزت و سربلندی همین است. امیدوارم از هر ده و قریه عراق زرقاوی دیگری سربرافرازد ، تمامی مردم مسلمان و باایمان عراق پرچم او را برافراشته نگهدارند و برای تحقق آرمانهای بلند و مقدس او آماده پیکار و جهاد مقدس شوند.

بدون شك که زرقاوی نه مرده، زنده است و به جاویدانگی پیوسته، راهش مستدام و همسنگرانش زنده اند ، کسی می میرد که به پستی و ذلت تسلیم شود و در برابر دشمن سر بردگی فرود آرد. کسی که ستمگران بدمعاش و طواغیت بي رحم زمان چون بش و بلیر تمنای مرگش را داشته باشند ، جنرالان امریکائي از شنیدن نامش بخود می لرزیدند ، با شنیدن خبر شهادت او تمامی مسلمانان دنیا غمگین و همه مفسدین و ستمگران دنیا و همراهان فرومایه شان شادمان شدند ، هر انسان شریف و هر مسلمان آزاده ای باید تمنای چنین مرگی را داشته باشد.

در سیمای پرصلابت، متین و پرسکون او هر کسی نشانه های همت بلند، وقار، عزم و صلابت را به روشنی احساس می کرد، نشانه های که مظهر ایمان قوی، قلب مطمئن و تعهد راستین نسبت به اهداف بزرگ و مقدس می باشد. تصویری را که پس از شهادت او امریکائیهای جبون و بې مروت در کنفرانس مطبوعاتی به نمایش گذاشتند، در این تصویر نیز نشانه های وقار، صلابت و سکون نمایان بود.

اگر امریکائیها و همراهان ذلیل شان گمان می کنند که با شهادت زرقاوی مقاومت تضعیف خواهد شد، مرتکب اشتنباه بزرگ شده اند، نهضتهایی که برای آزادی براه می افتدهرگز با ترور شخصیتها تضعیف نمی شود، اگر شما با ترور رهبر بزرگ حماس شیخ احمد یسین و سائر شخصیتهای نهضت اسلامي فلسطین نتوانستید مقاومت ملت دلیر و مقاوم فلسطین را تضعیف کنید، برعکس علی الرغم تمامی تلاشهای مذبوحانه تان برای جلوگیری از تأسیس حکومت حماس، دنیا امروز شاهد تأسیس این حکومت و حمایت گسترده مردم فلسطین از آن است، اگر شما با کشتارها و ترورها و حمایت از گروههای مزدور نتوانستید مجاهدین صومال را از تداوم مبارزه شان مانع شوید، برعکس امروز شاهد تصرف پایتخت بدست پرتوان مجاهدین صومال هستید، با شهادت زرقاوی نیز نمی توانید این مقاومت را تضعیف کنید. چنانچه از صومال رانده شدید، و بساط عمال تان نیز در آن کشور در حال برچیده شدن است، از افغانستان و عراق نیز اخراج خواهید شد، و مزدوران افغاني و عراقی تان با سرنوشت شبیه آنان مواجه خواهند شد.

بمباری بر خانه شهید زرقاوی بار دیگری نشان داد که امریکائیها تا چه پیمانه ای بزدل، ذلیل و پست اند، از هیچ جنایتی دریغ نمی ورزند، نه اخلاق دارند، و نه التزامی به ضوابط خاص انسانی، هر عراقی و هر مسلمانی را دشمن تلقی می کنند، بمباری های وحشیانه بر خانه های مسکونی، قراء، مساجد و زیارتگاهها را جائز می شمارند، از تیراندازی بر تظاهرات مسالمت آمیز و مظاهره کنندگان بدون سلاح خودداری نمی ورزند، و در زندان جهنمی گوانتانامو با زندانیان مظلوم و دست و پا در غل و زنجیر از برخورد ظالمانه و بې رحمانه ای باك

ندارند که نظیر آنرا در تاریخ بدترین و وحشیی ترین دیکتاتوری ها سراغ نداریم، اسیران مظلوم را به حدی شکنجه و تعذیب می کنند که به اعتصاب دوام دار غذائي و خودکشي وادار می شوند!!

عجیب است که کسی عملیات نیویارك و واشنگتن را ناجائز می شمارد و آنرا محکوم می کند ولی فروریختن چندین بم پنجصد کیلوگرامه بر یك قریه و بخاك و خون کشاندن اطفال و زنان و پیرمردان را برای کشتن یك دشمن جائز می شمارد!! مگر تعداد افغانها و عراقی های مظلومی که تا اکنون به دست جلادان امریکائي، این مدعیان کاذب آزادی و عدالت، در افغانستان و عراق کشته شده اند صد برابر کشته های حوادث نیویارك و واشنگتن نیست؟ می بینید که این انتقام را کافی نمی شمارند، و عطش شان فروکش نکرده است!! امریکائیها بگویند که در برابر جنایات، وحشیگریها و بمباردمانهای شما افغانها و عراقی ها حق و اجازه چه کاری را ندارند ؟!!

توصیه ام به مجاهدین قهرمان عراق این است که با تشدید مقاومت و تزئید هرچه بیشتر هجمات کوبنده تان بر دشمن، به همه ثابت کنید که ما برای خدا، بحکم ایمان و عقیده و ادای مسئولیتهای ایمانی خود و برای آزادی کشور خود می جنگیم، این جهاد تا روزی ادامه خواهد یافت که عراق آزاد شود و بیرق اسلام در بغداد آزاد و مستقل به اهتزاز درآید. مجاهدین هدفمند و بیدار عراق باید این توطئه دشمن را خنثی کنند که می خواهد شیعه را با سنی بجنگاند، باید گروههای شیعه را تشویق کنند تا از همراهی با اشغالگران ابا ورزند، از انفجارات در مساجد و زیارتگاهها مانع شوند، تمامی توجه شان به دشمن اصلي بوده و مشترکاً بمقابله دشمن بروند.

پیامم به مردم دلیر عراق این است که رهبران مؤمنی چون زرقاوی را برای پیروی و همراهی انتخاب کنند و از همراهی رهبرنماهائي خودداری ورزند که در برابر دشمنان اسلام سر بردگی و غلامی خم نموده و تسلط نیروهای صلیبي را بر کربلا و نجف پذیرفتند. راه زرقاوی راه جد امام حسین است، و راه مالکی راه یزید، اگر کسی گمان کند که مالکی و همراهانش بهتر از یزید و حامیانش است او

نه دین دارد و نه عقل!!

به امید آزادی فلسطین، افغانستان و عراق

زنده باد مجاهدین

مرگ بر دشمنان اسلام

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۵۱۳۱۲۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# عراقي مجاهدينو ته د دوی د افغاني ورونو پيغام

د افغان مجاهدينو له لوري د اتل مجاهد ورور ابو مصعب الزرقاوي د شهادت په مناسبت د ده کورنۍ، د ده مجاهدو همسنگرانو او ټول اسلامي امت ته خپل تسليت وړاندي کوم. د ده په شهادت سره اسلامي امت له يوه ستر شخصيت، زړه ور مجاهد او اتل قائد څخه محروم شو، دعا کوم چي الله تعالی دا لويه تشه د ده غوندې په زړه ورو مجاهدينو ډکه کړي. إن شاء الله د عراق باتور او اتل مجاهدين به هغې لاري ته دوام ورکوي چي د زرقاوي او د ده د همسنگرانو په وينو سره شوې، همدا د آزادۍ ترلاسه کولو او عزت ته د رسېدو لار ده، اميد دی له دې وروسته د عراق له هر کلي يو زرقاوي راپاځي، ټول باايمانه او مسلمان عراقيان د ده بيرغ اوچت وساتي او د ده د مقدسو او سپېڅلو آرمانونو د تحقق لپاره ملا وتړي.

زرقاوي مړ نه دی، ژوندی دی، لاره ئې تلپاتې او همسنگران ئې ژوندي دي، مړ هغه دی چي ذلت ته ئې سر ټيټ کړی او دښمن ته تسليم شوی، د چا د مرگ تمنا چي د بش او بلير په څېر د نړۍ سترو بدمعاشانو او بې رحمه طاغوتانو کوله، امريکائي جنرالان ئې له نامه وېرېدل، د مرگ په خبر ئې د نړۍ ټول مسلمانان ويرجن او ټول مفسدين او ظالمان او ملگري ئې پرې خوښ شول، د داسي مرگ خو بايد هر شريف انسان او هر مسلمان تمنا وکړي.

هر چا د ده په متينه څېره کي د ډاډ، سکون، همت، وقار او عزم هغې نښې له ورايه ليدې چي د قوي ايمان، مطمئن زړه او د سپېڅلو آرمانونو په نسبت د کلك

تعهد څرګندونه کوي، د ده له شهادته وروسته چي امریکایانو د ده کوم عکس په مطبوعاتي کنفرانس کي وښود، په دې عکس کي هم د دغه وقار او سکون نښې څرګندې ځلېدې.

که امریکایان او ملګري ئې ګمان کوي چي د زرقاوي په شهادت سره به مقاومت کمزوری کړي؛ ډېره اشتباه ئې کړې ده، د آزادۍ لپاره شروع شوي تحریکونه هیڅکله د شخصیتونو په ترور سره نه کمزوري کېږي، که تاسو د حماس د ستر مشر شهید شیخ احمد یسین او د حماس د نورو شخصیتونو په وژلو سره د زړه ورو فلسطینانو مقاومت کمزوری نه کړی شو، برعکس ګورئ چي نن په فلسطین کي د حماس حکومت جوړ شوی، که تاسو د سومال مجاهدین په ترورونو او وژلو کمزوري نه کړی شول او دا دی نن د سومال پلازمېنه د دوی په واك کي ده، نو د زرقاوي په شهادت سره هم دا مقاومت نه شئ کمزوری کولی. لکه څنګه چي له سوماله ووتئ او دا دی نن هلته ستاسو د برېڅو ټغر هم په ټولیدو دی، له افغانستان او عراقه به هم ایستل کېږئ او ستاسو عراقي او افغاني مزدوران به هم له ورته پایلو سره مخامخ کېږي.

د شهید زرقاوي په کور بمبارۍ یو ځل بیا وښوده چي امریکایان ډېر ذلیل، جبون او بد ذاتي دي، له هیڅ رذالت نه ډډه نه کوي، نه اخلاق لري او نه د خاصو انساني ضوابطو په نسبت التزام، هر عراقي او هر مسلمان ته د دښمن په سترګه ګوري، په کورونو، کلیو، جوماتونو او زیارتونو باندي وحشیانه بمبارۍ جائز ګڼي، په تش لاسو مظاهره کوونکو له ډزو دریغ نه کوي او د ګوانتانامو په زندان کي له مظلومو، لاس پښو تړلو اسیرانو سره له هغه وحشیانه چلند نه هم باك نه لري چي په تاریخ کي ئې بېلګه نه شو لیدی، مظلوم اسیران هومره ځوروي چي ځان وژنو ته ئې اړ باسي.

عجیبه ده چي څوك د نیویارك په تجارتي مرکز باندي برید ناجائز ګڼي خو په یوه کور څو پنځه سوه کیلوګرامه بمونه ورول او ښځې، ماشومان تر خاورو لاندي کول روا ګڼي!! آیا په افغانستان او عراق کي دوی د نیویارك د پېښې سل برابره بې ګناه خلك په خپلو وینو کي ونه رغړول؟!! امریکایان دې موږ ته ووایي چي ستاسو

د دغو وحشيانه بمباريو په مقابل کي عراقيان او افغانان د څه کولو حق نه لري؟!!

زما توصيه اتلو عراقيانو ته دا ده چي د خپل مقاومت په تشديد او د خپلو بريدونو په زياتولو سره دښمنانو ته ثابته کړئ چي موږ د الله لپاره، د خپل ايمان په حکم، د خپلي ديني فريضې د ادا کولو او د خپل هېواد د آزادولو لپاره جنګېږو، دا جهاد به ترهغه دوام کوي چي عراق آزاد شي او په بغداد کي د اسلام بيرغ ورپېږي. عراقي مجاهدين بايد د دښمنانو دا توطئه شنډه کړي چي غواړي شيعه له سنيانو سره وجنګوي، بايد شيعه ډلي دې ته وهڅوي چي د اشغالګرانو له ملګرتيا لاس واخلي، په جوماتونو او زيارتونو کي د چاودنو مخه ونيسي، ټوله توجه ئې اصلي دښمن ته وي او په ګډه د دښمن مقابله وکړي.

د عراق زړه ور ولس ته مي پيغام دا دی چي د زرقاوي په څېر مشران ځان ته غوره کړئ، په هغو تش په نامه مشرانو پسې مه ځئ چي د انګرېزانو په وړاندي ئې د ذلت او غلامۍ سر ټيټ کړی او په کربلا او نجف ئې د صليبي ځواکونو واکمني منلې. د زرقاوي لار د امام حسين د جد لار ده او د مالکي لار د يزيد لار، که څوك ګمان کوي چي مالکي او د ده ملاتړي تر يزيد او د يزيد تر ملا تړو ښه دي، دا خلك نه دين لري او نه عقل!!

د فلسطين، افغانستان او عراق د آزادۍ په هيله
ژوندي دي وي مجاهدين
مړه دي وي د اسلام دښمنان

حکمتيار
افغانستان
۱۳۸۵۱۳۱۲۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیام به شهریان مؤمن کابل

أُذِنَ لِلّذِينَ يُقَتَلُونَ بِأَنّهُمْ ظلِمُوا وَ إِنّ اللّهَ عَلى نَصرِهِمْ لَقَدِيرٌ*

الحج:۳۹

سلام به دلیر مردان مجاهد کابل!

سلام به حماسه آفرینان مؤمن کابل!

سلام به آنانکه با دست خالی بر تانکهای اشغالگران امریکائي هجوم بردند و خاطره های جاویدانه قیام علیه اشغالگران روسي را زنده کردند. دستهای مبارکی که به سوی تانکهای دشمن سنگ پرتاب نموده و آنرا به آتش کشیدند، شایسته بوسیدن است، فرد فرد ملت مجاهد افغان و تاریخ آینده کشور ما این حماسه بزرگ و به یادماندنی را ارج گذاشته، همواره به یاد خواهد داشت و هرگز فراموش نخواهد کرد. مطمئنیم که إن شاء الله مردم آزاده کابل در قیام برای آزادی کشور شان از سلطه نیروهای اشغالگر صلیبي، همان نقش برازنده ای را خواهند داشت که در مبارزه علیه متجاوزین شوروی داشتند.

حوادث خونین کابل اگر از جانبی نشان داد که اشغالگران صلیبی تا چه پیمانه ای بیرحم، وحشی و قسی القلب اند، و تا چه پیمانه ای کشتن افغانهای مظلوم نزد شان سهل و خون شان بي ارزش است، از سوی دیگری نفرت و انزجار عمیق افغانها را علیه نیروهای اشغالگر اجنبی به نمایش گذاشت و به جهانیان ثابت کرد که افغانهای آزاد منش از حضور بیگانگان به ستوه آمده اند، خواهان

خروج فوری تمامی نیروهای اجنبی از کشور خود اند ، بیش از این سلطه آنانرا بر مقدرات خود تحمل نمی کنند ، با دست خالی به مقابله شان می روند ، آماده قیام حماسه آفرین دیگری اند و می خواهند با دیموکراتهای اشغالگر همانگونه برخورد کنند که با کمونستهای اشغالگر کردند.

برادران و خواهران عزیز!

دیدید که امریکائیهای بدمست و وحشي برای ادامه سلطه شان بر کشور ما از هیچ جنایتی دریغ نمی ورزند ، خون مردم بي دفاع و ستمکشیده ما نزد شان هیچ ارزشي ندارد ، بر تظاهرات بدون سلاح شهریان مظلوم کابل آتش کشودند ، در چند دقیقه ای بیش از صد و نود تن را بخاك و خون کشادند ، در ارزگان بر مراسم عروسي بم ریختند ، در خوست در اثنائیکه مردم به نماز تروایح مشغول بودند بمباري کردند ، در پکتیکا بر اجتماع مردم در کنار زیارت، در پکتیا بر کاروانی که عازم کابل بود ، در کنر، ننگرهار، کندهار، هلمند ، غزني، گردیز، سید کرم، و ده ها محل دیگری بر قراء و دهات بمهای پنجصد کیلوگرامه ریختند ، هر روز عده ای از افغانهای بي گناه را بخاك و خون می کشند و متصل آن با بي شرمی تمام اعلان می کنند که مخالفین دولت را کشته اند ، و به عمال فرومایه خود دستور می دهند که بگویند: این مخالفین از مرزهای پاکستان وارد کشور شده اند و از پاکستان سلاح و مهمات دریافت می کنند!! همانگونه که در مورد تظاهرات شما گفتند: آشوبگران از بیرون تحریك شده اند ، دستهای اجنبی درکار است، مخالفین دولت از این فرصت استفاده کردند!!

زمامداران چاکرمنش و پارلمان ساخت انگلیس هیچ اعتراضی بر این نداشتند که تیراندازی سربازان بدمست امریکائي بیش از صد نود کشته و زخمی برجای گذاشت، هیچ یکی نه گفت که چرا امریکائیها این جنایت را مرتکب شدند و بر مظاهره کنندگان غیر مسلح آتش کشودند!! اینها چه در رابطه با حوادث خونین کابل و چه سایر حوادث، همواره به نفع دشمن موضعگیری نموده و پس از هر کشتاری که بدست اشغالگران صورت گرفته، افغانها را ملامت و باعث حوادث شمرده اند و به جنایتکاران امریکائي برائت داده اند! هر کس می داند که تمامی

اداره های ساخت امریکا در خدمت منافع اجنبی بوده، امریکا برای توجیه حضور خود در افغانستان این ادارات را ساخته است، پولیس و اردو را برای جنگ علیه افغانها آموزش می دهد و مسلح می کند، پارلمان را برای آن ساخته اند تا به اشغال نظامي خود پوشش دیموکراتیك بدهند و عدم مخالفت پارلمان با ادامه اشغال افغانستان را به معنای رضایت مردم از وضعیت کنونی تبلیغ کنند، عده ای از جامه سفیدان سیاه دل را برای آن استخدام کرده اند تا چون فاخته های سفید کنار حلقه دام غرض شکار بازهای بلند پرواز بکار بگیرند، مگر نه دیدید که تمامی اینها بجای اعتراض بر جنایات امریکائیها شما را سرزنش می کردند، شما را به زندان کشاندند و شما را آشوبگر خواندند!!

این حقیقت از هیچ افغان آگاه و باشعور پنهان نیست که قیام شما عکس العملی در برابر جنایات سربازان امریکائی بود، مقاومت شکوهمند مجاهدین اسلام، به حکم ایمان و عقیده شان و بخاطر آزادی کشور از سلطه اجنبی آغاز شده است، کسانیکه مقاومت علیه اشغالگران صلیبي را به تحرکات بیرونی ربط می دهند خود غلام و برده بیگانگان اند، دیروز تحت فرمان باداران روسي شان علیه ملت خود جنگیدند و امروز زیر بیرق انگلیسها و به فرمان و دستور آنان می جنگند، بیگانه پرستانی که امنیت شان توسط نیروهای اجنبی تأمین می شود و در کنار دروازه خانه شان کوماندوهای امریکائي پهره و گزمه می کنند، اینها آزادیخواهان را به وابستگی متهم می نمایند!! اینها ناافغانان بي مروت اند که لذت آزادی را نچشیده اند، هر کسی را بر خود قیاس می کنند، مجاهدین سربلند و قامت برافراشته را نمی شناسند و از احساسات آنان آگاهی ندارند، نمی دانند که افغانهای مؤمن مرگ شرافتمندانه را بر زندگی ننگین در اسارت بیگانه، صدها بار ترجیح می دهند.

عجیب است اگر کسی اتهام وابستگی به پاکستان را به مجاهدین سر بلند نسبت دهد، در حالیکه پاکستان اکنون به پایگاه نظامي امریکا مبدل گشته است، اگر مساعدتهای پاکستان نبود نه امریکا قادر به اشغال افغانستان می شد و نه تا اکنون در کشور ما باقی می ماند، مگر اینها اطلاع ندارند که از آغاز حمله امریکا

بر افغانستان تا سقوط حکومت طالبان، هفتاد و هشت هزار پرواز نظامي نیروهای امریکائي از طریق پاکستان صورت گرفت، هر طیاره بم افگن امریکائي از میدانهای هوایي پاکستان پرواز نموده، بمهایش را بر افغانها فروریخته و به پاکستان برگشته است، اکمال نیروهای امریکائي مستقر در افغانستان تا امروز از طریق پاکستان صورت می گیرد، کرزی از پاکستان توسط هلیکوپتر های امریکائي نخست به ارزگان و بعد به کندهار انتقال یافت، زندان جهنمی گوانتانامو از مجاهدینی پر شده که توسط پاکستان دستگیر و دست و پا بسته به امریکائیها تسلیم گردیده اند. طالبان چگونه بر کشوری اعتماد خواهند کرد که به ایماء امریکائیها و برای ارضای آنان طالبان مربوط ملت خود را بقتل می رساند، در وزیرستان شمالي و جنوبی به عنوان مبارزه علیه طالبان جنگ تمام عیاری را علیه پشتونها آغاز نموده، هشتاد هزار سرباز تا دندان مسلح را به مناطق قبایلی فرستاده، بر سر مردم خود بم می ریزد، و هروز ده ها انسان مظلوم به دست آنان کشته می شود، ولی امریکا به این همه خدمتگذاری های غلام منشانه قناعت ندارد، نمی دانیم اسلام آباد بیش از این چه خدمتی می تواند انجام دهد تا قناعت واشنگتن را فراهم کند!!

امریکائیها به خوبی می دانند که از هر هزار پاکستاني نهصد و نود و نه مخالف امریکا و خواهان خاتمه حضور نیروهای امریکائي در پاکستان و افغانستان بوده، به این باور اند که امریکا در مورد کشور شان همان عزایم شومی را دارد که در مورد عراق و ایران دارد، ولی می خواهد این کشور را در پوشش دوستی کاذب و فریبنده و بدست زمامدرانش تجزیه و پارچه پارچه کند، همه شاهدیم که امروز هند و امریکا علیه پاکستان همدست شده، امریکائیها تمامی آنچه را دهلی می خواست، چه در مورد کشمیر و چه در مورد افغانستان انجام می دهد، و حکام پاکستان را به انجام آن وادار می سازد. هیچ انسان آگاهی نمی تواند این قضیه را عادی و تصادفی تلقی کند که امریکا به دهلی اجازه می دهد تا با استفاده از خاك افغانستان همانکاری را انجام دهد که پاکستان را متهم به انجام آن در کشمیر می کند، از چه کسی می تواند پنهان باشد که امروز هند از طریق

افغانستان به برخی از مخالفین پاکستان سلاح می فرستد و انفجارات در این کشور را سازمان دهی می کند. تمامی اینها از دوستی ستراتیژیك امریکا با هند، موضع مشترك علیه پاکستان و جنگ مشترك علیه اسلام و مسلمانان نمایندگی می کند.

برخی از پاکستانی ها گمان می کنند که شاید تبلیغات مسلسل برضد این کشور در رسانه های خبری افغانستان، از سوی ائتلاف شمال و کمونستها صورت می گیرد، در حالیکه تمامی این فعالیتها، هر چند از سوی ائتلاف شمال باشد و یا از سوی کمونستها و دیگران، همه به اشاره و ایمای امریکائیها و تحت حمایت آنها انجام می یابد. پلان مشترك امریکا و انگلیس این است که افغانستان را به میدان رقابتهای همسایگان کینه توز ما تبدیل کند، برای آنان زمینه سازی می کند تا جنگهای شانرا به اینجا انتقال دهند، افغانستان را به میدانی برای تلاشهای رقبای پاکستان تبدیل کنند، تمامی این اقدامات برای آن است تا در پاکستان نیز اوضاع شبیه افغانستان ایجاد شود.

اگر امریکا نمی تواند عراق نیرو مند و متحد و ایران اتمی را تحمل کند، به بهانه سلاح کشتار جمعی بر عراق تجاوز کرد، و اکنون ایران را با توسل به همین بهانه تهدید می کند، چگونه ممکن است پاکستان را به عنوان یك کشور اسلامي دارای وسایل اتمی تحمل کند؟! مگر کمال سفاهت نخواهد بود اگر کسی چنین باوری داشته باشد؟!!

خواهران و برادران!

ما از محصلین خدا پرست ننگرهار و تمامی جوانان مؤمنی که نفرت و انزجار عمیق ملت شانرا علیه اشغالگران ابراز داشته، به تظاهرات پرداخته، پرچمهای غلامی را به آتش کشیدند و خواهان آزادی کشور و خروج فوری نیروهای بیگانه شده اند، ستایش می کنیم، و بر خاینان ملي که به دستور اربابان خارجی شان بر تظاهرات بدون سلاح آتش کشوده اند نفرین می فرستیم. توصیه من به جوانان دلیر و با ایمان این است که جلو بیایند، به عنوان وارثان راستین انقلاب اسلامي، برای جهاد دیگر و انقلاب دیگر کمر همت ببندند، سهم آنان در بر پایی این انقلاب باید

سهم برانگیزنده و رهبری کننده باشد ، آنها بدون شك این توانمندی را دارند ، آنها قادر به انجام کارهایی اند که هیچ قشر دیگر جامعه ما توان آنرا ندارد. انقلاب اسلامی ما در نیمه راه و ناتمام مانده است که باید بدست پرتوان و مبارك جوانان مسلمان و هدفمند به سرمنزل برسد ، و آرمان یك و نیم ملیون شهید تحقق یابد.

جواب من به حاکم امریکائی افغانستان جنرال ایکنبیری که گفته است نیروهای ما برای مدت طولانی در افغنستان خواهد ماند؛ این است: اگر شما حوصله ماندن درازمدت، و فرستادن تابوت های بیشتر کشته های تانرا دارید ، مطمئن باش که همت و حوصله افغانهای باایمان و آزادی خواه را هرگز ضعیف و ناتوان نخواهی یافت، همواره شاهد آن خواهید بود که همت ما چون کوهها بلند است، بازوهای ما نیرومند ، و روحیه مقاومت ما شکست ناپذیر، از هر افغاني باشهامت و دلیر خواهید شنید که باصدای پرصلابتش می گوید: خوب است تا آنگاه در اینجا باشید که انتقام این همه خونهای ناحق را که بدست جلادان امریکائي ریخته شده است از شما بگیریم، مطمئن باش که جهاد ما تا آن زمان ادامه خواهد یافت و روز بروز تشدید خواهد شد که تمامی نیروهای اجنبی از وجب وجب کشور ما رانده شوند ، اگر امروز بطور اوسط روزانه ده - دوازده عملیات انجام می شود و شما بر یکی دو اعتراف می کنید إن شاء الله چند ماه بعدتر این عملیات دو برابر و کوبنده تر از سابق خواهد شد. تو خوب می دانی که ما هم عزم راسخ دوام این مقاومت را داریم و هم توانمندی آنرا ، و برای دوام آن به کمك هیچ کسی ضرورتی نداریم، و تو خوب می دانی که نه ایران ما را کمك می کند و نه پاکستان، برعکس هم لیبرالهای ایران شما را در اشغال افغانستان همراهی کردند و هم جنرالهای پاکستان، تو می دانی که مصارف یك انفجار کنار جاده در استقبال از کاروانهای شما کمتر از صد دالر است، نه در تهیه مواد و وسایل آن به کمك خارجی نیازمندیم و نه در مصارف آن، إن شاء الله چنین جنگی را به تنهائی و تا مدتها می توان ادامه داد ، اگر ما سالانه علی الاقل هزار عملیات این چنینی داشته باشیم، مصارف مجموعی آن به صد هزار دالر نمی رسد ، و اگر در هر نوبت تیر ما به هدف اصابت کند که الحمد لله اصابت می کند ، در آنصورت

شما باید سالانه هزار تابوت به امریکا انتقال دهید ، و مصارف تان نیز باید حد اقل بیست ملیارد دالر باشد ، اگر شما می توانید چنین جنگی را تحمل کنید ، اگر افغانها بی همتی کنند کمر شان بشکنند.

اگر انگلیسها یك قرن قبل با تمام زور آزمائی های شان نتوانستند بر افغانستان نیاکان ما حکومت کنند ، ما مگر فرزندان ناخلف نیاکان غازی مان هستیم که بگذاریم پرچم های خونین شما بر فراز کشور ما در اهتزاز باشد و شما لحظه ای در این یا آن گوشه افغانستان نفسی آرام بکشید.

جواب قاطع و صریح مجاهدین به صلح طلبان کاذب این است که نه مجال تفاهم و سازش با اشغالگران وجود دارد و نه در حضور نیروهای اجنبی امکان تأمین صلح و امنیت میسر است.

پیامم به مردم خداپرست شمال این است که از کاروان مجاهدین عقب نمانند ، مسئولیتهای ایمانی شانرا ادا کنند ، از همراهی با کسانی خودداری ورزند که در خدمت اجنبی اند ، اختلاف شمال و جنوب، و کینه و عداوت میان پشتون و غیر پشتون را عنوان می کنند ، اینها خود ستیز بیگانه پرست اند. باید متوجه باشند که وضع کشور نهایت حساس و شبیه وضعیت روزهائیست که قوای اشغالگر روسي برای خروج از افغانستان آمادگی می گرفتند ، باید ترتیبی بگیریم که از تکرار تجارب تلخ گذشته مانع شویم، به شما و فرد فرد ملت اطمئنان می دهم که إن شاء الله این تجارب تلخ بار دیگر تکرار نخواهد شد ، چون با زوال شوروی برخی از این عوامل از میان رفت و با شکست امریکا بقیه آن از میان خواهد رفت.

به تمامی مجاهدین مخلص و صادق توصیه می کنم که وحدت شانرا حفظ کنند ، به مقاومت ادامه دهند ، در تمامی عملیات شان به دشمن اصلي توجه داشته، از جنگهای جبهه ای خودداری ورزند و به عملیات چریکی اکتفا کنند ، مطمئن باشند که با این عملیات می توانند کمر دشمن را بشکنند و تلفاتی به آن وارد کنند که از هیچ طریق دیگری نمی توان با آن نایل شد ، هیچ شکی در این نداشته باشند که با این گونه عملیات می توانند دشمن را از پا در آورند و به اخراج از کشور وادار سازند.

زنده باد مجاهدین مؤمن
پیروز باد اسلام
مرگ بر دشمنان اسلام

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۵\۳\۲۲

بسم الله الرحمن الرحیم

# مصاحبه با هفته نامه چراغ!

پاسخها به سوالات خبرنگار:

۱. شاید هر انسان آگاه و دلسوز به ملت خود این حقیقت را احساس کند که وضعیت کشور نهایت دردناك و غم انگیز است، هر روز خون ده ها افغان بي گناه و مظلوم می ریزد، دهات و شهرها بطور وحشیانه ای بمبارد گردیده اطفال ، زنان و پیرمردان به قتل می رسند ، نیروهای اشغالگر نه تنها قادر به تحکیم سلطه شان بر همه کشور نگردیده و از تأمین امنیت دلخواه شان عاجز شده اند بلکه خود باعث ادامه جنگ و بي امنیتی گردیده و تمامی این مشکلات را برای ملت ما ایجاد کرده اند ، کسانی را بر ملت ما تحمیل کرده اند که نه ترسی از خدا دارند، نه تعهدی به کشور و نه دلسوزی ای به مردم، به چیز دیگری جز ارضای اربابان خارجی شان نمی اندیشند. اداره فاسد است و حکام اجنبی پرست و دشمن مردم خود. از احدی این حقیقت پنهان نیست که بخش بزرگ مشکلات کشور و مردم ما را مداخلات بیرونی و اشغال کشور توسط نیروهای بیگانه باعث شده است، تا زمانیکه اشغال کشور پایان نیافته، نیروهای اشغالگر بیرون نرفته و مداخلات بیرونی متوقف نشده است، جنگ ادامه خواهد داشت، بطور روزافزون تشدید گردیده و دامنه بي امنیتی ها گسترده تر خواهد شد. نه افزایش نیروهای بیگانه به خاتمه جنگ خواهد انجامید و نه کشتار بیرحمانه افراد غیر محارب، غرض ایجاد ترس و رعب، تجربه ناکام شوروی فقید این را نشان داد و تجربه خونین امریکا در عراق آنرا ثابت کرد ، اگر نیروی صد و هشتاد هزار نفری امریکا و ائتلافیونش از سرکوبی مقاومت در عراق عاجز گردیده، به ناکامی خود اعتراف می کنند و برای انسحاب از آن کشور آمادگی می گیرند ، افزایش نیرو در افغانستان نیز نه تنها

کمکی به آنان نخواهد کرد بلکي بر تلفات شان خواهد افزود. من وضعیت کنونی کشور را شبیه روزهائی می یابم که نیروهای شوروی برای خروج از افغانستان آمادگی می گرفتند ، امریکا نیز هیچ چاره دیگری جز خروج از افغانستان ندارد ، پیآمدهای خروج نیروهای امریکا از افغانستان را نیز شبیه به پیآمدهای خروج نیروهای شوروی از کشور می یابم. با این تفاوت که عمر حکومت دست نشانده امریکا در کابل کوتاه تر از عمر حکومت نجیب خواهد بود. گمان نمی کنم که امریکائیها حوصله انتقال تابوت های بیشتر از این را از افغانستان و عراق داشته باشند ، چه کسی می تواند باور کند که امریکا قادر است برای چند سال دیگر نیز هر سال بیش از هشتاد ملیارد دالر مصارف جنگ در افغانستان و عراق را تحمل کند ، در حالیکه خساره تجارتی امریکا پس از حادثه ۱۱ سپتمبر سالانه به هفت صد و بیست ملیارد دالر رسیده است؟!! اتحاد شوروی در ده سال جنگ افغانستان جمعاً هفتاد ملیارد دالر مصرف داشت، همین مصرف کمرش را شکست و به خروج از افغانستان وادارساخت.

۲. به شما و هر افغان آگاه از وضعیت کشور هویداست که دولت کابل فقط يك نام است، نه نزد مردم خود حیثیت و اعتباری دارد و نه نزد حامیان بیرونی اش وزن و ارزشي، حاکمان اصلي کابل سفیر امریکا در کابل و قومندان قوای امریکائي در افغانستان بوده، اینها حتی به عرایض جناب رئیس جمهور!! که از طریق کنفرانسهای مطبوعاتی تقدیم می کند!! نیز وقعی نمی گذارند و آنرا قابل اعتناء نمی خوانند. نه حضور نیروهای اجنبی و نه کمك های به اصطلاح سرشار مالي خارجی می تواند به يك حکومت تحمیلی وقعت و وجاهتی بدهد و به اعتبارش نزد مردم بیفزاید. من با این ادعا موافق نیستم که اشغالگران کمکهای سرشار مالي کرده اند!! آنچه را اینها کمك مالي تبلیغ می کنند در واقع مصارف جنگی شان است، مگر درست است که مصارف در راستای تربیه و تجهیز قوای اردو و پولیس را کمك به افغانها تلقی کرد؟ مگر روسها همین کار را نمی کردند؟ مگر مصارف بر این قطعات برای آن نیست تا تلفات نیروهای خود در جنگ با افغانها را تقلیل دهند؟ آیا افغانهای مظلومی که امروز در هلمند، ارزگان، کندهار، کنر، پکتیا،

پکتیکا ، ننگرهار، لغمان، غزنی، زابل و سایر ولایات به دست این جنگجویان مزدور و اجیر و به قومنده افسران امریکائي و انگلیسی شان کشته می شوند ، این حقیقت را بازگو نمی کند ؟! در مقایسه با بیست ملیارد دالري که امریکا هر سال در جنگ مصرف می کند ، برای بازسازی افغانستان چه مقداری کمك کرده؟ آیا مصارف دو هزار مؤسسه غیردولتی (ان جی یو) را که از مامورین آن برای امور اطلاعاتی، دعوت به مسیحیت و اشاعه فساد اخلاقی استفاده می کنند ، می توان کمك به افغانها شمرد ؟

۳. انتخابات زیر چتر جنگنده های ایف شانزده امریکا، در حضور سي هزار نیروی تا دندان مسلح بیگانه، و در شرایطی که موعد برگزاری آنرا اشغالگران تعین کرده، امنیت حوزه های انتخاباتی توسط سربازان آنان تأمین شده، کارت رأی دهی را آنان چاپ نموده، صندوقها را آنان ساخته اند ، گذاشته اند ، برداشته اند ، بسته اند ، باز کرده اند و شمرده اند ، یا قرنطین کرده اند و یا قابل اعتبار خوانده اند ، و در پایان کامیاب و ناکام را نیز آنها اعلان کرده اند ... گمان نمی کنم هیچ انسان باضمیر و بااحساسی آنرا بیش از یك درامه مضحك و مسخره تلقی کند و اهمیتی به آن بدهد ، چه جای آنکه آنرا انتخابات آزاد و عادلانه تلقی نماید و ارزشي به آن قائل شود. این درامه مضحك برای آن بود تا به حکومت ساخت بن، که وزارتخانه هایش به گروهای وابسته به کشورهای ۲+۶ تقسیم گردید ، مشروعیت بدهند ، و این ادعای جورج بش را برکرسی بنشاند که تجاوز بر افغانستان و عراق غرض تأمین دیموکراسي بوده و سربازان امریکائي با پیام دیموکراسی، آزادی و عدالت به این کشورها فرستاده شده نه برای اشغال این سرزمینها و نه برای جنگ با اسلام و مسلمانان!! مردم هوشیار و آگاه ما از ماهیت این بازی های سیاسی به خوبی آگاه اند ، نه فریب این درامه های مضحك را می خورند و نه به نتایج آن ارزشي می دهند ، عملاً مشاهده می کنند که این انتخابات نتوانست در وضع تغیری ایجاد کند ، از پارلمان ساخت امریکا این انتظار را هرگز ندارند که از ملت نمایندگی کند ، بر آزادی افغانستان تأکید ورزد ، خروج فوری و بلاقید و شرط نیروهای اجنبی را مطالبه نماید و کشتار بی رحمانه افغانهای مظلوم به دست

جلادان امریکائي را محکوم کند!! آیا درست است از چنین پارلمانی انتظار آنرا داشت که در جهت اعاده صلح، خاتمه جنگ، تأمین وحدت ملي، و ایجاد فضای اعتماد و برادری نقشي بازی کند؟!! پارلمانی که فیصله اش در مورد عدم رأی اعتماد به چند وزیر، جلوگیری از برنامه های نشراتی ضد دینی و ضد اخلاقی رسانه های وابسته به نیروهای بیگانه، و رادیو و تلویزیون دولتی جائی را نگرفت، آیا درست است این انتظار را از آن داشت که در قضایای مهم ملي نقشي بازی کند؟!!

۴. اجازه بدهید در الفاظ سوال تان اندکی تصرف کنم و آنرا به این شکل در آورم: چرا قوای ائتلاف همواره دست به خشونت علیه افراد ملکی می زند؟ چون قوای ائتلاف گاه گاه نه بلکي همواره علیه افراد ملکی به خشونت متوسل شده، از آغاز تجاوز بر افغانستان تا اکنون موردی را سراغ نداریم که قوای ائتلاف در اثنای حملات تهاجمی شان از توسل به خشونت علیه مردم ملکی، بمباری قراء و دهات، و کشتار بی رحمانه اطفال، زنان و پیرمردان خودداری ورزیده و بر جنگ علیه آزادیخواهان و مجاهدین اکتفاء کرده باشند، توسل به این خشونت کار عمدی و پلان شده است، هدف از آن ایجاد رعب و خوف میان مردم است، جلادان امریکائي به خوبی می دانند که تکتیك مجاهدین در جنگ با آنان چنان نیست که جبهه جنگ باز کنند، به درگیری بالمواجه متوسل شوند، و مراکز ثابت تأسیس نموده، در اثنای هجوم دشمن از آن دفاع کنند، درصورتیکه با جنگهای چریکی، کمین گیری ها، و ماین گذاریهای کنار جاده می توانند تلفات چشمگیری به دشمن وارد کنند، چرا باید در آنجا و آنزمان با دشمن روبرو شوند که ابتکار جنگ در دست دشمن است و زمان جنگ و محل آنرا دشمن انتخاب کرده است، چرا باید ابتکار جنگ را همواره در دست خود نداشته و آنگاه دشمن را تحت ضربات خود نگیرند که غافل است و آمادگی برای دفاع از خود را ندارد؟!! مجاهدینی که تجربه جنگ با نیروهای شوروی را دارند این اشتباه را هرگز مرتکب نمی شوند که ابتکار جنگ بدست دشمن بیفتد.

۵. آنچه را اشغالگران عملیات انتحاری می خوانند در واقع عملیات شهادت

طلبانه است، اگر این عملیات برای اهداف مقدس، چون دفاع از اسلام و آزادی کشور از سلطه اجنبی‌باشد نه تنها جائز است بلکي ارزش آن بیش از آن است که مجاهدی با سلاح عادی خود ، به مقابله دشمنی می رود که تعدادش ده برابر او و اسلحه اش به مراتب پیشرفته تر از اوست، چون او با این همه انتظار زنده ماندن را ، هرچند ضعیف باشد ، دارد ، ولی در عملیات شهادت طلبانه جز رضای الهی هیچ انتظار و توقع دیگری نمی توان داشت، کسانیکه به این گونه عملیات متوسل می شوند ، یا آنانی اند که راه بهتر از آن را برای رسیدن به اهداف مقدس خود سراغ ندارند ، و یا به چنین کاری وادار شده اند. کسانیکه عملیات شهادت طلبانه را خود کشي تلقی نموده و آنرا تحریم می کنند ، مفتی های اجیر و سیاه دل اند که دین شانرا بر دنیا فروخته اند. عجیب است که کسی عملیات نیویارك و واشنگتن را ناجائز می شمارد و آنرا محکوم می کند ولی فروریختن چندین بم پنجصد کیلوگرامه بر قریه، مسجد و محل تجمع مردم و بخاك و خون کشاندن اطفال، زنان و پیرمردان را برای کشتن یك دشمن جائز می شمارد!! مگر تعداد افغانها و عراقی های مظلومی که تا اکنون به دست جلادان امریکائي، این مدعیان کاذب آزادی و عدالت، در افغانستان و عراق کشته شده اند صد برابر کشته های حوادث نیویارك و واشنگتن نیست؟ می بینید که این انتقام را کافی نمی شمارند ، و عطش شان فروکش نکرده است!! اگر از نظر اسلام و هر معیار انسانی عمل بالمثل جائز است پس امریکائیها و مفتی های اجیر شان بگویند که در برابر جنایات، وحشیگریها و بمباردمانهای شما ، افغانها و عراقی ها حق و اجازه چه کاری را ندارند ؟!! در رابطه به بخش دوم سوال تان باید عرض کنم که ما تا هنوز این سلسه را آغاز نکرده ایم، به داو طلبان گفته ایم که اراده تان قابل قدر و پاداش تان نزد خداوند متعال محفوظ است، ولی این کار را در آنجا و آنزمان انجام دهید که چاره دیگری نداشته و از طریق آن به هدف بزرگی نایل شوید ، از نظر ما ارزش این داو طلبان برتر و بزرگتر از آن است که برای نیل به اهداف کوچك قربانی شوند. ارزش هر یکی از این جان نثاران عزیز بیش از یك لشکر است.

۲. ایجاد تنش و تشنج در روابط افغانستان و پاکستان و میان سایر کشورهای

اسلامي جزء ستراتیژی درازمدت امریکاست، آنها از وحدت مسلمانان بیم دارند ، منافع شانرا در اختلاف و جنگ میان مسلمانان جستجو می کنند ، حاکم، زمامدار و رهبری را دوست دارند و می ستایند که چون وسیله ای برای رسیدن به این مأمول مورد استفاده قرار گیرد ، اینها بودند که جنگ ایران و عراق را باعث شدند ، همسایه های افغانستان و عراق را استخدام کردند تا در هجوم بر این دو کشور اسلامي آنانرا یاری کنند ، اگر همکاری این همسایه گان کینه توز نبود امریکا نه به اشغال کابل به این زودی و آسانی موفق می شد و نه به اشغال بغداد . پلان امریکا و انگلیس این است که افغانستان را به میدان رقابتهای همسایگان ما تبدیل کنند ، برای آنان زمینه سازی می کنند تا جنگهای شانرا به اینجا انتقال دهند ، افغانستان را به میدانی برای تلاشهای رقبای پاکستان تبدیل کنند ، تمامی این اقدامات برای آن است تا در پاکستان نیز اوضاع شبیه افغانستان ایجاد شود. اگر امریکا نمی تواند عراق نیرو مند و متحد و ایران اتمی را تحمل کند ، به بهانه سلاح کشتار جمعی بر عراق تجاوز کرد ، و اکنون ایران را با توسل به همین بهانه تهدید می کند ، چگونه ممکن است پاکستان را به عنوان يك كشور اسلامي دارای وسایل اتمی تحمل کند ؟! امریکا بر این اکتفا نمی کند که پاکستان در اشغال افغانستان کمك کرد ، اهداف شوم دیگری در رابطه به تمامی منطقه دارد .

۷. کابینه علاقه داری کابل توسط کشورهائی ساخته شده که در بن جمع شدند و گروههای وابسته به خود را در آنجا گردآوردند و امضاهای شانرا در پای موافقت نامه خود گرفتند ، سهم هر یکی به اندازه سهم شان در جنگ تعین شد ، هر تغیری در این کابینه به موافقه و هدایت این کشورها صورت می گیرد ، تغیر در کابینه نه از صلاحیتهای رئیس جمهور است و نه از صلاحیتهای پارلمان، رئیس جمهور و پارلمان برای آن است تا در پای هر امریه آنان امضا کنند. اگر در زمان اشغال افغانستان توسط قوای شوروی جز کمونستها کسی دیگر نمی توانست به کابینه راه بیابد ، خیلی سفاهت خواهد بود اگر انتظار آنرا داشته باشیم که جز سیکولر های مورد نظر اشغالگران کسی دیگر به کابینه راه بیابد .

۸. تا زمانیکه نیروهای امریکائي بر مقدرات کشور ما حاکم اند ، هر اداره ای

باید مهر امریکائي بر پیشانی خود بخورد ، و در رأس آن کسی قرار گیرد که از نظر امریکائیها و در معیارهای آنان شایسته این مقام است. اگر امریکائیها دیدند که افغان امریکائي دارای عبا و قبا و دستار و پکول برای شان مفید تر است، و به حکومت دست نشانده شان وجهه اسلامي و افغانی می دهد ، این کار را بلادرنگ می کنند ، ولی اگر دیدند که نسبت به اینها کمونست ها خوبتر، بهتر و صادقانه تر خدمت می کنند ، در جنگ با افغانها نیز مهارت و استعداد و آمادگی بیشتر دارند ، اینها را جلو می آورند ، و اگر بر اینها بی اعتماد شدند و گمان بردند که بازهم نسبت به غرب به مسکو متمایل اند ، به کسانی آنانرا تعویض می کنند که در کاباره های غرب بزرگ شده اند ، نه دینی دارند ، نه اخلاقی و نه نسبت به ملت و وطن تعهدی، اعضاء ستره محکمه نمی تواند یك استثناء باشد ، جورج بش از این ناحیه تحت فشار مطبوعات غربی بود که چرا تا هنوز در رأس ستره محکمه کسانی قرار دارند که دستار بر سر دارند ، و طالب نما اند!!

۹. ارتداد را نمی توان به عنوان پدیده جدا از حالتی تعریف کرد که اشغال کشور توسط نیروهای اجنبی ایجاد کرده است، اشغالگران اسلام را به عنوان مانع اصلي در راه سیطره کامل بر افغانستان شناخته اند ، روسها در برابر اسلام بر ماتریالیزم ترکیز داشتند و امریکائیها بر سیکولریزم، هر دو ارتداد را تشویق می کردند ، تفاوت در این است که روسها به بیزاری از مذهب و خدا ستیزی دعوت می کردند ولی امریکائیها به مسیحیت مسخ شده ای دعوت می کند که هر کاری در آن جائز است، کفاره تمامی گناهان را مسیح با قربانی خود داده است، محبان مسیح مطمئن باشند که در برابر هیچ گناهی مواخذه نخواهند شد!! مگر برای جسارت بر گناه مشوق بهتر از این را سراغ دارید؟ کسانیکه به سوی ماتریالیزم روسي می رفتند اگر مذهب نداشتند ، مسلك و شعار داشتند ، برای این مسلك و شعارهای شان حاضر بودند علیه ملت و مردم خود بجنگند ، ولی آنانکه به دام مسیحیت می افتند ، شعار شان آزادی از تمامی قیدهاست، حلال و حرام و خوب و بدی را نمی شناسند ، به هیچ چیز مقدسی باور ندارند ، برای هیچ هدفی حاضر به قربانی نیستند!!ای کاش اینها پس از مطالعه بایبل به مسیحیت رو می آوردند و مرتد می

شدند ، آنها نخست مسیحی می شوند بعد اگر فرصت یافتند بایبل را نیز می بوسند ، من بایبل این کتاب مقدس جورج بش و تونی بلیر را مطالعه کرده ام، باور کنید آنرا مجموعه ای از قصه های مضحك و بیهوده ای یافته ام که هیچ انسان عاقلی آنرا به عنوان کتاب مقدس نخواهد پذیرفت. باور کنید من به تمامی کساني برائت می دهم که از بایبل، کلیسا و پاپ بغاوت کردند ، و تصور ی را که بایبل از خدا ارائه کرده نپذیرفته اند ، چنین تصوری را هیچ انسان عاقلی نمی پذیرد ، بایبل به خدایان سه گانه باور دارد ، خدا را شبیه انسان می خواند ، می گوید خدا و یا فرزندش در چهره مسیح به زمین آمد ، از مریم تولد شد ، طفل بود به جوانی رسید ، به صلیب کشیده شد ، بر دست و پایش میخها کوبیدند ، بر پشت و پهلویش تازیانه خورد ، کشته شد ، دوباره زنده شد ، و این همه برای آنکه خون او کفاره گناهان تمامی مسیحیان باشد!! ما قاضی ای را بی انصاف و ظالم می خوانیم که مجرمی را معاف کند و بی گناهی را مجازات نماید ، و یا یکی را به خاطر دیگری مکافات یا مجازات کند ، مگر ممکن است خدای عادل به این خاطر به کشته شدن یگانه فرزند و تعذیب و شکنجه اش رضایت داده است تا خون او کفاره ای برای تمامی مسیحیان باشد؟!! مگر چنین قضاوتی سخت ظالمانه و مغایر عدالت نیست؟

امریکا می خواهد در مقابله با اسلام (به اصطلاح آنان بنیاد گرائی اسلامي) تمامی گروههای مرتد را استخدام کند ، اگر در کابینه فعلی سهم قابل ملاحظه ای به کمونستها داده شده دلیل آن همین است، درامه ارتداد عبدالرحمن پنجشیری، اعتراف معلنش، دستگیری اش، عکس العمل فوری و جدی جورج بش، تونی بلیر، پاپ و دیگران ، رهائی بلاتأخیرش و اعزامش به ایتالیا؛ برای آن بود تا به افغانهائی که مرتد شده اند و به مسیحیت رو آورده اند ، ولی از بیم عکس العمل مردم ارتداد شانرا اظهار نمی کنند ، اطمئنان بدهند که اکنون افغانستان در اختیار رفقای شماست، حکومت و زمامدارانش یا چون شما اند و یا در خدمت شما ، هیچ کسی نمی تواند به جرم ارتداد شما را محاکمه کند ، استخبارات ایتالیا موظف شد تا عبدالرحمن پنجشیری را آماده کند که ارتدادش را برملا سازد ، به زندان

کشانده شود، در محضر محکمه به ارتدادش اعتراف کند، جریان محاکمه در رسانه های خبری وسیعاً منعکس شود، تمامی مردم از قضیه آگاه شوند، مقامات حکومتی امریکا، انگلستان، ایتالیا، کانادا، استرالیا و دیگران به سویه رؤسای جمهور عکس العمل جدی و فوری نشان دهند، و بر رهائی فوری او تأکید ورزند، رها شود، ایتالیا به او پناه بدهد، تا از این طریق ترس و بیم کسانی از میان برود که جرأت اعلان ارتداد شانرا ندارند، ارتداد در افغانستان پدیده ایست که به ستراتیژی دراز مدت نیروهای صلیبي در مقابله با اسلام گره خورده است، غرب بیداری امت اسلامي را تهدید جدی به منافع استعماري خود می شمارد، آنها حاضر نیستند بساط سلطه سیاسي، نظامي و اقتصادي شان بر کشور های اسلامي برچیده شود، برای دوام وضع موجود و جلوگیری از قیامهای آزادیخواهانه با تمام نیروی خود وارد معرکه شده، هجوم بر افغانستان و عراق و اصرار بر ادامه جنگ از همین تصمیم شوم مایه می گیرد.

۱۰. مواقف کشورهای چین، پاکستان، ایران و روسیه در مورد حمله امریکا بر افغانستان و ادامه حضورش در این کشور برای همه واضح است، موضع چین نرم و ملایم است، با حمله مخالفت نکرد، ولی از همکاری نیز خودداری ورزید، افغانها این انتظار را نداشتند که روسیه و ایران از حمله امریکا بر افغانستان حمایت کنند، در جلسه بن شرکت ورزند و به گروهای افغانی تحت حمایه خود دستور بدهند که در اشغال افغانستان با امریکا کمك کنند و چون نیروهای زمینی امریکا علیه مردم خود بجنگند، تغییر موضع حکومت جدید ایران، هر چند مطابق انتظار نیست، و تنها از این صحبت دارد که تقسیم الاوقاتی برای خروج نیروهای بیگانه از افغانستان ارائه شود، با آنهم تغییر خوشایندیست، پاکستان تا اکنون بر موضع همکاری مجدانه با امریکا متعهد است و از هیچ خدمتی دریغ نمی ورزد. روسیه در موضعی قرار ندارد که مخالفین امریکا را کمك کند، دیدید که دو کشور خیلی نزدیك به روسیه، یوگوسلاویا و عراق با چه سرنوشتی مواجه گردیدند، و عکس العمل مسکو در برابر آنها چگونه بود؟! زمانیکه در تهران بودم، هیئت روسي در روزهای نخست حمله امریکا بر افغانستان به ملاقاتم به منزل آمد، گفتم آیا

همکاری شما با امریکا تعجب آور نیست؟! آیا مناسب نبود از مخالفت با مقاومت افغانها علیه امریکا خودداری ورزیده و در عوض بر عدم تجاوز بر افغانستان تأکید می کردید؟! این امکان وجود دارد که افغانستان به ویتنام دیگری برای امریکا مبدل شود، مگر این به زیان شماست؟... چندی بعد سخنان ولادیمیر پوتین را شنیدم که می گفت: روسیه می توانست به مخالفین حضور امریکا در افغانستان بپیوندد، و به دعوت در این زمینه جواب مثبت بگوید،اگر این کار را می کرد، عواقب آن واضح بود، اما از آن خودداری ورزید... )!!! با کمال صداقت به شما می گویم که از هیچ کشوری، هیچ نوع کمکی دریافت نکرده ایم. مگر کشوری را سراغ دارید که مجاهدین مسلمان را کمك کند؟! لیبرالهای ایرانی می خواستند مرا به امریکا تسلیم کنند، جنرالهای پاکستاني از دستگیری اقارب بنده و سپردن شان به امریکا دریغ نورزیدند!! تعداد زیاد افراد حزب توسط سی آی ای و ایف بی آی در پاکستان دستگیر و به بگرام و گوانتانامو انتقال یافته اند!!

۱۱. نقش انگلیس ها در حمله بر افغانستان و عراق و حوادث فلسطین باید از هیچ کسی پنهان نباشد، اگر بگوئیم نقش محرك اساسی را داشت و دارد مبالغه نکرده ایم، انگلیسها تجارب زیادی از دوران اشغال این منطقه توسط بریتانیای کبیر دارد، امریکا تازه به آن مرحله رسیده است، به حرفهای استاد خود وقع می گذارد، و از تجاربش استفاده می کند. حضور تعداد کم نیروهایش در افغانستان و عراق را نباید به معنای نقش ضعیفش در جریانات بگیریم، این به محدودیت امکاناتش بر می گردد، نه به چگونگی نقشش، از وضع پیداست که امریکا به خروج نیروهایش از افغانستان و عراق وادار شده است، می خواهد جایش را به بریتانیا و ناتو تخلیه کند. فشار داخلی و خارجی بر امریکا روبه فزونیست تا نیروهایش را فراخواند، تلفات و مصارف جنگ امریکا در افغانستان و عراق به حدی بالا رفته است که دوام آن برای مردم امریکا قابل تحمل نیست، به حرفهای جنرال ایکنبیری و کوندولیزارایس که از دوام حمایت واشنگتن از اداره کابل و ادامه حضور نظامي در افغانستان صحبت کرده اند اهمیتی ندهید، ما افغانها این حرفها را در آن زمان نیز از مسکو می شنیدیم که پس از چند هفته ای خروج قوای

روسي از افغانستان آغاز گردید.

۱۲. من انگلیسها را در دشمنی با اسلام و مسلمانان شدید تر و خطرناکتر از امریکا می شمارم، سابقه دشمنی اش خیلی طولانی است.

۱۳. آیا شما و کسی دیگر از افغانها اداره علاقه داری کابل را در موقعیتی می یابید که به کسی عفو کند، و چنین عفوی ارزشي داشته باشد، ای کاش روزی فرارسد که قضاوت در باره آنانکه امروز بر کرسی قدرت نشانده شده اند و آنانکه مورد خشم اربابان این اداره قرار گرفته اند، به ملت بیدار و هوشیار ما موکول شود، إن شاء الله این روز بزودی فراخواهد رسید، باور داریم که تمامی افغانهای خدا پرست و وطن دوست بر کسانی نفرین می فرستند که در خدمت اجنبی اند و برای منافع بیگانگان علیه ملت خود می جنگند، و کسانی را ارج می گذارند که در کنار ملت مظلوم خود ایستاده اند و برای آزادی کشور قربانی می دهند.

۱۴. با القاعده نه ارتباط تنظیمی داریم و نه ائتلافی، پس از حمله امریکا بر عراق القاعده مراکز و اکثریت افرادش را از افغانستان و سایر نقاط به عراق انتقال داده است، هر قریه عراق به پناگاه و مرکز القاعده تبدیل شده است، دیگر ضرورت چندانی به داشتن مراکز و پایگاهها در کشور ما ندارد، اگر دیروز محدود به افغانستان بود امروز به یك حرکت جهانی تبدیل شده است. به شما بهتر معلوم است که طالبان قبل از دیگران با حزب اسلامي جنگیده اند، اکنون نیز نه معاهده ای با این گروه داریم و نه ائتلافی، البته از تمامی آنانکه برای آزادی کشور شان می جنگند تقدیر و تمجید نموده و بر وحدت و همکاری میان آنان تأکید می ورزیم. در اثنای حمله امریکا بر افغانستان و قبل از آن ارتباطاتی با ما گرفته شد تا در جنگ علیه طالبان شرکت کنیم، جواب صریح و قاطع بنده این بود که نمی خواهیم هیچ افغانی بدست بیگانه ای کشته شود، هر چند بدترین دشمن ما باشد، صد سال حکومت هموطن مخالف و رقیب خود را بر یك روز حکومت اجنبی بر کشور خود ترجیح می دهیم. برای من مایه تعجب بود که ائتلاف شمال حکومت امریکائي را بر حکومت طالبان هموطن شان ترجیح دادند و امریکا را در اشغال افغانستان کمك کردند!!

۱۵. از نظر ما آتش زدن به تأسیسات عام المنفعه از قبیل مکتب، کلینیك و غیره مردود است، و در تضعیف سلطه اشغالگران و حکومت دست نشانده شان تأثیر خاصی ندارد، برعکس به دشمن مجال آنرا می دهد تا از آن استفاده تبلیغاتی کند، ولی باید متوجه باشیم که ارزش این تأسیسات برابر چند قطره خون افغانها نیست، عجیب است که کسی این آتش زدنها را محکوم می کند ولی اعتراضی بر این ندارد که هر روز ده ها افغان مظلوم و بی گناه به دست جلادان امریکائي به خاك و خون کشانده می شوند!! آیا از افغانها این انتظار را دارند که در برابر جنایات امریکا شکیبا بوده، مزاحم شان نشوند و بگذارند فرزندان ما را طبق میل خود تربیه کند و به هر جانبی خواسته است سوق دهد؟ مسئولیت تمامی این حوادث ناخوش آیند به برخورد وحشیانه اشغالگران سفاك برمی گردد، آنها به مقدسات و عنعنات ما هتك حرمت می کنند، در پی گمراه کردن نسل جوان کشور اند، نصاب تعلیمی دلخواه شانرا تحمیل کرده اند و با تمام توان خود مصروف اشاعه فساد اخلاقی اند، عکس العمل در برابر این اقدامات امر طبیعی است. کسیکه خانه مرا ویران می کند از من چه انتظاری باید داشته باشد، عکس العمل بالمثل یا چیزی دیگر؟

۱۶. تمامی اعضای حزب بر تعهد شان با خدا، مردم و حزب شان وفادار اند، عدول از مواضع اسلامي شانرا گناه نابخشودنی تلقی می کنند، ترك جهاد را چون ترك نماز می خوانند، سازش با دشمن را حرام می شمارند و نسبت به آرمانها و شعارهائیکه از سال ۱۳۴۸ به این سو عنوان کرده اند و در خم و پیچ این مبارزه طولانی به آن وفادار مانده اند، مثل سابق متعهد اند.

۱۷. پیامم به ملت سربلند و آزاده افغان این است که کشور به قیام مسلحانه دیگری ضرورت دارد، از طریق دیگری نمی توان به آزادی، عزت و سربلندی رسید، با دشمن لجوج و بی رحمی که از میله تفنگ با تو صحبت می کند، نباید از طریق دیگری جز میله تفنگ صحبت کرد. جوانان مؤمن را دعوت می کنم تا نقش تعین کننده ای در مقاومت داشته و مسئولیتهای بزرگ ایمانی شانرا ادا کنند. به آنانکه خواهان خاتمه جنگ، اعاده صلح و تأمین وحدت ملي اند می گوئیم که این

اهداف فقط زمانی تحقق خواهد یافت که نیروهای بیگانه کشور ما را ترك بگوید ، مداخلات بیرونی متوقف شود ، افغانها دست برادری به هم بدهند ، هیچ گروهی برای سرکوبی رقیب خود به بیگانه پناه نه برد و راه را برای مداخله اش باز نکند ، به ملت ما موقع آن داده شود تا سرنوشت خود را خود تعین کند و قیادت مورد اعتمادش را انتخاب نماید ، هر گروه و هر شخصیتی به جایگاهی که از سوی ملت برایش تعین می شود قناعت کند و از طرق ناروا و به کمك اجنبی در پی رسیدن به جایگاه دلخواهش نباشد. به تمامی افغانها اطمئنان می دهم که إن شاء الله کشور ما به زودی آزاد خواهد شد و نیروهای اشغالگر به ترك وطن عزیز ما وادار خواهند شد ، مجاهدین مصمم اند و با خدای خود تعهد کرده اند که تا آخرین مرمی و تا راندن آخرین سرباز نیروهای اجنبی به مقاومت شان ادامه دهند.

۱۸. از زوال خلافت اسلامي به این سو و در جریان سه قرن گذشته، و پس از آنکه خلافت اسلامي به کشور های کوچك کوچك تجزیه و میان کشور های غربی تقسیم گردیده و به مستعمرات آنان و مارکیت مصنوعات و بازار فروش اسلحه شان تبدیل گردید ، غرب همواره از این مانع شده است تا کشور آزاد ، نیرومند و مستقلی به وجود آید و راه برای وحدت امت اسلامي و اعاده عظمت گذشته اش باز گردد ، غرب نه عراق نیرومند را تحمل می کند و نه ایران دارای انرژی و سلاح اتمی را ، اگر مقاومت مجاهدین در افغانستان و عراق مانع هجوم امریکا بر ایران نمی شد بدون شك بسوی ایران نیز جلو می رفتند. حرفهای آقای خاتمی برای بنده مایه تعجب بود که می گفت: ما در برابر همکاریهای ایران با امریکا در افغانستان و عراق، منتظر پاداش بودیم!! شاید او متوجه نبود که این همکاری چه پیآمدهای برای ایران خواهد داشت و پاداش امریکا به آنان چه خواهد بود.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۵۱۴۱۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# توصیه هایی به محقق نسب و رفقایش

چند روز قبل یکی از دوستان طی نامه ای نظر بنده را در رابطه به بحث جنجال برانگیز محقق نسب در مورد ارتداد ، معنا و مصداق آن و چگونگی اش از دیدگاه قرآن و روایات جویا شد ، با آنکه ماهها از زمان هنگامه مذکور سپری شده ، ولی به دلیل احترام به خواست این برادر عزیز و با توجه به اینکه این مبحث با وضع موجود کشور ما ارتباط تنگاتنگی دارد ، پاسخ آنرا مفید شمردم.

قبل از آغاز بحث باید بنگریم که چه چیزی محقق نسب و رفقایش را واداشته تا این نوع بحثها را آغاز کنند ؟ مگر کسی به جرم ارتداد محاکمه و مجازات شده و دفاع از او این بحثها را باعث شده؟ آیا اکنون قدرت در دست کسانیست که از مسئله ارتداد چون شمشیر برنده ای استفاده خواهند کرد؟ مگر امروز سی هزار سرباز تا دندان مسلح نیروهای صلیبي، حامی ارتداد و مرتدین، بر مقدرات کشور ما حکومت نمی کنند؟ مگر این شمشیر های برنده امروز در دست مرتدین قرار ندارد؟ آیا ایشان زیر بالهای طیاره های بی پنجاه و دو از هر نوع مصئونیت برخوردار نیستند؟ و آیا در عوض آنان امروز مسلمانان واقعی به نام بنیادگرایان؛ مجرم و مستحق تعقیب، مجازات و محاکمه شمرده نمی شوند؟ کدام مرتدی به زندانهای امریکا در افغانستان و گوانتانامو کشانده شده؟ آیا درامه ارتداد عبدالرحمن پنجشیری و دفاع جورج بش، تونی بلیر، و رؤسای جمهور و صدراعظمان کشورهایی چون ایتالیا، کانادا، استرالیا، و پاپ از او و رهایی فوری و بلاتأخیرش و اعزامش به ایتالیا کافی نیست که مرتدین تشویشي نداشته، و مطمئن باشند که امروز حکومت دست نشانده امریکا در کابل در

خدمت آنان است، نه کسی قادر به محاکمه آنان است و نه مجازات ایشان؟ با این همه چه چیزی باعث شده تا محقق نسب و رفقایش این نوع بحثها را به مطبوعات بکشند؟ شاید هیچ افغانی این گمان را نکند که این بحثها انگیزه غیر سیاسی داشته، به حضور نیروهای بیگانه در کشور ما و عزایم و اهداف استعماري این نیروها بی ارتباط باشد و از احساس درونی اشخاصی چون محقق نسب نشأت کرده است، آیا کسی این حرفها را باور خواهد کرد که: مسئله ارتداد در طول تاریخ اسلام به عنوان شمشیر برنده در اختیار قدرتهای استبدادی بوده که برعلیه دانشمندان، اصلاح طلبان، و منتقدان نظام حاکم به کار رفته و نا بهنجاریهاری های اجتماعی، سیاسی، مذهبی و فجایع داخلی را به وجود آورده است؟!! اگر محقق نسب این حرفها را در زمان اقتدار طالبان می گفت شاید کمتر مورد اعتراض قرار می گرفت؛ ولی در شرایطی که مرتدین به قدرت رسیده اند ، نوازش می شوند ، جوایز افتخار دریافت می کنند ، با القاب قهرمان مفتخر می شوند ، طرح چنین بحثی بی مورد و سوال برانگیز است!! به یقین می توان گفت که این بحثها به هدایت نیروهای اشغالگر و برای اهداف شومی آغاز گردیده است. هدف این است که ترس و بیم آنانکه مرتد شده اند ولی جرأت نمی کنند ارتداد شانرا برملا سازند ، از میان برود ، ارتداد شانرا اعلان کنند و مطمئن باشند که چون عبدالرحمن پنجشیری و محقق نسب نه کسی توان و مجال محاکمه آنانرا خواهد داشت و نه مجازات شانرا!!

محقق نسب در مقاله اش سعی کرده است حساسیتهای مذهبی میان شیعه و سنی را برانگیزد ، حرفهائی از مراجع مجهول شیعه و سنی را علیه همدیگر به صیغه ای آورده است که هر خواننده شیعه اش را علیه سنی و سنی را علیه شیعه شدیداً تحریك کند ، و این همانکاریست که امروز امریکائیها و انگلیسها در عراق می کنند ، در منطقه سنی نشین در مساجد انفجارات می کنند و آنرا کار شیعه ها می خوانند و در منطقه شیعه نشین زیارتگاهی را منفجر می سازند و آنرا به سنی ها نسبت می دهند ، همانکاری که انگلیسها در دوران اشغال هند می کردند ، شبانگاه در مسجد جسد متعفن خوگ مرده را می انداختند و در درمسال گاو مرده

را ، هر دو را با هم می جنگاندند و از وحدت شان علیه اشغالگران مانع می شدند. این سلسله را انگلیسها در افغانستان نیز آغاز کرده اند ، قطعاتی از ملیشه ها و اردوی مزدور را که از ملیتهای غیر پښتون درست کرده اند به مناطق پښتون نشین در شرق، جنوب و جنوب غرب می فرستند و علیه پښتونها می جنگانند ، اینها همه برای آن است که تحریك حساسیتهای قومی و مذهبی به نفع اشغالگران بوده و کسانیکه در شرایط موجود کشور مصروف چنین کاری اند از سوی اشغالگران مؤظف شده اند.

محقق نسب در رابطه به بحث ارتداد نه روایات را معتبر می خواند و نه آراء فقها را شایسته اعتناء و التفات، ادعا می کند که این موضوع را باید در روشنائی آیات قرآن به بحث گرفت او چند فقره مربوط چند آیه را مستمسك خود قرار داده و با استناد به آن ادعا کرده است که قرآن اجازه ارتداد را داده است و آنانکه ارتداد را جرم می خوانند و مرتد را مستحق مجازات، اشتباه کرده اند. او اینها را روضه خوانها ، واعظ ها ، و ملا های متحجر خوانده که گویا اسلامي را می آموزند که از قعر جهل، و بی خردی بدر آمده و از عقب مانده ترین و ارتجاعی ترین اندیشه ها تغذیه می کند ، و در نهایت دست آوردی جز ارتجاع، فقر، بی سوادی، تبعیض و فساد ندارد!!

تاخت و تازهای جسورانه محقق نسب بر روضه خوانها ، واعظ ها و ملا ها ، و اسلامي که اینها می آموزاند و می آموزانند ، خیلی خیلی تعجب برانگیز است، مگر می توان باور کرد که محقق نسب بدون تشجیع و تشویق از سوی اربابان قدرت در کابل به چنین جسارتی متوسل شده است؟ این اربابان قدرت بدون شك آنهایی نیستند که در اداره حکومت کابل به عنوان رئیس و وزیر استخدام شده اند ، بلکي آنهایی اند که این اداره را تحمیل کرده و با سی هزار سرباز مسلح حفظ می کنند.

استناد محقق نسب بر آیات در تمامی موارد مذکور و بدون استثناء اشتباه آمیز و نادرست است، نه از اصل آیت انتباه درست گرفته است و نه به شکل معقولی بر آن استدلال کرده است، اکثراً نیمی از آیت را بدون توجه به قبل و بعدش

ذکر کرده، و از آن مستمسکی برای اثبات ادعای خود ساخته است، در حالیکه چنین معامله ای نه تنها غیر عالمانه و نادرست است بلکي تلاش ناروا و افترا بر صاحب کلام تلقی می شود. هر بخش يك آیه جزء يك کلام جامع و مکمل بوده برای بیان مفهوم حقیقی آن باید مجموع کلام را در نظر داشته و در روشنائی بقیه بخشها به شرح آن پرداخت، لا اکراه فی الدین، لکم دینکم ولی دین، فمن شاء فلیؤمن و من شاء فلیکفر، هدینه النجدین، اما شاکرا و اما کفورا ... که محقق نسب بر آن استناد کرده است، هر یکی جزء يك کلام است، که او قبل و بعدش را حذف کرده، و الفاظی را از میان آنها اخذ نموده که او را در اثبات ادعایش کمك کند، این به آن شباهت دارد که کسی بگوید: در قرآن آمده است که:

لاتقربوا الصلوة !! به نماز نزديك مشوید...

ویل للمصلین، وای بر نمازگزاران...

در حالیکه اصل کلام اینگونه است: لاتقربوا الصلوة و انتم سکری: در حالیکه مدهوش و مستید به نماز نزديك مشوید...

ویل للمصلین الذین هم عن صلاتهم ساهون: وای بر نمازگزارانی که از نماز شان غافل اند

استدلال محقق نسب بر چند فقره و نیمی‌از چند آیه کلا شبیه به گفته مذکور است، هیچ یکی از آیات و فقراتی که او مستمسك خود قرار داده و به نفع آزادی ارتداد بر آن استناد کرده است، مربوط به بحث ارتداد نیست، کسیکه از الف بای قرآن واقف باشد این جسارت را نخواهد کرد که اینها را به مبحث ارتداد ارتباط دهد و از آن آزادی ارتداد از دیدگاه قرآن را ثابت کند!! تعجب آور است که جناب محقق نسب چگونه به چنین جسارتی متوسل شده؟ در کدام تفسیر قرآن خوانده که اینها بر آزادی ارتداد از دیدگاه قرآن صحه می گذارد؟ گمان نمی کنم جز محقق نسب کسی دیگر یافت شود که چنین جسارتی را مرتکب شده و چنین رأیی را ارائه کرده باشد!!

در مورد استدلال او بر این فقره ها، که شاید از دیدگاه او مهمترین بخش مقاله اش باشد، و شاید گمان کرده است که او را در اثبات ادعاهایش کمك

خواهد کرد، با اختصار به جناب ایشان و رفقایش می گویم:

• لکم دینکم ولی دین: برای شما دین تان و برای من دینم، جزء سوره الکافرون است که پیغمبر علیه السلام آنرا سوره برائت از مشرکین می خواند، در واقع این سوره و بطور خاص این آیه از مصالحه نه بلکي از مقاطعه بحث می کند، هدفش سازش و مصالحه با دشمن نیست، هدفش اعلان برائت از مشرکین و دین و مذهب و معبودان شان است، به ارتداد هیچ ربطی ندارد. این سوره در سالهای نخستین بعثت پیامبر علیه السلام نازل شده است، در زمان نزول این سوره کسی از میان مسلمانان مرتد نشده، در واقع این مسلمانان بودند که از دین حاکم بر فضای مکه، از دین کهنه أباء و اجداد خود، بغاوت نموده به اسلام گرویدند، زمانیکه سرادران بی رحم قریش نتوانستند با اعمال شکنجه و تعذیب و ایجاد فضای رعب و ترس، از گسترش روزافزون اسلام مانع شوند، حیله ای بکار بردند، خواستند از طریق مصالحه و سازش این نهضت الهی را مهار کنند، به پیامبر علیه السلام پیشنهاد صلح کردند و این سوره در جواب پیشنهاد مشرکین مبنی بر مصالحه و سازش نازل شده و طی آن به این پیشنهاد جواب رد داده شد.

• لااکراه في الدین فقره اول آیه **۲۵۲** سوره البقره است: لا إِکْرَاهَ فی الدّینِ قَد تّبَینَ الرُشدُ مِنَ الغَیّ فَمَن یَکفُرْ بِالطغُوتِ وَ یُؤْمِن بِاللّه فَقَد استَمْسك بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَی لا انفِصامَ لَهَا وَ اللّهُ سمِیعٌ عَلیمٌ * در (پذیرش) دین اکراه و اجباری نیست، یقیناً که راه رشد وهدایت از گمراهی آشکار شده، پس هر کي از طاغوت انکار کند و به خدا ایمان آورد بر دستآویزی محکمی چنگ زده است که قطع شدنی نیست، و خداوند دانای شنواست.

در این آیه بر عکس ادعای محقق نسب بحث از ایمان آوردن است نه ارتداد و کافر شدن، اشعار بر این دارد که ایمان کسی پذیرفتنیست که نخست از بندگی طاغوت (حکمران باغی و سرکش) بغاوت کند، سپس به خدا ایمان آورد، کسیکه با وجود ادعای ایمان به خدا و آخرت، بنده طاغوت است، از او اطاعت می کند، فرمان می برد و فیصله اش را در قضایای زندگی می پذیرد، نه ایمانش در معیارهای قرآن ارزشی دارد و نه ادعایش قابل پذیرش. یعنی کسیکه در سایه

حکومت غیر اسلامی زندگی می کند ، به چنین زندگی رضایت می دهد ، به قوانین چنین حکومتی سر اطاعت خم می کند ، و برای حل و فصل مشاجراتش به محاکم این نظام رجوع نموده به فیصله هایش گردن می نهد ، ادعای ایمانش به خدا و آخرت دروغین بوده، در معیار های الهی هیچ وزن و ارزشي ندارد.

- فمن شاء فلیؤمن و من شاء فلیکفر نیز جزء آیه ای است که از آزادی انسان در انتخاب یکی از دو بدیل ایمان و کفر بحث می کند و می فرماید که خداوند کسی را به انتخاب یکی از این دو وادار نمی کند ، خداوند انسان را چنان آفریده که می تواند به انتخاب خود راه کفر و یا ایمان را انتخاب کند ، هیچ جبر و اکراهی درکار نیست، این آیه به بحث جبر و اختیار مربوط است و به آزادی ارتداد هیچ ربطی ندارد ، کل آیه این است:

وَ قُلِ الْحَقُّ من رَّبِّكمْ فَمَن شاءَ فَلْيُؤْمِن وَ مَن شاءَ فَلْيَكْفُرْ إِنَّا أَعْتَدْنَا للظلمينَ نَاراً أَحَاطَ بهِمْ سرَادقُهَا وَ إِن يَستَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كالْمُهْلِ يَشوِى الْوُجُوهَ بِئْس الشرَاب وَ ساءَت مُرْتَفَقاً * الكهف: ۲۹

و بگو حق همانست که از سوی پروردگارتان است، پس هر کي خواسته است ایمان آورد و هر کي خواسته است کافر شود ، ما برای ستمگران آتشي مهیا کرده ایم که پرده هایش آنانرا فراخواهد گرفت، و اگر فریادرسی را به کمك بطلبند با آبی فریادرسی شان شود که چون مس گداخته ای بوده و روها را بریان کند ، چه آشامیدنی بدی و چه اقامتگاه زشتی؟!!

مفهوم واقعی و مشرح این آیه را زمانی می توان به خوبی درك کرد که به آیه قبل از آن نیز متوجه باشیم، در آیه قبل از آن آمده است که در همراهی و کنار کسانی شکیبا باش که پگاه و بیگاه پروردگار شانرا می پرستند ، مبادا در جستجوی آرایش و متاع دنیا به آنان بی التفاتی نمائی، و از کسی پیروی مکن که دلش را از ذکر خود غافل کرده ایم، و از هوسش پیروی نموده و کارش افراط و از

حد گذریست.

یعنی التفات و اعتنایت به مؤمنان مخلصی باشد که همواره مصروف پرستش و نیایش پرودگار خود اند، همواره باید در کنار ایشان باشي، و دشواریهای همراهی با ایشانرا تحمل کنی، و بخاطر اغراض دنیوی به کسانی متمایل نشوی که خدا را فراموش کرده اند، بنده هوس اند و از حد تجاوز می کنند، حق همین است که پردگارتان می فرماید، این را به میل و خواست مخاطبین دعوتت بگذار که ایمان می آورند و یا کافر می شوند، تو وظیفه ات را انجام بده، حقیقت را ابلاغ کن، اعتنایی به این نداشته باش که عکس العمل ایشان چه خواهد بود، مطمئن باش که انجام ستمگرانی که با حق به مخالفت می پردازند و راه دشمنی با دعوت الهی تو را انتخاب می کنند، آتش فراگیر دوزخ است.

از جناب محقق نسب می پرسم: از کجای این آیه جواز ارتداد از دیدگاه قرآن را استنباط کرده ای؟ مگر این تمسك خیلی مضحك نیست؟!

همچنان آیه (وَ هَدَيْنَهُ النّجْدَيْنِ * البلد: ۱۰) به هدایت فطری اشاره دارد، مرادش این است که خداوند در فطرت انسان و در ضمیر ناخودآگاهش استعداد تفکیك خوب از بد، مفید از مضر و شایسته از ناشایسته را به ودیعت گذاشته است، به حکم همین ملکه است که با مشاهده برخورد میان دو انسان ظالم و مظلوم، نسبت به یکی احساس همدردی و دلسوزی می کند و نسبت به دیگری احساس انزجار و نفرت، می خواهد مظلوم را یاری کند و ظالم را مجازات، اگر در انسان چنین ملکه ای وجود دارد که او را به قضاوت میان دو طرف وامی دارد، مگر پروردگاری که انسان را آفریده است و این استعداد را در انسان به ودیعت گذاشته است، به چنین صفتی متصف نخواهد بود؟ و در مورد عملکرهای انسان قضاوت نخواهد کرد؟ مگر همواره صفات مصنوع نمایانگر صفات خالق و صانع نمی باشد؟ این آیه مبارکه در محلی آمده است که بحث از دشمنی و عداوت کسیست که ثروت و سرمایه، و توان امکاناتش را در مخالفت با پیامبر علیه السلام به کار گرفته و با تکبر و غرور و مستی می گوید: مال زیادی در مخالفت با پیامبر مصرف کرده ام، حتماً نتایجی ببار خواهد آورد!! در جواب این دشمن لدود

گفته شده است: آیا گمان می کند که خداوند شاهد اعمال او نبوده، به حسابش نخواهد رسید، و او را به جزای اعمالش نخواهد رساند؟ مگر دو چشم او شاهد آن نیست که خدای بینا و بصیری وجود دارد؟ مگر زبان و دو لب او که وسایل تکلم و بیان ما فی الضمیر او بوده و از این طریق است که او قضاوت هایش را برون می دهد، شاهد آن نیست که خداوند فیصله هایش را خواهد شنواند؟! مگر استعداد و ملکه قضاوت در انسان و حکم در باره دو راه خوب و بد ، و زشت و نیکو دال بر آن نیست که پروردگار و خالق انسان نیز به این صفت بطور اتم و اکمل متصف بوده و حتماً در مورد عملکرهای انسان قضاوت خواهد کرد؟ جناب محقق نسب بگویند که این آیه با این مفهوم روشن و واضح خود چه ربطی به آزادی ارتداد دارد؟

همچنان آیه (اِنّا هَدَیْنَهُ السبِیلَ إِمّا شاكِراً وَ إِمّا كَفُورا *الانسان: ۳)، به هدایت فطری اشاره دارد، هدایتی که هم شامل حال انسان شاکر است و هم انسان ناسپاس و کفور، در هر دو به ودیعت گذاشته شده، علاوه بر چشم، گوش، و عقل و خرد، و فهم و بصیرتی که به انسان داده شده، و تمامی حواسش به اراده خداوند در خدمت انسان بوده او را در تشخیص راه از بیراهه کمك می کند، در خمیره ضمیر او وجدانی را گذاشته است که او را در کار نیك تشویق می کند و در کار بد سرزنش. جناب محقق نسب نه به این توجه داشته که در این جا نه بحث از کفر و ایمان است و نه ارتداد، و نه به این متوجه شده که در اینجا کفور در مقابل شاکر آمده و معنایش کافر نه بلکي ناسپاس است!!

خیلی تعجب آور است که جناب محقق نسب آزادی ارتداد را مایه صلح و آرامش خوانده و مجازات مرتد را چون شمشیری در دست زنگی مست!! شاید او نمی داند که معنای حقیقی ارتداد چیست؟ نمی داند که در هیچ نظامي چه اسلامي و چه غیر اسلامي، چه در کمونیزم روسي و چینائی، و چه در لیبرلیزم اروپائی و امریکائی، نه تنها آزادی ارتداد وجود ندارد بلکي ارتداد جرم تلقی می شود، و مرتد مستحق مجازات شمرده می شود. ارتداد یعنی بغاوت از نظام، یعنی سرکشی از قوانین حاکم بر جامعه، یعنی عدم احترام و التزام به قانون اساسی یك کشور!!

این تنها اسلام نیست که ارتداد را جرم سزاوار مجازات خوانده است، در هر جامعه ای که نظام و عقیده در آن وجود دارد ، ارتداد جرم تلقی می شود ، شما لطفاً تاریخ جوامع کمونیستی را ورق بزنید ببینید که با مرتدهای شان چه برخورد های خشنی داشته اند؟!! شما به تاریخ کلیسا مراجعه کنید و ببینید مرتدهای شانرا چگونه مجازات کرده اند؟! شما اکنون به مدینه فاضله تان جامعه منحط غربی نگاه کنید که با مرتدهای شان چگونه معامله می کنند؟

از او می پرسیم: آیا کشوری را در دنیا سراغ دارد که بغاوت از نظام در آن امر قانوني باشد ، عدم احترام به قانون اساسی کشور مجاز باشد ، هتك حرمت به مقدسات دینی، و آنچه نظام تقاضای احترام فردی و جمعی را به آن دارد و از لحاظ سیاسی و اجتماعی به مثابه مقدسات ملي پذیرفته شده، در آن جائز بوده به اتباع خود حق آنرا بدهد که نسبت به اینها هتك حرمت روا دارند؟!! ارتداد نیز شبیه به اینها و جرمی به مراتب قبیح تر از اینهاست، خود یك بغاوت است، و راه را برای بغاوت باز می کند ، افراد ساده لوح و مغرض را به بغاوت تشویق می کند.

جناب محقق نسب به من بگوید: کسیکه در امریکا از خدمت عسکری فرار کند جزایش چیست؟ چرا باید به زندان محکوم شود؟ چرا عمل او را در روشنائی آزادی فکر، عقیده و عمل توجیه نمی کنید؟ کسیکه بیرق امریکا را به آتش بکشد و یا لگدمال کند چرا مجازات می شود؟ اگر کسی با این بیرق بوتهایش را پاك کند آیا کار بدی کرده است؟ به چه دلیلی؟ چرا نمی گوئید: امریکای دیموکرات باید به این ارتداد وجهه قانوني بدهد، آزادی ارتداد را تضمین کند؟! اگر کسی در اروپا ادعای قتل یك ملیون یهودی در هولی کاست را انکار کند چرا باید زندانی شود؟ مگر اظهار نظر در مورد یك قضیه تاریخی جرم است؟

به من بگوئید: کسیکه از تأدیه مالیه در جامعه اروپایی و امریکائي انکار کند جزای او چیست؟ چرا باید مجازات شود ، چرا کار او را به استناد آزادی توجیه نمی کنید؟ چرا یك قاچاقبر که جرمش تنها عدم تأدیه محصول گمرك است و از طریق غیر قانوني اموالی را صادر و وارد کرده است مجازات گردیده به زندان کشانده می شود و حتی دارائی هایش مصادره می شود؟ مگر طبق منطق محقق

نسب بهتر نیست بگویند: چنین ارتدادی را آزاد بگذارید و به آن صبغه قانونی بدهید؟!!

این آقایون نمی دانند که دین عقیده مجرد نیست، انکار از آن تنها انکار از یك عقیده نیست، دین یك نظام است، یك ایدیولوژی توأم با سیستم خاص سیاسی، اجتماعی و اقتصادی است، انکار از زکات چون انکار از تأدیه مالیه و محصول گمرك به یك نظام است، ارتداد در جامعه اسلامی چون بغاوت از یك نظام است، چون سرکشي از قوانین حاکم بر جامعه است، چون مخالفت با قانون اساسی کشور است، اگر دین نظریه محض می بود و کاری به نظام اجتماعی نمی داشت، و انکار از آن پیآمد های خطرناکی به جامعه تحویل نمی داد، در آنصورت شما حق داشتید بگوئید که چرا اختلاف با یك مفکوره جرم قابل مجازات پنداشته می شود. شما باید به این متوجه باشید که از دیدگاه اسلام معامله با کافر و مرتد از هم فرق دارد، کافر اهل کتاب می تواند با حفظ عقیده خود، با وجود اختلاف شدید فکري با مسلمانان، در جامعه اسلامي زندگی نموده، جان و مال و عزت و آبرویش مثل هر مسلمانی مصئون باشد، هر تجاوزی بر او چون تجاوز بر هر تبعه مسلمان جامعه اسلامي تلقی می شود. ما به کافر می توانیم بگوئیم لکم دینکم و لی دین، ولی مرتد یك باغیست، باغی از نظام، با بغاوت خود دیگران را به بغاوت می کشد، تو اگر بیرق امریکا را به آتش می کشي حکم قوانین امریکا بر تو تطبیق نمی شود ولی بر یك امریکائي تطبیق می شود، تو را مجرم نمی خوانند، دشمن می خوانند ولی امریکائي را مجرم می شمارند و مستحق مجازات قانونی.

از شما می پرسم اگر کسی در جاده های مزدحم لندن و پاریس از قوانین ترافیك عدول نموده باعث حادثه خطرناك ترافیکی گردیده تلفات مالی و جانی را باعث شود، آیا این شخص مستحق مجازات است؟ چرا او را سزاوار مجازات می خوانید؟ اگر کسی در یك جامعه مذهبی از خدا انکار کند و انکار او جامعه را به تشنج بکشد، درگیریهائی را باعث شود، به بغاوت از نظام منتج شود، آیا چنین کاری اهمیتش به اندازه تصادم ترافیکی در یك جاده مزدحم نیست؟! مگر عواقب چنین کاری به مراتب خطرناکتر از یك حادثه ترافیکی نیست؟ آیا شما حق دارید

بگوئید: در جاده های کابل در سمت چپ رانندگی می کنم و در جاده های پاکستان در سمت راست؟ اگر مخالفت با این نوع ضوابط در یك جامعه را جرم تلقی می کنید ، مخالفت با باور های یك جامعه دینی را چگونه جرم نمی خوانید؟ دفاع از ارتداد در واقع دفاع از بغاوت در یك جامعه قانونمند و مورد تائید اکثریت اتباع آن جامعه است، هیچ انسان شریف و عاقلی از چنین بغاوتی دفاع و حمایت نمی کند.

تو که نمی توانی به امریکائیها بگوئی بر اهالی بی دفاع، بی گناه، و غیر محارب، به بهانه اینکه مخالفین نظام دست نشانده تان را پناه داده اند ، بمباری نکنید ، غیر نظامیان را با این همه بی رحمی و قساوت به قتل نرسانید ، مردم را در انتخاب راه و دوست و دشمن شان آزاد بگذارید ، چگونه جسارت نموده ای و خواهان آزادی ارتداد و قانونمند شدن آن در جامعه اسلامي شده ای؟ آیا پیشنهادت برای تضمین آینده خودت و رفقایت هست یا برای تضمین آینده هر مخالف هر نظام؟! من با اشغال کشورم به دست نیروهای صلیبي مخالفم، به آنها می گویم نه دین و نظام تانرا می پذیرم و نه سلطه و سیطره تانرا ، تا زمانیکه شما کشورم را اشغال کرده اید با شما می جنگم، آیا این حق را به من می دهید؟ آیا موضع مرا معقول و درست می خوانید؟ آیا حاضرید به امریکائیها بگوئید: چه حقی دارید که از آن گوشه دیگر دنیا آمده اید ، کشور ما را اشغال نموده اید و حکومتی را بر ما تحمیل نموده و کسانی را که به اراده شما تسلیم نمی شوند ، باغی و مجرم و مستحق بستن و کشتن شمرده، و خانه های شانرا بمبارد می کنید ؟! اگر جرأت نوشتن این حرفها را ندارید ، و هیچگاهی این جسارت را مرتکب نمی شوید که بگوئید: اختلاف با حضور نیروهای بیگانه در افغانستان و جنگ با نیروهائی که به هدف جنگ آمده؛ اگر واجب دینی هر افغان نباشد علی الاقل حق مسلم هر افغان است؟ منطق جناب شما که ایجاب این حرفها را دارد ، ولی چرا بر قانوني شدن ارتداد ترکیز دارید و توأم با آن مخالفین اشغال افغانستان بدست نیروهای اجنبی را محکوم می کنید ، این تناقض را چگونه توجیه کنیم؟ از نظر شما تنها ارتداد و بغاوت از اسلام باید قانوني شود نه بغاوت دیگری!!

محقق نسب ادعا می کند که در قرآن هیچ جزایی برای مرتد تعین نشده است!! این ادعای او نشان می دهد که قرآن را با دقت لازم نخوانده و معلوماتش خیلی ناقص است!! من دو مورد را در برابر ایشان می گذارم تا بداند که مطالعه او در قرآن تا چه پیمانه ای سطحی و عامیانه است، قرآن در مورد مرتدی که بر ارتدادش اعتراف نمی کند، می فرماید:

يحْلِفُونَ بِاللّه مَا قَالُوا وَ لَقَدْ قَالُوا كلمَةَ الْكُفْرِ وَ كفَرُوا بَعْدَ إِسلَمِهِمْ وَ هَمُّوا بِمَا لَمْ يَنَالُوا وَ مَا نَقَمُوا إِلا أَنْ أَغْنَاهُمُ اللّهُ وَ رَسولُهُ من فَضله فَإِن يَتُوبُوا يَك خَيراً لهُمْ وَ إِن يَتَوَلّوْا يُعَذّبهُمُ اللّهُ عَذَاباً أَلِيماً فى الدُّنْيَا وَ الاَخِرَةِ وَ مَا لهُمْ فى الأَرْضِ مِن وَلىٍّ وَ لا نَصِيرٍ * التوبة: ۷۴

به نام خدا سوگند می خورند که (حرفهای کفر آمیز) نگفته اند، در حالیکه یقیناً حرف کفر آمیز گفته اند و پس از اسلام شان کافر شده اند، و قصدی داشتند که به آن نایل نشدند، و بدگوئی نکردند مگر پس از آنکه خدا و پیامبرش از عنایت خود آنانرا بهره مند ساخت، پس اگر توبه کنند برای شان بهتر باشد و اگر روبرگردانند، خداوند به عذاب دردناك دنیا و آخرت تعذیب شان خواهد کرد، و هیچ یار و یاوری در روی زمین نخواهند داشت.

مدافعان ارتداد باید بگویند که معنای عذاب دردناك در دنیا چیست؟! اگر جزای منافق منکر از ارتدادش چنین باشد جزای مرتد مصر بر ارتدادش چه خواهد بود؟!!

فَمَا لَكمْ فى الْمُنَفقِينَ فِئَتَينِ وَ اللّهُ أَركَسهُم بِمَا كَسبُوا أَ تُرِيدُونَ أَن تهْدُوا مَنْ أَضلّ اللّهُ وَ مَن يُضلِلِ اللّهُ فَلَن تجِدَ لَهُ سبِيلاً * وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سوَاءً فَلا تَتّخِذُوا مِنهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتى يهَاجِرُوا فى

سَبِيلِ اللّه  فَإِن تَوَلّوا  فَخُذُوهُمْ وَ اقْتُلُوهُمْ حَيْث وَجَدتُّمُوهُمْ  وَ لا تَتّخِذُوا مِنهُمْ وَلِيًّا وَ لاَ نَصِيراً * النساء: ٨٨-٨٩

پس شما را چه شده که در باره منافقین دو گروه شده اید؟ در حالیکه خداوند آنانرا بنابر عملکردهای شان سرنگون ساخته، آیا می خواهید کسی را هدایت کنید که خداوند گمراهش کرده؟ و کسی را که خدا گمراه کند هیچ راهی برای هدایتش نخواهی یافت، این را می پسندند که شما نیز چون ایشان کافر گردیده و همه یکسان شوید، پس تا زمانیکه در راه خدا هجرت نکنند هیچ دوستی از ایشان نگیرید، و اگر اعراض کردند پس در هر جایی که ایشانرا یافتید، دستگیر نموده به قتل برسانید، و هیچ یار و یاوری از ایشان نگیرید.

به حامیان آزادی ارتداد می گوئیم: این آیه جزای کسی را بیان می کند که با وجود ادعای ایمان در کنار کفار و تحت سلطه آنان بسر می برد، از هجرت در راه خدا خودداری می ورزند، سعی می کنند مسلمانان نیز چون ایشان به دشمن تسلیم شوند و به سازش تن دهند، تا در آنصورت همه یکسان گردیده از اعتراض مؤمنان مخلص رهائی یابند، اگر قرآن جزای اینها را چنان دردناك قرار داده که در هر جایی مورد تعقیب قرار گرفته، دستگیر و کشته شوند، جزای کسی که بر ارتداد خود مصر است چه خواهد بود؟آیا برای انسان عاقل این اشاره ها کافی نیست؟

اگر محقق نسب ادعا می کرد که چگونگي تعذیب مرتد در قرآن مشخص نشده، با آنکه او را مستحق مجازات شدید دردناك می خواند ما اعتراضی نداشتیم، ولی او ارتداد را جرم قابل تعقیب و تعذیب نمی خواند، و ادعای آزادی ارتداد از دیدگاه قرآن را دارد. او از این بي اطلاع است که قرآن در خیلی از موارد بر کلیات اکتفاء نموده و شرح و تفصیل آن در احادیث صورت گرفته، کیفیت نماز، تعداد رکعت های نمازهای پنجگانه، مقدار زکات و خمس و عشر و تفصیلات آن در احادیث توضیح شده است، پیامبر علیه السلام آنرا از اشاره های قرآن فهمیده و

برای ما توضیح داده است، اگر این موضوع را به کسانی چون محقق نسب بگذاریم شاید بگویند: در قرآن چگونگی نماز، اوقات و تعداد رکعتهای آن توضیح نشده، به صوابدید ما گذاشته شده، مانعی ندارد که چگونه آنرا ادا می کنیم، چه وخت، و چند رکعت و در قیام و رکوع و سجود آن چه می گوئیم!!

عدم مجازات مرتد در زمان حیات پیامبر علیه السلام را نمی توان به عنوان تبرئه مرتد و آزادی ارتداد تعبیر کرد، کسانیکه در زمان حیات پیامبر علیه السلام مرتد شده اند یا از مدینه فرار کرده اند و به دشمن پناه برده اند، و یا در اثنای استنطاق از ارتداد انکار کرده اند، استدلال جناب محقق نسب در صورتی وارد پنداشته می شد که پیامبر علیه السلام مرتدی را با وجود اعتراف به ارتداد مجازات نکرده باشد، در حالیکه چنین موردی اصلاً اتفاق نیفتاده.

تقسیم بندی ارتداد به دو نوع ارتداد فطری و ملي که محقق نسب به آن اشاره کرده است، تقسیم بندی بی بنیاد و واهیست و هیچ ارزش دینی و علمی ندارد، ایمان و کفر مفاهیمی نیستند که به نسب انسان ارتباطی داشته باشد و از روی آن سنجیده شود، مؤمن کسیست که عقلاً و به اختیار خود معتقدات اسلامي را پذیرفته و به آن ایمان آورده است، هر چند پدر و مادر و آباء و اجدادش همه کافر باشند، و کافر کسیست که به این معتقدات بی باور است و از آن انکار می کند، و مرتد کسیت که پس از اظهار ایمان به این معتقدات به کفر قبلی اش برگشته است، و از مبانی اعتقادی اسلام انکار کرده است، اسلام برای تمامی اینها فقط اختیار، عقل و بلوغ را شرط قرار داده است، اسلام معتقد است که هر طفلی با فطرت سالمش مسلمان به دنیا می آید هر چند پدر و مادرش یهودی و مسیحی و مشرك باشد، این پدر و مادر است که او را یهودی و نصرانی و مجوسی می سازد.

این حرف ها نیز هیچ ارزش علمی ندارد که ارتداد در قرآن و ارتداد در روایت متفاوتند!! روایت از نظر اسلام حیثیت شرح و تفسیر آیت را دارد نه چیزی بیشتر از آن، اصل قرآن است و روایات صحیح شرح و تفسیر آن، روایتی که با قرآن نخواند باید آنرا به دیوار کوبید، ممکن نیست روایتی صحیح باشد و حرف مغایر قرآن در آن یافت شود.

محقق نسب بیش از آنکه به اثبات ادعای خود اهتمام داشته و دلایلی ارائه کند ، به تاخت و تاز بر روضه خوانها ، واعظ ها و ملا ها ترکیز نموده، و با مورد و بی مورد بر آنان تاخته است. مسئله خمس و زکات را به نحوی به بحث کشیده است که از آن وسیله تبلیغاتی علیه اینها درست کند ، می گوید: اکثر فقیهان یا مراجع تقلید حوصله تحقیق و بررسی را ندارند و تعداد زیادشان، استعداد و توانائی کافی را هم ندارند بلکي صرفا به منظور جمع آوری خمس و وجوه شرعی دیگر خود را به عنوان مجتهد و مرجع تقلید اعلام می نمایند...

به جناب ایشان می گوئیم:

- تأدیه خمس، عشر و زکات تکلیف شرعی است، که دولت اسلامي مکلف به جمع آوری آن بوده و در موارد مشخص آن که قرآن تعین نموده به مصرف می رسد ، قرآن هشت مورد مصرف این وجوه شرعی را مشخص کرده است و می فرماید:

إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاء وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِى سَبِيلِ اللّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ* التوبة: ٦٠

جز این نیست که صدقات برای فقراء، مساکین، مؤظفین بر آن، مؤلفة القلوب، رهایی برده ها ، مقروض ها ، در راه جهاد ، و مسافرین بوده، فریضه ای الهی است، و خداوند دانای باحکمت است.

به ایشان می گوئیم که نه جمع آوری زکات و عشر وظیفه فقیهان و مراجع تقلید است و نه در زمره موارد مصارف آن اشاره به ایشان شده است، قرآن موارد مصرف زکات را در این آیه مشخص ساخته و در هشت مورد فوق خلاصه کرده است، کسیکه آنرا حق مجتهد و مرجع می خواند سخنی خلاف قرآن گفته است. نه در قرآن و نه در روایات اصطلاحاتی چون مرجع تقلید ، مجتهد ، آیة الله العظمی، حجت الاسلام و المسلمین وجود ندارد و نه سهمی برای آنان در زکات و صدقات. این اصطلاحات قرنها بعد از صدر اسلام اختراع شده است.

- این را نیز به ایشان تذکر دهیم که پیامبر علیه السلام استفاده از زکات و صدقات را برای اهل بیت خود ممنوع قرار داده، و با این اقدام حکیمانه خود جلو آنرا برای همیش گرفته است که کسی به عنوان ارتباط نسبی با اهل بیت از دین دکانی برای خود درست کند و زکات و صدقات را حق خود بشمارد. همانگونه که در میان یهود قبیله ای بنام لاویها به میان آمد که هیچ کاری جز خدمت معبد نداشته، از این امتیاز بهره مند اند که صدقات و قربانی ها به ایشان تعلق می گیرد، در اسلام نه چنین معبدی وجود دارد و نه حقی برای خادم معبد، مسجد خانه خدا و خانه مشترك تمامی مسلمانان بوده امام و مؤذن آن نیز باید در برابر آذان و امامت خود مزد نگیرد. پیامبر علیه السلام با این اقدام حکیمانه خود جلو ایجاد فرقه شبیه لاویها در اسلام را گرفت. هر کي قبیله یا فرقه ای دارای امتیازات خاص مذهبی می سازد و سهمی در صدقات برای آن ادعا می کند، جعلکار است، در دین دستکاری کرده و از آن دکانی برای خود ساخته است، این بایبل محرف است که حق خدا را به خادم معبد می سپارد در حالیکه قرآن آنرا حق فقیر و مسکین می خواند.
- این را نیز باید به ایشان تذکر داد که اگر حکومت اسلامي وجود نداشت و قابل اعتماد نبود، و یا به اصل جمع آوری زکات و مصرف آن در موارد شرعی اش باور و التزامی نداشت، مسلمانان باید زکات و صدقات شانرا خود و یا از طریق شخصیتها، اداره ها و تنظیمهای مورد اعتماد شان در موارد فوق مصرف کنند.

در صورتیکه حقیقت امر از این قرار است چه مجالی برای اعتراض باقی می ماند؟

- مگر نمی دانید که قرآن علماء و مشایخ اهل کتاب (احبار و رهبان) را به این دلیل شدیداً محکوم می کند که از دین دامی ساخته بودند و از مذهب دکانی، عوام را می فریفتند و مال شان را به نام خدا به کیسه خود می زدند، مگر این آیه قرآن را نخوانده اید که در باره آنان فی فرماید:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّ كَثِيراً مِّنَ الأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللّهِ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ

يُنفِقُونَهَا فى سبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ * التوبة: ۳۴

ای مؤمنان! بیشتر علما و مشایخ (اهل کتاب) اموال مردم را به ناحق می خورند و از راه خدا باز می دارند ، و آنانکه سیم و زر کنز نموده و در راه خدا انفاق نمی کنند ، پس به عذاب دردناك بشارت شان ده.

مشاهده می کنید که قرآن این گروه را دشمن اصلي دین و مانع عمده در راه خدا می شمارد و مستحق عذاب دردناك الهی!! حامیان ارتداد نباید دین فروشان را بحساب دینداران بگیرند و جرم آنانرا به پای دین حساب کنند. دین حامی مظلومان و مستضعفان و پاسدار حقوق آنان و دشمن مستکبرین و مترفین است، و برای نجات مستضعفین از سلطه آنان آمده است. دینیکه در خدمت ستمگران باشد ، دین محرف و مردود است، و دینداری که دین را وسیله تخدعه مردم بسازد دشمن خدا و دین است.

هدف محقق نسب از تمام زحمتی که در تهیه این مقاله متحمل شده است فقط یك مطلب است و آن اینکه باید ارتداد قانوني شود!! سعی کرده این را به استناد قرآن ثابت کند ، مقاله اش را نیز به نام ارتداد از دیدگاه قرآن نام گذاشته است، روایات را قابل استناد نشمرده، آراء فقها را نیز قابل اعتنا نخوانده، به چند فقره چند آیه استناد کرده و فتوی داده که از دیدگاه قرآن، ارتداد جرم قابل مجازات نبوده، باید به آن وجهه قانوني داده شود!! کاش او در موقعیت دادن فتوی بود و ای کاش او در استنادش بر آیات نیز با دقت لازم عمل می کرد ، یقیناً که استناد او بر آیات شبیه به استناد کسیست که می گوید: در قرآن آمده است: ولا تقربوا الصلوة: به نماز نزدیك مشوید ، ویل للمصلین: وای بر حال نماز گزاران..

به حامیان آزادی ارتداد ، باید گفت: لازم است پای تانرا به اندازه گلیم تان دراز کنید ، با مطالعه چند کتاب پاره ای گمان نکنید که همه چیز را فهمیده اید ، و حال قادر به دادن فتوی شده اید ، ما مخالف آن نیستیم که شما به مرحله مفتی ها برسید ، ولی مفتی شدن شرایط خود را دارد ، همانگونه که داکتر و انجنیر شدن شرایطی دارد. در مورد چگونگی تعذیب دردناك مرتد باید به کسانی رجوع کرد

که از قرآن و حدیث آگاهی دارند ، مفتی های جسور بي خبر از قرآن و حدیث نباید جسارت صدور فتواهای ناشیانه را بکنند ، اتکاء به حمایت نیروهای بیگانه نباید آنانرا به حدی جسور سازد که معتقدات مردم شانرا به استهزاء بگیرند!

ارتداد در افغانستان و دفاع از آن بطور علنی و از طریق رسانه های خبری، را نمی توان به عنوان پدیدهٔ جدا از حالتی تعریف کرد که اشغال کشور توسط نیروهای اجنبی ایجاد کرده است، اشغالگران اسلام را به عنوان مانع اصلي در راه سیطره کامل بر افغانستان شناخته اند ، روسها در برابر اسلام بر ماتریالیزم ترکیز داشتند و امریکائیها بر سیکولریزم، هر دو ارتداد را تشویق می کردند ، تفاوت در این است که روسها به بیزاری از مذهب و خدا ستیزی دعوت می کردند ولی امریکائیها به مسیحیت مسخ شده ای دعوت می کند که هر کاری در آن جائز است، کفاره تمامی گناهان را مسیح با قربانی خود داده است، محبان مسیح مطمئن باشند که در برابر هیچ گناهی مواخذه نخواهند شد!! مگر برای جسارت بر گناه مشوق بهتر از این را سراغ دارید؟ کسانیکه به سوی ماتریالیزم روسي می رفتند اگر مذهب نداشتند ، مسلك و شعار داشتند ، برای این مسلك و شعارهای شان حاضر بودند علیه ملت و مردم خود بجنگند، ولی آنانکه به دام مسیحیت می افتند ، شعار شان آزادی از تمامی قیدهاست، حلال و حرام و خوب و بدی را نمی شناسند ، به هیچ چیز مقدسی باور ندارند ، برای هیچ هدفی حاضر به قربانی نیستند!! از نظر آنان هر کاری به شمول ارتداد را باید آزاد گذاشت، روابط جنسی باید آزاد گذاشته شود و محدود به روابط مشروع و قانوني نباشد ، شراب، قمار، سود ، احتکار، و هر آنچه مذهب حرام قرار داده است باید جایز شمرده شود!! ای کاش اینها پس از مطالعه بایبل به مسیحیت رو می آوردند و مرتد می شدند ، آنها نخست مسیحی می شوند بعد اگر فرصت یافتند بایبل را نیز می بوسند ، بایبل مجموعه ای از قصه های مضحك و بیهوده ای است که هیچ انسان عاقلی آنرا به عنوان کتاب مقدس نخواهد پذیرفت. نسل جدید اروپا و امریکا راه بغاوت از بایبل، کلیسا و پاپ را برگزیده اند ، و تصور ی را که بایبل از خدا ارائه کرده است نمی پذیرند ، اینها حق بجانب اند ، چنین تصوری را هیچ انسان عاقلی نمی پذیرد ،

بايبل به خدايان سه گانه باور دارد ، خدا را شبيه انسان مى خواند ، مى گويد خدا و يا فرزندش در چهره مسيح به زمين آمد ، از مريم تولد شد ، طفل بود به جوانى رسيد ، به صليب كشيده شد ، بر دست و پايش ميخها كوبيده شد ، بر پشت و پهلويش تازيانه خورد ، كشته شد ، دوباره زنده شد ، و اين همه براى آنكه خون او كفاره گناهان تمامى مسيحيان باشد!! عجيب است اگر افغانهاى مرتد اسلام عزيز را بر چنين مذهبى تعويض كنند!! به ايشان مى گوئيم: اگر قاضى اى مجرمى را معاف كند و بى گناهى را مجازات نمايد ، و يا يكى را به خاطر ديگرى مكافات يا مجازات كند ، آيا او را بى انصاف و ظالم نمى خوانيد؟ چگونه اين بى عدالتى را به خدا نسبت مى دهند؟ بايبل خدا را چون قاضى غير عادل مى شمارد!! مگر ممكن است خداى عادل به اين خاطر به كشته شدن يگانه فرزند و تعذيب و شكنجه اش رضايت داده است تا خون او كفاره اى براى تمامى مسيحيان باشد؟!! مگر چنين قضاوتى سخت ظالمانه و مغاير عدالت نيست؟

امريكا مى خواهد در مقابله با اسلام (به اصطلاح آنان بنياد گرائى اسلامي) تمامى افراد و گروههاى مرتد را استخدام كند ، اگر در كابينه فعلى سهم قابل ملاحظه اى به كمونستها داده شده دليل آن همين است، درامه ارتداد عبدالرحمن پنجشيرى، اعتراف معلنش، دستگيرى اش، عكس العمل فورى و جدى جورج بش، تونى بلير، پاپ و ديگران ، رهائى بلاتأخيرش و اعزامش به ايتاليا ؛ براى آن بود تا به افغانهائى كه مرتد شده اند و به مسيحيت رو آورده اند ، ولى از بيم عكس العمل مردم ارتداد شانرا اظهار نمى كنند ، اطمئنان بدهند كه اكنون افغانستان در اختيار رفقاى شماست، حكومت و زمامدارانش يا چون شما اند و يا در خدمت شما ، هيچ كسى نمى تواند شما را به جرم ارتداد محاكمه كند ، ارتداد در افغانستان پديده ايست كه به ستراتيژى دراز مدت نيروهاى صليبي در مقابله با اسلام گره خورده است، تبليغات به حمايت از ارتداد نيز جزء اين ستراتيژى است، غرب بيدارى امت اسلامي را تهديد جدى به منافع استعماري خود مى شمارد ، آنها حاضر نيستند بساط سلطه چند صد ساله سياسي، نظامي و اقتصادي شان بر كشور هاى اسلامي برچيده شود ، براى دوام وضع موجود و جلوگيرى از قيامهاى

آزاديخواهانه با تمام نيرو و توان خود وارد معركه شده، امت اسلامي هم از لحاظ فكري و اخلاقی مورد هجوم گسترده غرب قرار گرفته و هم از لحاظ نظامي، هجوم بر افغانستان و عراق و اصرار بر ادامه جنگ از همين تصميم شوم و از همين ستراتيژی خبيث مايه می گيرد.

والسلام علی من اتبع الهدی

حكمتيار

۱۳۸۵۱۴۱۲۵

بسم الله الرحمن الرحيم

# د لبنان اوربند

لکه څنګه چي پر لبنان د اسرائيلو بريد د نړيوالو لپاره ناڅاپي وو همداراز هلته داسي ژر اوربند، په اوربند باندي د ټولو اړخونو توافق او د لبنان په جنوب کي د ملګرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو ځای په ځای کېدا د انتظار خلاف او ناڅاپي کار وو. د دې ناڅاپي جنګ او د داسي ژر ختمېدو په اړه ئې څو خبري د پام وړ دي:

- دا جنګ چا پيل کړ؟ او بريا د چا په برخه شوه؟
- اوربند او د لبنان په جنوب کي د بهرنيو ځواکونو ځای په ځای کېدل د چا په ګټه دی؟
- اسرائيل وايي چي د دوی جنګ له ايران او سوريې سره وو، **حقيقت څه دی؟**
- آيا د اسرائيل پر سرحدي ښارونو د ځلورو زرو ميزايلونو وېشتل، د حزب الله بريا ګڼل کېدی شي؟
- ايراني چارواکو ولې ګيله کوله چي د اسلامي امت **عکس العمل** سوړ وو؟ آيا تهران د دې ګيلې حق لري؟ د دې سوړ غبرګون وجه څه وه؟

که د لبنان پېښنو ته لږ ځير شو، سوابق ئې او داسي ژر د يوه پراخ جنګ پيلېدل په پام کي ولرو نو دا نتايج ترلاسه کولی شو چي:

- تل ابيب د جنګ لپاره پوره تياری درلود، له دې خبر وو چي حزب الله ته په ډېر شمېر کي ميزايلونه ورکړی شوي او د لا زياتو وسايلو د لېږلو لړۍ په سرعت سره روانه ده، د جګړې د پيلولو لپاره مناسب وخت ته منتظر او د بهانې په لټه کي وو، د حزب الله لخوا د دوو اسرائيليانو تښتونې دا پلمه په لاس ورکړه، دې

اختطاف اسرائیلي چارواکو ته دا شرایط برابر کړل چي نه یوازي د خپل ولس ملاتړ ترلاسه کړي بلکي د خپلو خواخوږو او بې طرفو هېوادونو حمایت هم جلب کړي، پړه پر حزب الله واچوي او عکس العمل د اسرائیلیانو حق وګڼي!!

• اسرائیلي چارواکو ته دې خبري خاص اهمیت درلود چي پر لبنان د برید په وجه ئې څوك په داخل او بهر کي ملامت نه کړي، په فلسطین کي د دوی جنایات او د نړیوالو ورځ په ورځ زیاتېدونکی عکس العمل او غندنه ورته کافي وه چي پرې نږدې پر لبنان د یرغل غندنه پرې اضافه شي.

• د اسرائیلیانو لپاره مهمه خبره دا وه چي حزب الله د لبنان له جنوبه وباسي، له لبنان سره خپل سرحد خوندي کړي، د دې سیمي اداره د هغه لبناني حکومت په لاس کي پرېوځي چي امریکایان ئې ملاتړ کوي او د دې لپاره چي د لبنان حکومت په یوازي سر د دې دندې له عهدې نه شي وتلی نو دلته د ملګرو ملتونو کافي شمېر سوله ساتي فوځ ځای په ځای شي. صهیونستان په دې باور دي چي دوی په جګړې کي خپلي ټولي موخې ترلاسه کړې، په خپل برید سره ئې دا سیمه له خلکو تخلیه کړه، نږدې یو ملیون خلك وتلو ته اړ شول، اسرائیلیانو غوښتل چي د دې سیمي د اوسېدونکو خوا خوږي د حزب الله په اړه له منځه ولاړه شي او وتونکي خلك د دې ستونزي پړه پر حزب الله واچوي، دا عادي خبره مه ګڼئ چي حزب الله له جګړې وروسته تر هر څه مخکي دا اعلان کوي چي بې ځایه شوو خلکو ته به تر یوه کاله د کور کرایه ورکوي، هر چا ته دا حقیقت څرګند دی چي نه د لبنان حکومت دا مالي توان لري او نه ئې کوم سیاسي حزب، په دې کي هیڅ شك نه شته چي د دې خبري د کولو لارښوونه د هغو ملکونو لخوا ورته شوې چي د حزب الله د تمویل ذمه واري په غاړه لري، د دغو ملکونو دا مرسته د بې دریغه سخاوت نښه نه بلکي د دوی د یوه خاص مجبوریت نښه ده، که دا کار ونه کړي د حزب الله ټغر ټولېږي او د ولس هر راز خواخوږي د تل لپاره له لاسه ورکوي. هر چا ته د دغو ملکونو د سخاوت کچه ښه معلومه ده، له فلسطینیانو نه د دوی د سخاوت په اړه پوښتنه وکړئ، څومره مرسته ئې ورسره کړې او څومره مهاجرینو ته ئې پنا ورکړې!!

• صهیونستان په دې وتوانېدل چي له یوې خوا د حزب الله ډېر مراکز او ډېرې

وسلې تخريب کړي او له بلي خوا د ملګرو ملتونو د امنيت شورى هغه ۱۷۰۱ نمبر پرېکړه ليك ترلاسه کړي چي سل په سلو کي د دوی په ګټه وو، د دوی ټولي غوښتني ئې تأمين کړې، د دې پرېکړه ليك په حکم دا دی د لبنان په جنوب کي د لبناني فوځ پنځلس زره فوځ او د دوی د مرستي لپاره د ملګرو ملتونو پنځلس زره فوځ ځای په ځای کېږي!! په پرېکړه ليك کي له حزب الله نه غوښتل شوي چي پر اسرائيل له بريدونو ډډه وکړي خو اسرائيلو ته له ځانه د دفاع حق ورکړل شوی!! تل ابيب وايي چي د سوله ساتي فوځ په ترکيب کي به د هغو هېوادونو فوځونه برخه نه اخلي چي له اسرائيل سره سياسي اړيکي نه لري، د اندونيزيا او مليزيا برخه اخيستل نه مني او د دې خبري معنى دا ده چي دلته به يوازي د اروپايي هېوادونو فوځونه ځای په ځای کېږي!!

- د پرېکړه ليك روحيه دا ده چي د لبنان پر جنوب به د لبناني حکومت سلطه قائمېږي او د دې معنى دا ده چي هلته به له ځلوېښتو کلونو نه وروسته د چارو واګې د لبناني حکومت په لاس کي پرېوځي، د حزب الله هغه واکمني به پای ته رسي چي د سوريې د فوځ په مرسته ئې ترلاسه کړې وه، نظامي مرکزونه به ئې له منځه ځي او خپله وسله به د لبنان حکومت ته سپاري!! د لبنان د دفاع وزير چي په دې اړه څه ويلي د پرېکړه ليك موخه او مقصد په واضح توګه بيانوي، هغه په خپلي لومړۍ مرکي کي وويل: (د لبنان ټول جنوب به د لبناني فوځ په واك کي وي، هلته به هيڅ ځای د فوځ له واکه نه وي وتلی، هلته به هيڅ وسله د فوځ له واکه بهر نه وي!!) په دې خبري کي د ابهام ټکی نه شته، دا حزب الله او بل هر چا ته واضح پيغام له ځان سره لري!! او دا همغه څه دي چي اسرائيلو غوښتل او امريکايانو د ملل متحد له لاري ورته په لاس ورکړل!!

- د صهيونست رژيم لپاره دا ډېر ګټور اقدام وو چي په لبنان کي زيات پاتې کېدو ته اړ نه شو او د داسي يوه پرېکړه ليك له ترلاسه کولو وروسته ډېر ژر له لبنانه ووت، د حزب الله لپاره هم او د حزب الله دوو بهرنيو حاميانو لپاره هم تر ټولو مهمه خبره دا وه چي اسرائيلي فوځ د څه مودې لپاره په لبنان کي پاتې او له هغه برخليك سره مخامخ شوی وي چي نن ئې حاميان په عراق او افغانستان کي ورسره

مخامخ دي، د سوريې او ایران له لوري حزب الله ته د ډېرو میزایلونو د ورکولو لویه او اساسي موخه دا وه چې تل ابیب او واشنګټن په یوې بلې جګړې کې رانښکیل کړي او پر ایران او سوریې د دوی د برید مخه ونیسي، حزب الله وتوانېدو چې دا جګړه پیل کړي خو په دې ونه توانېدو چې اسرائیلي فوځ په اوږد چریکي جنګ کې رانښکیل کړي!!

• دې ته باید متوجه وو چې پر لبنان برید د دې لپاره نه دی ترسره شوی چې اسرائیل ئې ونیسي، د یوه ملك د نیولو لپاره هیڅوك هم لس زره فوځ کافي نه ګڼي، امریکایانو د هلمند د نیولو لپاره لس زره فوځ دې ولایت ته ولېږو خو موفق نه شول، اسرائیل به څنګه د لبنان د نیولو په موخه دومره لږ شمېر فوځ هغه هېواد ته لېږي؟! دې ته هم باید متوجه وو چې دا د صهیونستانو هوښیاري وه چې د زیات شمېر له لېږلو او د اوږدې مودې لپاره هلته له پاتې کېدو ئې ډډه وکړه، په عراق کې د امریکایانو له دې غلطۍ نه دوی ښه درس اخیستی وو.

• دا هم باید له پامه ونه غورځوو چې دا په عراق او افغانستان کې د مجاهدینو مقاومت وو چې لبنانیانو ته ئې د مقاومت روحیه ورکړه او په دې ئې متیقن کړل چې که د یو نیم لك مجهز امریکایي فوځ مقابله ممکن وي نو د لس زره اسرائیلي فوځ مقابله به ولې ممکن نه وي، که عراقیان او افغانان جنګېدی شي موږ ولې نه شو جنګېدی!!

• پر اسرائیلي ښارونو او کلیو د میزایلونو پرېوتل یو نوی انکشاف دی او په خپل ځای کې اهمیت لري، خو دې ته د ستري بریا نوم ورکول هسې مبالغه ده، که دومره میزایلونه د اسرائیلو په نظامي مرکزونو ورېدلي وی، نو دا یوه بریا ګڼل کېدی شوه خو پر ښارونو راکتي بریدونو ته د بریا نوم ورکول یا د هغه چا کار کېدی شي چې له حقایقو بې خبره وي او یا د هغه چا چې د جګړې د یوه پلو د تبلیغاتي ټیم غړی وي!! موږ نه وایو چې حزب الله د دې کار حق نه درلود، دا یو بالمثل اقدام وو، صهیونستانو پر لبناني ښارونو بمونه ورول او دوی ئې په ځواب کې د اسرائیل په لوري راکټونه توغول، داسي بمباری او توغندويي بریدونه یوازي د هغه چا لپاره ګټور وي چې د خپل فوځ د مخکې تلو لپاره لار آواروي او یا

يو حکومت دې ته اړ کوي چي د دوی شرايطو ته غاړه کښږدي، له دې پرته د ګټې پر ځای تاوان کوي او ډېر ځلې ئې ګټه دښمن ته رسېږي، د افغانانو په ياد دي چي د کابل چارواکو به په خپله او د خپلي واکمنۍ لاندي سيمو باندي راکټې ورولې او تور به ئې پر خپلو مخالفينو لګاوو ، په دې سره به ئې غوښتل چي د ولس خواخوږي جلب کړي او دفاع ته ئې وهڅوي.

• د تل ابيب صهيونست چارواکي په دې وتوانېدل چي خپل ولس او نړيوالو ته دا تصور ورکړي چي د دوی جګړه له حزب الله سره نه بلکي له سوريې او ايران سره وه او حزب الله له دې پرته چي د دغو ملکونو مليشه وي او د دوی راکټونه د اسرائيل په لوري وتوغوي، بل څه نه دي!! په اسرائيل او لبنان کي او له لبنان او اسرائيل نه بهر د دې ذهنيت راپيدا کېدل، د حزب الله او د هغه د بهرنيو حاميانو په ګټه نه دی. په نړيوالې سطح د جګړي په اړه سوړ غبرګون او په اسلامي نړۍ کي د حزب الله په اړه د خواخوږۍ د عدم اظهار ډېر نور وجوهات هم شته خو يوه لويه وجه ئې همدا وه، بله ستره وجه ئې د ايران او ټولو شيعه ګانو هغه دريځ وو چي دوی د افغانستان او عراق په اړه غوره کړ، ايران پر افغانستان او عراق د امريکايانو د بريد ملګرتيا وکړه، شيعه ګانو او خپلو پلوي ډلو ته ئې امر وکړ چي له امريکايانو سره يو ځای شي، د امريکايانو تر سلطې لاندي حکومتونو کي برخه واخلي، خپلي هغه وسلې اشغالګرانو ته وسپاري چي ايران ورکړې وې، په فوځ او پوليس کي شامل شي او د امريکايي قومندانانو تر قومندې لاندي د سنيانو په ضد وجنګېږي، دا نن چي په افغانستان او عراق کي کوم داخلي فوځ او پوليس له مجاهدينو سره جنګېږي؛ له همدغو ډلو جوړ شوي، دا چي هره ورځ اورئ د ناپېژاندو کسانو په لاس چي د پوليس او فوځ په يونيفورم کي ملبس او مول ئې وهلي وو ، د بغداد په ښار کي، سنيان تښتول شوي، تعذيب شوي، په ګوليو سوري سوري شوي او په سر تړلو تورو کڅوړو کي دلته او هلته غورځول شوي، دا ټول د همدغو ډلو کار دی، له هر مسلمان سره دا پوښتنه شته چي څنګه د هغه چا په نسبت خواخوږي وښيو چي د عراق او افغانستان مجاهدينو ته تروريست وايي، خو حزب الله يانو ته مبارز!! د عراق او افغانستان د مجاهدينو په ضد له کفري

ځواکونو سره ملګرتیا کوي، نه پر دغو هېوادونو بریدونه غندي، نه د اشغال د دوام مخالفت کوي، نه یوازې له مجاهدینو سره مرسته نه کوي بلکې د مجاهدینو د وژلو او نیولو په اړه له دښمن سره مرسته کوي، د داسې هېواد او په هغه پورې د تړلې ډلې په نسبت به څنګه یو مسلمان خواخوږي وښیي؟!

• له هیڅ جهادي حزب سره دا نه ښایي چې د بهرنیو ځواکونو په شته والي کې اوربند ومني، نه دین د دې اجازه ورکوي او نه سیاسي بصیرت، که موږ دا ومنو چې یو کفري ځواک برید وکړي، زموږ خاوره ونیسي، د خپلې خوښې فیصله پر موږ وتپي، بیا خپل وتل په دې پورې مشروط کړي چې د دوی ځای به بل کفري ځواک نیسي او موږ هم دا ورسره ومنو او اوربند ته غاړه کېږدو، دا خو د ټولو اسلامي هېوادونو د نیولو ډېره آسانه طریقه شوه، بیا خو په کار ده چې افغانان هم په هغه وخت کې اوربند ومني چې امریکایان وځي او خپل ځای ناټو ته پرېږدي، دا اوس د لبنان له حملې درې اونۍ مخکې امریکایانو په ارزګان، هلمند او کندهار کې د دې لپاره پراخ عملیات پیل کړل او لس زره فوځ ئې هلته په جګړې کې ښکیل کړ چې غوښتل ئې په دې سیمې کې مقاومت وځپي او د ناټو د ځواکونو د ځای په ځای کېدو لپاره لار آواره کړي، د ناټو ځواکونه د سوله ساتو تر غولوونکي نامه لاندې هلته مستقر شول، دا ځواکونه نن په دې سیمې کې همغه کار کوي چې امریکایي ځواکونو کاوو، مخکې ئې نوم د ائتلاف ځواکونه او اوس د ایساف ځواکونه، د اسرائیلو دولت خو همدغو ځواکونو په فلسطین کې مستقر کړ چې نن به ئې فوځونه د سوله ساتو تر نامه لاندې په لبنان کې مستقر کېږي!! موږ حیران یو چې ایران او حزب الله څنګه داسې اوربند ته غاړه ایښودل او د اروپایي ځواکونو استقرار ته د بریا او فتحې نوم ورکوي؟!!

• له وضعې معلومېږي چې حزب الله د دوو کسانو اختطاف داسې غلطي ګڼي چې په مستقبل کې د داسې کار د بیا تکرار اراده نه لري، ځکه ئې اور بند، د لبنان جنوب لبناني فوځ او د ملګرو ملتونو فوځ ته سپارل ومنل. له دغو خبرو په ډېر صراحت سره معلومېږي چې حزب الله به خپله وسله هم د لبنان فوځ ته داسې سپاري لکه ملګرو ئې چې په افغانستان او عراق کې وسپارله.

- د خلکو انتظار دا نه وو چي حسن نصر الله به د مقتدا صدر په څېر عمل وکړي، هغه هم ځو ورځي د امريکايانو په ضد د مقاومت اکتونه وکړل او د نجف له سپارلو ئې ډډه کوله، ايراني هيئت ورغی چي قانع ئې کړي، ورپسې سيستاني لندن ته وغوښتی شو، هلته ئې بنه (معالجه) وشوه، له (نوې جذبې) سره د کويټ له لاري او د انګرېزانو په طيارې او هليکوپټر کي او بيا د ګاډو په ذريعه نجف ته ورسول شو، مقتدا صدر ئې قانع کړ او هغه هم د نجف کنجيانې وسپارلې او هم ئې خپله وسله؛ او په امريکايي حکومت کي ځو ذليلې کرسۍ ورکړی شوې!! مبارزه، جهاد او مقاومت ئې ختم شو، همدا کانه په لبنان کي تکرار شوه، يوه مياشت د مقاومت خبري د امنيت د شوری د پرېکړه ليك مطابق پای ته ورسېدې او د لبنان جنوب بهرنيو ځواکونو ته تسليم شو!!
- هغو خلکو ته حيران يو چي د حس نصر الله د دغه ځو ورځني مقاومت او د اسرائيل د سرحدي ښارونو په لوري د ځو ړندو راکټونو توغولو په کلکه او له مبالغو نه په ډکو الفاظو ستاينه کوي، خو د نيويارك ستره پېښه چي په بشري تاريخ کي ئې بېلګه نه مومو، تروريستي عمل ګڼي!!! او اسامه بن لادن ته تروريست وايي، دا قضاوتونه د هغه چا دي چي جنرال ضياء الحق ته ئې له دې امله ديکتاتور ويل او تر ننه ئې د خپلو تبصرو په ترڅ کي د ديکتاتور په نامه يادوی چي د افغان مجاهدينو مرسته ئې کوله، خو د جنرال پرويز مشرف نوم په دې خاطر په احترام سره يادوی او هيڅکله د فوځي ديکتاتور لقب نه ورکوي چي د همدغو مجاهدنو په ځپلو، نيولو او وژلو کي ئې د امريکايانو مرسته وکړه!! لعنت د تور زړو روافضو په داسي قضاوت!!
- د لبنان په جنوب کي د اسرائيلو عمليات کاملاً هغسي وو چي امريکايي ځواکونه ئې د افغانستان په جنوب، غرب او شرق کي ترسره کوي، د دواړو موخه سره ورته ده، امريکايان هم غواړي دا سيمي له مجاهدينو تخليه کړي او د کابل د امريکايي حکومت په واك کي ئې ورکړي، صهيونستانو همدا کار وکړ، د لبنان جنوب ئې اشغال کړ او د بيروت امريکايي حکومت ته ئې وسپارو، اوس به د بېرش زره فوځ پر دې سيمي د بيروت واکمني تپي، د لبنان او اسرائيل ګډه پوله به ساتي

او چا ته به د دې اجازه نه ورکوي چې له دې ځایه د اسرائیلو په لوري توغندي وتوغوي!! پوښتنه دا ده چې آیا د دومره لبنانیانو ویني د همدې لپاره توی شوې؟ آیا دې ته هم د فتحې نوم ورکولی شو؟!! دا صحیح ده چې د هغه چا هم باید قدر وکړو چې د دښمن په لوري یوه وړه ډبره ولي، د مخالفت یوه خبره ئې له خولې وځي، دا هم باید تشویق کړو او د مزید څه کولو لپاره ئې وهڅوو، خو دا له انصافه لرې او د ایمان منافي قضاوت دی چې د مذهبي تعصب له امله د یوه په ستر کار خاورې واړوو او د بل بام ته ختل آسمان ته ختل وګڼو!!

• عجیبه ده چې څوك د عراق د بعث حزب مرتد ګڼي او د سوریې د بعث حزب په اوو کتابونو مؤمن او انقلابي!! د هغه چا ایمان او اسلام ته حیرانېږو چې د شیعه وینه ورته وینه معلومېږي او د سني وینه ورته خټه!! پر عراق او افغانستان باندي د بریدونو په خلاف سکوت غوره ګڼي او په افتخار سره وایي چې موږ د بغداد او کابل په نیولو کې له امریکایانو سره مرسته وکړه او که زموږ مرسته نه وی نو نه ئې کابل داسې ژر او په آسانۍ نیولی شو او نه بغداد!! خو پر لبنان د برید په اړه په دې له ټولو مسلمانانو ګیله لري چې ولې ئې مظاهرې ونه کړې او ولې ئې دا برید پر ټول اسلامي امت برید ونه ګاڼو!! دوی ته وایو: تاسو په سر کې او د نیویارك له پېښې وروسته وویل چې په اسلام کې ځان وژنه حرام ده!! خو کله چې ایران په برید وګواښل شو نو تاسو وویل چې موږ څلوېښت زره سر تېرې د شهادت طلبانه عملیاتو لپاره چمتو کړي!! که تاسو له دغو نه څلوېښت ئې لبنان ته لېږلي وی نو له نورو مو د شکایت او ګیلې حق درلود، یقیناً چې په هغه صورت کې به د صهیونستانو د مرګ ژوبلې شمېر تر نن ډېر زیات وو!

• مسلمانانو ته په کار دا ده چې خپل داخلي اختلافات شا ته وغورځوي، که دا مذهبي رنګ لري او که سیاسي، یو بل ته د وحدت لاس ورکړي، په ګډه د دښمن مقابله وکړي، که پرون ئې دا کار نه کاوو اوس خو ئې باید وکړي، اوس خو باید ټولو ته معلومه شوې وي چې دښمن د ټول اسلامي امت په ضد شوم عزایم لري، نه سني پرېږدي او نه شیعه، که دلته شیعه د سني په ضد جنګوي؛ نو آبل ځای کې له شیعه سره همغه څه کوي چې له سني سره ئې کوي، هیڅ عاقل انسان د خپل داخلي

رقيب په ضد له اصلي دښمن سره ملګرتيا نه کوي، بلکي د بهرني خطرناك دښمن د مقابلې لپاره داخلي رقابتونه هېروي، په کار ده چي مسلمانان په هر اسلامي ملك تېرى پر ټول اسلامي امت تېرى وګڼي، داسي نه چي پر يوه هېواد تېري ته خوښ وي، دا ځکه چي د ده رقيب ورته راپرځوي او په بل باندي تېرى د دې لپاره په ټول امت تېرى ګڼي چي له ده سره ئې مذهبي تړاو شته!!

بريالي دي وي مجاهدين
سرلوړى دي وي اسلامي امت

حکمتيار
افغانستان
۱۳۸۵۱۵۱۲۴

بسم الله الرحمن الرحيم

# پر لبنان د صهيونستي رژيم بريد

پر لبنان د صهيونستانو بريد د صليبي ځواکونو څلورمه جګړه ده چې د مسلمانانو او اسلامي امت په ضد ئې پيل کړې، پر افغانستان بريد د دې جګړې پيلامه وه، ټول اسلامي امت ته په کار ده چې جهاد ته ملا وتړي او په ګډه او هر ځای کي د دښمن مقابله وکړي، که دا کار ونه کړي نو همداسي به يو په بل پسې په اسلامي هېوادونو بريدونه کېږي، دښمن په کابل، بغداد او لبنان اکتفاء نه کوي، پر لبنان د صهيونستانو بريد وروستی بريد مه ګڼئ، دښمن د ټول اسلامي امت په اړه خطرناك او شوم عزايم لري.

که د اسلامي امت بې همتو واکدارانو پر افغانستان او عراق باندي د صليبي ځواکونو د يرغل مرسته نه وی کړې، که د امريکا په ځای له هغه الله تعالى وېرېدلي وی چې د عرش مالك او د ځمکي او آسمانونو ټولواك دی، که ئې د مظلومو افغانانو او عراقيانو مرسته نه شوی کولی لږ تر لږه ئې د دوی په ضد د ظالم ملګرتيا نه وی کړې، نو نن به ئې د لبنان د فاجعې ننداره نه کوله، د اسلامي امت په واکمنانو کي داسي يو څوك هم راپيدا نه شو چې د وينزويلا او شمالي کوريا د جمهورو رئيسانو په څېر د امريکا په وړاندي د غيرت او شهامت خبره وکړي!! هر يو ئې د خپل اقتدار په غم کي او خپله بقا د پرديو په حمايت کي لټوي!! دا څکه چې پر خپلو ولسونو د پرديو په زور تپل شوي او له خپلو ملتونو وېرېږي!! هغه چارواکي به الله تعالى او خپل ولس ته څه ځواب وايي چې په عراق او افغانستان کي ئې نه يوازي د امريکايانو ملګرتيا وکړه بلکي په دې ملګرتيا ئې افتخار کاوو او ويل ئې چې داسي ملګرتيا ته په هر ځای کي تيار يو!! چا چې افغاني او عراقي مجاهدينو ته تروريستان ويل نن په کومو سترګو لبنانيانو ته مبارزين وايي؟!! دوی

خو پر لبنان باندي روان بريد کي له اسرائيل او امريکا سره په جرم کي شريك دي، د دوی سياستونو دښمن ته پر اسلامي ملکونو د بريدونو جرأت ورکړی، دا دوی وو چي خپلو پلوي ډلو ته ئې وويل: د سنيانو په ضد جنگ کي له صليبي ځواکونو سره ملگري شئ!! دا اوس اوس د دوی پلوي ډلي په افغانستان او عراق کي د مسلمانانو په ضد په ټولو جگړو کي د امريکايانو تر قومندې لاندي برخه اخلي!! په عراق کي د شيعه او سني جنگ د دوی ملگرو، د دښمن په وينا او د هغه په گټه پيل کړی، د بدر او مهدی لښکرې د دې په ځای چي د امريکايانو او انگرېزانو مقابله وکړي خپلي وسلې ئې دښمن ته وسپارلې، دا همغه خلك دي چي په عراق کي له لبنانيانو نه د دروغجنې دفاع په نامه په رياکارۍ سره کفنونه پر سر تړي او مظاهرې کوي، خو پر کربلا او نجف ئې د امريکائي بيرغ رپېدل ومنل، همغه دي چي نن د عراق او افغانستان په فوځ او پوليس کي شامل شوي او د مسلمانانو په ضد جنگېږي. د ځينو تورمخو پر تور زړه د کرکجن تعصب داسي پرېړه توره پرده خوره ده چي د سنيانو په ضد حتی له (شيطان بزرگ) او يهودانو سره هم ملگرتيا ته چمتو دي!! دوی ته د شيعه وينه وينه ښکاري او د سني وينه اوبه!!

د لبنان جنوب ته د اسرائيلو لس زره فوځ ننوتی، خو د افغانستان په هلمند او ارزگان کي له اوه اونيو راهېخوا د امريکا تر مشرۍ لاندي د اشغالگرو ځواکونو تر لس زره زيات فوځ د مظلومو افغانانو په بې رحمانه وژنو لگيا دی او تر اوسه ئې د دوی د اعتراف له مخې يو لس سوه افغانان وژلي!! په نوزاد کي ئې نږدې درې سوه ښاريان ووژل، خو موږ نه له تهرانه د دغو مظلومو افغانانو په اړه د خواخوږۍ غږ واورېدو او نه له اسلام آباده!!

موږ د خپلو مسلمانو لبناني ورونو په نسبت همدومره خوا خوږي لرو لکه د فلسطينيانو، عراقيانو او کشميريانو په نسبت چي ئې لرو، پر لبنان د صهيونستانو بريد همداسي غندو لکه پر افغانستان او عراق د صليبي ځواکونو بريد، که ايران افغانانو ته لار ورکړي نو دوی دې ته هم تيار دي چي عراق او لبنان ته د جنگ لپاره ولاړ شي، کوم امکانات او وسايل چي د حزب الله په واك کي ورکړی شوي که د دې سلمه برخه د افغان مجاهدينو په واك کي وی نو نه به امريکا

تر ننه په افغانستان کي پاتې وه او نه به صهیونستانو پر لبنان د برید جرأت کړی وو.

هغه خلك چي پر لبنان د صهیونستانو د یرغل په خلاف د اسلامي ملکونو عکس العمل سوړ ګڼي او شکایت ترې لري، باید پوه شي چي افغانان له دوی او له ټولو هغو واکمنانو تر دې زیات شکایت لري چي د دوی اسلامي جهاد ته د تروریزم نوم ورکوي او د دوی په خلاف ئې د اسلام له دښمنانو سره لاس یو کړی!! الله تعالی حتماً هغه چا ته سزا ورکوي چي له مظلوم نه د دفاع په ځای له ظالم سره ملګرتیا کوي، الله تعالی به حتماً هغو ملکونو ته سزا ورکوي چي پرون د مظلومو افغانانو او عراقیانو په ضد له امریکایانو سره ملګري شول او نن پر لبنان باندي د برید له غندنې ډډه کوي.

لبنانیانو ته زموږ توصیه دا ده چي پر خپل خدای توکل وکړئ، مقاومت ته ملا وتړئ، د عراقي او افغاني مجاهدینو په څېر د دښمن مقابله وکړئ، د زرقاوي شهید په څېر باایمانه مشران ځان ته غوره کړئ، له ګاونډیو او په دوی پورې له ټولو ډلو نه هیڅ طمعه مه کوئ، ګاونډیان مو د آزادي غوښتونکو نه بلکي د خپلو غلامانو مرسته کوي، هغه چا ته وسلې او پیسې ورکوي او جنګوي ئې چي د دوی د ګټو لپاره د خپل ولس او ملت ګټې قرباني کړي. همت وکړئ!! إن شاء الله تاسو کولی شئ دښمن ته ماتې ورکړئ، څوك چي نن او د اسرائیلي فوځونو په شته والي کي د اوربند خبري کوي، پر هغوی باور مه کوئ، له هغوی نه وپوښتئ چي نو پرون او هغه مهال چي صهیونستانو پر لبنان یرغل نه وو کړی ولې مو د جنګ خبري کولې؟!! ولې مو صهیونستانو ته د لوی برید بهانه په لاس ورکړه؟!! دوی خو تر پرونه د عراقي مجاهدینو په ضد دا تبلیغات کول چي په خپلو بریدونو سره بهرنیو ځواکونو ته په عراق کي د مزید پاتې کېدو پلمه په لاس ورکوي، اوس باید نورو ته هم دا حق ورکړي چي ووایي: صهیونستان د یوه سازش په نتیجه کي لبنان ته ننوتي او په دې سازش کي هغه کسان لاس لري چي دوه اسرائیلیان ئې په اسارت نیولي وو او همدا پر لبنان د یرغل سبب شو!! چا چي د نیویارك او واشنګټن عملیات تروریستي عملیات ګڼل او له امریکایانو سره ئې خواخوږي اعلانوله، نه پوهېږو

چي اوس ځنګه د حزب الله عمليات او د اسرائيلو په ښارونو راکټي بريدونه تروريستي عمليات نه ګڼي!! چا چي د امريکايانو د خوشحالولو لپاره مسلمان مجاهدين نيول او دښمن ته ئې لاس تړلي سپارل، د دوی کورنۍ ئې له خپل هېواده ايستلې، بنديزونه ئې پرې لګول، حسابونه ئې ورته منجمد کول، اوس دې د خپلي ګناه سزا ګاللو ته چمتو شي، د امنيت د شورى له لوري تحريمونو ته دې تيار شي!! دا د مالك الملك خدای نه بدلېدونکی سنت دی چي د ظالم ملګري ته به د همدې ظالم په لاس سزا ورکوي!!

دا د ټول اسلامي امت فريضه ده چي په فلسطين، افغانستان، عراق او لبنان کي د مسلمانو مجاهدينو مرسته وکړي، په جهاد کي عملاً برخه واخلي، په ژبه، قلم، مال او نفس سره د دوی ملا تړ او ملګرتيا وکړي، الله تعالى به له هيچا په دې ستر او عام جهاد کي د برخي نه اخيستلو هيڅ بهانه او مات ګوډ عذر قبول نه کړي. اسلامي امت ته اطمئنان ورکوو چي امريکا به إن شاء الله په افغانستان او عراق کي له ماتې سره مخامخ او د شوروي اتحاد په برخليك به اخته کېږي او د دوی بړبخي او لاس پوڅي صهيونستان به د لبنان او فلسطين پرېښودو ته اړ کېږي، إن شاء الله دا پېړۍ د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې او د لوی او سرلوړي اسلامي خلافت د تأسيس پېړۍ ده، مسلمانان ويښ شوي او نور نو له دې زيات د پرديو اسارت او غلامي نه شي زغملی.

ژوندي دي وي مجاهدين

رپانده دي وي د اسلام بيرغ

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۵۱۵۱۱۵

بسم الله الرحمن الرحيم

# د استقلال ورځ

وَ مَن يُقَتِلْ فی سبيل اللّهِ فَيُقْتَلْ أوْ يَغْلِب فَسوْف نُؤْتِيهِ أجْراً عَظِيماً

گرانو هېوادوالو!

زما د ايمان او عقيدې ورونو او خوېندو!

غيرتي او با ايمانه مجاهدينو! السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

نن له انگرېزانو نه د استقلال ورځ لمانځل کېږي! دا ورځ موږ ته راپه يادوي چي الله تعالی زموږ مجاهدو پلرونو ته ۸۷ کاله د مخه پر انگرېزانو بری ورکړ، داسي لکه چي ۱۷ کاله د مخه ئې د شوروي اتحاد پر ځواکونو موږ ته بريا راپه برخه کړه، خو راشئ وگورو چي دا ولې نه موږ هلته په دې بريالي شوو چي آزاد، خپلواك او اسلامي افغانستان جوړ کړو او نه د روسي فوځونو له ايستلو نه وروسته؟ انگرېزان ووتل خو خپل لاس پوخي ظالم او مستبد پاچايان ئې ترشا پرېښودل، روسي فوځونه مو وايستل خو اقتدار ئې هغې ائتلافي جبهې ته په لاس ورکړ چي د دوی پر ځای له افغان ولس سره وجنگېږي او د روسي فوځونو نيم گړی مأموريت پوره کړي!! دا دی اوس يو ځل بيا زموږ هېواد د پرديو تر اشغال لاندي دی، د انگرېزانو او امريکايانو ترمشرۍ لاندي صليبي ځواکونه زموږ پر هېواد حکومت کوي او د افغانستان په گوټ گوټ کي د دوی بيرغونه رپېږي!! آيا دا زموږ لپاره يو ستر پېغور نه دی؟ آيا دا زموږ د ايمان او غيرت لپاره يوه آزموينه نه ده؟ او آيا دا زموږ دين، مذهب، خپلواکي او آزادۍ ته څرگند گواښ نه دی؟ بيا گورئ چي نيواکگران له خپلو افغاني غلامانو نه د آزادۍ او ديموکراسۍ اتلان جوړوي او د دوی افغاني غلامان، خپل باداران د آزادي بخښونکو او بيا ودانونکو

په نامه ستايي!! بيا آزادي غوښتونکي مجاهدين د (اشرارو)، (تخريبکارانو) او (تروريستانو په نامه يادوي او زموږ ملت او مجاهدينو ته همغه څه وايي چې انگرېزانو او د دوی شاه شجاع ۸۷ کاله د مخه ويل او روسانو ۱۷ کاله مخکې!! دا دی تاريخ بيا تکرار شو او بيا ئې زموږ پر اوږو د آزادۍ د يوې بلې جگړې دروند پېټی کېښود ، بيا له موږ نه غواړي چې د ميوند او جگدلك خاطرې راژوندۍ کړو او بل ستر او تاريخي جهاد ته ملا وتړو. الحمد لله دا جهاد پيل شوی، ورځ په ورځ ئې لمن پراخه شوې او اوس داسي مرحلې ته رسېدلی چې برى ئې نږدې برېښي، إن شاء الله زموږ زړه ور مجاهدين به صليبي ځواکونو ته داسي ماتې ورکوي لکه چې پلرونو ئې انگرېزانو او روسانو ته ماتې ورکړه، موږ د الله تعالى په رښتونو وعدو دا باور لرو او راتلونکي ته دا ډاډمن انتظار چې إن شاء الله ډېر ژر به زړه ور او مجاهد افغانان له غرونو، سردرو او کليو راکوز شي، شنه بيرغونه په لاس کي، د تکبير له نارو سره، د ښارونو له باايمانه او ديندارو اوسېدونکو سره به يو ځای شي، د ښکيلاکگرو اډې به محاصره کړي، د جگدلك او ميوند خاطرې به راتازه کړي، په ارگ باندي به د اسلام بيرغ ورپوي، د زندانونو دروازې به ماتې کړي، ټول هغه کسان به آزاد کړي چې د اسلام او آزادۍ غوښتلو په تور نيول شوي وو، د دوی په ځای به د انگرېزانو او امريکايانو جاسوسان او ملي خائنان په دې زندانونو کي واچوي او نړۍ والو ته به اعلان کړي چې نور نو افغانان آزاد او خپلواك دي، د خپلي خوښي اسلامي حکومت به جوړوي او خپل مشران به په خپله غوره کوي.

ورونړو خويندو!

ټول با ايمانه افغانان يووالي، وروروليولي او وحدت ته رابلم، ټول افغان ولس بايد يو بل ته د ورورۍ او وحدت لاس ورکړي، په گډه د دښمن مقابله وکړي، بايد پرې نږدي چې د هېواد په هيڅ گوټ کي اشغالگران يوه شېبه آرامه تېره کړي، اوس د يوه ستر ملي پاڅون وخت رارسېدلی، په دې پاڅون کي بايد ټول افغانان فعاله برخه واخلي. افغان ولس ته په کار ده چې هغه څېرې د دښمن د خدمتگارانو په نامه وپېژني چې قومي او ژبني تعصباتو ته لمن وهي، ورونړه قومونه سره جنگوي، د قوم په نامه ځان ته امتيازات غواړي، د جهاد مخالفت کوي او افغان ولس دې ته

رابلي چي اشغالگرانو ته تسليم شي او د دوی واکمني ومني، کوم ناافغانان چي د څو پيسو لپاره خپل ايمان خرڅوي او د ملي اردو او ملي پوليسو په ليکو کي ودرېږي او د بهرنيو تر قومندې لاندې د خپل ولس په ضد جنگېږي، ډېری ئې همغه دي چي پرون له روسانو سره يو ځای شول، د هغوی د گټو لپاره له خپل ملت سره وجنگېدل او نن امريکايانو ته تسليم شوي او د دوی لپاره همغه پرونی کار کوي.

مونږ هغو خلکو ته حيران يو چي د انگرېزانو تر بيرغ لاندې له انگرېزانو نه د آزادۍ ورځ لمانځي، نه پوهېږو دا څنگه آزادي ده او دا څنگه جشن او لمانځنه ئې!! نه پوهېږو په دې له ځانه پرته څوك دوکه کولی شي؟!!په داسي حال کي چي اوس د هېواد په گوټ گوټ کي د بهرنيو ځواکونو نظامي اډې جوړې شوې، د هري اډې پر سر د دوی بيرغونه رپېږي، زندانونه لري، آزادي غوښتونکي افغانان نيسي، زندانونو ته ئې لېږي، پر کليو ئې بريدونه کوي او پر کورونو ئې بمونه وروي، په ټول هېواد کي ئې تر اتيا زيات د راډيويي او تلويزيوني خپرونو سټېشنونه جوړ کړي، نږدې درې سوه ورځپاڼې، مجلې او نشريې خپروي، د افغاني فوځ او پوليس روزنه د انگرېزانو په لاس ترسره کېږي، هم د هېواد ځمکه او هم هوا د دوی په واك کي ده، د جمهور رئيس امنيت، حتی په ارگ کي هم دوی ساتي!! نو څوك به دا ومني چي افغانستان آزاد دی او افغان ولس د خپل برخليك څښتن!! إن شاء الله افغانان به د واقعي آزادۍ جشن لمانځي، خو هغه وخت چي ټول بهرني نيواکگر ځواکونه زمونږ د گران هېواد له لوېشت لوېشت خاورې نه وتلي وي، په هېواد کي د اسلام بيرغ رپانده وي او مونږ د خپلي خوښي منتخب اسلامي حکومت ولرو.

مرگ پر اشغالگرانو

سرلوړي او بريالي دي وي مجاهدين

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۵۱۵۱۲۸

بسم الله الرحمن الرحيم

# د میزان ۱۵

نن د میزان د پنځلسمې هغه توره ورځ ده چې پنځه کاله د مخه د امریکا تر مشرۍ لاندې زموږ پر ګران هېواد تېری وشو، په دې تېري کې نه یوازې د امریکا پلوي ملکونو برخه واخیسته، بلکې زموږ د کینه کښو ګاونډیو منافقو چارواکو هم د دوی ملګرتیا وکړه. دا یو بل صلیبي جنګ وو چې له افغانستانه پیل شو او عراق ته ئې لمن وغزېده، که د افغانستان او عراق زړه ورو او په خدای مینو مجاهدینو د دوی مخه نه وی نیولې او دلته له کلك مقاومت سره نه وی مخامخ شوي نو نن به هم په منځني ختیځ کې د امریکایانو موخې ترسره شوې وې او هم په مرکزي آسیا کې، د لوی اسرائیل جوړولو خوب به ئې رښتیا شوی وو، د مرکزي آسیا زېرمې به د دوی په لاس کې پرېوتې وې او ایران او سوریه به هم د عراق په برخلیك اخته شوي وو.

ځیني افغانان دا ګمان کوي چې د میزان د پنځلسمې یرغل د سپتمبر د یولسمې د پېښو او په نیویارك او واشنګټن د بریدونو په خلاف یو عکس العمل وو، حال دا چې پر افغانستان باندې د حملې پلان د سپتمبر تر پېښو لا د مخه جوړ شوی وو، هغه وخت چې شمالي ټلوالې تخار له لاسه ورکړ، امریکایانو له پاکستانه وغوښتل چې باید طالبان له تخاره په شا شي، د آی اس آی جنرال کندهار ته ولاړ، طالبانو ته ئې د تخار د پرېښودو وینا وکړه، هغوی ونه منله، د کندهار له واکمنانو سره وېره راپیدا شوه چې ښایي پاکستان به د هغو پاکستاني طالبانو له لارې څه کار وکړي چې د خواجه بهاء الدین په لومړي خط کې پراته وو، نو ځکه ئې هغوی له لومړي خط نه په شا کړل، امریکایانو او روسانو د تخار او مزار د نیولو لپاره د ګډو عملیاتو پلان جوړ کړ، په دې کې به د روسیې، ازبکستان او

تاجکستان اوه لس زرو فوځیانو برخه اخیستله، ایران هم په دې کي د یوه فعال غړي په توګه شریك وو، د تاجکستان او ازبکستان له لاري به برید کېدو، د جنګ مصارف امریکایانو په غاړه اخیستي وو، د یولسم سپتمبر پېښو یوازي دومره کار کړی چي دا ګد عملیات ئې دوه میاشتې رامخکي کړل، تاسو ولیدل چي د همغه مخکني توافق په اساس نوموړو هېوادونو د افغانستان په نیولو کي د امریکایانو ملګرتیا وکړه، چا اډې ورکړې، چا شمالي ټلواله دې ته چمتو کړه چي د امریکایانو د ځمکني فوځ په توګه د هغوی تر قوماندې لاندي وجنګېږي، چا د خپلي فضا له لاري د دوی د جنګي جهازونو ته د الوتو او پر کندهار او هرات د بمبارۍ اجازه ورکړه، په خواجه بهاء الدین، پنجشیر، دره سوف، کي د قوماندې ګډ مراکز جوړ شول، د همدغو هېوادونو افسرانو په ګډه د عملیاتو سوق او اداره په غاړه درلوده او د امریکا هوائي ځواکونو ته ئې کوردینات ورکول.

ځیني ګمان کوي چي امریکا د القاعدې د ځپلو لپاره پر افغانستان برید وکړ، دوی د امریکا له عزایمو او په دې سیمي د اوږد مهاله تسلط لپاره د دوی له ستراتېژي خبر نه دي، نه پوهېږي چي د مرکزي آسیا په ذخایرو د تسلط په لټه کي دي، په دې سیمي د تسلط لار له افغانستانه تېرېږي، روسیه او ایران غواړي دا لار خلاصه نه شي او امریکا غواړي پر افغانستان له بشپړ تسلط نه وروسته ژر تر ژره دا لار پرانېزي، که امریکایانو له القاعدې نه د غچ اخیستلو په موخه دا جنګ پیل کړی وی نو د طالبانو د حکومت له نسکورولو او د القاعدې د مرکزونو له ختمولو وروسته باید له افغانستانه وتلي وی، اوس خو القاعده په عراق کي په څرګنده توګه د دوی مقابله کوي، یو مشر ئې په شهادت رسېږي او بل غوره کوي، اوس خو په افغانستان کي د القاعدې مراکز نه شته، جنګیالي ئې عراق ته کوز شوي، دوی خو له القاعدې څخه نه بلکي له افغانانو غچ اخیستی، بې ګناه افغانان ئې وژلي، د دوی کورونه ئې وران کړي، د دوی هېواد ئې اشغال کړي، دا دی ګورئ چي په خپله د امریکایانو د اعتراف له مخې یوازي د پنجوایي او ژېړي په ولسوالیو کي د دوو اونیو عملیاتو په ترڅ کي ئې پنځه سوه بې وزلي او بې ګناه افغانان ووژل، درې اونۍ تر دې د مخه ئې په هلمند کي تر دې زیات بې ګناه افغانان په خپلو وینو کي

ورغړول، دا تېر پنځه کاله هره میاشت همداسي تېره شوې!! خو دا ولې د دوی ژوره کینه نه ختمېږي؟ ولې همدومره مرگ ژوبله د غچ لپاره کافي نه گڼي؟ ولې د مزید وینو تویولو او وژلو لپاره د خپلو فوځونو شمېر زیاتوي او په افغانستان کي د لازیات پاتې کېدو هوډ څرگندوی؟

د پاپ وروستۍ وینا وښوده چي د فلسطین، افغانستان، عراق او لبنان جنگونه یوازي د بش، بلیر او د دوی د لاس پوځې اسرائیل جنگونه نه دي، دا د مخکنیو صلیبي جنگونو تسلسل دی، تاریخ ښودلې چي پاپان تل د امپراطورانو په خدمت کي وي، تل د هغوی جنگونو ته مذهبي رنگ ورکوي، پاپ نن همغه خبره وکړه چي څو ورځې مخکي بش کړې وه، پاپ دومره کمزوری او ضعیف دی چي د کاغذ له مخې هم خبري نه شي کولی، مسیحیان هغه وخت یو څوك پاپ کړي چي له زړښته نه په لاره سم تلی شي، نه خبري کولی شي، نه ئې سترگې سم کار کوي او نه حافظه!! که د پاپ حافظه روغه وی نو د اسلام او پیغمبر علیه السلام په شأن کي به ئې هیڅکله داسي پوچه خوله نه خوځوله، د ده هغه جنگونه نه دي په یاد چي د صلیب تر نشان لاندي په اروپا، هسپانیا، آسیا او افریقا کي ترسره شوي او دومره بې گناه خلك په کي وژل شوي چي د پاپ بنډیکټ د ایالت تر نفوس ئې شمېر زیات دی!! دا نن په افغانستان او عراق کي د امریکا، بریتانیا، کاناډا او استرالیا... یرغلگر فوځونه د کرسمس عیدونه لمانځي، د گوانتانامو، ابوغریب، بگرام او کندهار په زندانونو کي کرسمس لمانځل کېږي، پاپ به د بایبل هغې برخي هم نه وي په یاد چي د بایبل انبیاوو؛ پاچایانو ته د بایبل د خدای له لوري په نورو قومونو د برید او یرغل پیغامونه رسولي او ورته ویلي ئې دي چي له غزې تر لبنان پورې او د مدیترانې له ساحله تر فرات پورې ټوله سیمه خدای اسرائیلیانو ته ورکړې، خدای درته امر کوي چي دا سیمه ونیسئ، اوسېدونکي ئې ووژنئ، په هیچا رحم مه کوئ، نارینه، ښځې، ماشومان او څاروي ئې له تېغه تېر کړئ، فصلونو او باغونو ته ئې اور واچوئ او ښارونه ئې وران کړئ!! څوك چي په بایبل ایمان لري او هغه سپېڅلی کتاب گڼي څنگه اسلام د تورې دین گڼي؟ د بایبل لویه برخه هغو قومي جنگونو ته مختص شوې چي پاچایانو تر سره کړي او د بایبل په

وینا د بني اسرائیلو خدای په خپله په دغو جنگونو کي برخه اخیستې او په هغه جنگ راضي شوی چي ډېره وینه په کي توی شوې او ډېر ورانی په کي شوی او په هغه جنگ غصه شوی چي په مفتوحه سیمي کي کوم اسیر انسان یا کوم حیوان ژوندی پرېښودل شوی!!! هو؛ اسلام د توري دین دی، اسلام د لمانځه او روژې په څېر وسله وال جهاد هم فرض کړی، خو د حق او عدالت لپاره او له مظلومانو نه د دفاع په خاطر او د مسلح ظالمانو په ضد، اسلام وایي: مه ظلم کوئ او مه ظلم منئ، له الله تعالی پرته بل ته سر مه ټیټوئ، د مظلومانو مرسته وکړئ او د ظالمانو له منگولو ئې وژغورئ. اسلام د یوه بې گناه انسان وینه په ناحقه تویول داسي گڼي لکه د ټولو انسانانو وژل.

گرانو هېوادوالو!

افغانستان یوه بل انقلاب ته ضرورت لري، یوه واقعي اسلامي انقلاب ته، داسي انقلاب ته چي په یوه مستقل، خپلواك او اسلامي افغانستان منتج شي، مخکنی انقلاب د بهرنیو لاسوهنو، د ملت د غفلت او د منافقینو د نفوذ په سبب نیمگړی پاتې شو، د مجاهدینو په ضد نړیوال دسایس پیل شول، د اسلام ټولو دښمنانو یوه بل ته لاس ورکړ، د اسلامي ملکونو منافق واکمنان او زموږ کینه کښ گاونډیان ورسره ملگري شول، ځینو یوې ډلي ته وسلې او پیسې ورکړې او د مجاهدینو په ضد ئې وجنگوله او ځینو بلي ډلي ته. اوس ملت خپل کورني او بهرني دښمنان پېژندلي، د انقلاب لپاره شرایط برابر دي، ولس دې نتیجې ته رسېدلی چي د جگړې د خاتمې او د واقعي او ډاډمنې سولې د تأمین لپاره بله لار نه لري، د جگړو او بې امنیتۍ له دوام او د ظالمانو، مفسدینو، ملي خائنانو او وطن پلورونکو له سلطې نه د نجات لپاره یوازي همدا لار ورته پاتې ده. باید ټول باایمانه، خدای پالونکي او آزادي غوښتونکي افغانان په یوه ډاډمن اسلامي صف کي راغونډ شي، یو بل ته د ورورۍ لاس ورکړي، هېواد له دې دردناك حالت نه وژغوري، جگړه د تل لپاره پای ته ورسوي، د ملت د خوښي اسلامي حکومت جوړ کړي، اقتدار هغه چا ته وسپاري چي له الله تعالی وېرېږي او پر خپل مظلوم ملت ترحم او زړه سوی لري.

امریکایان او د دوی گوډاگیان دې پوه شي چي نه د وسلو په زور، نه د بې گناه افغانانو په عام وژنو سره، نه د نورو فوځونو په راوستلو سره او نه په جگړې کي د اروپا په راښکیلولو سره کولی شي مقاومت وځپي او افغانستان د تل لپاره په خپل اشغال کي وساتي، له وتلو پرته او د افغانانو خپلواکۍ ته له احترامه پرته له بلي لاري د افغانستان بحران نه شي حل کېدی، تاسو وتوانېدئ چي ناټو په جنگ کي راښکیل کړئ، غواړئ خپلي پښې سپکي کړئ او خپل ځاني او مالي تلفات راکم کړئ، ښايي تاسو او ستاسو گوډاگیان داسي وانگېري چي د فوځونو د شمېر په زیاتولو سره به مقاومت وځپل شي او د کابل امریکائي حکومت به پر اوضاع مسلط کړی شي، خو حقیقت دا دی چي که موجود څلوېښت زره بهرنی فوځ یو لك څلوېښت زره هم شي، نه مقاومت ځپلی شي او نه پر اوضاع مسلط کېدی شي.

گرانو هېوادوالو!

ځیني افغانان دا پوښتني کوي چي له روان بحران نه د هېواد د ایستلو لار کومه ده، څنگه کولی شو جگړه د تل لپاره پای ته ورسوو او تلپاتې صلح او ډاډمن امنیت تأمین کړو؟ د دوی په ځواب کي وایو: د بحران د حل یوازنۍ لار همغه ده چي موږ د روسانو په ضد غوره کړه، تر هغه جهاد ته ادامه ورکول چي ټول بهرني ځواکونه زموږ له هېواده ووځي او افغانانو ته د دې فرصت ورکړی شي چي خپل برخلیك په خپله او د پردیو له لاسوهنو پرته وټاکي. د مجاهدینو له نظره بحران هغه وخت پای ته رسېدی شي چي:

- ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي
- داسي موقت حکومت جوړ شي چي ټولو ته د منلو وړ وي او په هغه کي هغه ډلي برخه ونه لري چي د بن په غونډې کي ئې برخه واخیسته او د افغانستان د اشغال خائنانه سند ئې امضا کړ.
- هغه راډیوگانې، ټلویزیونونه، مجلې او اخبارونه وتړل شي چي د بهرنیو ځواکونو لخوا اداره او تمویل کېږي او د دوی په گټه فعالیت کوي.
- د بن په غونډې کي چي کومو هېوادونو برخه اخیستې او د امریکایانو د

يرغل ملا ترې ئې کړي، د دوی سفارتونه موقتاً او تر هغه وخته بند شي چي په هېواد کي د ملت د خوښي منتخب حکومت د چارو واګې په لاس کي واخلي او په دې اړه مناسب تصميم ونيسي، دا کار به د دوی د لاس وهنو مخه ونيسي او افغانانو ته به دا موقع په لاس ورکړي چي د پرديو له مداخلې پرته خپل برخليك وټاکي او د خپلي خوښي حکومت جوړ کړي.

- بيا د ټول ملت حقيقي استازي راغونډ شي او د هېواد د اساسي قانون، منتخبې شورى، حکومت او ملي فوځ په اړه تصميم ونيسي.
- که دا شرائط تأمين شي، نو مجاهدين د جګړي د خاتمې او د ډاډمن امنيت په راوستلو کي هرراز مرستي ته تيار دي.
- ملت ته ډاډ ورکوو چي ټول صالح او باايمانه مجاهدين به د تل لپاره د دوی په څنګ کي وي، تر هغه به جهاد ته ادامه ورکوي چي ټول اشغالګر ځواکونه زموږ د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې ووځي. إن شاء الله هغه ورځ به ډېر ژر راشي چي امريکايان به د روسانو په څېر سرټيټي زموږ له هېواده وځي او په آزاد او خپلواك افغانستان کي به له اسلامي بيرغه پرته بل بيرغ نه رپېږي. د هغې ورځي د رارسېدو په هيله.

رپانده دي وي د اسلام بيرغ
بريالي دي وي مجاهدين
مړه دي وي د اسلام دښمنان

حکمتيار

افغانستان
۱۳۸۵|۷|۱۵

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیام تبریکی عید سعید فطر

إِنّ اللّهَ يُدَفِعُ عَنِ الّذِينَ ءَامَنُوا إِنّ اللّهَ لا يحِب كلّ خَوّانٍ كَفُورٍ *

صدق الله العظيم

هموطنان عزیز!!

برادران و خواهران! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

حلول عید سعید فطر را به شما ملت مظلوم و رنجدیده خود تبریك می گویم. به شما که این عید را نیز در شرایطی تجلیل می کنید که کشور تان در اشغال نیروهای صلیبی تحت فرمان انگلیسها و امریکائیهاست، پرچم های بیگانگان بر فراز پایگاههای نظامي اشغالگران در کشور ما در اهتزاز است، دستگاههای رادیوئی و تلویزیونی شان فعال و نشراتش چنان که گویا این کشور مستعمره دائمی آنان است، طیاره های جنگی شان فضای کشور ما را در کنترول خود دارد، نیروهای زمینی شان جاده ها، میدانهای هوایی، و تمامی نقاط ستراتیژیك را، و مشاورین شان تمامی ادارات ملکی و نظامی را، هر زمانی، بر هر شهر و قریه ای که خواسته اند بم می ریزند، تانکهای شان در جاده ها گزمه می دهند و قدرت نظامي خود را به رخ افغانها می کشند، به هر قریه ای که بخواهند هجوم می برند، دروازه هر خانه ای را به زور باز می کنند، حق دستگیری و قتل هر افغاني را به خود داده اند، هر روز ده ها افغان مظلوم و بی دفاع را به خاك و خون می کشند، تنها در ماههای شعبان و رمضان و طی حملات گسترده شان در کندهار، هلمند و ارزگان بیش از دو هزار اهالی بی گناه این مناطق را شهید و مجروح کردند، نزدیك

به هفتاد هزار خانواده از ولسوالیهای ژبړي، پنجوایي، موسی قلعه و نوزاد را به ترك خانه ها و هجرت به مناطق دیگر وادار ساختند، کابل اکنون به چنان پایگاه نظامي نیروهای اشغالگر درآمده است که بر فراز آن طیاره های بم افگن و بر جاده هایش تانکهای دشمن گزمه می کند. عید کابل در واقع عید شهر اسیر و محکوم است، عید واقعي افغانها زمانی فراخواهد رسید که افغانستان آزاد باشد و افغانها مالك سرنوشت خود، بساط سلطه اجنبی بر کشور ما برچیده شده، تمامی نیروهای بیگانه از وجب وجب کشور ما خارج گردد، فضای جنگ، بی امنیتی، ترس و بیم جایش را به صلح، امنیت و آرامش تخلیه کند، در تمامی کشور و برفراز هر دفتر و هر مرکزي پرچم شکوهمند اسلام، این نشان پرجلال آزادی و آزادمنشی در اهتزاز بوده، قدرت در اختیار حکومت منتخب اسلامی و در دست زمامداران امین، خدا ترس، وطن دوست و مورد اعتماد ملت باشد، و تمامی افغانهای مهاجر و آواره به کشور شان و به ده و قریه شان برگردند، نه کسی از تجاوز به سر و مال خود بیمی داشته باشد و نه از تعرض به عرض و آبروی خود، إن شاء الله چنین روزی بزودی فراخواهد رسید، به امید فرارسیدن چنین روزی و به مناسبت این عید عرایضی خدمت ملت مؤمن خود دارم:

- حال باید به همه ثابت شده باشد که تجاوز نیروهای اشغالگر امریکائی بر کشور ما با همان عزایم و انگیزه ها توأم بود که نیروهای شوروی و زمامداران آن وقت مسکو در سر داشتند، و معامله این جنایتکاران با ملت مظلوم ما از هیچ نگاهی با معامله آنها تفاوتی ندارد، شعارها و ادعاهای پوچ و میان تهی بازسازی، صلح، امنیت و دیموکراسی همان شعارهائیست که همواره هر اشغالگری برای تحمیق و اغفال بومیان مستعمرات خود عنوان می کند!! همه شاهد اند که انگلیسها و امریکائیها طی پنج سال گذشته در برخورد شان با افغانها و کشور شان چه جنایاتی نبود که مرتکب نشدند؟ برخورد وحشیانه اینها اگر بدتر و قبیح تر از برخورد روسها نبود به هیچصورتی کمتر از آنها نبود، آیا آنچه علیه زندانیان مظلوم ما در زندانهای جهنمی بگرام، کندهار و گوانتانامو مرتکب شدند و آنچه هم اکنون هر روز در جریان عملیات نظامي شان علیه مردم بی

دفاع ما در دهات مرتکب می شوند ، تلاشي خانه ها ، دستگیری، لت و کوب، بستن و کشتن افغانها به اتهام همکاری با مجاهدین، آتش زدن به اجساد کشته های شان، لشکر کشي های پیهم و توسل به عملیات گسترده در جنوب، شرق و جنوب غرب کشور، و تهدید مردم به اینکه اگر خانه های شان را ترك نگویند و منطقه را تخلیه نکنند ، زیر بمباردمانها و آتش توپ و تانك جان خواهند داد ، و آغاز عملیات قبل از پایان ضرب الاجل، بمباریهای کور و انداخت بی محابای توپ و تانك و کشتار بی رحمانه مردم ... اینها و دهها جنایت دیگری که قلم از نوشتن آن ننگ دارد و آنچه تا هنوز افشاء نشده، آیا اینها چیزی نیست که افغانهای مظلوم روزانه شاهد آن اند ؟ آنچه در ژړی، پنجوایي، موسی قلعه و نوزاد مرتکب شدند ، روسها و کمونستها نیز ارتکاب آن را مایه ننگ می پنداشتند.

• امروز پوچي و بیهودگی ادعای ناافغانانی به همه هویدا گردید که می گفتند: غرض تأمین صلح و امنیت در کشور حضور طویل المدت نیروهای اجنبی در افغانستان ضروریست!! دوام جنگ و تشدید روزافزون آن به همه ثابت کرد که حضور نیروهای بیگانه باعث ادامه جنگ و بی امنیتی است نه ضامن صلح و امنیت، تا زمانیکه اشغال ادامه دارد و تا زمانیکه حکومتهای دست نشانده اجانب بر مقدرات مردم حکومت می کند ، جنگ نیز ادامه خواهد داشت. روسها با تحمیل حکومت مزدور شان آتش جنگ را افروختند ، امریکائیها بر نقش قدم آنان گام گذاشتند ، تجربه ناکام آنانرا تکرار کردند ، افغانستان بی دفاع را مورد تاخت و تاز قرار دادند ، پس از اشغال کابل حکومتی مزدوری را در بن ساختند و وزارتخانه ها را به گروهایی اختصاص دادند که وابسته به شش کشور موئید و همکار امریکا در این هجوم بودند و به این ترتیب باعث ادامه جنگی شدند که آتش آنرا زعمای مسکو افروخته بودند. امریکائیها به دلیل همکاری تمامی همسایگان افغانستان در جنگ منتظر نتایج دلخواه بودند و انتظار آنرا نداشتند که با مقاومت دوامداری روبرو شوند ، ولی امروز و پس از پنج سال جنگ، اعتراف می کنند که در محاسبات شان مرتکب اشتباه شده اند ، با توسل به قدرت نظامي نمی توانند اوضاع را مهار و مقاومت را سرکوب یا تضعیف کنند ، امروز وضع کشور

را چنان می خوانند که نه در پایتخت امنیت وجود دارد و نه در بقیه ای شهرهای بزرگ و شهراهها، نه قطارها، گزمه ها و پایگاههای نیروهای اشغالگر از حملات کوبنده مجاهدین مصئون اند! نه عامه مردم احساس امنیت می کنند و نه زمامداران!!

• کسیکه از یك سو بر دوام حضور نیروهای بیگانه اصرار دارد و از سوی دیگر ادعای علاقه مندی به خاتمه جنگ را دارد، یا جاهل است یا دروغگو، خائن، مبلغ اجنبی و در پی تحمیق افغانهای هوشیار!! جنگ فقط زمانی پایان خواهد یافت و صلح تنها زمانی تأمین خواهد شد که نیروهای اجنبی کشور ما را ترك بگویند، مداخله در امور داخلی کشور ما متوقف شود، پس از آشتی ملي و در نتیجه تفاهم بلاواسطه میان افغانها حکومتی موقت مورد تائید ملت تشکیل گردیده و تحت اشراف آن انتخابات آزاد و عادلانه برگزار شود و اقتدار به حکومت منتخب انتقال یابد.

• به ملت مظلوم خود اطمئنان می دهم که نیروهای امریکائی هیچ راهی دیگر جز خروج بلاقید و شرط از افغانستان ندارد، حتماً بیرون خواهند رفت و إن شاء الله به زودی، اگر روسها با صد و بیست هزار سرباز تا دندان مسلح نتوانستند کشور عزیز ما را برای همیش اشغال کنند، امریکا و ناتو نیز با چهل هزار سرباز مست و لاابالی خود قادر به اشغال دائمی افغانستان نخواهد شد. مطمئنم که سرنوشت شبیه به اتحاد شوروی در انتظار امریکاست، و این سنت دائمی و تغیر ناپذیر الهیست که قدرت های مست و مغرور و عامل فساد و ظلم را به مرگ و نابودی محکوم نموده، بشریت را از شر آن نجات دهد.

• مجاهدین با پروردگار شان عهد بسته اند که امریکائیها و شرکای جرم شانرا چون روسها از کشور خود بیرون کنند، به نام خدا تعهد کرده اند که تا آزادی کامل کشور و اخراج تمامی نیروهای اجنبی از وجب وجب کشور شان، سلاح را بر زمین نگذاشته و لحظه ای دشمن را آرام نگذارند.

• مجاهدین مؤمن و هدفمند همواره با دشمن اصلی می جنگند، می خواهند هر مرمی شان در سینه دشمن اصلي فرو رود، از عملکرد کسانی اظهار برائت می

کنند که به جای ادامه حملات کوبنده بر دشمن اصلي به انفجارات در مساجد ، قتل ملاها ، آتش زدن به مکاتب متوسل می شوند ، اینها کار مجاهدین نه بلکه کار انگلیسها و امریکائیها بوده، جواسیس سی آی ای در آن آلوده اند ، انفجار در مسجد جامع هرات غرض ترور خطیب معروف و داعی مخلص این مسجد و تمامی انفجارات از این نوع که قربانیان آن مردم بی گناه بوده، همه به هدایت اداره های استخباراتی اشغالگران و توسط حکام محلی انجام شده است، حکامی که برای ارضای اجانب به هر جنایت و خیانت حاضر اند. مجاهدین واقعي به خوبی درك می کنند که نه با تخریب مکاتب و مساجد صدمه ای به اشغالگران می رسد و نه ترور مبلغین ذلیل و اجیری که در بدل مزد اندکی استخدام می شوند ارزشي برای آنان دارد ، برعکس این نوع ترور ها مواد تبلیغاتی و بهانه ای برای ترور شخصیتهای صالح و علمای با عمل در اختیار دشمن می گذارد ، مفتی هایی که فتوای قتل اینها را صادر می کند ، مفتی های جاهل اند ، همینها بودند که فتوای جنگ با مجاهدین و ائتلاف با جنرالهای کمونست را نیز صادر می کردند و اکنون در کابل و در خدمت امریکائیها اند. مجاهدین می دانند که هدف شان تخریب مکاتب نه بلکه از پا درآوردن کسانیست که از این مکاتب سنگری به نفع دشمن و علیه اسلام و ملت ما درست کرده اند ، دشمن اصلي ما آنهایی اند که از مکتب، شفاخانه و مسجد پوششي برای ادامه اشغال افغانستان می سازند.

- از همهٔ افغانهای مؤمن و آزادیخواه این انتظار را داریم که دست در دست مجاهدین گذاشته، در کنار کسانی بایستند که بمنظور اخراج نیروهای بیگانه از کشور و تشکیل حکومت منتخب و مورد پسند ملت خود این جهاد مقدس را آغاز کرده اند ، همراهی و تائید صادقانه از این مجاهدین واجب دینی تمامی مسلمانان است، افغانهایی که در این جهاد شرکت نکنند ، بزودی پشیمان و با حسرت وندامت روبرو خواهند شد ، إن شاء الله کشور ما بزودی آزاد گردیده، نیروهای اشغالگر رانده خواهند شد و آنگاه مخالفین جهاد نه در برابر خدای خود عذری موجه خواهند داشت و نه در برابر مردم، هم در برابر خدا خجل و شرمنده خواهند بود و هم در برابر مردم. ذلت و رسوایی دنیا و آخرت نصیب کسانی خواهد شد که

دشمنان اسلام را در جنگ علیه اسلام و مسلمانان کمك کردند.

• مطمئن باشید که امریکائیها در تمامی برنامه های شان ناکام بوده اند و به هیچ هدفی نایل نشده اند ، نه قادر به سرکوبی و تضعیف مقاومت شدند ، نه بر اوضاع مسلط شدند ، نه امنیت کاذب و دروغین شانرا تأمین کردند ، نه جلو کشت و قاچاق مواد مخدر را گرفتند ، آنها کابل را برای مسکو و شرکای منطقوی شان فتح کردند ، گروههایی را بر اریکه قدرت نشانده و حکومت، اردو و پولیس را از آنان ساخته اند که ائتلاف تحت رهبری مسکو با مصارف بی دریغ و هنگفت چند ساله قادر نشد اینها را به اینجا برساند!! امروز خود اعتراف می کنند که با جنگ نمی توان بحران افغانستان را حل کرد و مقاومت را از میان برد ، می گویند تولید مواد مخدر در سال جاری پنجاه درصد بیش از سال گذشته خواهد بود ، خود می گویند که اداره فاسد است، رشوت و اختلاس به اوج خود رسیده، زمامداران در فساد ، رشوت، و قاچاق مواد مخدر تا گلو غرق اند!! اینها حرفهائیست که امروز از دهن هر کسی شنیده می شود!! مایه تعجب است که آنها از کسانی انتظار صداقت، اخلاص و پاك دامنی را دارند و گمان می کنند که شاید بتوان از اینها یك اداره موفق، باکفایت، صالح درست کرد که در برابر چند دالري کشور، عزت و ایمان شانرا می فروشند ، دیروز تحت فرمان افسران شوروی با ملت خود جنگیدند و امروز تحت فرمان انگلیسها می جنگدند!!

• ما خواهان حل عادلانه، مطمئن و پایدار بحران کشور و خاتمه فوری و دائمی جنگ هستیم، اگر نیل به این هدف از طریق دیگری جز جنگ میسر می بود ، ما بی درنگ و قبل از همه آنرا اختیار می کردیم، اگر امروز نیروهای اشغالگر از کشور ما خارج شود ، و به ملت ما حق تعین سرنوشت بدون فشار و مداخله بیرونی داده شود ، ما حاضر به بحث در تمامی قضایای دیگر هستیم، گروههایی که به نیروهای انگلیسی و امریکائی پناه برده اند و گمان می کنند که بدون سایه حمایت این نیروها آینده تاریك دارند ، به ایشان می گوئیم: بسوی خدا و ملت خود برگردید ، بر افغانها اعتماد کنید ، ملت حاضر است توبه شما را بپذیرد ، عفو کند و آینده تانرا تضمین نماید ، ما افغانستان آزاد ، مستقل، سربلند و متحد دارای

نظام اسلامي می خواهیم، به عفو ، گذشت و آشتی باور داریم، نه به فکر انتقامیم و نه از طریق جنگ و اعمال قوه در پی رسیدن به قدرت.

- در حالیکه تمامی مجاهدین و فرد فرد ملت را به برادری و وحدت کامل دعوت می کنم، قیام بزرگ ملي برای آزادی و نجات کشور را قضیه حاد و جدی روز می خوانیم و از همهٔ اقشار ملت می خواهیم در این قیام تاریخی شرکت کنند. به مجاهدین مکرراً اطمئنان می دهم که إن شاء الله روز پیروزی شما بر دشمن دور نیست. به امید فرارسیدن آنروز!

مرگ بر امریکا و عمالش

زنده باد مجاهدین دلیر اسلام

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۵۱۷۱۳۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اختر مبارکۍ پیغام

إِنَّ اللّهَ يُدَفِعُ عَنِ الّذِينَ ءَامَنُوا إِنّ اللّهَ لا يحِب كلّ خَوّانٍ كَفُورٍ *

صدق الله العظيم

گرانو وطنوالو!

ورونو خویندو! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د کمکي اختر د رارسېدو په مناسبت خپل مظلوم او ځورېدلي ولس ته مبارکي وایم، افغانان دا اختر هم په داسي حال کي لمانځي چي هېواد ئې د انګرېزانو او امریکایانو تر مشرۍ لاندي د صلیبي ځواکونو په لاس اسیر دی، په ګوټ ګوټ کي ئې د پردیو بیرغونه رپېږي، راډیوګانې او ټلویزیونونه ئې داسي خپروني کوي لکه چي افغانستان د دوی دائمي مستعمره وي! د پردیو جازونه د افغانانو په سر ګرځي، په هر وخت او هرځای چي وغواړي بمونه وروي، ټانکونه ئې زمونږ د هېواد پر سړکونو ګزمې کوي، په کوم کلي چي وغواړي برید کوي، د هر کور دراوزه په زور خلاصوي، د هر افغان د نیولو او وژلو حق ځانته ورکوي، هره ورځ په لسهاوو مظلوم افغانان په خپلو وینو کي رغړوي، یوازي د روژې او شعبان په میاشتو کي ئې، په کندهار، هلمند او ارزګان کي تر دوو زرو زیات بی ګناه افغانان په وینو کي ورغړول، د ژبړي، پنجوایي، موسی قلعه او نوزاد په ولسوالیو کي ئې نږدې اویا زره کورنۍ دې ته اړ کړې چي خپل کور کلی پرېږدي او نورو سیمو ته هجرت وکړي، کابل نن د بهرنیو ځواکونو داسي نظامي اډه ده چي پر سر ئې د دوی جهازونه ګرځې او پر سړکونو ئې د دوی ټانکونه. د کابل اختر په حقیقت

کي د يوه محکوم او اسير ښار اختر دی، د افغانانو واقعي اختر به هلته وي چي افغانستان آزاد او افغانان خپلواك وي، د پرديو سلطه پای ته رسېدلي وي، د خوف او وېرې حالت په ډاډ او اطمئنان بدل شوی وي، قدرت د ولس د خوښي منتخب اسلامي حکومت په لاس کي وي، په ټول هېواد او د هر دفتر او هر مرکز د پاسه د اسلام پرتمين بيرغ، دا د آزادۍ، عزت او سرلوړۍ نښه، رپانده وي او ټول خواره واره مهاجر افغانان په لوړ سر او ډاډه زړه خپل هېواد او خپل کور کلي ته ستانه شوي وي. إن شاء الله دا ورځ به خامخا او ډېر ژر راځي. په دغه هيله او د دغي ورځي په مناسبت خپل مؤمن ولس ته څو عرايض لرم:

- اوس بايد ټولو ته ثابته شوې وي چي زموږ پر هېواد د امريکايي يرغلگرو ځواکونو تېری د همغو موخو لپاره وو چي روسي ځواکونو درلودو او دوی له افغانانو سره همغه څه کوي چي روسانو کول، د بياودانولو او د سولې، امنيت او ديموکراسۍ شعارونه همغه غولوونکي شعارونه دي چي هر يرغلگر ځواك ئې د ايل شوو ولسونو د غولولو لپاره کاروي. افغانانو په خپلو سترگو وليدل چي امريکايانو او انگرېزانو په تېرو پنځو کلونو کي له دوی او د دوی له هېواد سره څه وکړل، د دوی وحشيانه سلوك که تر روسانو زيات کرکجن نه وي نو په هيڅ صورت کي ترې کم نه دی، آيا هغه څه چي دوی د بگرام، کندهار او گوانتانامو په زندانونو کي له مظلومو بنديانو سره وکړل او هغه څه چي د نظامي عملياتو په وخت کي ئې له بې وزلو کليوالو سره کوي، د کورونو لټول، بې گناه خلك له مجاهدينو سره د ارتباط په نامه نيول، وهل او وژل او بيا د مړو پر اجسادو تېل شيندل او اور وراچول، په لويو سيمو کي پراخ عمليات ترسره کول او خلك په دې گواښل چي که فوراً له سيمي ونه وځي او خپل کورونه پرې نه ږدي، وژل کېږي او متصل د دې ړندې بمبارۍ او د توپونو او ټاکونو بې دربغه ډزې پيلول او په سلهاوو بې گناه خلك وژل، دا او ډېر نور چي قلم ئې له ليکلو حياء کوي او ډېر هغه څه چي ورو ورو به افشاء کېږي، آيا دا ټول هغه څه نه دي چي افغانان ئې هر ورځ په خپلو سترگو گوري؟ په پنجوايي، ژړې، نوزاد، موسی قلعه کي چي دوی کوم جنايات وکړل، روسانو او کمونستانو ترې ډډه کوله!!

- نن د هغو ناافغانانو د دې بې بنسټه او غلطې خبرې بېهوده والی هر افغان ته ثابت شو چې ویل ئې: په هېواد کې د امنیت او سولې د تأمین لپاره د بهرنیو ځواکونو اوږد مهاله شتون ضروري دی!! اوس ټولو ته جوته شوې چې بهرني ځواکونه د جګړې د دوام باعث دي نه د سولې او امنیت د راوستو باعث، تر څو اشغال دوام لري او تر څو چې د بهرنیو ځواکونو لاس پوڅي حکومتونه پر افغانانو مسلط وي، جګړه به دوام کوي. روسانو د یوه مزدور او لاس پوڅي حکومت په تپلو سره د جګړې اور بل کړ، امریکایانو د دوی پر پل ګام کېښود، پر افغانستان ئې برید وکړ او د کابل له نیولو وروسته ئې په بن کې یو ګوډاګی حکومت جوړ کړ، وزارتونه ئې په هغو شپږو هېوادونو پورې تړلو ډلو باندې ووېشل چې په دې برید کې ئې د امریکایانو مرسته او ملګرتیا وکړه او په دې توګه د هغې جګړې د دوام باعث شول چې اور ئې د روسانو په لاس بل شوی وو. خو دا دی ګورئ چې د انګرېزانو او امریکایانو د ټولو هڅو سره سره نن د افغانستان وضعیت داسې دی چې نه د پلازمېنې په شمول په لویو ښارونو کې امنیت شته او نه په لویو لارو کې، نه په عام ولس کې د چا سر، مال او عزت خوندي دی، نه چارواکي ځان خوندي ګڼي او نه د بهرنیو ځواکونو قطارونه، اډې او ګزمې له بریدونو مصئون!!
- څوك چې له یوې خوا د اشغالګرو ځواکونو په پاتې کېدو ټینګار کوي او له بلې خوا د جګړې د خاتمې خبره کوي، دروغجن، ملي خائن او د پردیو نوکر دی او خپل ولس دوکه کوي!! سوله یوازې هغه وخت راتلی شي چې بهرني ځواکونه له افغانستان نه ووځي، د افغانستان په کورنیو چارو کې د بهرنیو لاس وهنې بندې شي، له ملي پخلاینې نه وروسته د افغانانو د خوښې مؤقت حکومت جوړ شي او بیا د دې مؤقت حکومت تر اشراف لاندې آزاد انتخابات ترسره شي او واك یوه منتخب اسلامي حکومت ته انتقال شي.
- زه افغان ولس ته اطمئنان ورکوم چې امریکایي ځواکونه له وتلو پرته بله هیڅ چاره نه لري، هغوی به حتماً وځي او ډېر ژر به وځي، که روسان په یو لك شل زره فوځ ونه توانېدل چې زموږ هېواد د تل لپاره اشغال کړي نو امریکا او ناټو څو په څلوېښت زره فوځ هیڅکله دا کار نه شي کولی!! زه مطمئن یم چې امریکا ته د

شوروي اتحاد برخليك منتظر دی او دا د الله ثابت او نه بدلېدونکی سنت دی چي کوم ځواك نړۍ له تباهۍ سره مخامخ کړي، الله ئې حتماً نسکوروي او نړيوال د هغه له شر نه ژغوري.

• مجاهدينو له خپل رب سره تعهد کړی چي امريکايان به د روسانو په څېر له خپل هېواد نه وتلو ته مجبوروي. دوی د الله په نامه هوډ کړی چي ترڅو ئې خپل هېواد نه وي آزاد کړی او اشغالګر ځواکونه ئې د هېواد له لوېشت لوېشت خاورې څخه نه وي ايستلي وسله به په ځمکه نه ږدي او دښمن به يوه شېبه هم آرام نه پرېږدي.

• باايمانه مجاهدين له اصلي دښمن سره جنګېږي او له هغو کسانو او د دوی له عملونو نه بريئ او بې زاره دي چي د اصلي دښمن په ځای په جوماتونو کي چاودنې کوي، ملايان وژني او مکتبونه سوځوي، دا کارونه اکثراً په خپله امريکايان او يا ئې د سي آی اې په اشاره د دوی جاسوسان کوي، د هرات د جامع جومات د منلي او مخلص خطيب د وژلو په موخه د جومات په وړاندي چاودنه او تر دې د مخه ډېرې نورې هغه چاودنې چي بې ګناه خلك په کي وژل شوي، ټولي انګرېزانو او امريکايانو تر سره کړې، په دې کي هغه محلي چارواکي ککړ دي چي د پردیو لپاره هر خيانت او جنايت ته چمتو دي، واقعي مجاهدين په دې پوهېږي چي نه د مکتبونو په ورانولو او سوځولو سره دښمن ته کوم تاوان رسېږي او نه په څو پيسو پېرل شوي ذليل او اجير مبلغين دښمن ته څه ارزښت لري، برعکس د دوی په وژلو سره دښمن ته تبليغاتي مواد او د صالح علماوو د ترور پلمه په لاس ورځي، هغه کسان چي د دوی د وژلو فتوی ورکوي ډېر ناپوه مفتيان دي، دغو مفتيانو له مخلصو مجاهدينو سره د جنګ او له کمونستو جنرالانو سره د ائتلاف فتوی هم ورکوله، خو نن په کابل کي ناست او د امريکايانو په چوپړ کي دي!! مجاهدين په دې پوهېږي چي هدف ئې بايد د مکتبونو تخريب نه بلکي د هغو کسانو له منځه وړل وي چي له مکتبونو نه د اسلام او زموږ د ملت په ضد د يوه سنګر په څېر استفاده کوي، زموږ اصلي دښمنان هغه دي چي مکتبونه، روغتونونه او جوماتونه د يوې وسېلې په توګه او زموږ د هېواد د اوږدمهاله اشغال

په نیت کاروي.

• موږ له ټولو افغانانو غواړو چي له هغو اتلو مجاهدینو سره لاس یو کړي چي د بهرنیو ځواکونو د ایستلو او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د ملت د خوښي اسلامي حکومت د جوړېدو لپاره ئې دا مقدس جهاد پیل کړی. د دوی صادقانه ملګرتیا او رښتونی ملاتړ په ټولو مسلمانانو فرض دی. هغه افغانان چي په روان اسلامي جهاد کي برخه وانخلي ډېر ژر به په خپلو کړو ندامت وکړي، إن شاء الله هېواد به آزاد شي، اشغالګر کفري ځواکونه به له افغانستان نه ووځي او هغه وخت به د جهاد مخالفین نه د خدای په وړاندي د منلو وړ عذر لري او نه د خپل ولس په وړاندي!! هم به خپل رب ته شرمنده وي او هم خپل ولس ته!! د دنیا او آخرت ذلت او سپکاوی به د هغه چا په برخه وي چي له کفري یرغلګرو ځواکونو سره ئې دا سلام او خپل مظلوم او ځورېدلي ولس په ضد ملګرتیا وکړه.

• امریکایان په خپلو ټولو موخو کي ناکام شوي، نه ئې مقاومت وځپلی شو، نه پر اوضاع مسلط شول، نه ئې کاذب امنیت راوستی شو او نه ئې د مخدره موادو مخنیوی وکړی شو، دوی افغانستان د روسیې او د مسکو د محلي انډېوالانو لپاره فتح کړی، هغه ډلي ئې قدرت ته ورسولې او حکومت، فوځ او پولیس ئې ترې جوړ کړ چي روسانو په ډېر مصرف دي حالت ته ونه شو رسولی، نن په خپله اعتراف کوي چي په جګړي سره د افغانستان بحران نه شي حل کېدی، د مخدره موادو تولید به سږ کال د تېر کال په پرتله یونیم برابر زیات وي، اداره فاسده، رشوت او تالان اوج ته رسېدلی او چارواکي په فساد، رشوت او د مخدره موادو په قاچاق کي تر ستوني غرق دي!! دا هغه خبري دي چي نن له هري خولې اورېدل کېږي، عجیبه ده که څوك له هغه چا د صداقت، اخلاص او پاك لمنۍ طمع ولري او د دوی په لاس د یوې صالح ادارې د جوړېدو انتظار ولري چي د څو ډالرو په مقابل کي خپل هېواد، عزت او ایمان پلوري، پرون د روسانو په قومنده د خپل ملت په ضد جنګېدل او نن د انګرېزانو په قومنده!!

• موږ د روان بحران عادلانه او تلپاتې حل غواړو او د جګړي د فوري ختمولو غوښتونکي یو. که له جګړي پرته له بلي لاري د هېواد خپلواکي ترلاسه کول ممکن

وی، نو موږ به ترهرچا د مخه همغه لار غوره کړې وه. که دا اوس اشغالگر ځواکونه له افغانستان نه ووځي او افغانانو ته د خپل برخليك د ټاکلو موقع ورکړی شي، موږ په نورو ټولو مسئلو خبرو ته تيار يو. کومي افغاني ډلي چي په انگرېزانو او امريکايانو ځان ساتي، هغوی ته وايو چي په افغانانو باور وکړئ، موږ د امنيت تضمين درکوو، موږ خپلواك، سرلوړی او متحد اسلامي افغانستان غواړو، په عفو، بخښني او پخلاينې باور لرو، نه د انتقام په فکر کي يو او نه د جنگ له لاري قدرت ته د رسېدو تلوسه لرو!!

- زه په داسي حال کي چي ټول مجاهدين او ټول افغان ولس يووالي او وحدت ته رابلم او د دښمن په ضد ستر اسلامي پاڅون ته بلنه ورکوم، يو ځل بيا مجاهدينو ته اطمئنان ورکوم چي إن شاء الله ستاسو د بري او د دښمن د ماتې ورځ نږدې ده. د افغانستان د آزادۍ او د اسلام د بري په هيله.

مرگ په امريکا او ملگرو ئې

ژوندي دي وي د اسلام د لاري زړه ور مجاهدين

حکمتيار

افغانستان

کمکی اختر ۱۳۸۵

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مذاکراتو په اړه زموږ دريځ

په داسي حال کي چي د مذاکراتو له لاري د بحران د حل معقوله او عملي لار لټول يو ضرورت ګڼو، په دې هکله خپل دريځ داسي توضيح کوو:

- دا يو مثبت انکشاف ګڼو چي مغرور امريکايان اوس په دې پوه شوي چي په جنګ سره نه خپلو ناولو موخو ته رسېدی شي او نه د افغانانو مقاومت ځپلی شي.
- دې ته هم د يوه مثبت بدلون په سترګه ګورو چي د کابل د امريکايي حکومت چارواکو ته له مجاهدينو سره د مذاکراتو اجازه ورکړی شوې.
- خو مذاکرات په هغه صورت کي مفيد او ګټور ګڼو چي اشغالګر ځواکونه د کابل حکومت ته د دې خبري صلاحيت هم ورکړي چي د بهرنيو ځواکونو د بلاقيد و شرط او بشپړ وتلو په اړه له مجاهدينو سره توافق کولی شي او دا چي دا ځواکونه به د دې توافق درناوی کوي. دا ځکه چي د مجاهدينو او ټول افغان ولس لومړی او اساسي غوښتنه همدا ده او له دې پرته د افغانستان بحران نه شي حل کېدی. د موسی قلعه معاهدې وښوده چي په يوې سيمي کي د بهرنيو ځواکونو شته والی د جګړو د دوام لامل او وتل ئې د جګړو د ختمېدو باعث دی، موږ له دې سره توافق کولی شو چي دې ته ورته معاهده د کابل په شمول په ټولو ولاياتو کي پلې شي.
- د کرزي په وينا کي نوې خبره نه تر سترګو کېږي، د دې په ځای چي بيان ئې د بحران د حل په ارتباط کوم مثبت او معقول وړانديز ولري او په اخلاص او صداقت سره د جدي مذاکراتو لوري ته د بلنې بڼه ولري، د مجاهدينو په خلاف د تبليغاتو بڼه لري!! د مجاهدينو په ضد دا خبره کول چي د پرديو په منګولو کي دي، يو دروغجن تور او له ښکاره حقايقو نه انکار دی، د پرديو په منګولو کي خو هغه

خلك دي چي نن د پرديو د جهازونو تر وزر لاندي په کابل حکومت کوي او د پرديو تر قومندې او بيرغ لاندي د خپل مظلوم ولس په ضد جنګېږي!! خو موږ له ده سره موافق يو چي لومړی دې افغانان د پرديو له منګولو ووځي بيا دې مذاکراتو ته کښېني!! هغه پردي خو ټولو افغانانو او ټولي نړۍ ته څرګند دي چي د افغانستان په کورنيو چارو کي لاسوهنې کوي، د جګړو اور ئې بل کړی او دې اور ته لمن وهي، په دوی پورې تړلې وطن پلورونکي ډلي هم ټولو ته معلومې دي، دا خو همغه هېوادونه دي چي پر مظلوم افغانستان باندي ئې د امريکايانو د يرغل مرسته او ملګرتيا وکړه، همغه چي نن ئې فوځونه د افغانانو په ضد جنګېږي او هره ورځ په لسهاوو بې ګناه افغانان په خپلو وينو کي رغړوي، همغه چي په بن کي راغونډ شول او د کابل لاس پوڅي حکومت ئې جوړ او وزارتونه ئې په خپلو منځونو کي ووېشل او په هر يوه پورې تړلې افغاني ډلي ته ئې مناسبه برخه ورکړه. کرزی دې افغانانو ته په واضح الفاظو ووايي چي له دې خبرو نه ئې مراد څه دی، خطاب ئې امريکا، روسيې او د دوی منطقوي اندېوالانو ته متوجه دی که بل چا ته؟ او هغه څوك دی؟! موږ خو وايو چي ايران او پاکستان له افغانانو سره هومره جفا کړې چي امريکايانو او روسانو کړې، خو نن دا دواړه د کابل د امريکايي حکومت تر شا ولاړ دي او که د دوی مرسته نه وی نو امريکايانو نه کابل په دومره آسانۍ نيولی شو او نه تراوسه هلته پاتې کېدی شو!! کوم بې عقله انسان به له کرزي سره دا خبره ومني چي دا ملکونه د مجاهدينو مرسته کوي؟! ايران له مسکو او دهلي سره ولاړ دی او پاکستان له واشنګټن او لندن سره، د مجاهدينو په اړه د دواړو ائتلافونو دريځ له هيچا پټ نه دی. د کابل ځيني چارواکي د يوه اشغالګر او مداخله ګر نوم اخلي خو د بل په وړاندي ئې د سکوت مهر په خوله وهل شوی، هغه ته د اشارې کولو جرأت هم نه شي کولی، هغه ته د هر څه کولو حق ورکوي، دا حق ورکوي چي پېسې او وسلې ولېږي، سرحدات په خپله خوښه وټاکی، خپلي سرحدي تانې هم په خپله جوړې کړي او زموږ هم، کابل، هرات، مزار او نورو ولاياتو ته پيسې لېږي او د يوه قوم او فرقې لپاره ځمکي اخلي او د هغه ځای قومي جوړښت په خپله ګټه بدلوي!! او دا همغه کار دی چي يو وخت يهودانو په فلسطين کي کاوو!! دا

چارواکي که د بل مداخله گر په ضد هم څه وايي نو د دغه د ارضاء او خوشحالولو لپاره ئې وايي!!

• موږ په دې باور يو چې د سترو سترو او سپېڅلو آرمانونو لپاره بايد هري قربانۍ ته چمتو وو ، د الله تعالی په لار کي، د اسلام لپاره او د يوه خپلواك او آزاد افغانستان د جوړولو لپاره بايد د خپل سر او وينو قرباني کولو ته تيار وو او تر هغه وسله په ځمکه کښېنږدو او له سنگرونو اوچت نه شو چې دا آرمانونه نه وي تر سره شوي، خو په دې باور يو چې د يو چا د اقتدار لپاره بايد يوه قطره وينه هم توی نه شي، په هيڅ ځای او هيڅ وخت کي د يوې شېبې لپاره هم بايد وسله ونه کارولی شي، اقتدار الهي امانت او د خلکو حق دی، دا بايد افغان ولس ته پرېږود چي څوك د مشرتابه لپاره اهل گڼي، په چا اعتماد کوي او مشري ئې مني. د پرديو د وسلو، پېسو او فوځونو په زور پر افغانانو د حکومت کولو لړۍ بايد د تل لپاره پای ته ورسوو. موږ به د هر هغه چا مخې ته ودرېږو چي وغواړي د ټوپك په زور پر افغانانو حکومت وکړي، مخکي مو هم دا کار کړی وروسته به ئې هم کوو.

• موږ نه پوهېږو چي کرزی د چا په استازيتوب د روغې جوړې خبري کوي او څنگه به خپلي ژمنې عملي کوي؟!! دی خو د کابل په حکومت کي د يوه مبلمه حيثيت لري، اقتدار ټول د هغو ډلو په لاس کي دی چي په مسکو او د مسکو په منطقوي ملگرو پورې تړلې دي، د دفاع، داخله او خارجه چارو وزارتونه، د ملي امنيت رياست، سفارتونه، فوځ او پوليس او د دولت نورې مهمي ادارې د دوی په واك کي دي، همدا دوی دي چي پرون روسانو د افغانانو په ضد وجنگول او نن ئې امريکايان جنگوي او چي تر څو دوی په اقتدار کي وي جگړه به ادامه کوي، دا د دوی مأموريت دی چي پرې نه ږدي په افغانستان کي جگړه پای ته ورسېږي، د دوی حاميان خپلي گټې د جگړو په دوام او د افغانستان په تضعيف او تجزيې کي لټوي، د دوی بهرني حاميان نه غواړي زموږ په هېواد کي امنيت راشي او مرکزي آسيا د افغانستان له لاري له نړۍ سره وصل او تېل او گاز ئې له دې لاري صادر شي، دوی د هند د نيمې وچې مهم مارکيټ او د مرکزي آسيا ذخاير په خپل واك کي راوستل غواړي او د همدې لپاره زموږ په هېواد کي د جگړو او بې امنيتيو دوام

ضروري او مفيد ګنې او مصارف پرې کوي!!

حزب اسلامي افغانستان

۱۳۸۵۱۸۱۹

بسم الله الرحمن الرحيم

# د نصرت مېنې او سپدونکو ته

د نصرت مېنې باايمانه او مجاهدو اوسېدونکو السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

كله چي له اسلام سره ستاسو ژوره مينه، ستاسو اخلاص، د قربانۍ جذبه او په جهاد كي ستاسو لويه ونډه رايادوم، نو له الله تعالى نه تاسو ته د دنيا او آخرت سعادت او بريا او مزيد توفيق غواړم. الحمد لله تاسو د كمونستانو او روسانو په ضد تېر جهاد كي لويه ونډه درلوده، تاسو لومړي مجاهدين او لومړي مهاجرين وئ، دلته هغه افغانان راغونډ شوي وو چي په افغانستان كي د اسلام او جهاد بيرغ د دوی په لاس ورپېدو ، افغانان تاسو راوېښ او جهاد ته چمتو كړل، يقيناً چي تاسو د ټولو هغو مجاهدينو په جهاد كي برابر شريك يئ چي له تاسو وروسته د جهاد سنگر ته راوتلي او د اسلام لپاره ئې قربانۍ وركړې، د فلسطين، كشمېر، چيچين او نورو سيمو مجاهدين د افغانستان په جهادي مدرسې كي وروزل شول او د جهاد درس ئې له افغانانو زده كړ، د نړۍ له گوټ گوټ نه په زرگونو مجاهدين راغلل، ستاسو په څنگ كي د شوروي اتحاد له ځواكونو سره وجنگېدل، له افغانانو سره ئې يو ځای او په يوه سنگر كي ويني توی شوې، د دوی ډېری ستاسو په څنگ او د حزب اسلامي په سنگرونو كي جنگېدلي، كله چي به دا انصار وروڼه نصرت مېنې ته راغلل نو زړه به ئې مطمئن شو چي واقعاً دا خلك د اسلام لپاره جنگېږي، دوی د همداسي خلكو په لټه كي وو ، داسي سنگر ئې لټولو چي هلته د اسلام بيرغ رپېږي، د تكبير نعره اوچته وي او مجاهد ئې د الله د دين د قايمولو

لپاره جنګېږي، الله تعالی دې تاسو ته د دغو ټولو مجاهدينو د جهاد په ثوابونو کې لويه برخه درکړي.

الحمد لله تاسو په اوسني جهاد کې هم فعاله ونډه لرئ، دښمن ته تسليم نه شوئ، د هجرت ژوند ته مو پر دې ترجيح ورکړ چې د اسلام د دښمنانو تر تسلط لاندې په خپل هېواد کې ژوند وکړئ، ستاسو ډېر زلميان په شهادت ورسېدل، تاسو په ټول افغانستان کې د صليبي ځواکونو په ضد افغانانن جهاد ته وهڅول، دا ستاسو د قوي ايمان نښې دي او ښيي چې تاسو له بشپړ اسلام نه پرته په بل څه نه راضي کېږئ، إن شاء الله ستاسو دا آرمان به هرومرو ترسره کېږي، ډېر ستر کارونه وشول، إن شاء الله پاتې به ئې هم ترسره شي.

الحمد لله چې د نصرت مبنې اکثريت اوسېدونکي داسي دي چې غواړي خپل حلال رزق د لاس په تېاکو حاصل کړي، شپه ورځ زيار باسي چې خپله کورنۍ وپالي او نه يوازې بل ته ئې د احتياج لاس اوږد نه شي بلکې غواړي له نورو سره مخصوصاً له مجاهدينو سره مرسته وکړي، خو داسي کسان هم شته چې تل غواړي له نورو او حتی له حزب نه څه وشکوي او هغه هم په داسي حال کې چې حزب له سختو شرايطو سره مخامخ وي!! دا حزب هغو ايثارګرانو جوړ کړی چې د الله تعالی په لار کې په سر او مال جهاد ئې داسي الهي فريضه ګڼله لکه لمونځ او روژه، دا جهاد د دوی د قربانيو په نتيجه کې پيل شوی او إن شاء الله د دوی په لاس به وروستي منزل ته رسي. هغه خلك چې د امتيازاتو ترلاسه کولو لپاره حزب ته راغلي وو په سختو ورځو کې ئې حزب پرېښود او په نورو دروازو کې ودرېدل، داسي خلك د نيمې لارې ملګري وي، د برياوو په ورځو کې د وفادارۍ ډېرې په سينه وهي خو د کړاوونو او آزموينو په وخت کې خپل ملګري په ميدان کې يوازې پرېږدي او سوړې لټوي، خو ما ډېر داسي خدای پال او باايمانه کسان هم وليدل چې وايي: که مخکې مې ښه کړي وو يا بد ، نن او په دې سختو ورځو کې دا جفا او بې مروتي ګڼم چې حزب او مجاهدين ئې يوازې پرېږدم!! الله تعالی دې دوی ته ډېر ډېر اجر ورکړي.

ورونو! اورم چې ځيني کسان په فرعي مسايلو کې ستاسو تر منځ د اختلافاتو راولاړولو هڅه کوي، اميد دئ له داسي اختلافاتو نه ځان لرې وساتئ، کاش زموږ

درنو فقهاوو لږ تر لږه د لمانځه د هيئت په څېر مسايلو کي اختلاف نه درلودی، ټولو د مدينې منورې د خلکو لمونځ معيار ګڼلی وی او نن د ټولي نړۍ د مسلمانانو لمونځ يو ډول وی، د پيغمبر عليه السلام نږدې اتلس زره لمونځونه د مدينې خلکو په خپلو سترګو ليدلي او په خپلو غوږونو ئې اورېدلي او خبر ئې نسل په نسل له يوه بل ته انتقال شوی، خو متأسفانه موږ په دې کي هم د امت تر منځ د اختلاف شاهد يو، د کوفې، مدينې او شام د فقهاوو ترمنځ اختلاف دی، دا درې مراکز په هغه وخت کي درې ستر ستر سياسي مراکز وو، د سياسي مراکزو اختلاف په فقهي مسايلو کي له اختلاف سره يو ځای شو او دا دی تر نن پورې د دې لړۍ روانه ده، دا مشکل به هغه وخت حل کېږي چي ټول اسلامي امت واحد ستر سياسي مرکز ولري او همدا مرکز د مذهبي اختلافاتو د ختمولو لپاره داسي کار وکړي لکه عثمان رضي الله عنه چي د قرآن د مختلفو نسخو د توحيد په اړه وکړ او د يوه ستر اختلاف مخه ئې ونيوله. خو تر هغه چي دا کار کېږي زه ټولو ته توصيه کوم چي د شهيد شيخ عبدالله عزام په څېر د هغو انصارو ورونو په شان عمل وکړئ چي د نړۍ له ګوټ ګوټ نه خپل ايمان، اخلاص او د الله تعالی په لار کي د قربانۍ جذبې دلته راوستل، ستاسو په خوا کي ئې جهاد کاوو او شهيدانېدل، د دوی اکثريت حنفي مذهب نه وو خو ستاسو په احترام به ئې نه آمين بالجهر کولو او نه رفع اليدين. دوی د اسلامي امت وحدت غوښتو، دوی ټولو اسلامي مذاهبو ته احترام درلود، غوښتل ئې ټول په يوه صف کي د ګډ او لوی دښمن مقابله وکړي، لکه څنګه چي په حرمين شريفينو کي ټول مسلمانان د هر مذهب پلويان په يوه امام پسې اقتداء کوي، يو آمين بالجهر کوي او بل نه، يو رفع اليدين کوي او بل نه، دوی غوښتل په هر جومات کي مسلمانان دغسي يو بل تحمل کړي او په فرعي مسايلو کي اختلاف دوی يو له بل نه بېل نه کړي، که غواړو اسلامي امت متحد کړو نو په کار ده همداسي وکړو.

ورونو! هغه څوك چي د دغو انصارو ورونو په څېر عمل نه کوي، په فرعي مسايلو ترکيز کوي او ګمان ئې دا دی چي که داسي ونه کړي نو خدای ترې ناراضه کېږي او جنت ته له تلو محرومه کېږي، تاسو حوصله وکړئ او عکس العمل مه

ښيئ، پرېږدئ دوی خپل آرمان ترسره کړي، زه باور لرم چي واقعي مسلمان او د الله تعالى مخلص بندګان له دې ځان لرې ساتي چي د فرعي مسايلو په سر د مسلمانانو تر منځ کرکه، نفرت او اختلاف راولاړ شي، دا کار به يا هغه څوك کوي چي جاهل او متعصب دی او يا هغه چي د دښمن لخوا ګمارل شوی، دا هغه کسان دي چي نه ئې د الله تعالى په لار کي جهاد کړی، نه ئې نور جهاد ته هڅولي، نه ئې د اصلي دښمن په ضد يوه خبره له خولې وتلې، خپل ټول زور ځواك ئې د مسلمانانو تر منځ په فرعي مسايلو کي د لانجو او شخړو په راولاړولو کي ضايع کړی!! په هغو کسانو باور مه کوئ او خبره ئې مه اورئ چي مذهبي تعصبات راپاروي، په فرعي مسائلو ترکيز کوي، د همدغو فرعي مسايلو په سر يو بل تکفيروي، لوی کفار او د مسلمانانو لويې لويې مسئلې ئې هېرې کړې دي، په دې هکله څه نه وايي چي په افغانستان، عراق او فلسطين کي څه تېرېږي، دا ورته مهمه نه ده چي هره ورځ په سلګونو بې وزلي مسلمانان په خپلو وينو کي رغړول کېږي، دوی ته مهمه خبره دا ده چي له سنتو وروسته دعا کول جايز ده که ناجايز، دوی نه په خپله په جهاد کي برخه اخيستې ده، نه ئې د کورنۍ غړو او نه ئې څوك جهاد ته هڅولي، نور د خدای لپاره لمونځ او جهاد کوي خو د ده هم لمونځ د اجورې په مقابل کي وي او هم ئې تبليغ، په مسلمانانو کي د اختلاف راولاړولو د ميدان ښاغلی او توريالی دی او له هري ورې مسئلې به يوه فتنه راولاړوي، خو د اصلي دښمن په ضد جګړي کي ئې ملا ماته ده او په خوله ئې مهر لګېدلی. دا خلك نه په دين پوه دي او نه دين ته اخلاص لري، که ئې ديني پوهه او اخلاص درلودی نو يا به د دغو انصارو ورونو په څېر وو او يا د هغو مجاهدينو په څېر چي ټولو حقه مذاهبو ته په درنه سترګه ګوري.

ورونو! زما توصيه دا ده چي د هر جومات لپاره د متقي او هوښيارو کسانو يوه اصلاحي شوری جوړه کړئ، دې شوری ته اختيار ورکړئ چي متقي، په دين پوه او مجاهد امامان درته غوره او هغه امام لرې کړي چي د امامت اهليت او کفايت نه لري او د خلکو د مسلمانولو په ځای له اسلام نه د خلکو د ايستلو باعث وي. د جومات امام بايد دا ومني چي يوازي په هغه صورت کي د امامت حق لري چي خلك پرې راضي وي. نصرت مېنه بايد يوه لويه اصلاحي شوری ولري، چي د پنځغالي د

ټولو چارو په سمبالولو کي فعاله ونډه ولري، امنيتي چارې، د تعليم او تربيې مربوط امور، اخلاقي او اجتماعي مسايل، د شخړو او منازعاتو حل و فصل او په جوماتونو پورې اړوند چارې د همدې شورى په لاس تر سره شي. زه د دې مقصد لپاره يو باصلاحيته هيئت ټاكم، اميد دى له دې هيئت سره مرسته وكړئ. لوى الله مو مل. په احترام

حكمتيار

۱۳۸۵۱۹۱۱

بسم الله الرحمن الرحيم

# د دلوې ۲۶

گرانو هېوادوالو!

د اسلام د لاري سرتېرو مجاهدينو! السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

نن د افغانستان د تاريخ يوه ستره او نه هېرېدونكي ورځ ده، هغه ورځ چي د نړۍ د داسي يوه ستر او وحشي ځواك په متلاشي كېدو او زوال منتج شوه چي په تاريخ كي ئې بېلگه نه وه ليدل شوې، پر ټولي نړۍ ئې د تسلط خوبونه ليدل، امريكا ته ئې په ويتنام كي ماتې وركړې وه او د نړۍ تر ټولو ستر او خطرناك نظامي ځواك ترې جوړ شوى وو، له دغي ورځي او د باايمانه افغانانو په لاس له ماتې وروسته ئې زوال پيل شو، لنډه موده وروسته ئې ټغر ټول شو او ټوله نړۍ د دې سره سېلاب له خطره وژغورل شوه. حقيقت دا دى چي د افغانستان په لرغوني تاريخ كي د دلوې ۲۲هغه لوړ مقام لري چي هيڅ ورځ ورسره سيالي نه شي كولى، دا په يوه اوږده او نابرابر جنگ كي د مجاهدو افغانانو د بريا او د دوى له هېواده د يوه ستر استعماري ځواك د ماتې خوړلي فوځ د وتلو ورځ ده. دا هغه ورځ ده چي د اتحاد شوروي يو سل شل زره يرغلگر ځواكونه له لسو كلونو مسلسل جنگ نه وروسته زموږ له هېواده وايستل شول، الله تعالى افغانانو ته د دې توفيق وركړ چي خپل هېواد د پرديو له سلطې آزاد كړي، د آزادۍ په هغه اوږد او نابرابر جنگ كي ئې دوى ته لوړ همت او صبر ورپه برخه كړ، د خپل كور كلي ورانېدل ئې ومنل خو د خپل بام په سر د پرديو د بيرغ رپېدل ئې ونه زغمل، سترو سترو قربانيو ته چمتو شول خو د پرديو په وړاندي ئې سر ټيټ نه كړ. الله تعالى د دغه جهاد، همت او صبر په وجه دوى ته دا ستره او تاريخي بريا ورپه برخه كړه. افغانان تر دې د مخه هم له

اشغالگرانو سره جنګېدلي، خو نه د دښمن فوځ دومره زيات او په داسي وژونکو مخکي تللو وسلو سمبال وو او نه د دومره اوږدې مودې لپاره له افغانانو سره جنګېدلي. او دا دی اوس د امريکا تر مشرۍ لاندي له يوه داسي ځواك سره په جګړې بوخت دي چي هم تر پروني دښمن خطرناك دی او هم ئې دښمني ژوره او زړه.

هر څوك په دې پوهېږي چي ولې افغان ولس په دې ونه توانېدو چي د روسي فوځونو له ايستلو وروسته په خپل هېواد كي يو واقعي اسلامي حكومت قائم او د خپلو شهيدانو آرمانونه پلي كړي. وجه ئې دا وه چي له يوې خوا روسان ووتل خو كمونستان ئې تر شا پرېښودل، هماغسي لكه تر دوی د مخه چي انګرېزان ووتل خو خپل لاس پوڅي ئې تر شا پرېښودل، له بلي خوا زموږ كينه كښو ګاونډيو د دې لپاره له روسانو سره لاس يو كړ چي افغانان ونه توانېږي يو خپلواك، ځواكمن او اسلامي افغانستان جوړ كړي او د نورو د سيالۍ شي او له بلي خوا په بهر كي د اسلام دښمنه هېوادو او په داخل كي د منافقينو او كمونستانو ګډه جبهه جوړه شوه. دغه عوامل باعث شول چي د روسانو په لاس تپل شوې جګړه د دوی له ايستلو وروسته هم دوام وكړي، د ثور له كودتا تر نن پورې دا ټولي جګړې ورته موخي لري او له بهر نه په افغانانو تپل شوې. د امريكا له لوري په روانې جګړې كي هم مسكو او په مسكو پورې تړلي ملكونه او ډلي لويه ونډه لري. كه د دوی مرسته نه وی نو نه به امريكايانو پر افغانستان بريد ته زړه ښه كړی وو، نه به ئې زموږ هېواد داسي ژر او په دومره آسانۍ سره نيولی وو او نه به دومره موده دلته په پاتې كېدو توانېدلي وو.

حقيقت دا دی چي د تېرو دريو لسيزو تاريخ، د نه هېرېدونكي مقاومت، د آزادۍ د ستر او بې نظيره جنګ او د اسلامي جهاد تاريخ دی، د افغانستان په لرغونې تاريخ كي دا درې لسيزې دومره لوړ او ځلانده ځای لري چي هيڅ پړاو ورسره نه شي مقايسه كېدی، زموږ دښمنان او د دوی ذليل برېڅي د سرشيندنو، قربانيو او وياړونو دې پړاو ته په بده سترګه ګوري، هغه د بې مقصدو جګړو او ورانيو تاريخ ګڼي، دا ځكه چي دوی د استعمارګرانو په ضد د محكومو ولسونو له هر مقاومت نه كركه لري، خپل عمال ئې په دې ګمارلي چي د افغانستان د لرغونې

تاريخ دا ځلانده مرحله مسخه او داغجنه کړي، د کورنيو جګړو نوم ورکړي، توره دوره او د ورانيو او ويجاړيو مرحله ئې وګڼي، خو نه داسي چي مسئوليت ئې اشغالګرانو او د دوی لاس پوځو ته راجع کړي او نه داسي چي د افغانانو وينو، قربانيو او سرشيندنو ته په درنه سترګه وګوري او د سپېڅلي مقاومت ستاينه ئې وکړي!! برعکس هر څه ته د بې مقصده جنګ په سترګه ګوري او ټولي خواوې په کي ملامتوي، لکه څومره چي افغان مجاهد ولس او زړه ورو سرشيندونکو مجاهدينو ته د اعتراض او انتقاد ګوته نيسي، همدومره اشغالګران او په دوی پورې تړلې ډلي له پامه غورځوي او برئ الذمه ئې ګڼي، ستاسو په ياد وي چي د کلنتن مېرمني خو حتی دا هم وويل چي کمونستان تر مجاهدينو ښه وو!!

ورونو خويندو!!

افغانان بايد په دې ووياړي چي په شلمې پېړۍ کي د اسلامي جهاد بيرغ د دوی په لاس اوچت شو او د جهاد هېره شوې ستره الهي فريضه د دوی په لاس احياء شوه، په فلسطين، کشمير، چيچين، عراق او د نړۍ په نورو سيمو کي د مسلمانو مجاهدينو په روان مسلحانه مقاومت کي د دوی لويه ونډه ده، د دغو سيمو مجاهدين يا هغه دي چي په افغانستان کي روزل شوي او يا هغه چي له افغانانو ئې د اسلامي جهاد درس اخيستی، دا هغه حقيقت دی چي دوست او دښمن پرې اعتراف کوي او همدغه حقيقت ته په پام سره ده چي د نړۍ ټول کفري ځواکونه د افغانانو په ضد متحد شوي، د اسلامي هېوادو منافق حکام ئې په خوا کي ودرېدلي او په ګډه دا هڅه کوي چي په افغانستان کي د مجاهدينو په لاس د يوه واقعي اسلامي حکومت د جوړېدو مخه ونيسي.

همدا کفري ځواکونه اوس د افغانستان لپاره د خپلي خوښي اردو او پوليس جوړوي، افراد او افسران ئې د دوی په لاس روزل کېږي، دا فوځ او پوليس په حقيقت کي د شمالي ائتلاف ملېشې په امريکايي دريشي کي دي، دا دی د هېواد لپاره نوی قضائي نظام جوړوي او قاضيان ئې په ايتاليا کي تربيه کوي، د افغانانو خپلواکي سلب او ملي حاکميت ئې تر پښو لاندي کړ، د دوی برخليك د پرديو په لاس کي او د پرديو د خوښي افراد او ډلي پرې مسلط شوي، امريکايانو په تېرو

پنځو کلونوکی په لسهاوو زره افغانان په خپلو وینو کي ورغړول، په زرهاوو ټُنه بمونه ئې په افغانستان وورول، په سلهاوو کلي او ښارونه ئې وران کړل، د افغانستان ټول ملکي او نظامي هوائي میدانونه ئې تخریب کړل، ټولي ملکي او نظامي طیارې ئې وسوځولې، په ټول توان طاقت ئې هڅه وکړه چي د افغانستان اسلامي هویت ختم کړي او په دې هېواد کي د اسلامي نظام د قائمېدو امکانات د تل لپاره له منځه یوسي، د دې لپاره ئې له یوې خوا د خپلي خوښي سیکولر تعلیمي نظام پر افغانانو تحمیل کړ او له بلي خوا ئې د ټولنې بې دینه، مفسد او بداخلاقه ځواکونه په هېواد مسلط کړل او د هغو ځواکونو او شخصیتونو د ځپلو لپاره ئې ملا وتړله چي اسلام ته وفادار دي او خپلواك افغانستان غواړي. د دې حقایقو په رڼا کي هر با ایمانه او باضمیره انسان قضاوت کولی شي چي اوس زموږ هېواد له شك او تردید نه پرته په دارالحرب او د پردیو په مستعمرې بدل شوی او اوس په هر مسلمان، نر وي که ښځه، جهاد فرض عین دی. په دې کي چي څوك شك کوي، یا له دین نه بې خبره دی یا له خپل دین، عزت، هېواد او خپلواکۍ نه د دفاع همت نه لري.

ورونړو خویندو!

افغانان په دې هم ښه پوهېږي چي دا اشغالګر ځواکونه له امریکا، اروپا او آسټرالیا نه په کومه موخه دلته راغلي، مصارف کوي او مرګ ژوبله ګالي، د بیاودانولو او له افغانانو سره د مرستو په نامه چي اشغالګران کوم دروغجن تبلیغات کوي، هیڅ هوښیار افغان نه پرې غولېږي، دا مرستي نه بلکي هغه لګښتونه دي چي اشغالګر ځواکونه ئې د اشغال د دوام لپاره کوي، دوی هغه مصارف هم له افغانانو سره د مرستو په لست کي نیسي چي په خپل نظامي او غیر نظامي پرسونل ئې کوي او یا ئې په خپلو هغو فعالیتونو لګوي چي د اسلام په ضد ئې روان کړي. دوی د څلوېښت زره بهرني فوځ، نږدې یو لك هغه مامورین چي په انجیوګانو کي ئې استخدام کړي، چي یا استخباراتي کار ترې اخلي، یا مسیحیت ته د افغانانو د منحرف کولو فعالیت پرې کوي او یا د اخلاقي فساد په خورولوکي ترې استفاده کوي، د دغو معاشات او مصارف هم له افغانانو سره د مرستو په

ضمن کي نيسي. دا داسي وګڼئ لکه روسان چي د افغانستان د اشغال په دوران کي خپل لګښتونه د پور په نامه يادوی او د لندن په کنفرانس کي ئې د بخښلو اعلان کوي!! يعني دا چي روسانو دا لس ملیارده ډالر د افغانستان په ورانولو او د یو نیم ملیون افغانانو په وژلو نه دي مصرف کړي بلکي له افغانانو سره ئې داسي مرسته کړې لکه انګرېزان چي ئې اوس کوي، توپېر ئې يوازي دا دی چي روسان ئې د پور په نامه یادوی او انګرېزان د مرستو نوم ورکوي، روسان هم هغه لګښتونه پور ګڼي چي په جنګ ئې لګولي او یا ئې کمونستانو او شورای نظار ته ورکړي او انګرېزان هم خپل جنګي مصارف او هغه پیسې چي خپلو انجیوګانو ته ئې ورکوي د مرستو په نامه يادوی!! تاسو ته معلومه ده چي انګرېزانو د هند د اشغال په دوران کي د جنګي موخو او د خپلو انتقالاتو لپاره له ډهلي نه تر تورخم او چمن پورې پوخ سړك او د رېل کرښه وغزوله، خو د دې سیمي هیڅ آزادي غوښتونکي دې کار ته د هند د بیاودانولو په سترګه ونه کتل، خو متأسفانه امریکائي افغانان دومره ذلیل دي چي د خپلو بادارانو د ګوتو په شمېر محدود تبلیغاتي کارونه په داسي حال کي ستايي چي لا د کابل سړکونه ویجاړ پاتې دي او د پلازمېنې اوسېدونکو ته برېښنا نه ده رسېدلې... امریکایان د راتلونکو دوو کلونو لپاره د لس ملیارده ډالرو مرستي اعلان کوي خو وايي چي اته نیم ملیارده به ئې د فوځ او پولیس په جوړولو لګېږي او پاتې برخه به همغسي وي لکه مخکنۍ!! هر افغان په دې پوهېږي چي اشغالګران ولې د فوځ او پولیس له روزلو او مسلح کولو سره علاقه لري، دوی غواړي افغانان د افغانانو په ضد وجنګوي او له دې لاري د خپلو تلفاتو منخیوی وکړي!! هیڅ مسلمان باید په دې کي شك ونه لري چي ترڅو د انګرېزانو ناولي لاسونه له دې سیمي نه وي قطع شوي؛ نه به زموږ په هېواد کي سوله راشي او نه به د عراق جګړه پای ته ورسېږي او نه به د فلسطين او کشمېر غمیزې پای ومومي، همداسي به د تل لپاره په اسلامي نړۍ کي د فتنو او جګړو اورونه بل وي، مفسد ، ظالم او منافق حکام به پرې حکومت کوي، شتمنۍ به ئې د غربي استعمارګرانو په لاس لوټل کېږي، دين او مذهب ته به ئې سپکاوی کېږي.

ورونو خویندو!!

افغانان باید یو ځل بیا ملا وتړي او له هغه خبیث زاړه دښمن نه خپل غچ او انتقام واخلي چي په تېرو دریو پېړیو کي د مسلمانانو په ضد جګړو کي بوخت دی او لاسونه ئې د لکونو لکونو مظلومو مسلمانانو په وینو سره دي، په کار ده چي اوس په اشالغګرو ځواکونو خپل بریدونه څو برابره زیات کړو ، په جنګ کي باید خپله ټوله توجه د اصلي دښمن لوري ته واړوو او په نورو خواوو کي له مصروفېدو ډډه وکړو.

إن شاء الله د استعمارګرانو په لاس په مظلومو مسلمانانو مسلطه شوې توره شپه خپل پای ته نږدې شوې، د آزادۍ او عزت روڼ سباوون په راختو دی، پر افغانستان او عراق د صلیبي ځواکونو ګډ لوی برید له ماتې سره مخامخ شوی، دې برید او د مجاهدو افغانانو او توریالیو عراقیانو مقاومت ټوله اسلامي نړۍ راوېښه کړې او دا درس ئې ورکړی چي له داخلي او بهرني دښمنانو نه د نجات یوازنۍ لار جهاد دی، په دې جهاد سره به إن شاء الله صلیبي ځواکونه د شوروي اتحاد په برخلیك اخته کېږي. دعا کوو چي الله تعالی دې مظلوم افغانان له دې دردناك حالت نه وژغوري او زموږ هېواد دې د کفري ځواکونو له سلطې نه آزاد کړي. موږ مطمئن یو چي الله تعالی به د اسلام د دې بل ستر دښمن د نسکورولو لپاره له افغاني مجاهدینو نه همغه کار اخلي چي د شوروي اتحاد د زوال په لار کي ئې ترې واخیست، ډاډه یو چي امریکایان به هم د مجاهدینو د مسلسلو بریدونو په نتیجه کي له افغانستان نه وځي او په افغانستان کي به د مخلصو مجاهدینو په لاس اسلامي حکومت قائمېږي. د الله جل شأنه وعده همدا ده: وَ لَيَنصرَنّ اللّهُ مَن يَنصرُهُ إِنّ اللّهَ لَقَوِيٌ عَزِيزٌ *

د صلیبي ځواکونو د ماتې په امید
د اسلامي امت د تېر مجد او عظمت د اعادې په هیله
ژوندي او بریالي دي وي زړه ور مجاهدین
حکمتیار
افغانستان
۲۲دلو ۱۳۸۵

بسم الله الرحمن الرحيم

# امريکايانو ته د افغاني او عراقي مجاهدينو ګډ پيغام

موږ افغاني او عراقي مجاهدين په ګډه د امريکا ولس ته لاندي دردناك حقايق په ګوته کوو:

- د جورج بش جنګي ټيم تاسو ته د عراق او افغانستان په اړه د حقايقو له ويلو ډډه کوي، تاسو ته هم دروغ وايي او نړيوالو ته هم، تاسو ته نن هم هغسي دروغ وايي لکه چي پر عراق د بريد په وخت کي ئې درته ويل چي عراق د اتمي او کيمياوي وسايلو په توليد بوخت دی!! دا خبره ئې هغه مهال هم کوله چي ټول عراق ئې د بغداد په شمول ونيولو خو نه اتمي او کيميايي وسايل په لاس ورغلل او نه ئې تأسيسات!! دوی نه د خپلو مړو، زخميانو او مالي او ځاني تلفاتو صحيح ارقام درته وايي او نه د مظلومو افغانانو او عراقيانو؛ او نه د خپل ناکام سياست له هغو خطرناکو پايلو تاسو خبروي چي امريکا او ټوله نړۍ ئې ورسره مخامخ کړې.
- جورج بش تاسو ته دروغ وايي چي امريکايي فوځ به بلآخره مقاومت وځپي او پر اوضاع به مسلط شي، موږ په يقين سره درته وايو چي دا هسي خوب او خيال او ستاسو د غولولو لپاره دروغجن تبليغات دي، حقيقت دا دی چي موږ د درې سرې مار ځلور غابښونه ايستلي، دوه ئې پاتې دي، د دغو د ايستلو لپاره دوو نورو کلونو ته ضرورت لرو، امريکايي فوځ به له افغانستان او عراق نه حتماً او ډېر ژر وځي او إن شاء الله د جورج بش د دغي دورې له پوره کېدو د مخه.
- دوی د افغانستان او عراق په اشغال سره نه امريکايانو ته څه ګټه ورسوله او

نه ئې د دې هېوادو مظلومو ولسونو ته، دوارو ته ئې له مرگ، ژوبلې او ورانۍ پرته بل څه نه دي ډالۍ کړي، په دې پنځو کلونو کې ئې نږدې اوه نيم لکه افغانان او عراقيان ووژل او په لکهاوو نور ئې زخميان کړل او تر يو نيم مليون زيات ئې هجرت ته اړ کړل، دا نن چې مونږ دغه پيغام تاسو ته لېږو په عراق کې تر نوي زيات بې گناه عراقيان او په افغانستان کې يوازې په يوه کلي د ناټو د بمباريو په ترڅ کې تر سلو زيات افغانان وژل شوي!! او همدا نن په الماني اخبارونو کې د هغو فوځيانو عکسونه خپاره شول چې د يوه افغان له پرې کړې سر سره ئې لوبې کولې!! دا د هغو جناياتو يوه وړه برخه ده چې ستاسو فوځونه ئې په افغانستان او عراق کې کوي!! څوك به په دې خبرې کې شك وکړي چې نن نړۍ تر بل هر وخت نه زياته له بې امنيتيو او جگړو سره مخامخ ده.

• کوم تاوان چې د جورج بش جنگي ټيم ئې امريکا ته رسوي بل څوك ئې نه شي رسولی، هره مياشت اويا مليارده ډالر تجارتي خساره او د کال اتيا مليارده د افغانستان او عراق د جنگ لگښت، هره مياشت له عراق او افغانستان نه سل تابوتونه انتقالول، چې په راتلونکي کال کې به إن شاء الله دا شمېره هره مياشت نږدې دوه سوو مړو او زرو زخميانو ته لوړه شي، که په تېرو پنځو کلونو کې د امريکايانو د مړو او زخميانو شمېر تر پنځه وېشت زره اوښتی، د مقاومت ورځ په ورځ تشديد او پراخېدا ښيي چې دا تلفات به په لنډې راتلونکي مودې کې هغه ځای ته ورسېږي چې د امريکا ولس به ويتنام هېر کړي، شوروي اتحاد د افغانستان د اشغال په لسو کلونو کې شاوخوا څلوېښت زره مړي او زخميان درلودل او ټول مالي لگښت ئې اتيا مليارده ډالرو ته ونه رسېدو خو په همدې سره ئې ملا ماته او ټغر ئې ټول شو ، امريکا به څنگه وتوانېږي چې تر شوروي اتحاد څو برابره زيات تلفات د اوږدې مودې لپاره تحمل کړي؟ نن په ټولې نړۍ کې خلك سپينه ماڼۍ د جگړو، ورانۍ، فساد او بې امنيتۍ باعث گڼي او له امريکا او امريکايانو نه هومره کرکه او نفرت لري چې د بشريت په تاريخ کې د هيڅ استعماري ځواك په ضد داسي کرکه او نفرت نه دی تر سترگو شوی، تاسو ته ئې ويل چې د عراق او افغانستان په نيولو سره به هم د عراق د نفتو ځاگانې د امريکا

په لاس کي پرېوځي او هم د مرکزي آسيا ذخاير او په ټولي نړۍ کي به د تېلو بيه امريکايان ټاکي!! خو تاسو وليدل چي نه يوازي د مرکزي آسيا په زېرمو د تسلط خوب رښتونى نه شو، بلکي د تېلو بيه له اتو ډالرو اتيا ډالرو ته نږدې شوه، که په ايران بريد شوى وي نو دا به تر سلو ډالرو اوښت، حقيقت دا دى چي که د عراق او افغانستان جنگ نه وى نو ښايي اوس به دا زېرمې د امريکا په واك کي وې، خو اوس دا دى ازبکستان امريکايان له خپلي خاورې په سپکاوي سره وايستل!! دوى په نړۍ کي د اتمي وسايلو د خورېدو مخنيوى د يرغل لپاره د يوه مبرر او توجيه په توگه وړاندي کاوو خو دا ده شمالي کوريا اتمي آزموينه وکړه، ايران د يورانيمو غني کول پيل کړل، دوى د مخدره موادو د مخنيوي خبره کوله خو په هغه افغانستان کي چي امريکايان پرې حکومت کوي، ځمکه او فضاء ئې د دوى په کنټرول کي ده، د مخدره موادو توليد شپږ زره ټنو ته ورنږدې شو، دوى افغانستان او عراق د ايران او روسيې لپاره فتح کړل، د دوى لپاره ئې هغه کار وکړ چي مسکو او تهران په ډېر لگښت نه پرې توانېدل. کوم تاوان چي د بش جنگي ټيم ئې امريکا ته رسوي د امريکا هيڅ دښمن ئې نه شي وررسولى، د امريکا هر دښمن دا خوښوي چي د بش ټيم يو ځل بيا په اقتدار کي پاتې او په پارلمان کي ئې اکثريت وي.

- د امريکا د راتلونکو انتخاباتو په دوران کي د داسي تبليغاتو شاهد يو چي ښيي موږ د بش د جنگي ټيم په بريا خفه کېږو، تاسو ته په صريح الفاظو وايو چي دا تبليغات هيڅ حقيقت نه لري، موږ دا غوره گڼو چي د بش ټيم په سپينې ماڼۍ او د کانگريس په دواړو برخو کي د مخکي په څېر برلاسي پاتې شي، موږ بش ته د امريکا د بريژنف په سترگه گورو، دى به امريکا له همغه برخليك سره مخامخ کوي چي بريژنف شوروي اتحاد ورسره مخامخ کړ. دا غوره گڼو چي يوه دوره بله هم د جمهوري غوښتونکو د حکومت شاهد وو، حقيقت دا دى چي د امريکا له شره د نړۍ د ژغورنې ښه لار دا ده چي د بش ناکام جنگي سياست دوام وکړي، امريکا ته همداسي يو کم عقله، مغرور او شرابي جمهور رئيس او د ډيك چيني او رامز فيلډ په څېر جنگي ټيم په کار دى.
- موږ د امريکا له ولس سره دښمني نه لرو، ستاسو د زامنو قاتلان نه يو،

ستاسو قاتلان ستاسو خپل واکمنان دي، همغه چي تاسو نورو ملکونو ته د جنگ لپاره لېږي، نه له موږ نه امریکا ته کوم گواښ متوجه دی او نه له بل چا نه، هغه سرتېرو ځلمیانو چي د نیویارك او واشنگټن فدایي عملیات ئې ترسره کړل، د امریکا ظالمانه سیاستونو دې ته اړ کړي وو، د دې عملیاتو لړۍ به تر هغه ادامه کوي چي امریکا په اسلامي ملکونو خپله سیاسي، نظامي او اقتصادي سلطه پای ته ورسوي، د ظالمو او بې رحمه دیکتاتورانو، جنرالانو او پاچایانو له حمایت نه لاس واخلي، موږ امریکایانو ته وایو چي خپل زامن د ځو مفسدو بډایانو، جنرالانو او د وسلو جوړولو فابریکو د خاوندانو د گټو لپاره د مرگ کومي ته مه لېږئ، د بش جنگ ته د اسلام او غرب تر منځ د بل صلیبي جنگ بڼه مه ورکوئ، له افغانستان نه خپل فوځونه وباسئ، اسلامي نړۍ نور اسارت ته غاړه نه ږدي، د اسارت او غلامۍ دور ئې پای ته رسېدلی، دا واقعیت تسلیم کړئ، پرېږدئ چي مسلمانان آزاد او خپلواك ژوند ولري، دا درې پېړۍ تاسو او ستاسو انگرېز پلرونو آسیا او افریقا ولوټله، ظالم او بې رحمه پاچایان او جنرالان مو پرې مسلط کړل، پرېږدئ چي له دې وروسته د خپلي خوښي حکومتونه او نظامونه ولري.

• دا هیڅ حقیقت نه لري چي امریکایي فوځ د دیموکراسۍ او آزادۍ لپاره جنگېږي، د بش له جنگي ټیم نه پرته په نړۍ کي هیڅوك دا خوشې او بېهوده خبره نه کوي او نه ئې مني، دیموکراسي د جهازونو، توپونو او ټانکونو په زور نه راځي، یوازي احمقان به اشغال ته د آزادۍ نوم ورکوي، هیڅ فوځ بل هېواد ته د اعمار لپاره نه ځي، د هر اشغالگر فوځ شعار اعمار وي، خو په حقیقت کي د استعماري گټو لپاره په نورو ملکونو تېری کوي، د اعمار لپاره خو انجنیران له ترکتورونو سره ځي نه جنرالان له جهازونو او ټانکونو سره!! آیا په نړۍ کي به داسي څوك ومومئ چي له جورج بش سره دا خبره ومني چي امریکایانو په عراق، افغانستان، پاکستان او ازبکستان کي دیموکراسي راوسته؟!! موږ ته ووایئ: دوی په عربي ملکونو کي، په پاکستان کي او د نړۍ په نورو سیمو کي د چا حکومت خوښوي او د چا مرسته کوي؟!

• تاسو ته په صداقت سره وایو چي زموږ له نظره په سپیني ماڼۍ کي په جنگي

جنون اخته ټيم زموږ لپاره که ګټور نه وي نو مضر نه دی، موږ او د امريکا هر مخالف به هغه وخت خفه کېږو چې په سپينې ماڼۍ کې کوم هوښيار ټيم ځای په ځای شي، موږ د وينزويلا زړه ور او وطنپال مشر او د ده په څېر نورو مشرانو ته هم مشوره ورکوو چې په دې ورځو کې له داسې څه ويلو او کولو ډډه وکړي چې امريکايان د بش ټيم ته د رأيې له ورکولو اجتناب وکړي. ټول هغه ځواکونه چې د امريکا له شر نه خلاصون غواړي بايد امريکايان دې ته وهڅوي چې جمهوري غوښتونکو ته رأيه ورکړي.

• د امريکا مظلومو تور پوستو او د امريکا اصلي اوسېدونکو ته چې له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم دي او د ګوتو په شمېر څو بدمست سپين پوستې بډايان پرې حکومت کوي، د امريکا هغو مظلومو خلکو ته چې پانګوال نظام ځپلي، د هېواد ټولې شتمنۍ ئې د څو بډايانو په لمن کې اچولې، د همدغو د ګټو لپاره په نورو ملکونو بريدونه کوي او د بې وزلو امريکايانو زامن د دوی د ګټو لپاره قرباني کوي، دوی ته وايو: که غواړئ د دې نظام له منګولو وژغورلی شئ پرېږدئ يو ځل بيا د بش ټيم په پارلمان کې اکثريت ولري او په سپينې ماڼۍ کې پاتې شي.

• د نړۍ هغو مظلومو ولسونو ته چې انګرېزي استعمار ځپلي، جنګونه ئې ورباندې تپلي، شتمنۍ ئې ترې لوټ کړې، ظالم پاچايان، ديکتاتوران او جنرالان ئې پرې مسلط کړي، هغوی ته وايو: که غواړئ دا استعمار د روسي استعمار له برخليك سره مخامخ شي نو دا ئې وخت دی، د عراقي او افغاني مجاهدينو ملا تړ وکړئ. إن شاء الله په نږدې راتلونکي کې به موږ او تاسو د انګرېزي استعمار د کامل زوال جشن لمانځو.

• په دې پوه شئ چې د جورج بش ټيم په افغانستان او عراق کې اقتدار غلو، مفسدينو، وطن پلورونکو، ملي خائنانو او د پرديو جاسوسانو ته سپارلی، د افغانستان او عراق د بيا ودانۍ په نامه چې د امريکا له بانکونو څه ايستل کېږي هغه ستاسو د جنرالانو او د دوی د افغاني او عراقي غلو ملګرو تر منځ وېشل کېږي، د همدې لپاره له پنځو کلونو تېرېدو وروسته هم د دې بيا رغونې نښې حتی

د کابل په ښار کي نه تر سترګو کېږي، پنځه کاله مخکي ئې ویل چي له څلورو ملیونو مهاجرینو نه درې ملیونه خپل هېواد ته ستانه شول، خو نن وایي چي اوس هم په پاکستان او ایران کي څلور ملیونه مهاجرین مېشت دي! پوښتنه دا ده چي دا درې ملیونه خپل ملك ته نه وو ستانه شوي او تاسو په دروغو د دوی د ستنېدو خبره کوله!! او که د بې امنیتۍ او جګړو په وجه بېرته ایران او پاکستان ته مهاجر شوي!! د دوی ټولي خبري دې ته ورته دروغجنې دي!! غواړي نړۍ او خپل ولس دوکه کړي، خو له ځانه پرته بل څوك نه شي دوکه کولی!! په ټولي نړۍ کي د واقعي سولې او حقیقي عدالت د راتلو په هیله.

بریالي دي وي آزادي غوښتونکي مجاهدین
مړه دي وي جنګ غوښتونکي، د صلح او عدالت دښمنان

حکمتیار

افغانستان
۲۰۰۶۱۱۰۱۲۶

بسم الله الرحمن الرحيم

# له سلطان صديقي سره مركه

۱. پوښتنه: د افغانستان روان وضعيت څنګه ګڼئ؟

ځواب: ما ته د هېواد وضعيت له هغه وخت سره ورته برېښي چې مسکو له افغانستان نه د وتلو فيصله کړې وه او روسي فوځونو د وتلو لپاره تياری نيولو. د افغانستان سياسي او نظامې وضعيت د نېټو فوځونو د قومندان، او د امريکا د کانګريس مينانو د پلاوي، له هغو اعترافاتو نه معلومولی شئ چې په دې وروستيو کې ئې کړي، هغوی په دې اعتراف وکړ چې د افغانستان بحران د جنګ له لاري نه شي حل کېدی، او دا چې مقاومت د دوی له انګېرنې او انتظار نه ډېر زيات پراخ او مضبوط دی، او دا چې د کابل حکومت په ډېرو سيمو باندي خپله واکمني له لاسه ورکړې. حقيقت دا دی چې د مقاومت لمن ډېره خوره شوې، اشغالګر ځواکونه د وضعيت له مهار کولو عاجز شوي، د دوی تلفات زيات شوي، امريکايان ونه توانېدل چې خپلو موخو ته ورسېږي، نه ئې مقاومت وځپلی شو، نه پر اوضاع مسلط شول، نه ئې امنيت راوستی شو، نه ئې يو مضبوط او پر اوضاع مسلط حکومت جوړ کړی شو، نه د افغانستان له لاري د مرکزي آسيا په زېرمو مسلط شول او نه ئې د مخدره موادو د کښت او قاچاق مخنيوی وکړی شو.

۲. پوښتنه: آيا ستاسو او طالبانو ترمنځ د يووالي او ګډ مقاومت په اړه څه خبري شوې؟ او له اسامه او ايمن الظاهري سره ستاسو ليدنه شوې؟

ځواب: د امريکايانو په ضد روان مقامت زموږ د مجاهدينو په لاس پيل شو، او دا هغه وخت وو چې نورې ډلي موږ مقاومت ته رابللې خو هغوی په دې موقعيت کې نه ول چې په مقاومت کي برخه واخلي، مجبور شوو چې يوازي خپل کار ته

ادامه ورکړو، ډېر وروسته نورې ډلې هم میدان ته راووتلې، موږ هڅه وکړه چې د ټولو مجاهدینو تر منځ مضبوط یووالی او وحدت وي او په ګډه د دښمن مقابله وکړي خو نورو ډلو دې بلنې ته مثبت ځواب ونه وایو او په مستقله توګه ئې خپل کار پیل کړ. موږ اوس هم د دې هڅه کوو چې د مجاهدینو تر منځ د مقاومت په اړه هم او د افغانستان د راتلونکي په اړه هم توافق او یو والی وي، خو له هیڅ ډلې داسې کوم توافق ته نه یو رسېدلي،

هو؛ له اسامه بن لادن او ایمن الظواهري سره زما ملاقات شوی، او دا هغه وخت چې ایراني لیبرالانو له امریکایانو سره د نورو ملګرتیاوو په ضمن کې غوښتل ما هغوی ته تسلیم کړي، او زه د ایراني چارواکو له خبرولو پرته له ایرانه ووتلم او هېواد ته راغلم. باید تاسو ته ووایم چې په کابل د امریکایي ځواکونو له برید نه وروسته مې د حزب اسلامي غړو ته وویل: ستاسو یوه مهمه دنده دا ده چې هغه انصار وروڼه خوندي ځایونو ته ورسوئ چې له افغانستان نه د وتلو توان، او د پناه بل ځای نه لري، کله چې په تورې بورې د امریکائي ځواکونو برید پیل شو او ځینو وطن پلورونکو ناافغانانو په دې برید کې برخه واخیسته، د حزب اسلامي څو زړه ورو او باایمانه مجاهدینو، دوی دواړه له څو نورو ملګرو سره له تورې بورې وایستل او یوه خوندي ځای ته ئې انتقال کړل، الله تعالی دې ټولو هغو افغانانو ته عظیم اجر ورکړي چې خپلو مېلمنو او انصارو وروڼو ته ئې پناه ورکړې او د دوی مرسته ئې کړې، او ټولو هغو خائنانو ته دې په دنیا او آخرت کې سزا ورکړي چې د دوی په نیولو او دښمن ته په سپارلو کې ئې د اسلام د دښمنانو مرسته او ملګرتیا کړې، الله تعالی دې هغه بې ایمانه او ذلیل منافقین سپك او رسوا کړي چې د امریکائي افسرانو په قومنده ئې د خپل ولس او خپلو مسلمانو وروڼو په ضد په جګړې کې برخه اخیستې، په خپل قوم ئې بمونه ورولي، بې ګناه خلك ئې نیولي او لاس تړلي ئې امریکایانو ته سپارلي!! متأسفانه په افغانانو کې داسې ذلیل خلك هم پیدا شول چې د څو ډالرو په بدل کې خپل هېواد، خپلواکي او عزت پلورل د هوښیارۍ نښه ګڼي او په دې افتخار کوي چې د امریکایانو تر قومندې لاندې د خپل ولس په ضد جنګېږي او خپل انصار وروڼه ئې د څو ډالرو په بدل کې د اسلام

پر دښمنانو پلورلي!!

۳. پوښتنه: د مقاومت د څرنګوالي په اړه ستاسو نظر څه دی او کومه تګلاره غوره ګڼئ؟

ځواب: موږ د اشغالګرو ځواکونو د ایستلو لپاره له لومړۍ ورځي نه په یوې دقیقې منصوبې کار کوو، الحمد لله زموږ کار تر ډېره حده مؤثر وو او په زړه پورې نتایج ئې ورکړي، زموږ د منصوبې څو مهمې برخې وې:

- ولس مقاومت ته تیارول.
- مجاهدین د داسي چریکي جنګونو لپاره په وړو وړو ټولیو کي تنظیمول چي په دښمن باندي په هر ځای کي او په پرله پسې توګه بریدونه وکړي، ګزمې او قطارونه ئې تر برید لاندي ونیسي، هغه وخت او په هغه ځای کي پر دښمن حمله وکړي چي زیات تلفات ورواړوي، دښمن پوه نه شي چي چا پرې برید کړی او له چا خپل انتقام واخلي.
- موږ مجاهدینو ته په کلکه سپارښتنه کوله چي له مخامخ نښتو نه ډډه وکړي، تاسو پوهېږئ چي موږ له هېچا نه د مرستي طمع نه شوی کولی، باید په خپلو محدودو امکاناتو مو د دښمن مقابله کړې وی، او په همدې سره مو دښمن ته تر زیات نه زیات تلفات اړولي وی، مخامخ جګړي له یوې خوا زیاتو وسایلو او امکاناتو ته ضرورت لري،
- همدا راز موږ غوښتل چي د عام ولس د تلفاتو مخنیوی وشي، داسي کار ونه کړو چي دښمن ته له عام ولس نه د غچ اخیستو بهانه په لاس ورشي، مخامخ نښتې دښمن ته همدا بهانه په لاس ورکوي، دوی د نښتو د ځای شاوخوا سیمو باندي بمونه وروي او په دې سره خپل غچ له عام ولس نه اخلي، په چریکي جنګونو سره تر ډېره حده د عام ولس د تلفاتو مخنیوی کېدی شي.
- سیمي باید هغه وخت آزادې او د دښمن له کنټرول او ادارې وایستی شي چي دښمن پوره کمزوری شوی وي او خپل ځواکونه ئې لویو لویو مراکزو ته راغونډ کړي وي.

۴. پوښتنه: مسیحیانو او یهودانو ته ستاسو پیغام څه دئ؟

ځواب: یهودانو او مسیحیانو ته زما پیغام دا دی چي موږ د ادیانو تر منځ په تفاهم باور لرو، موږ په دې باور یو چي الهي ادیان د ورورولي او صلح ضامن دي، یوازي دین، په خدای او آخرت باور کولی شي انسان له ظلم او د بل په حق له تېري نه منع کړي او په نړۍ کي عدالت او امنیت راولي، مسلمانانو عملاً ثابته کړې ده چي انسانانو او د ټولو ادیانو پلویانو ته په درنه سترګه ګوري، اسلام په زور د یوې عقیدې په تپلو باور نه لري، د مسیحیانو او یهودانو د عبادت ځایونو ورانول حرام ګڼي، اسلام یوازي د حق لپاره او له مظلوم نه د دفاع په خاطر جنګ جایز ګڼي او دا هم تر هغه وخته چي جنګ پای ته ورسېږي او جنګ غوښتونکي وسله پر ځمکه کېږدي.

مغرور جورج بش او د ده جنګي ټیم یوې داسي خطرناکي لوبې ته لاس اچولی چي نړۍ او په خپله امریکا ته ډېرې بدې پایلې له ځان سره لري، دوی د افغانستان او عراق جنګ ته د بل صلیبي جنګ نوم ورکړی، په داسي حال کي چي دا جنګونه د امریکا د تېلو د کمپنیو جنګونه دي، دوی غواړي د عراق او مرکزي آسیا د تېلو په ذخایرو مسلط شي، د امریکا ټول جنګونه د دې هېواد د وسلو د تولید کمپنۍ او د تېلو او ګاز کمپنۍ پلانوي، د امریکا چارواکي په داسي حال کي چي نه په مسیحیت باور لري او نه بل دین لري، دغو استعماري جنګونو ته مذهبي رنګ ورکوي،

**۵.** پوښتنه: د کرزي د حکومت د ناکامۍ وجوهات کوم دي؟

ځواب: د کرزي د حکومت د ناکامۍ وجوهات همغه دي چي د ببرك کارمل او د نجیب د حکومتونو د ناکامیو وجوهات وو، لویه وجه ئې دا ده چي دا د پردیو په لاس یو تپل شوی حکومت دی، د پردیو د جهازونو تر وزر لاندي حکومت کوي، واك ئې د پردیو په لاس کي دی، په هر دفتر کي ئې امریکایي مشاورین ناست دي، او ټول اختیارات د هغوی په لاس کي دي، دوی په هغو ځواکونو تکیه کړې چي په افغانانو بمونه وروي او هره ورځ په لسهاوو بې وزلي افغانان په خپلو وینو کي رغړوي. دا حکومت له هغو ډلو جوړ شوی چي پرون روسانو د افغان ولس په ضد وجنګولې او نن ئې امریکایان جنګوي، له غلو، مفسدینو، منافقینو او وطن

پلورونکو نه یو کامیاب حکومت نه شي جوړېدی.

۶. پوښتنه: د مقاومت د نورو ډلو په اړه څه نظر لرئ، آیا له طالبانو او القاعدې سره کومه موافقه یا تړون لرئ؟

ځواب: موږ هر مجاهد ته په درنه سترګه ګورو، د هر مجاهد قدر کوو، له هیڅ مجاهد سره د رقابت او تنافس اراده نه لرو، هر مجاهد خپل مجاهد ګڼو او حزب د هغه کور او سنګر، خو ستاسو په ځواب کې مجبوراً باید دا ووایم چې حزب اسلامي نه له طالبانو سره کوم تړون لري او نه القاعدې سره.

۷. پوښتنه: د فدایي عملیاتو په هکله ستاسو نظر څنګه دئ؟

ځواب: کوم شهادت طلبانه عملیات چې په فلسطین، عراق او افغانستان کې د اشغالګرو ځواکونو په ضد ترسره کېږي، دا نه یوازې سل په سلو کې جائز دي بلکې د دغو شهیدانو مقام او اجر تر هغو شهیدانو ډېر ډېر لوړ دی چې له دښمن سره په مخامخ نښتو کې په شهادت رسېږي، دا د بېرته ژوندي راتلو طمع لري خو هغه بل خپل سر په ورغوي کې نیسي او خپل رب ته ئې وړاندې کوي، یوازې سرکاري مفتیان، له دین نه بې خبره آخوندان او احمقان به دې ته د ځان وژنې نوم ورکوي او هغه به ناجائز او حرام ګڼي. دا فتواګانې هغه بې همته او ناپوه کسان ورکوي چې په قاموس کې ئې د هجرت، جهاد او شهادت الفاظ نه شته، په جهاد باور نه لري، کله ئې هم د دښمن د مقابلې جرأت نه دی کړی، ما ته که الله تعالی بل زوی راکړ نو نوم به ئې محمد عطا ږدم، زما دعا دا ده چې الله تعالی مې د قیامت په ورځ له هغو شهیدانو سره حشر کړي چې د نیویارك او واشنګتن عملیات ئې ترسره کړل.

۸. پوښتنه: آیا کېدی شي مسکو او تهران د مجاهدینو ملا تړ وکړي؟ آیا له شمالي ائتلاف سره د تفاهم څه امکان شته؟

ځواب: مسکو او تهران او د دوی تر حمایت لاندې ډلې تر اوسه د امریکایانو مرسته او ملګرتیا کوي.

۹. پوښتنه: د اسلامي ملکونو واکمنانو ته څه پیغام لرئ؟

ځواب: د اسلامي ملکونو پاچایانو او واکمنانو هم ځان ذلیل کړی او هم خپل

امت، له دوی نه د هیڅ خیر طمع نه شي کېدی، هغوی د خپل اقتدار لپاره د اسلام او مسلمانانو په ضد هر څه کولو ته تیار دي، اسلامي امت به تر هغه همداسي ټوټې ټوټې وي او پردي به ئې پر برخلیك حکومت کوي چي دا منافقین او مفسدین پرې مسلط وي، دوی په فساد او عیاشۍ کي دومره غرق دي چي ترې وتلی نه شي، څومره چي له دوی نه اسلام ته تاوان رسېږي له بهرنیو دښمنانو دومره تاوان نه رسېږي، کابل او بغداد امریکایي ځواکونو په خپل زور نه بلکي د دغو منافقینو په مرسته نیولي.

۱۰. پوښتنه: د اسلامي امت ځوان نسل ته ستاسو پیغام څه دئ؟

ځواب: موږ د اسلامي امت له ځوان نسل نه د یوه واقعي اسلامي انقلاب راوستو طمع لرو، او دا طمع په ځای ده، په امت کي له دوی پرته بله داسي ټولنه نشته چي د یوه اسلامي انقلاب په راوستو کي تردوی مؤثره ونډه واخیستی شي، الحمد لله د اسلامي نړۍ ځوان نسل اسلام ته مخه کړې، د اسلام لپاره قربانۍ ته چمتو دی، هم د لمانځه په وخت کي جوماتونه ترې ډك وي او د جهاد په وخت کي سنگرونه، إن شاء الله د افغانستان دا په نیمه لار کي پاتې انقلاب به هم د دوی په مبارکو لاسونو سرمنزل ته رسېږي، تاسو ته معلومه ده چي د افغانستان اسلامي نهضت ۳۸ کله مخکي د ځوانانو په لاس پیل شو، دوی غوښتل په هېواد کي اسلامي انقلاب راولي، په ډېره چټکتیا مخکي روان وو، د ځوانانو اکثریت ورسره یو ځای شو، په پردیو پورې تړلې ډلي ئې د فکري مبارزې په ډگر کي له سختې ماتې سره مخامخ کړې، د اسلامي نهضت د بریا د مخنوي لپاره، زموږ د هغه وخت ځواکمن گاونډي، شوروي اتحاد، مداخله وکړه، لومړی ئې یوه کودتا او بیا بله ترسره کړه، دواړه کودتائي نظامونه د اسلامي نهضت له ځپلو عاجز شول، په پای کي شوروي اتحاد زموږ پر هېواد برید وکړ، د برید اصلي موخه د اسلامي نهضت ځپل وو، دې کودتاگانو او بیا د دوی لوی یرغل، موږ له وخته مخکي جنگ ته اړ کړو، جنگ د دې باعث شو چي نهضت هر چا ته خپله غېږ پرانېزي او هر هغه څوك په خپلي خوا کي ومني چي د آزادۍ لپاره جنگ ته چمتو وي، که څه هم د نهضت له اهدافو او تگلارو سره توافق ونه لري، له بلي خوا پردي لاسونه رااوړېده شول، او د

اسلامي نهضت ترڅنګ ئې ببلې ببلې ډلي جوړي کړې، ټولو همغه شعارونه ورکول چي اسلامي نهضت ورکول، هري ډلي د اسلام او جهاد خبره کوله، ولس نه پوهېدو چي کومه ډله رښتيا وايي او کومه د مجبوريت له مخې او په دې خاطر دا شعارونه ورکوي چي بازار ئې ګرم دی. اوس خلکو ته تر ډېره حده حقايق معلوم شوي، او په دې پوه شوي چي هغه ډلي نه اسلام ته مخلص وې او نه جهاد ته چي نن د امريکايانو خوا ته ودرېدلې او جنګيالي ئې د امريکايانو تر قومندې لاندي له افغانانو سره جنګېږي!!

۱۱. پوښتنه: جورج بش ته څه پيغام لرئ؟

ځواب: جورج بش بايد اوس په دې پوه شوی وي چي پر افغانستان او عراق باندي بريد يوه لويه او تاريخي اشتباه وه، له دې پرته بله چاره نه لري چي خپل فوځونه وباسي، افغانان او عراقيان پرېږدي چي خپل برخليك په خپله وټاکي او د خپلي خوښي نظام ولري ، اسلامي نړۍ نور اسارت ته غاړه نه ږدي، د اسارت او غلامۍ دور ئې پای ته رسېدلی، دا وقعيت تسليم کړئ، پرېږدئ چي مسلمانان آزاد ژوند ولري، دا درې پېړۍ تاسو او ستاسو اروپايي اندېوالانو آسيا او افريقا ولوټله، ظالم او بې رحمه پاچايان او جنرالان مو پرې مسلط کړل، پرېږدئ چي له دې وروسته د خپلي خوښي حکومتونه او نظامونه ولري.

حکمتيار

افغانستان

۱۳۸۵۱۸۱۱۰

بسم الله الرحمن الرحيم

# د امریکا د انتخاباتو نتایج

د امریکا د انتخاباتو نتایجو وښوده چې د امریکا عام ولس د افغانستان او عراق په اړه د جورج بش له غلطو جنګي سیاستونو سره مخالف دي.

موږ همدا انتظار درلود چې د جورج بش جنګي ټیم به په دې انتخاباتو کې له ماتې سره مخامخ کېږي، خو هیڅ دا ګمان نه کاوو چې مخالفت به دومره شدید وي او په دومره زیات شمېر کې به امریکایان د دوی په ضد رایه ورکړي.

په دې کې هیڅ شك نه شته چې دا د افغاني او عراقي مجاهدینو لپاره یوه لویه فتحه ده، په دې پسې به هغه ورځ هم وګورو چې امریکایي فوځیان په تېښته سر له افغانستان او عراق نه ووځي.

داسې معلومېږي چې په افغانستان او عراق کې د مجاهدینو هره هغه مرمۍ چې د امریکایانو په لوري ویشتل شوې د بش په ضد یو ووټ ترې جوړ شوی.

زه داسې ګمان کوم چې بش د امریکا بریژنف او راتلونکی جمهور رئیس به ئې د امریکا ګورباچوف ثابت شي، زه باور لرم چې امریکا ته همغه برخلیك منتظر دی چې شوروي اتحاد ورسره مخامخ شو. إن شاء الله د امریکا د زوال ورځې رانږدې شوي دي، نړۍ او مخصوصاً اسلامي امت به له ډېرو هغو ستونزو نه وژغورل شي چې امریکایان ئې باعث دي.

حکمتیار

افغانستان

۱۳۸۵۱۸۱۱۲

بسم الله الرحمن الرحيم

# د لوی اختر په مناسبت پیغام

گرانو هېوادوالو!

ورونړو خویندو! السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د لوی اختر د رارسېدو په مناسبت مبارکي وایم، دعا کوم چې الله تعالی زموږ مظلوم او دردېدلی ولس له دې دردناك حالت نه وژغوري او دا توفیق ورکړي چې راتلونکي اخترونه په خپلواك او آزاد افغانستان کي په داسي حال کي ولمانځي چې د هېواد په گوټ گوټ کي د اسلام بیرغ رپانده وي، ټول اشغالگر ځواکونه له هېواده وتلي وي، جگړه د تل لپاره پای ته رسېدلې وي او اقتدار د داسي صالح حکومت په واك کي وي چې ملت ترې راضي وي، چارواکي ئې له خدایه وېرېږي او پر مظلومانو ترحم لري.

لوی اختر مسلمانانو ته د قربانۍ درس ورکوي، په دې ورځ د نړۍ نږدې دوه ملیونه حاجیان په یوه رنگ جامو کي د الله تعالی د کور طواف کوي، په حجرالاسود لاس ږدي او له خدای سره دا ژمنه تازه کوي چې له ده پرته به بل چا ته لاس نه اوږدوی، د بل کور دروازه به نه ټکوي، بل چا ته به سر نه ټیټوي، له ده پرته به نه له چا طمعه لري او نه وېره، د هاجر علیها السلام په پل گام ږدي او ژمنه کوي چې هره سعي او هر هاند به ئې د الله تعالی په لار کي وي، د خپل ستر موحد او بت ماتوونکي جد ابراهیم خلیل الله قرباني رایادوی، د اسمعیل ذبیح الله په لار د تلو هوډ کوي، د الله تعالی او د ده د بندگانو د دریو سترو او دائمي دښمنانو ځلې په ډبرو ولي او دا تعهد کوي چې تل به د هر (فرعون، هامان او قارون) په ضد جنگېږي، د منیٰ، عرفات او مزدلفې شپې ورځې دوی ته د مجاهد او قربانیو ته د

چمتو باايمانه انسان په څېر د ژوند کولو طريقه ورښيي او د نړۍ د ټولو مسلمانانو ترمنځ د ورورولۍ، مساوات، يووالي او يو رنګ والي درس ورکوي، پاتې مسلمانان په خپلو کورونو کي د قربانيو او د لمونځ په ترڅ کي دا ورځ لمانځي، اسلام د دې ورځ په ټاکلو سره موږ ته وايي: ستاسو د خوشحالۍ ورځي هغه دي چي الله تعالى تاسو ته د ده په لاري کي د قربانۍ همت، عزم او توفيق درکړي، راشئ په دې مبارکي ورځي کي تعهد وکړو چي د ابراهيم عليه السلام په څېر به ژوند کوو، د اسمعيل عليه السلام په څېر به قربانۍ ته چمتو وو، د نمرود مقابلې ته به درومو، په هغه اور کي به له لوېدو وېره نه لرو چي نمرودان ئې بلوي، په همدې اور کي د لوېدو په وخت به وايو:

حَسبُنَا اللّهُ وَ نِعْمَ الْوَکيلُ ، نِعْمَ الْمَولٰی وَ نِعْمَ النّصِيرُ

خدای هم راته کافي دی او هم ډېر غوره وکيل، غوره مولا او غوره مرستندوی

دا اختر موږ ته وايي: خدای ته مخه کړئ، د بنده بندګي مه کوئ، بتان نسکور کړئ، د اسارت جغ مات کړئ، زولنې وشلوئ، آزاد او سرلوړی ژوند وکړئ، د خپل ټاټوبي د خپلواکۍ او آزادۍ بيرغ لوړ وساتئ، د پرديو بيرغونه رانسکور کړئ، د هغو طاغوتي نظامونو ټغر ټول کړئ چي مظلومان او بې وزلي انسانان کړوي، د هغو زندانونو دېوالونه ونړوئ چي خدای پال آزادي غوښتونکي په کي ځورول کېږي، که دا ونه کړئ نو تاسو نه اختر پېژندلی او نه مو لمانځلی!!

ورونو خويندو! له دې فرصته په استفادې سره د هېواد د مهمو قضاياوو په اړه څو عرايض لرم:

- لکه څنګه چي الله تعالى تاسو ته د روسي يرغلګرو په ضد په تېر جهاد کي بريا درکړه، دا دی د صليبي ځواکونو په ضد په روان مقاومت کي هم ستاسو بريا د تحقق په حال کي ده، امريکايي يرغلګر له ماتې سره مخامخ شوي او د وتلو په حال کي دي، امېد دې الله تعالى د اسلام او بشريت دا زوړ او تر ټولو خطرناك دښمن هم له هغه برخليك سره مخامخ کړي چي شوروي اتحاد ئې ورسره مخامخ کړ، خو دې ته مو بايد پام وي چي روسيه او ملګري ئې د هند او ايران په شمول غواړي هغه لوبه تکرار کړي چي د روسي فوځونو د وتلو په مهال ئې وکړه، غواړي بيا وطن

پلورونکی شمالي ائتلاف راژوندی کړي، غیرپښتانه په کي راغونډ کړي او د پښتنو په ضد ئې وجنگوي. مسکو او منطقوي ملگرو ئې د همدې لپاره د افغانستان په نیولو کي د امریکایانو ملگرتیا وکړه، امریکایانو په حقیقت کي افغانستان د همدې ائتلاف لپاره فتح کړي او د دوی لپاره ئې هغه څه وکړل چي له کولو ئې عاجز وو، امریکایانو دې ائتلاف او په دوی پورې تړلو ډلو ته په افغانستان کي په خلاص لاس د کار کولو شرایط برابر کړل، د همدې لپاره دا ملکونه زموږ په هېواد کي د امریکایي ځواکونو د مزید پاتې کېدو پلوي کوي، موږ دا هیله درلوده چي د ایران نوی حکومت به د لیبرالانو په تېر سیاست کي تجدید نظر وکړي او له امریکا سره د ملگرتیا په ځای به زموږ له هېواده د ټولو پردیو ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړي، خو متأسفانه داسي ونه شول، تهران اوس هم په همغه مخکني سیاست عمل کوي او ښیي چي دوی خپلي ملي گټې په دې کي لټوي چي افغانستان د پردیو په اشغال کي وي.

• پاکستان زموږ د هېواد په اړه همغه څه کوي چي امریکا ئې ترې غواړي، موږ د اسلام آباد چارواکو ته وایو: که د امریکایانو د مرستي لپاره خپل ټول فوځ په قبایلو کي ځای په ځای کړئ، امریکایانو ته اجازه ورکړئ چي ټولي دیني مدرسې ویجاړې کړي، په زرگونو نور بې گناه افغانان ونیسئ او امریکایانو او د دوی لاس پوڅې حکومت ته ئې وسپارئ، نه به امریکا درنه راضي شي او نه به د کابل گوډاگی حکومت ستاسو په خلاف د تبلیغاتو لړۍ بنده کړئ، په کابل کي چي نن څوك د قدرت په گدۍ ناست دي، د دوی مأموریت دا دی چي پاکستان او افغانستان په جگړې کي ښکیل کړي، دوی د پردیو استاځي دي، غواړي کابل د هغه محلي ائتلاف اډه وي چي د مسکو تر مشرۍ لاندي جوړ شوی او هدف ئې په افغانستان کي د جگړې دوام او د یوه مضبوط اسلامي حکومت د جوړېدو مخنیوی دی. افغانان باید متوجه وي چي د کابل د گوډاگي حکومت هیڅ وینا د دې حکومت خپله وینا نه ده، دوی همغه څه وایي چي ورته ویل شوي او همغه څه کوي چي پرې گمارل شوي.

• د افغانانو مختلفې ډلي، څو ملکونه زموږ د هېواد په چارو کي په لاسوهنو

تورنوي، ځيني روسيه، هند، ایران او ازبکستان د جګړو د پیل او دوام باعث ګڼي، ځیني امریکا، انګلستان، پاکستان او د امریکا اروپایي انډیوالان او ځیني دا دواړه ائتلافونه د افغانستان د پېښو او په دې هېواد کې د عدم ثبات او جګړو د ادامې سبب شمېرې او په دې باور دي چې دواړه ائتلافونه په دې سلا شوي چې په افغانستان کې د یوه مضبوط اسلامي حکومت د جوړېدو مخه په ګډه ونیسي، حقیقت دا دی چې په تېرو دریو لسیزو کې دغو هېوادونو بېلې بېلې افغاني ډلې جوړې کړې، وئې پاللې، په پیسو او وسلو ئې سمبال کړې او د خپلو استعماري موخو لپاره ئې وجنګولې، دا دوی دي چې نن غواړي غیرپښتانه د پښتنو او شیعه د سنیانو په ضد وجنګوي، فوځ او پولیس ئې له شیعه وو، شورای نظار او پرچمیانو نه جوړ کړ او د پښتنو په ضد ئې جنګوي او دا همغه کار دي چې په عراق کې ئې وکړ، شیعه ډلې، د مسعود بارزاني او جلال طالباني تر مشرۍ لاندې ډلې ئې په فوځ او پولیس کې ونیول او د عراقي مسلمانانو (سنیانو) په ضد ئې جنګوي. نن د افغانستان فوځ او پولیس په حقیقت کې د شمالي ائتلاف ملیشې په امریکائي یونیفورم کې دي، چې د انګرېزانو تر قومندې لاندې په جنوب او شرق کې جنګېږي!!

- تجربو وښوده چې د افغانستان بحران نه په یوه ائتلاف پورې د تړلو ډلو په مسلط کولو سره حل کېدی شي او نه د بل ائتلاف په لاس پوځي حکومت سره، دا بحران یوازې په هغه صورت کې حل کېدی شي چې افغانان خپلې خوښې ته پرېښودی شي ترڅو له بهرني فشار او مداخلې پرته خپل برخلیك وټاکي او د خپلې خوښې نظام او حکومت جوړ کړي. خو دې مقصد ته د رسېدو لپاره افغانان یوه بل عمومي پاڅون ته ضرورت لري، داسې پاڅون چې ټول قومونه په کې برخه واخلي، اشغالګر ځواکونه د هېواد په هیڅ ګوټ کې یوه شېبه آرام پرې نه ږدي، وطن پلورونکي ورټې او همغه معامله ورسره وکړي چې له کمونستانو سره ئې کوله، هغه ډلې د ملت اصلي دښمنان وګڼي چې افغانان په خپلو کې وېشي، شمال د جنوب په ضد او غیر پښتانه د پښتنو په خلاف جنګوي، د پردیو تر قومندې لاندې او د هغوی د ګټو لپاره د خپل ملت په ضد جنګېږي.

• افغانستان یوه بل اسلامي انقلاب ته ضرورت لري، داسي انقلاب چي د هېواد خپلواکي ترلاسه کړي، عدالت تأمین کړي، مظلوم افغانان د بې رحمو ظالمانو له منګولو وژغوري، ډاډمن امنیت راولي، جګړه د تل لپاره پای ته ورسوي، د ظالمانو په لاس د خلکو غصب شوي کورونه، ځمکي او مالونه هغوی ته وسپاري، پاچا او کورنۍ ئې، خائن حکام او د حکومت هغه چارواکي چي په ملي شتمنیو ئې قبضه کړې، ملت ئې لوټلی، هېواد ئې پلورلی، د پردیو لپاره له خپل ملت سره جنګېدلي، پردیو د لوټمار شرایط ورته برابر کړي، د انګرېزانو د سلطې په وخت کي هغوی د دوی پلرونو ته ځمکي ورکړې او اوس د امریکایانو د تسلط په وخت کي دوی د بنګلو، ځمکو او شتمنیو خاوندان کړل، دا خائنان باید الهي عدالت ته مخامخ شي، د انګرېزانو د اشغال له دوران نه تر نن پورې چي کومو وطن پلورونکو ته له استعمارګرانو سره د ملګرتیا په بدل کي ځمکي، قصرونه، باغونه او شتمنۍ ورکړي شوی، ټولي لوټ شوې ملي شتمنۍ باید د ملت په حساب مصادره او هغو خلکو ته ورکړي شي چي د آزادۍ په جنګونو کي ئې قربانۍ ورکړې، مظلومانو، ورېو، بې وزلو، د شهیدانو کورنیو او هغو ته چي له لاس او پښو او د بدن له نورو غړو محروم شوي، کور ئې وران شوی او مالي او ځاني تلفات وراوښتي. هیڅ افغان باید دا ونه زغمي چي د وطن د آزادۍ په لار کي د شهید شویو کونډې ګدائي ته اړ وي او ملي خائنان او وطن پلورونکي په آخرین ماډل موټرو کي ګرځي!!

• موږ د جګړې فوري او دائمي خاتمه او د ډاډمن امنیت عاجل تأمین غواړو، خو جګړه هغه وخت پای ته رسېدی شي چي ټول اشغالګر ځواکونه د هېواد له لوېشت لوېشت ځخه ووځي، بهرنۍ لاسوهنې متوقف شي، اقتدار د افغانانو د خوښي اسلامي حکومت ته وسپارلی شي او اجتماعي عدالت تأمین شي، تر څو چي اشغال ادامه لري جنګ به جاري وي، تر څو چي اقتدار د هغو ډلو په لاس کي وي چي د پردیو د وسلو، پیسو او فوځونو په زور پر ملت تحمیل شوې، تر څو چي یو منفور او ملت دښمنه اقلیت پر افغانانو حکومت کوي، مفسدین او ملي خائنان د اقتدار په ګدۍ ناست وي او اجتماعي عدالت تر پښو لاندي وي، نه جګړه پای

ته رسېدی شي او نه امنيت راتلی شي. د روسانو يو سل شل زره فوځ او د امريکا او ناټو څلوېښت زره فوځ ونه توانېدو چي د زړه ورو او باايمانه افغانانو مقاومت وځپي او د خپلي خوښي امنيت راولي، دغو تجربو وښوده چي د اشغال دوران پای ته رسېدلی، نور نو هېڅ ځواك نه شي کولی د وسلو په زور خپله اراده پر نورو ملتونو تحميل کړي، هم وطن پلورونکي ډلي بايد له دې نه پند واخلي او هم زموږ هغه جاه طلب ګاونډيان چي غواړي په افغانستان کي د روسانو او امريکايانو ناکامه تجربه تکرار کړي، څوك چي اوس د يوه محلي زبر ځواك کېدو شوق کوي او د همدې لپاره کله له روسانو سره د افغانستان په نيولو کي ملګرتيا کوي او کله له امريکايانو سره، بايد پوه شي چي داسي مستي او شوقونه اکثراً بدې پايلې له ځان سره لري!!

- موږ له هيڅ له داخلي ډلي او بهرني هېواد سره ذاتي دښمني نه لرو، په تفاهم او روغې جوړې باور لرو، د شخړو عادلانه او سوله ييز حل غواړو، واقعيتونه منو، په دې ټينګار کوو چي هر چا ته بايد خپل حق ورکړي شي، هيڅوك له خپل جايز حق نه محروم نه شي. د همدې لپاره موږ د هېواد د بحران د خاتمې لپاره داسي طرحه وړاندي کړې چي په دغو اساساتو ولاړه ده: د بهرنيو فوځونو بشپړ او بلا قيد وشرط وتل، ټولو ډلو ته د منلو وړ يو موقت حکومت جوړول، د ملت د واقعي استازو مجمع دايرول، چي همدا به د اساسي قانون، فوځ، پوليس، راتلونکي حکومت او نورو مهمو ملي قضاياوو په هکله تصميم نيسي. په جنګي جناياتو د تورنو کسانو او د هغو وطن پلورونکو محاکمه چي د اشغالګرانو په څنګ کي ودرېدلي، په مسکو او بن کي ئې د هېواد د پلورلو اسناد امضاء کړي، پرديو ته ئې د افغانستان په کورنيو چارو کي د لاسوهنو شرايط برابر کړي، دا ټول بايد د دغې لويې جرګې له لوري ترسره شي. موږ دا هم وويل چي د موسی کلا توافق د مرکز په شمول په نورو سيمو کي هم عملي کېدی شي، بهرني ځواکونه دې ووځي، د هري سيمي اداره دې د سيمي خلکو ته وسپارلی شي، په کابل کي دې د کابل د اوسېدونکو په خوښه يو موقت حکومت جوړ شي... بهرني ځواکونه دې يا خپلو ملکونو ته ستانه شي او که په سيمي کي خپل شتون ضروري ګڼي نو په هغو

هېوادونو کې دې ځای په ځای شي چې پر افغانستان باندې د برید پر مهال ئې د دوی ملګرتیا وکړه او نظامي اډې ئې ورکړې. موږ په دې اعتراض نه لرو چې دا ځواکونه د ازبکستان په خان آباد ، د پاکستان په جکب آباد او په مشهد او زاهدان کې ځای په ځای شي!!

خو تاسو ګورئ چې زموږ د نېك نیت او معقولو وړاندیزونو په ځواب کې موږ ته ویل کېږي چې د بهرنیو ځواکونو شته والی ضروري دی، د کابل حکومت له هغه چا سره خبري کوي چې موجوده نظام او اساسي قانون مني!! موږ مجبور یو د دغو جنابانو په ځواب کې ووایو: څوك چې ځان په نورو ساتي او د خپل کور د دروازې کیلي ئې هم د پردي په لاس کې وي، د پردیو د جهازونو تر وزر لاندې د سپکاوي او ذلت له ژوند نه عار نه لري، په دې ئې د غیرت رګ نه خوځي چې هره ورځ د دغو ځواکونو په لاس د ده په لسګونو بې ګناه وطنوال په وینو کې رغړي، په عزت او ناموس ئې تېری کېږي، ډېر ساده انسان به له داسي چا سره د خبرو لېوال وي او له داسي خبرو به څه هیله لري!! هیڅ باایمانه او اصیل افغان د اشغالګرانو شته والی د یوې شېبې لپاره هم نه مني، موږ نه د پردیو په لاس تپل شوی نظام منو او نه د امریکا د سفیر په لاس لیکل شوی اساسي قانون، صبر وکړئ چې کله اشغالګران وباسو او دا نظام رانسکور شي بیا به خبري کوو!!

- موږ په مکتب، مدرسې او جوماتو کې چاودنې او د بې ګناه افغانانو وژنه په کلکه غندو ، په دې پوره باور لرو چې دا کار د اسلام او افغانستان د دښمنانانو په لاس ترسره کېږي، دوی لکه څنګه چې غواړي په اسلامي امت کې د شیعه او سني تر نامه لاندې د جګړو اور ته لمن ووهي همداسي غواړي د ملا او مکتبي په نامه د یوه بل جنګ اور هم بل کړي، دوی غواړي مجاهدین بدنام کړي، خو افغانان پوهېږي چې دا د بې عقلو او بې دینو خلکو او د دین او د علم د دښمنانو کار دی نه د مجاهدینو!! مجاهدین غواړي چې د ملا او مکتبي تر منځ اختلاف د تل لپاره پای ته ورسوي، موږ غواړو مکتب او مدرسه سره توحید کړو او د هېواد لپاره واحد تعلیمي نظام او واحد تعلیمي نصاب ولرو ، داسي چې ډاکټر، انجنیر، والي او څارنوال مو په دین پوه وي او د جوماتو امام مو په ساینس او ورځنې علومو ،

مکتبي د ملا په هکله ونه وايي چي بې علمه او له دنيا بې خبره دی او ملا د مکتبي په اړه ونه وايي چي بې دينه او ملحد دی، متأسفانه ځيني کسان په دې نه پوهېږي چي دا دوه بېل بېل نظامونه د استعمار د وخت پاتې شونې دي او د دښمن له لوري پر مسلمانانو تحميل شوي، د ملا او مکتبي د جنګولو لپاره، د ملا د تحقير او سپکاوي لپاره، د دې لپاره چي له مدرسې نه بايد د جومات داسي امام فارغ شي چي په هر څه کي خلکو ته محتاج وي، د خلکو دراوزو ته په ودرېدو مجبور وي، ډوډی، جامه او معيشت ئې د وظيفو، صدقاتو او خيراتونو له لاري تأمين شي، خو له مکتب نه به والي او وزير وځي، معاش، کور او موټر به دولت ورکوي، د شرعياتو له پوهنځي نه به قاضي وځي او د حقوقو له پوهنځي نه ولسوال او ځارنوال، موږ غواړو دا حالت پای ته ورسوو، تر دولسم پوري بايد په ټولو زده کوونکو يو عام او مشترك نصاب ولوستی شي، په دې ګډ نصاب کي هم بايد د ديني علومو کافي برخه وي او هم د ساينسي علومو او د تاريخ، جغرافيې او ضروري ژبو مناسبه او اړينه برخه، له دولسم نه وروسته بايد د تخصص دوره پيل شي، چي په دې دورې کي به ځيني د ديني علومو پوهنځيو ته ځې، ځيني طب، انجنيري، زراعت او نورو پوهنځيو ته، د حقوقو په نامه هغه پوهنځی چي غربي حقوق په کي لوستل کېږي، دا بايد د شرعياتو په پوهنځي کي مدغم شي، هلته به غربي حقوق يوازي له اسلامي حقوقو سره د مقارنې لپاره لوستل کېږي.

- حکومت او بهرني حاميان ئې اعتراف کوي چي د مقاومت له ځپلو عاجز شوي، ډېرې سيمې ئې له لاسه وتلي، امنيت نه شته، نه لويې لاري خوندي دي، نه د بهرنيو ځواکونو اډې او نه ئې ګزمې او کاروانونه، د اداري فساد، رشوت، اختلاس او د ملي شتمنيو د تالان لمن هومره پراخه شوې چي حکومت ئې مخنيوی نه شي کولی او لوړ پوړي چارواکي په خپله په کي ککړ دي، چارواکي په دې اعتراف کوي چي اوس هم د هېواد په مختلفو برخو کي د حکومت د پلويانو په لاس کي تر پنځوسو زيات شخصي زندانونه شته، دا زندانونه د مفسدينو د هغې ډلي په واك کي دي چي د حکومت مهم وزارتونه ئې هم په لاس کي دي او په دې اداراتو پورې مربوط ټول زندانونه هم د دوی شخصي زندانونه دي، دا همغه ډله ده

چي امريکايانو ته ئې په کابل کي شخصي زندانونه هم جوړ کړي، همغه چي د کابل ځينو چارواکو د ځانګړو موخو لپاره افشاء کړل، د زندان چلوونکی د سي آی اې غړی ونيول شو، خو له لنډې مودې بند تېرولو وروسته په احترام او عزت سره خوشې شو، دا خبره هم افشاء شوه چي په دې زندان کي دغي ډلي بې وزلي بنديان له پښنو راځړول او رنګ رنګ عذابونه به ئې ورکول، ټولو ته معلومه ده چي نن د مخدره موادو تجارت هغه ځای ته رسېدلی چي د نړۍ په سلو کي نوي برخه په افغانستان کي او د حکومت تر واك لاندي سيمو کي توليد کېږي!!! دا حقيقت له هيچا پټ نه دی چي امريکايي اشغالګران په ټولو برخو کي له ماتې سره مخامخ دي، په دې ونه توانېدل چي د بې ګناه افغانانو په وژلو او د دوی پر کليو او کورونو د بمونو په ورولو سره خپلي موخې ترلاسه کړي، دا دی هغوی هم د شوروي ځواکونو په څېر د وتلو لپاره تياری نيسي، هر افغان پوهېږي چي د دغو ځواکونو له وتلو وروسته به د کابل حکومت له کوم برخليك سره مخامخ کېږي، موږ دغه وضعيت ته په پام سره ټولو افغانانو ته بلنه ورکوو چي راشئ له دې بحران نه د هېواد د ايستلو لپاره يوه بل ته د وروری لاس ورکړو، افغانستان د ټولو ورونو قومونو ګډ کور وګڼو، جګړه د تل لپاره پای ته ورسوو، د پرديو د لاسوهنو مخه ونيسو، داسي سرلوړی او خپلواك افغانستان جوړ کړو چي د نړۍ هيڅ ځواك هغه ته په کږه سترګه د کتلو جسارت ونه کړي، له نورو سره د سيالۍ جوګه وي او هيچا ته ئې د احتياج لاس اوږد نه وي.

سرلوړي دي وي افغانان

بريالي دي وي مجاهدين

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

حکمتيار

افغانستان

لوی اختر ۱۳۸۵

بسم الله الرحمن الرحيم

# د صدام په اعدامولو څوك خوښ شو؟

حزب اسلامي د لوی اختر په لومړۍ ورځ د بش په امر او د عراق د لاس پوڅي شيعه حکومت په لاس د صدام حسين اعدامول په کلکه غندي او دا د اسلامي امت لپاره د لوی پېغور ځای گڼي چې د دوی واکمنان د پرديو په لاس د اقتدار په گدۍ کښېنول کېږي، يو په بل بدلېږي او په داسي سپکاوي او سفاکي سره وژل کېږي!!! ډېره عجيبه ده چې گورو د اسلامي هېوادونو ځېنو بې مروته او ذليلو واکمنانو په دې اعدام خوښي څرگنده کړه، په خپلو برېتونو ئې لاس راکښ کړ او دا ئې خپله بريا او د حق بريا وگڼله!!

مورږ د عراق شيعه ډلو او د دوی بهرنيو حاميانو ته وايو: بې ننگي او بې مروتي هم ځان ته حد لري، ولې د ذليلو کرسيو لپاره دې ته چمتو کېږئ چې د جاني امريکايانو هغه ناولي لاسونه په خپلو جامو پاکوئ چې د عراقيانو په وينو سره دي؟ تر څو به د پوليسو او فوځيانو په امريکايي يونيفورم کي مظلوم عراقي مسلمانان په داسي نامردۍ سره وژنئ چې له کورونو ئې راباسئ، لاس پښې ئې ورتړئ، په امبورانو ئې غوږونه ترې شکوئ، په سرونو کي ئې مېخونه ټك وهئ، د کلشنکوف شاجورونه پرې تشوئ، په سر سينه ئې په گوليو ولئ، بيا ئې په تورو پلاستکي کڅوړو کي اچوئ او د سړکونو خوا ته ئې غورځوئ؟!! او دا ټول هغه څه دي چې بش، بلير او ايهود ايلمرت ئې په عراق کي ليدل غواړي!! تاسو په دې نه پوهېږئ چې دوی په دې سره غواړي په اسلامي نړۍ کي د شيعه او سني په نامه د يوې تلپاتې جگړې اور بل کړي، د همدې لپاره ئې صدام حسين د شيعه وو په لاس، د اختر په ورځ او د يو سل اته څلوېښت شيعه وو د وژلو په تور اعدام کړ!!

په دې کي هيڅ شك نه شته چې د صدام حسين د اقتدار پر مهال ډېر بې گناه

عراقيان په قتل رسېدلي، عراقي مظلوم ولس له ډېرو ستونزو سره مخامخ شوی، يوازي شيعه نه بلکي سنيان هم وژل شوي، د بعثي رژيم هر مخالف کړول شوی، خو آيا د صليبي ځواکونو په لاس د مظلومو عراقيانو د وژل شوو شمېر تر هغه کم دی؟ آيا د مالکي لاس پوځي حکومت تر هغه لږ ظلمونه کړي؟آيا بش تر صدام حسين لږ ظالم او بې رحمه دی؟ هر باانصافه قضاوت کوونکی وايي چي: همدا صدام حسين که تر بش، مالکي او د ده تر حاميانو غوره نه وو نو په هيڅصورت کي تر دوی بد هم نه وو!! صدام حسين د اشغالگرانو په امر اعدام شو خو مالکي د دوی د متهو په زور د اقتدار په گدۍ کښېنول شوی!!

عراقيان او د نړۍ ټول مسلمانان بايد دې ته متوجه وي چي امريکائي استعمارگران او د دوی اروپايي ملگري د اسلامي امت د مزيد ټوټې ټوټې کولو په لټه کي دي، دوی د ايران د شاه په ضد د ايراني انقلاب مرسته او ملاتړ په همدې طمع وکړ، خميني ته ئې د همدې لپاره په پاريس کي پناه ورکړه او په درناوي سره ئې تهران ته ورساوو، خو کله چي له تهران نه د انقلاب د صادرولو، د کربلا له لاري مکې ته د رسېدو، لومړی کربلا بيا مکه،او دې ته ورته شعارونه او نعرې واورېدی شوې او دغو شعارونو د عراق او ايران د جگړې بڼه غوره کړه، غرب د عراق مرسته وکړه، عربي هېوادونه هم ورسره ملگري شول، د دغه جنگ په نتيجه کي د تېلو بيه هر بېلر اتو ډالرو ته راکوزه شوه، تېل توليدوونکي هېوادونه دې ته اړ شول چي د جگړې د لگښتونو او له جگړې وروسته د ورانيو د جبران لپاره په زيات مقدار کي تېل صادر کړي او په دې سره د تېلو بيه له هغه حد نه هم راولوېږي چي غربيانو غوښتل!! امريکايانو د همدې لپاره د عراق له نيولو وروسته اقتدار شيعه ډلو ته وسپارو او دوی ته ئې اجازه ورکړه چي په خلاص لاس د سنيانو د وژلو لړۍ په دې سفاکانه بڼې کي پيل کړي چي نه يوازي په عراق کي بلکي په ټولي اسلامي نړۍ کي مذهبي حساسيتونه راوپاروي او يوه بله جگړه په اسلامي امت تحميل کړي!!

په دې کي هيڅ شك نه شته چي امريکايان به حتماً له عراقه وځي، خو هغه وخت چي د شيعه او سني جنگ هغه ځای ته ورسوي چي نه يوازي عراق تجزيه شي بلکي د دې جگړې اور نورو سيمو ته هم خور شي. دا به ډېر سفاهت وي که څوك

گمان وکړي چې شیعه ډلي په خپل سر او خوښه د سنیانو په خلاف جنګیږي او امریکایان دا جنګ نه خوښوي!! دا حالت امریکایانو راوستی او دا جګړه د دوی په امر او د دوی د پلان مطابق تر سره کیږي.

موږ د عراق او افغانستان شیعه ډلي دې ته رابلو چې د امریکایانو تر قومندې لاندې او د دوی د ګټو لپاره د خپلو هېوادوالو په ضد له جنګېدو ډډه وکړي.

حزب اسلامي افغانستان

د لوی اختر دوهمه ۱۳۸۵

# له کرستوفر هار سل سره لومړۍ مرکه

پوښتنه: تاسو چېري يئ؟

ځواب: زه د آسمان لاندي او د ځمکي پر سر اوسېږم، د اوسېدو ځای مي ثابت نه دی، وخت په وخت بدلېږي.

پوښتنه: هره ورځ معمولاً څه کارونه کوئ؟

ځواب: ورځني مصروفيتونه مي دا دي: له مجاهدينو سره ارتباط، د وضعيت څارنه، ولس ته لارښوونه، ليکنې او تحقيقات، له مخکني حالت سره ئې توپير په دې کي دی چي اوس مي له مراجعينو سره مخامخ ملاقاتونه کم شوي، او د ليکنو، مطالعې، تحقيق او د مجاهدينو خطونو ته په خپل لاس د ځواب ليکلو فرصت زيات شوی. په تېرو پنځو کلونو کي ما نږدې پنځه زره خطونه لېږلي، لس کتابونه چي جمعاً نږدې درې زره صفحې کېږي او کافي شمېر اعلاميې ليکلې او نشر کړې دي. ما د خپلي مبارزې په تېرو اته دېرشو کلونو کي هيڅکله د ليکنو او تحقيق لپاره دومره مناسب فرصت نه وو ترلاسه کړی، په دې کار کي کمپيوټر راسره ډېره زياته مرسته کړې، يو وړوکی کمپيوټر له څو سي ډي سره کافي دي چي د نړۍ ټول مهم کتابونه له ځان سره ولرم او د يوه غره پر سر باندي هم داسي وم لکه په يوه لوی او مجهز کتابتون کي چي ناست وم.

پوښتنه: ستا کورنۍ څنګه ده او چېري اوسېږي، آيا ورسره ليدلی شئ، لږ تر لږه کله کله؟

ځواب: زما د کورنۍ غړي په مختلفو ملکونو کي اوسېږي، په تېرو پنځو کلونو کي د ليدو کتو ډاډمن شرايط نه دي راته برابر شوي.د کمونستانو په وخت

کي ما خپله کورنۍ اوه کاله وروسته ولیدله او اوس نه ده معلومه چي کله او چېري به ئې په ډاډ او اطمئنان سره ګورم.

پوښتنه: کله چي ما په ۱۹۸۵ کال کي له تا سره مرکه وکړه، ستا د کورنۍ نږدې شل غړې د روسانو او کمونستانو په لاس وژل شوي وو ، څومره د امریکایانو په لاس وژل شوي، یا ځورول شوي او یا زنداني شوي؟

ځواب: هو ؛ د روسانو د اشغال په دوران کي زما پلار، دوه ورونه او د کورنۍ نور غړي په شهادت رسېدلي او د کورنۍ ټول نږدې خپلوان مي له اویا اتیا کلن نه تر تي خور ماشوم پوري زنداني شوي، خو د امریکایانو د اشغال په دوران کي زما د کورنۍ له نږدې غړو څخه دري کسان نیول شوي، دوه په افغانستان کي او یو په پاکستان کي، یو مي زوم ډاکټر غیرت بهیر (چي یو وخت په پاکستان کي د افغانستان سفیر وو)، او دوه مي ورېرونه، خو د حزب ډېر شمېر غړي په پاکستان او افغانستان کي نیول شوي، ځیني ئې په ګوانتانامو کي دي، ځیني ئې د افغانستان په امریکائي زندانونو کي او ځیني ئې لادرك دي چي برخلیك ئې معلوم نه دی. زه او زما حزب د هېواد د آزادۍ لپاره تر دې زیاتو قربانیو ته چمتو یو.

پوښتنه: آیا د افغانستان د وضعیت په اړه د خپل حزب نظر راته توضیح کولی شئ؟

ځواب: الحمد لله د مقاومت لمن خوره شوې، اشغالګر ځواکونه د وضعیت له مهار کولو عاجز شوي، امریکایان ونه توانېدل چي خپلو موخو ته ورسېږي، نه ئې مقاومت وځپلی شو ، نه پر اوضاع مسلط شول، نه ئې امنیت راوستی شو ، نه ئې یو مضبوط او پر اوضاع مسلط حکومت جوړ کړی شو ، نه د افغانستان له لاري د مرکزي آسیا په زېرمو مسلط شول او نه ئې د مخدره موادو د کښت او قاچاق مخنیوی وکړی شو ، ما ته د هېواد وضعیت له هغه وخت سره ورته برېښي چي مسکو له افغانستان نه د وتلو فیصله کړې وه او روسي فوځونو د وتلو لپاره تیاری نیولو . که څه هم هغه وخت له وضعیت نه د هر چا انتباه دا وه چي د کابل حکومت به ډېر ژر د مجاهدینو په لاس نسکور شي، خو د هغه بین المللي سازش په سبب چي د مجاهدینو په ضد تر سره شو ، واشنګټن او مسکو په دې توافق وکړ چي قدرت ته د

مجاهدینو د رسېدو مخه ونیسي، ځیني ډلي له کمونستانو سره ائتلاف ته چمتو کړي، او د دې ائتلافي جبهې په مرسته د واقعي مجاهدینو مقابله وکړي، زموږ ځینو ګاونډیو هم په دې کي برخه واخیسته، او دا باعث شو چي د نجیب حکومت څه موده نور هم په اقتدار کي پاتې شي، خو اوس راته حالت داسي برېښي چي د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سم به د دوی لاس پوڅی حکومت هم سقوط کوي.

پوښتنه: له نورو ډلو سره ستاسو تعلقات څنګه دي، منظور مي طالبان او القاعده دي؟

ځواب: موږ تل د مجاهدینو په یووالي او وحدت ټینګار کړی، او خپلو مجاهدینو ته مو ویلي چي په خپلو خپلو سیمو کي له هر هغه چا سره مرسته وکړئ چي د اشغالګرانو په ضد جنګېږي او په خپلواك افغانستان کي اسلامي حکومت غواړي. له طالبانو او القاعدې سره په تنظیمي کچه د ګډ کار په اړه څه تنسیق او توافق نه لرو.

پوښتنه: په افغانستان باندي د امریکایانو تر مشرۍ لاندي تېری په پراخه کچه ناموفق ګڼل کېږي، هم له سیاسي لحاظه او هم له نظامي پلوه، دلایل ئې څه دي؟

ځواب: د امریکایانو د ناکامۍ څو اساسي لاملونه دي:

- دوی د افغانانو په پېژندو کي اشتباه کړې، ګمان ئې کولو چي افغانان له تېرو جګړو ستومانه شوي او د دوی په ضد به جهاد ته تیار نه شي.
- دوی د هغو ډلو په مرسته کابل اشغال کړ، له هغوی نه ئې د خپلو ځمکنیو فوځونو په څېر استفاده وکړه، او اقتدار ئې ورته وسپارو چي په اصل کي په مسکو او د مسکو په منطقوي انډېوالانو پورې تړلې وي، دوی په حقیقت کي افغانستان د مسکو او ایران لپاره فتح کړی، د دغو ډلو او هېوادونو لپاره ئې هغه څه کړې چي هغوی په ډېرو لګښتونو ونه شو کړی.
- امریکایان ونه توانېدل چي یو مضبوط او صالح حکومت جوړ کړی، اقتدار ئې کمزورو ډلو، له ملت نه رټلو افرادو، غلو، د مخدره موادو قاچاقچیانو، او د شمالي ټلوالي مفسدینو ته سپارلی.

پوښتنه: د ادیانو او فرهنګونو تر منځ جنګ ته په کومه سترګه ګورئ، مخصوصاً د اسلام او مسیحیت ترمنځ جنګ ته؟

ځواب: مغرور جورج بش او د ده جنګي ټیم یوې داسي خطرناکي لوبې ته لاس اچوالی چي نړۍ او په خپله امریکا ته ډېرې بدې پایلې له ځان سره لري، دوی د افغانستان او عراق جنګ ته د بل صلیبي جنګ نوم ورکړی، په داسي حال کي چي دا جنګونه د امریکا د تېلو د کمپنیو جنګونه دي، دوی غواړې د عراق او مرکزي آسیا د تېلو په ذخایرو مسلط شي، د امریکا ټول جنګونه د دې هېواد د وسلو د تولید کمپنۍ او د تېلو او ګاز کمپنۍ پلانوي، د امریکا چارواکي په داسي حال کي چي نه په مسیحیت باور لري او نه بل دین لري، دغو استعماري جنګونو ته مذهبي رنګ ورکوي، په دې نه پوهېږي چي دا کار نړۍ ته څومره خطرناکي پایلې له ځان سره لري، د نړۍ یو نیم ملیارد مسلمانانو سره، له هغه قوم سره جنګ چي په لکونو داسي ځوانان لري چي د اسلام لپاره هري قربانۍ ته چمتو دي، څه آسان کار نه دی، که نولسو کسانو امریکا ولړزوله، په مسلمانانو کي دوی ته ورته کسان ډېر زیات دي. متأسفانه امریکا په داسي حال کي چي د مشرتابه او په ټولي نړۍ کي د دیموکراسۍ راوستو دروغجنه دعوی کوي او غواړي د نړۍ ژاندارم له ځانه جوړ کړي، خپل ټول امکانات د فتنو او جنګونو په راولاړولو مصرفوي. جورج بش او غلام ئې ټوني بلیر نه یوازي خپل جنګ ته د صلیبي جنګ نوم ورکړی بلکي غواړي په مسلمانانو کي هم د شیعه او سني په نامه جنګ پیل کړي، په عراق او افغانستان کي ئې شیعه په لاس کي ونیول، په فوځ، او پولیس کي ئې شامل کړل او د سنیانو په ضد ئې جنګوي، او حتې د صدام حسین د اعدام پرېکړه ئې هم د یو سل اته څلوېښت شیعه وو د وژلو په تور وکړه، نه د سنیانو او کردانو د وژلو په تور، د سنیانو په جوماتونو او د شیعه وو په زیارتونو کي چاودنې هم د سي آی اې کار دی چي غواړي دغه جنګ ته لمن ووهي!!

پوښتنه: آیا د مسلمانانو، یهودانو او مسیحیانو تر منځ رښتونې ملګرتیا او دوستي ممکنه ده؟

ځواب: موږ په دې باور یو چي الهي ادیان د ورورولۍ او صلح ضامن دي،

یوازي دین، په خدای او آخرت باور کولی شي انسان له ظلم او د بل په حق له تېري نه منع کړي او په نړۍ کې عدالت او امنیت راولي، موږ د ادیانو تر منځ په تفاهم باور لرو، مسلمانانو عملاً ثابته کړې ده چې انسانانو او د ټولو ادیانو پلویانو ته په درنه سترګه ګوري، اسلام په زور د یوې عقیدې په تپلو باور نه لري، د مسیحیانو او یهودانو د عبادت ځایونو ورانول حرام ګڼي، اسلام یوازې د حق لپاره او له مظلوم نه د دفاع په خاطر جنګ جایز ګڼي او دا هم تر هغه وخته چې جنګ پای ته ورسېږي او جنګ غوښتونکي وسله پر ځمکه کېږدي.

پوښتنه: د بش حکومت د تبلیغاتو لپاره یوه نوې اصطلاح رااېستلې چې اسلامي نهضت ته د اسلامي فاشيزم نوم ورکوي، آیا په دې اړه څه وایئ؟

ځواب: بش د فاشیزم په معنی نه پوهېږي، فاشیزم له نژادي او قومي تعصب نه د راولاړ شوي هغه مسلك نوم دی چې د یوه نسل، نژاد او قوم په غوره والي باور لري او پر نورو قومونو د هغه برلاسي غواړي، څوك چې نن په نړۍ کې دا کار کوي نو هغه بش او د ده جنګي ټیم دی، مسلمانان په یورپ او امریکا کې نه جنګېږي بلکې دا دی څوپېړۍ کېږي چې دوی د مسلمانانو په ضد په اسلامي ملکونو کې جنګېږي!!

پوښتنه: د لاندې مسایلو په هکله څه نظر لرئ:

- د اسرائیل او لبنان جنګ او د ایران په ضد احتمالي جنګ
- دیموکراسي او د افغانستان د شوری او جرګو نظام
- له حماس، اخوان المسلمین او نورو سره روان سلوك
- مخدره مواد او ملا عمر
- ظاهر شاه او کرزی
- مېرمن مرکیل د جرمني صدراعظمه.

ځواب: الف: د لبنان جنګ د امریکایانو او انګرېزانو څلورم جنګ وو، دوی غواړي د لوی اسرائیل جوړولو زوړ خوب رښتونی شي، اسرائیل په حقیقت کې د دې لپاره جوړ شوی دی چې تل د عربو پر سر دایستل شوې توري په توګه وکارولی شي، اسرائیل د امریکایانو نظامي اډه ده، لکه څنګه چې د افغانستان، عراق او

فلسطین جنگ د اامریکایانو او انگرېزانو جنگ دی د لبنان جنگ هم د دوی جنگ دی، اسرائیلیانو ډېره هوښیاري وکړه چي له لبنان نه ژر ووتل، پاتې کېدا ئې د نورو جنگونو په خاتمې کي ډېر ممد ثابتېدل.

ب: موږ گمان نه کوو چي امریکا پر ایران باندي د برید په اړه جدي وي، د ایران په ضد تبلیغات د بش یوه سیاسي مجبورتیا ده، ایران د بغداد او کابل په نیولو کي د امریکا دومره مرسته کړې چي د دوی له مرستي پرته ئې نه بغداد نیولی شو او نه کابل، دا په خپله د خاتمي په څېر د ایراني چارواکو وینا ده!!

ج: که دیموکراسي هغه وي چي امریکایانو په افغانستان، عراق، پاکستان، ازبکستان او تاجکستان کي راوستې، او د دوی انگرېز پلرونو په عربي هېوادونو کي، د پاچایانو، جنرالانو، او د وسلو په زور د خپلو لاس پوڅو تپل، نو هر شریف او آزادي غوښتونکی انسان ترې کرکه لري، که دیموکراسي د پانگه وال نظام مسلط کول او شتمنو ته دا آزادي ورکول وي چي بې وزلي نېستمن په خلاص لاس استثمار کړي، سود، احتکار، قمار، په دروغجنو اعلاناتو خلك غولول جائز گڼي، شتمنۍ د څو کسانو په لاس کي غورځوي او د ټولنې اکثریت د دوی په غلامۍ کي اچوي، فوځ، پولیس او ټول نظام د دوی په خدمت کي گماري، او د دوی د گټو ساتنه کوي، له داسي دیموکراسي نه هر عدالت غوښتونکی انسان نفرت لري، دا دیموکراسي هغه شتمن په خلکو مسلط کوي چي رېډیو، ټلویزیون، اخبارونه او مجلې او ټول تبلیغاتي وسایل د دوی په واك کي دي، داسي نظام په غرب کي او تر هغه وخته چلېدی شي چي د نورو هېوادونو د استعمار لړۍ پای ته ورسېږي، د پانگه وال نظام دیموکراسي په دې خاطر دوام نه کوي چي په دې کي څه ښه والی شته، د دوام رمز ئې هغه مرفه ژوند دی چي د نورو ملتونو د قرباني کېدو په بیه د دوی په برخه شوی، که دا لړۍ نن پای ته ورسېږي نو تاسو به په دې نظامونو کي د هغو سترو سترو انقلابونو شاهد وئ چي امریکا، روسیه، فرانسه او ډېر نور هېوادونه ورسره مخامخ شول، چي په ځینو کي ئې قدرت ترلاسه کړ او په ځینو کي وځپل شول.

اسلام موږ ته داسي نظام راکوي چي د مظلومانو په خدمت کي وي، اجتماعي

عدالت او برابري تأمين کړي، ټول خلك يو برابر ګڼي، نه پرېږدي چي شتمني د څو محدودو شتمنو تر منځ لاس په لاس شي، سود، احتکار، قمار، د خلکو غولول، د خلکو له مجبوريتونو نه غلطه استفاده کول حرام ګڼي، موروثي قيادت نه مني، اقتدار د خلکو امانت ګڼي، زعيم د ملت خادم او د ملي شتمنيو امين بولي او په دې ئې مکلف کوي چي هر تصرف به ئې د قانون او هغو صلاحيتونو په حدودو کي وي چي د ولس له لوري ورکول کېږي.

د: امريکا او ځيني اروپايي انډيوالان ئې غواړي چي حماس، اخوان المسلمين او نور اسلامي خوځښتونه د اسلامي هېوادونو د ديکتاتارانو په لاس وځپي، د دوی په ضد د دغو بې رحمه جلادانو د هر جنايت، ظلم او تېري مرسته او حمايت کوي، نه پرېږدي چي دا ډلي حتی د انتخاباتو او هغې ديموکراسي له مخې قدرت ته ورسېږي او په قدرت کي پاتې شي چي د ملت اکثريت ئې ملاتړ کوي او په انتخاباتو کي ئې بريا ترلاسه کړې.

هـ: موږ د مخدره موادو له توليد او تجارت سره مخالف يو، او په يقين سره ويلی شو چي يوازي حزب اسلامي کولی شي په بشپړه توګه د دې مخنيوی وکړي.

و: ما نه تراوسه له ملاعمر سره ليدلي او نه ورسره کوم ارتباط او تماس لرو، خو موږ هر هغه افغان ته په درنه سترګه ګورو چي د اشغالګرانو په ضد جنګېږي.

ز: ظاهر شاه او د ده کورنۍ مخکي هم انګرېزانو پر افغانستان مسلط کړه او اوس هم.

ح: کرزي د جهاد په دوران کي له يوې ډېرې وړې پارټۍ سره کار کاوو، له طالبانو سره ئې ملګرتيا وکړه، دا ئې ستره اشتباه وه چي له پاکستان نه په امريکايي هليکوپټر کي کابل ته انتقال شو او د هغه حکومت رياست ئې قبول کړ چي امريکايانو د کابل له اشغال نه وروسته جوړ کړ.

ط: د جرمني له صدراعظمې نه زموږ انتظار دا وو چي د امريکايانو د ګټو لپاره به د المانيانو د زامنو له وژل کېدو سره مخالفت کوي او خپل فوځونه به له افغانستان نه وباسي، خو متأسفانه داسي ئې ونه کړل!! نه پوهېږو هغوی د مظلومو افغانانو په ضد ولې د بدمعاشو امريکايانو ملاتړ وکړ؟

پوښتنه: څنګه کولی شئ د هېواد په اړه خپل سیاسي نظریه پلې کړئ.

ځواب: موږ د اشغالګرو ځواکونو د ایستلو لپاره له مقاومت نه پرته بله لار په مخ کي نه لرو، امریکایانو نورې ټولي لاري تړلې دي، د بحران د حل لپاره زمنږ طرحه دا ده:

- ټول بهرني ځواکونه دې له افغانستانه ووځي.
- داسي موقت حکومت دې جوړ شي چي ټولو ته د منلو وړ وي او په هغه کي هغه ډلي برخه ونه لري چي د بن په غونډي کي ئې برخه واخیسته او د افغانستان د اشغال خائنانه سند ئې امضا کړ.
- هغه راډیوګانې، ټلویزیونونه، مجلې او اخبارونه دې وتړل شي چي د بهرنیو ځواکونو لخوا اداره او تمویل کېږي او د دوی په ګټه فعالیت کوي.
- بیا دې د ټول ملت حقیقي استاځې راغونډ شي او د هېواد د اساسي قانون، منتخبې شورى، حکومت او ملي فوځ په اړه دې تصمیم ونیسي. او په پای کي دې د دغه اساسي قانون له مخې منتخب حکومت جوړ شي.

که دا شرائط تأمین شي، نو مجاهدین د جګړي د خاتمې او د ډاډمن امنیت په راوستلو کي هرراز مرستي ته تیار دي.

۲. پوښتنه: آیا افغاني مېرمني ستاسو د پلان یوه برخه جوړوي، او ونډه به ئې څه وي؟

ځواب: موږ ښځو ته د ژوند په ټولو برخو کي ټول هغه حقوق ورکوو چي ترې محرومې دي، اسلام چي کوم حقوق ښځو ته منلي د نړۍ په هیڅ مذهب او نظام کي نه تر سترګو کېږي، باور وکړئ چي په اسلام کي د ښځو مکلفیتونه تر نارینه وو کم او حقوق او امتیازات ئې ترې زیات دي. د تعلیم او زده کړې حق ئې له نارینه وو سره برابر دی، د کار کولو حق ورکړی شوی، په جهاد کي برخه اخیستی شي خو پرې مکلفې نه دي، جومات ته د نارینه وو په څېر د لمانځه لپاره تلی شي خو پرې مکلفې نه دي، نه په عباداتو کي، نه په معاملاتو کي او نه د ژوند په نورو مجالونو کي نه یوازې تبعیض نه دی ورسره شوی بلکي کافي امتیازات ورکړی شوی.

پوښتنه: د حجاب او چادري په هکله ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: اسلام نارینه ته د داسي لباس سپارښتنه کوي چي له نارینه سره ښايي، او ښځو ته د داسي جامو چي له ښځو سره ښايي، لکه څنګه چي تاسو په حیواناتو مخصوصاً مرغانو کي ګورئ چي د نر او ښځي په جامو کي ئې ژور توپیرونه شته، اکثراً د نارینه جامه ئې تر ښځي ډېره ښايسته، جالب او جاذب وي، او د ښځو جامه ئې ساده. دا اوس په ټولي نړۍ کي د ښځو او نارینه وو ترمنځ په جامو کي توپیر شته، اسلام چي د ښځي لپاره د جامو په اړه کومه لارښوونه کوي تورات او انجیل هم دې ته ورته لارښوونې لري.

پوښتنه: آیا تروریزم تعریفولی شئ؟

ځواب: تروریزم یعني هغه څه چي امریکا ئې په افغانستان او عراق کي کوي، او اسرائیل ئې په فلسطین کي، که څوك غواړي د تروریزم حقیقي انځور وګوري نو د ګوانتانامو، ابوغریب، بګرام او کندهار امریکایي زندانونو ته دې ورشي، زه د امریکا او اسرائیل په ضد هیڅ عکس العمل ته د تروریزم نوم نه شم ورکولی او دا د عدالت او انصاف خلاف ظالمانه قضاوت ګڼم!! هر عقل او عدل بالمثله معامله جایز ګڼي. دا امریکا او اسرائیل دي چي خلك دې ته مجبوروي چي بمونه په ځان پورې وتړي او د غچ اخیستو لپاره د دښمن خواته چاودنه وکړي، دغو مظلومانو ته د انتقام اخیستلو بله لار نه ده پاتې، ما ته ووایئ: دا مظلومان د خپل د هېواد د آزادۍ لپاره بله څه چاره لري، د دښمن د مډرنو جهازونو او ټانکونو په ضد له دې پرته بل څه کولی شي، څوك چي نورې لاري لرې نو هسي ځان مرګ ته نه ورکوي!!

ستا له نظره یو قانوني دولت څنګه وي؟

ځواب: زما له نظره هغه دولت قانوني دولت دی چي چارواکي ئې د ولس لخوا غوره شوي وي، قانون ته تابع وي، د ولس مشورو ته التزام لري، په ملي امانتونو کي د قانون مطابق او د ملت په مشوره تصرف کوي.

پوښتنه: د جرمني خلکو ته ستا مشوره څه ده، د نړۍ په اوسنیو شرایطو کي څه وکړي؟

- آیا دوی باید له هغه اسلام نه وډېرېږي چي تاسو ئې غواړئ؟
- له تروریزم څخه؟

- ستا سو له انتقام څخه؟

ځواب: د جرمني ولس ته زما مشورې دا دي:

- له افغانستان نه خپل فوځونه وباسئ، د امریکایانو د ګټو لپاره خپل زامن د مرګ کومي ته مه لېږئ.
- خپلې ګټې د امریکا له ګټو سره مه تړئ.
- د تروریزم په هکله د امریکایانو تعریف مه منئ.
- د امریکایانو د وینا مطابق اسلام او مسلمانانو ته د ګوابښ او خطر په سترګه مه ګورئ.
- که له امریکایانو بېل شئ کولی شئ له اسلامي نړۍ سره ښه تعلقات ولرئ، ښه به دا وي چې دا لار غوره کړئ.
- مخکې خو جرمني تجزیه شوی وو او د امریکا له ملګرتیا او اطاعت نه پرته ئې بله چاره نه درلوده، اوس خو متحد جرمني یو مضبوط ځواك دی، ولې باید په پټو سترګو په امریکایانو پسې اقتداء وکړي او خپلې ملي ګټې د امریکایانو لپاره قرباني کړي، ولې باید د امریکا لپاره له افغانانو سره وجنګېږي؟!

پوښتنه: افغانانو ته په همدې هکله څه وایئ؟

ځواب: له ټولو افغانانو سره همدا پوښتني دي، افغانانو خو که د اروپا له بل هېواد نه دا توقع نه درلوده نو له جرمني نه خو ئې درلوده چې د افغانانو په ضد به د امریکایانو ملګرتیا نه کوي، همداسې لکه په دوهمې نړیوالې جګړې کې چې دوی د جرمني او جرمنیانو په ضد له نورو سره مرسته او ملګرتیا ونه کړه، آیا د ملاتړ بدله همدا ده چې نن ئې د جرمني حکومت افغانانو ته ورکوي؟!

پوښتنه: ستا له نظره کوم دین ډېر د شدت پلوي دی، اسلام که مسیحیت؟

ځواب: په اسلام او اصلي مسیحیت کې هیڅ توپیر نه شته، دواړه د صلحې او عدالت دینونه دي، د دواړو منبع او مرجع او تګلاره یوه ده، متأسفانه په بایبل کې داسې تصرفات شوي چې له هغه نه ئې یوازې د اسرائیلیانو مذهب جوړ کړی او اسرائیلیانو ته دا حق ورکوي چې له نیل نه تر فرات پورې دا ټوله سیمه ونیسي، غیر یهودي اوسېدونکي ئې ووژني، په نر، ښځې، لوی او ووړ ئې ترحم ونه کړي،

ټول له تېغه تېر کړي، ورته وايي چي خدای يوازي د اسرائيليانو خدای دی، په دوی کي مېشت دی، له دوی سره يو ځای په جګړو کي برخه اخلي او په هغه جنګ ډېر راضي کېږي چي ډېره وينه په کي توی شي!! په اسلام کي نه داسي افکار شته او نه داسي جنګونه، بلکي اسلام هغه جنګونه حرام ګڼي چي د يوه قوم د برلاسي لپاره وي، او په هغه کي بې ګناه انسان په قتل ورسېږي.

پوښتنه: که ټول بهرني فوځونه په فوري توګه له افغانستانه ووځي څه به واقع شي؟

ځواب: د موسی کلا معاهدې وښوده چي په يوې سيمي کي د بهرنيو ځواکونو شته والی د جګړو د دوام لامل او وتل ئې د جګړو د ختمېدو باعث دی، موږ په دې باور يو چي د افغانستان جګړي د پرديو د لاسوهنو په نتيجه کي پيل شوي او د دغو لاسوهنو په ختمېدو سره به پای ته رسېږي، هغه کسان چي وايي: د بهرنيو ځواکونو شته والی د امنيت لپاره ضروري دی دروغ وايي، دا هغه کسان دې چي د دغو فوځونو په زور پر افغانانو تحميل شوي، د دغو فوځونو وتل يوازي دوی ته تاوان لري، دوی د خپل اقتدار د دوام لپاره د دغو فوځونو شته والی ضروري ګڼي!!

پوښتنه: ستاسو لومړی کار به څه وي؟

ځواب: موږ به ټول افغانان يووالي ته رابلو، ټولو ته به توصيه کوو چي يو له بل نه د انتقام او غچ په ځای د يوه داسي مضبوط افغانستان جوړولو لپاره ملا وتړي چي ټول افغانان د ورونو په څېر په ډاډه او مطمئن زړه ژوند په کي وکړي، سر، مال او عزت ئې له هر راز تېري او تعرض نه خوندي وي. موږ به ملت ته وايو چي د بهرنيو هېوادو مخصوصاً زموږ د کينه کښو ګاونډيو د مداخلو مخه ونيسي.

پوښتنه: په افغانستان کي د جرمني د شته والي په اړه څه ملاحظه لرئ؟

ځواب: تکراراً وايو چي د افغانستان په اړه د جرمني د حکومت اوسنی سياست نه د افغانانو په ګټه دی او نه د جرمنيانو. اروپايي هېوادو ته وايو چي خپل زامن د امريکايانو د ګټو لپاره د مرګ کومي ته مه لېږئ، د امريکايانو جنګ ته د اسلام او غرب تر منځ د بل صليبي جنګ بڼه مه ورکوئ، له افغانستان نه خپل فوځونه وباسئ، اسلامي نړۍ نور اسارت ته غاړه نه ږدي، د اسارت او غلامۍ دور

ئې پای ته رسېدلی، دا وقعیت تسلیم کړئ، پرېږدئ چې مسلمانان آزاد ژوند ولري، دا درې پېړۍ تاسو آسیا او افریقا ولوټله، ظالم او بې رحمه پاچایان او جنرالان مو پرې مسلط کړل، پرېږدئ چې له دې وروسته د خپلې خوښې حکومتونه او نظامونه ولري.

پوښتنه: په غرب کې ستاسو په هکله ډېر شکوك شته، آیا دا رښتیا ده چې تا د نجونو پر مخ دې هغه مهال تیزاب شیندلي چې ستا د نظر مطابق جامه ئې نه درلوده؟

ځواب: دا زما په ضد د کمونستانو تبلیغات وو چې ځینو بې خبرو غربیانو هم ورسره منلي.، باور وکړئ چې زما د عمر په دغو اته پنځوس کلونو کې زما یوه ځپېړه هم د کومې پردۍ یا خپلوانې ښځې پر مخ نه ده لګېدلې.

پوښتنه: د داسې عمل په هکله څه نظر لرې؟

ځواب: زه داسې کار مطلقاً حرام ګڼم او په دې باور یم چې یوازې یو بې رحمه، وحشي او بې ایمانه انسان داسې جنایت کولی شي، زه یوې ښځې ته په بده سترګه کتل، د هغې اهانت او سپکاوی، د محاکمې له حکم نه پرته د یوه انسان نیول، ځورول، وهل او سپکول حرام ګڼم، زه د چا کور ته د هغه له اجازې او د باصلاحیته محکمې له حکم نه پرته ننوتل حرام ګڼم.

پوښتنه: مجاهدین ولې په ۱۹۸۹ کې (د روسانو د وتلو په مهال) ونه توانېدل چې یو مضبوط دولت جوړ کړي؟

ځواب: د روسي فوځونو د وتلو پر مهال موږ له یوه خطرناك بین المللي سازش سره مخامخ شوو، مسکو او واشنګټن دا توافق وکړ چې په افغانستان کې د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه باید په ګډه او په هره بیه چې وي ونیسي، په دوی پورې تړلو ملکونو مخصوصاً زموږ ځینو ګاونډیو د دوی مرسته وکړه، د ایران په وساطت د جبل السراج کمونیستي ـ جهادي ائتلاف جوړ شو، د دې ائتلاف مأموریت دا وو چې پرې نږدې جګړه پای ته ورسېږي، ځینو یوې ډلې ته وسلې او پیسې ورکړې او د مجاهدینو په ضد ئې وجنګوله او ځینو بلې ډلې ته. هر یوه د جګړو په دوام کې خپلې ګټې لټولې، د واشنګټن په چارواکو د

اسلام ضد جنگ شیطان سور وو ، مسکو او انډیوالانو ئې غوښتل مرکزي آسیا او پراخ ذخایر ئې د دوی له لاسه ونه وځي، او د دې سیمي تېل او ګاز د افغانستان له لاري د هند نیمې وچې ته او د امریکایي کمپنیو په لاس انتقال نه شي، ایران غوښتل دا مارکیټ د دوی لاس ته ورشي، له پاکستاني جنرالانو سره د ډیورند د کرښې لانجه وه، دوی هم په کابل کي د یوه مضبوط حکومت جوړېدل نه خوښیدو، د همدې لپاره ئې رباني دوه ځلې د جمهور رئیس په توګه په نورو ډلو تحمیل کړ. دې ته ورته مسایل د دې باعث شو چې د افغان ولس هغه ستر آرمان نیمګړی پاتې شي چې د تحقق لپاره ئې یو نیم ملیون شهیدان ورکړل.

پوښتنه: په افغانستان کي د بهرنیو د مداخلاتو په هکله څه نظر لرئ؟

ځواب: د افغانانو ډېری ستونزي د بهرنیو لاسوهنو په نتیجه کي راولاړې شوې دي.

پوښتنه: زما د سولې وړاندیز ته په کومه سترګه ګورئ؟

ځواب: الف: ستا د سولې په پلان کي ډېر مثبت نقاط شته، له ډېرو برخو سره ئې موږ توافق کولی شو، خو دا په هغه صورت کي چې اشغالګر ځواکونه له افغانستان نه بلاقید او شرط وتل ومني او دې ته تیار شي چې افغانانو ته د خپلي خوښي حکومت جوړولو واك او اختیار ورکړی شي.

ب: تاسو ته معلومه ده چې حزب اسلامي یو ستر او افغانستان شمول حزب دی، په ټولو ولایاتو او ټولو قومونو او اقشارو کي پراخ نفوذ لري، د جهاد په کلونو کي د هېواد په شمال کي هومره نفوذ درلود لکه په جنوب کي، کندز، بغلان، پروان، بادغیس، کاپیسا، لغمان، کنر، نورستان، ننګرهار، پکتیا، خوست، پکتیکا، لوګر او وردګ میدان زموږ مهم او مضبوط مرکزونه وو، د دې ولایاتو اکثریت خلك پرون هم له حزب سره وو او نن هم، که نن په افغانستان کي واقعي او عادلانه انتخابات ترسره شي نو په دغو ولایاتو کي نږدې اویا په سلو کي رایې موږ ترلاسه کوو، تاسو ته ښایي دا هم معلومه وي چې په تېرو امریکایي انتخاباتو کي سره له دې چې حزب هغه تحریم کړل او برخه ئې په کي وانه خیسته، او سره له دې چې جعلي انتخابات ول او ډېرې لاسوهنې په کي وشوې، خو د ولس لوی شمېر

خلکو هغو کسانو ته رایه ورکړه چي په حزب پوري مربوط وو، هیڅ ډلي د حزب په اندازه رایې نه دي ترلاسه کړې. موږ کولی شو د هېواد په ډېرو ولایاتو کي هم بشپړ امنیت تأمین کړو، هم مضبوطه اداره جوړه کړو، او هم د مخدره موادو د کر کښت مخنیوی وکړو، په دې شرط چي پرېکړه ئې د پارلمان لخوا وشي.

۱۳۸۵-۸-۱۵

# د کرستهوفر هارسل دوهمه مرکه

پوښتنه: د جرمني حکومت ولې نه شي کولی چي د افغانستان په ارتباط مؤثر او مثبت دریځ غوره کړي؟

ځواب: ما ته د ځینو جرمنیانو اصلي ستونزه دا برېښي چي دوی د امریکا له اغېز نه د وتلو جرأت نه لري، غواړي په هر صورت کي له امریکا سره ملګرتیا وکړي، حتی که دا ملګرتیا د دوی د ملي ګټو په خلاف او د ټولو منل شویو بین المللي موازینو خلاف وي!! زه ډېر متأسف یم چي د دوی په هکله د دې خبري کولو ته مجبور شوی یم.

پوښتنه: د افغانستان بحران څنګه حل کېدی شي؟

ځواب: د افغانستان بحران هغه وخت حل کېدی شي چي ټول ذیدخل اړخونه واقعیتونو ته تسلیم شي، افغانانو ته له بهرني فشار او مداخلې پرته د خپل برخلیك ټاکلو حق ورکړی شي، په افغانانو باندي د پردیو غوښتنې، شرایط، نظریات او نظام تحمیل نه شي، د افغان ولس دین، مذهب، کلتور، خپلواکي او ملي حاکمیت ته درناوی وشي، د هغو ډلو د حذفولو هڅه ونه شي چي د ملت لویه برخه تمثیلوي او په پردیو پوري د تړلو ډلو د تپلو هڅه ونه شي. امریکایانو دې حقایقو ته اعتناء ونه کړه، دې ته ئې ترجیح ورکړه چي له مسکو او تهران سره لاس

يو کړي او په هغې جګړې کې ښکيل شي چې روسانو پيل کړې وه او دوام ئې د دوی ګټې تأمينوي، امريکا اوس په افغانستان او عراق کې په داسې جګړې کې ښکيل ده چې تلفات ئې د امريکا ولس زغمي او ګټه ئې مسکو او تهران ته رسېږي.

پوښتنه: ويل کېږي چې د روسي فوځواونو له وتلو نه وروسته ستاسو له ځينو قومندانانو نه ولس شکايتونه درلودل، حقيقت څنګه دی؟ که دا اتهامات صحيح وي نو له دغو قومندانانو سره به تاسو څه کوئ؟

ځواب: زه په ټول اطمئنان سره تاسو ته ويلی شم چې د افغانستان هيڅ سياسي ډله له فکري، تنظيمي او اخلاقي پلوه او له ولس سره د ښه سلوك له ناحيې له حزب اسلامي او د هغه له غړو سره نه شي مقايسه کېدی، د افغانستان تر ټولو ښه خلك په حزب کې راغونډ شوي، زه هر چا ته د دې چلنج ورکوم چې ما ته په حزب کې يو داسې قومندان نه شي په ګوته کولی چې ناروا قتلونه ئې کړي وي، خلك ئې ځورولي وي، د خلکو مال ئې غصب کړی وي او ملي شتمنۍ ئې لوټلې وي. يو خو د هغو خلکو دروغجن تبليغات دي چې له حزب سره رقابت لري او بل د ځمکې پر سر حقايق او واقعيتونه دي، زه به تر هر چا د مخه د هغه چا د محاکمې مطالبه کوم او په خپل لاس به هغه ته د قانون مطابق سزا ورکوم چې د حزب د اصولو خلاف ئې عمل کړی وي او هغه کارونه ئې کړي وي چې اسلام ئې حرام ګڼي. موږ له هر ظالم نه خپل برائت اعلانوو، نه ئې په خپل حزب کې نيسو او نه دفاع ترې کوو، او د محاکمې لپاره ئې هر راز تعاون ته چمتو يو.

پوښتنه: آيا دا رښتيا ده چې د کابل د حکومت ځيني چارواکي هم د امريکايانو له تصرفاتو شکايت لري؟

ځواب: زه له تاسو سره موافق يم چې اکثر افغانان حتی هغه چې د کابل په امريکائي حکومت کې د اقتدار په ګديو ناست دي، له روان حالت نه تنګ او راتلونکي ورته تياره برېښي، خو د امريکا له وېرې څه نه شي ويلی، امريکا د افغانستان او د ټولې نړۍ د ستونزو مور ده، تر څو چې امريکا د يوه ځواك په توګه په افغانستان او دې سيمې کې حضور لري جګړې او ستونزې به ادامه کوي.

پوښتنه: ستاسو په هکله ويل کېږي چې که قدرت ترلاسه کړئ نو نورې ډلې به

له منځه وړئ، ځواب مو څه دی؟ مخصوصاً له اقلیتونو سره به څه کوئ؟

ځواب: زما په هکله که د امریکایي مطبوعاتو او د امریکا تر اغېز لاندي غربي مطبوعاتو په هېنداري کي قضاوت وشي نو هغوی خو ما او هر آزادي غوښتونکي مسلمان مبارز ته د یوه تروریست په سترګه ګوري، دا همغه مطبوعات دي چي د روسانو په ضد د مقاومت په دوران کي ئې زه د افغان ولس تر ټولو منلی مشر او زما حزب ئې تر ټولو منظم، مضبوط او مخکښ حزب ګڼلو. دوی دې پرېږدي چي افغان ولس، زما او زما د حزب په اړه قضاوت وکړي، زه د خپل ولس قضاوت منم.

دا هم باید تاسو ته ووایم چي افغانانو قومي، مذهبي او ژبني ستونزه نه درلوده، زموږ کینه کښ ګاونډیان او زموږ زاړه دښمنان غواړي دا ستونزه راولاړه کړي، د افغانستان وضعیت د ملي یووالي له پلوه که د دې سیمي تر ټولو هېوادو نو ښه نه وي نو تر هیڅ یوه بد نه دی.

پوښتنه: آیا امریکایان به له افغانستانه ووځي؟

ځواب: زه په ټول ډاډ او اطمئنان سره ویلی شم چي امریکا په افغانستان کي د اوږدې مودې لپاره نه د پاتې کېدو توان لري، نه چانس او نه څه ترلاسه کولی شي.

پوښتنه: ځیني کړۍ په دې باور دي چي امریکایان ښایي له عراقه ووځي خو له افغانستانه به نه وځي، تاسو په دې ارتباط څه وایئ؟

ځواب: زما تشخیص دا دی چي امریکا به له افغانستان او عراق نه په یوه وخت کي وځي، او ښایي دا وتل په همدې کال کي ترسره شي.

پوښتنه: آیا امریکا به پر ایران حمله وکړي؟ د حملې په صورت کي به ستاسو موقف څه وي؟

ځواب: موږ په دې سیمي کي د روانو جګړو د ختمېدو هیله لرو، نورې جګړې نه خوښوو، ګمان نه کوو چي امریکا پر ایران د حملې په موقعیت کي وي، زه داسي ګمان کوم چي د تهران او واشنګټن تر منځ د پردې شا ته ډېرې خبري او توافقات شوي، د بغداد او کابل په نیولو کي د تهران تعاون د دې توافقاتو یوه برخه وه، ښایي د یورانیمو د غني کولو په اړه هم د پردې شا ته توافق شوی وي، د ایران په

ضد د امریکا تبلیغات د خاصو مجبوریتونو او غرضونو په وجه دي، که احیاناً د امریکا له لوري پر ایران حمله وشي، موږ دا د ایران او د امریکا خپل منځي کشاله ګڼو، خو که د ایران مشران موږ ته پناه راوړي نو زه به هغه څه ورسره نه کوم چې دوی له ما سره وکړل، دوی غوښتل ما امریکایانو ته وسپاري، خو افغانان به دا کار نه کوي، زه له هغو افغانانو سره هم مخالفت نه کوم چې وايي: موږ باید له ایران سره همغه څه وکړو چې دوی له افغانانو او افغانستان سره کړي.

پوښتنه: ناټو غواړي په مخکنیو سیاستونو کې نوښت راولي، آیا په دې سره کولی شي ستونزې حل یا راکمې کړي؟

ځواب: د اشغالګرو ځواکونو نه زړه تګلاره بریالۍ وه او نه به ئې نوې بریالۍ وي، یوازې یوه بریالۍ تګلاره په مخکې لرې چې امېد دی د وخت له ضایع کولو پرته هغه غوره کړي، او هغه تګلاره دا ده چې ژر تر ژره له افغانستانه ووځي.

پوښتنه: د بهرنیو مرستو په اړه څه وایئ؟

ځواب: له افغانانو سره اصلي مرسته دا ده چې بهرنۍ مداخله، اشغال او جګړه پای ته ورسېږي.

پوښتنه: د بهرنیو ځواکونو قومنده ناټو ته سپارل شوې، آیا له دې نه به څه نتیجه ترلاسه کړي؟ آیا دا وحدت تر اوږدې مودې دوام کولی شي؟

ځواب: د امریکایانو هڅه دا وه چې اروپا د افغانستان او عراق په جنګ کې راښکیل کړي او په دې سره خپل ځاني تلفات او نظامي لګښتونه راکم کړي، په دې وتوانېدل چې ناټو د افغانستان په جګړې کې ښکیل کړي، اما دا چې آیا دوی به وتوانېږي چې په افغانستان کې مېشت بهرني ځواکونه د اوږدې مودې لپاره تر یوې قومندې لاندې وساتي، زه په دې کې شك لرم، زما انتباه دا ده چې د دوی ترمنځ چاودونه پیل شوي او ورو ورو پراخ کېږي، ډېرو اروپائي هېوادونو د امریکا تر هیبت لاندې افغانستان ته د فوځونو د لېږلو پرېکړه وکړه، د امریکایانو ماتې دا هیبت ختموي، د امریکا په انتخاباتو کې د جورج بش د جنګي ټیم ماتې هم خپل اغېز لري، زما انتظار دا دی چې لومړی فرانسه په دې جنګونو کې د امریکا ملګرتیا پرېږدي او بیا جرمني د دوی تقلید وکړي او له افغانستانه خپل

فوځونه وباسي. په درناوي

حکمتیار
افغانستان
د جدي اتلسمه ۱۳۸۵

بسم الله الرحمن الرحيم

# له سليم صافي سره مركه

١. حكمتيار صاحب! تاسو چېري اوسېږئ، په پاكستان كي او كه په افغانستان كي؟

ځواب: صافي صاحب! ښايي ستاسو مقصد به دا وي چي زه خپله ثابته پته دركړم، متأسفانه زه اوس ثابته پته نه لرم، مجبور يم د داسي پوښتني په ځواب كي سوال كوونكو ته ووايم چي زه د ځمكي پر سر او د آسمان لاندي اوسېږم، زه پنځه كاله مخكي د دلوې په شپږ و ښشتمې له تهران نه ووتلم، په سهار ئې د ايران له پولي واوښتم او شپږ ورځي وروسته د هېواد يوې داسي سيمي ته راغلم چي دنگ غرونه او گڼ گڼ ځنگلونه لري، همدلته وم چي د امريكا د بې پيلوټه طيارې لخوا په ما باندي راكټي بريد وشو، د دوی جاسوسي طيارې، درې شپې ورځي مسلسل زموږ پر سر گرځېدلې، موږ داسي گمان كولو چي دا طيارې فقط جاسوسي مأموريت تر سره كولی شي، د ساحې دقيق عكسونه اخستی شي، مخابروي او د سټلايټ ټيلفونونو ارتباطات كشف كولی شي، خو راكټي بريد نه شي كولی، دا زموږ اشتباه وه، موږ په همدې دوران كي ټيلفوني ارتباطات جاري ساتلي وو، زموږ د اوسېدو ساحه داسي وه چي د دوی پياده ځواكونه په آسانۍ نه شو ورته راتلی، له بمبارد طيارو نه ځان يوې خوا بلې خوا ته كول آسان دی، مخصوصاً كه ستا موقعيت ډېر ښرگند نه وي. د دوی راكټ له ما نه اويا اتيا متره لرې ولگېدو، په هغې ساحې كي كافي شمېر كسان وو، خو الحمد لله نه څوك ووژل شو او نه ژوبل شو.

له دغي نېټې وروسته مي د اوسېدو ځای ثابت نه دی، کله یو ځای او کله بل ځای اوسېږم. ښايي له دې نه به زما وضعیت معلوم کړی شئ چي ما په دغو تېرو پنځو کلونو کي تل مسافرانه لمونځ کړی، په کنر، لغمان، میدان وردگ او پکتیا کي زما د لټون لپاره عملیات وشول.

د تېرو پنځو کلونو په دوران کي، زه یوه نیمه میاشت په داسي ځای کي اوسېدلی یم چي د امریکایانو له یوه عملیاتي مرکز نه ئې تر پنځه سوه گزه کمه فاصله درلوده، چي کله به له دې مرکز نه د دوی هلیکوپټرې د عملیاتو لپاره تلې راتلې نو زموږ په سر به تېرېدی، هومره نږدې چي په کلشنکوف ښه ویشتل کېدې!!

همدا راز یو ځل د دوی خاص ځواکونه په ما پسې هغه ځای ته راغلي وو چي زه په کي اوسېدم، ما ته ورونو ویل چي وضعیت خطرناك دی، له دې ځایه باید ولاړ شو، ما ورته ویل چي که دغي ساحې ته هم راشي نو زه به فقط سل دوه سوه گزه پور ته غره ته خېژم او د دوی له تلو وروسته به بېرته راکوزېږم. همداسي وشول، دوی هغې ساحې ته راغلل، موږ د جنگ لپاره تیاری نه درلود، سل یو نیم سل گزه د اوسېدو له ځایه پورته غره ته وختو، دوی د گاونډې کور تلاشي کړ، موږ ورته کتل، د دوی غږ مو اورېدو، بېرته کوز شول او موږ خپل ځای ته راستانه شوو. دلته له موږ نه غلطي شوې وه، مکرر مو له سټلایټ ټیلفون نه استفاده کړې وه، په داسي حال کي چي امریکایانو په بې پیلوټه طیارو او جاسوسي سپوږمکیو دا ساحه تر سخت نظارت لاندي نیولې وه، هومره چي یوه شپه ما تر یوه ساعت په کم وخت کي د دوی اوه سپوږمکۍ ولیدې چي د همدې ساحې په فضاء کي تېرې راتېرې شوې.

بیا مو دوه شپې د امریکا له هغو خاصو ځواکونو سره په یوه غره کي تېرې کړې چي زما د نیولو لپاره راغلي وو، دوی د غره په یوې برخي کي او موږ په بلي برخي کي او زموږ تر منځ له څلورو سوو متره کمه فاصله وه. تر اوسه دا ارمان راسره دی چي کاش ورونه جنگ ته تیار وی، په امریکایانو د غازي کېدو لپاره ښه ځای او ښه فرصت وو. که د سیمي مجاهدین له عملیاتو سره موافق وی نو د دوی یو کس هم ژوندی نه شو وتلی، خو دا د عملیاتو د پیل شپې ورځې وې او د دا راز عملیاتو وخت لا نه وو رارسېدلی!!

۲. انجنير صاحب حکمتيار! په جګړو کې اکثراً د طالبانو نوم اخيستل کېږي، ستاسو حزب په کومو سيمو کې فعاليت کوي؟

ځواب: صافي صاحب! د دښمن له لوري اکثراً دريو ډلو ته جګړې او بريدونه منسوب کېږي: لومړی د القاعدې نوم اخلي او بيا د طالبانو نوم او په پای کې وايي د دولت نور مخالفين، افراطي ډلي او د القاعدې ملګري، د دې وجه کاملاً واضح ده، امريکايان غواړي وښيي چې دوی يوازې له دغو دوو ډلو سره په جګړو بوخت دي، نه له افغان ولس سره او نه د افغانانو له نورو ډلو سره!! خو تاسو ته معلومه ده چې اوس بهرني ځواکونه په دې اعتراف کوي چې هره مياشت په اوسط توګه شپږ سوه بريدونه پر دوی کېږي، يعني هره ورځ نږدې شل بريدونه، خو په مطبوعاتو کې هره ورځ دوه درې عمليات منعکس کېږي او دا القاعدې او طالبانو ته منسوبېږي، تاسو موږ ته ووايئ چې دا پاتې اولس عمليات څوک کوي او امريکايان ئې له چا ګڼي؟

۳. حکمتيار صاحب! ستا ځيني ملګري لکه سباوون په کابل کې له کرزي سره کار کوي او ځينو په انتخاباتو کې برخه واخيسته، د دوی په هکله څه وايئ؟ آيا دوی د حزب غړي ګڼئ؟ د دوی په هکله به په راتلونکي کې د حزب دريځ څه وي؟

ځواب: څوک چې زما د ايمان او عقيدې ملګري وو هغه به تل له ما سره وي، يوازې هغه څوک به زموږ د نيمې لارې ملګري وي چې بل مقصد دې صف ته راوستي وو، څوک چې له اشغالګرانو او د دوی په لاس تپل شوي نظام سره ملګرتيا کوي هغوی له حزب نه وتلي، په حزب کې د داسي خلکو لپاره هيڅ ځای نه شته، خو هغه چې له اشغالګرانو سره ملګرتيا نه کوي او د عام ولس په څېر په هغو سيمو کې اوسېږي چې د دې نظام تر ادارې لاندې دي، خو د حزب اهدافو، اصولو او تګلارې ته وفادار دي، هغوی د حزب غړي دي، موږ يوازې هغه کسان له حزب نه وتلي ګڼو چې له اشغالګرانو سره ملګرتيا کوي، دوی د ګوتو په شمېر دي، باقي حزبيان د سابق په څېر اسلام او خپل حزب ته وفادار دي، په جهاد باور لري، له هېواد نه د ټولو بهرنيو فوځونو بلا قيد و شرط وتل او د يوه واقعي اسلامي نظام قائمېدل غواړي. که څه هم تېر امريکايي انتخابات د حزب لخوا تحريم شول او په

هغه کي ئې برخه وانه خیسته، خو ځیني کسان د حزب په نامه کاندید شول او ولس د حزب لپاره دوی ته رایه ورکړه، ولس له دې خبر نه وو چې حزب له انتخاباتو سره مقاطعه اعلان کړې، د هغو کسانو په هکله چې د حزب له تګلارې سره ئې مخالفت کړي، لا تر اوسه کومه پرېکړه نه ده صادره شوې او د دې وجه دا ده چې تر اوسه د حزب مرکزي شورى نه ده دائره شوې، له دوى نه ځیني داسې دي چې له اشغالګرانو او د کابل له حکومت سره هیڅ اړیکي نه لري او له حزب نه د جلا کېدو پرېکړه ئې هم نه ده کړې، محدود شمېر ئې د کابل له حکومت سره تفاهم لري او د همدې په وجه ئې له یوې خوا په حزب کي خپل وزن او اعتبار له لاسه ورکړ او له بلې خوا د کابل حکومت خاص اهمیت ورنه کړ!!

**۴.** ستا د جهاد د وخت زیاتره ملګري لکه رباني، سیاف او مجددي ټول د کرزي تر څنګ ناست او په هغه حکومت کي برخه لري چې تاسو ئې په ضد جهاد کوئ، موږ نه پوهېږو دا څنګه توجیه کړو، څنګه به دې ته جهاد وایو؟ هغوى هم مجاهدین دي، تاسو هم خپله مبارزه جهاد ګڼئ، موږ به څنګه دې ته جهاد وایو؟

ځواب: جهاد په اشخاصو نه پېژندل کېږي، بلکي اشخاص په جهاد سره پېژندى شو، که د یوه کلي ټول خلك لمونځ پرېږدي او یوازې څو کسان جومات ته راځي او لمونځ کوي، همدوى ته لمونځ کوونکي وایو او نور د لمانځه تارك ګڼو، په کار خو دا ده چې ووایو: هغه خلك چې نن د صلیبي ځواکونو په ضد جهاد نه کوي، پرون هم مجاهدین نه وو، هسې شرایطو پر جهاد تپلي وو او که احیاناً مجاهد وو نو پرونى جهاد ئې ټول حبط او ضایع شوى، دا زما شخصي رایه نه ده، دا د قرآن صریح او واضح حکم دى، د قرآن له نظره د اسلام له دښمنانو سره ملګرتیا له اسلام نه د وتلو په معنى ده، په جنګ کي ملګرتیا او هغه هم د مسلمانانو په ضد ملګرتیا خو پرېږده، څوك چې د کافرانو په ډلي کي ودرېږي او د دوى سواد او شمېر زیات کړي، دا هم د دوى له ډلي څخه ګڼل کېږي!! دې ته باید متوجه وو چې له مجاهدینو سره موقتي ملګرتیا یوه معنى لري او په جهاد باور درلودل او د لمانځه او روژې په څېر ئې دیني فریضه ګڼل، دا بېله معنى لري!!

**۵.** اوس چې ستاسو کومه مبارزه روانه ده، د حامد کرزي د حکومت خلاف یا د

امریکایانو خلاف، آیا دا ستاسو او طالبانو تر منځ په شریکه او تر یوې قومندې لاندې روانه ده او که بېله بېله؟ که تر یوې قومندې لاندي نه وي، آیا په راتلونکي کي د دې امکان شته چي تاسو او طالبان تر یوې قومندې لاندي د امریکایانو خلاف جهاد وکړئ؟

ځواب: موږ تل د مجاهدینو په یووالي او وحدت ټینګار کړی او خپلو مجاهدینو ته مو ویلي چي په خپلو خپلو سیمو کي له هر هغه چا سره مرسته وکړئ چي د اشغالګرانو په ضد جنګېږي او په خپلواك افغانستان کي اسلامي حکومت غواړي. له طالبانو سره په تنظیمي کچه د ګډ کار په اړه څه تنسیق او توافق نه لرو. د طالبانو له ځینو مشرانو سره خبري شوې دي، موږ ورته ویلي دي چي راشئ خپلي تګلاري او د دښمن په خلاف خپل دریځ توحید کړو، په هري سیمي کي ګډې شوراګانې جوړې کړو او مقاومت په ګډه مخکي بوځو، د افغانستان د راتلونکي په اړه هم ګډ تصمیم ونیسو، ولس ته اطمئنان ورکړو چي د بهرنیو ځواکونو له ایستلو وروسته به بیا د اقتدار په سر نښتې نه پیل کېږي، موږ د اقتدار لپاره نه بلکي د خپل هېواد د آزادۍ لپاره جنګېږو، د طالبانو زیات شمېر کسان له دې سره موافق وو خو متأسفانه ځینو مشرانو ئې توافق ونه کړ، که څه هم اوس له طالبانو سره د مذاکراتو لړۍ قطع شوې، خو که هغوی د دې ضرورت احساس کړي، موږ چمتو یو.

۲. داسي ویل کېږي چي په نړۍ کي د امریکا په ضد روانه مبارزه د القاعدې او اسامه بن لادن تر مشرۍ لاندي روانه ده، دا هم ویل کېږي چي اسامه او ایمن الظواهري له تاسو سره یو ځای اوسېږي، آیا له یولسم ستمبر نه وروسته له دوی سره ستا ملاقات شوی؟ آیا څه ارتباط ورسره لرئ؟ آیا ستاسو مبارزه په شریکه روانه ده او که بېله بېله؟

ځواب: امریکایان هڅه کوي د دوی په ضد هر مقاومت، که د دنیا په هر ګوټ کي وي، له القاعدې سره وتړي، د دوی ګمان دا دی چي د القاعدې په ضد ئې هومره تبلیغات کړي چي د یوې ډلي د تجرید او منزوي کولو لپاره همدا کافي ده چي په القاعدې پورې ئې وتړي، خو حقیقت داسي نه دی، امریکا په خپلو غلطو

سیاستونو سره ځان ته دومره دښمنان راپیدا کړي چي شمېرل ئې ګران دي، د نړۍ اکثریت خلك له امریکا کرکه لري، امریکا د فساد، جګړو، بې امنیتۍ، فقر او لوږې باعث ګڼي، یوازي په امریکا کي نږدې دوه سوه مسلح ډلي شته چي د امریکا په ضد جنګېږي. زه باور لرم چي امریکا په داخل او بهر کي له دومره مخالفتونو سره مخامخ ده چي شوروي اتحاد ورسره مخامخ نه وو، د تاریخ په اوږدو کي د هیڅ هېواد په ضد دومره کرکه او نفرت نه دی راپیدا شوی لکه د امریکا په ضد چي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي تر سترګو کېږي، زما ګمان دا دی چي بش به د امریکا بریژنف ثابت شي او راتلونکی جمهور رئیس به ئې ګورباچوف وي، امریکا ته همغه برخلیك منتظر دی چي شوروي اتحاد ورسره مخامخ شو!.

د پوښتني د دوهمې برخي په اړه باید ووایم چي هو؛ له یولسم ستمبر نه وروسته ما له اسامه بن لادن او ایمن الظواهري سره لیدلي او دا هغه وخت چي ایراني لیبرالانو غوښتل ما امریکایانو ته تسلیم کړي او زه د ایراني چارواکو له خبرولو پرته له ایرانه ووتلم او هېواد ته راغلم. او دا په داسي حال کي وو چي ما ته اطلاع راکړی شوه چي دوه ورځي وروسته کرزی تهران ته راځي او هغه غواړي له تا سره وګوري، خو تر دې د مخه ئې ما ته وویل چي د کابینې په غونډې کي قطعي پرېکړه شوې ده چي تاسو باید له ایرانه ووځئ، موږ ته ووایئ چي چېري ځئ؟ ما ورته وویل: صحیح ده زه به پرې غور وکړم، په همغه ماښام له تهران نه روان شوم او د سحر لمونځ مي د ایران سرحد ته نږدې وکړ او د دلوې په شپږو ښتمې چي له افغانستان نه د روسي فوځونو د وتلو له ورځي سره ئې سمون خوړلو، له ایران نه ووتلم، باید تاسو ته ووایم چي په کابل د امریکایي ځواکونو له برید نه وروسته مي د حزب اسلامي غړو ته وویل: ستاسو یوه مهمه دنده دا ده چي هغه انصار ورونه خوندي ځایونو ته ورسوئ چي له افغانستان نه د وتلو توان او د پناه بل ځای نه لري، کله چي په تورې بورې د امریکائي ځواکونو برید پیل شو او ځینو وطن پلورونکو ناافغانانو په دې برید کي برخه واخیسته، د حزب اسلامي څو زړه ورو او باایمانه مجاهدینو، دوی دواړه له څو نورو ملګرو سره له تورې بورې وایستل او یوه خوندي ځای ته ئې انتقال کړل، زما ملاقات په دغه ځای کي له دوی سره شوی.

خو دا باید تاسو ته واضح کړم چي موږ له القاعدې سره هیڅ تنظیمي رابطه نه لرو. موږ له افغانستان نه بهر هیڅ نظامي فعالیت نه لرو. نه اوس او نه د روسانو د اشغال په دوران کي.

۷. څو ورځي مخکي ستا یو بیان راغی چي مجاهدین دې د پاکستاني فوځ خلاف جنګ نه کوي، که څوك د امریکایانو خلاف جنګ کوي نو افغانستان ته دې راشي، تاسو ولې د پاکستان خلاف له جنګ نه دوی منع کوئ، پاکستان خو د امریکا ائتلافي دی؟ دوهمه خبره دا ده چي د هغو خلکو په باره کي ستا نظر څه دی چي د پاکستان د فوځ، حکومت او واکمنانو په ضد جنګېږي؟

ځواب: هو؛ ما دا بیان ورکړی، ما د وزیرستان مجاهدینو ته هم مسلسل پیغامونه ولېږل چي دلته جګړه بنده کړئ، دا جګړه موږ ته تاوان رسوي، دا د امریکایانو په ګټه ده، هغوی ما ته ولیکل چي موږ د پاکستان حکومت مجبور کړي یو، دا جنګ موږ نه دی پیل کړی، موږ له ځانه دفاع کوو او بله چاره نه لرو. زه هر مجاهد ته وایم چي د مسلمانانو اصلي جنګ په افغانستان کي روان دی، که دلته امریکایانو ماتې وخوړه نو د اسلامي امت ډېرې ستونزې به په خپله او په ډېرې آسانۍ سره حل شي.

زه د پاکستان سیاسي او جهادي ډلو ته نه وایم چي په پاکستان کي کومه تګلاره غوره کړي، زه یوازي دا ورته وایم چي راشئ د لوی او اصلي دښمن په ضد په ګډه وجنګېږو، زه ئې د کابل حکومت په ضد جنګ ته نه رابلم بلکي د بهرنیو ځواکونو په ضد ئې جنګ ته رابلم، که امریکایان او د دوی ائتلافي فوځونه له څو زره کیلومتره لرې سیمو نه افغانستان ته راځي، په بې ګناه افغانانو بمونه وروي او ستا مسلمان ورونه وژني نو ما ته ووایه چي ستا اسلامي ورورولي او قومي غیرت چېري دی چي د دغو مظلومو افغانانو نه د دفاع لپاره هسي په اوچت غږ خبره هم نه شې کولی، زه له هغو خلکو نه د ملګرتیا او حمایت انتظار نه لرم چي تل د افغانانو له دښمنانو سره ملګري شوي، پرون ئې د روسانو ملګرتیا کوله او نن د انګرېزانو او امریکایانو، زما د وینا هدف فقط دا دی چي د دې سیمي مسلمانان باید له افغانستان نه د بهرنیو فوځونو د ایستلو لپاره ملاوتړي، زه خپلو مجاهدینو ته هم

وایم چي ستاسو هره مرمۍ باید د اصلي دښمن په لوري وويشتل شي، د افغاني مزدور فوځ د سلو کسانو تر وژلو د یوه امریکایي ټپي کول اهمیت لري، کله چي امریکایان وایستلی شي د دوی د مزدورانو چاره آسانه ده.

۸. د افغانستان د حکومت لخوا دا تور لګېږي چي که طالبان کومه مبارزه کوي او یا تاسو نو مجاهدین په پاکستان کي روزل کېږي او له پاکستان نه افغانستان ته ځي، د دې تور په هکله څه وایئ؟ که دا تور ردوئ نو ستاسو وسله له کومه ځایه راځي؟ د روزنې او تربیت کار چېري تر سره کېږي؟

ځواب: امریکایان ښه پوهېږې چي موږ د دې مقاومت د دوام عزم او توان لرو، د دوام لپاره ئې د هیڅا مرستي ته اړ نه یو، نه ایران زموږ مرسته کوي او نه پاکستان، هم د ایران لیبرالانو د امریکا مرسته وکړه او هم د پاکستان جنرالانو، امریکایان ښه پوهېږي چي د سړك د سر د امریکایانو د یوه کاروان په وړاندي په یوې چاودنې باندي زموږ مصارف سلو ډالرو ته نه رسېږي، نه ئې په موادو او وسایلو کي بهرنۍ مرستي ته ضرورت لرو او نه ئې په مصارفو کي، إن شاء الله داسي جنګ په یوازي سر او تر اوږدې مودې جاري ساتلی شو، که موږ په کال کي زر داسي چاودنې وکړی شو نو مجموعي مصارف مو سل زره ډالرو ته نه رسېږي، که امریکایان په کال کي د زرو تابوتانو د انتقال حوصله ولري نو د افغانانو ملا دې ماتې شي که دومره مصارف ونه شي زغملی. که انګرېزانو یوه پېړۍ مخکي زموږ د پلرونو پر افغانستان حکومت ونشو کړی، موږ به د خپلو غازي نیکونو ناخلفه لمسیان وو چي نن د پردیو بیرغونه زموږ په هېواد کي په رپېدو وي او دښمن د هېواد په کوم ګوټ کي یوه شېبه آرامه تېره کړی شئ.

هر څوك په دې حقیقت پوهېږي چي د اسلام د لاري مجاهدینو د صلیبي اشغالګرانو په ضد روان مقاومت د خپل ایمان او عقیدې په حکم پیل کړي، څوك چي دا مقاومت بهرنیو ځواکونو ته منسوبوي هغوی په خپله د پردیو غلامان دي، پرون د روسانو تر قومندې لاندي د خپل ملت په ضد وجنګېدل او نن د انګرېزانو تر قومندې لاندي جنګېږي، په پردیو ځان ساتي او د کور په دروازه کي ئې امریکائي کوماندو پهره کوي، دا هماغه بې غیرته او بې ایمانه ناافغانان دي چي د

آزاد ژوند خوند ئې نه دی څکلی، هر څوك په خپل ځان قیاسوي، مجاهدین نه پېژني، د دوی له جذباتو بې خبره دي، په دې نه پوهېږي چې افغانان د عزت مرګ د غلامۍ تر ژونده سل ځله غوره ګڼي.

عجیبه ده چې څوك مجاهدین په پاکستان پورې تړي، پاکستان خو اوس د امریکایانو اډه ده، که د پاکستان مرسته نه وی نه دوی کابل نیولی شو او نه تر اوسه دلته پاتې کېدی شول. د امریکایانو د برید په لومړیو میاشتو کې د طالبانو د حکومت تر نسکورېدو پورې له پاکستانه اته اویا زره نظامي الوتنې وشوې، هره طیاره د پاکستان له نظامي اډو والوته او پر افغانانو ئې بمونه وورول، تر اوسه د امریکایانو اکمالات د پاکستان له لارې کېږي، کرزی له پاکستانه لومړی ارزګان ته بیا کندهار ته په امریکائي هلیکوپترو کې انتقال شو. د ګوانتانامو زندان په هغو مجاهدینو ډك دی چې پاکستان نیولي او امریکایانو ته ئې لاس پښې تړلي سپارلي. نه پوهېږو پاکستاني چارواکي تر دې زیات څه کولی شي چې واشنګټن قانع شي او له مجاهدینو سره ئې په ملګرتیا تورن نه کړي؟!!

۹. لکه چې ګورئ په عراق کې هم امریکا خپله پالیسي بدلول غواړي، پاکستاني چارواکو هم په وزیرستان کې معاهده وکړه، په هلمند کې هم د نېتو او طالبانو تر منځ یوه موافقه مخې ته راغله، آیا د دې امکان شته چې ستاسو او امریکایانو یا کرزي سره خبري اترې او روغه جوړه وشي؟

ځواب: موږ د مذاکراتو له لارې د بحران د حل معقوله او عملي لار لټول یو ضرورت ګڼو، دې ته د یوه مثبت انکشاف په سترګه ګورو چې مغرور امریکایان اوس په دې پوه شوي چې په جنګ سره نه خپلو ناولو موخو ته رسېدی شي او نه د افغانانو مقاومت ځپلی شي. دې ته هم د یوه مثبت بدلون په سترګه ګورو چې د کابل د امریکایي حکومت چارواکو ته له مجاهدینو سره د مذاکراتو اجازه ورکړی شوې.

خو مذاکرات په هغه صورت کې مفید او ګټور ګڼو چې اشغالګر ځواکونه د کابل حکومت ته د دې خبري صلاحیت هم ورکړي چې د بهرنیو ځواکونو د بلاقید و شرط او بشپړ وتلو په اړه له مجاهدینو سره توافق کولی شي او دا چې دا ځواکونه

به د دې توافق درناوی کوي. دا ځکه چې د مجاهدینو او ټول افغان ولس لومړی او اساسي غوښتنه همدا ده او له دې پرته د افغانستان بحران نه شي حل کېدی. د موسی کلا معاهدې وښوده چې د بهرنیو ځواکونو شته والی د جګړو د دوام لامل او وتل ئې د جګړو د ختمېدو باعث دی، موږ له دې سره توافق کولی شو چې دې ته ورته معاهده د کابل په شمول په ټولو ولایاتو کې پلې شي.

۱۰. تاسو له لومړۍ ورځې د جهاد په میدان کې متحرکه پاتې شوي یئ، د القاعده مشران، اسامه او ملګري ئې ستاسو په بلنه او ستاسو د ملګرو انجنیر محمود او نورو په وسیله افغانستان ته راغلل، له نړۍ سره دا وېره ده چې مبادا القاعده ته اټمي وسایل په لاس ورشي، آیا دا وېره په ځای ده؟ اسامه هم ویلي وو چې له موږ سره داسي وسایل شته، آیا له دوی سره د اټمي او کیمیاوي وسایلو ترلاسه کولو او استعمال امکان شته؟

ځواب: د اسامه بن لادن موضوع له افغانستان او افغانانو سره تړل یوه مغالطه ده، که امریکایانو یوازې د القاعدې د مرکزونو ختمولو او د طالبانو د حکومت نسکورولو لپاره پر افغانستان یرغل کړی وو نو اوس خو باید بېرته وتلي وی، اوس خو دلته د القاعدې مراکز نه شته، د القاعدې ټول مراکز عراق ته منتقل شوي، د طالبانو حکومت هم ختم شوی، دوی ولې اوس هم په پاتې کېدو ټینګار کوي؟ له دې نه خو معلومېږي چې دوی نورې موخې لري!! دوی په دې نه پوهېږي چې په دې یرغل سره ئې په سلګونو نور اسامه راپیدا کړل او د القاعدې لپاره ئې په سلګونو نور مراکز پرانستل، تاسو ته معلومه ده چې اسامه بن لادن عادي او مرفه ژوند درلود، د شوروي په ضد د جهاد په دوران کې افغانستان ته راغی، دلته ئې جهادي فکر په برخه شو، په سعودي کې د امریکایي فوځونو له ځای په ځای کېدو او د عراق په ضد جنګ سره ئې مخالفت وکړ، د سعودي حکومت د ده تابعیت ختم کړ، مجبور شو په افغانستان کې پاتې شي، له افغانستان نه سودان ته ولاړ، امریکایانو د سودان حکومت مجبور کړ چې هغه وباسي، بېرته افغانستان ته راغی، حالت داسي راغی چې دی له طالبانو سره ملګری شو، امریکایانو هغه وخت د طالبانو حمایت کولو او له دوی سره د اسامه په ملګرتیا ئې هم اعتراض نه

درلود، خو وروسته له هغه چي په کينيا، نيروبي او يمن کي د القاعدې لخوا د امريکايانو په ضد عمليات ترسره شول، له طالبانو ئې وغوښتل چي اسامه ورتسليم کړي، د سعودي حکومت هم دا مطالبه وکړه، مولوي متوکل رياض ته وغوښتلی شو، هلته ئې له سعودي چارواکو سره د اسامه د سپارلو ژمنه وکړه، په کابل کي ئې د علماوو په نامه شورى جوړه کړه او دې شورى هم له اسامه وغوښتل چي له افغانستان نه ووځي، د سعودي د استخباراتو مشر ترکي الفيصل په خصوصي طيارې کي د دې لپاره کندهار ته ولاړ چي اسامه به لاس ترلی له ځان سره بيايي، پنځه ورځي په کندهار کي تم شو، خو طالبان د خاصو عواملو په وجه ونه توانېدل چي اسامه ترکي الفيصل ته تسليم کړي، له طالبانو سره د واشنګټن او رياض اختلاف له دې نېټې وروسته راولاړ شو.

واشنګټن پر عراق باندي د اټمي وسايلو د جوړولو په تور بريد وکړ، خو معلومه شوه چي خپل ولس او نړيوالو ته ئې دروغ ويل، هر څوك پوهېږي چي د القاعده په ضد د دوی تور دې ته ورته دروغجن او بې بنسټه تبليغات دي، که د عراق، ايران، ليبيا په څېر شتمن هېوادونه لاتراوسه نه دي توانېدلي چي اټمي وسايل جوړ کړي نو القاعده به څنګه په دې وتوانېږي؟ تجربې وښوده چي القاعده په تش لاس وکولی شو چي امريکايانو ته د يولسم ستمبر په څېر داسي ستر ګوزار ورکړي چي په تاريخ کي ئې نظير نه شو موندلی، د القاعدې اټم بم په حقيقت کي هغه سرتېري عمليات دي چي امريکا ئې د مقابلې توان نه لري!!

۱۱. تاسو ديني مطالعه هم لرئ، ستاسو ډېر کتابونه هم مخې ته راغلي دي، يو دا راته ووايئ چي آيا ستاسو د ليك لوست سلسله جاري ده، په راتلونکي کي د کوم نوي کتاب د ليکلو انتظار کېدی شي؟ بل دا چي د ځان وژونکو عملياتو په هکله بحثونه روان دي، ځيني وايي چي ځانه وژنه ناجايز کار دی، ستاسو نظر څه دی؟ آيا مسلمان ته د سرتېرو عملياتو اجازه شته او که نه شته؟

ځواب: د پوښتني د لومړۍ برخي په اړه عرض کوم چي الحمد لله ما له دې فرصت نه چي له جلسو او ملاقاتونو فارغ وم، پوره استفاده وکړه، مطالعې، تحقيق او ليکنو ته مي کافي وخت درلود، په اونۍ کي مي يوه ورځ د خطونو او

پيغامونو لېږلو ته وقف کړې وه او نورې ورځې مې څېړنو او ليکنو ته، په تېرو پنځو کلونو کې مې لس کتابونه وليکل او په تېرو شپږو مياشتو کې مې په بايبل باندې يو تفصيلي نقد ليکلی، اميد دئ په لنډو ورځو کې بشپړ او د (بايبل د قرآن په رڼا کې) تر نامه لاندې چاپ شي.

او د دوهمې برخې په هکله بايد ووايم چې د شهادت طلبانه عملياتو په هکله او دا چې آيا دا عمليات جائز دي؟ آيا هغه چا ته شهيد ويلی شو چې په ځان پسې بمونه تړي او ځان او دښمن له منځه وړي؟ آيا دا کار د قرآن له دې آيت سره مخالفت نه دی چې فرمايي: ولا تلقوا بايديکم الی التهلکة: په خپل لاس ځان په تهلکه کې مه اچوئ. په دې هکله بايد څو خبرې په پام کې ولرو:

دا مکمل آيت نه بلکې د يوه آيت يوه برخه ده، آيت داسې دی:

وَ أنفِقُوا فی سبيلِ اللّهِ وَ لا تُلْقُوا بِأَيْدِيکُمْ إِلی التهْلُکَةِ وَ أَحْسِنُوا إِنّ اللّهَ يحِبُ الْمُحْسِنِينَ* البقرة: ۱۹۵

او د الله په لار کې انفاق وکړئ او ځان په خپل لاس په تهلکه کې مه اچوئ او احسان وکړئ چې الله محسنين خوښوي.

دا آيت په حقيقت کې جهاد او د الله په لار کې قربانۍ ته بلنه ورکوي او وايي چې د الله په لار کې له انفاق او له قربانۍ نه ډډه کول، تهلکه ده، بايد د الله په لار کې خپل مال ولګوئ تر څو له دې تهلکې وژغورل شئ. له دې آيت نه مخکې ويل شوي چې که څوك په تاسو تېری وکړي نو تاسو هم بالمثله ځواب ورکړي، له دې نه معلومېږي چې دلته له انفاق نه مراد د دښمن په ضد جهاد کې د سر او مال قرباني کول دي. له دې آيت نه دا انتباه اخيستل چې ځان په خطر کې مه اچوئ، يوه غلطه انتباه ده، دا سمه نه ده چې څوك د يوه کلام نيمائي برخه راواخلي، مخکنۍ او وروستنۍ برخې ته له پام نه پرته، له هغې خاصه معنی راوباسي. په دې نيمايي آيت استناد کول او دا خبره ترې رااېستل چې شهادت طلبانه عمليات جائز نه دي، نه يوازې بې بنسټه او غلط استناد دی بلکې له آيت نه معکوسه معنی او انتباه

اخيستل دي. آيت د قربانۍ بلنه ورکوي او د عدم قربانۍ عواقب او پايله تهلکه ګڼي خو دوی ترې معکوس مطلب راباسي!! دا خو داسي ده لکه چي څوك ووايي: په قرآن کي راغلي چي (و لاتقربوا الصلوة) لمانځه ته مه نږدې کېږئ حال دا چي دا د آيت يوه برخه ده، بشپړ آيت داسي دی: (و لاتقربوا الصلوة و انتم سکرٰی): چي نشه وئ نو لمانځه ته مه نږدې کېږئ او يا دا چي څوك ووايي: په قرآن کي راغلي (ويل للمصلين): افسوس د لمونځ کوونکو په حال، خو د آيت وروستۍ برخه پرېږدي چي وايي: هغه لمونځ کوونکي چي په غفلت او بې پروايۍ سره خپل لمونځ ادا کوي.

قرآن له همدغه آيت نه مخکي له دښمن سره بالمثله عمل جائز ګڼي او فرمايي:

فَمَنِ اعۡتَدَی عَلَيۡکُمۡ فَاعۡتَدُوا عَلَيۡهِ بِمِثۡلِ مَا اعۡتَدَی عَلَيۡکُمۡ وَ اتَّقُوا اللّٰهَ وَ اعۡلَمُوا أنَّ اللّٰهَ مَعَ الۡمُتَّقِينَ * البقرة:۱۹۴

بيا که څوك پر تاسو تېری وکړي نو د ده د تېري په څېر تېری پرې وکړئ او له الله ووېرېږئ او په دې پوه شئ چي الله له متقيانو سره دی.

که دا دواړه آيتونه يو ځای او د يوه مضمون د متصلو برخو په حيث په پام کي ولرو نو له دې نه دوه خبري معلومېږي: لومړی دا چي له انفاق نه په دې ځای کي د دښمن په خلاف په جهاد کي د ځان او مال قرباني ده او دا مطلب په ګوته کوي چي د جهاد په سامان او وسايلو باندي د مال د نه مصرفولو عاقبت خطرناك او په خپل لاس ځان مرګ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چي له دښمن سره بالمثله معامله جائزه ده.

پوښتنه دا ده چي د شهادت طلبانه عملياتو مخالفين ولې دې ته توجه نه کوي چي قرآن له دښمن سره بالمثله معامله جائز ګڼي؟! قرآن مضطر انسان ته حرام روا کړي، قرآن مجبور انسان ته د کفر د کلمې ويل هم روا کړي، قرآن مظلوم انسان په بدي وينا او حتی ښکنځلو د مؤاخذې وړ نه ګڼي، د ده د مظلوميت په وجه، د يوه ناروا او ناجائز کار سره سره، هغه ته معافي اعلانوي. څوك چي د اسرائيلو او امريکا په ضد شهادت طلبانه عمليات ترسره کوي، له يوې خوا مظلوم دی، له بلې خوا له ظلم نه د نجات بله لار نه ګوري، له بلې خوا بالمثله عمل کوي او بالآخره دې ته مجبور شوی.

قرآن فرمايي:

وَ لَمَنِ انتَصرَ بَعْدَ ظلْمه فَأُولَئك مَا عَلَيهم مّن سبيل * إنّمَا السبيل عَلى الّذينَ يَظلِمُونَ النّاس وَ يَبْغُونَ فى اَلَأرْضِ بِغَيرِ الْحَقّ أُولَئك لَهُمْ عَذَابٌ أَليمٌ *

سبا: ۴۱-۴۲

او چا چي له مظلوميت نه وروسته انتقام واخيست هيڅ الزام وربانديې نه شته، الزام خو په هغه چا دی چي پر خلکو ظلمونه کوي او په ځمکه کي په ناحقه تېری کوي، دغو لره دردناك عذاب دی.

کوم کسان چي د امريکايانو په ضد شهادت طلبانه عمليات ناجائز ګڼي، هغوی په عراق او افغانستان کي پر امريکايانو د مجاهدينو نور بريدونه هم نه تائيدوی، دا سرکاري مفتيان دي، هغه خبره کوي چي د دوی حکومتونه ئې کوي، هغه فتوی ورکوي چي حکومت ورته ليکلې وي او پر هغې د مهر لګولو امر ورته شوی وي. که يو سرکاري مفتي په فرانسه کي د حجاب ممنوعيت د فرانسې داخلي مسئله ګڼي او همغه فتوی ورکوي چي د مصر حکومت ئې ترې غواړي نو دا به د امريکا په ضد د شهادت طلبانه عملياتو څنګه ملاتړ کوي او څنګه به د هغه د جواز فتوی ورکوي؟!! څوك چي يوه شېبه هم د الله په لار کي جهاد ته نه وي وتلی، نه ئې وسله اخيستې وي، نه په سنګر کي پاتې شوی وي، نه ئې زندان ګاللی وي، نه ئې د ظالمو حکامو په ضد يوه د حق خبره کړې وي، له دې نه څنګه دا طمع کوئ چي د شهادت طلبانه عملياتو ملا تړ وکړي او هغه جائز وګڼي؟!! د جهاد فتوی بايد له مجاهد عالم او مجاهد مفتي نه وغوښتی شي نه د قاعد او د جهاد مخالف سرکاري مفتي نه.

که څوك شهادت طلبانه عمليات له هغې ځان وژني سره مقايسه کوي چي يو کس د بې صبرۍ او د الله تعالی له رحمت نه د يأس او ناهيلۍ په وجه ځان وژني، دا ډېره غلطه مقايسه ده، د قرآن هغه آيتونه چي د خوف او وېرې په وجه د اولاد له وژلو نه ممانعت کوي په شهادت طلبانه عملياتو تطبيقول ډېر ناروا تطبيقول دي. دا خو د وېرې او يأس په وجه نه بلکي له الله سره د شديدې مينې او د ده پر دين باندي د غيرت کولو په وجه ځان قرباني کوي.

له دغو جنابانو نه پوښتنه کوو: که څوك په خپلي چانټې کي بمونه، کارتوس او د راکټ مرمۍ اچوي او د هغه دښمن مقابلې ته درومي چي هم ئې تر ده وسايل

زيات او پر مخ تللې دي او هم ئې شمېر زيات دی او له هغه سره د ده د نښتې قوي احتمال دا دی چې دی په شهادت رسېږي، خو له دې محتمل خطر سره سره هغه سنگر ته درومي او د دښمن مقابله کوي او بلآخره په شهادت رسېږي، دا کار له دې څه فرق لري چې يو کس همدا بمونه په ځان پورې وتړي او د دښمن منځته ننوځي او هلته دا بمونه منفجر کړي او دښمن له منځه يوسي؟!! دا په داسې حال کې چې دی دغه کار ته اړ وو، بله چاره ئې نه لرله، له څرگندې وسلې سره دښمن ته نه شو نږدې کېدی، د دښمن د وژلو نورې لارې چارې ورته نه وې. ډېره عجيبه ده چې څوك هغه کار جائز او د مکافات وړ وگڼي او دا ناجائز او د سزا وړ. پکار خو دا ده چې دا کار په دې خاطر تر هغه بل هم د لوړ اجر مستحق وگڼلی شي چې دلته د الله په لار کې وژل کېدل يقيني او په هغه بل کې احتمالي دی. يو د الله په لار کې د شهادت وروستۍ او يقيني فيصله کوي او هغه بل د شهادت ترڅنگ د دې طمع هم لري چې ژوندی بېرته راوگرځي. دا د بريد په وخت کې ځان ته هم پام کوي او دا احتياط کوي چې ده ته صدمه ونه رسېږي خو هغه بل د ځان هيڅ پروا نه کوي، ټول هم او غم ئې دا وي چې د الله دښمن ته تر زيات نه زيات تلفات واړوي. که د هر معيار له مخې دا دواړه مقايسه کړو نو د عدالت تقاضا دا ده چې د دې شهادت غوښتونکي کار تر هغه بل نه ډېر ډېر لوړ وگڼو. دا به ډېره عجيبه وي چې څوك دا يو کار شهادت وگڼي او هغه بل ته د شك په سترگه وگوري او له شهادت گڼلو ئې ډډه وکړي.

مخکې له دې چې څوك په دې هکله څه ووايي چې په نيويارك او اسرائيلو کې د غيرمحاربو کسانو د وژل کېدو حکم څنگه دی، هغه بايد دا خبره په پام کې وساتي چې آيا امريکايانو او اسرائيلو دې ته ورته کار کړي که نه، غيرمحارب کسان ئې وژلي که نه، لاسونه ئې د بې گناه خلکو په وينو سره دي که نه، د قاتلانو مرسته کوي که نه، قاتل ته ئې پيسې او وسلې ورکړې که نه، په ښار، کلي او جومات ئې بمونه ورولي که نه، که هغوی دا کارونه کړي وي نو د دوی مقابل طرف ته له هره لحاظه دا حق حاصل دی چې د دوی په ضد همداسې وکړي، له دې لحاظه هم چې هغه مظلوم دی او د انتقام اخيستو حق لري او له دې لحاظه هم چې هغه ته هر عدالت د بالمثله عمل اجازه ورکوي. لکه څنگه چې اسرائيليان هر فلسطيني

محارب ګڼي، د هغه په وژلو صرفه نه کوي، نه په لوی رحم کوي نه په وړو، نه په ښځو رحم کوي نه په سړو، د شیخ احمد یاسین په څېر یوه سپین ږیری، له دواړو سترګو او پښو محروم، له جومات نه د راګرځېدو په حال کې، له امریکائي هلیکوپټر نه په راکټ ولي او له ګڼ شمېر کسانو سره ئې یو ځای په شهادت رسوي، واشنګټن د رسمي بیان په ترڅ کې له دغه ستر جنایت نه دفاع وکړه او وئې ویل: اسرائیل له ځان نه د دفاع حق لري!! اوس که څوك د امریکایانو او اسرائیلو په ضد دې ته ورته عمل کوي، هغه شرعاً، عدلاً او عقلاً د دې حق لري. په هغه څه سره چې امریکایان او اسرائیل ئې په فلسطین، افغانستان او عراق کې کوي، هر فلسطیني او هر مسلمان ته د دې مجوز ورکوي چې ټول امریکایان او اسرائیلیان محارب وګڼي او خپل انتقام ترې واخلي. دا بېله خبره ده چې څوك مجاهدینو ته مشوره ورکړي چې په کار ده خپل بریدونه اصلي دښمن ته متوجه کړئ، هغو ځایونو ته چې د دښمن د ملا تیر ورمات کړي. خو که هغه دا ونه کړی شي او ووایي چې هلته مي لاس نه رسي، هلته د رسېدو توان نه لرم، نو چې د خپل دښمن پر هرځای برید وکړي او خپل غچ ترې واخلي، دا د ده مشروع او مسلم حق دی.

۱۲. ځیني وایي چې د روسانو له وتلو وروسته د مجاهدینو تر منځ خپل منځي جګړو د طالبانو د راتلو لار آواره کړه او بیا د طالبانو او تاسو خپل منځي جګړو د امریکایانو د راتلو لار آواره کړه، اوس چې تاسو تېرو وختونو ته ګورئ، په کوم کې چې ستاسو، مسعود او رشید دوستم ترمنځ او بیا د طالبانو په ضد جګړې شوې دي، آیا دا منئ چې په دې کې له تاسو نه څه غلطي او اشتباهات شوي، آیا په دې کې تاسو ته خپل اشتباهات هم په نظر درځي او که دا ټول د دښمن دسیسې درته ښکاري؟

ځواب: صافي صاحب! دا ادعا حقیقت نه لري چې د روسي فوځونو له وتلو وروسته اقتدار مجاهدینو ته انتقال شوی او دوی د اقتدار په سر په خپلو کې نښتي او د نوې جګړې اور ئې بل کړی، حقیقت دا دی چې د روسانو په لاس پیل شوې جګړه تر نن پورې ادامه لري، روسان ووتل خو هغه جګړه ئې تر شا پرېښوده چې دوی ئې اور بل کړی وو، د جګړې د دوام لپاره ئې پیسې او وسلې لېږلې، په

دې جګړو کي تر نن پورې د کمونستانو ونډه همغسې ده لکه د روسانو په شته والي کي ئې چي وه، تاسو ته معلومه ده چي د جبل السراج ائتلاف د مسکو په لارښوونه او د ایران په وساطت جوړ شو، واشنګټن ترې حمایت کاوو، دوی کمونستان، شورای نظار او ایران پلوه شیعه ډلي په دې ائتلاف کي راغونډې کړې، موخه ئې دا وه چي د همدغو ډلو ائتلافي حکومت جوړ کړي او د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه ونیسي، دوی غوښتل د جهاد تجربه ناکامه کړي او په نورو ځایونو کي د جهاد د پیل کېدو مخنیوی وکړي، ایران د سنیانو حکومت نه شو زغملی، د همدې لپاره ئې له روسانو سره لاس یو کړ، له نجیب سره ئې روغه جوړه وکړه، په مشهد کي ئې هغه ته ښه راغلاست وویل او هملته ئې د همکارۍ معاهده ورسره امضا کړه، ایران پلوه ډلو ته ئې وظیفه ورکړه چي په پنجشیر او بامیانوکي د مجاهدینو د تلو راتلو لاري وتړي او کاروانونه ئې تر برید لاندي ونیسي. روسیې او امریکا هم د مجاهدینو حکومت د خپلو ګټو لپاره لوی ګواښ ګڼلو، کوم کار چي دغو دریو هېوادونو د طالبانو د حکومت په نسکورولو کي په ګډه وکړ همدا کار ئې د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته هم کړي وو، لکه څنګه چي ایران د کابل او بغداد په نیولو کي د امریکایانو مرسته او ملګرتیا وکړه همداسي ئې د جبل السراج د ائتلاف په جوړولو کي لویه برخه وه، د روسانو له وتلو وروسته ایران له شمالي ائتلاف سره د سلګونو ملیونو ډالرو او وسلو مرسته کړې ده!! که د ایران مالي او نظامي مرستي نه وی نو شمالي ائتلاف د لنډې مودې لپاره هم جنګ ته دوام نه شو ورکولی.

تاسو ته معلومه ده چي د روسي فوځونو د وتلو پر مهال موږ له یوه خطرناك بین المللي سازش سره مخامخ شوو، مسکو او واشنګټن دا توافق وکړ چي په افغانستان کي د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه باید په ګډه او په هره بیه چي وي ونیسي، په دوی پورې تړلو ملکونو مخصوصاً زموږ ځینو ګاونډیو د دوی مرسته وکړه، د ایران په وساطت د جبل السراج کمونیستي ـ جهادي ائتلاف جوړ شو، د دې ائتلاف مأموریت دا وو چي پرې نږدې جګړه پای ته ورسېږي، ځینو یوې ډلي ته وسلې او پیسې ورکړې او د مجاهدینو په ضد ئې

وجنګوله او ځينو بلي ډلي ته. هر يوه د جګړو په دوام کي خپلي ګټې لټولي، د واشنګټن په چاروا کو هغه شيطان سور وو چي د اسلام ضد جنګ ته ئې هڅولو، مسکو او انډيوالانو ئې غوښتل مرکزي آسيا او پراخ ذخاير ئې د دوی له لاسه ونه وځي او د دې سيمي تېل او ګاز د افغانستان له لاري د هند نيمې وچي ته او د امريکايي کمپنيو په لاس انتقال نه شي، ايران غوښتل دا مارکيټ د دوی لاس ته ورشي، له پاکستاني جنرالانو سره د ډيورند د کرښې لانجه وه، دوی هم په کابل کي د يوه مضبوط حکومت جوړېدل نه خوښيدو، د همدې لپاره ئې رباني دوه ځلې د جمهور رئيس په توګه په نورو ډلو تحميل کړ. دې ته ورته مسايل د دې باعث شو چي د افغان ولس هغه ستر آرمان نيمګړی پاتې شي چي د تحقق لپاره ئې يو نيم مليون شهيدان ورکړل.

دا هم بايد ووايم چي زه ځان او خپل حزب نه تبرئه کوم او هيڅکله نه وايم چي زموږ هر څه سل په سلو کي صحيح، سم او معياري وو، خو دومره ويلی شم چي په دې جګړو کي موږ هغه څه کړي چي کول ئې د اسلام او هېواد په ګټه وو، موږ د يوه ستر بين المللي سازش مقابله کړې ده، زه د روسانو، کمونستانو او شمالي ائتلاف په ضد جګړه ورته او مشابه ګڼم، يوازي ناپوه او بې خبره خلك به دا جګړې سره بېلوي، يوه به جائز او بله ناجائز ګڼي!! زه طالبان هم په هغو جګړو نه ملامتوم چي د دې خطرناك او وطن پلورونکي ائتلاف په ضد ئې کړې، د همدې لپاره موږ په دې دوران کي د طالبانو په ضد له څه کولو ډډه وکړه، دا په داسي حال کي چي طالبان د خپلو هغو مشرانو په تحريك چي اوس په کابل کي ناست دي، تر ټولو د مخه له حزب سره وجنګېدل، حتی د حزب په ضد ئې له همدې ائتلاف سره ملګرتيا کوله. که طالبان له موږ سره نه وی جنګېدلي او له شا ئې پر موږ بريد نه وی کړی نو موږ د هغه لوی سازش د شنډولو توان درلود او شمالي ائتلاف مو عملاً له ماتې سره مخامخ کړی وو، د همدې لپاره شمالي ائتلاف د طالبانو مرسته وکړه.

ما ته هم روسانو د طالبانو په ضد په جګړې کي د برخي اخيستو بلنه راکړه او هم ايران، دواړو د ډېرو مرستو وينا کوله خو ما په دې خاطر دې بلنې ته منفي ځواب ورکړ چي پوهېدم دوی غواړي موږ کابل د شمالي ائتلاف لپاره فتح کړو،

همدا راز ما ته امریکایانو له برید نه مخکي بلنه راکړه چي د طالبانو په ضد جګړي کي برخه واخلو. د امریکایانو پلاوي راته وویل: طالبان خو له تاسو سره جنګېدلي دي، ستاسو دښمنان دي، موږ د افغانستان د نیولو اراده نه لرو. د طالبانو د حکومت له نسکورولو وروسته یو موقت حکومت جوړوو چي بیا به انتخابات ترسره کېږي، تاسو په انتخاباتو کي د بریا چانس لرئ... خو ما ورته وویل: زه د طالبانو او هر افغان حکومت د سلو کلونو لپاره منلی شم، که څه هم زما دښمن وي، خو د یوه بهرني ځواك حکومت د یوې ورځي لپاره نه منم، تاسو کابل نیولی شئ خو ساتلی ئې نه شئ، تاسو د طالبانو حکومت نسکورولی شئ خو پر افغانستان باندي حکومت نه شئ کولی. افغانستان ته ننوتل آسان دي خو وتل ترې ګران، د روسانو ناکامه تجربه مه تکراروئ!!

زه په ټول ډاډ او اطمئنان سره دا دعوا هم کولی شم چي په افغانستان کي تر ټولو غوره حزب؛ حزب اسلامي وو او دی، هم د صالح افرادو له پلوه او هم د سیاسي، اجتماعي او جهادي تګلارو او دریځونو له پلوه، باور وکړئ چي که ما تر حزب اسلامي نه غوره ډله موندلې وی نو زه به له هغې سره یو ځای کېدم، په ټول جرأت سره دا ویلی شم چي د افغانستان اسلامي تحریك د حزب اسلامي په لاس پیل شوی، د کمونستانو او روسانو په ضد جهاد د حزب اسلامي مجاهدینو پیل کړی او حزب اسلامي د هغه جهاد د ملا تیر وو، د امریکا په ضد په روان جهاد کي هم د حزب اسلامي د مجاهدینو ونډه ډېره ډېره ځلانده او پراخه ده، باور وکړئ چي نه د افغانانو ملي وحدت له حزب نه پرته بله ډله تأمینولی شي او نه په افغانستان کي یو قوي حکومت له حزب نه پرته بله ډله جوړولی شي، نورې ډلي قومي او محلي ډلي دي، که په شمال کي وي نو په جنوب کي نه شته او که په پښتنو کي وي نو په غیر پښتنو کي نفوذ نه لري.

۱۳. فرض کړئ چي داسي وشي چي امریکایان او نور بهرني ځواکونه له افغانستان نه ووځي د دې څه تضمین شته چي تاسو، طالبان او نور به همغسي په خپلو کي نه جنګېږي چي د شوروي د وتلو نه وروسته وجنګېدل؟

ځواب: دا سوال خو په هغه صورت کي په ځای وو چي بهرنیو ځواکونو امنیت

راوستی وی او د دوی شته والی د ثبات او امنیت ضامن وی!! تجربو ثابته کړه چې بهرني ځواکونه د جنګ د پیل او دوام لامل وي نه د ثبات او امنیت لامل، نه د شوروي اتحاد ځواکونو په افغانستان کي امنیت راوستی شو او نه امریکایانو دلته او په عراق کي امنیت تأمین کړی شو، حقیقت خو دا دی چې د افغانانو اکثر ستونزي د بهرنیو لاسوهنو په نتیجه کي راولاړې شوې دي. که دا لاسوهنې نه وي افغانان کولی شي خپلي ستونزي په خپله حل کړي، زه باور لرم چې که ایران او پاکستان زموږ په کورنیو چارو کي مداخله ونه کړي او خپلي ګټې زموږ په هېواد کي د جګړو په دوام کي ونه لټوي، افغانان کولی شي په آسانۍ سره خپل منځي مشکلات حل کړي.

ما ته اوس د سیمي او نړۍ حالت داسي معلومېږي چې بیا به نه د مسکو تر مشرۍ لاندي ائتلاف د افغانستان په کورنیو چارو کي د مداخلت لپاره د پرون په څېر امکانات ولري او نه د واشنګټن تر مشرۍ لاندي ائتلاف، له افغانستان او عراق نه د امریکایي فوځونو په وتلو سره به زموږ ډېرې ستونزي حل شي.

۱۴. ستاسو او د پاکستان د حکومت اړیکي له بېلابېلو مراحلو نه تېرې شوې، یو وخت به نورو ډلو دا تور لګولو چې تر ټولو زیاتې مرستي له حزب سره کېږي، تاسو ډېره موده په پاکستان کي هم پاتې شوي یئ، بیا په تېرو وختونو کي چې څه وشول، تاسو له پاکستان نه ګیلې درلودې او پاکستان له تاسو نه، اوس ستاسو او د پاکستان او د پاکستان د استخباراتي ادارو اړیکي څنګه دي؟ او چې څه شوي دي له دې سره سره تاسو په پاکستان او د پاکستان په ادرارو باور او اعتماد کولی شئ؟

ځواب: د افغانستان په اړه د پاکستان د حکومت دریځ هر چا ته څرګند دی، چې په پوره اخلاص او تر اخلاص هم زیات، د امریکایانو ملګرتیا کوي، متأسفانه د اسلام آباد خارجي سیاست مخصوصاً د افغانستان په ارتباط د امریکا تر اغېز لاندي ټاکل کېږي، په دې کي هومره چې د امریکا ګټو ته پام کېږي بل څه ته هومره ارزښت نه ورکول کېږي، پاکستاني چارواکي دې ته متوجه نه دې چې امریکا تر هغه وخته پاکستان ته اهمیت ورکاوو چې هند له روسانو سره نږدې وو، غوښتل ئې

هند تر فشار لاندي ونيسي، اوس چي هند امريکا ته نږدې شوی پاکستان خپل اهميت له لاسه ورکړی، د ساړه جنګ په وخت کي هم امريکا هند ته پر پاکستان ترجيح ورکوله، اوس خو د ډهلي د خوشحالولو لپاره د پاکستان په خلاف هر څه کولو ته تيار دي.

د پاکستان تېرو حکومتونو هم د واشنګټن په وينا هغه څه کړي چي هم ئې افغانستان ته تاوان رسولی او هم پاکستان ته، تاسو ته معلومه ده چي رباني دوه ځلې په پرايم منسټر هاوس او ګورنر هاوس کي د جمهور رئيس په توګه په نورو ډلو تحميل شو او دا د دې لپاره چي مسکو او واشنګټن په خپلو کي دا پرېکړه کړې وه، اسلام آباد چي د حزب په ضد څه کړي هغه له تاسو پټ نه دي، زه په ټول صداقت سره تاسو ته وايم چي موږ د پاکستان له حکومت او حکومتي ادارو او مأمورينو سره هيڅ ارتباط نه لرو، ما په تېرو نږدې ديرلسو کلونو کي نه يوازي له هيڅ پاکستاني مأمور سره ليدنه، کتنه نه ده کړې، بلکي په ټېټه کچه هم له دوی سره مخامخ يا خطي رابطه نه لرو، ډېر ساده انسان به د پاکستان د اوسني حکومت په هکله دا ګمان کوي چي د امريکايانو په ضد د مجاهدينو مرسته او حمايت کوي.

**۱۵.** د ايران حکومت يو وخت تاسو ته پناه درکړې وه او بيا يو وخت داسي راغی چي د يولسم ستمبر نه وروسته تاسو هغوی له خپل ملك نه وايستئ، له بلي خوا نړۍ ايران د امريکا دښمن ګڼي او ځيني کسان د ايران دريځ ستايي، په دې ټولي مسئلې کي تاسو د ايران رول ته په کوم نظر ګورئ؟

ځواب: ايران له هغې ورځي چي روسي فوځونو له افغانستان څخه د وتلو پرېکړه وکړه تر نن پورې له مسکو سره واحد او ګډ دريځ لري، د جبل السراج ائتلاف د ايران په وساطت جوړ شو، تاسو ته معلومه ده چي په دې ائتلاف کي کمونستان، شورای نظار او ايران پلوه شيعه ډلي راغونډې کړی شوې، روسانو ورته پيسې چاپولې او ايران ورته وسلې لېږلې، د دواړو هڅه دا وه چي په افغانستان کي يو قوي حکومت جوړ نه شي، دواړو غوښتل چي د مرکزي آسيا تېل او ګاز د افغانستان له لاري بهر ته صادر نه شي، د مرکزي آسيا مارکيټ د امريکا

او پاکستان په لاس کي پرېږ نه وځي، ایران وکولی شي خپل نفت او گاز هند او پاکستان ته انتقال کړي او دا مهم مارکیټ د نورو لاس ته ورنه شي.

ایران هم د افغانستان په نیولو کي د امریکا ملگرتیا وکړه او شمالي ائتلاف ئې دې ته چمتو کړ چي د امریکا د ځمکني فوځ په توگه د افغانانو په ضد وجنگېږي او هم ئې د بن په غونډې کي ونډه امریکایانو ته هومره په زړه پورې وه چي په جگ غږ ئې ترې مننه وکړه، د خاتمي، رفسنجاني او خرازي په څېر مشرانو ئې په خپلو مطبوعاتي کنفرانسونو او د جمعې د ورځي په خطبو کي ویل چي که د ایران مرسته نه وی نو امریکایانو دومره ژر او په آسانۍ سره کابل او بغداد نه شو نیولی!! زه هغو خلکو ته حیران یم چي د ایران په غلطو دریځونو د اعتراض په ځای د هغه ستاینه کوي، ما ته د ایران اوسنی دریځ داسي معلومېږي لکه په تېر صلیبي جنگ کي چي د مصر فاطمي حکومت د اسلامي خلافت په ضد له صلیبي ځواکونو سره مرسته او ملگرتیا وکړه. آ بله ورځ د کابل د امریکایي حکومت خارجه وزیر د تهران له دې دریځ نه ستاینه وکړه چي په افغانستان کي د بهرنیو ځواکونو پاتې کېدل د امنیت لپاره ضروري گڼي!!

۱۲. یو څو شخصي پوښتني کول غواړم، یو خوا ستا ځیني مخالفین دا تور لگوي چي حکمتیار صاحب له امریکا نه هم ډېرې پیسې ترلاسه کړې او له بل او بل نه هم او ډېرې پیسې ئې جمع کړې دي، له بلي خوا ستاسو د قربانیو یادونه کېږي، لږ د خپل او کورنۍ د قربانیو سرسري ذکر زموږ کتونکو ته وکړئ!

ځواب: په افغانستان کي د کمونستانو په لاس لومړی وران شوی کور زما کور دی چي تر نن پورې وران پاتې دی او زه له دغه وران کور نه پرته د نړۍ په هیڅ گوټ کي بل کور نه لرم، د نصرت مېنې په کمپ کي چي زما کوم کور وو اوس په هغه کي زما خپلوان اوسېږي، په ایران کي د حزب یو اکونټ نمبر چي د دریو کسانو په نامه وو او په هغه کي د حزب او افغاني کارگرانو محدود رقم پروت وو، مقدار ئې ښایي د یوې ورځې مغازې د پانگې په اندازه هم نه وو، هغه ایراني چارواکو د امریکایانو د خوشحالولو لپاره منجمد کړ او په درواغو ئې وویل چي په دې کي څو ملیونه ډالر وو، حال دا چي په دې کي یو ډالر هم نه وو، ما اعلان وکړ چي که په

دې اکونټ نمبر کې څومره ډالر هم وي نو زه ئې ایران ته بخښم چې حزب الله ته ئې ولېږي.

د روسانو د اشغال په دوران کې زما پلار او دوه ورونه په شهادت ورسېدل او د کورنۍ ټول نږدې خپلوان مې له اویا اتیا کلن نه تر تي خور ماشوم پورې زنداني شول، ټوله شتمني مو تالان شوه، ځمکه مو مصادره شوه، زما لرې لرې خپلوان هم وځورول شول، بندیان شول او له هېواد نه وتلو ته اړ شول، زما د کورنۍ غړي حتی لرې خپلوان تر نن پورې په مختلفو ملکونو کې اوسېږي، هېواد ته نه شي تلی، د کمونستانو په وخت کې ما خپله کورنۍ اوه کاله وروسته ولیدله او اوس نه ده معلومه چې کله او چېري به ئې په ډاډ او اطمئنان سره ګورم، په تېرو پنځو کلونو کې د لیدو کتو ډاډمن شرایط نه دي راته برابر شوي، زما د سنګر او مبارزې له هغو ملګرو څخه چې په لومړیو ورځو کې مو دا تحریك پیل کړ نږدې په سلو کې پنځه نوي په شهادت رسېدلي، له هغو دولسو کسانو څخه چې د دې تحریك د مؤسسینو لومړۍ حلقه وه یوازې زه له شهادت نه محروم پاتې شوی یم، نور یولس کسان په شهادت ورسېدل او زما ژوند هم داسي چې خدای خبر، د مبارزې په دې اته دېرشو کلونو کې څو ځلې مرګ په څو قدمۍ کې راته کمین نیولی او الله تعالی زه ترې ژغورلی یم، زه داسي احساس کوم چې ښایي د ډېرو لږو کسانو د وژلو هومره هڅې به شوې وي لکه زما د وژلو، هم د کې جي بې له لوري، هم د سي آی اې له لوري او هم د افغانستان د مختلفو حکومتونو له لوري!!

د امریکایانو د اشغال په دوران کې زما له خپلوانو څخه یو کس په شهادت رسېدلی، د کورنۍ له نږدې غړو څخه مې درې کسان نیول شوي، دوه په افغانستان کې او یو په پاکستان کې، یو مې زوم ډاکټر غیرت بهیر (چې یو وخت په پاکستان کې د افغانستان سفیر وو) او دوه مې وربرونه، خو د حزب ډېر شمېر غړي په پاکستان او افغانستان کې نیول شوي، ځیني ئې په ګوانتانامو کې دي، ځیني ئې د افغانستان په امریکائي زندانونو کې او ځیني ئې لادرك دي چې برخلیك ئې معلوم نه دی. زه او زما حزب د هېواد د آزادۍ لپاره تر دې زیاتو قربانیو ته چمتو یو.

باور وکړئ کله چې زه د نورو افغانانو قربانیو ته پام کوم نو شرمېږم چې خپلي

قربانۍ يادې کړم، ما ته څو ورځې مخکې يوې داسې مور پيغام راولېږو چې اوه زامن ئې په شهادت رسېدلي، دې خداى پالې مور ويلي وو چې تل له هر لمانځه وروسته دعا درته کوم، په هغې ورځ چې خبره شوم د کبابيانو په سړك ستا مخې ته چاودنه وشوه نو خداى ته په سجده پرېوتم او تر ډېرو مې دا دعا کوله چې الله تعالى دې تا په خپل حفظ او امان کې وساتي، د همدې ديندارې مور لمسۍ راته ليکلي وو چې زه د خپل پلار د شهادت په وخت کې لا نه وم پيدا شوې، اوس مې ټول قرآن حفظ کړى، ډېر ځلې دا آرمان کوم چې کاش هلك وى او اوس مې ټوپك په لاس کې وي او ستا پهره داري مې کولى!!

۱۷. دا خبره هم کېږي چې د حکمتيار صاحب ډېر کتابونه نشر شول، د ستيکول يو کتاب، د پوستېوار او نور بې شمېره کتابونه او د پاکستان د ځينو مامورينو کتابونه، په ځينو کې ويل شوي چې تاسو څه کړي نو هغه د امريکا او د سي آى اې کار وو، زما يوه پوښتنه دا ده چې امريکا هغه وخت هم ستاسو په قول د دين او اسلام دښمنه وه، د فلسطين په هکله د دوى دريځ هم هغسې وو، پوښتنه مې دا ده چې تاسو هغه وخت ولې د امريکايانو ملگرتيا او ملاتړ وکړ؟ تاسو څه فکر کوئ د شوروي په ماتولو کې چې تاسو او مجاهدينو کوم رول ادا کړ او د هغه په نتيجه کې نن له امريکا نه يوازنۍ سوپر پاور جوړ شوى، آيا تاسو خپل دا کار يوه غلطي نه گڼئ؟ دوهمه پوښتنه دا ده چې تاسو د دې دين دښمنه ځواك ډالرې، مرستې او وسلې ولې قبولې کړې؟ او د شوروي اتحاد په ضد مو يو ځاى مبارزه ولې وکړه؟

ځواب: د پوښتنې د لومړۍ برخې په اړه مې عرض دا دى چې موږ د روس او امريکا تر منځ په جنگ کې د امريکا مرسته او ملگرتيا نه ده کړې، داسې نه وه چې امريکا او روسيه د نړۍ په کوم گوټ کې جنگېدل او موږ ئې مرستې ته ورغلي يو، خبره د دې عکس ده، موږ د کمونستانو په ضد جهاد پيل کړ، کله چې کمونستان له ماتې سره مخامخ شول او موږ په دې وتوانېدو چې اکثر ولايات آزاد کړو، کابل تر محاصرې لاندې ونيسو او د کابل د نيولو لپاره وروستى گام اوچت کړو، روسانو په افغانستان تېرى وکړ، د تېري په مهال د امريکا د هغه وخت جمهور رئيس کارټر اعلان وکړ چې که روسان له دې نه د مخکې تللو هڅه وکړي نو امريکا به ئې تحمل

نه کړي، د کارټر د وینا معنی دا وه چي د افغانستان پر نیولو اعتراض نه لري خو که روسي فوځونه تر دې مخکي ولاړ شي نو امریکا به ئې تحمل نه کړي او تاسو ته معلومه ده چي د کارټر دا خبره هم هسي تش او بې بنسټه ګوابښ وو، امریکا په ویتنام کي ماتې خوړلې وه، په هېڅ ځای کي ئې له شوروي اتحاد سره د بیا مخامخېدو جرأت نه درلود، ما ته له کابل نه زموږ پلوي افسرانو احوال لېږلی وو چي موږ د وروستي ګوزار لپاره تیار یو خو معلومات مو دا دي چي روسانو په اوزبکستان کي ډېر فوځونه ځای په ځای کړي، ښايي تېری وکړي، که ممکن وي تاسو له امریکایانو نه پوښتنه وکړئ چي په دې هکله د دوی معلومات څنګه دي او که مسکو تېری وکړي د دوی غبرګون به څه وي؟ ما د حزب د سیاسي چارو یوه مسئول ته وظیفه ورکړه چي له امریکایانو نه پوښتنه وکړي، هغه په پېښور کي د امریکا له قونصل سره خبري وکړې، هغه ورته وویل: زه له واشنګټن نه پوښتنه کوم او تاسو ته ځواب درکوم، څو ورځي وروسته د واشنګټن ځواب دا وو: موږ ګمان نه کوو چي روسان به پر افغانستان تېری وکړي، داسي معلومات مو نه دي ترلاسه کړي چي وښيي مسکو د تېري لپاره ځان چمتو کوي، که احیاناً دا کار وشو نو موږ به دوه کاره کوو: له مسکو سره د سالټ ټو د مذاکراتو لړۍ به متوقف کوو او پر روسانو به د غلې مرستي بندوو!! د دې ځواب معنی کاملاً څرګنده وه او هغه دا چي امریکا هم د مسکو له اقداماتو بې خبره وه او هم د روسانو په خلاف د څه کولو په موقعیت کي نه وه. موږ مقاومت ته دوام ورکړ، هیڅوا دا ګمان نه کاوو چي افغانان به د شوروي اتحاد په ضد مقاومت وکړی شي، خو کله چي نړیوالو ولېدل چي افغانان لګیا دي مقاومت کوي، یرغلګرو ځواکونو ته تلفات اړوي، سور فوځ د مقاومت له ځپلو عاجز شوی، په دغه وخت کي امریکایانو د افغانستان له مسئلې سره علاقه وښوده، لومړی ئې په پټه د پاکستان له لاري مرستي پیل کړې، ورو ورو ئې جرأت زیات شو او څه موده وروسته ئې په ډاګه له مقاومت نه دفاع وکړه، اوس تاسو موږ ته ووایئ چي موږ د شوروي اتحاد په ختمولو کي د امریکا مرسته کړې او که امریکا د کمونیزم په ضد جګړي کي د افغانانو له جهاد نه ګټه پورته کړې؟ دا نه زموږ اشتباه وه نه د امریکایانو زیرکتیا، دا د مسکو سفاهت وو چي پر

افغانستان ئې برید وکړ!

تاسو ته معلومه ده چي ما له ریګان سره په داسي حال کي له ملاقات نه ډډه وکړه چي د پاکستان جمهور رئیس ضیاء الحق په ډېر تأکید او ټینګار سره د هغه غوښتنه کوله، ریګان خپله لور د یوه پلاوي په مشرۍ راولېږله او ما ته ئې سبا په لسو بجو په سپیني ماڼۍ کي له ریګان سره د لیدو بلنه راکړه، خو ما د دې لپاره دا بلنه ونه منله چي نړیوالو مخصوصاً مسلمانانو ته دا ثابته کړم چي د افغانستان جهاد د روس او امریکا جنګ نه بلکي د اسلام او کمونیزم تر منځ جنګ دی، د دې جنګ واګې د واشنګټن په لاس کي نه بلکي په خپله د افغانانو په لاس کي دي!!

تېر تاریخ خو پرېږده، دا اوس چي موږ له امریکایانو سره جنګېږو، آیا دا کافي نه ده چي هر مخالف په دې خبري قانع کړي چي موږ پرون هم د اسلام لپاره جنګېدلو او نن هم، پرون د نړۍ ډېرو ملکونو زموږ ملاتړ کاوو خو نن د نړۍ هیڅ هېواد زموږ د حمایت جرأت نه لري، حتی زموږ ګاونډیان، د ایران او پاکستان په شمول، له امریکایانو سره ملګري شوي او زموږ مخالفت کوي. که دا نن روسیه یا د نړۍ کوم بل هېواد د افغان مجاهدینو ملا تړ وکړي، که څه هم امکان ئې ضعیف دی او موږ له هیچا دا توقع نه لرو، آیا دا به د مجاهدینو غلطي وي؟ آیا په دې سره مجاهدین ملامتولی شو؟

د پوښتني د دوهمې برخي په اړه مي عرض دا دئ چي ما په خپل ټول سیاسي ژوند کي له امریکایانو سره هیڅ راکړه ورکړه نه ده کړې، په وار وار ئې د مرستو وړاندیز کړي خو ما منفي ځواب ورکړی، تاسو کولی شئ د امریکا له نوي دفاع وزیر نه چي یو وخت د سي آی اې مشر وو، پوښتنه وکړئ چي د حزب اسلامي په اړه څه وایي، هغه څو کاله مخکي د یوې مرکي په ترڅ کي دې پوښتني ته چي تاسو ولې د حزب اسلامي په څېر د یوه خطرناك رادیکال حزب مرسته وکړه، داسي ځواب ورکړ: د افغانانو له مقاومت سره چي کومي مرستي کېدې، دا پاکستان ته سپارل کېدې، پاکستان ویل: موږ پرېږدئ چي د هغه چا مرسته وکړو چي په مقاومت کي اغېزمنه او مؤثره ونډه لري، کومي ډلي چي تاسو پرې تأکید کوئ کمزورې دي او د وسلو د استعمال لپاره افراد نه لري، کومي وسلې چي ترلاسه

کوي په پاکستان کي ئې خرڅوي، په هغه وخت کي موږ ته د مقاومت دوام مهم وو، خو اوس موږ پرېکړه کړې ده چي حزب اسلامي ختم کړو!!
۱۸. یوه علمي پوښتنه کول غواړم: الله تعالی په قرآن کي دا وعده کړې ده چي د جهاد په نتیجه کي به امن راځي او خلکو ته به سوکالي او خوشحالي ورپه برخه کېږي، خو موږ عملاً ولیدل چي تاسو د روس په خلاف جهاد وکړ خو له هغه وروسته خپل منځي جګړي د مسلمانانو په برخه شوې نه امن راغی او نه خوشحالي راغله، افغانستان لوټې لوټې شو، تاسو په دې هکله څه وایئ؟ یقیناً چي داسي خو نه ده چي نعوذ بالله د خدای وعده د جهاد په باره کي دروغ وه، نو آیا ستاسو د جهاد په فلسفې کي څه غلطي نه وه؟

ځواب: د الله تعالی ټولي وعدې رښتوني دي، له مجاهدینو سره ئې وعدې هم رښتوني دي او تل ئې ثابته کړې ده چي په خپلو وعدو وفا کوي، آیا د افغان جهاد بریا او د شوروي اتحاد په څېر یوه وحشي او مغرور ځواك ته ماتې او د هغې هیبتناکي امپراطورۍ زوال کافي نه ده چي ووایو: الله تعالی خپله وعده رښتوني کړه؟ کوم تغیرات چي په نړیواله کچه د دې جهاد په نتیجه کي راغلل، د کمونیزم ټغر ټول شو، د مرکزي آسیا او شرقي اروپا هېوادونه آزاد شول، اسلام د یوه داسي برلاسي دین په توګه میدان ته راووت چي نن د نړۍ ټول کفري ځواکونه د هغه په خلاف متحد شوي، کومه تبدیلي چي په افغان ولس کي راغلې دا له نورو لارو نه په سلو کلونو کي هم نه شوی راتلی، کومه بیداري چي د دغه جهاد په نتیجه کي په ټول اسلامي امت کي راپیدا شوه له بلي هیڅ لاري ممکن نه وه، د دې په اهمیت هغه وخت ښه پوهېدی شو چي د اسلامي امت ننی حالت له دېرشو کلونو مخکي حالت سره مقایسه کړو. ما ته د عراقیانو ننی مقاومت د افغان مجاهدینو د مقاومت اغېز ښکاري، زه د نیویارك او واشنګټن عملیات هم د افغان جهاد نتایج ګڼم، زه باور لرم چي دې جهاد هومره ستر ستر نتایج درلودل چي شمارل ئې ګران دي.

دې ته مو باید پام وي چي دا وعدې کله له افرادو سره وي او کله له قومونو او ملتونو سره، په جهاد کي څوك په شهادت ورسېږي، څوك زخمیان شي، لاس پښې

ئې قطع شي، له سترګو محروم شي، ستونزي او کړاوونه وګالي، د دنیا له ډېرو نعمتونو محروم شي، خو د همدغو قربانیو په سبب الله تعالی په ملیونونو خلك وژغوري او سوکالي ئې په برخه کړي، یو نسل قرباني ورکړي او راتلونکی نسل ترې ګټه واخلي، چا چي اسلام تر موږ پورې راورساوو له مدینې نه تر دې ځایه د دې اوږدې لار لوېشت لوېشت د دوی په وینو سره شوه، خو د همدغو قربانیو په وجه اسلام تر هند او چین پورې ورسېدو او په سلګونو ملیونه انسانان له ظلم، جهل، شرك او فساد نه وژغورل شول او نړدې لس پېړۍ مسلمانانو پر هند حکومت کاوو، آیا دا کار له جهاد نه پرته له بلي لاري ممکن وو؟ آیا دا نه ښیي چي له مجاهدینو سره د الله تعالی وعدې رښتونې دي؟ زه په دې کلك باور لرم چي که افغان جهاد نه وی نو نن به په عراق کي هم جهاد نه وو!! او که نن امریکایان له افغانستان او عراق نه ووځي نو نه یوازي په دې دواړو هېوادو کي به اسلامي حکومتونه جوړېږي بلکي په ډېرو نورو هېوادونو کي به هم ژوره تبدیلي راځي.

۱۹. زیاتره دیني مفکرین دا خبره کوي چي کله مسلح جهاد کېږي نو د هغه لپاره د مسلمانانو یو حکومت په کار دی او یوه فرد، ډلي او ګروپ ته دا اختیار نه شته چي هغه دې د ځان له لوري د جهاد اعلان وکړي، تر څو چي اسلامي ریاست نه وي جوړ شوی، دوی دا دلیل وړاندي کوي چي کله پیغمبر علیه السلام په مکه کي وو نو هغه توره نه وه رااخیستې خو کله چي ئې په مدینې کي ریاست قایم کړ نو له هغه وروسته ئې د تورې جهاد شروع کړ؟

ځواب: دا د سرکاري مفتیانو سرکاري فتوی ده، هیڅ علمي بنسټ نه لري او هیڅ په دین پوه عالم به دا غلطه خبره له خولې ونه باسي، ریاست جوړول خو د اسلامي جهاد هدف او مقصد دی، نه دا چي لومړی به حکومت جوړېږي او بیا به دا حکومت د جهاد اعلان کوي!! جهاد خو د دې لپاره فرض شوی چي په دې سره غیراسلامي نظام رانسکور کړی شي او پرځای ئې اسلامي حکومت قائم شي. نه خو غیراسلامي حکومتونه په خپله رانسکورېږي او نه اسلامي حکومت له جهاد نه پرته له بلي لاري قائمېدی شي، څوك چي دا غلطه او بابېزه خبره کوي او د جهاد د اعلان لپاره د حکومت شته والی شرط ګڼي، هغه دې ووایي چي پیغمبر علیه

السلام ولې په داسي حال کي جهاد پيل کړ چي په حجاز باندي د قريشو واکمني وه، دی له پايتخت (مکي) نه د مديني يوه ووړ کلي ته مهاجر شوی وو، هلته ئې نه حکومت وو او نه فوځ!! دې جنابانو ته وايو: آيا د روسانو په ضد به د جهاد اعلان ببرك کارمل کولو؟!! آيا په فلسطين کي به د جهاد اعلان شارون کوي، په کشمېر کي من موهن سينگ، په چيچين کي پوتين او اوس په افغانستان کي جنرال ډيويډ بارنو يا کرزی!!

د قرآن په هيڅ آيت کي نه صراحتاً دا راغلي او نه تلويحاً او اشارتاً دا موندلی شو چي د (جهاد اعلان) به د حکومت او رياست لخوا کېږي.

په ټول قرآن کي نه د "حکومت" او "رياست" لفظ راغلی او نه دا خبره چي د جهاد اعلان به د حکومت، رياست، خلافت او امارت يا حاکم، رئيس، خليفه او امير لخوا کېږي.

د پيغمبر عليه السلام په احاديثو کي هم دا نه شو موندلی چي د جهاد د اعلان لپاره ئې د "حکومت" او "رياست" شته والی ضروري گڼلی وي او دا په کي ويل شوي وي چي جهاد يوازي په هغه صورت کي جائز دی چي "حکومت" او "رياست" ئې حکم صادر کړي.

څوك چي له قرآن او حديث نه ډېر لږ معلومات هم ولري په دې پوهېږي چي نه په قرآن کي د جهاد د اعلان لپاره د (حاکم) او (رئيس) يا (حکومت) او (رياست) شرط لگول شوی او نه په احاديثو کي. که څوك ووايي چي له جهاد نه مخکي جماعت ضروري دی، نو دا خبره يقيناً چي صحيح ده، خو که څوك ووايي چي د جهاد اعلان به د يوه برحال حکومت لخوا کېږي، نو دا خوشې بې بنسټه خبره ده، دا له دين نه د يوه بې خبره سرکاري مفتي خبره کېدي شي خو د يوه واقعي عالم فتوی نه شي کېدی.

د پيغمبر عليه السلام له قول او فعل نه دا معلومېږي چي د جهاد د پيل لپاره دوو اساسي شيانو ته ضرورت دی: (جماعت يعني حزب او ډله) او (مهجر يعني د هجرت ځای)، پيغمبر عليه السلام فرمايي:

آمركم بخمس الله أمرني بهن بالجماعة والسمع والطاعة والهجرة والجهاد فى

سبیل الله، فإنه من خرج من الجماعة قید شبر فقد خلع ربقة الإسلام من عنقه، إلاّ أن یرجع، ومن دعا بدعوی الجاهلیة فهو من جثاء جهنم، قالوا: یا رسول الله وإن صام وإن صلی؟ قال: وإن صام وإن صلی وزعم أنه مسلم:

په پنځو هغو شیانو تاسو ته امر کوم چې الله تعالی ماته د هغه امر کړی: په جماعت، سمع، اطاعت، هجرت او جهاد فی سبیل الله او څوك چې د یوې لوېشت په اندازه له جماعت نه لرې شو نو هغه د اسلام کړۍ له خپلې غاړې وایستله (له اسلام نه ووت) مگر دا چې بېرته راوگرځي او چا چې د جاهلیت شعارونو ته بلنه ورکړه هغه به د دوزخ خس شي، خلکو وویل: یا رسول الله! که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي؟ وئي ویل: که څه هم روژه ئې نیولې وي او لمونځ ئې کړی وي او په ځان ئې دا گمان کړی وي چې مسلمان دی.

له دې مبارك حدیث نه په څرگنده توگه معلومېږي چې له جهاد نه مخکې باید جماعت جوړ شي او بیا د حاکم نظام له سلطې نه د وتلو په خاطر هجرت وشي او بیا مسلحانه مزاحمت پیل شي. پیغمبر علیه السلام په مکې دور کې جماعت جوړ کړ او مدینې ته له هجرت سره سم ئې د قریشو په ضد مسلحانه مزاحمت پیل کړ.

باید دا خبره په خیال کې وساتو چې دغه پنځه کارونه پر مسلمانانو واجب دي، په دې مأمور شوي چې جماعت به جوړوي، داسې جماعت چې په سمع او اطاعت ولاړ وي، بیا به د حاکم سیاسي نظام له سلطې نه د وتلو لاري لټوي، د ضرورت په صورت کې به هجرت کوي او بیا به د همدې نظام د رانسکورولو لپاره وسلې ته لاس کوي.

د جهاد اعلان هغه څوك په حکومت پورې تړي چې یا د حکومت نوکر وي، یا د جهاد مخالف وي او یا د جهاد اراده او همت نه لري، داسې فتوی تل سرکاري مفتیان ورکوي، هیڅ داسې غیرسرکاري عالم نه شې موندلی چې په قرآن او حدیث پوه وي او هغه دې جهاد په حکومتونو مخصوصاً موجوده مفسدو او غیراسلامي حکومتونو پورې مربوط کړي. که لږ دقت وکړئ او د دا راز مفتیانو پټې اړیکې وڅېړئ حتماً به درته معلومه شي چې دا کسان د اسلام او جهاد د مخالفینو له خوا استخدام شوي، انگرېزانو په اسلامي نړۍ د خپلې سلطې په دوران کې داسې ډېر

مفتیان استخدام کړي وو، اوس غربي مؤسسې په ټول توان طاقت د دې هڅه کوي چي د جهاد مفهوم د اسلامي امت له ذهنه وباسي، د هجرت، جهاد، شهادت، اسلامي خلافت، الفاظ د اسلامي هېوادونو له تعلیمي نصاب نه خارج کړي، امریکایانو په افغانستان او عراق کي همدا کار وکړ، له پاکستان او سعودي نه ئې همدا وغوښتل چي نه یوازي جهادي مفاهیم له نصاب نه وباسي بلکي قرآني آیات هم وباسي.

۲۰. ستاسو په ژوند کي بېلې بېلې مرحلې راغلې، ډېر وخت مو په غرونو او رغونو کي، لومړی د شوروي په ضد مبارزه کي او بیا اوس د امریکا خلاف مبارزه کي او په منځ کي د خپل منځیو جګړو په دوران کي، یوې خوا ته مو ډېر وخت په غرونو رغونو کي تېر کړي او بلې خوا ته یو وخت د افغانستان صدراعظم شوئ، د پاکستان په قصرونو کي کښېنستئ، د ایران او سعودي او د نړۍ د نورو ملکونو په قصرونو کي، ما ته ووایئ چي د غرونو او سنګرونو له ژوند نه زیات خوند اخلئ او که د قصرونو؟

ځواب: ما یو وخت ستا دغه پوښتنه له خپلو ماشومانو وکړه، هغوی راته وویل: تر ټولو زیات خوند مو له هغو ورځو اخیستی چي له تا سره په سپینې شګې کي اوسېدو!! او ما ورته وویل چي زما د ژوند تر ټولو خوندورې شېبې هغه وې چي په یوه سنګر کي پروت وم!! که زه شهید شوم نو په همغه ځای کي مي دفن کړئ چي په کي شهید شم او که په خپل طبیعي مرګ ومرم نو ما د سپینې شګې په دغه سنګر کي دفن کړئ چي د څو سختو جنګونو په دوران کي مي دلته څه وخت تېر کړی!!

۲۱. انجنیر صاحب آخري پوښتنه: اوس په لکونو او کروړونو پښتانه تاسو اوري او ویني، د دغو پښتنو په نامه، په خاصه توګه د افغانستان د پښتنو په نامه ستاسو پیغام څه دی؟

ځواب: پښتون یو خدای پال او غیرتي قوم دی، د انګرېزانو، روسانو او اوس د امریکایانو په ضد جهاد کي ئې ډېره لویه ونډه وه، ایمان ئې، همت ئې، د قربانۍ جذبه ئې، توره ئې، په کړاوونو کي صبر او استقامت ئې د ډېرې ډېرې ستاینې وړ

دی، خو دوه ستر ستر عیبونه لري:

۱- ساده دي او ژر دوکه کېږي، تل ټګمارو مشرانو د دوی له صداقت او سپين زړه نه استفاده کړې ده، کله ئې په يوه دښمن خرڅ کړي او کله په بل، انګرېزان ئې له خپل ملك نه وايستل خو د همدغه انګرېز غلامان ئې په مشرۍ قبول کړل. د روسانو په ضد د مقاومت په دوران کي داسي تش په نامه مشران هم وو چي د روسانو ملګرتيا ئې کوله خو همدغو پښتنو د دې په ځای چي د دوی تور مخ ته خاورې وروشيندي دوی ئې د مشرانو په توګه منل، نن هم داسي کسان شته چي ځان ته د پښتنو مشران وايي خو د هغو امريکايانو ملاتړ کوي چي هر ورځ په سلهاوو پښتانه په خپلو وينو کي رغړوي.

۲- له يووالي محروم دي، په قبيلو قبيلو وېشل شوي، په يوه واحد مشرتابه د راټوليدو اهليت ئې کمزوری دی، د همدې لپاره له حکومت کولو محروم شوي او تل ئې د نورو تر واکمنۍ لاندي ژوند کړی.

زما هيله دا ده چي پښتانه د دغو عيبونو علاج وکړي،

د افغانستان ټولو قومونو ته مي پيغام دا دی چي يو بل ته د ورورۍ لاس ورکړي، افغانستان خپل ګډ کور وګڼي، هغه پردي پال او ملت پلورونکي له خپلو ليکو وباسي چي په دوی کي اختلاف راولاړوي او يو د بل په خلاف جنګوي، په ګډه په جهاد کي برخه واخلي، خپل هېواد آزاد کړي او په آزاد او خپلواك افغانستان کي داسي حکومت جوړ کړي چي نه د پرديو په خدمت کي وي او نه يوه قوم ته په بل ترجيح ورکړي، له الله تعالی وېره لري او په خپل ولس زړه سوی او ترحم.

اجازه راکړئ د اسلامي ملکونو مشرانو ته هم له دې لاري دا پيغام ولېږم چي امريکا ستاسو لپاره همغه څه په زړه کي لري چي له صدام حسين سره ئې وکړل، ډېره عجيبه ده که د اسلامي هېوادونو مشران په دې هم نه پوهېږي چي امريکا د دوی په خلاف څه اراده لري!! په داسي حال کي چي د واشنګټن چارواکي په ډېر صراحت او غرور سره وايي چي موږ په نورو هېوادونو کي په ځانګړې توګه په منځني ختيځ کي هم د عراق او افغانستان په څېر ديموکراسي راولو، متأسفانه

چي زموږ ناپوه او بې همته چارواکي د دې خبرو په معنی ځان نه پوهوي!!
والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحیم

# عراقي مجاهدينو ته

وَ الَّذِينَ جَٰهَدُوا فِينَا لَنهْدِيَنهُمْ سبُلَنَا وَ إِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ

زما د ايمان او عقيدې ورونړو، عراقي مجاهدينو!

سلام پر تاسو او ستاسو پر قوي ايمان او پرتمين جهاد. ستاسو لوړ همت او کلك عزم ته غرونه سر ټيټوي، ستاسو لاسونه د ښکلولو دي، تاسو د مسلمانانو سر اوچت کړ، په دوی کې مو نوې ولولې او نوي اميدونه راولاړ کړل، دوی ته مو وښوده چې څوك د ايمان په وسلې سنبال وي، په خالي لاس هم د لويو او مجهزو ځواکونو مقابله کولی شي، د عراق او افغانستان پېښو دا ثابته کړه چې د اسلامي ملکونو فوځونه د بهرني يرغل په وړاندې د مقاومت توان نه لري، اکثر ئې د استعمار پاتې شوني دي او د خپلو ولسونو د ځپلو لپاره جوړ شوي، د عراق ټول فوځ هغه کار ونشو کړی چې د فلوجې څو مجاهدينو په څو اونيو کې وکړ، افغان فوځ روسانو ته تسليم شو او دا دی د پاکستان فوځ د امريکايانو تر قومندې لاندې له خپل ولس سره جنگېږي.

زما ورونړو! تاسو د خپل جد ابراهيم خليل الله سنت راژوندی کړ، هغه هم دغلته، د دجلې او فرات خوا ته، په ځوانۍ کې او يوازې له يوه تبر سره د نمروديانو معبودان رانسکور کړل او د منجنيق له سر نه د اور کندې ته د لوېدو په وخت کې ئې ويل: حسبنا الله و نعم الوکيل، نعم المولی و نعم النصير. دا همغه کار وو چې ستاسو شهيد ورور محمد عطاء او د ده سرتېرو په خدای مينو ملگرو وکړ، دوی

هم د زمانې د نمرود بتان، په نیویارك او واشنګټن کې رانسکور کړل. دا بتان هم د ځینو لپاره معبود او د ځینو لپاره له خلکو د څه شکولو او په غلامۍ کې د بې وزلو د ساتلو وسیله وو ، همغسې لکه د نمرود بتان، ناپوهانو ته معبود او واکمنانو ته د عوامو د غولولو او پر دوی د حکومت کولو ذریعه. که دا ستر تاریخي کار (چې په تاریخ کې ئې بېلګه نه شو موندلی) د قرآن له نزول نه مخکې شوی وی، خدای خبر چې په قرآن کې به ئې په کومو عبرتناکو الفاظو یادونه شوې وه، په هغه قرآن کې چې د ابراهیم علیه السلام د بت ماتولو او له حاکم کفري نظام نه د اصحاب کهف د سرغړاوي قصې رااخلي.

مجاهدو ورونو!

زما انتظار دا وو چې الله تعالی به زما ولس ته د شوروي له ماتولو وروسته د امریکا د ماتولو شرف او افتخار هم ورپه برخه کړي، دا ځکه چې الله تعالی د زمانې ډېر لوی او مغرور ځواکونه، د خپل غرور او مستۍ په اوج کې، زما د هېواد درو ته راوستي او دلته ئې د دوی غرور مات کړی او له همدې ځایه ئې زوال پیل شوی. د سکندر اعظم، چنګیز، انګرېز او شورویانو ماتې او زوال له دغو سردرو نه شروع شوی، ډېرو دلته خپل سرونه خوړلي او دلته ئې ژامې ماتې شوې. پر افغانستان باندې د صلیبي ځواکونو یرغل او د مجاهدینو د مقاومت پیل مې د دې انتظار د تحقق مقدمه ګڼله، پر عراق د دغو ځواکونو برید او هلته ستاسو په لاس د مقاومت پیل او پر اشغالګرانو ستاسو زړه ورو او پر له پسې بریدونو لا ډېر مطمئن کړم او په دې مې باور مزید تقویه شو چې إن شاء الله د امریکا د زوال نېټه رانږدې شوې، اسلامي امت خپل اصل ته راګرځېدلی، د خپل دین او عزت لپاره قربانۍ ته چمتو شوی، عزت او آزادۍ ته د رسېدو لپاره ئې د جهاد لار غوره کړې، الله به د دوی مرسته کوي او پر دښمن به بری ورکوي، دا د الله قطعي او رښتونې وعده ده، الله د مجاهدینو د بري ضامن او ذمه وار دی. باید ډاډه او مطمئن وو چې صلیبي اشغالګران به له افغانستان او عراق نه وځي او د شوروي په برخلیك به اخته کېږي.

زما مجاهدو عراقي ورونو!

د نړۍ ټول غيرتي مسلمانان ستاسو پر مقاومت وياړي او ستاسو د بريا لپاره دعا كوي، د نړۍ ټول مظلومان د امريكائي استعمار له شر نه د نجات لپاره په عراق او افغانستان كي د امريكايانو ماتې ته سترګې په لاره دي. د نيويارك او واشنګټن له پېښو نه وروسته تر اوسه امريكايانو داسي ګوزارونه خوړلي چي جبران ئې ورته په هيڅ صورت او هيڅ بيه ممكن نه دى، نه خپل بايللى كاذب عزت او رعب بيا اعاده كولى شي، نه خپل تجارتي او اقتصادي تاوانونه جبرانولى شي او نه د روانو جګړو مالي او ځاني تلفات او لګښتونه تر اوږدې مودې تحمل كولى شي. تاسو ته معلومه ده چي د ۱۱ستمبر نه تراوسه په تېرو دريو كلونو كي د امريكايانو مالي تاوانونه او جنګي لګښتونه د ويتنام د شل كلنې جګړې په پرتله څو برابره دى، كه هغه ئې ونشو زغملى، دا خو په هيڅ صورت كي نه شي زغملى، لږ نور صبر په كار دى، تر وروستي بري پورې لنډ مزل پاتې دى. له دښمن سره د ذليلو منافقينو ملګرتيا مو مشوش او پريشانه نه كړي، دا د هر اسلامي مقاومت د ستونزو او ابتلاءاتو يوه طبيعي برخه ده، لايحْزُنك الّذِينَ يُسرِعُونَ فى الْكُفْرِ مِنَ الّذِينَ قَالُوا ءَامَنّا بِأَفْوَهِهِمْ وَ لَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ .

مه د دوى پروا كوئ او مه ځان ورباندي مصروفوئ، ټوله توجه او پام مو بايد د اصلي دښمن په لوري وي. د اصلي دښمن له ايستلو نه وروسته به له دوى سره خپل حساب تصفيه كوو.

موږ هم اياد علاوي او سيستاني لرو ، كاش دوى د خپلو افغاني ملګرو له بدو پايلو نه پند او عبرت اخيستى وى، كه ستاسو سيستاني د (علاج) لپاره لندن ته ببول كېږي او هلته له (معالجى) وروسته له (كلك هوډ) او (نوي عزم) سره بغداد ته راانتقالېږي او شيعه له هر راز مقاومت نه اجتناب ته هڅوي او همدا كار د شيعه مذهب حكم، غوښتنه او د شيعه ګانو په مصلحت ګڼي او د نجف شيعه مقاومت كوونكي دې ته راضي كوي چي خپلي وسلې امريكايانو ته تسليم كړي او پر نجف او كربلا د صليبي ځواكونو سلطه ومني او پرېږدي چي امريكايان او انګيريزان سنيان ورته وځپي او قدرت دوى ته په لاس وركړي، زموږ سيستاني ئې هم په لندن كي له (معالجې) وروسته د مسكو له لاري هېواد ته ولېږو ، هغه هم امريكايانو ته

وويل: موږ ستاسو ځمکنی فوځ یو، په غرني افغانستان کي د جنګ په رموزو پوهېږو، په غرونو کي ئې بلد یو، خپله بمباری تنده کړئ، مزید قوي بمونه وکاروئ او د مخکي تګ لپاره موږ ته لار پرانیزئ. خو دا دی ګورئ چي له هغوی سره ئې څه وکړل، د بې ګټې او له کاره لوېدلې پرزې په څېر ئې لري وغورځول. له عراقي منافقینو سره به هم همداسي کېږي، که ستاسو (سپاه بدر) خپله وسله تسلیم کړه او فلوجې، رمادي او موصل ته د امریکایانو تر قومندې لاندي جنګ ته ولاړل، دې ته ورته سپاه زموږ په هېواد کي هم امریکایانو ته له خپلو وسلو سره تسلیم او د دوی تر قومندې لاندي کنر، پکتیکا او کندهار ته د جنګ لپاره ولاړل. ستاسو په هېواد کي دا د انتخاباتو، اساسي قانون، پارلمان او خونړۍ دیموکراسي لوبه هماغه ده چي په افغانستان کي ئې بله بېلګه ګورئ، د امریکایانو خونړۍ دیموکراسي د جنرالانو په لاس او د هېوادونو له اشغال نه وروسته راځي، لومړی هېوادونه نیسي، لاس پوڅي زعماء ورباندي مسلط کوي، بیا ورته انتخابات کوي، هغه هم د اپاچي هلیکوپترو تر وزر لاندي، داسي چي نه په کي سیاسي احزاب شته او نه انتخاباتي مبارزه، د کاندیدانو نومونه او د رأی اچونې ځایونه له رأی اچولو نه فقط څو ګنټې مخکي اعلانېږي، امنیت ئې څو لکه بهرني فوځیان ساتي، هلته به هم د انتخاباتو نتیجه همغسي وي لکه په افغانستان کي، په دروغو به د رأی اچوونکو شمېر دوه برابره زیات اعلانوي او دا به د دیموکراسي ستر بری ګڼي، همغسي لکه د عراق د اتمي او کیمیاوي وسایلو په اړه چي ئې ښکرور دروغ وویل، خپل ولس او ډېر حکومتونه ئې وغلول او په جګړې کي ئې راښکیل کړل، هلته به هم د تېلو د کومي امریکائي کمپنۍ یو عراقي مأمور د انتخاباتو ګټونکی اعلانېږي، دلته کرزی د یونیکال د کمپنۍ یو پخوانی وړوکی مأمور، په بن کي جمهور رئیس شو او بیا ئې د آزادۍ د اتل مډالونه ترلاسه کړل او ورپسې دا دی منتخب جمهور رئیس شو اوپه دې سره د امریکائي دیموکراسۍ پلیتي وني خپله زهرجنه مېوه ورکړه، پر افغانانو ئې هغه کسان مسلط کړل چي د امریکا په کابارو کي ستر شوي، نه مذهب لري، نه اخلاق او نه غیرت، کمال ئې دا دی چي په انګرېزي خبري کولی شي او نیکټائي او د لاس خولې خوځول ئې د امریکایانو په

څېر دي. دا مسخره ډرامه به په بغداد کي هم تکرارېږي، ډرامه يوه ده، لوبغاړي ئې ورته څېرې، جوړوونکی او چلوونکی ئې يو، يوازي نندارتون او ستېجونه ئې دوه، کابل او بغداد.

دوی گمان کولو چي په افغانستان او عراق کي به ئې خلك د گلانو په گېډيو استقبال کړي، د دوی د ټانکونو په قطارونو به د گلانو پاڼې شيندي او د دوی د فوځيانو په غاړه کي به د گلانو امېلونه اچوي، خو داسي ونه شول، په سرو مرميو او چاودنو استقبال شول، په افغانستان کي ئې په دريو کلونو کي ۱۷۰۰او په عراق کي ئې په دوو کلونو کي يولس زره څلور سوه فوځيان مړه او ژوبل شول، دوی غواړي دا سپکاوی په انتخاباتو جبران کړي او نړۍ والو او خپل ولس ته ووايي: دا دی په افغانستان او عراق کي ديموکراسي راغله او موږ خپل هدف ته ورسېدو، گمان کوي چي په دې سره که هوشيار خلك نه شي دوکه کولی نو بې عقله خو به دوکه کړي، په دنيا کي د بې عقلو شمېر هم کم نه دی!! راځئ دوی ته په گډه يوه خبره وکړو: د دې ديموکراسۍ او د خپلو ديموکراتو جاسوسانو احوال هلته واخلئ چي تاسو له افغانستان او عراق نه ووځئ، فانتظروا انا معکم منتظرون.

زړه ورو عراقيانو!

خپل رب ځان ته کافي وگڼئ، کومه لار چي تاسو غوره کړې همدا او يوازي همدا آزادۍ او خپلواکۍ ته د رسېدو لار وگڼئ، گاونډيو ته طمع مه کوئ، دوی به له تاسو سره همغه څه کوي چي له موږ سره ئې وکړل، دا يو تصادف مه گڼئ چي د عراق انتخابات په همغه نيټه ترسره کېږي چي په ايران کي د غدير خم او د ايراني انقلاب د بري ورځ لمانځل کېږي!! دا د ډېرو پټو اسرارو غمازي کوي، انگرېزان غواړي د اقليت او اکثريت تر منځ د جگړو اور بل کړي او شيعه له سنيانو سره وجنگوي. په افغانستان کي ئې هم همداسي وکړل، امريکايانو بغداد او کابل يوازي په خپل زور ځواك سره نه دی نيولی، که د دغو گاونډيو او د دوی د منافقو او ايمان پلورونکو چارواکو مرسته نه وی، نه ئې کابل نيولی شو او نه بغداد، دوی اډې ورکړې، دوی خپلي لاس پوڅې ډلي دې ته اړ کړې چي د يرغلگرانو ملگرتيا وکړي او د دوی تر قومندې لاندي له خپل ولس سره وجنگېږي، همدا دوی دي چي

مسلمانان نيسي او لاس ترلي ئې امريکايانو ته سپاري، همدا دوی دي چي د دې خبري په کولو د شرم او خجالت احساس نه کوي چي د تروريزم په ضد جنگ کي د امريکا تر قيادت لاندي برخه اخلو!! هر څوك ښه پوهېږي چي د تروريزم تر نامه لاندي روان جنگ که دا د فلسطين، عراق، افغانستان، کشمېر او چيچين جنگونه دی او که د الجزائر، تايلند، فلپين، وزيرستان او د نړۍ په گوټ شمېر نورو سيمو کي جنګونه، دا ټول له اسلام او مسلمانانو سره له جنگ نه پرته بل هيڅ څه نه دي. امريکا د هر هغه جنگ ملاتړ کوي چي د اسلام په ضد وي او په هغه کي د مسلمان وينه توی شي، که دا د کمونست په لاس وي، يا د هندو او بودايي په لاس او يا د داخلي منافقو حکامو په لاس.

وَ لا تَهِنُوا وَ لا تحزَنُوا وَ أنتُمُ الأعلَونَ إن كُنتُم مُؤمِنينَ *
وَ لَيَنصرَنّ اللّهُ مَن يَنصرُهُ إنّ اللّهَ لَقَوِيٌ عَزِيزٌ *

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

ستاسو ورور حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

# د باجوړ بمباري

۱. د باجوړ د بمبارۍ او د اتياوو ماشومانو او تنكي زلميانو د شهادت په مناسبت د شهداوو كورنيو او د پاكستان مسلمان ملت ته خپل تسليت وړاندي كوم.

۲. په يقين سره ويلی شم چي د دې پېښي تر شا همغه بې رحمه امريكايان دي چي تر دې د مخه ئې په همدې باجوړ كي په بلي مدرسې بمونه وورول،

۳. له كومي ورځي چي امريكايان دې سيمي ته راغلي او په افغانستان او پاكستان كي پلې شوي، تر نن پوري په لسهاوو جوماتونه او مدرسې، د دوی د وحشيانه بمباريو په ترځ كي ورانې شوې او په سلهاوو بې ګناه افغانان او پاكستانيان په خپلو وينو كي رغړول شوي. هيڅوك بايد په دې كي شك ونه كړي چي د باجوړ وروستۍ پېښه د همدغو جاني امريكايانو كار دی.

۴. زما هيله دا ده چي زموږ پاكستاني ورونه خپل اصلي دښمنان وپېژني، خپل غچ له اصلي دښمن نه واخلي، كه په پاكستان كي دا كار نه شي كولی زموږ څنګ ته دې راشي، موږ بايد په ګډه د دښمن په ضد هغه څه وكړو چي له دې سيمي ئې وتلو ته اړ كړو او د فتنې دا كرغېړنې جرړې وباسو.

۵. د پاكستان هوښيار او مجاهد ولس بايد دې ته متوجه وي چي د اسلام دښمنان په دې خوشحالېږي چي پاكستانيان په خپلو كي وجنګېږي او د يوه وينه د بل په لاس توی شي، دوی ته د مدرسې يو طالب، د سكول يو طالب العلم او د فوځ يو عسكر هيڅ توپير نه لري، د هر يوه په وژل كېدو خوشحالېږي، دوی غواړي فوځ

د ولس په ضد او ولس د فوځ په ضد وجنګوي.

۶. دوی په افغانستان او عراق کي هم همدا کار کوي، هلته هم افغاني او عراقي فوځ او پوليس جوړوي او د عراقيانو او افغانانو په ضد ئې جنګوي، شيعه ډلي ئې د فوځ او پوليس په ليکو کي نيولې دي او د سنيانو په خلاف ئې جنګوي او دې جنګ ته مذهبي رنګ ورکوي. په پاکستان کي هم د داسي جګړو تر شا د اسلام او د پاکستان د دښمنانو لاس دی.

۷. امريکا که يو ځواکمن عراق نه شو زغملی نو يو اتمي پاکستان هم نه شي زغملی، خو يو د دوستۍ په جامه کي ختمول غواړي او بل په ښکاره يرغل سره.

۸. د پاکستان حکومت له امريکايانو سره د افغانستان په اشغال کي هومره مرسته وکړه چي له دې پرته امريکايانو ته د کابل نيول ممکن نه وو، خو نن امريکايانو هند ته د افغانستان له لاري د پاکستان په ضد په خلاص لاس د هر څه کولو شرايط برابر کړي، په حقيقت کي امريکايانو کابل د مسکو او د مسکو د منطقوي ملګرو لپاره فتح کړي، د کابل د حکومت ټول مهم وزارتونه، فوځ، پوليس او استخبارات د هغو ډلو په لاس کي دي چي په همدغو ملکونو پوري تړلې دي.

حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

# د الحيات د ورځپاڼې له خبريال جمال اسماعيل سره مرکه

پوښتنه: مقاومت او راتلونکې ئې څنګه ګورئ؟

۱- الف: د مقاومت لمن خوره شوې، اشغالګر ځواکونه د وضعيت له مهارولو عاجز شوي، امريکايان ونه توانېدل چي خپلو موخو ته ورسېږي، نه ئې مقاومت وځپلی شو، نه پر اوضاع مسلط شول، نه ئې امنيت راوستی شو، نه ئې يو مضبوط او پر اوضاع مسلط حکومت جوړ کړی شو، نه د افغانستان له لاري د مرکزي آسيا په زېرمو مسلط شول او نه ئې د مخدره موادو د کښت او قاچاق مخنيوی وکړی شو، ما ته د هېواد وضعيت له هغه وخت سره ورته برېښي چي مسکو له افغانستان نه د وتلو فيصله کړې وه او روسي فوځونو د وتلو لپاره تياری نيولو. که څه هم هغه وخت له وضعيت نه د هر چا انتباه دا وه چي د کابل حکومت به ډېر ژر د مجاهدينو په لاس نسکور شي، خو د هغه بين المللي سازش په سبب چي د مجاهدينو په ضد تر سره شو، واشنګټن او مسکو په دې توافق وکړ چي قدرت ته د مجاهدينو رسېدو مخه ونيسي، ځيني ډلي له کمونستانو سره ائتلاف ته چمتو کړي او د دې ائتلافي جبهې په مرسته د واقعي مجاهدينو مقابله وکړي، زموږ ځينو ګاونډيو هم په دې کي برخه واخيسته او دا باعث شو چي د نجيب حکومت څه موده نور هم په اقتدار کي پاتې شي، خو اوس راته حالت داسي برېښي چي د بهرنيو ځواکونو له وتلو سره سم به د دوی لاس پوځی حکومت هم سقوط کوي.

ب: روان مقاومت د حزب په لاس پيل شو، تر يو نيم کال پورې موږ په ميدان کي يوازي وو او دا هغه وخت وو چي چا د امريکايانو په ضد د څه ويلو او کولو

جرأت نه شو کولی، الحمد لله د مقاومت لمن ورو ورو خوره شوه، د خلکو وېره ختمه شوه او ورو ورو نور هم صحنې ته راداخل شول.

پوښتنه: آیا ستاسو حزب د افغانستان اوسنی وضعیت همغسي ګڼي لکه چي د روسانو په لاس اشغال شوی وو؟ د کابل له حکومت سره یو ځای کېدو ته په کومه سترګه ګورئ؟ د حزب اسلامي د هغو غړو په هکله څه وایئ چې اوس په افغانستان کي اوسېږي؟

ځواب: الف: د حزب دریځ څرګند دی، حزب اوسنی وضعیت همغسي ګڼي چي د روسانو د اشغال په وخت کي وو، پرون زموږ هېواد د روسانو او د وارسا پکت لخوا اشغال شوی وو او نن د امریکایانو او ناټو په لاس، نن پر هر افغان جهاد همغسي فرض دی لکه پرون، د امریکایانو له ګوډاګي رژیم سره ملګرتیا همغه حکم لري چي د روسانو له لاس پوځي نظام سره ئې درلود.

ب: له اشغالګرانو او د دوی په لاس تپل شوي نظام سره ملګرتیا یو حکم لري او له حمایت او ملګرتیا پرته په هغو سیمو کي اوسېدل چي د دې نظام تر ادارې لاندي دي بل حکم لري، موږ یوازي هغه کسان له حزب نه وتلي ګڼو چي له اشغالګرانو سره ملګرتیا کوي، دوی د ګوتو په شمېر دي، باقي حزبیان د سابق په څېر اسلام او خپل حزب ته وفادار دي، په جهاد باور لري، له هېواد نه د ټولو بهرنیو فوځونو بلا قید و شرط وتل او د یوه واقعي اسلامي نظام قائمېدل غواړي.

پوښتنه: د مخکنیو جهادي ډلو په هکله څه وایئ؟ آیا ګمان کوئ چي مجاهدین به بیا وتوانېږي چي د افغانستان په راتلونکې کي اغېزمنه ونډه ولري؟ که بهرني ځواکونه ووځي بیا به خپل منځي جګړي نه پیل کېږي؟

ځواب: الف: ځیني احزاب اوس یا نشته او یا له امریکایانو سره د ملګرتیا په سبب ئې خپل اعتبار له لاسه ورکړی او یوازي داسي کسان ورسره پاتې دي چي نه تعهد لري او نه کوم سپېڅلی هدف، د منحطو او پرېوتو اغراضو لپاره د هر چا ملګرتیا ته چمتو دي، پرون د روسانو د ګټو لپاره جنګېدل او نن د امریکایانو د ګټو لپاره د خپل ولس په ضد جنګېږي.

ب: په یقین سره ویلی شم چي د افغانستان راتلونکي به بیا هم د مجاهدینو په

لاس کي وي، إن شاء الله دا ځل به مخکنۍ ترخې تجربې هم نه تکرارېږي، دا ځکه چي ولس هوښيار شوی، دوست او دښمن ئې پېژندلی، اوس نه مسکو په هغه موقعيت کي دی چي موږ ته پروني مشکلات راپيدا کړي او نه به امريکا له خپلي ماتې وروسته د ډېر څه کولو په موقعيت کي وي.

پوښتنه: د حزب ونډه په مقاومت کي څومره ده؟ چېري فعال حضور لري؟ ولې په خبري رسنيو کي د طالبانو نوم زيات اخيستل کېږي او د حزب لږ؟

ځواب: موږ هر مجاهد ته په درنه سترګه ګورو، د هر مجاهد قدر کوو، له هيڅ مجاهد سره د رقابت او تنافس اراده نه لرو، هر مجاهد خپل مجاهد ګڼو او حزب د هغه کور او سنګر، خو ستاسو په ځواب کي مجبور يم دا ووايم چي حزب اسلامي همغه د پرون ورځي ځواکمن حزب دی، قوت ئې زيات شوی دی کم شوی نه، ما ته په ټول هېواد کي داسي سيمه په نظر نه راځي چي هلته حزب فعال او مؤثر شتون ونه لري، د دې حقيقت به هغه وخت خلکو ته څرګند شي چي حزب د علني فعاليت پرېکړه وکړي او په څرګنده توګه ميدان ته راووځي. په مقاومت کي د حزب د ونډې په اړه دومره ويلی شم چي دا روان مقاومت هم د حزب اسلامي په لاس پيل شو، د جهاد اعلان د حزب اسلامي له لوري وشو، طالبان په لومړيو کي په دې موقعيت کي نه ول چي څه وکړي، هغوی خواره واره شوي وو، د بېرته منظم کېدو او څه کولو لپاره ئې کافي وخت ته ضرورت درلود، زه ويلی شم چي نږدې تر يوه نيم کال پورې موږ په سنګر کي يوازي وو، تاسو خبر يئ چي د طالبانو د حکومت له نسکورېدو وروسته د امريکا له جاسوسي طيارو نه لومړی راکټې بريد زما په خلاف تر سره شو، چي له ما نه اويا اتيا ګزه لرې ولګېدو!!

پوښتنه: له طالبانو او القاعدې سره د يووالي، تفاهم يا تنسيق په اړه څه وايئ؟

ځواب: موږ تل د مجاهدينو په يووالي او وحدت ټينګار کړی او خپلو مجاهدينو ته مو ويلي چي په خپلو خپلو سيمو کي له هر هغه چا سره مرسته وکړئ چي د اشغالګرانو په ضد جنګېږي او په خپلواك افغانستان کي اسلامي حکومت غواړي. له طالبانو او القاعدې سره په تنظيمي کچه د ګډ کار په اړه څه تنسيق او

توافق نه لرو.

پوښتنه: آیا تر اوسه مو له طالبانو او د دوی د مشر ملامحمد عمر سره مذاکرات شوي؟آیا حزب دې ته تیار دی چې د طالبانو له ډلي سره یوځای شي؟

ځواب: له طالبانو سره په مختلفو پړاوونو کي په مختلفو سطوحو خبري شوې، خو کوم مشخص توافق ته نه یو رسېدلي، دوی خپل کار کوي او موږ خپل، له ملا محمد عمر سره زما لیدنه کتنه نه ده شوې، اوس د دې سوال نه راولاړېږي چې یوه ډله په بلي کي مدغم شي، موږ د یوې لویې اسلامي جبهې د جوړېدو ملاتړ کوو، دې ته تیار یو چې د صالح شخصیتونو یوه لویه جرگه جوړه شي او همدا جرگه د مقاومت لپاره یوه سیاسي او نظامي جبهه جوړه کړي، مشر ورته غوره کړي، یوه باصلاحیته شوری ورته جوړه کړي، د جبهې تگلاره وضع کړي او د افغانستان د راتلونکي اسلامي نظام څرنگوالی وټاکي.

پوښتنه: د افغانستان په اړه د دې هېواد د گاونډیو او د روسیې، هند او چین دریځ څنگه دی؟

ځواب: د افغانستان په اړه پاکستان او هند د امریکا ملا تړ کوي، د پاکستان د پراخو مرستو سره سره امریکا دې ته ترجیح ورکړې چې هند ته په افغانستان کي د فعال حضور شرایط برابر کړي، نن د افغانستان جریانات کاملاً د پاکستان په ضد او د هند په گټه روان دي، ایران هم د برید په سر کي په پراخه پیمانه د امریکایانو مرسته وکړه، شیعه ډلي او شمالي ټلواله ئې دې ته چمتو کړه چې د امریکا د ځمکنیو فوځونو په توگه او د امریکایي افسرانو تر قومندې لاندې وجنگېږي، دا هماغه کار وو چې دوی په عراق کي هم وکړ، د بن په غونډې کي ئې هم ونډه دومره وه چې امریکایي مقاماتو ترې مننه وکړه او وئې ویل: موږ د ایران د هغې مرستي مننه کوو چې د موقت حکومت په جوړولو کي ئې وکړه، ایراني چارواکو د هغه وخت د جمهور رئیس، خارجه چارو وزیر او د رفسنجاني په شمول نورو مسئولینو په ډېر افتخار سره ویل: که د ایران مرسته نه وی نو امریکایان داسي ژر او په دومره آسانۍ سره د کابل او بغداد په نیولو نه موفق کېدل. خو ایران او روسیه د افغانستان په اړه ځان ته سیاست لري، له امریکایانو سره ئې ملگرتیا د

طالبانو د حکومت تر نسکورولو پورې وه، په حقیقت کې امریکایانو افغانستان د روسیې او ایران لپاره فتح کړی. ازبکستان او تاجکستان د برید په لومړیو کې له امریکا سره د افغانستان په نیولو کې پراخه مرسته وکړه، خو اوس ببرته د روسانو خوا ته نږدې شوي، ترکمنستان خپله بې طرفي ساتلې چې موږ ترې مننه کوو، چین له حملې سره موافقه وکړه خو له امریکایانو سره له مرستې نه ئې ځان وساتو، د افغانستان په نیولو کې د تهران او اسلام آباد رول تر ټولو ډېر ډېر منفي وو او دی.

پوښتنه: د افغانستان بحران څنګه حل کېدی شي؟

ځواب: د مجاهدینو له نظره بحران هغه وخت پای ته رسېدی شي چې:

- ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي،
- داسي موقت حکومت جوړ شي چې ټولو ته د منلو وړ وي او په هغه کې هغه ډلي برخه ونه لري چې د بن په غونډې کې ئې برخه واخیسته او د افغانستان د اشغال خائنانه سند ئې امضا کړ.
- هغه راډیوګانې، ټلویزیونونه، مجلې او اخبارونه وتړل شي چې د بهرنیو ځواکونو لخوا اداره او تمویل کېږي او د دوی په ګټه فعالیت کوي.
- د بن په غونډې کې چې کومو هېوادونو برخه اخیستې او د امریکایانو د یرغل ملا تړ ئې کړی، د دوی سفارتونه موقتاً او تر هغه وخته بند شي چې په هېواد کې د ملت د خوښې منتخب حکومت د چارو واګې په لاس کې واخلي او په دې اړه مناسب تصمیم ونیسي، دا کار به د دوی د لاس وهنو مخه ونیسي او افغانانو ته به دا موقع په لاس ورکړي چې د پردیو له مداخلې پرته خپل برخلیك وټاکي او د خپلې خوښې حکومت جوړ کړي.
- بیا د ټول ملت حقیقي استازې راغونډ شي او د هېواد د اساسي قانون، منتخبې شورى، حکومت او ملي فوځ په اړه تصمیم ونیسي.
- که دا شرائط تأمین شي، نو مجاهدین د جګړې د خاتمې او د ډاډمن امنیت په راوستلو کې هرراز مرستې ته تیار دي.

خو حقیقت دا دی چې داسي حل ته نه امریکا او ناټو تیار دي او نه زموږ کینه کښ ګاونډیان، افغانان له دې پرته بله چاره نه لري چې مقاومت ته تر هغه ادامه

ورکړي چي خپلواکي ترلاسه کړي. افغانستان یوه بل انقلاب ته ضرورت لري، یوه واقعي اسلامي انقلاب ته، داسي انقلاب ته چي په یوه مستقل، خپلواك او اسلامي افغانستان منتج شي، مخکنی انقلاب د بهرنیو لاسوهنو، د ملت د غفلت او د منافقینو د نفوذ په سبب نیمگړی پاتې شو، د مجاهدینو په ضد نړیوال دسایس پیل شول، د اسلام ټولو دښمنانو یوه بل ته لاس ورکړ، د اسلامي ملکونو منافق واکمنان او زموږ کینه کښ گاونډي ورسره ملگري شول، ځینو یوې ډلي ته وسلې او پیسې ورکړې او د مجاهدینو په ضد ئې وجنگوله او ځینو بلي ډلي ته. اوس ملت خپل کورني او بهرني دښمنان پېژندلي، د انقلاب لپاره شرایط برابر دي، ولس دې نتیجې ته رسېدلی چي د جگړي د خاتمې او د واقعي او ډاډمنې سولې د تأمین لپاره بله لار نه لري، د جگړو او بې امنیتی له دوام او د ظالمانو، مفسدینو، ملي خائنانو او وطن پلورونکو له سلطې نه د نجات لپاره یوازي همدا لار ورته پاتې ده. باید ټول باایمانه، خدای پالونکي او آزادي غوښتونکي افغانان په یوه ډاډمن اسلامي صف کي راغونډ شي، یو بل ته د ورورۍ لاس ورکړي، هېواد له دې دردناك حالت نه وژغوري، جگړه د تل لپاره پای ته ورسوي، د ملت د خوښي اسلامي حکومت جوړ کړي، اقتدار هغه چا ته وسپاري چي له الله تعالی وېرېږي او پر خپل مظلوم ملت ترحم او زړه سوی لري.

پوښتنه: امریکا وایي موږ د افغانستان د بیا ودانولو په کار بوخت یو، دا دي اروپا هم د افغانستان په جگړي کي ښکېل شوه، تاسو په دې هکله څه وایئ او اروپایانو ته ستاسو پیغام څه دئ؟

ځواب: الف: امریکایان په دې وتوانېدل چي ناټو د افغانستان په جگړي کي راښکیل کړي او دا د اروپایي هېوادونو لویه اشتباه ده، متأسفانه اروپایي هېوادونه اوس او د شوروي اتحاد له زواله وروسته هم د امریکا له اغېز او سلطې څخه نه دي آزاد شوي.

ب: هیڅ فوځ بل هېواد ته د اعمار لپاره نه ځي، د هر اشغالگر فوځ شعار اعمار وي، خو په حقیقت کي د استعماري گټو لپاره په نورو ملکونو تېری کوي، د اعمار لپاره خو انجنیران له ترکتورونو سره ځي نه جنرالان له ټانکونو او طیارو

سره!!

ج: اروپايي هېوادو ته وايو چي خپل زامن د امريکايانو د گټو لپاره د مرگ کومي ته مه لېږئ، د امريکايانو جنگ ته د اسلام او غرب تر منځ د بل صليبي جنگ بڼه مه ورکوئ، له افغانستان نه خپل فوځونه وباسئ، اسلامي نړۍ نور اسارت ته غاړه نه ږدي، د اسارت او غلامۍ دور ئې پای ته رسېدلی، دا وقعيت تسليم کړئ، پرېږدئ چي مسلمانان آزاد ژوند ولري، دا درې پېړۍ تاسو آسيا او افريقا ولوټله، ظالم او بې رحمه پاچايان او جنرالان مو پرې مسلط کړل، پرېږدئ چي له دې وروسته د خپلي خوښي حکومتونه او نظامونه ولري.

پوښتنه: ستاسو د يوې مرکې په استناد ويل شوي چي حزب له القاعدې سره يو ځای کېدو ته چمتو دئ، آيا دا خبره سمه ده؟

ځواب: په هغې مرکي کي زما خبره په امانت سره نه ده منعکس شوې، زما اصلي خبره دا وه: موږ د ټولو هغو عرب او غير عرب انصارو مجاهدينو، مخصوصاً د شيخ اسامة بن لادن او دکتور ايمن الظاهري په څېر د دوی د مشرانو د احسان مرهون او پوروړي يو چي د روسانو په ضد جگړي کي ئې زموږ ملگرتيا وکړه، زموږ په څنگ کي وجنگېدل او ډېرې قربانۍ ئې ورکړې، موږ او زموږ راتلونکي نسلونه به د دوی دا بې دريغه او نه هېرېدونکي قربانۍ هېڅکله هېرې نه کړو او تل به دا هيله کوو چي الله تعالی موږ ته د دې توفيق راکړي چي د دوی پور ور ادا کړو او په داسي يوې جگړي کي د دوی په څنگ کي برخه واخلو چي بيرغ ئې د دوی په لاس کي وي او موږ ئې انصار وو.

په دې وينا سره ما د افغان ولس احساسات انځور کړي، هر افغان دا غواړي چي کاش د افغانستان له جنگ نه فارغ وی او اوس د خپلو فلسطيني او عراقي ورونو په څنگ کي جنگېدلی او د دوی پور ئې ادا کړی وی.

پوښتنه: د روسانو او امريکايانو د يرغل ترمنځ څه توپيرونه په گوته کولی شئ؟

ځواب: څو اساسي توپيرونه تر سترگو کېږي:

- هغه وخت زموږ گاونډيو د نړۍ د اکثر ملکونو په شمول زموږ ملاتړ کاوو،

خو اوس نه یوازي د نړۍ هیڅ هېواد زموږ د مقاومت ملاتړ نه کوي بلکي زموږ له دښمنانو سره مرسته کوي، ملاتړ او مرسته خو پرېږده حتی د امریکا مخالفینو ته له پناه ورکولو هم ډډه کوي، بلکي نیسي ئې او لاس تړلي ئې امریکایانو ته سپاري، پاکستان وایي موږ اوه سوه تروریستان ونیول او په امریکایانو مو د ډالرو په بدل کي وپلورل او ایران وایي موږ اوه نیم سوه تروریستان ونیول او خپلو خپلو هېوادونو ته مو تسلیم کړل!!

- هغه مهال په افغانستان کي د شوروي اتحاد او د وارسا د پکټ د فوځ شمېر یولك شل زره وو، خو اوس د امریکا او ناټو د فوځ شمېر څلوېښت زره دی.
- د روسانو د هجوم په مهال د افغانستان ډېری برخي د مجاهینو په لاس کي وې، ډېر ولایتونه او نږدې ټولي ولسوالۍ آزادې شوې وې، مجاهدینو په کابل باندي د وروستي برید لپاره تیاری نیولو، په ټول هېواد کي د مجاهدینو مضبوط مراکز جوړ شوي وو، روسان له لومړۍ ورځي دې ته اړ شول چي د لویو لویو ځمکنیو بریدونو په نتیجه کي دا سیمي د مجاهدینو له واکه وباسي، د همدې لپاره د روسانو تلفات زیات وو، د دوی د اعتراف له مخې په لسو کلونو کي ئې نږدې څوارلس زره مړي او اوه وېشت زره زخمیان درلودل، خو امریکایان او انډېوالان ئې په تېرو پنځو کلونو کي د خپلو مړو شمېر نږدې پنځه سوه ګڼي او د زخمیانو شمېره نه په ډاګه کوي، خو حقیقت دا دی چي د دوی د مړو او زخمیانو شمېر تر دوه نیم زره زیات دی، هرڅومره چي د بهرنیو فوځونو شمېر زیات شي، د دوی تلفات به زیاتېږي، د وخت په تېرېدو سره به د دوی تلفات هم ورځ په ورځ زیاتېږي، سږ کال د دوی تلفات تر نورو ټولو کلونو زیات وو، په لسو کلونو کي د روسانو مصارف نږدې اویا ملیارده ډالر وو، خو امریکا هر کال تر اویا ملیارده زیات مالي لګښت د افغانستان او عراق په جنګ کي لري، د روسانو په جنګ کي د افغان ولس تلفات ډېر زیات وو، د جنګ لمن ډېره خوره وه، اوس له هغو سیمو پرته چي مخامخ جګړي په کي شوې دي او امریکایي ځواکونو په عام ولس بې رحمانه او وحشیانه بمبارۍ کړې دي او په زرهاوو بې ګناه خلك ئې وژلي، په نورو جګړو کي د مجاهدینو تلفات ډېر لږ دي، هوښیار مجاهدین د خپلو مخکنیو جنګي

تجربو په رڼا کي د جبهه يې جنګ په ځای د چريکي جګړو لار غوره کړې، د دښمن په مرکزونو د بريد په ځای د هغوی پر ګزمو او قطارونو ناڅاپي بريدونه کوي، کمين ورته نيسي، د لاري په اوږدو کي ئې د ريموټ کنترول بمونو په ذريعه استقبال کوي، د امريکايانو لويه ستونزه دا ده چي نه پوهېږي کله، چېري او د چا لخوا به تر بريد لاندي نيول کېږي، نه پوهېږي دښمن ئې چېري دی او چېري ئې ده ته کمين نيولی؟!!

- د هجوم په پيل کي عام ولس په وېره کي وو، د دښمن تبليغاتو، د افغانستان په فضا کي د بې شمېرو سترو جنګي جهازونو الوتنو، له اشغالګرانو سره د ټولو ګاونډيو مرستو، د طالبانو د حکومت ډېر ژر سقوط... دوی وېرولي وو، د مقاومت د پيل او دوام امکانات ئې ضعيف ګڼل، خو اوس الحمدلله وضعيت کاملاً بدل شوی، ولس ډاډه شوی چي تر روسانو د دې دښمن مقابله ډېره آسانه ده، د پرديو له مرستي پرته هم کولی شي د دښمن مقابله وکړي، په دې پوه شوي چي روسان هم د جنګي مورال له پلوه او هم د خپلو افغاني مزدورانو د شمېر له پلوه تر امريکايانو قوي او ځواکمن وو، امريکايانو ته هم کولی شي ماتې ورکړي، له وضعيت نه زما انتباه دا ده چي موږ يوه عمومي پاڅون ته ډېر نږدې شوي يو

پوښتنه: په دې مقاومت کي کوم څوك ستاسو ملاتړ کوي؟

ځواب: موږ له الله تعالی پرته بل حامي او مرستندوی نه لرو، د نړۍ هيڅ هېواد، حکومت او حتی سياسي حزب زموږ د مرستي او حمايت جسارت نه کوي، ډېر هغه ګوندونه چي يو وخت به ئې په جګ غږ د مجاهدينو د حمايت او ملاتړ خبري کولې او هغه هم د دې لپاره چي د دوی په نامه څه ترلاسه کړي، اوس د امريکا له وېرې د مجاهدينو د مخالفت اعلانونه کوي او دوی ته تروريستان وايي!! خو موږ الله تعالی ځان ته کافي ګڼو، په هغه مو توکل دی، تر وروستۍ مرمۍ او وروستۍ سلګۍ به د الله تعالی په لار کي خپل مقدس جهاد او مقاومت ته دوام ورکوو، خپل جنګي تکتيکونه داسي تنظيمو چي په کمو وسايلو دښمن ته زيات تلفات واړوو.

پوښتنه: مجاهدين ولې په دې موفق نشول چي اسلامي حکومت جوړ کړي؟

آيا د دې وېره نشته چې د بهرنيو ځواکونو له وتلو وروسته بيا خپل منځي جګړې پيل شي؟

ځواب: متأسفانه ځيني کسان چې د افغانستان د پېښو له عمق نه خبر نه دي او په دې نه پوهېږي چې دا ولې هم روسانو پر افغانستان بريد وکړ او هم امريکايانو، ولې واشنګټن او مسکو په دې توافق وکړ چې د روسي فوځونو له وتلو وروسته په ګډه د مجاهدينو د حکومت د جوړېدو مخه ونيسي؟ د څه لپاره زمونږ ګاونډي يوې او بلې ډلې ته وسلې او پيسې ورکوي او د خپلو ګټو لپاره ئې جنګوي؟! دا بې خبره کسان د افغانستان جګړو ته د کورنۍ جګړې نوم ورکوي، په داسي حال کي چي د روسي فوځونو له وتلو وروسته جنګونه په حقيقت کي د مخکنۍ جګړي تسلسل وو، په دغو جګړو کي کمونستانو همغه ونډه درلوده چي مخکي ئې درلوده، د دې جګړو وسلې او پيسې هم د مسکو او د مسکو د منطقوي انډيوالانو لخوا ورکول کېدې، ځيني د مجاهدينو حکومت نه شي زغملی، ځيني د سنيانو او پښتنو حکومت او ځيني يو مضبوط، قوي، متحد، خپلواك او اسلامي افغانستان، له ډېرو سره دا وېره ده چي که دلته د جهاد تجربه بريالۍ شوه نو دا به په نورو ځايونو کي هم تکرارېږي، بايد په خپل ټول توان طاقت سره د دې تجربې د موفقيت مخه ونيسي، ما ته ووايئ: له امريکايانو او روسانو سره د افغان مجاهدينو په ضد زمونږ د ګاونډيو او نورو اسلامي ملکونو د واکمنانو ملګرتيا ته له دې پرته بله څه توجيه وړاندي کولی شو؟! خو زه مطمئن يم چي إن شاء الله دا ټولي توطئې به د الله تعالی په فضل او عنايت سره شنډې شي او په افغانستان کي به د مجاهدينو په لاس واقعي اسلامي حکومت جوړ شي، دا د شهيدانو ملك دی، د شهيدانو آرمانونه به حتماً په کي ترسره کېږي. وما ذلك على الله بعزيز.

و السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

حکمتيار

افغانستان

۱۴۲۷/۹/۲۳

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اسامه په شهادت به امريكا ډېره خوشحاله شي كه ايران؟

د اسامه ابن لادن وژل خو اوس د امريكا يو ستر او اساسي هدف دی، د دې ناولي هدف لپاره ئې كلكه ملا تړلې، په ټول توان طاقت ئې لويه جگړه پيل كړې او د لسهاوو زره فوځ ترڅنگ ئې د سي آی اې په زرهاوو جاسوسان په كار اچولي، د ده نيونه او وژنه د امريكايانو لپاره په داسي يوې درنې مسئلې بدل شوی چي د امريكا او د اوسني جمهور رئيس برخليك پوري تړل شوی، طبيعي ده چي د ده په نيولو او وژلو سره به كه ټول امريكايان نه وي نو ډېر به ئې خوښ شي، كه څه هم په دې سره به نه د امريكا په ضد د نړيوالو كركه راكمه شي او نه به د امريكا په ضد روان مقاومت تضعيف شي. خو خبره دا ده چي ايران به ولې په دې خوښ شي چي يو مسلمان مبارز د امريكايانو په لاس ووژل شي؟ د ده نيونه او وژنه به ايران ته څه گټه ورسوي؟ دې پوښتني ته د سم ځواب موندلو لپاره بايد لاندي خبري په پام كي ولرو:

• كه تاسو د ايران دولتي مطبوعات، ورځپاڼې، راډيو او ټلويزيون تعقيب كړي وي نو دې ته به حتماً متوجه شوي وئ چي ايران تل د اسامه په ضد پراخ تبليغات كړي، تبليغات خو څه كوئ حتی په دې ئې ټينگار كړی چي اسامه امريكايانو صحنې ته راايستلی، چي څه كوي د امريكايانو لپاره او د دوی په مشوره ئې كوي، د امريكا په ضد د ده مبارزه او جهاد هسي يوه ډرامه ده!! د نيويارك، واشنگټن، كينيا، تانزانيا، عدن او نورې پېښي، په ده باندي د امريكايانو بريدونه، د ده د

نیولو او وژلو لپاره د امریکایانو دا ټولي هڅې، یو هم له امریکا سره د ده د دښمنۍ نښه نه ګڼي، مسلسل ئې دا انګازې خورې کړې چي اسامه نیول شوی، د امریکایانو په لاس کي دی، په مناسب وخت کي به ئې د نیولو خبر خپروي او دې ته ورته نوري اوتي بوتي!!

• پر افغانستان باندي د امریکایانو د برید په مهال ایرانیانو څو لوړ پوړي هیئتونه اسامه ته ورولېږل، په کندهار کي ئې له ده سره لیدنې کتنې درلودې، ایران ته ئې د تلو بلنه ورکړه، د برید په مهال ئې طالبانو او القاعدې ته احوال ولېږو چي د پناه لپاره ایران ته راتلی شي او ایران دې ته تیار دی چي دوی ته پناه ورکړي، ډېر کسان ایران ته ولاړل، نږدې وو اسامه هم له خپلي کورنۍ سره هلته ولاړ شي، خو زما او د ځینو نورو دوستانو د مشورې په اساس ئې خپل تصمیم بدل کړ.

• ټول هغه کسان چي ایران ته تللي وو، یو په بل پسې ونیول شول، ځیني ئې د افغانستان امریکائي حکومت ته وسپارل، ځیني ئې له داسي لارو له ایران نه وایستل چي په پای کي امریکایانو ته په لاس ورغلل، ځیني ئې په غیرمستقیم طور او د امریکا پلوه هېوادونو له لاري امریکا ته تسلیم کړل. ځیني نور لاتراوسه د ایران په زندانونو کي پاتې دي!! کوم پنځه سوه کسان چي ایران ئې د نیولو او له خپل ملك نه د ایستلو خبره کوي همدا کسان دي چي د دوی په بلنه دې هېواد ته تللی وو.

• کندهار ته د ایراني هیئتونو د تلو موخه دا وه چي اسامه په دام کي واچوي، ایران ته ئې بوځي او بیا د ده په سر له امریکا سره معامله وکړي او یا د ده د اوسېدو ځای معلوم او امریکایانو ته اطلاع ورکړي.

• زما په اړه هم ایران له امریکایانو سره دا موافقه کړې وه چي ما به له ایرانه باسي خو په داسي لار چي امریکایانو ته په لاس ورشم.

• د طالبانو په ضد د جنګ په دوران کي ایراني افسران له امریکائي او انګرېز افسرانو سره اوږه په اوږه، په شمال کي، د شمالي ائتلاف په اکمال او سوق او اداره مصروف وو، ګډې غونډې ئې درلودې، استخباراتي معلوماتونه ئې له یوه بل سره تبادله کول، په تخار، پنجشیر او مزار کي ئې د قومندې ګډ مراکز جوړ کړي

وو او د عملياتو ګډ پلانونه ئې جوړول!!

• د برید په دربیمه اونۍ ایران امریکایانو ته اجازه ورکړه چې د سیستان او خراسان له فضاء نه په استفادې سره په کندهار، هرات او د جنوب غرب په نورو مراکزو باندې هوائي عملیات ترسره کولی شي، د دې مقصد لپاره ئې څو ورځې د زاهدان هوائي میدان تړلی وو او دې سیمې ته ئې د ملکي طیارو تګ راتګ متوقف کړی وو او امریکائي طیارو په پوره ډاډ او اطمئنان سره له بحري اډو الوتنې کولې، د ایران له فضاء تېرېدلې او په کندهار او هرات ئې بمونه ورول!! دا هغه بمبارد طیارې وې چې په خلیج کې د امریکا له اډو او طیاره وړونکو بېړیو الوتلې، د ایران له فضاء به تېرېدې او په افغانانو ئې بمونه ورول، د همدې امریکائي طیارو لپاره ئې د افغانستان سرحد ته نږدې د مسافر وړونکو طیارو الوتنې متوقف کړې وې.

• عجیبه دا ده چې دا هېواد ځان ته مسلمان هم وایي!! موږ نه پوهېږو چې کوم ایمان او اسلام او کوم مذهب، د مظلومو مسلمانانو په ضد د ظالمو کفري ځواکونو ملګرتیا جائز ګڼي او د اسلام او مسلمانانو په ضد دا ستر خیانت توجیه کولی شي چې د یوه اسلامي هېواد په نیولو کې له کفري ځواکونو سره مرسته وشي، د مسلمانانو په وژلو او د دوی د جوماتونو، کلیو او کورونو په ورانولو کې له یرغلګرو سره ملګري شي!!

• په افغانستان د امریکائي ځواکونو د سلطې د نه بخښونکي جرم لوی مسئولیت تر ټولو مخکې د همغو هېوادونو په غاړه دی چې شمالي ټلواله ئې له امریکا سره ملګرتیا ته اړ کړه. که دوی د امریکایانو لپاره نه وی جنګېدلي نو امریکایان هیڅکله په دې نتوانېدل چې زموږ هېواد اشغال کړي. په دې کې هیڅ شك نشته چې د افغانانو په وژلو کې او زموږ په هېواد کې د اسلام ضد ټولو فعالیتونو او د بې دینۍ او اخلاقي فساد د خورولو په هڅو کې ټول هغه هېوادونه د امریکایانو د جرم شریکان دي چې امریکایانو د دوی په مرسته زموږ هېواد اشغال او د بې دینۍ د خورولو موقع ئې ترلاسه کړه.

• دا هېواد اوس د افغانستان د تجزیې لپاره هڅه کوي او د فدرالي نظام خبره

کوي! د افغانستان له حالت نه واقف هر انسان په دې پوهېږي چې په دې ظروفو او شرائطو کې د فدرالي نظام معنی د افغانستان له تجزیې پرته بل څه نه شي کېدی. دوی په اصل کې لومړی د هغو لږکیو لپاره د بېل بېل فدرالي حکومت جوړول غواړي چې له دوی سره ژبني او مذهبي اړیکې لري او بیا له افغانستان نه د دوی د سیمو بېلول او له ځان سره ئې یوځای کول غواړي. امریکا هم له دوی سره په دې هکله توافق لري چې زموږ په هېواد کې فدرالي نظام رایج شي. اختلاف په دې کې دی چې امریکا په څلورو فدرالي حکومتونو او دوی په پنځو ټینګار کوي.

- افغانان له خپلو ډېرو ګاونډیو نه ګیلې لري، له چا کم له چا زیات، خو یوه ګاونډي د دوستۍ په جامه کې له افغانانو سره هومره دښمني کړې چې هېرول ئې ګران دي. دا هغه ګاونډی دی چې لومړی ئې له روسانو سره د افغانانو په ضد لاس یو کړ، د شمال جهادي – کمونستي ټلواله ئې جوړه کړه، د دې ټلوالې په لاس ئې د جګړو اور بل کړ، روسانو به د همدې ګاونډي له لارې شمالي ټلوالې ته وسلې او پیسې لېږلې، د دوی ډېر شمېر افسران او جنګي قطعات د شمالي ټلوالې په خوا کې په جګړو بوخت وو، مخصوصاً د طالبانو په ضد جګړو کې، په دې کلونو کې خو دوی د خپلو سرتېرو ګڼ شمېر مستقلې جنګي جبهې جوړې کړې وې او هره ورځ به ئې څو طیارې وسلې او مهمات شمال ته لېږل، خپلو ملګرو ته به ئې ویل: که په سوریې کې یو وړوکی اقلیت کولی شي په هغه هېواد حکومت وکړي نو تاسو ولې په افغانستان کې دا کار نه شئ کولی، ټول اقلیتونه راغونډ کړئ او د پښتنو په ضد ګډه جبهه جوړه کړئ. د امریکایانو تر قومندې لاندې د طالبانو په ضد وجنګېږئ، د اقلیتونو لپاره دا ډېر ښه فرصت دی، د امریکا په مرسته کولی شي قدرت ترلاسه کړي، پښتانه وځپي، ټول هغه شخصیتونه او ډلې د امریکایانو د وسلو، پیسو او ځواکونو په مرسته وټکوي چې پښتانه راغونډولی شي.

- ایران نه غواړي په اسلامي نړۍ کې داسې شخصیتونه سر رااوچت کړي چې د امت سني اکثریت ورباندې راغونډ شي، دا هم په داخل کې د ځان لپاره یو ګواښ ګڼي اوهم په نړیواله سطحه. په ایران کې سنیان ځواکمن شتون لري، په سلو کې تر دېرش زیات سنیان دي، خو له خپلو ټولو انساني او اسلامي حقوقو څخه محروم

دي، په تهران کي د جومات د جوړولو اجازه نه ورکوي، په مشهد کي ئې د دوی مشهور او لرغونی جومات وران کړ، په دې ئې هم اکتفاء ونه کړه د دې جومات امام ئې په هرات کي په شهادت ورساوو، د ایران په ټول نظام کي د وزیر په کچه خو پرېږده حتی د رئیس او مدیر په کچه هم یو سني نه شئ موندلی، د سنیانو ټول سیاسي مشران او ګڼ شمېر مذهبي مشران ئې یا زنداني کړل، یا ترور، یا له هېواد نه هجرت ته اړ، له هېواد نه بهر ئې هم دوی آرام پرېنښودل، څو کسان ئې د پاکستان په کراچۍ او کویټه کي ترور کړل او د ډېرو نورو د ترور او وژلو لپاره ئې بې شمېره پټې او ښکاره هڅې وکړې.

• په افغانستان کي د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت له جوړېدو نه ئې سخته وېره درلوده، د روسانو له وتلو نه وروسته ئې له نجیب سره خبري پیل کړې، په کابل او نورو ځایونو علاوه ئې له هغه سره په مشهد کي مذاکرات وکړل، په ایران پورې تړلې شیعه ډلو ته ئې وظیفه ورکړه چي له نجیب سره لاس یو کړي او په بامیانو کي د مجاهدینو د تلو راتلو لار وتړي، په دغي سیمي کي چي دغو شیعه ډلو له مجاهدینو سره کومي جفاوې کړې، د جهاد یو تور باب جوړوي. د نجیب له تلو نه د مخه ئې پرچمیان، شیعه، تاجك او ازبك په یوه داسي ژبني ائتلاف کي راغونډ کړل چي ایران او مسکو په ګډه حمایه کاوو، د جبل السراج د ائتلاف په جوړولو کي د ایران ډېر اوږد لاس وو. ایران چي په دغه موده کي له شمالي ائتلاف سره د وسلو او پیسو کومي مرستي کړې دي، د هغې پنځه په سلو کي ئې د جهاد په دوران کي نه دي کړې. د ایران په سلو کي ۹۵ مرستي د داخلي جګړو د تشدید او دوام لپاره وې نه د روسانو په ضد جنګ لپاره. دا دی د امریکایانو د حملې په وخت کي ئې له دې دښمن سره لاس یو کړ او په ډاګه ئې وویل: که زموږ مرستي نه وی نو امریکا کابل او بغداد داسي ژر او په دومره آسانۍ سره نه شو نیولی، دا خبره د دوی جمهور رئیس، د ده معاون، خارجه وزیر او د تهران د جمعې د لمانځه موقت امام رفسنجاني، نه یو ځل بلکي مکرر کړې!!

• په خارج کي هم ایران د دې هڅه کړې چي د اسلامي امت قیادت تر لاسه کړي او مسلمانان ئې مشرۍ ته غاړه کېږدي، د همدې لپاره ایرانیانو له انقلاب نه

وروسته خپل هېواد ته د (ام القرى) نوم ورکړ چې تر اوسه همدا نوم استعمالوي، د ام القرىٰ نوم د قرآن له لوري مکې مکرمې ته ورکړی شوی، ايرانيان غواړي تهران د اسلامي امت لپاره هغه حيثيت ولري چې مکې مکرمې د پيغمبر عليه السلام په وخت کې درلود!! دوی له انقلاب نه وروسته د سعودي په ضد شديد تبليغات هم د همدې مقصد لپاره پيل کړي وو، همدا تبليغات د حج په موسم کې د ايرانيانو او سعوديانو ترمنځ د خونړيو نښتو لامل وو.

- ايران په افغانستان کې د يهودانو حکومت منلی شي خو د سنيانو او پښتنو حکومت نه مني!! له امريکايانو سره د افغانستان په اشغال کې د دوی ملګرتيا همدا حقيقت په ګوته کوي. د نجيب حکومت د نسکورېدو په وخت کې کابل ته د حزب اسلامي د ځواکونو د ننوتو په ورځ رفسنجاني وويل: موږ به په هيڅ بيه دا ونه منو. د طالبانو په ضد له شمالي ائتلاف سره د ايران بې دريغه او پراخې مالي او نظامي مرستي او په پای کې د دوی په ضد له امريکايانو سره ملګرتيا همدا حقيقت ثابتوي.
- دا عجيبه نه ده چې په عراق کې د مقتدا الصدر د پلويانو له وروستي پاڅون نه وروسته ايران د امريکا په وينا عراق ته له شيعه وو سره د منځګړيتوب لپاره هيئت ولېږو، د دوی نظر دا دی چې پرېږدي د عراق سنيان چې اوس د امريکائي يرغلګرو مقابله کوي، ښه وځپل شي، د دې ګټه شيعه وو ته رسېږي، د عراق شيعه بايد د سنيانو په څېر د مقاومت لار غوره نه کړي، برعکس بايد د سيستاني او عبدالعزيز حکيم په څېر له امريکايانو سره د ملګرتيا لار غوره او سنيان د امريکايانو د متېو په زور وځپي. په دې حساس وخت کې او د اشغالګرانو او شيعه ډلو ترمنځ د روغې جوړې لپاره د هيئت د لېږلو مقصد له دې پرته بل څه نه شي کېدی.
- ايران د بن په امريکائي غونډې کې او هلته د کابل لپاره د يوه امريکائي حکومت د جوړلو په کار کې تر ټولو هېوادونو ناپاك او مضر رول ادا کړ، هومره چې امريکايان د دغه خبيث رول د ادا کولو لپاره ترې مننه کوي او ترې غواړي چې همداسې يو رول د عراق په اړه هم ادا کړي، معلومېږي چې د دې لپاره ئې هم متېې

رابډوهلې!! خپلو پلوي ډلو ته وايي چې له امريکايانو سره ملګرتيا ستاسو په ګټه ده، د سنيانو په ځپلو کې ترې استفاده وکړئ، له مخالفت نه ډډه وکړئ، د بغداد په راتلونکي امريکائي حکومت کي په زړه پورې برخه ترلاسه کړئ. د دې هېواد مشرانو اعلان کړی چي له امريکا سره د افغانستان په څېر ملګرتيا او مرستي ته تل او په هر ځای کي تيار دي!! نړۍ وال په خپلو سترګو ګوري چي دا هېواد د عراق په اړه همغه څه کوي چي د افغانستان په ارتباط ئې وکړل. که تاريخ ته رجوع وکړو نو وبه ګورو چي د اسلامي امت په ضد ټولو جنګونو کي، که دا د عربو په ضد وو او که د ترکانو په ضد، دې هېواد تل همداسي لوبه کړې، له دښمن سره په پټه او څرګنده ملګرى شوى. او دا دى نن چي د مسلمانانو په ضد يو بل صليبي جنګ پيل شوى، عراق او افغانستان د امريکائي ځواکونو په لاس اشغال شوي،دا ګاونډى مو بيا همغه څه کوي چي په تاريخ کي ئې په وار وار کړي.

• ايران خپلي ملي ګټې په افغانستان کي د جګړو او عدم استقرار په دوام کي لټوي، د دې لپاره چي د مرکزي آسيا تېل او ګاز د افغانستان له لاري بهر ته انتقال نه شي، د دې سيمي بازار د دوی په واك کي راشي او تېل او ګاز ئې د ايران له لاري انتقال شي او پاکستان د دې سيمي بازارونو ته لار ونه مومي، زموږ په هېواد کي د جګړو او تشنج د دوام لپاره هڅه کوي.

• لکه څنګه چي په افغانستان کي د شيعه - سني، هزاره - پښتون او اقليت - اکثريت جګړه د ايران د لاسوهنو او مداخلو نتيجه وه، په پاکستان کي هم د شيعه او سني ترمنځ د خونړيو نښتو لړۍ د ايران د سياستونو نتيجه ده، دا نښتې د ايراني انقلاب نه وروسته پيل شوې، له دې د مخه د پاکستان شيعه او سني د ورونو په څېر د يوه بل خوا ته اوسېدل، د کويټې او د پاکستان د نورو سيمو د نښتو مسئوليت تر ټولو د مخه د ايران په غاړه دى. د کربلا د وروستۍ پېښې لاملونه هم بايد په هغه سياست کي ولټوو چي د عراق شيعه ئې له اشغالګرانو سره ملګرتيا ته وهڅول او د عراق آزادي غوښتونکو ته ئې شيعه ټولنه د پرديو او دښمنانو د برېڅو په توګه معرفي کړه.

موږ له هغه دښمن نه منتقم خدای ته شکايت کوو چي د دوستۍ په جامه کي

له مظلومو افغانانو سره دښمني کوي، خدای دې مظلوم مسلمانان د هغه دښمن له شر نه وژغوري چي تل ئې له شا نه په خنجر وهي، خپلي گټې د افغانانو په جنگ ځپلي هېواد کي د جگړو په دوام کي لټوي او له يهودانو او نصاراوو سره د مسلمانانو په ضد متحد کېږي.

حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

# نابللی مبلمه

## د پښتنو شاعرانو په جرگې کي

ناڅاپي د پښتنو شاعرانو يوې جرگې ته ورغلم، په دې هيله چي دلته به کوم اقبال وگورم، اقبال ته ورته کوم پښتون شاعر، هغه نه چي ژبه ئې د پښتون وي خو شعر ئې د ناپښتون، هري خوا ته مي سترگې وغړولې، د ډېرو شعرونه مي واورېدل، ما گومان کاوو چي د پښتون شاعر به يوازي ژبه د پښتون نه وي، زړه به ئې هم د پښتون وي، احساسات به ئې هم د پښتون وي، خو داسي نه وه، ما نه د دوی په شپېلۍ کي د پښتون د ژوندي زړه غږ واورېدو او نه د دوی د شعر په هېنداري کي د پښتون لوړ همت، لوی زړه، جگه شمله، درنه حياء، د آزاد او سرلوړي ژوند حماسه، اوچت اخلاق، د پت او عزت درناوی، د مظلوم ملگرتيا او د ظالم مخالفت، ما هلته د توري ستاينه، د آزادۍ جنگ ته بلنه، له بې وزلي نه دفاع، د تېري کوونکي په ضد توري ته لاس کول، د گاونډي درناوی او د هغه پت او عزت خپل پت او عزت گڼل، د هغه لور خپله لور او خور گڼل، وانه ورېدل، زما هيله دا وه چي واورم: له خدای نه پرته بل ته سر نه ټيټوم، د بل لويې نه منم، د خپل هېواد آزادي غواړم، خپلواکي غواړم، زما نيکونو د بل واکمني نه ده منلې، د خپل سر پرې کېدل ئې منلی خو دښمن ته ئې سر نه دی ټيټ کړی، زه به د پښتون زوی نه وم که ما د بل غلامۍ ته سر ټيټ کړ. زما هيله دا وه چي دلته به د تورو زلفو په ځای د تېرې توري ستاينه وي، د گودر په ځای به د سنگر ستاينه، دلته به د يار د سرو سترگو په ځای د هغو مجاهدينو سره پرهارونه او تغمې تغمې بدنونه يادېږي چي په سنگرونو کي په شهادت رسېدلي او د بگرام او گوانتانامو په زندانونو کي تر

بې رحمانه تعذيبونو لاندي دي، خو حيف حيف چي ما دلته داسي شاعران وليدل چي شعر ئې يوازي د ډمانو لپاره خوندور او گټور دی، زما په خيال کي هم دا خبره نه گرځېده چي يو پښتون شاعر او هغه هم په داسي وخت کي چي د ده هېواد اشغال شوی، پردي ورباندي حکومت کوي، هره ورځ په لسهاوو افغانان په خپلو وينو کي رغړوي، کورونو ته ننوځي، د افغاني پېغلو په عفت او عزت تېری کېږي، د هېواد په گوټ گوټ کي د پرديو بيرغونه رپېږي، په دې حالت کي به هغه د مينې او عشق خبري کوي، د خپل گاونډي د لور او خور سور شال، تور خال، زلفي، شونډي او د کميس د لمني نوم به په خوله اخلي، د هغه چا په څېر به برېښي چي د گودر په لار کي، د کوم مات دېوال او وني شا ته پټ ولاړ دی، د غله په څېر گودر ته د راتلونکو پېغلو ننداره کوي!!

ما په دې جرگې کي ليدل چي يوه به په ډېر شور ځوږ سره خپل شعر وايو او د هر بند له ويلو وروسته به ئې يوې خوا بلې خوا ته وکتل، له څلك غوږونو سره، په دې انتظار چي له کومي گوښې د واه واه غږ واوري، له لاندي به كه ټول نه وو نو د ده خاصو ملگرو خو به په چك چكو او بيا وايه، بيا وايه په چيغو بدرگه كاوو، د هر يوه وار تېرېدو ، له ځان سره به مي ويل: اميد دی دا بل همغه څوك وي چي زه ئې د ليدو او د شعر اورېدو لپاره دې جرگې ته راغلی يم، خو جرگه پای ته ورسېده او زما هيله ترسره نشوه. ما دلته نه اقبال وموندو او نه د اقبال په کوڅه تېر شوی کوم لاروی، اقبال خو پرېږده، ما دلته د بلخي، جامي، سعدي، غالب او ډېرو نورو د لوی ښار د يوې کوڅې يو مسافر او سېدونکی هم ونه موندو.

په دې جرگې کي مي داسي خبريالان ترسترگو شول چي په ميکرافون ئې بي بي سي، امريکا غږ، راډيو آزادي ليکل شوي وو، دوی په تالار کي داسي گرځېدل لکه چي کوربه وي او دا شاعران ئې مېلمانه، شاعران د دوی د خوښي او شعرونه ئې د دوی د سليقې، له هر يوه نه ئې غوښتي وو چي ټوپك، ټوپكيان او ټوپك سالاران به غندي، سندرې، خندا، گډا او نڅا به ستايي، مجاهد به محکوموي او رخشانه، قمرگله او مېرمن پروين به ستايي، د ملگرو په لاس د هېواد د بيا ودانۍ (استعمار)، د نورو تر سلطې لاندي آزادي، د پرديو د متو او وسلو په زور راغلې

ديموکراسي، د انګرېزانو د فوځونو په مرسته راغلی امنيت، دا به د سترو سترو لاس ته راوړنو په نامه يادوی، د بهرنيو فوځونو شتون به ضروري، د افغانانو په ګټه او د ديموکراسۍ او امنيت د ودې لپاره حتمي ګڼي او په دې به له دوی نه مننه کوي!! پوه شوم چې له دې جرګې نه زما انتظار بې ځايه وو ، ناهيله او زړه ماتې وتل مې برخليك، دوی خو د افغانانو لپاره اوس دا خوښوي چې ټوپك په ځمکه کېږدي او رباب په لاس کې واخلي، ګډا او نڅا زده کړي، د سنګر په ځای کابارو ته مخه کړي، اوس خو ټوپك له ده سره نه ښايي، هو ؛ ټوپك له غلامانو سره نه ښايي، ټوپك خو بايد د هغه چا په لاس کې وي چې آزاد او خپلواك وي، د خپل هېواد د ساتلو توان او اهليت ولري، بل ته سر نه ټيټوي، خپل امنيت په بل نه ساتي، د کوم هېواد د جمهور رئيس شخصي امنيت هم چې پردي ورته ساتي هغوی وسلې ته څه ضرورت لري، د دې ولس شاعر به خود د ساقي او ساغر، د شرابو جام، سپين مخ او تور خال ستايي، د ده ئې له توري، ميړاني، آزادۍ او خپلواکۍ سره څه غرض او څه کار؟!

د جرګې په پای کې مې دا الفاظ په ژبه جاري شول او ناهيلی ووتم:

قلم دې مات ژبه دې پرې شه بې همته د ګودر شاعره!

ستا پر هېواد دښمن واکمن دی، ستا د کور مخې ته انګرېز پېره کوي، خو ته لګيا د ګاونډي د لور سرې شونډې او تور خالونه ستايې!!

حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

# ایران ته د امریکا گوانبونه

## دا گوانبونه د جنگ پیلامه وګڼو که هسي تبلیغاتي ډرامه؟!

د ایران او امریکا ترمنځ تاو تریخوالی او یو د بل په ضد تبلیغات ئې کله کله هومره توند او تېز شي چي سړی ګومان کوي نن سبا به په ایران برید کېږي، که د عراق او افغانستان په څېر هلته فوځونه ونه لېږي نو کېدی شي یوازي په هوائي بریدونو اکتفاء وکړي او د ایران اتمي تأسیسات تخریب کړي، که امریکا په خپله برید ونه کړي او په افغانستان او عراق کي ئې شدید مصروفیت دې ته پرې نږدي نو د اسرائیلو په لاس او د دوی د جازونو په واسطه به دا برید ترسره کېږي!! یو ځل خو د ایران له یوه اتمي مرکز څخه نږدې سل کیلو متره لرې د یوې چاودنې غږ واورېدی شو، سبا ته په ډېرو خبري رسنیو کي دا چاودنه د برید په نامه منعکس شوه او ایراني چارواکي دې ته اړ شول چي د برید خبر تکذیب کړي!! دا انګېرنې او ګومانونه هم هسي اټکلونه نه وي، بلکي د تل ابیب او واشنګټن د مسئولینو په ویناوو ولاړ اټکلونه وي!! خو له دغو توندو او تریخو خبرو او اظهاراتو نه به لا څو ورځي نه وي تېري شوې چي له واشنګټن او تل ابیب نه به د دې برعکس داسي اظهارات اورېدل کېږي چي له ایران سره ئې ښې اړیکي په ګوته کوي!! دا ضد او نقیض دریځونه د ډېرو له نظره د فهم وړ نه برېښي، خو په سیاست کي دا هر څه ممکن دي، په ظاهر کي دښمني او په پټه دوستي د ننۍ نړۍ د عام او مروج سیاست یوه ځانګړتیا ده.

اوس دا عجيبه مه ګڼئ چې کله خبره توده شي او د ډېر خلك داسي ګومان وکړي چي پر ايران حمله نږدې ده او ورپسې بيا واورئ چي له يوې خوا سپينه ماڼۍ اعلان وکړي چي له ايران سره مشکلات د خبرو آترو له لاري اوارو و، د عراق د بيا ودانولو په مجوزه غونډې کي د ايران له شموليت سره مخالفت نه لرو، د تجارت په نړيوالې مؤسسې کي د ايران له شموليت سره موافق يو، دې ته تيار يو چي ايران ته د امريکايي جازونو پرزې ورکړو. او له بل لوري د ايران لوړ رتبه مقامات حتی د ايران رهبر وو ايي: په ګاونډيو هېوادونو کي د امريکايي ځواکونو شتون ايران ته ګواښ نه دی!! دا اظهارات هسي تصادفي او تبليغاتي خبري نه دي، برعکس د ژور پټ تفاهم او توافق او راکړې ورکړې نتايج دي، دا تفاهمات او توافقات اکثراً د انګلستان په وساطت ترسره کېږي.

کله چي د بش اداره وغواړي کانګريس ته د وړاندي شوې بودجې لپاره ملاتړ ترلاسه کړي يا په انتخاباتو کي د امريکايانو رأيه ترلاسه کړي نو د ايران په ضد تبليغات تشديد شي، خو چي د ايران په ضد د ګواښ خبره تبليغاتي ګټه ونه لري نو بيا نه د امريکا لخوا د بريد ګواښونه اورو او نه د اسرائيل لخوا د بريد خبره.

هرڅوك په دې ښه پوهېږي چي په دې شرايطو کي امريکا يا اسرائيل پر ايران د بريد اراده يا مجال نه لري؟ په افغانستان او عراق کي د امريکايانو شديد مصروفيت او هلته د مقاومت په ځپلو او د اوضاع په کنترولولو کي د امريکايي ځواکونو له ناکامي سره سره دا نه ممکن برېښي او نه معقول چي امريکا دې بله جبهه هم ځان ته پرانيزي او پر ايران دې هم بريد وکړي؟ د دې بريد ضرورت بيا مخصوصاً په اوسنيو شرايطو کي څه دی؟

په داسي حال کي چي ايران له امريکا سره د کابل او بغداد په نيولو کي تر هر بل هېواد زياته مرسته وکړه آيا کېدی شي له دې سره سره پر ايران بريد وکړي؟! ايران اوس له کومه لحاظه امريکا ته عاجل خطر دی چي ناچار بايد همدا اوس دا خطر له منځه يوسي؟! ايران خو اوس داسي دی چي له امريکا سره د عراق او افغانستان په نيولو کي ئې ملګرتيا تر سعودي هم زياته او امريکا ته په زړه پورې وه، له دې ملګرتيا سره سره به ولې او په کوم دليل پر ايران بريد کوي؟

ډېر ساده او بې خبره کسان به دا گومان کوي چې د افغانستان او عراق په اړه د ایران او امریکا ترمنځ سیاسي او نظامي ملگرتیا یو تصادف دی نه د یوه اوږدمهاله تړون نتیجه!! که دا کار یوازې په افغانستان کې شوی وی کېدی شو هغه ته مو د تصادف نوم ورکړی وی او یا مو له طالبانو سره د دوی د مخالفتونو او د طالبانو په لاس د ایراني دیپلوماتانو د وژل کېدو په سبب گڼلی وی، خو دا چې گورو په عراق کې هم ایران پلوه شیعه او د ایران په لاس روزل شوي او مسلح شوي عراقي ډلي امریکایانو ته تسلیمېږي او د امریکایانو تر قومندې لاندې د سنیانو په ضد جنگېږي او هلته هم هغه کار کوي چې دلته ئې په افغانستان کې کوي، دا که په کوم څه دلالت کوي نو هغه یوازې دا خبره ده چې د ایران او امریکا ترمنځ په ظاهر کې یو څه او په خفا کې بل څه روان دي!! په ظاهر کې یو د بل په ضد تبلیغات او گواښونه او په خفا کې موالات او گډ سازشونه، هم د سپینې ماڼۍ واکداران داسې یوه سیاست ته اړ دي او هم د تهران واکمنان، که په افغانستان او عراق کې ملگرتیا یو ضرورت گڼي او خپلې گټې په کې لټوي، نو د خپلو ولسونو د اعتماد او باور ترلاسه کولو لپاره دغه تبلیغات هم یو ضرورت او د دواړو مجبوریت دی!!

که تاسو لږ دقت کړی وي نو دا به درته معلومه شوې وي چې د دواړو ترمنځ تبلیغات په خاصو خاصو وختونو کې تشدید شي، بیا ورو ورو راکم شي او بیا د اوږدې مودې لپاره نه یوازې بند شي بلکې د منفي او دښمنانه تبلیغاتو ځای دوستانه څرگندونو ته خالي شي!! یو به وایي: موږ پر ایران د حملې اراده نلرو، غواړو مشکلات د تفاهم له لارې حل کړو، بل به وایي: که په عراق او افغانستان کې د ایران مرسته او ملگرتیا نه وی نو امریکا په دومره آسانۍ او دومره ژر کابل او بغداد نه شو نیولی!!

دا هم یو حقیقت دی چې ایران د شاه د اقتدار په وخت کې د امریکا لویه اډه وه، د ایران هرڅه د امریکا په لاس کې وو، سیاسي نظام، فوځ، د تېلو په شمول ئې ټولې اقتصادي زېرمې د امریکایانو په واك کې وې، خو امریکایانو شاه او شاهي نظام داسې وموندو چې د اوضاع له ادارې نه عاجز دی، دې نتیجې ته ورسېدل چې دا نظام حتماً ړنگېږي، له هغه نه د دفاع لپاره هغسې څه کول ورته گټور نه دي چې

د مصدق په خلاف ئې وکړل او تښتېدلی شاه ئې بېرته پر ایران مسلط کړ. د نظام نسکورېدل ورته حتمي برېښېدل خو غوښتل ئې دا تبدیلي د روسانو په گټه رامنځ ته نه شي، د هغه وخت حالات داسي وو چي ټول انقلابونه مخصوصاً د شاهي رژیمونو په ضد د مسکو په اشاره او مرسته ترسره کېدل. د مجاهدین خلق په نامه ډلي چي د شاهي نظام د نسکورولو لپاره لگیا وه، پوره زور موندلی وو، په ځوانانو او فوځ کي ئې نفوذ ورځ په ورځ زیاتېدو، دې ډلي چي په پاریس کي ئې فعال دفتر درلود، له امریکایانو سره د خپلو تماسونو په ترځ کي هغوی ته ډاډ ورکړ چي کمونست نه یو او له مسکو سره ارتباط نلرو، په ایران کي د زوړ شاهي نظام په ځای یو نوی دیموکراتیك نظام راوستل غواړو او تاسو ته تر شاه غوره یو، دوی ورسره موافقه وکړه، پر افغانستان د روسانو برید دوی له دې نه سخت وېرولي وو چي که کوم مؤثر اقدام ونه کړي نو ایران به هم د افغانستان په څېر د روسانو په لاس کي پرېوځي، دا ئې ځان ته غوره وگڼله چي پرېږدي شاهي نظام د حزب توده په ځای د مجاهدین خلق په لاس نسکور شي. د شاه په ضد مقاومت زور واخیست، مجاهدین خلق په دې هم وتوانېدل چي د ایران ځیني مذهبي مشران له ځان سره ملگري کړي، خمیني چي هغه وخت په نجف کي اوسېدو او د امام لقب لا نه وو ورکړی شوی، له دوی سره موافقه وکړه او د دوی په وینا له نجف نه پاریس ته ولاړ، دا هغه وخت وو چي د شاه په ضد مقاومت دې مرحلې ته نږدې شوی وو چي په عمومي پاڅون بدل شي، روسان په افغانستان کي مصروف ول او امریکایان له شاه نه مأیوس شوي وو، د انقلابیونو لپاره په زړه پوري شرایط برابر شوي وو، انقلاب پیل شو، لا څو اونۍ نه وې تېري شوې چي فوځ او پولیس له انقلابیونو سره یو ځای شول، شاه وتښتېدو، نظام نسکور شو او ایراني انقلابیون بریالي شول، امریکایانو نه د انقلاب په دوران کي مداخله وکړه او نه ئې د شاه له تښتېدو وروسته د هغه مرسته وکړه، انتظار ئې دا وو چي ایران او زېرمې به ئې د دوی له ولکي څخه نه وځي، خو له انقلاب نه وروسته هرڅه هغسي ونشول چي دوی ته د ځینو ایرانیانو له لوري ویل شوي وو او دوی ئې د انقلاب له بریا نه وروسته په انتظار کي ول، په داخل کي هم د مجاهدین خلق او مذهبي ډلو او شخصیتونو

ترمنځ هغه دوستانه روابط په خپل حال پاتې نه شول، د اقتدار د وېش په سر هم او د سیاستونو په سر هم په دوی کي ژور او نه پخلا کېدونکي اختلافات راولاړ شول، له دې نه مخکي مذهبي مشرانو خاص تنظیم او ډله نه درلوده، خو له هغه وروسته چي خمیني د امام او رهبر په حیث ومنلی شو، دوی ته دا موقع په لاس ورغله چي د امام خمیني پر محور راغونډ شي، د بهشتي په څېر د دوی ځیني حساس شخصیتونه دې ته متوجه شول چي له ګواښونو سره د مقابلې لپاره یوه منظم او مطمئن مسلح ځواك ته ضرورت لري، په فوځ، پولیس او استخباراتو اعتماد نه شي کېدی، د سپاه پاسداران انقلاب د جوړولو طرحه ئې وړاندي، موافقه او امکانات ئې ترلاسه کړل او د جوړولو کار ئې پیل کړ، حقیقت دا دی چي که دغه کار نه وی شوی نو د هغو ټولو داخلي او خارجي ګواښونو په وړاندي مقاومت کول ورته ممکن نه وو.

مذهبي مشرانو ته له مجاهدین خلق سره اختلاف په ډېره ګرانه بیه تمام شو، د بهشتي او مطهري په څېر اکثر مؤثر شخصیتونه ئې ترور شول، د ترورونو په لړ کي یو ځل جمهور رئیس، لومړی وزیر، د پارلمان د۷۲ غړو په شمول د پارلمان په غونډي کي په لویې چاودنې کي ووژل شول، بني صدر د دوی بل جمهور رئیس له مجاهدین خلق سره ملګری شو او د دې ډلي له مشر مسعود رجوي سره یو ځای د تهران د هوائي میدان له لاري او په ایراني الوتکي کي پاریس ته وتښتېدل، دغو اقداماتو په ښکاره ډول څرګنده ښودله چي دوی څومره په نظام کي نفوذ درلود. بل طرف ته د مذهبي مشرانو پلوي ځواکونو د مجاهدین خلق په لسهاوو زره کسان ورته ووژل.

پدغه دوران کي امریکایانو څو ځله د فوځ له لاري د کودتا هڅه وکړه خو دا هڅې شنډې شوې، فوځ تصفیه شو، په مقابل کي ئې سپاه پاسداران د یوه پیاوړې ځواك په حیث رامنځ ته شو، د عراق او ایران په جګړي کي له عراق سره د امریکا مرستو هم دا نتیجه ورنه کړه چي په ایران کي د امریکا د خوښي تبدیلي راشي. دا طبیعي ده چي امریکا به تل دا هیله لري او دا هڅه به کوي چي ایران یو ځل بیا د دوی په لاس کي پرېوځي، هیڅکله هغه حالت نه شي هېرولی چي ایران دا د سیمي مهم هېواد او د تېلو او ګازو پراخې زېرمې ئې د دوی په لاس کي وې.

اوس چي شوروي اتحاد ختم شوی او امریکا ځان د نړۍ یوازنی زبرځواك ګڼي او پر ټولي نړۍ د سلطې هڅه کوي، طبیعي ده چي د ایران په څېر هېواد هېر نه کړي، په ایران کي هم ځیني حلقې دا نظر لري چي له امریکا سره دوستي د دوی په ګټه ده، مخالفت ئې په ګرانه بیه ورته تمامېږي، همدغه ذهنیت خاتمي قدرت ته ورساوو، خو هغه په دې کي پاتې راغی چي په ایران کي د امریکا د خوښي تغییرات راولي. د کابل او بغداد په نیولو کي له امریکا سره د تهران ملګرتیا هم له دغه ذهنیت نه خړوبه کېږي.

د دې احتمال ډېر ضعیف برېښي چي ایران به د اتمي انرژۍ په سر له امریکا سره داسي اختلاف ته ملا وتړي او داسي څه کولو ته به زړه ښه کړي چي په برید منتهي شي، ایران به په دې ډګر کي هم هغه څه کوي چي امریکا ئې غواړي، دلته به هم د واشنګټن شرایطو ته غاړه ږدي، دوی په افغانستان، عراق او لبنان کي ټول هغه څه وکړل چي امریکایانو غوښتل، له دې نه هر څوك په آسانۍ سره دا نتیجه اخیستی شي چي تهران به د اتمي انرژۍ په هکله هم دې ته ورته روغه جوړه کوي!! د لبنان له پېښو نه هم معلومېږي چي هلته هم د سپیني ماڼۍ ټول شرایط منل شوي، د سوریې د فوځونو له وتلو وروسته به حزب الله هم خپلي وسلې داسي تسلیموي لکه چي په افغانستان او عراق کي ایران پلوو ډلو وسپارلې. که امریکا په عراق کي مستقر د مجاهدین خلق ۲۵۰۰۰ کسیز مجهز فوځ د ایران په ګټه منحل کړ او که ایران د عراقي شیعه وو هغه ۱۵۰۰۰کسیز سپاه بدر چي ایران روزلی او مجهز کړی وو، دې ته اړ کړ چي خپلي وسلې امریکایانو ته وسپاري او دا دواړه د یوه توافق له مخې ترسره شول نو طبیعي ده چي حزب الله به هم خپلي وسلې سپاري.

انګرېزان او امریکایان دې نتیجې ته رسېدلي چي په اسلامي نړۍ کي د شیعه او سني اختلاف ته لمن ووهي او له دې نه د مسلمانانو د مزید ځپلو په لار کي استفاده وکړي، دوی داسي انګېري چي اوس په هر ځای کي سنیان د دوی مقابله کوي، په هیڅ ځای کي د شیعه وو کوم د پام وړ مسلح مخالف غورځنګ نشته، ټول جنګیالي مسلح ځواکونه له سنیانو راولاړ شوي، غواړي د دغو غورځنګونو د

ماتولو لپاره د شیعه وو ملګرتیا ترلاسه کړي، د افغانستان، عراق او ګڼ شمېر نورو سیمو پېښې دغه حقیقت په ګوته کوي.

دغو ټولو حقایقو ته په پام سره ویلی شو چي پر ایران د امریکا د برید خبره هسې یوه ډرامه ده چي د تبلیغاتي مقاصدو لپاره مطبوعاتو ته ورکول کېږي.

حکمتیار

# ایراني فلم ته امریکائي جائزه!!

د ایران د ارشاد او فرهنگ وزارت د اسامه په نامه او د طالبانو په ضد یو داسي فلم جوړ کړ چي امریکایانو ورته جائزه ورکړه! دا هم یو له هغو کارونو نه وو چي امریکایانو نه شو کولی خو ایران ورته وکړ. دا فلم د صدیق برمك لخوا ، د ایران پلوه افغانی شیعه وو په اشتراك او د ایران د ارشاد او فرهنگ وزارت په مالي مصرف، لاربنوونه او تخنیکي مرستو جوړ او په اروپا او امریکا کي د لومړي ځل لپاره وښودلی شو او د ټولو هغو کړیو تحسین او تقدیر ئې ترلاسه کړ چي د اسلام او مسلمانانو په ضد ئې زړونه له حقد او کینې ډك دي او هر هغه کتاب، فلم، ډرامې او لیکنې ته جائزې ورکوي چي اسلام یو زوړ او قرون وسطائي دین او مسلمانان جاهل، وروسته پاتې، غیر مهذب او غیر متمدن قوم وښیي او په اسلامي ملکونو کي په ښځو ظلم او تیری، په زور نکاح، له تعلیم او تربیې نه د دوی محرومیت او د ټولنې فقر او لوږه په ډېره کرکجنه بڼه په کي انځور شوی وي، که څه هم دا لیکنه او فلم د محتوی له لحاظه ډېر پریوتی او منحط او د واقعیتونو په انځورولو کي سخت کمزوری وی او په بې بنسټه، مسخره، دروغجنو او غولوونکو صحنو شامل وي. د اسامه فلم د علی شریعتی په دې وینا پیل شوی چي وایي: خدایه ما له هغو کسانو څخه مه کړې چي دین په دنیا خرڅوي، له دې نه د فلم د جوړوونکی مقصد دا دی چي ملایان دین په دنیا خرڅوي. په دې فلم کي به تاسو د سنیانو سره د ایرانیانو هغه زړه کینه او حقد هم په ښه توگه او په خپلي کاملې بڼې کي احساس کړئ چي د دوی په زړونو کي خوټېږي او وخت ناوخت راڅرگندېږي. په دې فلم کي موږ له صلیبي ځواکونو سره د ایران هغه ملگرتیا په بله بڼه کي گورو چي د افغانستان او عراق په نیولو کي ئې له امریکا سره وکړه، دا

عجیبه مه ګڼئ چي ایران د افغانانو په ضد فلم جوړوي او امریکا ورته جائزه ورکوي. مګر ایران په ټولو مخکنیو صلیبي جنګونو کي د سنیانو په ضد له صلیبي ځواکونو سره ملګرتیا نه ده کړې؟ مګر په هند کي د انګرېزانو په ضد د هندي مسلمانانو د مقاومت په دوران کي او هغه وخت چي زمانشاه د کابل واکمن له لاهور نه د ډیلي په لور وخوځېدو او د هند مظلوم مسلمانان د ده رارسېدو ته سترګې په لار وو، ایران د انګرېزانو په اشاره په هرات حمله ونه کړه او زمانشاه ئې له نیمې لاري بېرته د کابل په لور راستنېدو ته اړ نه کړ؟ او په دې سره ایرانیانو د هند په نیولو او د مسلمانانو په ځپلو کي د انګرېزانو مرسته ونه کړه؟ دا اوس اوس د افغانستان او عراق په نیولو کي ایران د صلیبي ځواکونو خوا ونه نیوله؟ او افغاني او عراقي ایران پلوه شیعه ډلو ته ئې ونه ویل چي له امریکایانو سره لاس یو کړي او د دوی تر قومندې لاندي له سنیانو سره وجنګېږي؟ مګر د خاتمي، رفسنجاني، ابطحي او خرازي په څېر ایراني چارواکي په ډېر افتخار او په مکرره توګه دا نه وايي چي ایران د افغانستان او عراق په نیولو کي د امریکا مرسته وکړه او که دا مرسته نه وی نو امریکا په دومره آسانۍ افغانستان او عراق نه شو نیولی او دا چي ایران له امریکا سره دا راز ملګرتیا ته په هرځای کي تیار دی!! مګر هغه ایراني وسلې او د ایران په لاس روزل شوې مسلح شیعه ډلي چي پرون د طالبانو او بغداد په ضد جنګېدل، امریکایانو ته تسلیم نه شوې او نن د امریکایانو تر قومندې لاندي نه جنګېږي؟ مګر دې ته نه ګورئ چي ایراني چارواکو تراوسه یو ځل هم په رسمي توګه دا نه دي ویلي چي بهرني ځواکونه دې له افغانستان نه ووځي؟!
مګر نه ګورئ چي صلیبي ځواکونه په نجف او کربلا برید کوي، خو د عبدالعزیز حکیم او السیستاني په څېر ایران پلوه شیعه آخوندان، چي د بغداد په امریکائي حکومت کي شامل شوي، د یوه بیان د صادرولو په اندازه هم عکس العمل نه ښیي! ایران د علي رضي الله عنه د روضی په تخریب خفګان ښیي خو د زرهاوو مظلومو افغانانو او عراقیانو په مرګ ژوبلې ئې تندی هم نه تریو کېږي، دا په داسي حال کي چي الله تعالی د یوه مسلمان په قتل هومره ناراضه کېږي چي د ځمکي، آسمانونو او د مکي په شمول د ټولو مقدسو ځایونو په ورانېدو دومره نه ناراضه کېږي!! د

اسلام له نظره خو د يوه مسلمان وينه د نړۍ تر ټولو مقدسو ځايونو زيات ارزښت لري.

په دې خبري تعجب پكار دى چي ايراني آخوندان څنگه په دې نه پوهېږي چي په يوه بې محتوى او مسخره فلم كي هغه صحنې ښودل چي د اسلام دښمنان ئې خوښوي او د اسلام په ضد ترې استفاده كوي او د افغانى ملا سپكاوى او د ده په ږيري، پگړۍ، غسل، اودس او استنجاء تمسخر، د ده په نكاح تړلو او قضاوت خندا، دا په پاى كي د ايراني آخوندانو لمن هم نيسي، د ايران آخوندان هم په دوى قياسوي، سبا به د ايراني آخوند په اړه همداسي فلم جوړوي چي په هغه كي ايراني آخوند د خپل مقلد وړه لور صيغه كوي، كه افغاني ملا د خره په كراچۍ سپور ښيي او لس كلنه نجلۍ په زور ځانته نكاح كوي او د درنو كولپانو هار ورته ډالۍ كوي، په داسي حال كي چي له دې د مخه ئې دوې نورې ښځي هم په زور نكاح كړې، ټولي د كولپ شوو دروازو شا ته په بندو كوټو كي ساتي او د كور دروازه هم د وتلو په وخت كي ورپسې كولپ كوي، داسي خندونكي صحنې چي عملي مثال ئې د نړۍ په هيڅ گوټ كي نه دى ليدل شوى، په افغانستان كي خو ئې تصور هم نه شي كېدى، دلته خو ملا كه څه هم تر بل هرچا بې وزلى، نادار او مسكين وي، يوه ښځه او ماشومان ئې هم سم نه شي پاللى، خو تر هرچا زيات مخور، دروند او د عزت خاوند گڼل كېږي، نه ځان ته څوك په زور نكاح كولى شي او نه د بل چا د زور نكاح ترسره كولى شي، د ايراني ملايانو په څېر نه دي چي خمس او زكات ترلاسه كوي، زيارتونه ئې په واك كي وى او شكرانې او نذرانې وركول كېږي، بل ته هم په صيغې نكاح تړي او ځانته هم. سبا به څوك له همدې فلم نه په تقليد سره، ايراني آخوند ښيي چي هر اُستان (ولايت) ته په سفر كي د خپل يوه مقلد لور صيغه كوي، د امام رضاء او امام زمان په نامه چي كومي عرض پاڼې د قبر خوا ته يا هغه خاص ځاى كي اچوي نو مؤظف آخوند په پټه هغه رااخلي، ځواب ئې ليكي او په پټه ئې په خاص ځاى كي ږدي، ترڅو عريضه كوونكى هغه په دې گمان او هيلې راواخلى چي امام ئې د ده عريضې ته ځواب وركړى!!

ايران داسي نور فلمونه هم جوړ كړي، څه ئې د مخملباف او د ده د لور په لاس

او څه ئې د ايران د صدا او سيما له لوري، په ټولو دغو فلمونو کي څو اساسي برخي مشترکي دي: د افغانانو جهاد ته په سپکه کتل، د افغانانو تحقير او تذليل او د يوه جاهل، وروسته پاتې او غيرمهذب قوم په څېر ئې وړاندي کول، لرغوني افغانستان ته فقط ۲۵۰کلن تاريخ ثابتول او د لوی ايران هغه برخه ئې ګڼل چي د احمد شاه ابدالي په وخت کي ترې بېله شوه. ايران يوازي د داسي بې محتوی او مسخره فلمونو او کتابونو په ذريعه د افغانانو د تاريخ مسخ کولو هڅه نه ده کړې بلکي زموږ د هېواد په ټولو ناخواله پېښو کي تر بل هر ګاونډي د ايران ونډه خطرناکه، مضر او تاوان رسوونکې وه او ده، زموږ په کورنيو چارو کي ئې تر بل هر ګاونډي هېواد نه زياته لاسوهنه کوي، د داخلی جګړو لپاره ئې تر بل هر ګاونډي زياتې وسلې او پيسې لېږلې، تر هرڅا د ايران دښمني له افغانانو سره زياته او ژوره ده، د افغانستان په تباهۍ کي خپلي ګټی لټوي، زموږ په هېواد کي د جګړو دوام غواړي، يو ځواکمن افغانستان د ځان لپاره خطرناك ګڼي، ضعيف، محتاج، غريب، فقير او جنګ ځپلی افغانستان خوښوي، دا هڅه کوي چي اقليتونه د پښتنو په ضد تحريك کړي، د دوی متحده جبهه د پښتنو په خلاف وجنګوي، تاجك او شيعه په افغانستان مسلط کړي، په اقتدار کي دوی ته لويه برخه په لاس ورکړي، له روسانو سره ئې د همدې ناولي غرض لپاره لاس يو کړ، له امريکايانو سره ئې د همدې شوم هدف لپاره ملګرتيا وکړه، پرچميان، شورای نظار او ايران پلوه شيعه ډلي ئې د همدې لپاره د جبل السراج په خائنانه تړون کي راغونډ کړل. دوی له افغانانو نه د هغه وخت غچ اخيستل غواړي چي شاه محمود هوتك د اوسني ايران لويه برخه د پلازمېني په شمول فتحه کړې وه او په اصفهان کي ئې د حکومت مرکز او پايتخت وو، په اصفهان کي د شاه محمود هوتك پاچائي قصر په دوی کي تل دا وېره راولاړوی چي متحد او ځواکمن افغانستان کولی شي د تېر وخت په څېر دوی ته ستونزي راولاړې کړي او په سيمي کي د ايران د لوئې غوښتنې په وړاندي ستر خنډ جوړ کړي.

ايراني چارواکي په افغانستان کي د شيعه وو لپاره په حکومت کي د لويي برخي غوښتنه کوي، فيدرالي نظام او د شيعه وو لپاره خپلواکه سيمه او ولايت

غواړي، خو په ايران کې نه د فيدرالي نظام خبره کوي او نه اقليتونو ته د عادلانه، انساني او اسلامي حقوقو او حيثيت ورکولو په هکله څه ويلو او کولو ته تيار دی، په دې اړه نه په خپله د مسئوليت احساس کوي او نه نورو ته د څه ويلو اجازه ورکوي، شايد دنړۍ په هيڅ گوټ کې له اقليتونو سره هومره جفا او ظلم ونه شي لکه په ايران کې چې له سنيانو سره کېږي، تاسو لاړ شئ او له بلوڅانو او کردانو نه پوښتنه وکړئ چې په اوسني ايراني نظام کې له دوی سره څه سلوك کېږي؟ دوی ته څه حقوق ورکړی شوي؟ په فوځ، پوليس، سپاه او دولتي اداراتو کې د دوی څومره کسان شته؟ سنيانو ته په کومه سترگه کتل کېږي؟ زردشتيانو، مسيحيانو او يهودانو ته زيات حقوق ورکړی شوي که سنيانو ته؟ سنيانو ته د دوست په سترگه کتل کېږي که د دښمن په سترگه؟! د دوی له دردناك حالت نه له خبريدو وروسته به پوه شئ چې د ايراني حکومت معامله له سني اقليتونو سره څنگه ده. افغانستان، پاکستان او نورو اسلامي هېوادونو ته په کار دا ده چې له شيعه وو سره همغه څه وکړي چې ايران ئې له سنيانو سره کوي، په دې سره به د دوی عقل سر ته راشي او په ايراني سنيانو به له تېری او ظلم نه لاس اخيستو ته اړ شي.

دا يوازې افغانان نه دي چې ايران ئې مخالفت کوي او د دوی په هېواد کې د داخلي جگړو اور ته لمن وهي، بلکې له ټول اسلامي امت سره او د اسلامي امت د تېر تاريخ په اوږدو کې تل دوی اختلافات راولاړ کړي او له دښمن سره د نښتو په دوران کې دوی د دښمن ملگرتيا کړې، د دغو اختلافاتو څو بېلگو ته ستاسو پام رااړوو:

- ټول امت په دې متفق دی چې امارت او خلافت موروثي نه دی او له پلار نه اولاد ته په ميراث نه رسي، بلکې د خلکو له لوري د يوه امانت په توگه هغه چا ته سپارل کېږي چې خلك ئې د دې منصب لپاره (اهل) وگڼي. په قرآن کې په صريحو الفاظو مسلمانانو ته دا دنده سپارل شوې چې دا امانت به (اهل کس) ته سپاري: لکه چې فرمايي:

إِنّ اللّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الأَمَنَت إِلى أَهْلِهَا وَ إِذَا حَكَمْتُم بَينَ النّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إِنّ اللّهَ نِعِمّا يَعِظكُم بِهِ إِنّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيراً *

النساء: ۵۸

الله تاسو ته امر کوي چي امانتونه د هغه اهل ته وسپارئ او کله چي د خلکو ترمنځ حکمیت او قضاوت کوئ نو په عدل سره حکمیت وکړئ. یقیناً چي الله په ډېر غوره څه تاسو ته پند درکوي، بې شکه چي خدای اورېدونکی لیدونکی دی.

په دې مبارك آیت کي هم د عام ولس دنده ټاکل شوې او هم د واکدارانو: ولس ته ویل شوي چي خپل واکداران په خپله غوره کړئ او (واك) د یوه (امانت) په څېر هغه چا ته وسپارئ چي (اهلیت) ئې ولري. او واکدارانو ته ویل شوي چي په خپل حکمیت او قضاوت کي به عدالت مراعاتوئ.

شیعه دې ته هم نه ګوري چي الله تعالی دا حق خلکو ته ورکړی چي خپل واکداران په خپله غوره کړي او د (واك) امانت (اهل) ته وسپاري، که امارت یا موروثي وی او یا د وحي په اساس ټاکل کېدی نو په قرآن کي به مسلمانانو ته دا نه ویل کېدو چي د واك امانت اهل ته وسپارئ. شیعه دې ته هم نه ګوري چي د پیغمبر علیه السلام له رحلت نه وروسته ابوبکر صدیق، بیا عمر او بیا عثمان رضي الله عنهم د خلکو لخوا د امارت لپاره غوره شوي، نه د پیغمبر علیه السلام له خپلوانو نه چا ته په میراث رسېدلی او نه د راشدینو خلفاوو له وفات نه وروسته د دوی له زامنو او خپلوانو نه څوك غوره شوی. قرآن په دې اړه چي په اسلام کي قیادت موروثي نه دی، د ابراهیم علیه السلام په قصې کي داسي وضاحت کوي: ابراهیم علیه السلام په الهي آزموینو کي بریالی شو، الله تعالی ورته وویل چي د دې بریا په وجه تا د خلکو لپاره امام او مشر ګرځوم، هغه وویل: زما په اولاد هم دا پېرزوینه وکړه، الله تعالی په ځواب کي ورته وویل: ظالمان په دې عهد او فرمان کي شامل نه دي، یعني د الله دا وعده داسي نه ده چي د پلار په وجه به اولاد هم ترې برخمن کېږي، حتی که ظالم هم وي، که قیادت موروثي وی نو له پلار نه به ظالم اولاد ته هم په میراث پاتې کېدو. قرآن په دې هکله فرمايي:

وَ إِذِ ابْتَلى إِبْرَهِيمَ رَبُّهُ بِكلمَت فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنى جَاعِلُك لِلنَّاسِ إِمَاماً قَالَ وَ مِن ذُرِّيَّتى قَالَ لا يَنَالُ عَهْدِى الظلِمِينَ * البقرة:۱۲۴

او كله چي ابراهيم خپل رب په څو كلمو وآزمويو او هغه ترسره كړې، نو الله ورته وويل: زه دې د خلكو لپاره امام گرځوم، ده وويل: او زما له اولاد نه هم، الله وفرمايل: زما ژمنه ظالمانو ته نه رسي.

موروثي قيادت كه دا سياسي وي يا اجتماعي او يا هم مذهبي، هم دعقل خلاف دی، هم د نقل او هم د عدل، د همدې لپاره په پورتني آيت كي او د ابراهيم عليه السلام د غوښتنې په ځواب كي ويل شوی چي زما ژمنه (ظالمانو) ته نه رسي، يعني دا صريح ظلم دی چي امامت موروثي شي او له پلار نه زوی ته انتقال شي، دا بېله خبره ده چي كه په زوی كي د پلار په څېر كفايت او اهليت وي او الله تعالى ئې د مشرتابه لپاره غوره او خلك ورباندي راغونډ شي او مشر ئې وټاكی، دی ته په موروثي توگه د قيادت د انتقال نوم نه شو وركولی. همدا راز كه د اسلام تاريخ ته ځير شو نو وبه گورو چي د پيغمبر عليه السلام له رحلت نه وروسته، د ده په يارانو، مهاجرينو او انصارو كي هيچا دا ونه ويل چي پيغمبر عليه السلام د خپل ځای ناستي او راتلونكي امير په اړه كومه توصيه او سپارښتنه كړې، له تفصيلي مناقشې او بحث نه وروسته ټولو په دې اتفاق وكړ چي ابوبكر رضی الله عنه خپل امير وټاكي، هغه ئې تر بل هرچا د دې منصب لپاره وړ وگڼلو، د صحابه وو د دې اجماع او توافق په وجه ټول امت له شيعه گانو نه پرته په دې متفق دي چي ابوبكر رضي الله عنه له پيغمبر عليه السلام نه وروسته د امت افضل شخصيت دی، د ده د انتخاب په ورځ هيچا ونه ويل چي علی رضي الله عنه تر نورو غوره دی او پيغمبر عليه السلام د ده په اړه كومه سپارښتنه كړې، دا ممكنه نه وه چي رسول الله صلي الله عليه و سلم دې د چا په هكله سپارښتنه كړې وي او صحابه دې هغې ته اعتناء ونه كړي او د خپل پيغمبر د سپارښتنې خلاف دې بل څوك غوره كړي. متأسفانه شيعه د ټول امت او د ټولو صحابه وو د رأيې خلاف ادعا كوي چي علی رضي الله عنه د پيغمبر وصي او وارث دی او پيغمبر عليه السلام ته ئې نسبت داسي دی لكه

د هارون علیه السلام نسبت موسی علیه السلام ته!! متأسفانه دوی په دې هم نه پوهېږي چي د هارون علیه السلام په اړه په تورات او قرآن کي په ډېر صراحت سره یادونه شوې او هغه د الله له لوري د پیغمبر په حیث غوره شوی، که د پیغمبر علیه السلام په څنګ کي د بل پیغمبر یا د ده د وارث او ځای ناستي ټاکل ضروري وی نو الله جل شأنه به د هارون علیه السلام په څېر په قرآن کي د هغه یادونه کړې وه. په ټول قرآن کي یو داسي آیت نه موندل کېږي چي صراحتاً یا اشارتاً دې د علی رضي الله عنه یادونه په کي شوې وی. دا خو پرېږده چي هغه ته دې د هارون علیه السلام مقام ورکړی شوی وي، شیعه ګان د ټول امت، مفسرینو او صحابه وو د رأیې خلاف ادعا کوي چي د قرآن په درې سوو آیتونو کي علی رضي الله عنه ته اشاره شوې، دا ادعا د پیغمبر علیه السلام له رحلت نه وروسته تر څلورو پېړیو پوري هیڅچا ونه کړه، څلور پېړۍ وروسته یو کس راولاړ شو، د یوه نوي مذهب اساس ئې کېښود، علی رضي الله عنه ته ئې څه اقوال منسوب او په یوه کتاب کي ئې راغونډ کړل، دا ادعا ئې وکړه چي امامت موروثي دی، له پیغمبر نه باید علي ته او له هغه نه د ده اولاد ته انتقال شوی وی، ابوبکر، عمر، عثمان او ټول هغه صحابه رضي الله عنهم ئې غاصبان وګڼل چي د علي رضي الله عنه په ځای ئې نور د امامت او امارت لپاره غوره کړل. دا په داسي حال کي چي علی رضي الله عنه له ده نه مخکي له ټولو خلفاوو سره بیعت کړی، په ټولو پسې ئې هره ورځ پنځه وخته د جمعې په لمانځه کي اقتدا کړې، له هیڅ یوه سره ئې اختلاف نه دی کړی، هیڅکله ئې دا نه دي ویلي چي امامت د ده حق دی، نه ده دا خبره کړې او نه د ده موئیدینو چي امامت موروثي دی او باید د پیغمبر په کورنۍ کي د ده نږدې خپلوانو ته انتقال شي. که دا موروثي هم وی نو باید زوی، د زوی د نشتوالي په صورت کي ورور، لور او ښځي ته په میراث رسېدلی وی، نه د ډېرو ترونو له ډېرو زامنو نه یوه ته، دا دوی ولې د یوه تره په شته والي کي د بل تره زوی یوازنی وارث ګڼی؟ په داسي حال کي چي د پیغمبر علیه السلام تره عباس رضي الله عنه ژوندی وو نو د بل تره زوی علي رضي الله عنه به د کوم شریعت له مخي وارث ګڼل کېږي؟

د دې غلطي انګېرنې په سبب شیعه ګانو د امام غائب عقیده له ځانه جوړه

کړه، چې بيا دغې خرافې، غلطۍ او بې بنسټه عقيدې دوی ته مزيد مشکلات راولاړ کړل، دوی ئې د اجتماعي بدلون او اسلامي ټولنې د جوړولو لپاره له هر راز هڅو نه منع کول او دوی ته ئې د امام مهدي تر راتلو د انتظار درس ورکاوو. د ايران انقلاب او د دې انقلاب په نتيجه کې د شيعه آخوندانو قدرت ترلاسه کول، شيعه له نوې ستونزې سره مخامخ کړل، دوی د داسې تحول لپاره په خپل مذهب کې توجيه نه درلوده، دا خو هم د انتظار د عقيدې خلاف وه او هم د موروثي امامت خلاف. شيعه آخوندانو له دې ستونزې نه د وتلو لپاره د ولايت فقيه مفکوره راوايستله، دا اختراع په اصل کې د امامت په هکله د شيعي عقيدې او په اجتماعي انقلاب او سياسي نظام کې د شيعه وو د اشتراك ترمنځ د تناقض ختمولو لپاره رامنځته شوه، د (ولايت فقيه) مفکوره د (انتظار) او (موروثي) امامت له باورونو سره په ايراني نظام کې د شيعه آخوندانو د برخې اخيستو له تکراو نه راوزېږېده، دوی (ولی فقيه) د (امام غائب) ځای ناستی وګاڼو او ادعا ئې وکړه چې (ولی فقيه) له (امام غائب) سره روحاني ارتباط ساتي او هغه ئې لارښوونه کوي. د ايران انقلاب له شيعه مذهب نه نه دی راخوټېدلی، دا انقلاب د (مجاهدين خلق ايران) د هڅو په نتيجه کې رامنځته شو، دوی د انقلاب په يوه حساس او مخکې تللی پړاو کې خمينی راوړاندې کړ، د دې لپاره چې د عام ولس مزيد ملاتړ ترلاسه کړي او د آخوندانو د مخالفت مخه ونيسي، که څه هم د دوی دا ابتکار مؤثر ثابت شو او د دوی پاڅون ته ئې ملي او عمومي بڼه ورکړه خو د انقلاب له بري نه وروسته ئې دوی ته هومره ستونزې راولاړې کړې چې چاره ئې ورته ګرانه شوه او په پای کې د دوی او آخوندانو ترمنځ په مسلحانه تصادم منتج او له هېواد نه د دوی د وتلو باعث شو. دوی داسې ګمان کاوو چې د انقلاب له بري وروسته په ډېره آسانۍ کولی شي د آخوندانو چاره وکړي، که څه هم د دوی ډېر مهم او مشهور کسان ئې يو په بل پسې ترور کړل، جمهور رئيس، صدراعظم او د پارلمان ۷۲ غړي ئې په يوه ورځ او په يوه انفجار سره ووژل، خو په دې موفق نه شول چې آخوندان له قدرت نه خلع او په اوضاع مسلط شي. شيعه يو ځل مخکې او هغه وخت هم له داسې مشکل سره مخامخ شوي وو چې امام رضا د مامون الرشيد قيادت ومانو او د هغه په حکومت

کي ئې برخه واخيسته، د دې اقدام د توجيه لپاره اوس شيعه آخوندان وايي چي هغه دې ته مجبور کړی شوی وو، په حکومت کي له برخي اخيستو پرته ئې بله چاره نه وه او بيا د ده د طبيعي وفات په هکله وايي چي مامون الرشيد د زهرو جام ورته ورکړ او ده د مجبوريت او ناچارۍ له مخې او يا په دې خاطر چي نه پوهېدو دا زهر دي، د شربت په ګمان وڅښل او په شهادت ورسېدو!! خو له دوی نه پوښتنه کوو چي تاسو خو امام رضا عالم الغيب ګڼئ او د خپلو حاجتونو تر د سره کېدو لپاره اوس د هغه قبر ته عرائض وړاندي کوئ، څنګه ئې دومره بې وزلی او ناتوان ثابتوئ چي د مامون الرشيد مخالفت نه شي کولی، په يوه نامشروع حکومت کي د مجبوريت له مخې برخه اخلي او د زهرو جام په سر اړوي؟

د ايران د فتحې جګړه د عمر رضي الله عنه د خلافت په دوران کي پيل شوه، لکه څنګه چي ايراني نشنلستانو له فاتح عربو او مخصوصاً د دوی له مشرتابه سره کينه درلوده د دوی اور لمانځونکو مذهبي مشرانو هم دا کينه په زړه کي ساتله، همدا کينه په پای کي د شيعه مذهب په رامنځته کېدو او له ټولو خلفاوو او صحابه وو سره د دوی په دښمنۍ منتج شوه، له عمر رضي الله عنه سره د دوی کلکه دښمني له همدې ځايه نشأت کوي، دا په داسي حال کي چي علی رضي الله عنه خپله لور عمر رضي الله عنه ته په نکاح ورکړې.

په ټولو اختلافي مسائلو کي د شيعه ګانو اختلاف له نور امت سره داسي دی لکه د آذان په اړه د دوی شاذ دريځ، په داسي حال کي چي پيغمبر عليه السلام په مدينه منوره کي تقريباً اتلس زره لمونځونه کړي، د هر لمانځه لپاره آذان شوی، د آذان دا الفاظ تراوسه دا څو پېړۍ په ټولو جوماتونو کي تکرار شوي او د اسلامي نړۍ په ټولو جوماتونو کي تراوسه زمزمه کېږي، خو شيعه وو څو پېړۍ وروسته له ځانه نوي الفاظ په دې آذان کي ورزيات کړل، د اشهد أن علياً ولی الله ... الفاظ ئې په داسي حال کي په خپلو آذانونو کي زيات کړي چي په خپله د علي رضي الله عنه د امارت په وخت کي او حتی هغه وخت چي له مدينې نه کوفې ته ولاړ، هيچا د ده په حضور کي داسي آذان نه دی ورکړی. د شيعه وو په مذهب کي د علي رضي الله عنه او د ده د اولاد رضي الله عنهم په اړه ټولي زياتوني او غُلو د دوی آذان ته ورته دي.

• په داسي حال کي چي ایران تل په امت کي د اختلاف باعث شوی، خو اوس او د ایران د شیعي حکومت له جوړېدو وروسته دوی د امت د یووالي خبره کوي او هغه هم داسي چي د نړۍ ټول مسلمانان به ایران ته د (ام القریٰ) په سترګه ګوري، د (ام القریٰ) نوم د قرآن له لوري (مکي مکرمې) ته ورکړی شوی خو دوی په ډېره بې باکۍ سره دا نوم د ایران لپاره کاروي. دا په داسي حال کي چي دوی د ایران سنیان چي نفوس ئې تر ۳۲% کي زیات دی له ټولو انساني او اسلامي حقوقو نه محروم کړي، په ټول ایراني نظام کي حتی هلته هم چي اکثریت وګړي ئې سنیان دي، لکه سیستان، بلوچستان، کرد مېشته او ترکمن مېشته سیمو کي ئې یو سني هم د مدیر په رتبه کي په کار نه دی ګمارلی، وزیر، معین او رئیس خو پرېږده، په ټول ایراني اردو ، پولیس او سپاه کي هیڅ سني جنرال او عالي رتبه نظامي افسر نه شئ موندلی، د سنیانو اکثر سیاسي او مذهبي مشران ئې یا ترور کړل، یا تبعید او یا ئې په زندانونو کي تر تعذیب لاندي ووژل، په تهران کي سنیانو ته د جومات جوړولو اجازه نه ورکوي، مسیحیان، یهودان او اور لمانځونکي خپل خپل عبادت ځایونه لري خو سنیان ترې محروم کړی شوي، د ایران په تلویزیون کي د داسي صحنې ښودل منع دي چي لمونځ د سنیانو په طریقه وښيي، که څه هم دا په ترکیه، پاکستان، سعودی یا افغانستان کي د کوم جماعت لمونځ وی!! د ایران له شیعي انقلاب نه وروسته؛ هغوی د انقلاب صادرولو ترنامه لاندي، له افغانستان، پاکستان، عراق او نورو هېوادونو نه ګڼ شمېر شیعه ایران ته بوتلل، هلته ئې ترنظامي روزنې لاندي ونیول، د بمونو جوړولو ، انفجاراتو او ترور طَور طریقې ئې وروښودې، ببرته ئې له کافي امکاناتو سره خپلو سیمو ته ولېږل او هلته ئې د سني سیاسي مشرانو او مذهبي علماوو د ترور او د دوی په جوماتونو کي د چاودنو لړۍ پیل کړه او په دې سره ئې په دې هېوادونو کي د مذهبي جګړو هغه اور بل کړ چي تراوسه په زرهاوو بې ګناه شیعه او سني په کي وژل شوي او لړۍ ئې تراوسه په شدت روانه ده. د دوی انقلاب صادرول دا وو چي په جومات کي، د لمانځه په وخت کي، په بې ګناه لمونځ کوونکو مشینګنې وچلوي او دا د الله او امامانو د رضا حاصلولو او جنت ته د رسېدو وسیله وګڼي!!

- له امت سره د شیعه ګانو د اختلاف یوه بله بېلګه موقته نکاح ده چې دوی ئې د (صیغه او متعه) په نامه یادوی!! دوی د څو میاشتو، اونیو او ورځو لپاره خو پربېږده حتی د څو ګنټو لپاره موقته نکاح نه یوازي جائز ګڼي بلکي د هاشمي رفسنجاني په اصطلاح ئې د شیعه مذهب یو مترقي اړخ شمېري!! دا په داسي حال کي چې قرآن په ډېر صراحت سره د نکاح یوه اساسي ځانګړتیا او موخه دا ښیي چې د دې تعلق د دوام او بقا په نیت به تر سره کېږي نه د شهوت ترسره کولو په نیت او غرض. لکه چې فرمایي:

وَ أُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ أَن تَبْتَغُوا بِأَمْوَٰلِكُم مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ ... النساء: ۲۴

او له دې نه علاوه تاسو ته حلالې شوې چې په خپل مال ( د مهر په ورکولو) سره ئې ترلاسه کړئ، د نکاح په قید کي ساتونکي نه د شهوت ترسره کوونکي.

ګورئ چې قرآن نکاح کوونکي د (محصنين) په صیغه یادوی چې د نکاح دوام په ګوته کوي او وایي چې دوی به (مسافحین) نه وي، یعني د شهوت ترسره کولو او خپل شوق پوره کولو په غرض به دې کار ته نه راوړاندي کېږي.

دا مطلب په قرآن کي مکرر راغلی، هم د نارینه وو په اړه او هم د ښځو په اړه او ویل شوي چې دواړه باید د دې قانوني جنسي تعلق د دوام په موخه د نکاح اراده وکړي نه د جنسي تمایلاتو په حکم.

د ښځو په اړه فرمایي:

فَانكِحُوهُنَّ بِإِذْنِ أَهْلِهِنَّ وَ ءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ مُحْصَنَٰتٍ غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ

نو د څښتنانو په اجازه ئې نکاح کړئ او مهر ئې ورکړئ، په داسي حال

کي چي نکاح کېدونکي به وي، نه د شهوت ترسره کوونکې او نه د پټې یار نیونکې.

له دې ټولو څرګندونو نه په ډاګه معلومېږي چي د قرآن له مخې نکاح د کورنۍ د جوړولو او د نسل د دوام لپاره یوه مقدسه معامله ده چي باید په همدې نیت او اراده ترسره شي، نه د شهواني غوښتنو په حکم او د څو شیبو لذت اخیستلو لپاره.

د (صیغه) او (زنا) ترمنځ هیڅ فرق نشته، دا په حقیقت کي د زنا لپاره د شرعي حیلې جوړولو مرادف ده، په دې سره دوی زنا ته شرعي لباس وراغوستی، رفسنجاني د ایران مخکنی جمهور رئیس د پوهنتون زده کوونکو ته د جمعې د ورځي په یوې خطبې کي وویل چي دوی کولی شي په (صیغه او موقته نکاح) سره خپل مشکل حل کړي، د پوهنتون پېغلی او ځوانان د تحصیل په دوران کي کولی شي په خپلو کي موقته نکاح وتړي!! خو حقیقت دا دی چي له شیعه نه پرته نه کوم اسلامي مذهب موقته نکاح جائز ګڼلی او نه په نورو الهي ادیانو کي د هغه د جواز کومه بېلګه موندلی شو.

- یوه بله مسئله چي شیعه د شاذ موقف په غوره کولو سره له نور اسلامي امت نه بېلوي د (تقیه) په اړه د دوی غلط تصور دی. تقیه دې ته وایي چي څوك د خپل زړه خبره پټه وساتي او هغه څه ووایي چي ورباندي باور او یقین نه لري او د ده د اصلي مدعا او د زړه له خبري سره مغایرت ولري. قرآن په هغه سخت او خطرناك حالت کي د داسي څه ویلو اجازه او رخصت ورکوي چي څوك د دښمن په لاس کي پریوتی وي، په مرګ ګواښل کېږي، که له اسلام نه انکار ونه کړي او د کفر کلمه ونه وایي وژل کېږي، په دې حالت کي هغه ته د داسي څه ویلو رخصت ورکوي، خو د اجازی په ضمن کي ورته وایي: که په خپل ایمان ټینګ پاتې شې او د دې ثبات او استقامت په وجه په قتل ورسېږې نو دا د عزیمت خبره ده، هسې هم انسان مري، که دا مرګ ئې د الله په لار کي او په خپل ایمان د ټینګار په حالت کي وي نو دا ورته غوره دی، په داسي مرګ سره خو هغه د خپل رب په لور درومي، باید له هغه وېره ونه لري. قرآن داسي فرمایي:

لا يَتّخذ الْمُؤْمنُونَ الْكَفرينَ أولْيَاءَ من دُون الْمُؤْمنينَ وَ مَن يَفْعَلْ ذَلك فَلَيْس منَ اللّه فى شيءٍ إلا أن تَتّقُوا منْهُمْ تُقَاةً وَ يُحَذّرُكمُ اللّهُ نَفْسهُ وَ إلى اللّه الْمَصيرُ* آل عمران: ۲۸

مؤمنان دي له مؤمنانو نه علاوه كافران په دوستۍ نه نيسي او څوك چي دا كار وكړي نو په هيڅ څه كي له الله سره نه دى (تړولي اړيكي ئې له الله سره شلولې دي) مگر دا چي له هغوى نه څه وېره ولري، دا په داسي حال كي چي الله تاسو له خپل ځانه وېروي او بېرته تگ خو د الله په لوري دى.

دا مبارك آيت كه له يوې خوا مونږ ته لارښوونه كوي چي له كافرانو سره به له دوستۍ ډډه كوو او له دوى سره د دوستۍ په سبب زمونږ تړولي اړيكي له الله تعالى سره قطع كېږي، له بلي خوا د وېرې په حالت كي او هلته چي يو مسلمان د كافرانو په لاس كي پرېوتى وي او په مرگ ئې گواښي، هغه ته دا اجازه وركوي چي دښمن ته د دوستۍ او ملگرتيا خبره وكړي، خو په دې شرط چي په دې كار سره به اسلام او مسلمانانو ته تاوان نه رسوي، يوازي د ځان د ژغورلو لپاره به كومه چاره او حيله لټوي، دا رخصت د ده د ضعف، ناتوانۍ او مجبوريت له مخې وركړى شوى، د عزيمت او قوي ايمان تقاضا دا ده چي په دې حالت كي هم د ثبات او استقامت لار غوره كړي، په خپل ايمان ټينگ پاتې شي او د دښمن په ځاى يوازي له يوه خداى نه وېره ولري او دا ئې په پام كي وي چي مرگ د ده د ژوندون پاى نه دى بلكي د بل ژوندون مقدمه ده، په دې مرگ سره هغه د الله په لور درومي.

متأسفانه شيعه وو منافقت، دوه مخې توب او خدعې ته هم د (تقيه) نوم وركړى او له هرچا سره په هرحالت كي دا (تقيه) جائز گڼي، دا په داسي حال كي چي قرآن خدعه او دوه مخې توب حرام گڼي او د اسلام له نظره له دښمن سره هم خدعه ناجائز ده، د همدغي تقيې په وجه هرڅوك د يوه شيعه مذهبه انسان د هري خبري په باب داسي گمان كوي چي ښايي هغه تقيه كوي او د زړه مقصدي خبره له ده نه پټه ساتي. څوك نه پوهېږي چي د شيعه كومه خبره صادقانه او رښتونې ده او كومه ئې

په تقيه ولاړه خبره.

• شيعه وو ته له زردشتيانو نه فال، کوډې، نجوم او تعويذونه په ميراث پاتې شول او د اسلام په کړۍ کي له ننوتو وروسته ئې همدغو خرافاتو ته مذهبي رنګ ورکړ. د دوی د مذهبي مشرانو يو مصروفيت دا وي چي خلکو ته فالونه وګوري، کوډې وکړي، تعويذونه ورکړي او د نجوم له مخې د خلکو د راتلونکي په اړه وړاندوينې وکړي او په دې سره له دوی شکرانې او نذرانې ترلاسه کړي. د شيعه وو مظلوم عوام په دې نه پوهېږي چي دا خرافات په اسلام کي نشته، اسلام حرام کړي او د دوی ټګمار مذهبي مشران ئې غولوي او له دوی نه د شکرانو د لاس ته راوړو لپاره ئې دا چل ول جوړ کړی. دوی د حافظ شيرازی د شعر په کتاب هم فال نيسي او حتی د فال لپاره ئې داسي قرآن چاپ کړی چي په يوه مخ ئې (خوب يعني ښه) ليکل شوي او په بل (بد)، څوك چي دا قرآن د فال لپاره پرانيزي نو که د (خوب) پاڼه ورته پرانستی شوه کار ئې سم او فال ئې نېك دی او که د (بد) پاڼه پرانيستی شوه نو فال ئې بد او کار ئې د کړو نه دی. که د منتظري په څېر يوه مذهبي مشر ته د ده کوم مقلد ووايي چي د واده اراده لرم، څوك مي غوره کړی، آيا اقدام وکړم که نه؟ نو هغه به همداسي يو قرآن پرانيزي، د پاڼې دې او هغه مخ ته به ګوري، که د پاڼې په سر (خوب) ليکل شوی نو ورته وايي به: هو؛ دا کار ښه دی، وئې کړه او که بد ليکل شوی وو نو ورته وايي: مه ئې کوه، دا کار درته ښه نه دی!!

• په ايران کي د زيارتونو شمېر او په هغوی مصرف هومره دی چي د اروپا د هيڅ ملك په قصرونو هومره مصرفونه نه دي شوي، د امام رضا په قبر چي کوم مصرف شوی ښايي د نړۍ په هيڅ قصر به هومره مصرف نه وي شوی، دا په داسي حال کي چي اسلام د قبر له پخولو، د هغه په سر د ګنبدې له جوړولو او هغه ته د جومات له بڼې ورکولو نه په کلکه ممانعت کړی، پيغمبر عليه السلام په هغو يهودو او نصاراوو لعنت وايي چي د خپلو پيغمبرانو په قبرونو ئې جوماتونه جوړ کړل:

عن عائشة قالت: « قال رسول الله صلى الله عليه وسلم في مرضه الذي لم يقم منه: «لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ»

**له عائشې رضي الله عنها نه روايت شوی چي وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل هغه مرض کي چي ترې روغ نه شو وفرمايل: په يهودو او نصاراوو دې د خدای لعنت وي چي د خپلو انبياوو قبرونه ئې جوماتونه کړل.**

ايرانيانو به د خميني په ژوند کي د ده هغه محقر کور بيا بيا په تلويزيون کي ښودو چي په جماران کي ده د اوسېدو لپاره غوره کړی وو، په دې خبري به ئې فخر کاوو چي د دوی مذهبي مشر د نړۍ د مشرانو خلاف په داسي يوه عادي او فقيرانه کور کي اوسېږي، خو د ده له مړينې وروسته ئې د ده له قبر نه داسي ستر او مجلل قصر جوړ کړ چي د امريکا سپينه ماڼۍ هم ورسره سيالي نه شي کولی.
هسي هم دا لوی ظلم دی چي د يوه هېواد شتمني دې په قبرونو او زيارتونو مصرف شي او هغه هم په داسي حال کي چي پنځه مليونه وګړي ئې د کار پيدا کولو لپاره بهر ته تللي، په مليونهاوو وږي، بې کوره او فقير خلك لري، له دغو مظلومانو نه پيسې اخيستل او هغه په قبرونو مصرفول نه په هيڅ عقل برابر راځي، نه انساني ترحم اجازه ورکوي او نه ئې هيڅ دين او مذهب جائز ګڼي. شيعه وو د علی رضي الله عنه، عباس علمدار او ... په نامه د دنيا په ګوټ ګوټ کي زيارتونه جوړ کړي، هر زيارت د دوی د آخوندانو لپاره د عوائدو لوی مدرك دئ، شيعه وو د هغه علی رضي الله عنه په نامه په لسهاوو جعلي زيارتونه جوړ کړي چي پيغمبر عليه السلام د حجاز د جګو او ګنبدي قبرونو د آوارولو او د ټولو قبرونو له سرونو نه د جنډو راکوزولو کار ورته سپارلی وو او د ده تر قيادت لاندي د دغو خرافاتو د ختمولو کار ترسره شو.

- له امت سره د شيعه وو بل اختلافي ټکی دا دی چي د قرآنکريم د صريح حکم په خلاف او د ټول امت د علماوو د اجماع او اتفاق خلاف په دې ټينګار کوي چي له الله پرته نور ذوات هم علم غيب درلودی شي، دا په داسي حال کي چي قرآن په پوره تأکيد او صراحت سره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته فرمايي چي خلکو ته په څرګندو ټکيو کي ووايه چي زه علم غيب نه لرم، يوازي زېری ورکوونکی او

وېروونکی یم، د الهي وحي امين او د الهي پيغام داسي وړونکی چي بې له کمښت او زيادت نه ئې خلکو ته رسوي، قرآنکريم دا هم بيانوي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم خلکو ته اعلان کړی چي که هغه له جنت، دوزخ، ملائکو، جنياتو، قيامت او نورو پټو امورو څخه خبري کوي او په دې هکله معلومات ورکوي، نو تاسې دا گمان ونه کړئ چي هغه علم غيب لري، برعکس په دې هکله چي هغه څه وايي هغه وحي ده نه د ده شخصي علم او پوهه.

قرآنکريم په دې هکله فرمايي:

قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ* الاعراف:۱۸۸

ووايه: د خپل ځان لپاره د گټې او زيان مالك نه يم، مگر هغه څه چي خدای ئې وغواړي، که زه په غيب پوهېدلی نو د ځان لپاره به مي ډېره گټه ترلاسه کوله او هيڅ تاوان به نه رارسېدو، زه د مؤمنانو ډلي ته د يوه انذار کوونکي او زېری ورکوونکي نه پرته بل څه نه يم.

دا آيت موږ ته په ډېره دقيقه توگه لارښوونه کوي او يو حساس او دقيق معيار په اختيار کي راکوي او وايي: علم غيب د گټې د ټولو مواردو د لاس ته راوړو او د تاوان له ټولو مواردو نه د ځان ژغورنې وسيله ده، څوك چي علم غيب ولري هغه ته له هيڅ پېښې تاوان نه رسېږي، له هيڅ څه نه صدمه نه گوري، د هيڅ دښمن په وړاندي ماتې نه خوري، په خپل ژوندکي له هيڅ خنډ او مانع سره نه مخ کېږي، په هرعمل کي بريالی وي، ځکه پوهېږي چي د ضرر او زيان موارد کوم دي، له هغو نه ځان ساتي، په دې پوهېږي چي د گټې او منفعت عوامل او موارد کوم دی، ټول خپلوي او کار ترې اخلي، له هغه خوړو نه ډډه کوي چي صحت ته ئې ضررلري، د خپل هر درد دوا پېژني، نو په دې اساس نه ناروغه کېږي، نه ئې دښمن دا فرصت موندلی شي چي پر ده غالب شي، ځکه هغه ته د غلبې عوامل او لاري چاري

معلومې وي او ټول د ځان په ګټه په کار اچوي، دښمن نه شي کولی هغه زنداني کړي، له وطن نه ئې وشړي، وئې وژني، د خلکو له ملاتړ نه ئې محروم او کمزوری کړي، دا ځکه چي هغه مخکې له مخکې نه د دښمن له تصميم نه خبريږي او لازم تدابير نيسي، په جګړه کي برى د هغه چا وي چي د مقابل لوري له نقشې، اهدافو، وسايلو او تاکتيك نه خبر وي، د کمزورۍ نقطې ئې ورته معلومې وي. رنځ هم د رنځ له عواملو نه د ناخبرۍ له امله پيدا کېږي، زيان او ضرر هم هغه وخت چا ته رسېږي چي د زيان عوامل او اسباب ونه پېژني. که پيغمبرانو عليهم السلام او نورو لويو شخصيتونو علم غيب درلودی نو په زندانونو کي به نه اچول کېدل، په شهادت به نه رسېدل، ماتې به ئې نه خوړله، له وطن نه به نه شړل کېدل، ملګري به ئې د دښمن په لاس نه وژل کېدل او نه به تعذيبېدل، له مشکلاتو او کړاوونو سره د هغوی مخامخ کېدل په دې دلالت کوي چي هغوی علم غيب نه لري. قرآنکريم د الله رسول صلی الله عليه وسلم ته امر کوي چي خلکو ته ووايي چي علم غيب نه لري:

قُل لا أَقُولُ لَكمْ عِندِى خَزَائنُ اللّهِ وَ لا أَعْلَمُ الْغَيْبَ وَ لا أَقُولُ لَكُمْ إِنى مَلَكٌ إِنْ أَتّبِعُ إِلا مَا يُوحَى إِلىّ *

الانعام: ۵۰

ووايه: زه نه درته وايم چي د الله خزانې له ما سره دي او نه په غيب پوهېږم او نه دا درته وايم چي زه فرشته يم، زه يوازي د هغه څه متابعت کوم چي راته وحي کېږي.

په داسي حال کي چي په هر څه پوه خدای چي عالم الغيب والشهاده دی، په تأکيد او مکرره توګه د قرآنکريم په متعددو آيتونو کي په څرګنده توګه وايي چي له الله نه پرته هيڅوك علم غيب نه لري، له ده نه پرته نه په آسمان کي څوك علم غيب لري او نه په ځمکه کي، الله خپل پيغمبر ته امر کوي چي د خلکو ابهام او تشويش رفع کړي او دا ورته اعلان کړي چي علم غيب نه لري، هغه يوازي پيغمبر دی، هغه څه وايي چي ورته وحي شوي. اوس له دې صراحت سره سره که څوك راشي او د الله

او رسول الله صلى الله عليه وسلم د قول مغايره او مخالفه ادعا وکړي او ووايي چي علم غيب لري او يا دا هڅه وکړي چي د بل چا لپاره علم غيب ثابت کړي، آيا دا ادعا دروغجنه او بې بنسټه نه ده؟ آيا دا د الله او د ده د رسول د قول د تکذيب هڅه نه ده؟

قرآنکريم د متعددو کيسو له لاري هم دا حقيقت په ګوته کوي چي پيغمبران عليهم السلام علم غيب نه لري:

د ابراهيم عليه السلام په هکله فرمايي: يوه ډله فرشتې د ښايسته ځوانانو په شکل کي د هغه کور ته راځي، هغه هرکلی ورته وايي، ځي يو خوسی ورته حلالوي، په غوړيو کي ئې وريتوي او د دوی مخې ته ئې ږدي، ناڅاپه متوجه کېږي چي مېلمانه ئې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، د وېرې احساس کوي، وايې هسي نه چي مېلمانه ئې د دښمنۍ قصد ونه لري، ځکه خو ډوډۍ نه خوري، هغه وخت معمول دا وو چي څوك به د دښمنۍ په نيت د چا کور ته ورغی نو د هغه پر دسترخان به ئې ډوډۍ نه خوړله. فرشتو چي هغه پريشانه وليد نو ورته وئې ويل: مورږ ستا د رب له لوري رالېږل شوي يو، ترڅو د اسحاق او ورپسې د يعقوب زېرې درکړو، ابراهيم عليه السلام تعجب کوي او مېرمن ئې په حيرانتيا سره پوښتنه کوي چي دا څنګه کېدی شي چي مورږ د اولاد خاوند شو، په داسي حال کي چي زه بوډۍ او خاوند مي بوډا؟ ملايکو ورته وويل: آيا د الله تعالى کار ته حيران يئ او شك کوئ؟! ابراهيم عليه السلام له خپل هغه اوچت معنوي مقام سره سره له دې نه عاجز وو چي کورته راغلې فرشتې وپېژني او له دې نه هم خبر نه دی چي الله تعالى ورته زامن، اسحاق او يعقوب ورکوي او په دې هم نه پوهېږي چي دا فرشتې په څمکه کي څه مأموريت لري، پوښتنه ترې کوي: ستاسې مأموريت څه دی؟ فرشتې ورته وايي: مورږ راغلي يو دا لاندي کلی چي اوسېدونکي ئې ظالمان دي په بل مخ واړوو. ابراهيم عليه السلام ورته وايي: هلته خو لوط عليه السلام هم اوسېږي!! هغه کلی څنګه ورانوئ چي د لوط عليه السلام غوندې غوره شخصيت په کي اوسېږي؟ فرشتې وايي: مورږ د کلي اوسېدونکي پېژنو، لوط عليه السلام او اهل ته ئې نجات ورکوو، پرته له مېرمني نه ئې، مېرمن به ئې له نورو سره وروسته پاتې کېږي او له هغوی سره به

يوځای هلاکېږي. ګورئ چي د ابراهیم علیه السلام په څېر ستر او باعظمته شخصیت له الله نه د اولاد تمنا کوي، تر سپین ږیرتوب پورې ئې دا تمنا ترسره نه شوه، ګمان کوي چي نور نو د دې تمنا د ترسره کېدو دوران تېر شوی، په دې خبر نه دی چي الله د ده هیله ترسره کوي، نه پوهېږي چي الله تعالی به ده ته اولاد ورکړي او کله به ئې ورکړي، خو شیعه خپل امامان عالم الغیب ګڼي، له زیارتونو نه زامن غواړي، قبرونو ته خپل لیکلي عرائض وړاندي کوي او له هغوی نه د خپلو حاجتونو د رفع کولو طمع کوي!!

له لوط علیه السلام نه حکایت کوي چي همدغه د ابراهیم علیه السلام خوا ته راغلې فرشتي په اصل کي د ده د دعا په اساس او د ده د مرستي لپاره لېږل شوې وې، خو کله چي د ده خوا ته راغئي دی نه پوهېږي چي دا ملایکي دي او د ده مرستي ته راغلې دي، برعکس د دوی په راتګ سره سخت غمجن شو، دومره چي زړه ئې تنګ شو او وئې ویل: ای کاش کوم پیاوړی ملاتړ او مرستندوی مي درلودای چي د دې مفسد او بدکار قوم د هجوم په وړاندي می له خپلو مېلمنو دفاع کړي وای!! لوط علیه السلام هغه وخت په دې پوه شو چي دا خو ملائکي دي نه ځلمیان چي فرشتو په خپله ځان ورمعرفي کړ او ورته وئې ویل موږ فرشتې یو، ستا مرستي ته راغلې یو او مأموریت مو د دې ظالم قوم دا کلی نسکورول دی.

قرآنکریم د یعقوب علیه السلام په هکله فرمایي: زامنو ئې اراده وکړه چي خپل ورور یوسف علیه السلام له مخې نه ایسته کړي او په څاه کي ئې واچوي. خپل پلار ته راغلل او وئې ویل: پلاره! د یوسف په هکله ولې پرموږ باور نه کوې؟ په داسي حال کي چي موږ د هغه خیر غواړو، سبا هغه له موږ سره بېدیا ته ولېږه ترڅو ساعت تېري او لوبې وکړي، یعقوب علیه السلام نه پوهېږي چي زامن ئې د یوسف علیه السلام په هکله بدنیت لري، هغه ورسره لېږي، ماښام چي بېرته کور ته راګرځي، پلار ته وایي: موږ مسابقه درلوده، سیالي مو کوله، یوسف مو د خپل سامان خوا ته پرېښی وو، لیوه راغی او هغه ئې وخوړ، دا ئې په وینو رنګ جامې، یعقوب علیه السلام له دې نه خبر نه وو او علم ئې نه درلود چي په ګران زوی ئې څه تېر شوي، له ډېره غمه ئې سترګې ړندې شوې او ترهغه د یوسف علیه السلام له

حال نه خبر نه شو چي زامنو ئې له مصر نه د ده خبر راوړ.

د زکريا عليه السلام کيسه داسي کوي چي الله تعالی ئې دعا قبوله کړه، يوه فرشته ئې د زوی د زېږي لپاره ورولېږله، زکريا عليه السلام لمونځ کاوو چي فرشتې زېری ورکړ، ده په ځواب کي ورته وويل: اې خدايه! ما ته به څنګه زوی راکوې، زه خو زوړ يم او مېرمن مي شنډه ده؟! د دې نښه به څه وي؟ ورته وويل شول: نښه ئې دا ده چي د زوی د تولد په ورځو کي به درې ورځې خبري ونشې کړای.

قرآنکريم د اسلام د ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم د خوب کيسه کوي، خوب ئې وليد چي مسجدحرام ته داخل شوی او عمره ادا کوي، د همدې خوب په اساس له يو زر څلور سوه کسانو سره د مکي په لور روان شو، حديبيه ته چي ورسېد له خنډ سره مخ شو، قريشو ئې مخه ونيوله، مکي ته د ده او د يارانو له ننوتو او د مناسکو ترسره کولو نه ئې مخنيوی وکړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ناچار ودريد، له عمرې نه منصرف شو، هملته ئې د قربانۍ څاروي ذبح کړل او ټول له احرام نه ووتل او له قريشو سره د يوه تړون په اساس بېرته مدينې ته ستون شو، د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خوب يو کال وروسته تحقق وموند، دا جريان په دې دلالت کوي چي نه رسول الله صلی الله عليه وسلم علم غيب درلود او نه ئې يارانو رضي الله عنهم، ان تردې چي رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل خوب د تحقق له وخت نه هم خبر نه وو.

بخاري روايت کوي چي عائشې رضي الله عنها وويل:

مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّه عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَبَّهُ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ ( لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ) (وَ مَا كانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلا وَحْياً أَوْ من وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسولاً فَيُوحِيَ بِإِذْنِه مَا يَشاءُ ) وَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ يَعْلَمُ الْغَيْبَ فَقَدْ كَذَبَ وَهُوَ يَقُولُ لَا يَعْلَمُ الْغَيْبَ إِلَّا اللَّهُ*

که چا درته وويل چي محمد صلی الله عليه وسلم خپل رب ليدلی دی نو پوه شه چي دا شخص دروغ وايي، ځکه الله تعالی فرمايي: (سترګی ئې نه

شي ليدلی)، (او هيڅ انسان لره نه ښايي چي الله ورسره تکلم وکړي مگر په وحي سره، يا د حجاب له شا نه او يا کومه فرشته ولېږي نو هغه د الله په حکم هغه څه ورته وحي کړي چي غوښتي ئې وي) او که چا درته وويل چي هغه علم غيب لري، نو دا هم دروغ وايي ځکه خدای تعالی فرمايي: له الله پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي.

د يوه بل اولوالعزمه پيغمبر حضرت نوح عليه السلام کيسه بيانوي او وايي: له نوح سره ئې مېرمني او زوی ملگرتيا ونه کړه او په کښتۍ کي ورسره سپاره نه شول، وروسته پاتې او په طوفان کي غرق شول، نوح عليه السلام د داسي پېښې انتظار نه درلود، د الله تعالی له وعدې نه يې انتباه دا وه چي ټوله کورنۍ به ئې ژغورل کېږي، د طوفان په وخت کي ئې خپل زوی ته بلنه ورکړه؛ خو هغه د ده خبره ونه منله او په کښتۍ کي له سپرېدو ئې ډډه وکړه، دوی په خبرو کي وو چي د طوفان څپې ئې ترمنځ حايل شوې. کله چي کښتۍ پرغره تم شوه، نوح عليه السلام خپل رب ته دعا وکړه او وئې ويل: لويه ربه! زما زوی خو زما له اهل څخه دی او ستا وعده هم رښتونې ده، نو د هغه ډوبېدل يعنې څه!! خدای ورته وفرمايل: زوی دې ستا له اهل څخه نه دی، هغه ناصالح وو، د هغه څه غوښتنه را نه مه کوه چي نه پرې پوهېږې، تا له دې نه په خپلي پناه کي ساتم چي له جاهلانو څخه وې.

همداراز شيعه د قرآن د صريح او واضح نصوصو خلاف او د ټول امت د متفقه رأيې خلاف ادعا کوي چي الله تعالی خپلو خاصو بندگانو ته د کائناتو د چارو په سنبالولو، د دعاگانو قبلولو، د حاجتونو ترسره کولو او د مشکلاتو حلولو کي واك او اختيار ورکړی، دا نازولي په غيب پوهېږي، دعاگانې اوري، حاجتونه ترسره کوي او مشکلات حلوي، هرڅوك بايد دوی ته او د دوی له لاري د خپلو حاجتونو د رفع کولو لپاره د دعا لاس اوچت کړي، الله تعالی يوازي هغه دعا او عبادت قبلوي چي د دغو نازولو له لاري خدای ته وړاندي شي. دا غلطه او خرافي عقيده د اسلام له اساساتو سره ټکر کوي او قرآن ئې د توحيد منافي او د شرك عامل شمېري او د هغه د نفي لپاره ئې مفصل بحثونه کړي او دې ته ئې په ربوبيت

کي د شرك نوم ورکړی، په ربوبيت کي شرك په دې معنی دی چي څوك د کايناتو په اداره او د امورو په سنبالولو کي ئې له خدای سره بل څوك شريك وګڼي او دا عقيده ولري چي الله تعالی د کايناتو اداره او د امورو تدبير ئې په يوازي توګه نه کوي بلکي کارونه ئې له نورو ذواتو سره وېشلي، ځيني په خپله کوي او ځيني نور ئې هغوی ته سپارلي او هغوی ته ئې دا واك ورکړی چي د خپلي خوښي مطابق په کي تصرف وکړي. دا ډله خلك يا دا ګمان کوي چي: الله تعالی د دنيا او عالم له پيدا ښت او په هغه کي د ضوابطو له وضعه کولو نه وروسته دا مخلوقات په خپل حال پرېښي دي، امور او کارونه په خپله د الهي مقدراتو او ضوابطو مطابق ترسره کېږي، ټول کارونه همداسي په خپل سر د الهي سننو مطابق روان دي، الله تعالی نه هيڅ مداخله په کي کوي او نه دې ډول مداخلې ته څه ضرورت ليدل کېږي!! او يا دا ګمان کوي چي: خدای تعالی هم لکه د دنيوي واکمنانو په شان د خپلي پاچايۍ د چارو د ادارې او سنبالولو په خاطر هره برخه يوه چا ته سپارلې ده او په همدې برخه کي ئې همدا کس خپل نائب او د چارو (قيم) او (متصرف) منلی دی!! اوس که څوك په دې برخه کي له کوم مشکل سره مخامخ کېږي نو بايد د همدې برخي قيم، وصي او متصرف ته مراجعه وکړي، له هغه مرسته وغواړي او له دې لاري خپل مشکل حل کړي، په دې معنی چي د الله تعالی دربار ته له رجوع نه مخکي بايد دغو متصرفينو او قيم ذواتو ته مراجعه وشي، له دوی نه د خپلو مشکلاتو د حل غوښتنه وشي او يا له همدې لاري، د مراتبو د تسلسل مراعات سره، پوړ په پوړ پورته ولاړ شي او خپل سوال د الله در بارته وړاندي کړي، دوی وايي: که د الله تعالی د پاچايۍ دا واکمن مأمورين، هغه چي ته ئې د امورو په تدبير او د موجوداتو په اداره کي د الله نائب او وکيل شمېرې، که دا متصرفين ستا د مشکلاتو د حل وس او توان لري، ستا فرياد اورېدی شي او ستا دعاګانې اجابت کوی شي، نو بيا څه ضرورت دی چي د مراتبو د تسلسل له مراعات نه پرته او مستقيما د الله دربار ته د مراجعې بې باکي کوې؟!! خپل حيثيت دې وپېژنه، هغه ځای ته د تلو بې ځايه هڅه مه کوه چي نه ئې اهليت لرې او نه توان، دا خبره ومنه چي د الله تعالی دربار داسي دروازې لري چي د هر چا په وړاندي نه پرانيستل کېږي

او داسي ساتونكي لري چي هرچا ته د نږدې كېدو اجازه نه وركوي!! دې دربار ته د رسېدو لپاره وسيلې، واسطې او سفارش كوونكي ته اړتيا شته، دا واسطې او سفارش كوونكي وپېژنه، د هغوی لاس او لمن ونيسه، ترڅو د الله دربار ته لار پيدا كړې او دروازه ئې در ته پرانيستل شي، دا د الله په هكله د مشركينو گمان وو چي قرآن ئې په كلكه ردوی. شيعه نه يوازي له قبرونو نه مرسته غواړي بلكي د خپلو امامانو د قبرونو خوا ته هومره په تضرع او ژړا دعا كوي چي د كعبې خوا ته او په حرم كي او له الله نه د مرستي غوښتلو په وخت كي داسي تضرع او ژړا نه كوي، د الله د نامه په يادولو سره ئې په وضع كي هيڅ تغيير نه راځي خو د امامانو په يادولو سره كه ژړا نه ورځي هم نو په زور او تكلف سره ځان ژړه غونی كړي، هر كال بايد د كربلا د پېښې په ياد تورې جامې واغوندي او سينه ووهي، له دوی نه پوښتنه كوو چي د ماتم او سينې وهلو د دې دود دستور جواز مو له كومه كړی؟ پيغمبر عليه السلام او علی رضي الله عنه خو تر دريو ورځو زيات ماتم جائز نه گڼي، مخ سينه په څپېړو او شا په زنځيرونو وهل حرام گڼي، تاسو دا طريقه له كومه راايستلې؟ دوی د قبرونو ښكلول، طواف، د زيارت په دروازې سترگې موښل او له مړو مرسته غوښتل خو پرېږده قبرونو ته ليكلي عرائض وړاندي كوي، د امام زمان په نامه په يوه ځای كي خپلي ليكلي عريضې اچوي او بيا ئې ځواب ته انتظار كوي او كوم ټگمار آخوند د دوی ځوابونه وليكي او په خاص ځای كي ئې واچوي او عريضه كوونكی ورشي، ځواب ترلاسه كړي او گمان كوي چي دا د امام زمان او امام رضاء لخوا وركړی شوی ځواب دی!! خو قرآن وايي: ستاسو عبادت بايد يوازي د يوه خدای لپاره وی او دعا او استعانت مو يوازي له يوه خدای نه، له هغه پرته مه د چا عبادت كوئ او مه مرسته ترې غواړئ، الله تعالی د دعاگانو اورېدونكی او منونكی ( سميع الدعاء او مجيب الدعوات) دی، بنده ته د ده د غاړې تر رگ نه زيات ورنږدې دی، چي تاسو هرځای وئ الله درسره دی، كه دوه وئ دربيم مو الله دی او كه څلور وی پنځم مو الله دی، هر څه د ده په واك كي دي او د ده په اراده ترسره كېږي، غوښتنو ته هغه ځواب وايي او حاجتونه هغه ترسره كوي. قرآنكريم په (خلقت او امر) كي د ماسوی الله يعني له الله پرته د بل هرچا هر راز ونډه نفي كوي او

فرمايي:

يَأَيُّهَا النَّاس ضرب مَثَلٌ فَاستَمعُوا لَهُ إِنّ الّذينَ تَدعُونَ من دُون اللّه لَن يخلُقُوا ذُبَاباً وَ لَو اجْتَمَعُوا لَهُ وَ إِن يَسلُبهُمُ الذُّبَاب شيْئاً لَا يَستَنقذُوهُ منْهُ ضعُف الطالِب وَ الْمَطلُوب* مَا قَدَرُوا اللّهَ حَقّ قَدْرِه إِنّ اللّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ * الحج: ۷۳-۷۴

اې خلكو! يو مثال راوړل كېږي، ورته غوږ شئ: بې شكه ځوك چې تاسې له الله پرته خپلې مرستي ته رابولئ، يو مچ هم نه شي پيدا كولى او كه دا مچ څه ترې وتښتوي نه ئې شي ترې ژغورلى، طالب او مطلوب دواړه بې وسه شول، د الله تعالى قدر ئې لكه څنگه چې له ده سره ښايي نه دى پېژندلى، بې شكه چې الله زورور عزتمند دى.

• يعني له الله تعالى پرته چې تاسې له بل هر څه او هركس نه مرسته وغواړئ، كه دا په آسمان كې وي او كه په ځمكه كې، انسان وي كه فرشته، ژوندى وي كه مړ، يو هم نه شي كولى يوه وړه او حقيره حشره پيدا كړي او كه دا حشره څه ترې وتښتوي نو د هغه د ژغورنې توان هم نه لري، نه څه شي پيدا كولى شي او نه ئې ژغورلى شي، په دې معامله كې طالب او مطلوب دواړه كمزوري او بې وسه دي، مطلوب كمزورى او بې وسه دى ځكه چې نه د كوم څيز د خلقت او پيدا كولو توان لري او نه پر نورو د حكمرانۍ او واكمنۍ قدرت ورسره شته او طالب ځكه كمزورى او ضعيف دى چې په داسې يوې بې وسه او كمزورې متكاء ئې تكيه وكړه او مرسته ئې ترې وغوښتله چې د هيڅ څه واك او توان نه لري.

همدا راز قرآن په دې هكله وايي:

إِنّ رَبّكُمْ اللّهُ الّذي خَلَقَ السّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِى ستّة أَيّامٍ ثُمّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبّرُ الْأَمْرَ مَا مِنْ شَفِيعٍ إِلّا مِنْ بَعْدِ إِذْنِه ذَلِكُمْ اللّهُ رَبّكُمْ فَاعْبُدُوهُ أَفَلَا تَذَكّرُونَ * يونس: ۳

بې شکه چې ستاسې رب هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا ئې په عرش استوا وکړه، چارې سنبالوي، هیڅ داسي شفاعت کوونکی نشته چې د ده له اذن او اجازې پرته شفاعت وکړی شي، دا ستاسې رب دی، نو د ده عبادت وکړئ، آیاعبرت نه اخلئ.

دا مبارك آیت لاندیني مهم مطالب بیانوي:

- الله تعالی ځمکه او آسمانونه په شپږو تکویني مراحلو کې پیدا کړل.
- آسمانونه او ځمکه ئې له پیدا ښت نه وروسته مهمل او خپلې مخې ته نه دي پرېښې، بلکې په هغه عرش ئې د ټولو موجوداتو د مالك، حاکم او واکدار په حیث استوا وکړه چې ځمکه آسمانونه ترې لاندې دي. د دې پراخې هستۍ د ټولو امورو تدبیر ئې په خپل واك او اختیار کې ساتلی دی.
- هیڅوك د الله له اذن او اجازې پرته د هغه په وړاندې د شفاعت او سفارش توان او صلا حیت نه لري، هغه د دنیا د پاچایانو په شان نه دی چې د نورو سفارش او شفاعت ته اړ وي، داسې نه ده چې باید بل څوك یو مظلوم ورمعرفي کړي، بل څوك د چا د لیاقت او اهلیت په هکله معلومات ورکړي او د ده او بنده ترمنځ واسطه شي.
- هغه رب او پالونکی چې باید یوازې د هغه عبادت وکړئ او یوازې له هغه نه مرسته وغواړئ، صفات ئې دا دي: د ټولې هستې خالق، ستا او د ټولو مخلوقاتو رب او پالونکی دی، په عرش ئې استوا کړې، د هرڅه مالك او واکدار دی، د هستې د ټولو امورو د تدبیر اختیار ورسره دی، ستا او هغه ترمنځ د رابطې لپاره هیڅ وسیلې، واسطې، سفارش او شفاعت کوونکي ته ضرورت او اړتیا نشته. دا درس باید درته پند وي او د هغه په رڼا کې نبغه لاره له کږې نه بېله کړې او د الله تعالی له دربار نه پرته بل دربار ته له رجوع او پناه وړلو نه ځان وساتې.

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# د شيطان پاچايي

آيا كله مو په دې هكله فكر كړئ چي كه چېري د ځمكي پر سر په كوم ملك باندي د شيطان واكمني وی او هلته ده د خپلي خوښي نظام او حكومت جوړ كړی وی، دا به څنګه نظام وو؟ د انسانانو له نظامونو سره به ئې څه توپير او ورته والی وو؟ په نړۍ كي د شته نظامونو له كوم يوه سره به ورته وو؟ هلته به د ټولنې سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي جوړښت څنګه وو؟ څه به حلال او جائز او څه به حرام او ناجائز ګڼل كېدل؟ څوك به د قدرت پر ګدۍ ناست وو او څوك به په زندان كي او تر تعذيب لاندي وو؟ چا ته به د مجرم په سترګه كتل كېدل او څوك به په سمې لاري برابر، مصلح او محق ګڼل كېدو؟! كوم حزب به واكمن وو او كومه ډله به د نظام مخالفه ډله او د رټلو، شړلو او وژلو مستحقه ګڼل كېده؟؟ چا ته به ښه ويل كېدل او چا ته بد؟ د چا په تندي به د (تروريست)، (افراطي)، (اشرار)، (مفسد في الارض)، (د ترقي او تمدن مخالف) ټاپه وهل كېده او چا ته به د (شريف)، (نجيب)، (ديموكرات)، (مترقي)، (آزادي غواړي) او (مصلح) لقب وركول كېدو؟! د غرب له موجوده نظامونو سره به د دې نظام څه توپير وو؟

دې پوښتني ته د ځواب لپاره بايد وګورو چي شيطان څه غواړي، څه خوښوي، كوم كار او عمل ئې خوښ دی او له كوم نه كركه لري، څوك ئې خوښېږي او له چا كركه لري او د ځان دښمن ئې ګڼي، د شيطان د خوښي نظام كوم دی؟ آيا په غربي ټولنو كي هغه څه روان دي چي رحمن خدای ئې خوښوي او كه هغه څه چي شيطان ئې غواړي؟

د اسلام او هر الهي دين له مخې (شيطان) د (شر سمبول) او د انسان او

انسانیت دښمن دی، ده د انسان د پېدابښت له لومړۍ ورځې لوړه کړې چې په هر گام کې به انسان ته په کمین کښیني، له ښي او کیڼ اړخه به برید پرې کوي، له سمې لارې به ئې کږوي، بد څه او بد کار به ورته ښایسته کوي، د خپل انساني فطرت خلاف جگړې ته به ئې هڅوي او دا به ثابتوي چې انسان د دې وړ او مستحق نه دی چې د ځمکې خلافت ئې په واك كې وي.

دین چې څه د انسان په ضرر گڼي او هغه ئې حرام کړي، که دا د ده په ذات پورې تعلق لري او که ئې په ټولنې پورې، که د اقتصاد په برخه کې وي او که د اخلاق په برخه کې، که د ده د سیاسي او اجتماعي نظام مربوط مسئله وي او که په اعتقادي او فکري امورو پورې مربوط مسئله، شیطان نه یوازې د دې حرمت نه مني او د انسان په تاوان او ضرر ئې نه گڼي، بلکې هغه د (خلود او دوام) موجب او د ارتقا او تعالي باعث گڼي، څه چې دین ته کرکجن برېښي او انسان ترې منع کوي، شیطان هغه انسان ته ښایسته کړي او د هغه په لور لاس غځولو ته ئې هڅوي.

که د غربي نظام مختلفو برخو ته لږځیر شئ نو وبه گورئ چې په دې نظام کې ټول هغه څه حلال گڼل شوي چې هر الهي دین تحریم کړي، که د قرآن، تورات او انجیل په رڼا کې دا نظام وڅېړئ نو هغه به داسې ومومئ لکه چې شیطان په سپینې ماڼۍ کې د جمهوري ریاست پر کرسۍ ناست او د خپلې خوښې نظام ئې قائم کړی وي، په دې نظام کې ټول هغه څه روان دي چې الهي کتابونه ئې د شیطان کار گڼي.

که شیطان ته د دې موقع په لاس ورشي چې د نړۍ په کوم گوټ کې د خپلې خوښې ټولنه جوړه کړي او هغه نظام په کې قائم کړي چې دی ئې غواړي نو د امریکا له اوسنۍ ټولنې سره به ئې هیڅ توپیر نه وي، د غربي ټولنو په څېر به ئې یوه ټولنه جوړوله او سیاسي، اجتماعي، نظامي پالیسي به ئې همغسې وه چې نن ئې جورج بش پلې کوي.

که وغواړو چې غربي ټولنه په څو مختصرو کرښو کې تشریح کړو او د دې ټولنې د فرهنگي، سیاسي، اجتماعي او اقتصادي برخو اساسي بنسټونه په گوته کړو نو ویلې شو چې:

د غربي ټولنې د اقتصادي نظام بنسټونه:

• سود چي د مظلوم او بې وزلي له اړتيا او مجبوريت نه د ګټې اخيستو وسيله ده او په ټولو الهي اديانو کي تحريم شوی، د غربي ټولنې د اقتصادي نظام اساسي بنسټ دی، د غرب ټوله راکړه ورکړه او اقتصادي مناسبات په سود ولاړ دي، که د دې ټولنې له بانکي سيستم او تجارتي او اقتصادي تعامل نه سود وباسئ نو دا نظام په ټپه ودرېږي او د يوه ګام مخکي اخيستو توان نه لري.

• قمار چي له زحمته پرته او د يوه حريص انسان د غولولو له لاري وړيا مال ترلاسه کول دي او د هر دين او هر عادلانه انساني قضاوت له مخې ناروا او ظالمانه عمل دی، په غرب کي نه يوازي جائز دی بلکي هم په شخصي توګه او هم په دولتي کچه د وړيا ثروت ترلاسه کولو يوه مهمه ذريعه ده.

• احتکار چي بډای ته د مسکين او محتاج انسان د استثمار او د نورو د شتمنيو د غارت کولو موقع په لاس ورکوي، له خپلي شتمنۍ نه په استفادې سره، د خلکو د اړتيا وړ شيان په ارزانه بيه ترلاسه کوي، بازار او نرخ په خپل کنترول کي راولي، چي په بازار کي د احتکار شوو شيانو عرضه محدود او تقاضا زياته شوه او نرخونه اوچت شول، هغه ئې د خپلي خوښي په بيه بازار ته راوباسي او وړيا ګټه ترلاسه کوي، د دې ګټې عامل نه د ده زيار او زحمت دی او نه د ده هنر او حکمت، فقط خپلي شتمنۍ او د نورو اړتيا او مجبوريت دا فرصت ورکړی چي خلك غارت کړي. دا د احتکار د جواز او هغه ته د مشروعيت ورکولو په وجه ده چي د دوا په څېر ضروري شيان هم د خپل اصلي قيمت نه څو څو ځله په زياته بيه بازار ته عرضه کېږي، د دوا محتکر د دې پروا نه لري چي د ده همنوع انسان له بيمارۍ په دې خاطر مري چي د دوا هغه بيه نه شي ورکولی چي محتکر تر اصلي بيې څو برابره زياته ټاکلې، يو مثال ئې د ايډز دوا ده، يوې امريکائي کمپنۍ هغه احتکار کړې، نورو کمپنيو ته د هغې د توليد اجازه نه ورکوي، د برازيل حکومت غواړي دا دوا په ارزانه بيه توليد او بازار ته عرضه کړي خو د امريکا حکومت ئې نه پرېږدي، که د دې دوا اصلي بيه يو ډالر وي نو امريکائي کمپنۍ ئې په سل ډالره بازار ته وړاندي کوي. د کمپيوټر هغه يوه سې ډې چي په پاکسان کي توليد کېږي په بازار کي په اته کلداري ترلاسه کېدی شي خو همدا سي ډي د مايکروسافټ امريکائي

کمپنۍ په پنځوس برابره بيې په څلور سوه کلداري خرڅوي.

- غولوونکي تجارتي اعلانات او د ښځو له ښايست، جالب غږ او هڅوونکو حرکاتو نه د خلکو د راماتولو او د مشتريانو د جلبولو لپاره استفاده.
- د وسلو د خرڅلاو بازارونه لټول او جوړول او په نورو ملکونو کي د دې لپاره د جګړو اورونه بلول
- د خپلو توليداتو لپاره مارکيټونه لټول او د دې لپاره هم سوړ او هم تود جنګ ضروري ګڼل.
- د پيسو د لاس ته راوړو لپاره هر کار جائز ګڼل، حتی د خپل عفت عرضه کول او د فحاشي داسي رسمي او بربنډ ځايونه جوړول چي دولت ته ټکس ورکوي او دغو ګنده مرکزونو ته د دې اجازه ورکول چي د مشتريانو د پيدا کولو او راماتولو لپاره داسي ټلويزيوني خپرونې وکړي چي د فحش کار په پوره وقاحت کي بربنډ ښيي.

د غربي ټولنې د سياسي او اجتماعي نظام بنسټونه دا دي:

- سپين پوستې لوړ نژاد ګڼل
- د بډايانو واکمني
- طبقاتي نظام
- قمار ته ورته انتخابات
- د قدرت ترلاسه کولو سوړ جنګ او د خپل حريف د ماتولو د هري هڅې جواز، د وسلې له کارولو پرته،
- د هغې ډلې بريا چي مالي امکانات او تبليغاتي وسايل ئې تر نورو زيات وي.

د غربي ټولنې فرهنګي بنسټونه دا دي:

- آزاد جنسي روابط او ټول هغه اخلاقي او مذهبي حدود او ضوابط ماتول چي جنسي روابط تنظيموي او د قانون په حدودو کي ئې محدودوی.
- شراب، قمار، موسيقي او نڅا
- لوبې، نه د روغتيا لپاره او نه د ټولو لپاره، دا هم د بډايانو په لاس کي په تجارتي وسيلې بدل شوی، لوبغاړي اخيستل کېږي او د لوبو په تماشا پيسې

ترلاسه کوي. لوبو ، نڅا او سندرو هومره عموميت موندلی چي دا د قرآن له وينا سره سم د دوی په دين او مذهب بدل شوی. اتخذوا دينهم لهوا و لعبا

د غربي ټولنې ديني او مذهبي جوړښت:

- په خرافاتو باور
- عيسی خدای او د خدای زوی ګڼل
- د عيسی ويني د ده د منونکو د معافي ذريعه بلل
- د عبادت څو مسخره او خندوونکي شکليات
- خدای له انسان سره تشبيه کول، دا اعتقاد چي خدای انسان خپل صورت ته ورته پيدا کړی، له ختې ئې د ده مجسمه جوړه کړې، بيا ئې په اور ايښې چي پخه شي، بيا ئې د خپلې روح يوه برخه په کي پو کړې
- مذهبي موسيقي
- د مذهب په نامه څو مسخره حرکات
- د خدای په ځای د شخصيتونو لمانځنه
- د خدای او بنده تر منځ په واسطې او وسيلې باور
- په هغو مسخره وړاند وينو باور چي د تورات او انجيل په نامه کتابونو کي راغلې
- کشيش د خدای استاځی ګڼل، د خدای برخه ده ته سپارل، د جنت اسناد له ده نه په پيسو پېرل او د کليسا په لکهاوو مفت خورو کشيشانو او راهبانو ته د مرفه او آرام بې زحمته ژوند اسباب برابرول
- د عيسی عليه السلام بيا راتلو او په ټولي نړۍ د مسيحيانو واکمنۍ ته انتظار درلودل.

که د غربي نظام هره برخه د قرآن په رڼا کي وڅېړئ او د شيطان او شيطاني کړو وړو په هکله چي قرآن څه ويلي، د هغوی په خوا کي ئې کېږدئ وبه ګورئ چي په غربي نظامونو کي ټول هغه څه راغونډ شوي چي هر الهي دين شيطان ته منسوب کړي.

حکمتيار

# اوس باید جاسوسۍ ته نوی تعریف راپیدا کړو!!

کله چې افغانانو د راډیوگانو په څپو کې د کرزي دا وینا واورېده چې دوه لوړ پوړي مسئولین ئې د جاسوسۍ په تور ایستلي، ډېرو کټ کټ وخندل او دا ئې یوه بله خندوونکې ډرامه وګڼله، ځینو له ځان سره ویل: اوس باید جاسوسۍ ته نوی تعریف راپیدا کړو!! او ځینو نورو بیا دا هم د امریکایانو په وینا او د تبلیغاتو په موخه یوه خبره ګڼله، چې هدف ئې د پارلمان غړي تر اغېز لاندې نیول او په راتلونکې کابینه کې د رد او بدل لپاره د لارې اوارول دي!!

مخکې به هغه چا ته جاسوس ویل کېدل چې د بل هېواد لپاره به ئې اطلاعات راغونډول، وړې کامرې او ټېپونه به ئې پټ له ځانه سره ګرځول، د نظام د پلویانو او مخالفینو غږونه به ئې ثبتول، د خاصو خاصو ځایونو عکسونه به ئې اخیستل او دا به ئې په پټه سفارت ته رسول. دا کس به ئې د مخبر په نامه یاداوو، خلکو به په ډېر بد نظر ورته کتل، سپك او ذلیل به ئې ګاڼو او د سختې سزا وړ، که به د چا دا پټ ارتباط له کوم خارجي سفارت سره کشف شو او له ټېپ او کامرې سره به ونیول شو نو دی او ټوله کورنۍ، دوستان او ملګري به ئې له یوې خوا د حکومت له لوري له سختو کړاوونو سره مخامخ شول او له بلې خوا به ئې په ولس کې خپل حیثیت او اعتبار له لاسه ورکړ. خو د جاسوس او مخبر دا تعریف ورو ورو بدل شو، داسې کسان راپیدا شول چې ټېپونه او کامرې به ئې څرګندې له ځان سره ګرځولې، د نظام د پلویانو او مخالفینو ویناوې به ئې ثبتولې، د هرځای عکسونه او فیلمونه به ئې

اخیستل، خپل هېواد ته به ئې لېږل، په ورځپاڼو، راډیوګانو او تلویزیونونو کي به ئې خپرول، بي بي سي او امریکا غږ به همدغه کسان د خبریال په ځای د مخبر په نامه یادول او د دوی له لوري لېږل شوي راپورونه به ئې په دې صیغه خپرول چي: زموږ مخبر له فلاني هېواده دا راپور رالېږلی!! خو دا مخبران به نه یوازي د مخکي په څېر سپك او ذلیل نه ګڼل کېدل، بلکي ډېرو مخصوصاً سیاسي شخصیتونو به په ډېره درنه سترګه ورته کتل او حتی خپل حیثیت او اعتبار به ئې د دوی د ښو راپورونو مرهون ګاڼه!! که څه هم دوی همغه کار کاوو چي مخکني مخبرانو به کاوو. بیا خلکو ولیدل چي د پردیو په لاس قدرت ته رسېدلي واکمنان خپل مخالفین پردیو ته په جاسوسۍ متهموي، شاه شجاع به له یوې خوا هغه کسان جاسوسان ګڼل چي د انګرېزانو او د انګرېزانو په لاس د تپل شوي رژیم په خلاف ئې مبارزه کوله او له بلي خوا به ئې هغه کسان هم جاسوسان ګڼل چي د ده له موافقې پرته به ئې له انګرېزانو سره اړیکي ساتلي، له دغو به ئې وېره تر هغو نورو زیاته وه، په دې خاطر چي داسي نه انګرېزان د ده په ځای هغه بل انتخاب نه کړي. ببرك کار مل، خپل سیال امین د سي آي اې جاسوس ګاڼه او د دې هڅه ئې کوله چي مسکو په دې خبره قانع کړي، دا په داسي حال کي چي امین کمونیزم ته تر ده ډېر مخلص او د کمونیزم ضد ځواکونو په ځپلو کي تر ده ډېر بې رحمه او قسي القلب وو او په داسي حال کي چي امین د خپل ژوند په وروستیو شپېو او یوازي هغه وخت د پاکستان له لاري له نورو سره د تماس هڅه وکړه چي پوه شو روسان ئې له منځه وړي، پیغام ئې اسلام آباد ته ورسېدو خو لا ئې ځواب نه وو ترلاسه کړی چي د روسانو په لاس ووژل شو. دا دی اوس کرزی پرته له دې چي د چا نوم واخلي وایي چي دوه لوړ پوړي چارواکي ئې د جاسوسۍ په جرم له خپلو دندو ګوښه کړي!! له هر افغان سره دا پوښتنه راولاړه شوې چي دا جاسوسان څوك وو؟ څه کار ئې کاوو؟ کوم اطلاعات ئې راغونډول؟ د دې نظام څه د چا له نظره پټ دي چي جاسوسان ئې معلوم کړي او اړوند هېوادونو ته ئې مخابره کړي؟ په سلهاوو خبریالان له خپلو ټیپونو، کامرو او سټلایټ ټیلفونونو سره، د خیریه مؤسسو ترنامه لاندي دوه نیم زره هغه مؤسسې چي د بهرنیو لپاره کار کوي او په زرهاوو مأمورین لري، دېرش

زره بهرني فوځونه، د ګڼ شمېر ملکونو هغه راډيوګانې، تلويزيونونه چې د افغانستان د ننه نشرات کوي، په سلهاوو ورځ پاڼې او مجلې چې مصارف ئې همدغه ملکونه او د دوی استخباراتي اداريې ورکوي او د دوی په ګټه تبليغات کوي، په کابينه کې هغه وزيران چې دوه تابعيته لري او په دې خاطر تر کابينې رسېدلي چې په بهرنيو ملکونو پورې تړلي دي او له دې پرته بل هيڅ امتياز نه لري، چا ته له مسکو سره د تړاو په خاطر وزارتونه ورکړی شوي او چا ته له لندن، واشنګټن، پاريس، بن، تهران او اسلام آباد سره، په بن کې جوړ شوي حکومت کې هغو ډلو ته په حکومت کې برخه ورکړی شوه چې په دوه جمع شپږ هېوادو پورې تړلې وې، (دوه جمع شپږ د دې لپاره ليکم چې اصلي وېش د دوو مشرانو تر منځ شوی، شپږ کشران د دوی ضمايم او په دوی پورې تړلې وو)، کومو ملکونو چې په بن کې دا حکومت جوړ کړ هغوی خپل خپل کسان او خپلي خپلي ډلي په دې حکومت کې شاملې کړې او په داسي حال کې چې د دې حکومت د جمهور رئيس شخصي امنيت، حتی د ارګ د ننه هم امريکائي کوماندو ساتي او جومات ته د ننوتو په وخت کې هم هغوی له خپلو ناولو بوټونو سره ننوځې او سپي ئې د جومات په دروازه کې خلك لټوي... نو په دې صورت کې به جاسوس څوك وي او څه کار به کوي او کوم معلومات به د کوم هېواد لپاره راغونډوي؟!!

له وزيرانو نه چې څوك په خپله خوښه لرې شوي او يا احياناً کرزي لرې کړي، فهيم، قانوني، جلالي، محقق، اشرف غنی احمد زی، رمضان زاده، انوري او کاظمي ... چې ځيني ئې د هغو هېوادو لخوا حمايه کېږي چې د روسيې تر مشرۍ لاندي ائتلاف کې شامل دي او ځيني ئې د امريکا تر مشرۍ لاندي ائتلاف پورې، کرزی دا جرأت نه شي کولی چې د لومړۍ ډلي په خلاف داسي وينا وکړي او هغوی جاسوس وګڼي، هغه په دې ائتلاف پورې د تړلو ډلو په وړاندي ځان ډېر ضعيف او کمزوری ګڼي او دا بې باکي هيڅکله نه کوي چې د دوی غصه راوپاروي، له وضعيته هم معلومېږي او د نيويارك ټايمز له هغه نشر شوي راپور نه هم چې د لرې شوو جاسوسانو په هکله ئې خپور کړی، چې له دغو دوو کسانو څخه د کرزي هدف احمد علی جلالي او اشرف غني احمدزی دي، په راپور کې هم د دغو دواړو نومونه

اخيستل شوي!! او د دې وجه له دې پرته بل څه نه شي کېدی چي يا دوی دواړو امريکائي مقاماتو ته د کرزي په هکله ويلي چي کمزوری دی، د هېواد له ادارې عاجز دی، د شمالي ټلوالې په وړاندي ډېر خاضع او خاشع دی او امتيازات ورکوي او يا دا چي امريکايانو تر کرزي په جلالي ډېر حساب کاوو، غوښتل ئې هغه د دفاع وزير وټاکل شي او حتی هغه ئې د کرزي ځای ناستی ګاڼو!!

افغانستان خو اوس د امريکا په داسي مستعمرې بدل شوی چي خپل سفير هم د خليلزاد په څېر داسي يو افغان ټاکي چي هم د امريکا د دفاع وزارت، هم د خارجه وزارت او هم د سي آی اې مامور او غړی پاتې شوی، مېرمن ئې د يوې مسيحې مؤسسې داسي فعاله غړې چي امريکا ته د اسلام ضد هڅو کي مشورې ورکوي، خليلزاد يوازي سفير نه وو بلکي د بش خاص استاځی او حتی په افغانستان کي د امريکا وای سرا او اصلي واکمن او جمهور رئيس وو، کرزی هم د ده په مرسته او مشوره جمهور رئيس وټاکلی شو، دا ځکه چي دی او کرزی د يونيکال په امريکائي کمپنۍ کي مامورين پاتې شوي وو، ملګرتيا ئې له همغه وخته پيل شوې وه!! نه پوهېږو په دې حالت کي به د کرزي د معيارونو له مخې جاسوس څوك وي؟!!

موږ هغو افغانانو ته هم حيران يو چي وايي: که هر څه وي کرزی يو پښتون دی، پښتانه دې ته اړ دي چي د شمال فاشست او سکترستي ټلوالې په مقابل کي به ئې مرسته کوي!! دوی ته څو عرايض لرو:

• لومړی دا چي کرزی د شمالي ټلوالې د مقابلې توان او جرأت نه لري، له جلالي سره د ده د مخالفت يوه وجه دا وه چي هغه غوښتل د دې ټلوالې د اوسني تسلط او برلاسۍ مخه ونيسي، خو ده ورسره نه منله. د تورن اسمعيل او امان الله تر منځ نښته وشوه، کرزي امان الله وراټو او تورن اسمعيل ئې د وزارت لپاره له هراته کابل ته راووست، دا په داسي حال کي چي نور نو د هرات، بادغيس او فراه مظلوم پښتانه د ده په خلاف قيام ته اړ شوي وو او ده ته نور په هغې سيمي د مطلقه حکومت مجال نه وو پاتې.

• که دا نن کرزی يا په خپل مرګ ومري يا په کومي چاودني کي مړ شي او يا د بيمارۍ په وجه له صحنې ووځي، ما ته ووايئ چي د ده ځای ناستی به څوك وي، د

ده لومړی معاون او دوهم معاون که د پارلمان رئیس؟؟ او که امریکایان ووځي نو قدرت به د چا په لاس کي پرېوځي؟!! د دفاع وزارت، داخله وزارت، خارجه وزارت او د امنیت په چارو کي مهم او حساس پستونه د چا په لاس کي دي؟!!

• اسلام خو موږ ته د دې اجازه نه راکوي چي د ژبني تعصباتو په وجه د هغه چا ملگرتیا وکړو چي د اسلام د دښمنانو ملگری وي، دا تاسو ولې پرون د نجیب، ترکي او امین په ضد جنگېدئ او د دوی په خلاف جنگ کي تر ټولو قومونو مخکي وئ، په سلو کي نوي مهاجرین ستاسو وو او په سلو کي اتیا شهیدان او زخمیان ستاسو!!

• دا نن خو د کرزي حامي امریکایان او انگرېزان یوازي ستاسو په سیمو کي عملیات کوي، ستاسو پر کورونو او کلیو بمونه وروي، ټول جنگ ئې ستاسو په ضد دی، په سلو کي اته نوي بندیان پښتانه دي، په سلو کي سل عملیات د پښتنو په سیمو کي او د پښتنو د ځپلو، وژلو، نیولو او سپکولو لپاره ترسره کېږي، خو کرزی په دې بې رحمانه بمباریو د اعتراض جرأت هم نه شي کولی!! نن خو هماغه انگرېزان ستاسو پر ملك حکومت کوي چي ستاسو پلرونه ورسره جنگېدلي وو، هماغه چي پښتانه ئې په دوو برخو ووېشل او د ډیورند ظالمانه کرښه ئې د دوی ترمنځ تېره کړه او په دې سره ئې هم د دې لوري په پښتنو نور مسلط کړل او هم د هغه لوري په مظلومو پښتنو. نه پوهېږو چي تاسو د دې لاس پوڅي نظام له ملاتړه د کومي دنیوي ښېگړې طمع لرئ او که د اخروي ښېگړې؟!! افسوس د هغه ناپوه انسان په حال چي د خپل زاړه او کینه کښ دښمن له لاس پوڅي نه د خیر طمع کوي!!

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# ايرانيانو ته څو مشورې

په پېښور کي د ايران کنسل ويلي چي امريکايان دې په ايران د افغانستان او عراق گمان نه کوي!! مورږ په داسي حال کي چي دعا کوو ايران د افغانستان او عراق په برخليك اخته نه شي، امريكا پرې حمله ونه کړي او د ايران گاونډيان ئې په دې برید کي ملگرتيا ونه کړي او الله تعالى ايرانيانو ته دا همت ورکړي چي د امريکايانو گواښونو ته سر ټيټ نه کړي، تسليم نه شي، د خپل عزت او خپلواکۍ سودا ونه کړي، مورږ په ايران او هر اسلامي هېواد باندي برید داسي گڼو لکه پر افغانستان او عراق برید ، په ايران مو دومره زړه سوزېږي لکه په عراق، په دې هم خفه کېږو چي په ايران برید وشي او په دې هم چي ايران له اتمي ټيکنالوژۍ نه د استفادې له جائز حقه محروم کړی شي، خو ايرانيانو ته د يوه خواخوږې گاونډي په حيث څو سپيني خبري لرو:

ای کاش تاسو پر افغانستان او عراق د حملې په وخت کي دا فکر کړی وی چي کېدی شي په دې دوو گاونډيو هېوادو د صليبي ځواکونو برید ، په ايران د برید مقدمه شي او د کابل او بغداد نيونه به امريکايان هومره تشجيع کړي چي په نورو به هم برید ته زړه ښه کړي، ای کاش ستاسو ځينو مشرانو د ايمان او عقيدې خلاف او د خپلو ملي گټو خلاف، د کابل او بغداد په نيولو کي د امريکايي اشغالگرانو مرسته نه وی کړې، ايران پلوه عراقي او افغاني شيعه ډلو ته ئې نه وی ويلي چي امريکايانو ته تسليم شئ او د دوی تر قومندې لاندي د خپل ولس په ضد وجنگېږئ!! كه ئې دا بريدونه غندلی نه شوی نو لږ تر لږه له صليبي ځواکونو سره د

ملګرتیا په ځای به ئې بې طرفي غوره کړې وی او ساکت به پاتې شوي وی. متأسفانه داسي ونه شول، تاسو لومړی د افغانستان په نیولو کي د صلیبي ځواکونو مرسته او ملګرتیا وکړه او بیا مو د عراق په نیولو کي دا غلطي تکرار کړه، دا کار مو په پټه هم ونه کړ بلکي په ښکاره او په داسي بڼې کي چي په دې مو افتخار کاوو او د خاتمي او رفسنجاني په څېر مشرانو مکرر او په ډاګه دا خبره کوله چي که د ایران مرسته نه وی نو امریکا دومره ژر او په داسي آسانۍ سره کابل او بغداد نه شو نیولی!! رفسنجاني خو دا هم ویل چي له امریکا سره داسي ملګرتیا ته موږ په هر ځای کي تیار یو!!! دا خبره ئې په پټو مجلسونو کي نه بلکي د جمعې لمانځه په خطبو کي کوله!! حقیقت دا دی چي که له امریکایانو سره ستاسو پټه او ښکاره مرسته نه وی نو نه ئې کابل نیولی شو او نه بغداد. موږ له رفسنجاني او خاتمي سره په دې خبري کي اتفاق کوو، خو د دې تر څنګ په ټولو هغو کسانو، حکومتونو او ډلو لعنت وایو چي د افغانستان او عراق په نیولو کي ئې د امریکایانو مرسته او ملګرتیا کړې!! او په دې عقیده یو چي دوی نه ایمان لري، نه همت او مېړانه او نه بصیرت او عقل!!

تاسو ته خو دا په کار وه چي نن مو د افغانانو او عراقیانو د سر دعا کولی، د دوی ایمان، همت، عزم او د قربانۍ جذبې ته مو د ارادت سر ټیټولی، چي دا وحشي ځواك ئې دلته تم کړی او په تاسو او نورو هېوادو ئې د دوی د برید مخه نیولې. د افغانستان او عراق زړه ور او با ایمانه مجاهدین په داسي حال کي د دښمن مخې ته په مېړانه ودرېدلي، مقاومت کوي، قربانۍ ورکوي چي نه یوازي د اسلامي نړۍ ټولو بې همتو او منافقو واکمنانو یوازي پرېښي بلکي ډېر ئې د دوی په ضد له دښمن سره ملګري شوي!! افغانانو او عراقیانو ته باید هر باایمانه ایراني سلام وکړي، ځان او خپل قوم د دوی پوروړی وګڼي، د دوی د عظمت په وړاندي سر ټیټ کړي او دا خبره په جګ غږ وکړي چي که د دوی مقاومت او سر شیندنې نه وی نو نن به په دمشق او تهران کي هم د امریکایانو بیرغونه رپېدل. چي د بغداد له نیولو وروسته د خمیني لمسی امریکایانو ته پر ایران د حملې بلنه ورکوي او وایي چي همدا ئې وخت دی چي د ایران ولس د مستبدینو له منګولو آزاد شي او په دې

هېواد کي هم د عراق او افغانستان په څېر ديموکراسي راشي، نو د ايراني ليبرالانو به څه حال وو او پر ايران د امريکايانو بريد ته به څومره لېوال ول؟!!

متأسفانه د ځينو ايرانيانو په زړه او دماغ له سنيانو او پښتنو سره د کينې او عناد شيطان سپور دی، د دوی په ضد له يهودانو او کمونستانو سره هم له ملګرتيا ډډه نه کوي!! دغو متعصبو کړيو د روسانو له وتلو مخکي د دې لپاره له مسکو سره لاس يو کړ چي په کابل کي د مجاهدينو حکومت جوړ نه شي. د نجيب مرسته ئې وکړه، په مشهد کي ئې هغه استقبال کړ او د ملګرتيا معاهده ئې ورسره امضا کړه. د روسانو او شورای نظار تر منځ د اوربند او د حزب اسلامي په ضد د دواړو د ګډ جنګ معاهده هم د دوی په وساطت رامنځ ته شوه، شيعه ډلو ته دوی امر وکړ چي په باميانو کي د مجاهدينو د کاروانونو مخه ونيسئ، په باميانو کي چي د شمال د مجاهدينو په کاروانونو کوم بريدونه شوي ښايي مجاهدين ئې هيڅکله هېر نه کړي او ښايي د طالبانو په وخت کي د باميانو د جګړو او مرګ ژوبلې يوه لويه وجه هغه تېر ظلمونه، د مجاهينو مخنيوی او د دوی په کاروانونو بريدونه وي.

دوی د پرچميانو، شورای نظار، دوستم او حزب وحدت تر منځ د جبل السراج معاهده رامنځ ته کړه، کومه چي د خونړيو پېښو اصلي لامل شوه. د جبل السراج له معاهدې وروسته چي ايران دغه ائتلاف ته کومي وسلې او مهمات ورکړې، د دې سلمه برخه ئې د روسانو په ضد د جنګ په دوران کي افغانانو او حتی شيعه افغانانو ته نه دي ورکړې، شيعه ګانو ته ئې هم د روسانو او کمونستانو په ضد د جنګ لپاره نه ورکولې، برعکس د دې لپاره ئې ورکولې چي د سني مجاهدينو په ضد تري کار واخلي او په باميانو کي د دوی په کاروانونو بريدونه وکړي. د آزادۍ په جنګ کي چي د کوم قوم برخه له هيڅ سره برابره وه نو دا هغه شيعه ډلي وې چي ايران پاللې او پيسې ئې ورکولې. هغه افغاني ډلي چي د سپاه پاسدارانو په څېر به ئې برګ ځادرونه په غاړه کي اچول او روزنه ئې د ايراني افسرانو په لاس کېده او ايران ورته وسلې او پيسې ورکولې، ايراني افسرانو مخکي له روسانو سره کښېنول او ورپسې ئې له امريکايانو سره ملګرتيا ته چمتو کړل.

دا دوی وو چي د حزب اسلامي په ضد جګړو کي ئې د جبل السراج ائتلاف ته

هم وسلې او پېسې ورکولې او هم ئې د دغو مفسدينو لارښوونه کوله، حتی د حزب اسلامي له مجاهدينو نه د شينډنډ په نيولو کي د سپاه پاسدارانو مسلح ټولګيو مخامخ او پراخه برخه واخيسته. کومه ورځ چي د حزب اسلامي ځواکونه کابل ته ننوتل، رفسنجاني د ايران د هغه وخت جمهور رئيس په ډېره بې شرمۍ اعلان وکړ چي ايران به پر کابل باندي د حزب اسلامي تسلط هيڅکله ونه مني!!

د طالبانو په ضد جنګ کي دوی د امريکايانو کلکه ملګرتيا وکړه، د دوی فوځي افسرانو د جنرال (سردار) موسوي تر مشرۍ لاندي له هغو امريکايي او انګرېزي افسرانو سره په تخار، پنجشير او مزار کي د قومنديې ګډ مرکزونه جوړ کړي وو، د جنګ لارښوونه ئې کوله او د بي ۵۲ بمبارد طيارو ته ئې کوردينات ورکاوو، چي امريکايانو د شمالي ټلوالې د اکمال، سوق او ادارې دنده ورسپارلې وه!!

د بن په خائنانه معاهدې کي د ايران ونډه هومره د افغانانو او افغانستان ضد او د صليبي ځواکونو په ګټه وه چي د امريکا او انګليس د جاسوسي شبکو مشرانو او د خارجه وزارتونو لوړ پوړو مشرانو ئې له دوی مننه وکړه. په بن کي د افغانستان د اشغال سند امضا شوی او د دې سند په جوړولو او امضا کولو کي د ايران ستره ونډه وه. د بن د خائنانه معاهدې په ترڅ کي د امريکا لاس پوڅی حکومت پر افغانانو تپل شوی او د دې حکومت په جوړولو کي د دغو ايرانيانو لويه برخه وه.

دا دوی وو چي ايران پلوه افغاني او عراقي ډلو ته ئې وويل چي د امريکايانو تر قومنديې لاندي د خپل ولس په ضد وجنګېږئ، دا ځکه چي هغوی سنيان دي او سنيان تر يهودانو بدتر. د سپاه بدر په نامه چي پنځلس زره شيعه عراقيان په ايران کي روزل شوي او وسلې ورکړی شوې وې، ټول د دغو ايرانيانو په وينا امريکايانو ته تسليم شول، خپلي وسلې ئې امريکايانو ته وسپارلې او اوس د عراقي فوځ په ټولګيو کي د امريکايي افسرانو تر قومنديې لاندي له سني عراقيانو سره جنګېږي. کوم کار چي شمالي ټلواله ئې په افغانستان کي کوي، عراقي شيعه ئې په عراق کي کوي او دا دواړه ئې د ايران په امر او وينا کوي!!!

د افغانانو او عربانو په نيولو او لاس تړلي دښمن ته په سپارلو کي ايراني

چارواکو له پاکستاني چارواکو سره سيالي کوله، که به نن اسلام آباد وويل چي موږ شپږ سوه کسان ونيول او امريکايانو ته مو وسپارل؛ سبا به له تهرانه دا غږ اوچت شو چي موږ شپږ نيم سوه ترورستان ونيول او خپلو خپلو حکومتونو ته مو وسپارل!! او په دغو نيول شوو کسانو کي ډېر ئې هغه وو چي ايرانيانو ورته وېزې ورکړې وې او حتی دوی ته ئې بلنه ورکړې وه چي ايران ته راشئ موږ درته پناه درکوو!!

له نظامي برخو علاوه په نورو برخو کي هم ايراني چارواکو د امريکايانو مرسته کړې، ايرانيان په خپلو ټولو خبري رسنيو کي عراقي او افغاني مجاهدين د ترورستانو په نامه يادوی او د دوی په ضد ئې تبليغات تر غربيانو ډېر زهرجن دي، دغو متعصبو ايراني کړيو د افغانانو په ضد، مخصوصاً د سني علماوو په خلاف داسي کرکجن او له مسخره او دروغجنو صحنو ډك فيلمونه جوړ کړل چي امريکايانو ورته جائزې ورکړې!!

په مخکنيو صليبي جنگونو کي هم دغسي متعصبو ايرانيانو د صليبي يرغلگرو ځواکونو ملگرتيا وکړه او په اوسني صليبي جنگ کي هم ورسره ملگري شول.

کله چي افغانان د زمان شاه ترمشرۍ لاندي د ډهلي په لور وخوځېدل، تر څو د هند د مظلومو مسلمانانو مرسته وکړي او پرې نږدي چي ډهلی د انگرېزانو په لاس کي پرېوځي د ايران د هغه وخت چارواکو د انگرېزانو په اشاره پر هرات حمله وکړه او د افغانانو هغه فوځ ئې چي د هند د مسلمانانو د مرستي لپاره خوځېدلی وو، مجبور کړ چي بېرته افغانستان ته راستون شي او پر هرات د دوی بريد شنډ کړي.

دغو نامردو متعصبينو دا بې مروتي هم وکړه چي غوښتل ئې ما امريکايانو ته تسليم کړي!! زما د اخراج فيصله ئې وکړه، د امريکايانو د خوشحالولو لپاره ئې اعلان وکړ چي زما بانکي حساب ئې منجمد کړی!! افغانان پوښتنه کوي چي زما جرم له دې پرته بل څه وو چي پر خپل هېواد مي د پرديو بريد غندلو او د خپل هېواد خپلواکي مي غوښتله؟!!

که نن پر ايران بريد کېږي، يا بندېزونه پرې لگول کېږي او شتمنۍ ئې په

غربي بانکونو کي منجمد کېږي، د دې مسئوليت به يقيناً او له شکه پرته په خپله د ايراني چارواکو په غاړه وي او دا به دوی ته د الله تعالی له لوري د دوی د غلطو سياستونو سزا وي. مگر الله تعالی به هغه چا ته سزا نه ورکوي چي د مسلمانانو په وژلو او د اسلامي ملکونو په نيولو کي د کفري ځواکونو مرسته کوي؟!!

ايرانيانو ته زموږ لومړی مشوره دا ده چي د امريکا په ځای له الله تعالی ووېرېږئ، د افغانستان او عراق په اړه په خپل غلط سياست کي تجديد نظر وکړئ او د امريکايانو له ملگرتيا لاس واخلئ، دوهمه مشوره مو دا ده چي افغانان حقير مه گڼئ او په سپکه سترگه ورته مه گورئ، الله تعالی به هغه څوك حتماً سپك او ذليل کړي چي د يو نيم مليون شهيدانو وارث قوم ته په سپکه سترگه گوري او د دوی له دښمنانو سره لاس يو کوي.

په دې کي هيڅ شك نشته، يوازي ناپوه او بې خبره خلك به په دې کي شك کوي چي د روسانو له وتلو وروسته تر نن پورې د ايران متعصبو کړيو له افغانانو سره هومره ظلمونه او جفاوي کړې چي له روسانو وروسته هيڅ هېواد ورسره نه دي کړې!! پاکستان د امريکا په وينا له افغانانو سره دښمني کړې، خو ايرانيانو د ژبني او مذهبي تعصب او په کابل کي د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت له جوړېدو نه د مخنيوي په خاطر دښمني کړې، پاکستان له امريکايانو سره لاس يو کړ، خو ايراني ليبرالانو هم له روسانو او هم له امريکايانو سره د افغانانو په ضد ملگرتيا وکړه.

حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

# له ورور حکمتيار سره د الجزيرې د خبريال مرکه

پوښتنه: په افغانستان باندي د امريکائي يرغل او د طالبانو د اسلامي امارت له نسکورېدو نه پنځه کاله تېر شول، نن د افغانانو په هېواد کي څه تېرېږي او وضعيت څنګه دی؟

ج-۱: د صليبي ځواکونو له لوري زموږ پر هېواد يرغل او د دوی په لاس د افغانستان له اشغاله څلور کاله شپږ مياشتې تېرېږي، په دې بريد کي زموږ کينه کښو ګاونډيانو د امريکا مرسته وکړه، مسکو او د مسکو تر مشرۍ لاندي ائتلاف ئې ملا وتړله، په دې ائتلاف پورې تړلو افغاني ډلو چي د شمالي ائتلاف په نامه راغونډ شوي، د امريکايانو د ځمکنيو فوځونو په څېر د دوی تر قومندې لاندي د افغان ولس په ضد وجنګېدې او د افغانستان اشغال ئې امريکايانو ته آسانه کړ. د طالبانو حکومت ئې نسکور او په ځای ئې هغه لاس پوځی حکومت نصب کړ چي کابينه ئې په بن کي جوړه او وزارتونه ئې په هغو ډلو ووېشل شول چي په ۲+۲ ملکونو پورې تړلې وې.

امريکايانو له خپل بريدنه يوازي يوه نتيجه ترلاسه کړې، چي هغه د طالبانو د حکومت نسکورل دي، نه ئې مقاومت وځپلی شو، نه ئې يو قوي مرکزی حکومت جوړ کړي شو، نه ئې د افغانستان له لاري د مرکزي آسيا تېل او ګاز انتقال کړی شو او نه ئې د مخدره موادو د کر او تجارت مخه ونيولی شوه. په حقيقت کي دوی

افغانستان د روسانو او ایران لپاره فتح کړ، نن د کابل د حکومت اکثر مهم پستونه د شمالي ټلوالې په لاس کي دي. د شلو ولایاتو والیان د دې ائتلاف غړي دي، که نن امریکایان له افغانستانه ووځي نو قدرت به د دې ائتلاف په لاس کي پاتې کېږي او بیا به څو میاشتې وروسته د دې ائتلاف پایتخت د تاجکستان کولاب ته انتقالېږي. امریکایانو داسي سیاسي ډله نه درلوده چي اقتدار وروسپاري او هېواد اداره کړی شي، نو ځکه ئې حکومت هغو ډلو ته وسپارو چي تر دې دمخه د مسکو تر مشرۍ لاندي ائتلاف وسلې او پیسې ورکولې. امریکایانو د روسانو او ایران لپاره هغه کار وکړ چي دوی په ډېرو کلونو کي او په ډېرو مصارفو ونه شو کړی.

پوښتنه: ۲- امریکا او ملګري ئې دا ادعا کوي چي مقاومت ئې ځپلی او د مجاهدینو ډلي ئې له منځه وړې، په افغانستان کي امنیت راغلی او هغه اقتصادي وضعیت چي نن ئې افغانان په خپلو سترګو ګوري تر مخکي ډېر ښه دی، په دې اړه ستا تبصره څه ده، امید دی په تفصیل سره رڼا پرې واچوئ.

ج- ۲: امریکایانو په ابتداء کي دا ګمان وکړ چي د دوی په ضد مضبوط او پیاوړی مقاومت نه شي پیل کېدی، د ولس اکثریت له طالبانو سره خواخوږي نه لري، حزب اسلامي په بهر کي داسي څوك نه لري چي مرسته ئې وکړي، ګاونډیان د ایران او پاکستان په شمول د امریکایانو مرسته کوي، مخالفین ورته نیسي او لاس تړلي ئې دوی ته سپاري، نظامي اډې ئې ورکړې، خپلو پلوي ډلو ته ئې ویلي چي له امریکایانو سره لاس یو کړي او په حکومت کي برخه واخلي، د ګاونډیو له مرستو پرته نه مقاومت پیل کېدی شي او نه دوام کولی شي، ګمان ئې دا وو چي محدود مقاومت به ډېر ژر ختم شي، د همدې لپاره ئې په عراق هم برید وکړ، خو ډېر ژر متوجه شو چي اشتباه ئې کړې وه، په افغانستان کي مقاومت ورځ په ورځ وده وکړه، له یوې سیمي بلي ته وغزېدو، د دوی په مرکزونو، قطارونو او ګزمو بریدونه زیات شول، مالي او ځاني تلفات ئې ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو شول، په عراق کي هم د دوی انتظار دا وو چي عراقیان به ئې د ګلانو په ګېډیو استقبالوي، د ناجي په سترګه به ورته ګوري، آزادي بخښونکي به ئې ګڼي او د هغه چا ملګرتیا به نه کوي

چې امریکایان اشغالګران ګڼي او د آزادۍ جنګ ته بلنه ورکوي، هلته ئې هم انګېرنه دا وه چې ګاونډي هېوادونه د ایران او سوریې په شمول د دوی ملګرتیا کوي، شیعه ډلې د ایران په وینا ورسره ملګري شوې او د دوی ترقومندې لاندې جنګ ته تیارې دي. خو ژر پوه شول چې اشتباه ئې کړې، ونه شو توانېدی چې د مقاومت د پیل کېدو او ورځ په ورځ ودې مخه ونیسي، نن نن په افغانستان او عراق کې حالت تر بل هر وخت زیات د دوی په تاوان او د دوی د انتظار خلاف دی.

دا سمه ده چې د شمالي ائتلاف د اقتدار په دوران کې د خلکو اقتصادي حالت ډېر خراب وو، حکومت د بې اعتباره پیسو په بې دریغه چاپولو سره خپل پراخ جنګي مصارف برابرول او په دې سره ئې عام ولس له سختو اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړي وو، د شمالي ائتلاف بهرنیو حامیانو یوازې وسلې ورکولې، هغه هم اکثراً د قیمت په مقابل کې، ایران ورسره مالي مرستې کولې خو هغه هم دومره نه وې چې د دوی ټول جنګي مصارف پوره کړي. د طالبانو په راتلو سره د ولس اقتصادي وضعیت لازیات خراب شو، د دوی د اقتدار په وخت کې خو د جنګ د تشدید تر څنګ قحطي او وچکالي هم خپل سیېره وزر پر افغانانو وغوړاوو. خو د امریکایانو په راتلو سره په دې وضعیت کې د پام وړ تبدیلي نه ده راغلې، د محدود شمېر کسانو حالت ښه شوی، دا هغه کسان دي چې پردیو ته کار کوي، یا په فوځ او پولیس کې استخدام شوي او د پردیو لپاره د خپل ولس په ضد جنګېږي او یا په هغو انجیوګانو کې استخدام شوي چې تنصیري فعالیتونه لري او افغانان مسیحیت ته رابلي او اخلاقي فساد خوروي.

دوی چې د مرستو په نامه څه زموږ په حساب نشر ته سپاري دا یا د دوی نظامي مصارف دي، یا ئې خپل نظامي پرسونل او مشاورینو ته ورکوي، یا ئې هغو مؤسساتو او انجیوګانو ته چې مسیحت ته د افغانانو د رابللو په کار بوختې دي، بې دیني او اخلاقي فساد خوروي، خو تاسو ته معلومه ده چې د دوی مذهب له سندرو، نڅا، شراب، قمار، بربنډتوب ... پرته بل څه نه دی. که څه ئې د افغانانو لپاره کړي دا هم د هغه مقاومت په وجه ده چې د دوی په ضد روان دی او د دې لپاره چې د مجاهدینو په ضد د افغانانو ملاتړ ترلاسه کړي، که مقاومت نه وی نو دا

محدود کارونه به ئې هم هیڅکله نه وو کړي، مګر نه ګورئ چې ټول کارونه ئې تبلیغاتي جنبه لري، داسي کار ئې ونه کړ چې د افغانستان د بیاودانولو لپاره ضروري دی، نه ئې د کومي فابریکي مرسته وکړه، نه د کوم بند د جوړولو او د شاړو ځمکو د آبادولو.

۳- اورو چې د افغانستان ګاونډي په دې هېواد کې د فتنو، شخړو، عدم استقراراو بې امنیو په راولاړولو کې لوی لاس لري او له اشغال ګرانو سره ئې د افغانستان په نیولو کې مرسته وکړه، تاسو په دې هکله څه وایئ؟ آیا دا خبري صحیح دي؟

ج-۳ حقیقت دا دی چې د ګاونډیو مخصوصاً پاکستان او ایران له مرستي پرته امریکایان په دې نه توانېدل چې افغانستان او عراق دومره ژر او په آسانۍ سره ونیسي او تر اوسه دلته پاتې شي، که دوی د کابل او بغداد په نیولو کې د امریکایي اشغالګرانو مرسته نه وی کړې، ایران پلوه عراقي او افغاني شیعه ډلو ته ئې نه وی ویلي چې امریکایانو ته تسلیم شئ او د دوی تر قومندې لاندې د خپل ولس په ضد وجنګېږئ!! که ئې نور څه نه شوی کولی نو لږ تر لږه له صلیبي ځواکونو سره د ملګرتیا په ځای ئې بې طرفي غوره کړې وی او ساکت پاتې شوي وی، امریکا به په آسانۍ خپلو ناولو موخو ته نه رسېده، متأسفانه داسي ونه شول، دوی لومړی د افغانستان په نیولو کې د صلیبي ځواکونو مرسته او ملګرتیا وکړه او بیا ئې د عراق په نیولو کې دا غلطي تکرار کړه، دا کار ئې په پټه هم ونه کړ بلکي په ښکاره او په داسي بڼې کې چې په دې ستري ګناه او تاریخي غلطۍ ئې افتخار کاوو، پرویز مشرف خو پرېږده د خاتمي او رفسنجاني په څېر مشرانو مکرر او په ډاګه دا خبره کوله چې که د ایران مرسته نه وی نو امریکا دومره ژر او په داسي آسانۍ سره کابل او بغداد نه شو نیولی!! رفسنجاني خو دا هم ویل چې له امریکا سره داسي ملګرتیا ته موږ په هر ځای کې تیار یو!!! دا خبره ئې په پټو مجلسونو کې نه بلکي د جمعې لمانځه په خطبو کې کوله!! حقیقت دا دی چې که له امریکایانو سره د ګاونډیو پټه او ښکاره مرسته نه وی نو نه ئې کابل نیولی شو او نه بغداد.

۴- امریکا او ملګري ملتونه ګمان کوي چې افغانستان د تروریزم او د

ترهګرو عملياتو په مرکز او د مخدره موادو د تجارت په اډې بدل شوی، دا ادعا څومره حقيقت لري؟ او آيا امريکا د مخدره موادو په خوربدو او انتشار کې لاس لري؟

ج-۴: افغانستان ته د امريکايانو له راتلو وروسته د مخدره موادو کښت او تجارت څو برابره زيات شو، په دې کې نه يوازي هغه افغاني چارواکي لاس لري چې اوس د امريکايانو ملګري دي بلکې د دوی خپل ملکي او نظامي پرسونل په پراخه پيمانه په دې کې ککړ دي.

**۵**-شيخ اسامه اروپايانو او امريکايانو ته د اوربند و وړانديزونه وکړل، خو په دې شرط چې‌دوی به د فلسطينيانو په ضد د اسرائيلو له مرستي لاس اخلي، دې وړانديزونو ته په کومه سترګه ګورئ؟

ج-**۵**: د شيخ اسامة بن لادن وړانديز حکيمانه او معقول وړانديز وو، په کار ده چې موږ وخت په نړيوالو ته دا حقيقت ثابت او څرګند کړو چې امريکايان او د دوی اروپايي اندېيوالان د جګړې د دوام اصلي عاملين دي، د فلسطين، افغانستان ، عراق او د مسلمانانو په ضد د ټولو روانو جګړو د پيل او دوام سبب دوی دي، دوی دا هڅه کوي چې په اسلامي هېوادو مخامخ او د خپلو لاس پوڅو په لاس حکومت وکړي، شتمنۍ ئې غارت کړي او مسلمانان د خپلې خوښې اسلامي حکومتونو له لرلو د تل لپاره محروم وساتي. دا دی مسلمانان ورته د صلحې او روغې جوړې معقول وړانديزونه کوي خو غربي استعمارګران د جنګ او اشغال په دوام ټينګار کوي.

۶-آيا د اسامه او ايمن الظواهري او نورو ملګرو له احوال نه خبرېږئ؟ افغانان دوی ته په کومه سترګه ګوري او د دوی په اړه څه فکر کوي؟

ج-۶: موږ د ټولو هغو عرب مجاهدينو مخصوصاً د شيخ اسامة بن لادن او دکتور ايمن الظاهري په څېر د دوی د مشرانو د احسان مرهون او پوروړي يو چې د روسانو په ضد جګړې کې ئې زموږ ملګرتيا وکړه، زموږ په څنګ کې وجنګېدل او ډېرې قربانۍ ئې ورکړې، موږ او زموږ راتلونکي نسلونه به د دوی دا بې دريغه او نه هېرېدونکي قربانۍ هېڅکله هېرې نه کړو او تل به دا هيله کوو چې الله تعالی

موږ ته د دې توفيق راکړي چې د دوی پور ور ادا کړو او په داسي يوې جګړي کي د دوی په څنګ کي برخه واخلو چې بيرغ ئې د دوی په لاس کي وي او موږ ئې انصار وو.

۷- آيا ګمان کوئ چې په نږدې راتلونکي کي به امريکا او ائتلافي ځواکونه له افغانستانه ووځي؟ دا خبره څومره رښتيا ده چې ائتلافي ځواکونه په مزار شريف کي له خپلي ستري اډې وتلي، آيا دا کار شوی؟

ج-۷: امريکائي ځواکونه به حتماً له افغانستان څخه وځي او إن شاء الله ډېر ژر، مجاهدين به ئې دې ته اړ کوي، افغان آزادي غوښتونکی ولس به ئې دې ته اړ کوي، خپلي ناکامۍ او د فوځيانو ورځ په ورځ زياتېدونکي مرګ ژوبله به ئې دې ته اړ کوي. امريکايانو په تېرو څلورو کلونو کي هيڅ (ښه خبر) له افغانستانه وانه وربېدو، ګمان نه کوو چې تر اوږدې مودې د (بدو خبرونو) د مسلسل اورېدو حوصله ولري!! إن شاء الله د استعمارګرانو په لاس په مظلومو مسلمانانو مسلطه شوې توره شپه خپل پای ته نږدې شوې، د آزادۍ او عزت روڼ سباوون په راختو دی، پر افغانستان او عراق د صليبي ځواکونو ګډ لوی بريد له ماتې سره مخامخ شوی، دې بريد او د مجاهدو افغانانو او توريالیو عراقيانو مقاومت ټوله اسلامي نړۍ راوېښه کړې او دا درس ئې ورکړي چې له داخلي او بهرني دښمنانو نه د نجات يوازنۍ لار جهاد دی، په دې جهاد سره به إن شاء الله صليبي ځواکونه د شوروي اتحاد په برخليك اخته کېږي. و ما ذلك على الله بعزيز

امريکايان دې په دې پوه شي چې فقط يوه د حل لار په مخکي لري: له افغانستان او عراق نه وتل، د مظلومو فلسطينيانو بې رحمانه وژنه ودرول، د مسلمانانو له ځورولو، سپکولو، د دوی د شتمنيو له تالان او د دوی په هېوادونو د سياسي، اقتصادي او نظامي واکمنۍ نه لاس اخيستل او مسلمانان دې ته پرېښودل چې د خپلي خوښي اسلامي نظام او له خپل لوري غوره کړي واکمنان ولري. دوی نور ستاسو د ديموکراسۍ، آزادۍ او بشري حقوقو په غولوونکو شعارونو نه غولېږي، په فلسطين کي ستاسو د بشري حقوقو اصلي څېره ګوري او په افغانستان او عراق کي ستاسو د آزادۍ او ديموکراسۍ مصداق.

۸- د نړۍ د ګوټ ګوټ مسلمانان چې د افغانستان او عراق د وضعيت شاهد دي، دې حملې ته د بلې صليبي جګړې په ستر ګه ګوري، تاسو په دې اړه څه نظر لرئ، او د نړۍ مسلمانانو ته په دې ارتباط څه ويل غواړئ؟

ج-۸: د نړۍ ټول مسلمانان بايد د فلسطين، افغانستان او عراق جنګ د اسلام او صليبي ځواکونو ترمنځ جنګ وګڼي او په دې کې فعاله برخه واخلي او په دې باور وي چې ترڅو د انګرېزانو ناولي لاسونه له دې سيمې نه وي قطع شوي؛ نه به زموږ په هېواد کې سوله راشي او نه به د عراق جګړه پای ته ورسېږي او نه به د فلسطين او کشمېر غميزې پای ومومي، همداسې به د تل لپاره په اسلامي نړۍ کې د فتنو او جګړو اورونه بل وي، مفسد ، ظالم او منافق حکام به پرې حکومت کوي، شتمنۍ به ئې د غربي استعمارګرانو په لاس لوټل کېږي، دين او مذهب ته به ئې سپکاوی کېږي. هېڅ مسلمان بايد په دې کې شك ونه لري چې عزت او آزادۍ ته د رسېدو يوازې يوه لار ده او هغه اعتصام بحبل الله او جهاد في سبيل الله.

۹- محترم ورور انجنير حکمتيار! تاسو په خپل مخکني جهاد کې سترې تجربې ترلاسه کړې، همدا راز الله تعالی تاسو ته د امريکايانو او د دوی د ملګرو په ضد د جهاد توفيق درکړ، هغو خلکو ته ستا نصيحت څه دی چې د جهاد اراده او تلوسه لري؟ هغه اسلامي طريقه کومه ده چې اوس او په دغو ظروفو کې ئې بايد مجاهدين غوره کړي، خاصتاً دې ته په پام سره چې د اسلام ټول دښمنان د مسلمانانو په ضد متحد شوي، د افغانستان، عراق، فلسطين او نورو مجاهدينو ته ستا توصيې څه دي؟ آيا په افغانستان کې د مجاهدينو د يووالي په اړه مو څه کړي، مخصوصاً له طالبانو او د دوی د امير ملا محمد عمر سره د يو والي او وحدت په ارتباط؟

ج -۹: نن نن په نړيواله سطحه اسلامي نهضت هومره پراخ امکانات په واك کې لري چې له دې نه مخکې ئې هيڅکله نه درلودل، په لوی شمېر کې مخلص، پوه، با ايمانه او منور غړي، قربانۍ ته چمتو شاڅلميان او د ولسونو پراخ ملاتړ، که دا ټول وسيع امکانات په منظمه توګه وکارولی شي، ډېر څه کېدی شي. متأسفانه اوس دا امکانات په ډېر نامنظم او متشتت ډول استعمالېږي، په يوه

وخت کي په ګڼ شمېر جبهو کي کار روان دی، که د دې امکاناتو یوه برخه هم د یوه مهم هدف په لوري توجیه شي نو په زړه پورې نتیجه ترلاسه کېدی شي. د اسلامي نهضت لپاره اوس تر ټولو مهمه خبره دا ده چي په کوم هېواد کي انقلاب راولي او قدرت ترلاسه کړي. له دې نه پرته به ئې هلې ځلې هیڅکله هغه نتیجه ورنه کړي چي انتظار ئې کوي. باید وګوري چي په کوم ځای کي د یوه اسلامي انقلاب لپاره تر نورو ځایونو زیات مناسب شرائط موجود دي، په کوم ځای کي دا کار تر نورو ځایونو په لنډ وخت، کمو امکاناتو او آسانۍ ترسره کېدی شي؟ همغه ځای باید انتخاب شي او په همدې باید ترکیز وشي. زه د افغانستان او افغانانو وضعیت داسي ګورم چي دلته ډېر کار کېدی شي. په افغانستان کي د امریکا د ماتولو ټول امکانات شته، دلته چي کوم امکانات شته د نړۍ په هیڅ ګوټ کي ئې نه شو موندلی، ولس قرباني ته چمتو دی، د اوږده جنګ تجربه لري، یوه ستر ځواك ته ئې څو کاله د مخه ماتې ورکړې، امریکا تر هغه ډېر ضعیف ورته برېښي، د هېواد دنګو دنګو غرونو، تنګو اوږدو درو او ګڼو ځنګلونو د چریکي جنګونو لپاره ښه شرائط برابر کړي. د اسلام په ضد بل صلیبي جنګ له افغانستان نه پیل شوی، د امت برخلیك د دې جګړي په پایلو پورې تړلی دی، که د الله جل شأنه په فضل سره دښمن دلته ماتې وخوړه نو إن شاءالله د شوروي اتحاد له عاقبت سره به مخامخ کېږي او مظلوم اسلامي امت به د دې لوی فرعون له شر نه ژغورل کېږي.

متأسفانه د اسلام په نامه ځیني جوړې شوې ډلي د دې په ځای چي خپل وسائل، امکانات او قربانۍ ته چمتو افراد د اصلي دښمن په ضد توجیه کړي او یا د مفسدو رژیمونو په نسکورولو کي ترې استفاده وکړي برعکس په داسي فعالیتونو کي ترې استفاده کوي چي نه ئې دوی ته ګټه رسېږي او نه اسلام ته، دا امکانات یا په مذهبي نښتو کي ضایع کړي او یا د عادي خلکو په وژلو او نورو پرېوتو او بېهوده فعالیتونو کي. کله کله په همداسي فعالیتونو کي د دغو ډلو تلفات هومره زیات شي چي په دې سره یو وسله وال انقلاب ترسره کېدی شي.

د افغانستان موجوده جنګي شرائطو کي له دښمن سره (مخامخ جنګ) او د (جبهو پرانستل) نه مفید دی او نه ئې وخت. په دې سره د اصلي دښمن په ځای اکثراً

هغه کسان تلف کېږي چي امريکايانو د څو ډالرو په مقابل کي استخدام کړي او د افغانانو په ضد ئې په لومړي خط کي جنګوي. د دوی مرګ ژوبله که هرڅومره زياته وي په دښمن څه تأثير نه کوي، بايد عمليات داسي تنظيم شي چي اصلي دښمن ته تر زيات نه زيات تاوان ورسوي. د جبهه ئې جنګ په ځای بايد په دښمن ناڅاپي بريدونو او کمين ته ترجيح ورکړی شي، په دې سره د يوې جبهې له مجاهدينو نه په لسهاوو واړه واړه ټولګي جوړيدی شي او دا ټولګي اصلي دښمن ته تر جبهه ئې جنګ نه څوڅو ځله زيات تلفات رسولی شي. د مخامخ او جبهه ئې جګړو لپاره چي مجاهدين کومو امکاناتو ته اړتيا لري، په دې ظروفو او شرائطو کي هغه نه شي ترلاسه کولی. بايد په هغو محدودو امکاناتو اکتفاء وکړي چي په واك کي ئې لري او يا ئې په آسانۍ ترلاسه کولی شي. خپل مقاومت بايد داسي تنظيم کړي چي په کمو امکاناتو سره دښمن ته زيات تلفات اړولی شي او د اوږدې مودې لپاره مقاومت کولی شي.

موږ په افغانستان کي د ټولو مجاهدينو د يووالي مسلسله هڅه کړې، مخکي هم او اوس هم او إن شاء الله دې هڅو ته به تل ادامه ورکوو، خو متأسفانه د ځينو خاصو عواملو په وجه لاتراوسه په دې نه يو موفق شوي چي ټول هغه افغانان په يوه صف کي راغونډ کړو چي په آزاد او خپلواك افغانستان کي سل په سلو کي اسلامي حکومت غواړي، په ځينو مواردو کي ګاونډيان مانع شوي، په ځينو مواردو کي حکومتونه او په ځينو کي د نورو ملکونو اسلامي ډلي او په ځينو کي د افغاني ډلو نامعقوله غوښتني او ناسمې تګلاري.

۱۰- موږ او تاسو هغه څه اورو چي په غربي رسنيو کي د اسلام په ضد او زموږ د ګران پيغمبر په خلاف ويل کېږي، د دې تبليغاتي هجوم غرض څه دی؟ آيا غرب عمداً دې کار ته ملا تړلې؟

ج-۱۰: ډېر ناپوه کسان به په دې نه پوهېږي چي د اسلام په ضد د غربي هېوادو تبليغات د يوه پراخ صليبي جنګ يوه برخه ده. دا نه لومړی ځل دی او نه وروستی چي زموږ د ګران پيغمبر عليه السلام سپکاوی کوي او کارتونونه ئې خپروي، مګر دوی د سلمان رشدي په لاس دا کار ونه کړ؟ مګر د تسنيمه نسرين په

لاس ئې دا کار ونه کړ؟ مګر د ګوانتانامو، ابو غريب، بګرام او کندهار په زندانونو کې ئې د قرآن سپکاوی ونه کړ؟ مګر دا دوی نه دي چې د اسلامي ملکونو منافق او مفسد چارواکي دې ته اړ کوي چې په تلويزيوني خپرونو کې د اخلاق، عفت او مذهب خلاف فيلمونه خپاره کړي، بربنډې ښځې د رقص، نڅا او سندرو په حالت کې وښيي، نايټ کلپونه او کابارې جوړې کړي او د شرابو په پير پلور بنديزونه ختم کړي.

۱۱- په فلسطين کې له پارلماني انتخاباتو او د حماس له بريا وروسته د حماس د غور ځنګ د راتلونکي په اړه څه نظر لرئ؟ د قدس د آزاد ی لپاره تر ټولو غوره لاره کومه ده؟ په انتخاباتو کې شرکت او که د جهاد ادامه؟

ج-۱۱: د حماس د ډلي بريا د دوی د جهادي تګلارو نتيجه ده، اميد دی د حماس زړه ور مجاهدين خپل جهاد ته د سابق په څېر او تر مخکې زيات ادامه ورکړي، له جهاده پرته د فلسطين د آزادۍ لپاره بله لار نشته، که بله لار وی نو د الفتح غورځنګ به څه ترلاسه کړي وو، الفتح ته دا تش په نامه حکومت هم د حماس د قربانيو په نتيجه کې او د دې لپاره او په دې شرط ورکړی شو چې د جهادي مقاومت د ځپلو لپاره ترې استفاده وکړي. إن شاء الله په افغانستان او عراق کې د امريکايانو له ماتې او له دې هېوادو له وتلو وروسته به صهيونستان هم له ټولو اشغال شوو سيمو وځي.

۱۲- تاسو د نجيب حکومت غيراسلامي حکومت ګڼلو او د هغه په ضد جنګېدئ، د دې حکومت د پلويانو او ملګرو په هکله مو هم دې ته ورته موقف درلود، نو اوس د هغه چا په اړه د شريعت حکم څه ګڼئ چې له امريکايانو سره ئې ملګرتيا وکړه او په دې ائتلاف او حکومت کې شامل شول او د امريکايانو ترقومندې لاندې د مجاهدينو او افغان ولس په ضد جنګېږي؟

ج-۱۲: څوك چې نن د صليبي ځواکونو په ضد نه جنګېږي، دا يا هغه څوك دی چې پرون هم د روسانو په ضد نه دی جنګېدلی او يا هغه دی چې د روسانو په ضد جنګ ئې د ايمان او عقيدې په حکم نه وو، مګر کوم د عقل او ايمان خاوند په دې نه پوهېږي چې د صليبي ځواکونو دښمني له اسلام او مسلمانانو سره تر روسانو

ډېره زړه او ژوره ده، دا څو پېړۍ کېږي چي غربي استعمارگران له اسلام او مسلمانانو سره په جګړو بوخت او لاسونه ئې د لکونو لکونو مسلمانانو په وينو سره دي، دا د دوی کار وو چي اسلامي خلافت ئې تجزيه او په وړو وړو مستعمراتو ئې وويشو او د دوی تر منځ ئې داسي لانجمني پولې او سرحدات وټاکل چي له يوې خوا ورونه قومونه سره بېل کړې او له بلي خوا تل د دغو ملکونو تر منځ سرحدي مناقشات دوام وکړي او په خپلو کي ئې جنگونو ته تيار کړي، دوی په دې اکتفا نه کوي چي اسلامي خلافت ئې ختم او د مسلمانانو واحد ستر ملك ئې په وړو وړو مستعمراتو وويشو، ظالم او بې رحمه ديکتاتوران، جنرالان او پاچايان ئې پرې مسلط کړل او دا څو پېړۍ پر له پسې د دوی شتمني غارتوي، په هند باندي د مسلمانانو واکمني دوی پای ته ورسوله، د هند مسلمانان دوی داسي وويشل چي د تل لپاره هندوان پرې حکومت وکړي، دا دوی ول چي کشمېريان او پښتانه ئې په دوو برخو، بلوڅان ئې په دريو او کردان ئې په څلورو برخو وويشل، دا دوی ول چي يهودان ئې د نړۍ له گوټ گوټ نه راغونډ او په فلسطين کي ئې ځای په ځای کړل، دوه مليونه مظلوم فلسطينيان ئې له خپلو کورونو او ځمکو وشړل او يهودان ئې په کي مستقر کړل، دا اوس يهودان د دوی په زور فلسطينيان وژني او نه ئې پرېږدي چي بېرته خپل ملك ته ستانه شي. په بوسنيا کي لس زره مظلوم مسلمانان د دوی په اشاره او د هالينډي فوځ په لاس مسيحيانو ته تسليم او ټول ووژل شول.

و السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

حکمتيار

بسم الله الرحمن الرحيم

# د چا خبره ومنو ، د ملا متوكل كه د مفتي حكيمي؟!

په دې ورځو كې د طالبانو ځينو نطاقانو او مسئولينو له خپلو هغو مخكنيو چارواكو نه دفاع وكړه چې امريكايانو ته تسليم شوي، له هر افغان سره دا پوښتنه راولاړه شوې چې طالبان څنګه او ولې له ملا متوكل نه په داسې حال كې حمايت كوي چې هغه امريكايانو ته تسليم شوی، هره وينا او عمل ئې د طالبانو له څرګند او علني سياست سره ژور توپير لري، دی هر راز مسلحانه مقاومت محكوموي او دوی په مسلحانه مقاومت ټينګار كوي، دی په امريكائي انتخاباتو كې برخه اخلي او هغوی هر راز انتخابات تحريموي، دی د كابل له حكومت سره ملګری شوی او هغوی د كابل د حكومت په هر عادي عسكر هم ډزې ضروري ګڼي!! په داسې حال كې چې د دوی دا پخوانی خارجه وزير چې د اشغال په هماغه لومړنيو شپبو كې امريكايانو ته تسليم شو او تر اوسه د دوی په خوا كې اوسېږي، مقاومت محكوموي، اسامه ملامتوي، خپلو ملګرو طالبانو او ټول افغان ولس ته بلنه وركوي چې له مقاومت نه لاس واخلي او له امريكايانو سره روغې جوړې ته راوړاندې شي، ټولې هغې خبرې كوي چې امريكايان ئې خوښوي او له هرې خولې ئې اورېدل غواړي او دا دی اوس په انتخاباتو كې برخې اخيستو ته ملا تړي، خو له بلې خوا ګورو چې طالبان تل هغه ته برائت وركوي، خپل غړی ئې ګڼي، كله وايي چې هغه بندي دی، دې خبرو ته اړ شوی، دا خبرې د ده خپلې خبرې نه دي او كله بيا

دا وايي چي متوكل هيڅكله نه دي ويلي چي زه د طالبانو په استازيتوب خبري كوم، موږ هيڅوك د خبرو آترو لپاره نه دی لېږلی!! آ بله ورځ هم د طالبانو وياند وويل چي موږ متوكل ته احترام لرو!! د دې معنا څه ده؟ د كوم طالب خبره ومنو، د لطف الله حكيمي كه د متوكل؟ د دوی وياند خو هره ورځ د مقاومت په دوام ټينګار كوي، حتی د نورو عمليات هم طالبانو ته منسوبوي، كومه خبره ئې تبليغاتي وګڼو او كومه ئې د دوی د اصلي دريځ څرګندونكې؟! ډېر خلك داسي ګمان كوي چي د د دوی د وياند اظهارات تبليغاتي بڼه لري، نه په حقيقت مبتني دي او نه د طالبانو د پټ او اصلي دريځ څرګندونه كوي!! د طالبانو له حمايت نه معلومېږي چي د متوكل په اظهاراتو كي بايد د دوی اصلي خبره ولټوو. دا ممكنه نه ده چي متوكل دې په خپل سر او د طالبانو له موافقې پرته امريكايانو ته تسليم شوی وي او طالبان دې د مخكني ارتباط په خاطر د ده حمايت وكړي!! ملامتوكل د طالبانو د ډلي له هغو كسانو څخه دی چي د دې ډلي د راپيدا كېدو له لومړۍ ورځي ئې له امريكايانو سره ډېرې نږدې اړيكي وې، ده ته په غربي مطبوعاتو كي د طالبانو د اقتدار په وخت كي هم د معتدل او غير افراطي طالب په سترګه كتل كېدل او تل به ئې په دغه نامه ياداوو، پر افغانستان د بريد په وخت كي ئې هم توقع دا وه چي د ده په څېر طالبان به ټول له امريكايانو سره يو ځای كېږي، د داسي كسانو شتون امريكايان دې ته هڅول چي بريد وكړي او د طالبانو د ژر ماتې انتظار ولري، په يقين سره ويلی شو چي كه دا كسان او له امريكايانو سره د دوی پټه ملګرتيا نه وی نو امريكايانو به نه دومره ژر حمله كړې وه او نه به ئې دومره ژر كابل نيولی وو. د طالبانو په ليكو كي د ملا خاكسار په څېر ډېر كسان داسي وو چي د كابل په سريع سقوط كي ئې د دښمن مرسته وكړه، متوكل كه نظامي واك نه درلود او په جنګ كي ئې د امريكايانو خاصه مرسته نه شوی كولی، خو په هغو كسانو كي وو چي امريكايانو ترې د ملګرتيا انتظار درلود. د طالبانو د اقتدار په وخت كي دغو كسانو دوه كارونه امريكايانو ته كول: طالبان داسي سياستونو غوره كولو ته وهڅوي چي روابط ئې له امريكايانو سره لازيات مضبوط شي او له مجاهدينو سره ئې د يوځای كېدو او يووالي مخه ونيسي، اوس هم دغه ډله په نوموړو دوو برخو

کي په کار بوخته ده او داسي معلومېږي چي د طالبانو قیادت هم دا غوره ګڼي چي دا ډله د سابق په څېر له امریکایانو سره خپل روابط ټینګ وساتي، له ملا متوکل نه د طالبانو د ویاند ملاتړ بل تعبیر او تفسیر نه شي درلودی. اورېدل کېږي چي د طالبانو په ډله کي د امریکایانو ملګري اوس هم دوی ته مشوره ورکوي چي له مجاهدینو سره له یووالي ډډه وکړئ او له عربو مجاهدینو سره خپل تعلقات وشلوئ، امریکایان دې ته تیار دي چي طالبانو ته په حکومت کي په زړه پوري برخه ورکړي، همغه برخه چي د طالبانو په لاس د کابل له نیول کېدو نه د مخه ورته منل شوې وه، خو طالبانو خپله ژمنه ماته کړه او په معاهدې ئې عمل ونه کړ، د دغي ډلي نورې مشورې ئې منلې خو د دوهمې مشورې په هکله دا مشکل لري چي عربان ئې د تمویل مرجع ده، که له عربانو سره تعلقات قطع کړي د تمویل او اکمالاتو بله مرجع نه لري، د طالبانو له وروستیو اظهاراتو نه دا په ډاګه معلومېږي چي که د دوی د اکمال او تمویل ستونزه حل شي نو له عربانو نه لاس اخیستل ورته ډېر آسان کار برېښي، ملامتوکل خو لا هغه وخت د سعودی حکومت ته د اسامه د سپارلو ژمنه کړې وه چي دی د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر وو، د ده د ژمنې په اساس ترکي الفیصل په خپلي خاصي طیارې کي کندهار ته ولاړ، پنځه ورځي هلته د دغه مقصد لپاره پاتې شو، خو د ځینو خاصو عواملو په وجه د اسامه تسلیمول وځنډېدل، یوه مهمه وجه ئې د طالبانو په لیکو کي د ټولو بهرنیو مجاهدینو د پاکستانیانو او عربانو په شمول کلك مخالفت وو، ملا عمر ته وویلی شو چي ستا اصلي جنګي ځواك دغه بهرني مجاهدین دي، که دوی ناراض شي او له جنګ نه لاس واخلي بیا خو طالبان د شمالي ائتلاف په وړاندي مقاومت نه شي کولی. که دا خبره نه وی نو همغه وخت به اسامه ترکي الفیصل ته سپارل شوی وو او له ځان سره به ئې ریاض ته وړی وو. ویل کېږي چي طالبانو له ایران سره هم خبري پیل کړې، هیئتونه ئې ایران ته لېږلي، په دې طمع چي ایران به د دوی مرسته وکړي او د تمویل مشکل به ورته حل کړي. که څه هم د دې احتمال ډېر ډېر ضعیف دی، ایران له شیعه ډلو نه پرته له بل چا سره مرسته نه کوي، له طالبانو سره خو د مرستي سوال نه پیدا کېږي، ایران د طالبانو په ضد حتی له "شیطان بزرګ" سره لاس یو کړ، څنګه ممکن ده چي اوس

به د دوی مرسته وکړي؟! خو متأسفانه ځیني کسان د خپل دوست او دښمن په پېژندو کي ډېرې ستونزي لري، اکثراً دوست ته د دښمن په سترګه ګوري او له دښمن نه د دوستۍ طمع ساتي او ډېر ځله د هغه چا په ضد له اصلي دښمن سره لاس یو کړي چي په اصل کي د ده دوست دی. طالبانو ته دا ویل شوي چي د اسامه نه سپارل د دې سبب شو چي له امریکایانو سره ستاسو ملګرتیا په دښمنۍ بدله شوه، که اوس هم هغه تسلیم کړئ مشکل حل کېږي، لکه څنګه چي متوکل په خپله اعتراف کړی چي ده د اسامه د ایستلو پلوي کوله، اوس هم ډېرو د دې خبري ملاتړ کړی، خو امریکایانو ته ئې ویلي چي اسامه اوس زموږ په لاس کي نه دی، امریکایان هم د تحقیقیاتو په نتیجه کي په دې پوه شوي چي اسامه اوس د طالبانو په لاس کي نه دی، د همدې لپاره له طالبانو سره د روغې جوړې هڅې توندې شوې دي. دا به د طالبانو ستره او نه جبرانېدونکي اشتباه وي چي د خپلو تسلیم شوو وزیرانو په پل ګام کېږدي او اقتدار ته د بیا رسېدو په طمع له امریکایانو سره ملګري شي. طالبان باید دوه خبري له ذهنه وباسي: د طالبانو مخکنی نظام بیا راوستل او د ایران، پاکستان یا امریکا په مرسته قدرت ته رسېدل، دا دواړه خبري باید د تېر تاریخ جزء وګڼي او د تکرار طمع ئې ونه کړي. د دوی لپاره غوره لار دا ده چي له یوې خوا ولس ته اطمئنان ورکړي چي د اقتدار لپاره نه بلکي د هېواد د آزادۍ لپاره جنګېږو، حکومت به د ملت په خوښه جوړېږي او د هېواد مشر به د ولس لخوا او د آزادو اسلامي انتخاباتو له لاري غوره کېږي او له بلي خوا له هغو مجاهدینو سره یوځای شي چي په جهاد باور لري، هم د روسانو په ضد جنګېدلي او هم د انګرېزانو او امریکایانو په ضد جنګېږي. ټول باید په دې حقیقت پوه شي چي دا ځل به تېرې ترخې تجربې نه تکرارېږي، نه به د مسکو په خوښه څوك په افغانستان حکومت کولی شي او نه د امریکا په خوښه او نه زموږ د دې او هغه ګاونډي د مټو په زور، دا ځل به ولسي انقلاب راځي، په دې انقلاب کي به د ځوان او مؤمن نسل لویه او اساسي ونډه وي، له دې نه وروسته به نه افغان ولس په پټو سترګو د چا ملګرتیا کوي، نه به ئې په تشو شعارونو غولېږي او نه به د راتلونکي نظام په هکله بې تفاوته پاتې کېږي. هیڅوك دې دا ګمان نه کوي چي کومه

سیاسي، اجتماعي یا قومي ډله به د خپلي خوښي حکومت جوړوي او ټول ولس به ورته غاړه ږدي، افغان ولس له دې مرحلو تېر شو، د دغو ترخو تجربو د تکرار هر چانس د تل لپاره له منځه تللی دی.

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحیم

# خدایه! تا ته شکایت کوو

## د دوست په جامه کي دښمن نه

افغانان له خپلو ډېرو گاونډیو نه گیلې لري، له چا کم له چا زیات، خو یوه گاونډي د دوستۍ په جامه کي له افغانانو سره هومره دښمني کړې چي هېرول ئې گران دي. دا هغه گاونډی دی چي لومړی ئې له روسانو سره د افغانانو په ضد لاس یو کړ، د شمال جهادي ـ کمونستي ټلواله ئې جوړه کړه، د دې ټلوالې په لاس ئې د جگړو اور بل کړ، روسانو به د همدې گاونډي له لاري شمالي ټلوالې ته وسلې او پیسې لېږلې، د دوی ډېر شمېر افسران او جنگي قطعات د شمالي ټلوالې په خوا کي په جگړو بوخت وو، مخصوصاً د طالبانو په ضد جگړو کي، په دې کلونو کي خو دوی د خپلو سرتېرو گڼ شمېر مستقلې جنگي جبهې جوړې کړې وې او هره ورځ به ئې څو طیارې وسلې او مهمات شمال ته لېږل، خپلو ملگرو ته به ئې ویل: که په سوریې کي یو وړوکی اقلیت کولی شي په هغه هېواد حکومت وکړي نو تاسو ولې په افغانستان کي دا کار نه شئ کولی؟ ټول اقلیتونه راغونډ کړئ او د پښتنو په ضد گډه جبهه جوړه کړئ. زموږ دا گاونډی په افغانستان کي د یهودانو حکومت منلی شي خو د پښتنو او سنیانو حکومت نه شي منلی. وروستیو پېښو همدا حقیقت ثابت کړ. زموږ دا گاونډی په داسي حال کي چي د امریکا په ضد به ئې شعارونه ورکول، د افغانانو په ضد له امریکایانو سره ملگری شو، شمالي ټلوالې ته ئې وویل چي د امریکایانو تر قومندې لاندي د طالبانو په ضد وجنگېږئ، د

اقليتونو لپاره دا ډېر ښه فرصت دی، د امريکا په مرسته کولی شئ قدرت ترلاسه کړئ، پښتانه وځپئ، ټول هغه شخصيتونه او ډلي د امريکايانو د وسلو، پيسو او ځواکونو په مرسته وټکوئ چي پښتانه راغونډولی شي. د امريکايانو د يرغل په ورځو کي د دوی افسران د امريکائي او بريتانيائي افسرانو په خوا کي د شمالي ټلوالې د جبهاتو په تنظيم، اکمال او سوق او اداري کي اوږه په اوږه لګيا وو او ګډي کميټې ئې جوړې کړې وې. کله چي امريکايانو له روسانو نه وغوښتل چي شمالي ټلوالې ته وسلې ولېږي او هغه دې ته تيار کړي چي د امريکا د ځمکنيو فوځونو په څېر عمل وکړي نو د دې ګاونډي هېواد د دفاع وزير د لومړي ځل لپاره په يوه مطبوعاتي کنفرانس کي اعلان وکړ چي موږ له شمالي ټلوالې سره د وسلو مرسته کوو!! د امريکا هغه طيارې چي په خليج کي د دوی له اډو او طايره وړونکو بېړيو نه الوتلې نو د همدې ګاونډي هېواد له فضاء تېرېدې او په افغانانو ئې بمونه ورول، دي ګاونډي ورته دا اجازه ورکړې وه. څو ورځي خو د همدې امريکائي طيارو لپاره هغوی د افغانستان سرحد ته نږدې د خپلو مسافر وړونکو طيارو الوتنې هم متوقف کړې. دوی طالبانو او د طالبانو عربو ملګرو ته په پټه دا پيغام لېږلی وو چي موږ تاسو ته پناه درکوو، خو ټول هغه کسان چي په دغي وينا غولېدلي او دې هېواد ته ئې پناه وړې وه ونيول شول، ځيني د افغانستان حکومت ته وسپارل شوو او ځيني په غيرمستقيم طور او د امريکا پلوه هېوادونو له لاري امريکا ته تسليم کړی شول. کوم پنځه سوه کسان چي دا ګاونډی ئې د نيولو او له خپل ملك نه د ايستلو خبره کوي همدا کسان دي چي د دوی په بلنه دې هېواد ته تللي وو.

دي ګاونډي د بن په امريکائي غونډي کي او هلته د کابل لپاره د يوه امريکائي حکومت د جوړلو په کار کي تر ټولو هېوادونو ناپاك او مضر رول ادا کړ، هومره چي امريکايان د دغه خبيث رول د ادا کولو لپاره له دې هيوا نه مننه کوي او ترې غواړي چي همداسي يو رول د عراق په اړه هم ادا کړي، معلومېږی چي د دې لپاره ئې هم متې رابډ وهلې!! هلته هم د بغداد د مخالفينو په راغونډولو کي له خپل اثر او رسوخ نه استفاده کوي او خپلو پلوي ډلو ته وايي چي له امريکائي پلوه ډلو

سره يوځای شي او د بغداد په راتلونکي امريکائي حکومت کي په زړه پورې برخه ترلاسه کړي. د دې هېواد مشرانو اعلان کړی چي له امريکا سره د افغانستان په ښېر ملګرتيا او مرستي ته تل او په هر ځای کي تيار دي!! نړۍ وال به په خپلو سترګو وګوري چي دا هېواد به د عراق په اړه همغه څه کوي چي د افغانستان په ارتباط ئې وکړل. که تاريخ ته رجوع وکړو نو وبه ګورو چي د اسلامي امت په ضد ټولو جنګونو کي، که دا د عربو په ضد وو او که د ترکانو په ضد، دې هېواد تل همداسي لوبه کړې، له دښمن سره په پټه او ښکاره ملګری شوی. او دا دی نن چي د مسلمانانو په ضد يو بل صليبي جنګ پيل شوی، زموږ هېواد د امريکائي ځواکونو په لاس اشغال شوی او د عراق د نيولو لپاره تياری روان دی، دا ګاونډی مو بيا همغه څه کوي چي په تاريخ کي ئې په وار وار کړي.

که د عراق په ضد د امريکا د ګواښ په اړه د دې هېواد رسمي دريځ او د مسئولينو ويناوو ته لږ ځير شو نو په آسانۍ پوهېدی شو چي د عراق په هکله څه اراده لري او څه غواړي؟ دوی وايي: موږ د بغداد د رژيم د ړنګولو مخالفت نه کوو، بلکي د امريکا د يو اړخيز اقدام مخالف يو!! هر عاقل انسان پوهېږي چي د دې خبري معنی دا ده چي امريکا بايد په عراق د حملې په ارتباط له دې هېواد سره تفاهم وکړي او د عراق په راتلونکي کي د دوی پلوي ډلو ته په زړه پورې برخه ورکړي، همغه څه چي په افغانستان کي ئې وکړل.

دا هېواد اوس د افغانستان د تجزيې لپاره هڅه کوي او د فدرالي نظام خبره کوي! د افغانستان له حالت نه واقف هر انسان په دې پوهېږي چي په دې ظروفو او شرائطو کي د فدرالي نظام معنی د افغانستان له تجزيی نه پرته بل څه نه شي کېدی. دوی په اصل کي لومړی د هغو لږکيو لپاره د بېل بېل فدرالي حکومت جوړول غواړي چي له دوی سره ژبني او مذهبي اړيکي لري او بيا له افغانستان نه د دوی د سيمو بېلول او له ځان سره ئې يوځای کول غواړي. امريکا هم له دوی سره په دې هکله توافق لري چي زموږ په هېواد کي فدرالي نظام رايج شي. اختلاف په دې کي دی چي امريکا په څلورو فدرالي حکومتونو او دوی په پنځو ټينګار کوي.

عجيبه دا ده چي دا هېواد ځان ته مسلمان هم وايي!! موږ نه پوهېږو چي کوم

ایمان او اسلام او کوم مذهب، د مظلومو مسلمانانو په ضد د ظالمو کفری ځواکونو ملګرتیا جائز ګڼي او د اسلام او مسلمانانو په ضد دا ستر خیانت توجیه کولی شي چي د یوه اسلامي هېواد په نیولو کي له کفري ځواکونو سره مرسته وکړي، د مسلمانانو په وژلو او د دوی د جوماتونو، کلیو او کورونو په ورانولو کي له یرغلګرو سره ملګری شي!!

زموږ له نظره په افغانستان د امریکائي ځواکونو د سلطې د نه بخښونکي جرم لوی مسئولیت تر ټولو مخکي د همغو هېوادونو په غاړه دی چي شمالي ټلواله ئې له امریکا سره ملګرتیا ته اړ کړه. که دوی د امریکایانو لپاره نه وی جنګېدلي نو امرکائیان هیڅکله په دې نه توانېدل چي زموږ هېواد اشغال کړي. په دې کي هیڅ شك نشته چي د افغانانو په وژلو کي او زموږ په هېواد کي د اسلام ضد ټولو فعالیتونو او د بې دینۍ او اخلاقي فساد د خورولو په هڅو کي ټول هغه هېوادونه د امریکایانو د جرم شریکان دي چي امریکایانو د دوی په مرسته زموږ هېواد اشغال او د بې دینۍ د خورولو موقع ئې ترلاسه کړه.

موږ د دوستۍ په جامه کي له دې دښمن نه منتقم خدای ته شکایت کوو، خدای دې مظلوم افغانان د هغه دښمن له شر نه وژغوري چي تل ئې له شا نه په خنجر وهي، خپلي ګټې د افغانانو په جنګ ځپلي هېواد کي د جګړو په دوام کي لټوي او له یهودانو او نصاراوو سره د مسلمانانو په ضد متحد کېږي.

حکمتیار

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان لپاره کوم نظام غوره ګڼو ؟

که څه هم د نظام خبره باید هلته وشي چي افغانانو خپلواکي ترلاسه کړې وي، ټول بهرني فوځونه له هېواد نه وتلي وي او افغانان د بهرني ګواښ او تهدید نه پرته، د خپلو باورونو، اعتقاداتو او دود دستور مطابق، خپل برخه لیك وټاکلی شي او د خپلي خوښي نظام جوړ کړی شي، خو د دې لپاره چي ځیني خلك غواړي په دې پوه شي چي موږ د هېواد لپاره څنګه نظام خوښوو، د ریاستي او پارلماني نظامونو په هکله څه نظر لرو او کوم یو د هېواد لپاره غوره ګڼو، ددوی په ځواب کي لاندي وضاحتونه ضروری ګڼو:

- د افغانانو غوڅ اکثریت اسلامي نظام غواړي، د اسلام لپاره ئې قرباني ورکړې، له اسلام نه پرته په بل څه نه راضي کېږي، که بل نظام د وسلې په زور او د بهرنیو لاسوهنو، سازشونو او فشارونو له لاري د دوی په هېواد وتپلی شي پایله به ئې د شوروي اتحاد د وسلو او فوځونو په زور د تپل شوي نظام پایله وي او فقط تر هغه به دوام کوي چي افغان ولس ئې د نسکورولو توان او فرصت ترلاسه کړي.
- افغانان اوس اسلامي نظام له غیر اسلامي نظام نه تر ډېره حده پېژندی شي، د جهاد په کلونو کي دوی له اسلام نه هومره څه زده کړي چي اوس ئې څوك په آسانۍ نه شي غولولی.
- اسلامي نظام هغه دی چي په هغه کي: اسلامي شریعت د ټولو قوانینو یوازنۍ مأخذ وي، ټولي شخړې او منازعات د اسلامي شریعت په رڼا کي حل وفصل شي،

چارواکي په خپلو ټولو اجرءاتو کي شريعت ته التزام ولري، له ملت سره په مشوره مکلف وي او د ملت له استاځو جوړه شوې شورى تر ټولو با صلاحيته مرجع وي. د چارواکو په واك کي صلاحيتونه او ملي شتمني امانت وګڼلى شي، د ولس معلن او بلا اجبار بيعت او رأيه د نظام د مشروعيت مبنا وي او ولس مشر د ولس په خوښه غوره شي.

د دغو اصولو په رڼا کي موږ د هېواد لپاره داسي نظام غواړو چي:

- ولس مشر به د ملت په خوښه او د آزاد، معلن او غير اجباري بيعت له لاري ټاکل کېږي، نه د محدودو کسانو له خوا او په پټه، په جومات کي به ټاکل کېږي نه په قصرونو کي، ټول خلفاء راشدين په جومات کي غوره شوي نه په کوم قصر يا پټ ځاى کي، له بيعت نه وروسته خليفه شوي نه له بيعت نه مخکي، بيعت د خليفه له انتخاب نه وروسته شکلي يا رسمي مراسم نه دي بلکه خليفه له همدې لاري غوره کېږي، خليفه هغه دى چي ملت ورسره بيعت وکړي، دا د کوم شخص يا کورنۍ موروثي حق نه دى چي له پلار نه زوى ته په ميراث پاتې شي، دا د ملت امانت دى چي په خپله خوښه به ئې اهل ته سپاري. هم د دې امانت د اهل تشخيص د ولس حق او وظيفه ده او هم ئې سپارل، يوازي هغه څوك د مسلمانانو جائز مشر ګڼل کېږي چي مسلمانانو په خپله خوښه انتخاب کړى وي او په خپله رضاء ئې ورسره بيعت کړى وي. په صندوق کي رأيه اچول د بيعت ښه نعم البدل دى. ځکه مخامخ بيعت په يوې وړې ټولنې کي ممکن دى نه په سترې ټولنې کي.
- منتخب مشر له يوې خوا په دې مکلف دى چي په ټولو چارو کي به د شريعت په نسبت التزام لري، له بلي خوا له ولس سره په مشورى مکلف دى. په اسلامي ټولنې کي امور په مشوره ترسره کېږي، نه دا چي حاکم آخري مرجع وي. د قوانينو مرجع په ترتيب سره شريعت، عرف او اجماع ده، واکدار او هيچا ته دا حق نه دى ورکړى شوى چي له خپلي خوا قوانين صادر کړي. قضايا به د شريعت مطابق حل او فصل کېږي او امور به د خلکو په مشوره تر سره کېږي. اولى الامر هم له شريعت نه د انحراف په صورت کي مستحق العزل دى او هم د استبداد، مطلق العناني، او د مشورې له اصل نه د انحراف په صورت کي.

• په دې نظام کي چارواکي د ولس مالك الرقاب او د هېواد ټولواك نه بلکي د ولس خادم او د دوی د امانتونو امین دی. فقط په هغه صورت کي او تر هغه وخته د واك امانت له ده سره پاتې کېدی شي چي د امانت اصلي خاوندان یعني ولس وغواړي او په امانتونو کي ئې خیانت نه وي کړی.

• هم د ده صلاحیت د شریعت په رڼا کي او د مسلمانانو په خوښه ټاکل کېږي او هم ئې حقوق، وجائب او مسئولیتونه.

• د اسلام له نظره هغه د ولس (مستخدم) دی، نه آقا او بادار، د (خدمت) په دوران کي یوازي هومره (اجوره) ترلاسه کولی شي چي ولس ئې ورته ټاکي، واکمني ده ته په نورو مسلمانانو هیڅ مادي امتیاز نه بخښي.

• په اسلامي ټولنې کي د مشر لپاره، د سلطان، پاچا، واکدار، حاکم او رئیس په ځای د خلیفه نوم او مفهوم غوره شوی، چي ځای ناستي ته وایي، دا ځکه چي په اسلامي ټولنې کي مشر د خلکو له خوا غوره کېږي او د خلکو نائب او ځای ناستی وي، خلك ئې دبیعت له لاري غوره کوي، په ملي شتمنیو کي د ولس د استاځي په توګه او د دوی په مشوره تصرف کوي. هغه (آمر) نه دی، (امیر) دی، فرمانونه نه صادروي، کارونه ترسره کوي، د آمر او امیر ترمنځ فرق همدا دی: آمر یعني امر کوونکی، حکم کونکی، او امیر یعني د امورو ترسره کوونکی او د چارو سنبالوونکی.

• نظام باید داسي وي چي په دیکتاتوري او استبداد منتج نه شي. داسي نه چي واك د یوه کس یا کورنۍ په لاس کي پرېوځي نو ټولواك شي او اقتدار د دغي کورنۍ موروثي حق.

• اسلام، سلطنتي نظام هم د فساد او تباهۍ عامل ګڼي او هم ئې د انساني عدالت او برابرۍ مغایر. هغه اختیارات چي په سلطنتي نظام کي یوه (پاچا او سلطان) ته ورکول کېږي، اسلام دا اختیارات فقط د الله تعالی لپاره مختص کړي. د اسلام له نظره پاچا هغه څوك دی چي ځان د خدای ځای ناستی ګڼي، که څه هم دا خبره په خوله نه کوي. قرآن د فرعون په هکله وایي چي هغه ځان د خلکو (اله) او (رب اعلی) ګڼلو، یعني ځان ته ئې هغه اختیارات ورکړي وو چي یوازي له خدای سره

ښايي. قرآن د فرعوني نظام څو ځانګړتياوې بيانوي:

**۴.** فرعون ځان (اله) ګڼي، د حلال او حرام، جائز او ناجائز د ټاکلو وروستۍ مرجع.

**۵.** ځان ته ټولواك وايي، او د مصر د ټولو شتمنيو مالك.

**۶.** هغه خلك په ډلو ډلو وېشلي: مرفه او حاكمه طبقه، محرومه او محكومه طبقه، فوځ او واكمنه طبقه.

• قدرت بايد په مركز كي داسي متمركز نه شي چي څو كسان د كودتا له لاري وكولی شي دا مركز اشغال او په ټول هېواد مسلط شي، او يا بهرني ځواكونه د مركز په نيولو سره ټول هېواد اشغال كړي، هم بايد د كودتاګانو ټول امكانات د تل لپاره له منځه يوړل شي، او هم بهرني ځواكونه داسي ګمان ونه كړي چي د مركز په نيولو سره ټول هېواد نيولی شي. نه داسي نظام چي په انارشيزم منتج شي، او هېواد دتجزيې په لور وخوځوی او شرير ځواكونه منطقوي، محلي، او قومي استقلال او خپلواكي ته وهڅوي او يا بهرني ځواكونه د مركز د ضعف په وجه د هېواد ځيني برخي اشغال كړی شي، نه له مركز نه تيښته او نه په مركز كي ذوب كېدل، بلكه د دواړو تر منځ تعادل، نه دا چي په مركز د څو كسانو تسلط په دې منتج شي چي د هېواد او ولس هر څه د دوی د خوښي مطابق تغيير ومومی، فرهنګ، مذهب، اخلاق، دود دستور، خارجی او داخلی سياست، اقتصادي او اجتماعی نظام، او هر څه، پنځه كمونست افسران كمونستی انقلاب اعلان كړی او پنځه د اروپا او امريكا په نايټ كلپونو كي ستر شوی د امريكا په زور په مركز مسلط او په ټول هېواد امريكائي ديموكراسی او كوبائی اخلاق مسلط كړی، راډيو، تلويزيون، اخبار او مجلی، مسجد او منبر د دوی په لاس كي پرېوځي.

• نظام بايد داسي نه وي چي اقتدار له بر نه د لاندي په لور او له مركز نه د اطراف په لور خور شي.

• اجتماعی عدالت تأمين كړي، د مركز او اطراف تر منځ ژور تفاوت رامنځته نه كړي. داسي نه چي ټول تسهيلات او وسايل د مركز په واك كي وي، او واكمنان او د مركز اوسېدونكي ترې برخمن وي او د اطراف اوسېدونكي له ټولو ابتدائي تسهيلاتو نه محروم وي. داسي نه چي اطراف د مركز قرباني شي، بايد اطراف د

مرکز د استحصال او استثمار وسیله نه وي، دا نه له عدالت سره اړخ لګوي او نه په هیڅ معیار او میزان کي د منلو دی چي سړك، برق، ګاز، پاکي اوبه، روغتونونه، پوهنتون، مکاتب او مدارس، پارکونه او ... په مرکز کي وي او د اطراف خلك له دې ټولو محروم!! په دې سره له یوې خوا عدالت تر پښو لاندي کېږي له بلي خوا خلك له اطراف نه د مرکز په لور مخه کوي، په ښارونو کي ازدحام جوړېږي، اطراف ورو ورو تخلیه کېږي، زراعت او مالداري صدمه ګوری..

• د دولت د ټولو عوایدو منبع په اصل کي خلك دي، که دا مالیه ده او که د ګمرکاتو محصول، د ګمرك اصلی تأدیه کوونکي هم خلك دي نه تاجران، تاجر چي د ګمرك په نامه څه ورکوي له عام اخیستونکو نه ئې بېرته تر لاسه کوي! د عدالت غوښتنه دا ده چي له شتمن نه واخستلی شي او نادار ته ورکړی شي. اسلام هغه نظام مردود ګڼي چي له غریب نه ئې اخلي او په مرفه او بډای طبقې ئې مصرفوي. په اسلامي نظام کي دولت د محرومانو متکفل دی، هغه مکلف دی چي له شتمنو څخه به عشر او زکات اخلي او محرومانو ته به ئې ورکوي. قرآن د دې مخالف دی چي سرمایه د محدودو کسانو ترمنځ لاس په لاس شي، د محروم له مجبوریت نه ناروا استفاده وشي، بډای ضروري شیان احتکار کړي او په دې سره ئې بیه لوړه او له بې وزلو نه ګټه ترلاسه کړي، اسلام سود د همدې لپاره حرام کړی چي دا د محرومانو له مجبوریت نه د شتمنو د استفادې ذریعه ده.

• د اجتماعي عدالت معنی دا ده چي د ټولنې ټول وګړي برابر وګڼلی شي، له خلکو سره برابره معامله وشي، دولت په خپلو اجراءاتو کي دا برابري او عدالت مراعات کړي. واکمن دا حق نه لري چي ملي شتمني غنیمت وګڼي او په خپله خوښه په هغې کي تصرف وکړي. دا حق هم نه لري چي له دولتي حیثیت نه په استفادې سره کومه تجارتي او اقتصادي معامله ترسره کړي، داسي ګټه شریعت تحریم کړې.

دې ته مو باید پام وي چي پارلماني نظام د بریتانیائي استعمار میراث دی او د بریتانیا له خوا د دوی په مستعمراتو کي رائج شوی. ریاستي نظام امریکایانو معرفي کړی او دې ته ترجیح ورکوي چي په خپلو مستعمراتو کي دا نظام وګوري. دا دواړه نظامونه نه یوازي له دې ناحیې د اعتراض وړ او مردود دي چي د

استعماري ځواکونو زېږنده ده بلکي له دې پلوه هم چي بې شمېره نواقص لري، ځيني اساسي ستونزې او نواقص ئې دا دي:

- انتخابات ئې د قمار په څېر دي، له څو کانديدانو نه يو هغه کس پارلمان ته ځي چي تر نورو ئې څو رأيې زياتې ترلاسه کړې وي، کېدی شي د ناکامو کانديدانو مجموعي رأيې تر کامياب کانديد نه زياتې وي.
- چا چي ناکامو کانديدانو ته رأيه ورکړې په پارلمان کي ممثل او استاځی نه لري. په دې ترتيب پارلمان د يوه اقليت ممثل وي نه د اکثريت او نه د ټول ملت.
- دا د شتمنو او په ټولنې د حاکمې طبقې سلطې ته قانوني جواز برابروي، يوازي شتمن کسان کولی شي په دې انتخاباتو کي برخه واخلي او مصارف ئې متحمل شي، په ټولو هغو ملکونو کي چي دا راز انتخابات ترسره کېږي، د ناداري طبقې نه هيڅوك د پارلمان غړيتوب نه شي ترلاسه کولی، اکثر غړي ئې د جگې طبقې او ډېر کم ئې د متوسطې طبقې څخه وي. په انگرېز ډوله پارلماني نظام کي انتخابات په اصل کي د حاکم او مسلط سياسي او اجتماعي نظام د بقا او هغه ته د مشروعيت ورکولو وسيله وي. په سياسی، اقتصادي، او اجتماعي لحاظ مسلطه طبقه له دې لاري پارلمان ته لار مومي.
- د هېواد صدراعظم د محدودو کسانو له خوا غوره کېږي، د محدودو کسانو اخيستل ډېر آسانه وي، هم ئې بهرني ځواکونه په آسانۍ اخيستی شي او هم هغه ډلي چي مالي امکانات ئې زيات وي او شتمن بهرني حاميان ولري. دا د افغانستان په شان يوه ملك ته چي له هري خوا د ځواکمنو رقيبانو په ولگه کي دی له احتياط نه ډېر لرې دی چي د هېواد د مشر ټاکل په يوه محدود ټولگي پورې وتړلی شي. که د هېواد د مشر ټاکل په ټول ملت پورې مربوط وي دا تر دې ډېر ډېر مصئون دی چي د پارلمان څو سوه غړو ته دا صلاحيت ورکړی شي.
- په پارلماني نظام کي بايد صلاحيتونه د صدراعظم او جمهور رئيس تر منځ په يوه تناسب ووېشلی شي، دا له يوې خوا د دوو ځواکمنو تر منځ د تنافس او سيالۍ ډگر پرانېزي، له بلي خوا د تشکيلاتو د تراکم باعث کېږي او له بلي خوا په عام ولس کي د شخړو او منازعاتو باعث. زموږ د گاونډيو هېوادونو تجربې زموږ مخې

ته پرتې دي. په پاکستان کي انګرېزانو دا نظام په ميراث پرېښود، خو تر اوسه يوه صدر اعظم هم خپله قانوني دوره تکميل نه کړی شوه، کله رئيس جمهور عزل کړی او کله ځواکمنو جنرالانو. په ايران کي هم د پارلماني نظام تجربه ناکامه شوه، ايرانيانو د انقلاب په لومړيو کلونو کي د رهبر او جمهور رئيس تر څنګ صدراعظم هم درلود، خو وروسته مجبور شول چي د صدراعظم پست او منصب حذف کړي. خو عجيبه دا ده چي په همدې ايران پورې تړلې ډلي د تهران په وينا په افغانستان کي پارلماني نظام غواړي!! پارلماني نظام د انګلستان د ملکي په څېر يوې تشريفاتي ملکي يا پاچا ته ضرورت لري، له دې پرته نه شي چلېدی. يوه ټولنه که وړه وي که ستره، که د يوې کورنۍ په اندازه وي او که د يوه ستر ملت په اندازه، په سر کي بايد يو قيم او رئيس ولري نه متعدد رئيسان له خاصو صلاحتونو سره، دا حتماً په نزاع او شخړو منتج کېږي. قرآن وايي: که د کائناتو واګې د دوو خدايانو په لاس کي وی نو تباه کېدو، او هر يوه به هڅه کوله چي عرش ته ورسېږي او په بل بر لاسی شي.

• په اسلامي نظام کي خليفه چي د ټول ولس له خوا غوره کېږي، د ولس په استاځيتوب د ټولو دولتي چارو مسئول دی. د خلفاء راشدينو په دوران کي موږ نه د خليفه ترڅنګ د صدر اعظم مثال موندلی شو او نه د دوو چارواکو تر منځ د قدرت د وېش مثال.. په دې اساس په ټول جرأت سره ويلی شو چي هغه نظام له اسلام سره اړخ نه لګوي چي د نظام په سر کي دوه باصلاحيته چارواکي د صدراعظم او جمهور رئيس په نامه ولري او قدرت د دوی تر منځ په يوه خاص تناسب ووېشلی شي.. داسي نظام نه يوازي له اسلام سره اړخ نه لګوي، بلکي په ټولو هېوادونو کي ئې بدې پايلې درلودلې او د عدم ثبات باعث او د چارواکو او ولس ترمنځ د شخړو او سيالۍ موجب ګرځيدلی. له اسلام سره هغه نظام اړخ لګوي چي ولسمشر ئې د ولس له خوا غوره شي، د چارو واګې د ده په لاس کي وي، خو په خوا کي ئې داسي ځواکمنه او باصلاحيته شوری وي چي د ټول ملت استاځيتوب کوي نه د هغو کسانو چي کامیابو کانديدانو ته ئې رأيه ورکړې، په شوری مکلف وي، قدرت او صلاحيت او په ملت پورې مربوط وسايل او امکانات امانت وګڼي

او د شورى له پرېکړو سره سم په هغه كي تصرف وكړي، په شخصي ژوند او له ملي شتمنيو نه په استفادې كي له هيڅ مسلمان نه هيڅ امتياز ونه لري، هيڅ څه له مشورې پرته ونه كړي.

- د انتخاباتو تر ټولو آسانه، مصئونه ، عادلانه او كم مصرفه طريقه دا ده چي:
- ټول افغانستان يوه انتخاباتي حلقه ومنلى شي، او دا مسئله د تل لپاره منتفي شي چي د نفوس له مخې او يا د.اداري واحدونو په اساس دې انتخاباتې حوزې وټاكلى شي.
- هر افغان په هر ځاى كي رأيه وركړى شي ، په دې مكلف نه وي چي يوازي په خاصي انتخاباتي حوزې كي رأيه وركولى شي.
- رأيه يوازي يوه شخص او د هغه معاون ته نه بلكي د كانديد شوو كسانو مجموعي پلان، منصوبې، تګلاري او د دوى له لوري د مجلس لپاره غوره شوو كسانو ته وركړى شي. يعني څوك چي د جمهورى رياست لپاره كانديد كېږي هغه يوازي يو داسي شخص نه دى چي د اقتدار لاس ته راوړو لپاره په خپل سر او يوازي ميدان ته راوتلى، بلكي هغه د يوې ډلي له خوا كانديد شوى، دا ډله كېدى شي يو حزب وي او يا يوه ائتلافى جبهه او يا يوه انتخاباتي مجموعه او د خاص كانديد ملاتړي، دا مجموعه به د ټول هېواد او دهېواد د ادارې لپاره واضح منصوبه او كافي باكفايته پرسونل معرفي كوي، د جمهوري رياست لپاره د دوى كانديد بايد ملت ته ووايي چي تګلاره ئې څه ده او د هري انتخاباتي حوزې لپاره څوك اهل ګڼي. په دې سره ولس دا موقع ترلاسه كوي چي د خاصي تګلاري خاوند او د ده مجموعې ته رأيه وركړي.
- له انتخاباتو نه وروسته هره انتخاباتي مجموعه د خپلو ترلاسه كړو آراوو په تناسب د خپل اعلان شوي لست له لومړيو كسانو نه مجلس ته غړي لېږي، كومي مجموعې چي مثلاً ۳۰% آراء ترلاسه كړل، د دوى د لست له لومړيو نومونو نه به د مجلس د غړو دېرش په سلو كي غوره كېږي، او چا چي تر دى كم يا زيات ترلاسه كړل د خپلو آراوو په تناسب به له خپل لست نه غړي معرفي كوي.
- په ځينو هېوادونو كي دې طريقې ته ورته انتخابات ترسره كېږي، ښه والى ئې

په دې کې دی چې:

۱. انتخابات یو ځل وي، او د ځو ځله رأیې اخیستني، بې ځایه مصرف او د ولس له بې ځایه لالهانده کولو نه ډډه کېږي.

۲. د محلي رقابتونو مخنیوی کېږي.

۳. منتخب استازی ځان د خاصي سیمي او ولس وکیل نه بلکه د ټول ملت استازی ګڼي، په مجلس کي په ملي ګټو او مصالحو تأکید کوي نه د مؤکلینو د خوشحالولو لپاره د خاصي سیمي لپاره د امتیازاتو ترلاسه کولو لپاره.

۴. هر رأیه چې صندوق ته لوېږي اعتبار او وزن لري او په مجلس کي ممثل او استازی لري. داسي نه وي چې ناکام کاندید ته د رأیې په ورکولو سره په مجلس کي د استازي او وکیل له درلودو محروم شي.

۵. په دې طریقې کي د ټولنې له اقلیتونو سره عادلانه چلند کېږي او د اقلیت او اکثریت معضله نه راپور ته کېږي.

۶. په دې کي د انتخاباتي حلقو د تثبیت ضرورت هم منتفي کېږي، هر افغان په هر ځای کي رأیه ورکولی شي.

۷. هره مجموعه هڅه کوي چې تر ټولو صالح کسان د کاندیدانو په لست کي معرفي کړي تر څو د ملت باور او اعتماد ترلاسه کړي.

۸. انتخابات د بډایانو او فیوډالانو له ولګې باسي او د دربیمې او متوسطې طبقې غوره او صالح کسانو ته هم لار پرانېزي.

اما فیدرالي نظام، دا د افغانستان په موجوده ظروفو کي د هېواد له تجزیې نه پرته بله نتیجه نه لري، د یوه قوی نظام او ځواکمن اردو په نشتوالي کي له فیدرالي نظام سره توافق په اصل کي د هېواد له وېش سره توافق دی. هیڅ با احساسه او وطنپال افغان د فیدرالي نظام خبره نه کوي، مشبوه او مشکوکي کړی د پردیو په وینا دا خبره کوي. هدف ئې د نورو هېوادونو په ګټه د افغانستان وېش دی نه ولایاتو ته د متناسب او مناسب واك او صلاحیت لېږدول.

• په نظام کي د ملي اردو څرنګوالی او په ټولنې کي د هغه رول باید دقیقاً او د ټولنې د موقعیت او وضعیت له مخې مشخص شي. د افغانستان شرائط داسي دی

چې د لاندې مشخصاتو اردو ته اړ یو:

- په خپلو ذاتي امکاناتو متکي محدود اردو، دومره چې په خپله ئې اکمال کړی شو.
- د اردو د اکمال په اړه باید پردیو ته له لاس اوږدولو نه ډډه وشي. د پردیو په مرستو جوړ شوی اردو یا د پردیو په خدمت کې وي، یا د پردیو شرائطو منلو ته اړ کېږي او یا په حساس وخت کې خپل شته والی له لاسه ورکوي.
- په اردو زیاته تکیه نه ده په کار، ملت باید دفاع ته تیار کړو، د دفاع په کار کې باید ټول ملت برخه واخلي. باید دمکلفیت د دورې په اساس اردو جوړ کړو.
- اجیر اردو نه د افغانستان د شرائطو لپاره مناسب دی او نه ئې د اکمال توان لرو.
- ځیني د امریکایانو او انګرېزانو په مرسته د اردو روزنه او اکمال غواړي، خو وموليدو چې دا اردو د امریکایانو تر قومندې لاندې د ملت په خلاف وجنګولی شو. ځیني د اردو د اکمال لپاره مسکو ته لاس لمن اوږدوی، په داسې حال کې چې وموليدو د روسانو په لاس روزل شوی اردو د ملت په ضد وجنګولی شو.
- موږ دعراق په سویه اردو نه شو جوړولی، خو وموليدو چې دې اردو د امریکا د برید په وړاندې څومره او څو ورځې مقاومت وکړ، او دا څوك وو چې د یرغلګرو په ضد وجنګېدل، اردو که ولس؟ دا باید زموږ او نورو لپاره لارښوونکې تجربه وي.

همدا راز په نظام کې باید د تعلیم او تربیې څرنګوالی داسې وي چې:

- د افغان ولس په معتقداتو ولاړ وي، په غېږ کې ئې باایمانه، باهمته، سرلوړي او وطنپال زده کوونکي وروزل شي.
- په هېواد کې باید یوازې یو تعلیمي نظام رائج وي نه مختلف تعلیمي نظامونه او نصابونه. مختلف نصابونه او مختلف تعلیمي نظامونه د شخړو او اختلاف باعث ګرځي او د ملا او مکتبي جنګ راولاړوي.
- مدرسه او مکتب باید سره مدغم شي.
- تر دولسم پورې باید نصاب داسې وي چې هر زده کونکی هم کافي او ضروري

ديني زده کړه وکولی شي او هم له نورو ضروري علومو څخه کافي زېرمه ترلاسه کړی شي. داسي چي په اختصاصي دوره کي هم ډاکټر او انجنير د دين په ټولو ضروري مسائلو پوه وي او هم قاضي او امام په ټولو ضروري انساني علومو مجهز وي.

- له دولسم نه وروسته بايد د تخصص دوره پيل شي، ځيني په ديني او شرعي علومو کي تخصص ترلاسه کړي او ځيني د طب، انجنيري، ساينس او نورو علومو په برخه کي.

حکمتيار

افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

# د لمر تلويزيون د خبريال مرکه

پوښتنه: کومه انگيزه د دې سبب شوه چي اوس مو له دولت سره د خبرو تکل کړی دی؟

ځواب: ما له دولت سره نه اوس او نه مخکي د خبرو کوم تکل کړی او نه زموږ په مخکني دريځ کي څه تبديلي راغلې، دا هسي په استخباراتي ادارو پورې د تړلو رسنيو تبليغات ول، موږ تل ويلي او اوس هم وايو چي په مذاکراتو باور لرو او د مذاکراتو له لاري د بحران لپاره ډاډمن حل لټول، ضروري او مفيد گڼو خو په دې شرط چي مقابل لوري زموږ له هېواد نه د ټولو اشغالگرو ځواکونو له وتلو سره موافق وي. د کابل له دولت سره يوازي په هغه صورت کي مذاکرات گټور گڼو چي امريکائي ځواکونه دې دولت ته په دغي اساسي موضوع د خبرو اجازه او واك ورکړي او دا ومني چي د افغاني لورو ترمنځ هر توافق ته به په درنه سترگه گوري، خو که د کابل له امريکائي حکومت سره دا واك او اختيار نه وي نو خبري بې فايدې او د وخت ضياع ده، دا ځکه چي له دې پرته نه بحران حل کېدی شي او نه جگړه پای ته رسېدی شي.

پوښتنه: له دولت سره د يو ځای کېدو شرايط څه دي؟

ځواب: موږ په داسي حکومت کي هيڅکله برخه نه اخلو چي واك ئې د پرديو په لاس کي وي او د پرديو د جهازونو تر وزر لاندي پر افغانستان حکومت کوي، زموږ له نظره د حکومت ترکيب ثانوي موضوع ده او يوازي هغه مهال بايد خبري

پرې وشي چې ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه وتلي وي.

پوښتنه: آيا پرته له شرايطو دولت سره خبرو ته چمتو ياست؟

ځواب: نه؛ د اشغالگرانو په شته والي کي د دوی ترحمايت لاندي حکومت کي برخه نه اخلو.

پوښتنه: که له دولت سره يو ځای شوئ نو کومي څوکۍ ته ځان وړ گڼئ؟

ځواب: د داسي حکومت تر شل کاله جمهوري رياست نه د سنگر يوه ورځ غوره گڼم.

پوښتنه: د حزب اسلامي له هغو څانگو سره چې اوس مهال د کرزي له حکومت سره يو ځای شوي دي، اوس هم په ارتباط کي ياست؟ د هغوی په اړه مو نظر څه دی؟

ځواب: څوك چې زما د ايمان او عقيدې ملگري وو هغه به تل له ما سره وي، يوازي هغه څوك به زموږ د نيمې لارې ملگري وي چې بل مقصد دې صف ته راوستي وو، څوك چې له اشغالگرانو او د دوی په لاس تپل شوي نظام سره ملگرتيا کوي هغوی له حزب نه وتلي، په حزب کي د داسي خلکو لپاره هيڅ ځای نه شته، خو هغه چې له اشغالگرانو سره ملگرتيا نه کوي او د عام ولس په څېر په هغو سيمو کي اوسېږي چې د دې نظام تر اداري لاندي دي، خو د حزب اهدافو، اصولو او تگلاري ته وفادار دي، هغوی د حزب غړي وو او دي، موږ يوازي هغه کسان له حزب نه وتلي گڼو چې له اشغالگرانو سره ملگرتيا کوي، دوی د گوتو په شمېر دي، باقي حزبيان د سابق په څېر اسلام او خپل حزب ته وفادار دي، په جهاد باور لري، له هېواد نه د ټولو بهرنيو فوځونو بلا قيد و شرط وتل او د يوه واقعي اسلامي نظام قائمېدل غواړي. که څه هم تېر امريکايي انتخابات د حزب لخوا تحريم شول او په هغه کي ئې برخه وانه خيسته، خو ځيني کسان د حزب په نامه کانديد شول او ولس د حزب لپاره دوی ته رايه ورکړه، ولس له دې خبر نه وو چې حزب له انتخاباتو سره مقاطعه اعلان کړې، د هغو کسانو په هکله چې د حزب له تگلاري سره ئې مخالفت کړی، لا تر اوسه کومه پرېکړه نه ده صادره شوې او د دې وجه دا ده چې تر اوسه د حزب مرکزي شوری نه ده دائره شوې، له دوی نه ځيني داسي دي چې له

اشغالگرانو او د کابل له حکومت سره هیڅ اړیکي نه لري، او له حزب نه د جلا کېدو پرېکړه ئې هم نه ده کړې، محدود شمېر ئې د کابل له حکومت سره تفاهم لري او د همدې په وجه ئې له یوې خوا په حزب کي خپل وزن او اعتبار له لاسه ورکړ او له بلې خوا د کابل حکومت خاص اهمیت ورنه کړ!!

پوښتنه: د افغانستان له اوسني اساسي قانون سره موافق یاست؟

ځواب: نه؛ دا د اشغال په دوران کي جوړ شوی هغه اساسي قانون دی چي مسوده ئې د امریکا سفیر جوړه کړې، د هغه کمیسیون په نامه اعلان شوې چي معاش ئې امریکایانو ورکاوو، زموږ له نظره او د هر آزادي غوښتونکي افغان له نظره دا د اسارت د دور قانون دی چي هیڅ ارزښت نه لري.

پوښتنه: شخصاً د حامد کرزي په اړه مو نظر څه دی؟

ځواب: کاش ښاغلي حامد کرزي دا اشتباه نه وي کړې چي د داسي بدنام حکومت مشري ئې قبوله کړه او د پردیو په لاس د هېواد له اشغال او د دوی په لاس او له هېواده بهر د حکومت له جوړېدو سره ئې توافق وکړ.

پوښتنه: اوس مهال د افغانستان د ننه او بهر څومره پلویان لرئ؟

ځواب: د دوی شمېر به ما او تا او هر چا ته هغه وخت ښه څرګند شي چي حزب د علني فعالیت مجال ترلاسه کړي یا انتخابات ترسره شي او وګورو چي د افغان ولس څو په سلو کي حزب اسلامي ته رایه ورکړې، ښه به دا وي چي تر هغه وخته صبر وکړو، زما تشخیص او یا انتظار دا دی چي د افغان ولس مطلق اکثریت به د حزب ملا تړ کوي. تاسو ته معلومه ده چي حزب اسلامي یو ستر او افغانستان شمول حزب دی، په ټولو ولایاتو او ټولو قومونو او اقشارو کي پراخ نفوذ لري، د جهاد په کلونو کي ئې د هېواد په شمال کي هومره نفوذ درلود لکه په جنوب کي، کندز، بغلان، پروان، بادغیس، کاپیسا، لغمان، کنر، نورستان، ننګرهار، پکتیا، خوست، پکتیکا، لوګر او وردګ میدان زموږ مهم او مضبوط مرکزونه وو، د دې ولایاتو اکثریت خلك پرون هم له حزب سره وو او نن هم، که نن په افغانستان کي واقعي او عادلانه انتخابات ترسره شي نو په دغو ولایاتو کي نږدې اویا په سلو کي رایې موږ ترلاسه کوو، تاسو ته ښایي دا هم معلومه وي چي په تېرو امریکایي

انتخاباتو کي سره له دې چې حزب هغه تحریم کړل او برخه ئې په کي وانه خیسته، او سره له دې چې جعلي انتخابات ول او ډېرې لاسوهنې په کي وشوې، خو د ولس لوی شمېر خلکو هغو کسانو ته رایه ورکړه چې په حزب پورې مربوط وو ، هیڅ ډلي د حزب په اندازه رایې نه دي ترلاسه کړې.

پوښتنه: تاسو د دیموکراسۍ په اړه څه نظر لرئ؟ آیا دغه دیموکراسي چې د طالبانو له راپرځېدو وروسته په افغانستان کي پلې شوې ده، ستاسو له نظره د منلو وړ ده او که نه؟

ځواب: که دیموکراسي دغه وي چې امریکایانو په افغانستان او عراق کي راوسته، نو موږ او هر شریف انسان پرې لعنت وایو ، که د خلکو حکومت وي نو دا د نړۍ په هیڅ گوټ کي نه ده پلې شوې، په امریکا کي خلك نه بلکي سپین پوستي بډایان، لوی لوی ځمکه وال، د لویو لویو شرکتونو ، فابریکو او بانکونو خاوندان او جنرالان پرې حکومت کوي، او که له دې پرته بل څه وي نو موږ تر اوسه نه ده لیدلې.

که دیموکراسي هغه وي چې امریکایانو په افغانستان، عراق، پاکستان، ازبکستان او تاجکستان کي راوستې، او د دوی انگرېز پلرونو په عربي هېوادونو کي، د پاچایانو ، جنرالانو ، او د وسلو په زور د خپلو لاس پوڅو تپل، نو هر شریف او آزادي غوښتونکی انسان ترې کرکه لري، که دیموکراسي د پانگه وال نظام مسلط کول او شتمنو ته دا آزادي ورکول وي چې بې وزلي نیستمن په خلاص لاس استثمار کړي، سود ، احتکار ، قمار ، په دروغجنو اعلاناتو خلك غولول جائز گڼي، شتمنۍ د څو کسانو په لاس کي غورځوي او د ټولنې اکثریت د دوی په غلامۍ کي اچوي، فوځ، پولیس او ټول نظام د دوی په خدمت کي گماري، او د دوی د گټو ساتنه کوي، له داسي دیموکراسي نه هر عدالت غوښتونکی انسان نفرت لري، دا دیموکراسي هغه شتمن په خلکو مسلط کوي چې ریډیو ، ټلویزیون، اخبارونه او مجلې او ټول تبلیغاتي وسایل د دوی په واك کي دي، داسي نظام په غرب کي او تر هغه وخته چلېدی شي چې د نورو هېوادونو د استعمار لړۍ پای ته ورسېږي، د پانگه وال نظام دیموکراسي په دې خاطر دوام نه کوي چې په دې کي څه ښه والی

شته، د دوام رمز ئې هغه مرفه ژوند دی چې د نورو ملتونو د قرباني کېدو په بيه د دوی په برخه شوی، که دا لړۍ نن پای ته ورسېږي نو تاسو به په دې نظامونو کې د هغو سترو انقلابونو شاهد وئ چې امريکا، روسيه، فرانسه او ډېر نور هېوادونه ورسره مخامخ شول، چې په ځينو کې ئې قدرت ترلاسه کړ او په ځينو کې وځپل شول.

اسلام مونږ ته داسي نظام راکوي چې د مظلومانو په خدمت کې وي، اجتماعي عدالت او برابري تأمين کړي، ټول خلك يو برابر گڼي، نه پرېږدي چې شتمني د څو محدودو شتمنو تر منځ لاس په لاس شي، سود، احتکار، قمار، د خلکو غولول، د خلکو له مجبوريتونو نه غلطه استفاده کول حرام گڼي، موروثي قيادت نه مني، اقتدار د خلکو امانت گڼي، زعيم د ملت خادم او د ملي شتمنيو امين بولي او په دې ئې مکلف کوي چې هر تصرف به ئې د قانون او هغو صلاحيتونو په حدودو کې وي چې د ولس له لوري ورکول کېږي.

پوښتنه: په ټولنه او سياست کې د ښځو د حق او ونډې په اړه مو نظر څه دی؟

ځواب: مونږ ښځو ته د ژوند په ټولو برخو کې ټول هغه حقوق ورکوو چې ترې محرومې دي، اسلام چې کوم حقوق ښځو ته منلي د نړۍ په هيڅ مذهب او نظام کې نه تر سترگو کېږي، په اسلام کې د ښځو مکلفيتونه تر نارينه وو کم او حقوق او امتيازات ئې ترې زيات دي. د تعليم او زده کړې حق ئې له نارينه وو سره برابر دی، د کار کولو حق ورکړی شوی، په جهاد کې برخه اخيستی شي خو پرې مکلفې نه دي، جومات ته د نارينه وو په څېر د لمانځه لپاره تلی شي خو پرې مکلفې نه دي، نه په عباداتو کې، نه په معاملاتو کې او نه د ژوند په نورو مجالونو کې نه يوازې تبعيض نه دی ورسره شوی بلکې کافي امتيازات ورکړی شوي.

پوښتنه: د بشر له حقونو څخه که چېرې کوم چا سرغړونه وکړه، نو ستاسو په نظر هغه شخص مجرم گڼل کېدی شي؟

ځواب: هغه چا ته مجرم ويلی شو چې جرم ئې کړی وي، او جرم له منل شوي قانون نه تخطي او تجاوز ته ويل کېږي، هېوادونه بېل بېل قوانين لري او د جرم او مجرم لپاره بېل بېل تعريفونه، اسلام ډېرو هغو عملونو ته د جرم او گناه په سترگه

گوري چي د غرب او غربي تهذيب له مخې جرم او گناه نه گڼل کېږي، مثال ئې سود ، احتکار، قمار، دروغجن او غولوونکي اعلانات، زنا ، شراب، او دې ته ورته نور گناهونه دي چي په غربي ټولنو کي مجاز او د اسلام او هر الهي دين له نظره حرام دي، د امريکايانو له نظره چي څوك تروريست گڼل کېږي موږ ورته د اتل او غازي په سترگه گورو ، او دا دی گورئ چي زموږ له نظره د پرديو جاسوسان او جنگي جنايتکاران د امريکايانو په معيارونو کي د قدر وړ او د اتلولۍ د لقب مستحق گڼل کېږي!!

پوښتنه: د روغي جوړي او مصالحې په اړه د ملي شورى د وروستۍ مصوبې په باب مو نظر څرگند کړئ.

ځواب: په داسي حال کي چي د پارلمان غړي د امريکايانو په لاس له نيول کېدو ، بندي کېدو او د خپل کور له تلاشي کېدو وېرېږي، د بهرنيو فوځونو او د دوی د جناياتو په اړه د څه ويلو جسارت نه شي کولی، دوی به په ټول هېواد کي د روغې جوړې او مصالحې په اړه څنگه د اعتبار وړ پرېکړه وکړی شي؟!! د پارلمان غړو دا مصوبه د دې لپاره نه ده تصويب کړې چي په هېواد کي جگړه پای ته ورسېږي بلکي موخه ئې دا وه چي د ځان لپاره د مصئونيت او نه نيول کېدو قانوني تضمين ترلاسه کړي، خو تاسو وليدل چي د دغي مصوبې له اعلان نه وروسته د ځينو غړو کورونه تلاشي او د امريکايانو په لاس له پوره اهانت او سپکاوي سره مخامخ شول. که د پارلمان غړي واقعاً روغه جوړه غواړي نو په واضح الفاظو دې اعلان کړي چي بهرني ځواکونه دې له افغانستان نه ووځي، او افغانان دې پرېږدي چي خپلي ستونزي په خپله حل کړي.

پوښتنه: د طالبانو او حزب اسلامي د همکاريو ختمېدل د دواړو لورو په غوښتنه شوي او که د يوه پلو پرېکړه وه؟

ځواب: موږ له طالبانو سره نه مخکي د گډ کار او همکاريو رسمي معاهده درلوده او نه اوس، او نه د داسي همکاريو د ختمېدو کوم اعلان شوی، موږ يوازي دا خبره کړې ده چي له طالبانو سره په مختلفو پړاوونو کي په مختلفو سطوحو خبري شوې، خو کوم مشخص توافق ته نه يو رسېدلي، دوی خپل کار کوي او موږ

خپل، موږ د دوی هیئتونو ته د ګډ کار طرحه ورکړې، هیئتونو ئې ورسره توافق کړی خو ځینو مشرانو ئې مخالفت کړی، وروسته د مذاکراتو دا لړۍ ختمه شوه، او اوس نه له طالبانو سره کومه معاهده لرو او نه مذاکرات. موږ تل د مجاهدینو په یووالي او وحدت ټینګار کړی، او خپلو مجاهدینو ته مو ویلي چې په خپلو خپلو سیمو کي له هر هغه چا سره مرسته وکړئ چې د اشغالګرانو په ضد جنګېږي او په خپلواك افغانستان کي اسلامي حکومت غواړي.

پوښتنه: د سیمي د سیاست په اړه که رڼا واچوئ آیا د سیمي راتلونکي ته خوشبین یاست او که نه؟

ځواب: د افغانستان په اړه پاکستان او هند د امریکا ملا تړ کوي، د پاکستان د پراخو مرستو سره سره امریکا دې ته ترجیح ورکړې چې هند ته په افغانستان کي د فعال حضور شرایط برابر کړي، نن د افغانستان جریانات کاملاً د پاکستان په ضد او د هند په ګټه روان دي، ایران هم د برید په سر کي په پراخه پیمانه د امریکایانو مرسته وکړه، شیعه ډلي او شمالي ټلواله ئې دې ته چمتو کړه چې د امریکا د ځمکنیو فوځونو په توګه او د امریکایي افسرانو تر قومندې لاندي وجنګېږي، دا هماغه کار وو چې دوی په عراق کي هم وکړ، د بن په غونډې کي ئې هم ونډه دومره وه چې امریکایي مقاماتو ترې مننه وکړه او وئې ویل: موږ د ایران د هغې مرستي مننه کوو چې د موقت حکومت په جوړولو کي ئې وکړه، ایراني چارواکو د هغه وخت د جمهور رئیس، خارجه چارو وزیر او د رفسنجاني په شمول نورو مسئولینو په ډېر افتخار سره ویل: که د ایران مرسته نه وي نو امریکایان داسي ژر او په دومره آسانۍ د کابل او بغداد په نیولو نه موفق کېدل. خو ایران او روسیه د افغانستان په اړه ځان ته سیاست لري، له امریکایانو سره ئې ملګرتیا د طالبانو د حکومت تر نسکورولو پورې وه، په حقیقت کي امریکایانو افغانستان د روسیې او ایران لپاره فتح کړی. ازبکستان او تاجکستان د برید په لومړیو کي له امریکا سره د افغانستان په نیولو کي پراخه مرسته وکړه، خو اوس ببرته د روسانو خوا ته نږدې شوي، ترکمنستان خپله بې طرفي ساتلې چې موږ ترې مننه کوو، چین له حملې سره موافقه وکړه خو له امریکایانو سره له مرستي نه ئې ځان وساتو، د

افغانستان په نيولو کي د تهران او اسلام آباد رول تر ټولو ډېر ډېر منفي وو او دی.

زه ډاډه يم چي په دې سيمي کي به د امريکايانو نظامي حضور ډېر ژر پای ته ورسېږي او بيا به د سيمي په سياسي وضعيت کي ژوره تبديلي راځي.

پوښتنه: د سيمي په کړکيچ کي د پاکستان او په ځانګړې توګه د آی اس آی د رول په اړه څه نظر لرئ؟ آيا پاکستان د افغانستان د حالاتو په اړه مثبت رول لوبولی او که منفي؟

ځواب: د افغانستان په اړه د پاکستان دريځ کله مثبت، په حقايقو مبتني او د دواړو هېوادو په ګټه وو او کله منفي، او د دواړو هېوادو په ضرر وو، کله چي د اسلام آباد چارواکو د امريکا تر فشار لاندي د افغانستان په اړه پرېکړه کړې نو هم ئې افغانانو ته ستونزي راولاړې کړې او هم په خپله د پاکستان ولس ته، اسلام آباد د ډاکټر نجيب د حکومت د نسکورېدو پر مهال د واشنګټن په وينا د جبل السراج د ائتلاف ملاتړ وکړ او دوه ځلې ئې ښاغلی رباني د جمهور رئيس په توګه په نورو ډلو تحميل کړ، پاکستاني جنرالانو داسي انګېرله چي په کابل کي د مجاهدينو تر حکومت يو کمزوری ائتلافي حکومت د دوی په ګټه دی، د طالبانو مرسته او بيا د دوی په ضد له امريکايانو سره د دوی ملګرتيا د پاکستان بله ستره غلطي وه، که د پاکستان مرسته نه وي نه دوی کابل نيولی شو او نه تر اوسه دلته پاتې کېدی شول. د امريکايانو د بريد په لومړيو مياشتو کي د طالبانو د حکومت تر نسکورېدو پورې له پاکستانه اته اويا زره نظامي الوتنې وشوې، هره طياره د پاکستان له نظامي اډو والوته او پر افغانانو ئې بمونه وورول، تر اوسه د امريکايانو اکمالات د پاکستان له لاري کېږي، کرزی له پاکستانه لومړی ارزګان ته بيا کندهار ته په امريکائي هليکوپترو کي انتقال شو. د ګوانتانامو زندان په هغو مجاهدينو ډک دی چي پاکستان نيولي او امريکايانو ته ئې لاس پښې تړلي سپارلي.

متأسفانه د اسلام آباد خارجي سياست مخصوصاً د افغانستان په ارتباط د امريکا تر اغېز لاندي تاکل کېږي، په دې کي هومره چي د امريکا ګټو ته پام کېږي بل څه ته هومره ارزښت نه ورکول کېږي، پاکستاني چارواکي دې ته متوجه نه دي چي امريکا تر هغه وخته پاکستان ته اهميت ورکاوو چي هند له روسانو سره نږدې

وو، غوښتل ئې هند تر فشار لاندي ونيسي، اوس چي هند امريکا ته نږدې شوی پاکستان خپل اهميت له لاسه ورکړی، د ساړه جنګ په وخت کي هم امريکا هند ته پر پاکستان ترجيح ورکوله، اوس خو د ډهلي د خوشحالولو لپاره د پاکستان په خلاف هر څه کولو ته تيار دي.

ډېر ساده انسان به د پاکستان د اوسني حکومت په هکله دا ګمان کوي چي د امريکايانو په ضد د مجاهدينو مرسته او حمايت کوي.

پوښتنه: طالبانو ته ستاسو پيغام څه دی؟

ځواب: زه هغو طالبانو ته په درنه سترګه ګورم او د زړه له کومي د دوی قدر او درناوی کوم چي د هېواد د آزادۍ لپاره جنګېږي، هغوی ته اطمئنان ورکوم چي د حزب اسلامي مجاهدين به د دې مبارزې په هر ډګر او هر سنګر کي د هر مخلص مجاهد په خوا کي ولاړ وي او په هيڅ پړاو کي به تر نورو شاته پاتې نه شي. د حزب مجاهدين ګډ کار ته تيار دي، د هېواد د راتلونکي په اړه هر تفاهم او توافق ته چمتو دي او له هيڅ مسلمان سره د ډغرو وهلو اراده نه لري. دغو طالبانو ته څو توصيې لرم:

- له جبهه اي جګړو ډډه وکړئ، داسي جګړي د ګټې په ځای تاوان رسوي.
- فدائي عمليات يوازي د سترو سترو اهدافو لپاره ترسره کړئ.
- ټوله توجه مو د اصلي دښمن لوري ته معطوف کړئ او په نورو فرعي جبهو کي له مصروفېدو ډډه وکړئ.
- د نيمې لاري ملګرو او د هغو کسانو په بېلبېدو مه خفه کېږئ چي تاسو ئې يوازي پرېښودئ او له امريکايانو سره ملګري شول، دوی د امريکايانو په وينا له تاسو سره يو ځای شوي وو، دا دوی وو چي له مخلصو مجاهدينو سره په جنګ او له کمونستانو او منافقينو سره په ائتلاف ئې ټينګار کولو. له هر مجاهد صف نه د داسي کسانو بېلبېدل د تاوان په ځای ګټه لري.

پوښتنه: که چېري له دولت سره ستاسو خبرو کومه نتيجه ورنه کړه نو بيا به په يوائې سر خپلي مبارزې ته دوام ورکوئ او که به بېرته له طالبانو سره يو ځای شئ؟

ځواب: موږ د ټولو مخلصو مجاهدينو په يووالي ټينګار کوو او په دې لار کي

له هيڅ ډول هڅې او حتی ایثار نه ډډه نه کوو، خو خپله مبارزه به په هر صورت جاري ساتو، که څه هم نور د وحدت په اړه زموږ وړاندیزونو ته مثبت ځواب ونه وايي.

پوښتنه: د بیان د آزادۍ په اړه مو نظر څه دی؟ آیا د هېواد د اوسنیو مطبوعاتو او رسنیو کړه وړه ستاسو له نظره سم دي؟

ځواب: زه د اسارت په دوران کي د آزادو او خپلواکو مطبوعاتو رامنځ ته کېدا شبه محال ګڼم، زما تشخیص دا دی چي د امریکایانو تر سلطې لاندي چي کومي رسنۍ زموږ په هېواد کي صحنې ته راوتلې ډېری ئې د هغو ملکونو لخوا تمویل او توجیه کېږي چي د افغانستان په نیولو کي ئې د امریکایانو مرسته او ملګرتیا وکړه، له روسیې، اسرائیل، هند او ایران نه نیولې تر فرانسې، جرمني، انګلستان او ایټالیې پورې هر ملك ځان ته یوه ډله غوره کړه، د راډیو، ټلویزیون، مجلې او ورځپاڼې د خپرولو لپاره ئې امکانات ورکړل او خپل تبلیغات پرې کوي، په دې هېوادو کي امریکا د لست په سر کي ده او ایران په دوهم نمبر کي راځي.

پوښتنه: که چېري ولسي جرګه په افغانستان کي د امنیت تر ټینګېدو پورې د امریکایي ځواکونو پاته کېدل وغواړي نو د دې پرېکړې په وړاندي به ستاسو غبرګون څه وي؟

ځواب: دا پارلمان په همدې موخه جوړ شوی، له دې پارلمان نه د اشغالګرانو غوښتنه او انتظار همدا دی چي د اشغالګرو ځواکونو شتون ته به قانوني بڼه ورکوي، خو افغان ولس ته داسي پرېکړه هیڅ ارزښت او اهمیت نه لري.

پوښتنه: تاسو په خپل ذهن کي افغانستان ته څه ډول یو انځور وکاږئ؟

ځواب: موږ داسي افغانستان غواړو چي:

- آزاد او خپلواك وي او په هیڅ ګوټ کي ئې د پردیو بیرغونه نه رپېږي.
- اقتدار د هغو چارواکو په لاس کي وي چي ملت غوره کړي، له خدای نه وېرېږي او په خپل ولس ترحم او زړه سوی لري.
- مسلمان منتخب جمهور رئیس ولري (پارلماني نظام او د پارلمان له لاري د جمهور رئیس ټاکل مضر ګڼو)

- یوه مقتدره او باصلاحیته منتخبه شوری ولري (نه د انګلستان او امریکا په خبره دوه مجلسونه)
- قضائیه قوه ئې په واقعي معنی مستقله او ځواکمنه وي. هیڅوك د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته د چا د نیولو او بندي کولو حق ونه لري.
- د دولت اداري تشکیلات محدود وي، امکانات ئې په تولیدي چارو او اجتماعي خدماتو مصرف شي.
- سیاسي احزاب ئې افغانستان شمول وي، شورائي نظام او منتخب مشران ولري، په ملي وحدت ترکیز کوي او داسې پردي پالې ډلې په کې د فعالیت حق او مجال ونه لري چې قومي او ژبني تعصباتو ته لمن وهي.
- د مرکز او اطراف تر منځ تعادل وي. داسې نه چې د مرکز اوسېدونکي له ټولو تسهیلاتو برخمن وي او د اطراف اوسېدونکي د ژوند له ضروري اړتیاوو محروم.

پوښتنه: که اوسنی حالت دوام وکړي د افغانستان راتلونکي به څنګه وي؟

ځواب: إن شاء الله دا حالت به د اوږدې مودې لپاره دوام نه کوي، دا یو غیر طبیعي او له بهر نه تپل شوی حالت دی، هر افغان په دې پوهېږي چې د دې حالت د دوام پایلې ډېرې خطرناکې دي، زه مطمئن یم چې افغان ولس به حتماً دا حالت پای ته رسوي.

پوښتنه: افغان ولس او افغان حکومت ته ستاسو پیغام څه دی؟

ځواب: افغان ولس ته مي پیغام دا دی چې افغانستان یوه بل انقلاب ته ضرورت لري، یوه واقعي اسلامي انقلاب ته، داسې انقلاب ته چې په یوه مستقل، خپلواك او اسلامي افغانستان منتج شي، مخکنی انقلاب د بهرنیو لاسوهنو، د ملت د غفلت، او د منافقینو د نفوذ په سبب نیمګړی پاتې شو، د مجاهدینو په ضد نړیوال دسایس پیل شول، د اسلام ټولو دښمنانو یوه بل ته لاس ورکړ، د اسلامي ملکونو منافق واکمنان او زموږ کینه کښ ګاونډي ورسره ملګري شول، ځینو یوې ډلې ته وسلې او پیسې ورکړې او د مجاهدینو په ضد ئې وجنګوله او ځینو بلې ډلې ته. اوس ملت خپل کورني او بهرني دښمنان پېژندلي، د انقلاب لپاره شرایط برابر دي، ولس دې نتیجې ته رسېدلی چې د جګړې د خاتمې او د واقعي او دایمې

سولې د تأمین لپاره بله لار نه لري، د جګړو او بې امنیتۍ له دوام او د ظالمانو، مفسدینو، ملي خائنانو او وطن پلورونکو له سلطې نه د نجات لپاره یوازي همدا لار ورته پاتې ده. باید ټول باایمانه، خدای پالونکي او آزادي غوښتونکي افغانان په یوه ډاډمن اسلامي صف کي راغونډ شي، یو بل ته د ورورۍ لاس ورکړي، هېواد له دې دردناك حالت نه وژغوري، جګړه د تل لپاره پای ته ورسوي، د ملت د خوښې اسلامي حکومت جوړ کړي، اقتدار هغه چا ته وسپاري چي له الله تعالی وېرېږي او پر خپل مظلوم ملت ترحم او زړه سوی لري.

موږ له افغان ځوانانو او د اسلامي امت له ځوان نسل نه د یوه واقعي اسلامي انقلاب راوستو طمع لرو، او دا طمع په ځای ده، په امت کي له دوی پرته بله داسي ټولنه نشته چي د یوه اسلامي انقلاب په راوستو کي تردوی مؤثره ونډه واخیستی شي، الحمد لله د اسلامي نړۍ ځوان نسل اسلام ته مخه کړې، د اسلام لپاره قربانۍ ته چمتو دي، هم د لمانځه په وخت کي جوماتونه ترې ډك وي او هم د جهاد په وخت کي سنګرونه، إن شاء الله د افغانستان دا په نیمه لار کي پاتې انقلاب به هم د دوی په مبارکو لاسونو سرمنزل ته رسېږي، تاسو ته معلومه ده چي د افغانستان اسلامي نهضت ۳۸ کله مخکي د ځوانانو په لاس پیل شو، دوی غوښتل په هېواد کي اسلامي انقلاب راولي، په ډېره چټکتیا مخکي روان وو، د ځوانانو اکثریت ورسره یو ځای شو، په پردیو پورې تړلې ډلې ئې د فکري مبارزې په ډګر کي له سختې ماتې سره مخامخ کړې، د اسلامي نهضت د بریا د مخنوي لپاره، زموږ د هغه وخت ځواکمن ګاونډي، شوروي اتحاد، مداخله وکړه، لومړی ئې یوه کودتا او بیا بله ترسره کړه، دواړه کودتائي نظامونه د اسلامي نهضت له ځپلو عاجز شول، په پای کي شوروي اتحاد زموږ پر هېواد برید وکړ، د برید اصلي موخه د اسلامي نهضت ځپل وو، دې کودتاګانو او بیا د دوی لوی یرغل، موږ له وخته مخکي جنګ ته اړ کړو، جنګ د دې باعث شو چي نهضت هر چا ته خپله غېږ پرانېزي او هر هغه څوك په خپلي خوا کي ومني چي د آزادۍ لپاره جنګ ته چمتو وي، که څه هم د نهضت له اهدافو او تګلارو سره توافق ونه لري، له بلي خوا پردي لاسونه رااوړېده شول، او د اسلامي نهضت ترڅنګ ئې بېلې بېلې ډلې جوړې کړې، ټولو همغه شعارونه ورکول

چي اسلامي نهضت ورکول، هري ډلي د اسلام او جهاد خبره کوله، ولس نه پوهېدو چي کومه ډله رښتیا وايي او کومه د مجبوریت له مخې او په دې خاطر دا شعارونه ورکوي چي بازار ئې گرم دی. اوس خلکو ته تر ډېره حده حقایق معلوم شوي، او په دې پوه شوي چي هغه ډلي نه اسلام ته مخلص وې او نه جهاد ته چي نن د امریکایانو خوا ته ودرېدلې او جنگیالي ئې د امریکایانو تر قومندې لاندي له افغانانو سره جنگېږي!!

افغانان باید په دې وویاړي چي په شلمې پېړۍ کي د اسلامي جهاد بیرغ د دوی په لاس اوچت شو او د جهاد هېره شوې ستره الهي فریضه د دوی په لاس احیاء شوه، په فلسطین، کشمیر، چیچین، عراق او د نړۍ په نورو سیمو کي د مسلمانو مجاهدینو په روان مسلحانه مقاومت کي د دوی لویه ونډه ده، د دغو سیمو مجاهدین یا هغه دي چي په افغانستان کي روزل شوي او یا هغه چي له افغانانو ئې د اسلامي جهاد درس اخیستی، دا هغه حقیقت دی چي دوست او دښمن پرې اعتراف کوي او همدغه حقیقت ته په پام سره ده چي د نړۍ ټول کفري ځواکونه د افغانانو په ضد متحد شوي، د اسلامي هېوادو منافق حکام ئې په خوا کي ودرېدلي او په گډه دا هڅه کوي چي په افغانستان کي د مجاهدینو په لاس د یوه واقعي اسلامي حکومت د جوړېدو مخه ونیسي.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحيم

# د فرانسې له خبري آژانس سره مركه

پوښتنه- دولت او پارلمان د عمومي عفوي په نامه يوه مصوبه جوړه كړې ده آيا تاسو غواړئ د دې پروسې او مصوبې څخه فايده پورته كړئ او خپله سلاح په ځمكه كېږدئ او له دولت سره يو ځاى شئ؟

ځواب: تاسو حتماً پوهېږئ چي دا مصوبه د پارلمان د هغو غړو په ابتكار تصويب شوه چي وېرېدل د امريكايانو لخوا د جنگي جناياتو په تور محاكمه نه شي!! خو تاسو وليدل چي مغرور او بد مست امريكايان داسي پرېكړو ته هيڅ ارزښت نه وركوي، امريكايانو دا پارلمان يوازي د دې لپاره جوړ كړى چي د دوى اشغال ته قانوني بڼه وركړي او هر جنايت ئې توجيه كړي، د دې پارلمان په جوړولو دا دومره مصارف ئې د دې لپاره نه وو كړي چي د دوى د خوښي خلاف پرېكړې به كوي. زمونږ له نظره د اشغال په دوران كي او د اشغالگرانو تر وزر لاندي جوړ شوى پارلمان او پرېكړې ئې هيڅ اهميت او ارزښت نه لري. كه پارلمان د بهرنيو ځواكونو د وتلو پرېكړه وكړى شي مونږ ورسره خبرو ته تيار يو.

پوښتنه - آيا تاسو كوم وخت كوشش كړى دى چي ولس مشر كرزي يا دولت سره رابطه وكړئ او يا د كرزي حكومت كوشش كړى دى چي تاسو سره په خصوصي توگه رابطه وكړي؟

ځواب: هغه مهال چي زه په ايران كي وم، ښاغلي كرزي ايران ته سفر درلود، ايراني چارواكو ته ئې ويلي وو چي غواړي له ما سره وگوري، ايرانيان له دې ملاقات سره موافق نه ول، نتائجو ته ئې د شك په سترگه كتل، غوښتل ئې چي

کرزي په شمالي ائتلاف متکي وي او حزب اسلامي په حکومت کي برخه وانه خلي، د خاتمې کابينې فيصله وکړه چي د کرزي له راتلو د مخه ما امريکايانو ته تسليم کړي، زه د ده له راتلو ځو ورځي مخکي او د دلوې په ۲۲ له ايران نه ووتلم او هېواد ته راغلم، نو ځکه هغه ملاقات ونه شو، بيا خليل زاد او د حکومت نورو چاروا کو په مختلفو پړاوونو او مختلفو سطوحو کي پيغامونه لېږلي او د خبرو آترو غوښتنه ئې کړې، خليلزاد خو دا هم ويلي وو چي هر ځای دی وغواړي زه ورځم، خو زما ځواب دا وو چي موږ يوازي په هغه صورت کي مذاکراتو ته تيار يو چي اجندا ئې د بهرنيو ځواکونو بلا قيد شرط وتل وي، له دې شرط نه پرته نه مذاکرات مفيد ګڼو او نه په کي برخه اخلو.

پوښتنه - آيا تاسو غواړئ چي د ولس مشر کرزي سره مذاکرات وکړئ که غواړئ نو شرطونه مو څه دي؟

ځواب: يو ځل بيا ستاسو له لاري اعلان کوم چي د اشغالګرانو تر سلطې لاندي حکومت کي هيڅکله برخه نه اخلو. له دې شرط نه په هيڅ صورت کي تنازل نه شو کولی چي بهرني ځواکونه دې له افغانستان نه ووځي او افغانانو ته دې د خپل برخليك ټاکلو حق ورکړی شي. که کله هم تاسو واورېدل چي حزب اسلامي د اشغالګرانو له شتون يا د دوی په لاس تېپل شوي حکومت سره توافق کړی نو دا خبره دروغجنه او بې بنسټه او د دښمن له لوري غولوونکي تبليغات وګڼئ.

تاسو ماته ووايئ چي د کابل په حکومت کي له چا سره خبره وکړو؟ د پرېکړو اختيار له چا سره دی؟ آيا د امريکايانو له اجازې پرته څوك د حکومت له مخالفينو سره خبري کولی شي؟ آيا امريکايان دې حکومت ته د روغې جوړې په ارتباط د مذاکراتو واك ورکوي؟ د کابل چارواکي په کوم صلاحيت د مذاکراتو خبره کوي او څنګه به خپلي ژمنې عملې کوي؟!! د کابل په حکومت کي خو اقتدار ټول د هغو ډلو په لاس کي دی چي په مسکو او د مسکو په منطقوي ملګرو پورې تړلې دي، د دفاع، داخله او خارجه چارو وزارتونه، د ملي امنيت رياست، سفارتونه، فوځ او پوليس او د دولت نورې مهمې ادارې د دوی په واك کي دي، همدا دوی دي چي پرون روسانو د افغانانو په ضد وجنګول او نن ئې امريکايان جنګوي، او چي تر څو

دوی په اقتدار کي وي جګړه به ادامه کوي، دا د دوی مأموريت دی چي پرې نه ږدي په افغانستان کي جګړه پای ته ورسېږي، د دوی حاميان خپلي ګټې د جګړو په دوام او د افغانستان په تضعيف او تجزيې کي لټوي، د دوی بهرني حاميان نه غواړي زموږ په هېواد کي امنيت راشي او مرکزي آسيا د افغانستان له لاري له نړۍ سره وصل او تېل او ګاز ئې له دې لاري صادر شي، دوی د هند د نيمې وچي مهم مارکيټ او د مرکزي آسيا ذخاير په خپل واك کي راوستل غواړي او د همدې لپاره زموږ په هېواد کي د جګړو او بې امنيو دوام ضروري او مفيد ګڼي او مصارف پرې کوي!!

پوښتنه - آيا تاسو کافي منابع، سلاح، پيسې او مجاهدين لرئ چي دغه جنګ پر مخ بوځئ او که لرئ ئې ستاسو مجاهدين د افغانستان په کومو ساحاتو کي عمليات ترسره کوي؟

ځواب: باور وکړئ چي موږ دا جهاد داسي کوو لکه لمونځ چي کوو او لکه روژه چي نيسو، يا حج کوو، دا جهاد مو فقط د الله تعالی په توکل او اعتماد پيل کړی، زه د الله تعالی په نامه لوړه کوم چي تر دغي شېبې پورې مو د امريکايانو په ضد جهاد کي له هيڅ حکومت نه په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه هيڅ مرسته نه ده ترلاسه کړې، نه مالي، نه نظامي او نه سياسي او اخلاقي، تاسو ما ته ووايئ آيا په ټولي نړۍ کي داسي حکومت په نظر درځي چي د مجاهد ملاتړ وکړي او د هغه چا مرسته وکړي چي خپلواك او اسلامي افغانستان غواړي؟ که داسي حکومت پېژنئ نو ما ته ئې هم آدرس راکړئ!! ډېر ناپوه او غرضي انسان به دا خبره کوي چي ايران يا پاکستان به د مجاهدينو مرسته کوي!! ايران او پاکستان خو د افغانستان په نيولو کي د امريکايانو دومره مرسته وکړه چي د دوی له مرستي پرته ئې نه کابل نيولی شو او نه تراوسه دلته پاتې کېدلی شول.

څوك چي نظامي تجربه لري او د روان مقاومت له ځانګړتياوو خبر وي، هغه پوهېږي چي مجاهدين د دې مقاومت د دوام لپاره د هيڅ‌چا مرستي ته اړ نه دي، نه ئې ايران مرسته کوي او نه پاکستان، هم د ايران ليبرالانو د امريکايانو مرسته وکړه او هم د پاکستان جنرالانو، امريکايان پوهېږي چي د سرك د سر د دوی د يوه

کاروان په وړاندي په يوې چاودنې باندي د مجاهدينو مصارف سلو ډالرو ته نه رسېږي، نه ئې په موادو او وسايلو کي بهرنۍ مرستي ته ضرورت لري او نه ئې په مصارفو کي، إن شاء الله داسي جنګ په يوازي سر او تر اوږدې مودې جاري ساتلی شي، که موږ په کال کي لږ تر لږه زر داسي چاودنې وکړی شو نو مجموعي مصارف مو سل زره ډالرو ته نه رسېږي، که اشغالګران په کال کي لږ تر لږه د زرو تابوتانو د انتقال حوصله ولري نو د افغانانو ملا دې ماته شي که دومره مصارف ونشي زغملی. که انګرېزانو يوه پېړۍ مخکي زموږ د پلرونو پر افغانستان حکومت ونشو کړی، موږ به د خپلو غازي نيکونو ناخلفه لمسيان وو چي نن د همغو انګرېزانو بيرغونه دلته رپېږي او زموږ د هېواد په کوم ګوټ کي يوه شېبه آرامه تېره کړی شي.

پوښتنه - ستاسو رابطه له له القاعده او طالبانو سره څرنګه ده، ستاسو رابطه او همکاري له طالبانو سره شته او که نه، او که شته مو نو تر کومه حده پورې ده؟

ځواب: په داسي حال کي چي له القاعدې او طالبانو سره هيڅ راز تنظيمي اړيکي نه لرو، د هر هغه چا درناوی کوو چي د اسلام، حق او عدالت لپاره جنګېږي، موږ هر مجاهد ته په درنه سترګه ګورو، د هر مجاهد قدر کوو، له هيڅ مجاهد سره د رقابت او تنافس اراده نه لرو، هر مجاهد خپل مجاهد ګڼو او حزب د هغه کور او سنګر، خو حزب اسلامي نه له طالبانو سره کوم تړون لري او نه القاعدې سره.

موږ تل د مجاهدينو په يووالي او وحدت ټينګار کړی، او خپلو مجاهدينو ته مو ويلي چي په خپلو خپلو سيمو کي له هر هغه چا سره مرسته وکړئ چي د اشغالګرانو په ضد جنګېږي او په خپلواك افغانستان کي اسلامي حکومت غواړي.

پوښتنه - تاسو په کوم وخت او کوم ځای کي آخري ځل لپاره له اسامه بن لادن سره ليده کاته او ملاقات وکړ؟

ځواب: له يولسم ستمبر نه وروسته ما له اسامه بن لادن سره ليدلي، او دا هغه وخت چي ايراني ليبرالانو غوښتل ما امريکايانو ته تسليم کړي او زه د ايراني

چارواکو له خبرولو پرته له ایرانه ووتلم او هېواد ته راغلم.

باید تاسو ته ووایم چي په کابل د امریکایي ځواکونو له برید نه وروسته مي د حزب اسلامي غړو ته وویل: ستاسو یوه مهمه دنده دا ده چي هغه انصار وروڼه خوندي ځایونو ته ورسوئ چي له افغانستان نه د وتلو توان، او د پناه بل ځای نه لري، کله چي په تورې بورې د امریکائي ځواکونو برید پیل شو او ځینو وطن پلورونکو ناافغانانو په دې برید کي برخه واخیسته، د حزب اسلامي څو زړه ورو او باایمانه مجاهدینو، اسامه بن لادن او د ده څو ملګري چي ایمن الظواهري هم په کي وو له تورې بورې وایستل او یوه خوندي ځای ته ئې انتقال کړل، زما ملاقات په دغه ځای کي له دوی سره شوی.

پوښتنه - ستاسو رابطه د حزب اسلامي له هغو غړو سره چي اوس فی الحال په کابل کي دفترونه لري، له دولت سره کار کوي، او یا په پارلمان کي دي، څه قسم ده، اړیکي ورسره لرئ او که نه؟ چي یو مثال ئې د حکمتیار صاحب زوم جریر صاحب دی چي په کابل کي په آزاده توګه ګرځي او ځان ئې پارلمان ته هم کاندید کړی وو.

ځواب: زما زوم ډاکټر غیرت بهیر دی چي د سي آی اې او آی اس آی لخوا په اسلام آباد کي ونیول شو او تراوسه د بګرام په امریکائي زندان کي دی، جریر زما د شهید ورور زوم دی، په کابل کي د ده له اوسېدو سره نه موافق وم او نه یم، نه دی زما استاځی دی او نه زه د ده د مواقفو مسئولیت په غاړه اخلم او مه تاسو د بل په کړو وړو ما ملامتوئ!!

څوک چي زما د ایمان او عقیدې ملګري وو هغه به تل له ما سره وي، یوازي هغه څوک به زموږ د نیمې لارې ملګري وي چي بل مقصد دې صف ته راوستي وو، څوک چي له اشغالګرانو او د دوی په لاس تپل شوي نظام سره ملګرتیا کوي هغوی له حزب نه وتلي، په حزب کي د داسي خلکو لپاره هیڅ ځای نه شته، خو هغه چي له اشغالګرانو سره ملګرتیا نه کوي او د عام ولس په څېر په هغو سیمو کي اوسېږي چي د دې نظام تر ادارې لاندي دي، خو د حزب اهدافو، اصولو او تګلارې ته وفادار دي، هغوی د حزب غړي دي، موږ یوازي هغه کسان له حزب نه وتلي ګڼو چي

له اشغالګرانو سره ملګرتیا کوي، دوی د ګوتو په شمېر دي، باقي حزبیان د سابق په څېر اسلام او خپل حزب ته وفادار دي، په جهاد باور لري، له هېواد نه د ټولو بهرنیو فوځونو بلا قید و شرط وتل او د یوه واقعي اسلامي نظام قائمېدل غواړي.

پوښتنه - ستاسو معلومات د پاکستان د رول په ارتباط او دا چې د افغانستان په معضله کې څه ونډه لري، څرنګه دی؟ مثلاً داسي ویل کېږي چې پاکستان له طالبانو سره مرسته کوي، آیا دا خبره حقیت لري او تاسو ئې منئ او که نه؟

ځواب: دا په غرض او مرض د ککړو خلکو پوچ او بې بنسټه تبلیغات دي، چې یوازي ناپوه او د بېمارو زړونو خاوندان به ئې مني، پاکستان د افغانستان په ارتباط د امریکایانو دومره مرسته کړې چې له دې مرستې پرته نه د کابل نیول ورته ممکن وو او نه دلته پاتې کېدل، دا پاکستان وو چې د طالبانو حکومت ئې نسکور کړ، امریکایانو که د طالبانو او القاعدې مشران نیولي نو د پاکستان په مرسته ئې نیولي، د ګوانتانامو زندان په هغو بندیانو ډك دي چې پاکستان نیولي او لاس تړلي ئې امریکایانو ته سپارلي، د امریکایانو څومره مخالفین چې د پاکستاني چارواکو په لاس وژل شوي د امریکایانو په لاس نه دي وژل شوي، که دا نن پاکستان د امریکایانو له ملګرتیا او یا د امریکا د مخالفینو له نیولو او وژلو لاس واخلي نو امریکا ته به په افغانستان کي پاتې کېدا ډېره ډېره ګرانه شي.

سره له هغو ټولو جفاګانو چې پاکستاني چارواکو له طالبانو سره وکړې، دوی به څنګه بیا هم په اسلام آباد باور کوي، او اسلام آباد به په کومو سترګو دوی ته د دوستۍ لاس اوږدوی.

پوښتنه - آیا ستاسو طرفداران او مجاهدین د سرحد په هغه غاړه (پاکستان) کي شته دي که نه؟

ځواب: په پاکستان کي خو اوس هم د ملل متحد د وینا له مخې درې ملیونه مهاجرین شته، د دغو مهاجرینو ډېری هغه افغانان دي چې د امریکایانو په لاس د هېواد د اشغال مخالفت کوي او له مجاهدینو سره خواخوږي لري، همدا راز تاسو ته به حتماً معلومه وي چې د پاکستاني ولس مطلق اکثریت په سیمي کي د امریکا

له شتون سره مخالفت کوي.

۱۰ پوښتنه - د ناټو قواوې او عسکر وايي چې په افغانستان کي په سلګونو خارجي جنګيالي چې په القاعده پورې مربوط او تړاو لري شتون لري او جنګېږي، آيا د دوی دا خبره حقيقت لري او که نه، او که حقيقت لري دا وګړي څوك دي؟

ځواب: هو؛ د دوی دا خبره حقيقت لري چې په افغانستان کي خارجي جنګيالي شته خو په سلګونو نه بلکي په زرګونو، او دا هغه جنګيالي دي چې له اروپا، امريکا، او آسټراليا راغلي، او د امريکايانو تر قومندې لاندې زموږ د ولس په ضد جنګېږي!! همغه چې هره ورځ د دوی په ناولو لاسونو په لسهاوو مظلوم افغانان په خپلو وينو کي رغړي، کورونه ئې ورانېږي، په کليو ئې بمونه ورېږي او هجرت ته مجبورېږي. القاعده اوس په عراق کي د امريکايانو مقابله کوي، جنګيالي ئې هلته کوز شوي، نور نو افغانستان ته د يوه سنګر يا پناه ځای په توګه ضرورت نه لري.

۱۱ پوښتنه - يوه عمومي نظر سنجي او سروې په افغانستان کي دا ښيي چې ډېری او په زيات تعداد افغانان د ناټو د قواوو او عسکرو شتون په افغانستان کي ضروري او د افغانانو په ګټه ګڼي، او تاسو ئې شتون او موجوديت د افغانستان او افغانانو لپاره ضروري نه ګڼئ او غواړئ چې څومره ژر کېدی شي د افغانستان څخه ووځي نو دا په دې معنی نه ده چې ستاسو نظر د افغان ولس له نظر سره په تضاد او ټکر کي راځي؟

ځواب: دا کومه څېړنه ده؟ د چا لخوا ترسره شوې؟ دا هسي د نورو دروغجنو تبليغاتو په څېر د استخباراتي آژانسونو لخوا خواره شوي، همغسي چې امريکايانو د اشغال په لومړيو مياشتو کي ويل چې له دريو مليونو مهاجرينو نه دوه مليونه خپل ملك ته ستانه شول، خو لا څو مياشتې نه وې تېرې چې د ملل متحد اړوند ادارو وويل چې په پاکستان کي درې مليونه مهاجرين مېشت دي!! کمونستانو به هم ويل چې روسي فوځونه د افغان حکومت په غوښتنه او د امنيت راوستو لپاره راغلي او د افغان ولس مطلق اکثريت د دوی شته والی غواړي!! امريکايان او برېڅي ئې همغه د روسانو او کمونستانو خبري تکراروي، له څو

ذليلو ناافغانانو نه پرته هيڅوك د بهرنيو فوځونو له شتون سره موافق نه دي.

۱۲ پوښتنه - د طالبانو لوى قوماندان ملا داد الله څو ورځي وړاندي مطبوعاتو ته په سختو او بدو الفاظو كي وويل چي طالبان هيڅكله نه غواړي چي د حكمتيار صاحب يا حزب اسلامي سره يو ځاى شي نو ستاسو عكس العمل د ملاداد الله د وينا په هكله څه دى او څه رد العمل په دې هكله ښكاره كوئ او ښيئ؟

ځواب: زه د قوماندان داد الله قدر كوم، د ده او د ټولو هغو افغانانو مقاومت ته په درنه سترگه گورم چي په مېړانه او زړه ورتيا سره د صليبي ځواكونو مقابله كوي، گمان نه كوم چي هغه به زما په هكله غلطه خبره كړې وي، خو كه ما ته ښكنځل هم وكړي زه ئې ځواب نه وركوم، زه د هغه چا د تندي ښكلولو ته تيار يم چي د دښمن لوري ته يوه ډبره ولي، ما څو مياشتې مخكي د قوماندان داد الله دا خبره اورېدلې ده چي زه ئې د مشر ورور په نامه ياد كړى يم، گمان نه كوم چي هغه به زما او حزب اسلامي په ضد څه ووايي، ښايي دا به د ځينو استخباراتي خبري رسنيو شرارت وي چي غواړي د مجاهدينو ترمنځ اختلافات راولاړ كړي،ده دوه درې ځلې د ټيلفون له لاري له ما سره خبري كړې او دا هغه مهال چي د طالبانو ځيني جنگيالي په شمال كي جنرال دوستم ته تسليم شول چي نږدې ټول ئې په قتل ورسېدل، ځيني ئې د حزب د مجاهدينو په مرسته له نيول كېدو او وژل كېدو وژغورل شول، ملا داد الله آخوند هم په دې ډلي كي وو، ما په بلخ كي د حزب قوماندان اميرجان ته وويل چي حتماً او په هره بيه چي كېدى شي دوى له هغې سيمي وباسه، الله تعالى دې هغو مجاهدينو ته اجر وركړي چي د امريكايانو او د دوى د وطن پلورونكو برېڅو له منگولو ئې ډېر شمېر طالبان وژغورل.

۱۳ پوښتنه - آيا تاسو په خپله معلومات لرئ ملا محمد عمر او اسامه بن لادن په افغانستان كي دي او كه په پاكستان كي دي؟ او بله دا چي تاسو له كله نه چي له ايران نه راغلي ياست پاكستان ته تللي ياست او كه نه، كه په دې هكله هم لږ او ډېر وضاحت وكړئ نو بده به نه وي.

ځواب: زه له ملامحمد عمر آخوند سره هيڅ تماس نه لرم، د ده او د اسامه بن لادن د اوسېدو د ځاى په هكله څه نه شم ويلى، او د پوښتني د دوهمې برخي په اړه

باید ووایم چي له ایرانه د وتلو پر مهال ما ته د هغو ورونو له لاري اطلاع راکړی شوه چي په پاکستان کي اوسېدل چي پاکستاني چارواکو د صوبه سرحد د هغه وخت د ګورنر په شمول دوی ته ویلي: حکمتیار ته اطلاع ورکړئ چي پاکستان ته د راتلو هڅه ونه کړي!! که پاکستان ته راغی نو موږ به ئې نیسو او امریکایانو ته به ئې سپارو، زما زوم ډاکټر بهیر ئې ونیولو او تراوسه په بګرام کي دی، او دا په داسي حال کي چي د طالبانو وزیران د خارجه وزیر په شمول او سفیران ئې، په اسلام آباد او امریکا کي د دوی د سفیرانو په شمول، آزاد ګرځي!! نو اوس تاسو ما ته ووایئ چي زه به پاکستان ته تللی وم که نه؟! او که تللی وم نو دا به څومره لویه غلطي وي؟

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د فرانسي خبري آژانس خبریال احمد جان: مننه.

بسم الله الرحمن الرحیم

# د الجزیرې له تلویزیون سره مرکه .

سوال: د امریکائي او نورو بهرنیو ځواکونو په ضد مو جهاد اعلان کړ خو د هغه حکومت په ضد دې جهاد اعلان نه کړ چې همدې امریکایانو جوړ کړی، دا هغه خبره ده چې طالبان هم په تا انتقاد کوي ستا ځواب څه دی؟

ځواب: په دې هکله څو خبري ضروري ګڼم:

الف: د افغاني حکومت په نامه داسې څه نشته چې څه اهمیت ولري او د دې وړ وي چې د هغه په ضد جهاد اعلان شي. ما ته داکار سم نه برېښي چې خپل وخت، فرصتونه او امکانات د همدې تش په نامه او بې ارزښته حکومت په ضد ضایع کړو.

ب: د دین حکم او د عقل تقاضاء دا ده چې اصلي دښمن له فرعي نه او لومړی درجه خطرناك دښمن له دوهمې او درېیمې درجې دښمنانو نه تفکیك کړو .

ج: په دې کې باید هیڅوك شك ونه لري چې که د دې حکومت بهرني حامیان له ماتې سره مخامخ او له افغانستان نه وتلو ته اړ شي نو دا حکومت به د پنچر شوي ټایر په څېر د کوم ګاډي په باډۍ کې اچوي او له ځان سره به ئي وړي .

د: طالبانو ته زما توصیه دا ده چې انتقادونه پرېږدي،کار ته راوړاندي شي، د ویډیو کیسټونو په دکانونو کې د انفجار او د نجونو مکتبونو ته د اور اچولو په ځای دې د امریکائي فوځونو په ضد عملیاتو ته ملا وتړي. بمونه د هغه دښمن په ضد استعمال کړه چې ستا او ستا د ولس په سر بمونه وروي. دا صحیح او معقول کار نه دی چې د اصلي دښمن په ضد څه نه شي کولی نو د زړه براسي د مکتبونو په

سوځولو او د ویډیو کیسټونو د دوکانونو په ورانولو باسي. که کوم بم لرې او د هغه د چاودلو جرأت او همت لري نو راشه چي زه ئې مناسب ځای او وخت دروښیم.

هـ: دا حکومت د امریکایي فوځي شتون زېږنده ده او د همدې فوځي شتون په پای ته رسېدو به را نسکورېږي. نو په کارخو دا ده چي د ستونزي اصلي عامل باندي ترکیز وکړو.

و: آیا طالبان دا گمان کوي چي د هېواد واگې د دغه تش په نامه حکومت د چارواکو په لاس کي دي ؟! که داسي فکر وکړي نو دا به د دوی لویه اشتباه وي. دا چارواکي خو زموږ د عادي افغانانو نه لا زیات بې واکه او محکوم دي، په دوی باندي خو امریکایان خپل په وینو سره لاسونه پاکوي او د خپل ولس په خلاف ئې جنگوي، راځئ داسي څه وکړو چي دا مظلومان هم له دې ذلت او سپکاوي نه وژغورو.

سوال: آیا د اسامه بن لادن له تنظیم، القاعدې سره اړیکي لرئ او آیا له تهران نه د راتلو نه وروسته دې له هغه سره لیدنه کتنه شوې؟ او د هغو عملیاتو په هکله څه وایاست چي په امریکا، یمن او نورو ځایونو کي ترسره شوي او ده ته منسوب کېږي او دی ئی هم تائیدوي ؟

ځواب: موږ له طالبانو او د القاعدې له تنظیم سره تنظیمي اړیکي نلرو، په دې عقیده یو چي په اسلامي نړۍ کي د امریکا په ضد روان مقاومت یوازي اسامه ته منسوبول او داسي انگېرل چي د ده په وژلو یا نیولو سره به دا مقاومت ختم کړی شي، دا د امریکایي چارواکو لویه غلطي ده. دوی په دې وینا سره هم ځان غولوي او هم خپل ولس. دا مقاومت په اصل کي یو داسي طبیعي رد العمل دی چي د امریکایي چارواکو د غلطو، جنگ غوښتونکو او اسلام دښمنه سیاستو په ضد راولاړ شوی، چي دوی د مظلومانو فلسطینیانو په ضد د اسرائیلو د وحشیانه تېري ملاتړ کوي، په اسلامي هېوادونو کي په خپل نظامي حضور ټینگار کوي، اسلام او اسلامي خوځښتونه د خپل استعماري گټو اولویې غوښتنو په وړاندي گواښ گڼي، په اسلامي نړۍ کي د مفسدو، بې دینه او ملحدو ډلو ټپلو مرسته کوي او نه پرېږدي چي د دې هېوادونو مظلوم او مقهور ولسونه د خپلي خوښي

نظامونه او حکومتونه ولري، او آزاد او خپلواك ژوند وکړي او ... په دې صورت کې که د اسامه په څېر په سلهاوو لوی لوی شخصیتونه ووژني، بل او بل به د هغوی په ځای راوړاندي کېږي، او همغه څه ته به ملا تړي چي نن ئې دوی کوي. امریکایان دې په دې پوه شي چي د شخصیتونو په ترور او وژلو سره خپل مشکل له اسلامي امت سره نه شي حل کولی.

دا هم باید ووایم چي موږ د هر هغه تحریك ملاتړکوو چي د اسلام د سر لوړۍ اود اسلامي امت د مجد او عظمت د اعادې لپاره ئې ملاتړلې وي، د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي او د ظالم او تېري کوونکي په ضد د مظلوم او مقهور انسان ملگرتیا کوي.

سوال: آیا په اسلامي او عربي نړۍ کي د امریکا شته والي ته په همغه سترگه گورئ چي اسامه ورته گوري ؟

ځواب: په عربي او اسلامي نړۍ کي د امریکا د سیاسي او نظامي حضور په هکله ټول اسلامي امت او اسلام ته متعهد افراد او احزاب ورته نظر لري، ټول دا غواړي چي امریکایي اډې دې ختمي شي، د دوی فوځونه دي ووځي، د دغو هېوادونو په کورنیو چاروکي دې لاسوهنه بنده کړي، دا هېوادونه دې خپلې مستعمرې، د وسلو د خرڅلاو بازار او د خپلو مصنوعاتو مارکیټ نه گڼي او د دې هېوادونو له ولسونو سره دې د غلامانو او اسیرانو په څېر چلند نه کوي.

سوال: آیا ستاسو، طالبانو او ابن لادن ترمنځ د تعاون خبره صحیح ده او آیا د یوې متحدې جبهې د جوړېدو په هکله څه هڅه شوې؟

ځواب: زه تل د دې خبري جدي او کلك پلوي وم او یم چي د هېواد د ننه او د ټولي اسلامي نړۍ اسلامي ځواکونو تر منځ یوه پراخه او متحده جبهه جوړه شي. مخکي مي هم د دې جبهې د جوړېدو ضرورت احساسولو او اوس هم. امید دی دا ستر او مقدس هدف بلآخره تر لاسه کړو او په دې لاري کي چي کومي مخلصانه هڅې رواني دي هغه خپله نتیجه ورکړي، خو دا باید ناچار او په تأسف سره ووایم چي د طالبانو سره په لوړه کچه نه مذاکرات شوي او نه کومه موافقه. اما زه په دې باور یم چي ډېر ژر به ټول مخلص مجاهدین په یوه متحد صف کي راغونډېږي او په

ګډه به له خپل دين، عزت، وطن او ولس نه دفاع کوي.

سوال: آيا له نورو افغاني ډلو مخصوصاً په انتقالي حکومت کي د شاملو ډلو سره تماس لرئ؟ او د امريکايانو په څنګ کي د هغو کسانو ودرېدل څنګه تعبيروئ چي مخکي د روسانو په ضد جنګېدلي؟

ځواب: په انتقالي حکومت کي د شاملو ډلو سره په دې خاطر له تماس نه ځان ساتو چي له يوې خوا دا کار څه ګټه نه لري، له بلي خوا هغوی د امريکايانو ملګرتيا وکړه، په خپل هېواد ئې د پرديو د حملې ملاتړ وکړ او په يوې داسي اداري کي شامل شول چي د امريکايانو په لاس جوړه شوې، د ارګ حفاظت اوساتنه ئې د امريکايي ځواکونو په لاس کي او د هېواد ټول هوايي ميدانونه د بهرنيو ځواکونو په اختيار کي. موږ ته د امريکايانو ملګرتيا ، د کفري ځواکونو په لاس جوړ شوي حکومت کی شامېلېدل او د هغه تر سلطې لاندي ژوند کول، د دغو ځواکونو بر لاسي ته سر ښکته کول، حرام او د دين منافي برېښي، زموږ له نظره اوس افغانستان دارالحرب دی او د هېواد د آزادۍ او د يرغلګرو فوځونو د ايستلو لپاره جهاد په ټولو افغانانو فرض دی، زموږ او د دغو ډلو ترمنځ نه تفاهم څه ګټه لري او نه تر هغه توافق ممکن دی چي دوی له خپلو کړو نادم شي او په خپلو غلطو سياستونو کي تجديد نظر وکړي.

دا هغه ډلي دي چي يا ئې د روسانو سره اور بندونه کړي وو او په تېرو کلونوکي ئې له روسانو نه وسلې او پيسې تر لاسه کولې او يا هغه چي په سياست کي هرڅه جائز ګڼي، د مذهبي احکامو په نسبت تر التزام نه سياسي مصلحتونو او وقتي ګټو ته ترجيح ورکوي او په دي کي څه حرج او اشکال نه ګوري چي دښمن ته د دوستۍ لاس اوږد کړي او د داخلي حريف د پرځولو لپاره له بهرني دښمن نه مرسته وغواړي، د "ولاء" او "براء" په هکله د دوی ناقص تصور دوی ته د داسي کار کولو اجازه ورکوي. ځيني نور بيا داسي دي چي دې کار ته د "تقيي" نوم ورکوي او هغه جايز ګڼي.

سوال: د امريکا د کانګرس په نامه ستا خط څه تاثير او نتيجه درلوده؟

ځواب: له هغه پرانستي ليك نه زموږ هدف دا وو چي له دې لاري ځيني هغه

حقایق نړۍ والو ته ورسوو چې امریکایي چارواکي ئې له خپل ولس او نړۍ والو نه پټ ساتي، هغوی ته ووایو چې د امریکایانو د ادعا برعکس، دوی په افغانستان باندې له خپل ناروا او وحشیانه تېري نه هیڅ نه دي تر لاسه کړي، دوی د روسانو ناکامه تجربه تکراروي او د همغو پایلو سره به مخامخ کېږي چې روسان ورسره مخامخ شول. نړۍ وال باید پوه شي چې په افغانستان کې د امریکا جنګي ماشین په ټپه ودرېدلی، د دې هېواد په دلدل کې ننښتی، ټولې هڅې ئې ناکامه شوې، نه د مقاومت په ځپلو موفق کېدی شي او نه د خپلې خوښې امنیت راوستی شي او نه جګړه پای ته رسولی شي. دا دي د یوه کال هڅو نه وروسته په دوی د مجاهدینو بریدونه روان دي، ورځ په ورځ تشدید کېږي، نه ئې ګزمې خوندي دي او نه بارکونه.

سوال: تراوسه ستاسو ډلې کوم عملیات تر سره کړي ؟ او د دغه او هغه عملیاتو تر منځ څه مقایسه کولی شي چې د روسانو په خلاف مو ترسره کول ؟

ځواب: زما دعا دا ده چې د امریکائي فوځونو په خلاف مې په جهاد کې ونډه تر هغې ونډې ډېره زیاته او ځلانده وي چې د روسي فوځونو په ضد الله تعالی زما په برخه کړه، امید دی الله تعالی ما په ټولو هغو عملیاتو کې شریك محسوب کړي چې تر اوسه ترسره شوي او یا په راتلونکي کې تر سره کېږي.

که د تېرو څو میاشتو عملیات له هغو عملیاتو سره مقایسه کړو چې د روسي فوځونو په ضد د دوی د تېري په لومړیو څلورو میاشتو کې ترسره شوي نو په څرګنده توګه به وګورو چې اوس هم د عملیاتو شمېر زیات دی او هم د دښمن تلفات، په اوسنیو عملیاتو کې د مجاهدینو جنګي مهارت او نظامي بصیرت او تجربه ډېره ځلانده لیدل کېږي، مګر نه ګورئ چې دښمن د زیاتو امنیتي تدابیرو سره سره په دې نه شي توانیدی چې عملیات کوونکي ونیسي او یا د دوی د راتلونکو عملیاتو مخنیوی وکړي.

سوال: آیا د داسې پراخ ولسي ملاتړ احساس کوئ ؟

ځواب: الحمد الله زموږ ولس مسلمان دی، په اسلام غیرت کوي، له اسلام نه د دفاع په لار کې هرې قربانۍ ته چمتو دي، اسلامي حکومت او د اسلام تر سیورې

لاندي ژوند غواړي، له مجاهد سره مینه لري، له هغه چا نه متنفر دي چي دښمن ته تسلیم شي.

سوال: ستاسو په اړه د پاکستان سیاست څنګه څېړئ، آیا د امریکا په ضد د ګاونډیو هېوادونو د تعاون توقع لرئ؟

ځواب: افغانان له پاکستان او ټولو هغو هېوادونو نه کلکه ګیله لري چي په افغانستان باندي د امریکا د وحشیانه تېري ملاتړ کوي او هغوی ته ئې تسهیلات ورکړي او خپلو پلوي افغاني ډلو ته ئې ویلي چي د امریکایانو تر قومندې لاندې د افغان ولس په خلاف وجنګېږي. متأسفانه له دوی نه ځینو له امریکا نه د وېرې په وجه دا دریځ غوره کړ او ځینو نورو په دې خاطر چي له امریکا سره د ملګرتیا له لاري امتیازات تر لاسه کړي، او ځینو نورو په دې خاطر چي دوی د طالبانو حکومت نه خوښولو او د هغه په ځای ئې داسي حکومت غوښتو چي د دوی ملي او محلي ګټي تامین کړي او د هغه په ترکیب کي د دوی پلوي ډلي په زړه پورې ونډه ولري.

تاسو پوهېږئ چي روسیه او چین په خپلو هېوادونو او مرکزي آسیا کي له اسلامي خوځښتونو سره ستونزي لري، په افغانستان کي اسلامي حکومت د دې ستونزي د تشدید لامل ګڼي، د امریکا د وسلو او پیسو په زور د دې خطر ختمول خوښوي، ایران او روسیه د امریکا په لاس جوړې شوې افغاني ادارې کي د خپلو پلوي ډلو برخه هومره په زړه پورې ګڼي چي له نورو لارو ئې داسي برخه نه شوی تر لاسه کولی. پاکستان له هند، روسیې او ایران سره رقابتونه لري، په امریکا باندي اتکاء ته ځان اړ ګڼي، هومره چي که واشنګټن د هري ډلي د جوړولو او ملاتړ امر ورکړي، که څه هم دا د شمال ټلواله وي، د هغې ملاتړ کوي او که د دوی په لاس د جوړې شوې ډلي د ختمولو قومنده ورکړي، نو همدې ته ځان مجبور ګڼي.

افغانان له امریکا سره د جنګ په دوران کي نه له خپلو ګاونډیو نه د مرستي او تعاون هیله کولی شي او نه د نړۍ له کوم بل هېواد نه. دوی به فقط د خپل رب په تائید او نصرت تکیه کوي او له خپلو ذاتي امکاناتو نه په استفادې سره به مقاومت ته دوام ورکوي.

ښايي څه موده وروسته او په داسي مرحلې کي چي د امريکا د ماتې نښې ښې څرگندي شي او زموږ گاونډيان او د امريکا رقيبان وگوري چي امريکايي فوځونه په يوه ناکام جنگ کي داسي ښکېل شوي چي يا به ډېر ژر د وتلو پرېکړه کوي او يا به د قطعي ماتې خطرناکوعواقبو ته انتظار کوي، ښايي په همداسي يوې مرحلې کي ځيني هېوادونه د مقاومت مرستي ته راوړاندي شي، د روسانو په ضد تېر مقاومت کي هم همداسي وشول.

سوال: په دې هکله څه فکر کوئ چي امريکايان ستا په لټه کي دي او د پاکستاني او امريکائي امنيتي ځواکونو له خوا د شمشتو کمپ تلاشي څنگه گڼئ چي ستا پلويان په کي اوسېږي.؟

ځواب: په دې هکله ځو خبري په پام کي ولرئ او بيا په خپله فيصله وکړئ.

الف: امريکا د هر مسلمان شخصيت او هر اسلامي ځواك دښمن ده، هغه مسلمان شخصيت چي امريکائي چارواکي ئې دښمن ونه گڼي بايد په خپل ايمان او د اسلام په نسبت په خپل تعهد کي شك وکړي.

ب: امريکا خو زما په ضد هم د شمالي ټلوالې مرسته کوله او هم د طالبانو.

ج: ايران ئې دې ته اړ کړ چي له هغه هېواد نه زما د وتلو فيصله وکړي او د ايران د چارواکو نه ئې غوښتي وو چي يوازي زما په وتلو اکتفاء ونه کړي بلکي داسي څه وکړي چي زه امريکايانو ته په لاس ورشم!! خو چي زه په خپله او د ايراني چارواکو له خبرولو نه پرته ووتم او افغانستان ته راغلم نو د جورج ډبليو بش خاص استاځي زلمي خليل زاد، څو ځله په مطبوعاتي کنفرانسونو کي وويل: د حکمتيار ايستل، د ايران د حسن نيت نښه نه بلکي موږ ته د مشکلاتو د راپيداکولو په مقصد وو.

د: چي کله زه هېواد ته راغلم نو د مخکني اعلان نه پرته ئې په ما راکټي حمله تر سره کړه، د سی آی اې مشر اعلان وکړ چي په حکمتيار زموږ د يوې بې پيلوټه طيارې لخوا راکټي حمله وشوه، دي بچ شو، خو څلور لوړ پوړي ملگري ئې په قتل ورسېدل. رامز فيلډ د امريکا د جنگ وزير هم دا حمله تائيد کړه او جورج بش په دې هکله وويل: امريکا به په هر هغه چا د حملې نه ډډه ونه کړي چي زموږ ځواکونه

له ګواښ سره مخا مخ کړي.

هـ: امریکایي چارواکي داسي ګمان کوي چي د دوی په ضد روان بریدونه پس له هغه پیل شول چي زه داخل ته راغلم او د بهرنیو فوځونو په ضد مي جهاد اعلان کړ، دوی فکر کوي چي نه په طالبانو کي د دا راز مقاومت تجربه او کفایت شته او نه د القاعدې غړي اوس او د طالبانو د حکومت له نسکورېدو وروسته په هېواد کي داسي عملیات تر سره کولی شي.

و: ګڼ شمېر ولایتونه ئې په ما پسې لټولي، کنر ته ئې تر ۸۰۰ پورې خاص ځواکونه ولېږل، د کنر ټولي درې ئې ولټولي، نورستان ته ولاړل، وردګ، میدان او غزني ئې ولټولو، د لوګر ځیني سیمي ئې تلاشي کړې .... د دغو سیمو چارواکو ته ئې ویل: موږ ته اطلاع رسېدلي چي حکمتیار دې سیمي ته راغلی، د ده ټیلفوني تماسونه مو کشف کړي ... د همدې لپاره دلته تلاشي ضروري ګڼو.

سوال: د امریکایانو تلفات څومره دي.

ځواب: د امریکایانو د مړو او زخمیانو مجموعي شمېر له ۲۷۰ نه زیات شوی. په دې ورځو کي د دوی د تلفاتو تخمیني شمېر هره ورځ پنځه کسه دي، د دوی تلفات ورځ په ورځ زیاتېږي.

سوال: په پاکستان کي د اسلامي احزابو بریاوې څنګه ګڼئ؟

ځواب: دا یوه ښه انکشاف دی، موږ په دې خوشحاله شوي یو چي پاکستاني ولس اسلامي ګوندونو ته رایه ورکړې. په دې نوي انکشاف سره ټول افغانان مخصوصاً هغه افغانان چي په خپل هېواد کي اسلامي حکومت غواړي ډېر خوشحاله شوي دي.

د انتقالي ادارې هغه رسمي موقف چي د خارجه وزارت لخوا اعلان شو او په هغه کي ویل شوي چي موږ د پاکستان په انتخاباتو کي د بنسټ پاله ډلو بریاوو مشوش کړي یو ..... دا بیان د افغان مسلمان ولس د عواطفو او احساساتو تمثیل نه کوي، د انتقالي ادارې چارواکو د خپلو بهرنیو حامیانو د خوشالولو لپاره دا خبره کړې.

دا هم باید ووایم چي د طالبانو د حکومت په نسکورېدو او په ټولي نړۍ کي د

اسلامي ځواکونو په ضد د فشار، ګواښ او تهديد مخکښي بهير، ټول مسلمانان مأيوسه کړي وو او د دوی روحيه ئې سخته مړاوې کړې وه خو د امريکا په ضد د مقاومت له پيل نه وروسته او د هغو برياوو په نتيجه کي چي د مجاهدينو په برخه شوې د مسلمانانو روحيه بېرته راژوندۍ شوه، که د الله تعالی په فضل سره امريکائي ځواکونه له ماتې سره مخامخ شي نو په دې سره به په ټولي نړۍ کي د اسلامي تحريك روحيه هومره اوچته شي چي د نړۍ په هيڅ ځای کي به هيڅوك د دوی د بري مخه ونه شي نيولی. امريکا له همدې وېرېږي او د همدې لپاره ئې د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته په افغانستان کي د يوه اسلامي حکومت له جوړېدو نه د مخنيوي لپاره له مسکو سره لاس يو کړ، شمالي ټلواله ئې جوړه او د جګړو اور ئې بل کړ.

سوال: په عراق باندي د حملې لپاره د امريکا د تياري په هکله ستاسو دريځ څه دی ؟

ځواب: په عراق د امريکا بريد داسي ګڼو لکه په افغانستان باندي د دوی وحشيانه تېری. موږ لا د مخه ويلي وو چي د اسلامي نړۍ برخليك د افغانستان په جنګ پورې تړلی دی که امريکا په دې جګړي کي بريالۍ شي او خپلو موخو ته ورسېږي نو بيا به په بل ځای کي د امريکا په وړاندي مقاومت ممکن نه وي، دوی به خپل ټول مخالفين او د امريکايانو په اصطلاح "باغي حکومتونه" او د "شر محورونه" يو په بل پسې تر بريدونو لاندي نيسي.

خوکه له ماتې سره مخامخ شول نو بيا به نه يوازي په بل ځای کي له داسي بريد نه ډډه کوي بلکي ټوله اسلامي نړۍ به د امريکا له شر نه ژغورل کېږي.

هرچاته بايد دا خبره جوته وي چي په افغانستان کي د مقاومت امکانات هومره پراخ او ځلانده دي چي د اسلامي نړۍ په بل هيڅ هېوادکي ئې مثال نه شو موندلی.

زه په دې هم يقين لرم چي که ترڅو راتلونکو مياشتو پورې امريکا په عراق باندي خپل بريد وځنډولو نو څو مياشتې وروسته به دوی په افغانستان کي له داسي حالت سره مخامخ شوي وي چي په بل هېواد کي ښکيل کېدو ته به زړه نه ښه

کوي.

سوال: آيا د مدنيتونو ترمنځ د جګړي احتمال ګورئ او آيا دا جګړه عملاً پيل شوې؟

ځواب: هو، دا جګړه عملاً پيل شوې او دا جګړه به د تل لپاره روانه وي. زه ګمان کوم څوك چي له دې جګړي نه انکار کوي او د مدنيتونو تر منځ د تفاهم شعارونه ورکوي، هغوی ځان غولوي او د پرديو غولوونکي شعارونه زمزمه کوي. د تفاهم دا شعار په اصل کي غرب د دې لپاره عنوان کړی چي نور د دوی د تهذيب، تمدن او کلتور په وړاندي له بې ځايه مقاومت نه لاس واخلي او د دوی برلاسي ته تسليم شي.

غربي تمدن اوس د نورو په ضد د تهاجم او تعرض په حال کي دی، غواړي نور له دفاعي حالت نه لاس واخلي، له دفاعي حالت نه د نورو د ايستلو ښه اسلوب همدا دي چي په هغوی کي د روغې جوړې او تفاهم روحيه را ولاړه شي او له مقاومت او دفاع نه غافل شي، په اسلامي نړۍ کي چي څوك دا شعارونه زمزمه کوي يا ګمارل شوي کسان دي او يا ناپوه او د دې شعارونو له مضرو اثراتو نه بې خبره. نه پوهېږم د توري لاندي او په داسي حال کي چي دښمن د خپلو توپونو خولې ستا په لوري توجيه کړې، د تفاهم معنی به څه وي؟ په دې حالت کي چي څوك له دښمن سره د تفاهم خبره کوي يا به جبون او بې همته وي يا غيرمتعهد او د داسي تفاهم له خطرناکو عواقبو نه بې خبره.

ماته ووايا ست: په داسي حال کي چي امريکا په اکثرو اسلامي هېوادونوکي نظامي اډې جوړې کړې، د نړۍ ټول ستراتيژيك ځايونه ئې عملاً او د وسلو په زور اشغال کړي، بش د بل صليبي جنګ اعلان کوي، د ايتاليا صدر اعظم وايي: موږ کمونيزم ته ماتې ورکړه اسلام ته به هم ماتې ورکوو!! د جرمني خارجه وزير وايي: په افغانستان کي د شريعت نفاذ نه منو... او په داسي حال کي چي په افغانستان کي جنګ روان دی، په عراق باندي د حملې لپاره تياری نيول کېږي، ايران د شيطاني محور جزء ګڼل کېږي .... په دې جنګي حالت کي به د تفاهم معنی څه وي؟ او څوك چي دا شعارونه ورکوي مقصد ئې څه دي؟

همداراز ماته ووايئ: په داسي حال کي چي امريکا د افغانانو د گمراه کولو لپاره د امريکا غږ او راډيو آزادي ۲۴ ساعته نشرات لري، دا نشرات نه يوازي له بهرنه د لنډو څپو له قوي ټرانسميټرو نه خورېږي بلکي په افغانستان کي د امريکا له نظامي اډو نه د F M په څپو هم مکرر او منظم خپرېږي، هر افغان، پښتون وي که تاجك، د دنيا په هر گوټ کي دا خپرونې د شپې او ورځي په ۲۴ ساعتونوکي اوربدی شي، دوی چي له دغي لاري کوم زهر خوروي هر پوه او بااحساسه انسان ورباندي پوهېږي، له دې نه علاوه دوی په کابل کي گڼ شمير ورځپاڼې او مجلې تغذيه او اکمالوي، بريتانيا ، فرانسه او جرمني هم دې ته ورته کارکوي، دوی خپله هره خبره، هره تبصره، د خپلو مخالفينو په ضد هر راز زهرجن او درواغجن تبليغات، اخلاقي فساد ، او په الحاد او بې دينۍ ولاړ کلتور ته بلنه، موسيقي، نڅا ، د ښځو او نارينه وو ترمنځ آزاد جنسي تعلق او د غربي فرهنگ او کلتور د نورو ځانگړتياوو لوري ته خلك هڅول ... د دې لپاره هر وخت او په پراخه پيمانه کارکولی شي، د خلکو له فقراو نادارۍ نه اعظمي گټه اخيستی شي، دې ته ورته کار دوی په افغانستان او په نورو اسلامي هېوادنو کي کوي، خو ما ته ووايئ چي د دې په مقابل کي د مدنيتونو ترمنځ د تفاهم پلويان څه کولی شي .

سوال: آيا تاسو هم د ابن لادن په څېر فکر کوئ چي اوسنی جنگ يو بل صليبي جنگ دی؟

ځواب: په دې کي هيڅ شك نشته چي دا يو بل صليبي جنگ دی، د فلسطينانو په ضد جنگ، د افغانستان جنگ، د سودان جنگ او د عراق راتلونکی جنگ د هماغه صليبي جنگ بېلې بېلي برخي دي چي جورج بش اعلان کړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# د نوا او صبا د راديو او تلويزيون د خبريال مرکه

پوښتنه: د افغانستان روانو سياسي حالاتو ته په کومه سترګه ګورئ؟

ځواب: افغانستان د پرديو په اشغال کي دی، د افغانانو استقلال او خپلواکي سلب شوې، تر ځلوېښت زره زيات اشغالګر ځواکونه پرې حکومت کوي، ټول اختيارات د پرديو په لاس کي دي، زموږ د هېواد په ګوټ ګوټ کي د پرديو بيرغونه رپېږي، حکومت دوی جوړ کړی، په حکومت کي تغيرات د دوی په خوښه او امر راځي، د هر وزير خواته امريکائي مشاور ناست دی او د وزارت ټول اختيارات د هغه په لاس کي دي، اډې لري، زندانونه لري، راډيوئي او تلويزيوني نشرات لري، هر کور ته د ننوتلو او د هر افغان د نيولو، وژلو او سپکولو اختيار لري، په کليو او ښارونو بمونه ورو‌ي، هره ورځ په لسهاوو افغانان په خپلو وينو کي رغړوي، نه د چا سر خوندي دی، نه مال او نه عزت، نن زموږ هېواد داسي د پرديو په اسارت کي دی چي په تېر تاريخ کي ئې نظير نه شو موندلی.

پوښتنه: د ځان مرګو بريدونو په اړه مي پوښتنه دا ده چي ستاسو له نظره څنګه دي؟ آيا دغه بريدونه چي نن په عراق او افغانستان کي ترسره کېږي شرعي جواز لري؟ که جواز لري نو مهرباني وکړي د قرآن عظيم الشأن په کوم آيت او يا د پيغمبر عليه السلام په حديث ئې ثابته کړئ او يوه بېلګه ئې هم وړاندي کړئ، او که جواز نه لري نو بيا طالبان ولې ځانمرګي بريدونه ترسره کوي او مسئوليت ئې هم په غاړه اخلي؟ او دا هم وايي چي دا بريدونه په خپله افغانان ترسره کوي، آيا تاسو

فکر کوئ چي دا به په رښتیا افغانان وي او که کومه بله ډله؟ او په چا پورې به تړلې وي؟

ځواب: موږ هر هغه عملیات غندو چي بې ګناه خلکو ته د سر او مال زیان رسوي، که دا بمبارۍ وي او که بمي چاودنې، خو هغه فدائي عملیات چي د اسلام، آزادۍ او عدالت لپاره وي او د مظلومانو له لوري د ظالمانو او اشغالګرانو په ضد ترسره کېږي نه یوازي تائیدوو بلکي دا سرتېري د ستر اجر مستحق ګڼو، دا فدائي عملیات باید داسي وګڼو لکه څوك چي د دښمن په داسي سنګر برید وکړي چي د وژل کېدو احتمال ئې ډېر قوي او د روغ رمټ وتلو احتمال ئې له هیڅ سره برابر وي، یا به دواړه جائز وي او یا دواړه ناجائز، موږ د اسلام له صدر نه ډېرې داسي بېلګې په مخکي لرو چي له صحابه وو نه چا د دښمن په داسي ځای برید کړی او پر دښمن باندي د برید لپاره ئې د خطر داسي ځای ته ځان رسولی چي سل په سلو کي ئې د وژل کېدو احتمال وو خو نه پیغمبر علیه السلام او نه د ده له یارانو نه چا د دوی دې کار ته د ځان وژنې په سترګه کتلي، تاسو پوهېږئ چي هغه مهال باروت نه وو چي چا په ځان پورې تړلي وی او د دښمن په ټولګي کي ئې چاودنه کړې وی. اسلام هغه ځان وژنه حرام ګڼي چي د یأس او بې صبرۍ په سبب وي، د اسلام له نظره ژوند یو ستر الهي امانت دی، او د دې الهي امانت د ښه ساتلو، حفاظت او دفاع کلکه سپارښتنه کوي او دا د هر انسان الهي فریضه ګڼي، خو د سترو او سپېڅلو اهدافو لپاره خپل ژوند قرباني کول نه یوازي جائز ګڼي بلکي دا د الله تعالی د لاري د مخلص او رښتوني مجاهد نښه او صفت ګڼي، په خپل مال او نفس سره د الله تعالی په لار کي، د حق، عدالت او د مظلومانو د ژغورنې لپاره جهاد کول د مسلمان فریضه شمېري، که یو مجاهد د دغسي سپېڅلو اهدافو لپاره د ځان لس برابره دښمن مقابله کوي، اسلام نه یوازي دا چي دې ته د ځان وژنې په سترګه نه ګوري بلکي دا د مضبوط ایمان او لوړ همت نښه ګڼي، د قرآن ګڼ شمېر آیتونه او د پیغمبر علیه السلام ډېر احادیث داسي قربانۍ ته مسلمانان هڅوي، که قرآن د هغسي قربانۍ سپارښتنه کوي نو د دې بل به څنګه مخالفت کوي؟ د دې دواړو ترمنځ هیڅ توپیر نشته چي یو مجاهد د لس برابره دښمن مقابله کوي او بل باروت

په ځان پورې ترې او د دښمن د صف منځ ته ننوځي او چاودنه کوي، دواړه د ځینو له نظره ځان وژنه بریښي. متأسفانه ځیني سرکاري مفتیان د قرآن په داسي یوه څرګند آیت باندي غلط استناد کوي چي په هغه کي د سر او مال له قربانۍ نه ډډه کول تهلکه ګڼل شوې خو دوی ترې غلطه او معکوسه معنی راباسي، آیت داسي دی:

**b)Î¡(þæÅ ôn&r ¡ï3èö9$ ’‹)Îèä/‰÷Î(q)àüèŸr « $è@‹ô™ ’Î(q)àŸR&r**

**ÇÎÈ ûüZÅ ó 3$ = ÿi ©$**

او د الله په لار کي انفاق وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کي مه اچوئ او احسان وکړئ چي الله محسنین خوښوي.

د دې آیت معنی دا ده چي د الله په لار کي به د سر او مال له قربانۍ نه دریغ نه کوئ، د عدم قربانۍ په وجه له تباهۍ سره مخامخ کېږئ، په خپل لاس ځان په دې تباهي کي مه غورځوئ، له جهاد نه او د الله په لار کي له قربانۍ نه ډډه د تباهي او هلاکت باعث او د دښمن په لاس د سپکاوي او تذلیل سبب کېږي، په هیڅ پلمه او بهانه به له دې نه ډډه نه کوئ. عجیبه ده چي ځیني بې لاري او منحرف خلك په دې څرګند آیت په غلطه سره دا استدلال کوي چي له زورور دښمن سره مقابله، په خطر کي ځان اچول، له کم عدد او عدة سره د ځواکمن او په وسلو سنبال دښمن مخې ته ودربدل، ځان په هلاکت کي غورځول دي او قرآن هغه تحریم کړي او یا دا چي فدائي عملیات روا نه دي!! دا ډېر ډېر ناروا او غلط استدلال دی، دلته عدم انفاق او له قربانۍ نه ډډه کول د هلاکت باعث معرفي شوي، په دې سره د فدائي عملیاتو په ضد استدلال کول ډېر غلط او شرمناك استدلال دی، نه د ایمان خاوند داسي استدلال کولی شي او نه د عقل او پوهې خاوند، که داسي وي نو قرآن به یو مسلمان د لسو کافرانو په مقابلې نه مکلف کولو، د مسلمانانو د ترغیب لپاره به ئې د ابراهیم علیه السلام هغه قصه نه بیانوله چي په یوازي سر ئې د نمرودیانو بتان رانسکور کړل، دا به ئې نه ویل چي: کم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَت فِئَةً كثيرَةَ بِإِذْنِ اللّهِ وَ اللّهُ مَعَ الصبرِينَ * د الله په اذن سره څومره لږکي ټولګي په لوی ټولګي غالب شوي،

الله خو له صابرانو سره دی.

د بې صبرۍ په وجه ځان وژنه او له الله سره د کلکې مینې په وجه فدائي عمليات کول يو له بل نه ډېر ډېر توپير لري، يو له الله نه د يأس او نااميدۍ په سبب دا کار کوي او بل په الله او آخرت د کلك باور او د الله له دين نه د دفاع په لار کې د سر قرباني کولو په جذبه دا کار کوي.

له دې آيت نه مخکې ويل شوي چې که څوك په تاسو تېرى وکړي نو تاسو هم بالمثله ځواب ورکړئ (فَمَنِ اعْتَدَىٰ عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ) له دې نه معلومېږي چې په دې وروستي آيت کې له انفاق نه مراد د دښمن په ضد جهاد کې د سر او مال قرباني دی. که دا دواړه آيتونه يو ځای او د يوه مضمون د متصلو برخو په حيث په پام کې ولرو نو له دې نه دوه خبري معلومېږي: لومړۍ دا چې له انفاق نه په دې ځای کې د دښمن په خلاف په جهاد کې ځاني او مالي قرباني مراد ده او دا مطلب په گوته کوي چې د جهاد په سامان او وسايلو باندي د مال د نه مصرفولو او د الله په لار کې له قربانۍ نه د ځان ساتلو عاقبت خطرناك او په خپل لاس ځان مرگ ته سپارل دي او دوهمه خبره دا چې له دښمن سره بالمثله معامله جائز ده.

د فدائي عملياتو په هکله بحثونه هغه مهال پيل شول چې په نيويارك او واشنگټن باندي همداسې بريدونه وشول، امريکا د تروريزم تر نامه لاندې د اسلام او مسلمانانو په ضد د پراخ جنگ اعلان وکړ او له ټولو حکومتونو نه ئې وغوښتل چې په دې جنگ کې د امريکا تر قومندې لاندې برخه واخلي، که نه نو د تروريستانو ملگري به ئې گڼو، د ځينو حکومتونو بې همتو چارواکو نه يوازې د امريکايانو غوښتنې ته سر ټيټ کړ بلکې له سرکاري مفتيانو نه ئې وغوښتل چې دا عمليات وغندي او هغه د اسلام خلاف وگڼي.

دا د فدايي عملياتو مخالفين ولې دې ته توجه نه کوي چې قرآن له دښمن سره بالمثله معامله جائز گڼي؟! قرآن مضطر انسان ته حرام روا کړي، قرآن مجبور انسان ته د کفر د کلمې ويل هم روا کړي، قرآن مظلوم انسان په بدې وينا او ښکنځلو د مؤاخذې وړ نه گڼي، څوك چې د اسرائيلو او امريکا په ضد فدائي عمليات ترسره

کوي، له يوې خوا مظلوم دی، له بلې خوا بالمثله عمل کوي او بالآخره دې ته مجبور شوی او له ظلم نه د نجات بله لار نه گوري،.

کوم کسان چې د امريکايانو په ضد شهادت طلبانه عمليات ناجائز گڼي، هغوی په عراق او افغانستان کې پر امريکايانو د مجاهدينو نور بريدونه هم نه تائيدوي، دا سرکاري مفتيان دي، هغه خبره کوي چې د دوی حکومتونه ئې کوي، هغه فتوی ورکوي چې حکومت ورته ليکلې وي او پر هغې د مهر لگولو امر ورته شوی وي

• دا کار چې څوك په خپلې چانتې کې بمونه، کارتوس او د راکټ مرمۍ اچوي او د هغه دښمن مقابلې ته درومي چې هم ئې تر ده وسايل زيات او پرمختللي دي او هم ئې شمېر زيات دی او له هغه سره د ده د نښتې لوی او قوي احتمال دا دی چې دی په شهادت رسېږي، خو سره له دې سنگر ته درومي او د دښمن مقابله کوي او بلآخره په شهادت رسېږي، دا کار له دې هيڅ فرق نه لري چې يو کس همدا بمونه په ځان پسې وتړي او د دښمن منځته ننوځي او هلته دا بمونه منفجر کړي او دښمن له منځه يوسي؟!! دا په داسې حال کې چې دی دغه کار ته اړ وو، بله چاره ئې نه لرله، له څرگندې وسلې سره دښمن ته نه شو نږدې کېدی، د دښمن د وژلو نورې لارې چارې ورته نه وې. ډېره عجيبه ده چې څوك هغه کار جائز او د مکافات وړ وگڼي او دا ناجائز او د سزا وړ. په کار خو دا ده چې دا کار په دې خاطر تر هغه بل هم د لوړ اجر مستحق وگڼلی شي چې دلته د الله په لار کې وژل کېدل يقيني او په هغه بل کې احتمالي دی. يو د الله په لار کې د شهادت وروستۍ او يقيني فيصله کوي او هغه بل د شهادت ترڅنگ د دې طمع هم لري چې ژوندی ببرته راوگرځي. دا د بريد په وخت کې ځا نته هم پام کوي او دا احتياط کوي چې ده ته صدمه ونه رسېږي خو هغه بل د ځان هيڅ پروا نه کوي، ټول هم او غم ئې دا وي چې د الله دښمن ته تر زيات نه زيات تلفات واړوي. که د هر معيار له مخې دا دواړه مقايسه کړو نو د عدالت تقاضا دا ده چې د دې شهادت غوښتونکي کار تر هغه بل نه ډېر ډېر لوړ وگڼو. دا به ډېره عجيبه وي چې څوك دا يو کار شهادت وگڼي او هغه بل ته د شك په سترگه وگوري او له شهادت گڼلو ئې ډډه وکړي.

پوښتنه: اوس يوازي تاسو او طالبان د کرزي دولت په وړاندي جنګېږئ آيا ستاسو ترمنځ همغږي شته؟ که وي نو رڼا پرې واچوئ.

ځواب: موږ د ټولو مجاهدينو په يووالي ټينګار کوو، هر مجاهد خپل ورور ګڼو، او حزب اسلامي د ده سنګر او کور، له هيڅ مجاهد سره د رقابت او تنافس اراده نه لرو، په دې تأکيد کوو چي ټول مجاهدين بايد په ګډه د دښمن مقابله وکړي، د دښمن په وړاندي ئې خبره او دريځ يو وي، د افغانستان د راتلونکي په اړه هم واحد دريځ ولري، ولس ته د دې خبري ډاډ ورکړو چي موږ د اقتدار لپاره نه جنګېږو ، د هېواد د آزادۍ لپاره جنګېږو، د هېواد له آزادۍ وروسته به د اقتدار پر سره شخړې نه راولاړېږي، ملت ته به دا واك سپارو چي څوك د مشرۍ او واکمنۍ لپاره غوره او اهل ګڼي هغه ته اقتدار وسپاري. د طالبانو ځينو مشرانو هغه مهال تماسونه ونيول چي دوی لا د امريکا په ضد د جنګ ميدان ته نه وو راوتلي، موږ د ګډ کار طرحه ورکړه، خو په داسي حال کي چي دوی ورسره موافق ول نورو توافق ونه کړ او د تماسونو هغه لړۍ قطعه شوه، اوس نه ورسره څه تماس لرو او نه کومه معاهده، خو بيا هم دا هڅه کوو چي ټول مجاهدين په يوه متحد صف کي راغونډ کړو.

پوښتنه: تر کله به د دولت او بهرنيو ځواکونو په ضد جنګ ته دوام ورکوئ؟ په داسي حال کي چي نور پخواني مشران لکه استاد سياف، استاد رباني او داسي نور د کرزي له دولت سره يو ځای ولاړ دي او دندې ترسره کوي؟

ځواب: موږ به ترهغه جهاد ته ادامه ورکوو چي ټول نيواکګر ځواکونه زموږ د هېواد له لويشت لويشت خاوری ووځي، افغانان خپلواکي ترلاسه کړي او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د افغان ولس د خوښي اسلامي حکومت قائم شی، د اشغال په دوران کي له دښمن سره هر راز تفاهم او سازش د خپلو اسلامي اصولو خلاف ګڼو. افغان ولس ته بلنه ورکوو چي دا په نيمه لار کي پاته مخکنی انقلاب تکميل کړی، د شر او فساد د ځواکونو او د ظالمانو، مفسدينو، ملي خائنانو او جنايتکارانو واکمني پای ته ورسوی او په عدالت ولاړه سوکاله اسلامي ټولنه جوړه کړی. پدی مبارزه کي به موږ د سابق په څېر په هر محاذ او هر وخت کي د خپل

ولس په څنګ کي وو.

موږ له امریکایانو سره ملګرتیا او دوی ته تسلیمېدل داسي ګڼو لکه روسانو ته تسلیمېدل او هغوی ته د ملګرتیا لاس ورکول، هغه چي په دې دواړو کي په توپیر قائل دی تاسو ترې وپوښتئ چي فرق په څه کي دی؟ د دوی دواړو په رنګ کي څه توپیر ګوري که په عقیدې او عمل کي ئې او که په موخو او غرضونو کي ئې او که له افغان ولس سره د دوی په چلند کي!! زموږ او د هر هغه چا له نظره چي په اسلام پوه وي او حقایق مني، امریکایان د افغانستان په اړه همغه موخې لري چي شوروي اتحاد درلودې، د دوی دښمني له اسلام او مسلمانانو سره تر هغوی زړه او ژوره ده، له افغانانو سره ئې چلند تر هغوی ډېر بد او کرکجن دی.

تاسو ما ته ووایئ: د دغو کسانو چي امریکایانو ته تسلیم شوي له هغه مولوي ولي او مولوي عبدالعزیز سره ئې څه فرق دی چي د کمونستانو ملګرتیا ئې وکړه او د ډاکټر نجیب د اسلامي شئونو په وزارت کي ئې کار کاوو؟ تاسو ما ته ووایئ: د هغه چا په هکله څه قضاوت کوئ چي هم ئې روسانو ته دوستۍ لاس اوږد کړ، له کمونستانو سره ئې د مجاهدینو په ضد اءتلافي جبهه جوړه کړه، پیسې او وسلې ئې ترلاسه کړې او د مسکو د ګټو لپاره ئې د جګړو اور بل کړ، او هم د امریکایانو د ځمکنیو فوځونو په څېر د خپل ولس په ضد وجنګېدل او له هغوی ئې غوښتل چي خپلي بمبارۍ مزید تشدید کړي؟!!

پوښتنه: په کابل کي د سولې په نامه د یوه کمیسیون مشر صبغت الله مجددي چي پخوانی جهادي رهبر هم دی کله ناکله ادعا کوي چي په نوموړي کمیسیون کي د طالبانو تر څنګ د حزب اسلامي په لسګونو هغه ګروپونه چي د ښاغلي کرزي د حکومت مخالف ول د یاد شوي کمیسیون په غوښتنه خپل مخالفت ته ئې د پای ټکی ایښی او یاد شوي کمیسیون ته ورغلي، که چېري دا حقیقت ولري نو ستاسو په نظر څومره ګروپونه به نوموړي کمیسیون ته ورغلي وي؟

ځواب: موږ نه پوهېږو دا کمیسیون ولې د مجاهدینو په ضد تبلیغات کوي، ولې په درواغو وایي چي مجاهدینو وسله په ځمکه کېښوده او دښمن ته تلسیم شول؟ موږ له دوی سره څه بد کړي، څه تاوان مو دوی ته رسېدلی؟ موږ خو د هېواد

د آزادۍ لپاره د اشغالگرانو په ضد جنگېږو، دوی ولې د ملاتړ په ځای زموږ په ضد پایڅې ورپورته کړې او په دروغجنو تبلیغاتو سره غواړي مجاهدین کمزوري کړي، زه په صداقت سره تاسو ته وایم چې د کمیسیون دا خبري حقیقت نه لري، دا تبلیغات د دې لپاره کوي چې اشغالگرو انگرېزانو ته خپل صداقت وښیي او له هغوی نه ترلاسه شوې پیسې هضم کړي، معاش ئې ورزیات کړي او مزید امتیازات ورکړي، هغه کسان چې نن د امریکایانو لپاره دا خدمت کوي پرون ئې پلرونو د انگرېزانو لپاره همدا کار کولو، د قرآن په حاشیې به ئې امضاء کوله، د انگرېزانو مخالفینو ته به ئې لېږل او هغوی به ئې د دښمن په دام کې اچول. دوی د همدې لپاره د انگرېزانو د تسلط په وخت کې افغانستان ته راوستل شوي وو!!

کوم کسان چې د تسلیم شوو په نامه امریکایانو ته معرفي شوي او د دوی په نامه ئې له امریکایانو پیسې ترلاسه کړې، هیڅ یو ئې مجاهد نه دی او له سنگر نه نه دی کوز شوی، کمیسیون غوښتي چې خپل فعالیت او صداقت نیواکگرانو ته ثابت کړي، خپل دوستان ئې ورمعرفي کړي، د هر یوه په نامه ئې څه امتیازات ترلاسه کړي، زیاته برخه ئې په خپلي کڅوړې کې اچولې او وړه برخه ئې په دغو کسانو وېشلې.

ښه به وي چې یو مثال ئې تاسو ته بیان کړم: په کنړ کې د اسمعیل په نامه یوه مجاهد څو ښه ښه عملیات وکړل، د رسنیو له لاري نشر شول، څه وخت وروسته مې د راډیو له لاري واورېدل چې د سولې کمیسیون د اسمعیل د تسلیمېدو ادعا کړې، څوك مې عاجل ولېږو چې حقیقت معلوم کړي، د اسمعیل خط ئې راوړ او معلومه شوه چې کمیسیون ټگماري کړې او بل څوك ئې د نوموړي اسمعیل په نامه انگرېزانو ته معرفي کړی او د هغه په نامه ئې پیسې ترلاسه کړې!! اصلي اسمعیل په سنگر کې پروت دی او د انگرېزانو په ضد خپل جهاد ته ادامه ورکوي.

پوښتنه: د طالبانو له سقوط څخه راوروسته امریکایانو د مطبوعاتو له لاري کله ناکله ستاسو په نیولو او وژلو جایزې ټاکلې خو اوس هغه موضوع ته دومره اشاره نه کېږي، علت په څه کې دی؟

ځواب: له کومي ورځي چې امریکا زما په ضد د دښمنۍ پرېکړه کړې تر اوسه

په کي تغير نه دی راغلی، همداراز له کومي ورځي چي ما له امريکا سره خپله دښمني اعلان کړې، زما په دريځ کي ترننه هيڅ تبديلي نه ده راغلې، اته دېرش کاله مخکي چي موږ د شرقي او غربي استعمار په ضد د کومو شعارونو ورکول پيل کړل، چي د پوهنتون صحن او د کابل سړکونه ئې شاهد ول، تر نن پورې خپلو شعارونو ته ژمن يو، دا ځکه چي موږ آزادي غوښتونکي يو او خپل دوست او دښمن د اسلام په حکم ټاکو، د الله تعالی او د هغه د بندګانو دوستان مو دوستان او دښمنان مو دښمنان دي، زه به هغه ورځ د الله تعالی په وړاندي شرمنده او سر ټيټی وم چي د انسانيت دا ستر او خطر ناك دښمن ما ته د دوست په سترګه وګوري يا له ما د خطر احساس ونه کړي، لا هغه مهال چي موږ له شوروي اشغالګرانو سره جنګېدو، او د جورج ډبليو بش پلار لا د ريګان معاون وو، پاکستان ته په خپل سفر کي ئې له پاکستاني چارواکو وغوښتل چي (eliminate this fanatic) دا متعصب له منځه يوسئ، او دا ځکه چي ما له ريګن سره له ملاقات نه هغه وخت انکار وکړ چي د مجاهدينو د يوه هيئت د مشر په توګه د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلې په غونډې کي د شرکت لپاره نيويارك ته تللی وم.

پوښتنه: که ښاغلی کرزی تاسو ته په خپل حکومت کي ځای درکړي آيا تاسو به په کوم شرط ورسره يو ځای کېږئ؟ او که چېري ورسره يوځای شئ آيا له طالبانو سره به تاسو هم د کرزي د حکومت په ګټه جنګېږئ؟

ځواب: زما او د ټولو مجاهدينو اصلي مشکل له اشغالګرانو سره دی نه له ښاغلي کرزي سره، که بهرني ځواکونه ووځي په نورو ټولو قضاياوو بحث او روغې جوړې ته تيار يو، په هغه حکومت کي چي د بهرنيو ځواکونو تر وزر لاندي پر افغانستان حکومت کوي هيڅکله د شاملېدو اراده نه لرو، زموږ د مقاومت موخه دا نه ده چي په اقتدار کي برخه ترلاسه کړو، غواړو بهرني ځواکونه ووځي، يوه داسي موقت حکومت ته قدرت انتقال شي چي بهرنيو ځواکونو نه وي جوړ کړی او ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي او بيا په آزاد او خپلواك افغانستان کي د ملت رايې ته رجوع وشي او د عادلانه او آزادو انتخاباتو له لاري يو واقعي منتخب اسلامي حکومت جوړ شي.

موږ نه مخکې له طالبانو سره جنګېدلي يو او نه اوس، او نه په آينده کې د دوی يا بلي افغاني ډلي سره د جنګ اراده لرو ، خو که څوك د يوه واقعي منتخب اسلامي حکومت په ضد وسلې ته لاس کړي او وغواړي چي د پرديو د متهو په زور پر افغانانو حکومت وکړي موږ به ئې په کلکه مخې ته ودرېږو ، مهمه نه ده چي دا څوك دی او شعار ئې څه دی.

پوښتنه: شپږ کاله وړاندي طالبانو د پخوانيو تنظيمونو مجاهدينو ته ټوپکيان او شر او فساد خطاب کاوو او ورسره جنګېدل آيا طالبان اوس هم تاسو ته د ټوپکيانو او شر او فساد خطاب کوي او که د مجاهدينو ؟

ځواب: دا پوښتنه له طالبانو وکړه، د ټوپکيانو اصطلاح خو بي بي سي راوايسته او چا چي د مجاهدينو په ضد کاروله نو د بي بي سي تقليد ئې کاوو ، اوس خو بي بي سي او امريکا غرږدوی ته ټوپکيان وايي!!

پوښتنه: له اسامه بن لادن سره تاسو ليدلي، که ليدلي مو وي نو وروستی ليدنه مو کوم وخت او په کومه موخه وه؟ اوس ورسره څومره نږدې اړيکي لرئ؟ آيا تاسو د ده او د ده د پلويانو د سياست ملاتړ کوئ او که نه تاسو ئې هم د نړيوالو په څېر ترهګر بولئ؟

ځواب: د دې پوښتني په ځواب کي څو عرايض لرم:

- ما په دې هکله په مخکنيو مرکو کي وضاحت کړی هغه کافي ګڼم، ما له هغه سره هغه مهال ليدلي چي زه له ايرانه وطن ته راستون شوم، او څو مياشتې زه او دی په يوه کور او يوې سيمې کي اوسېدو.
- موږ له القاعدې سره هيڅ ډول تنظيمي اړيکي نه لرو.
- نړيوال ئې ترهګر نه بولي، يوازي امريکا او پلويان ئې ترهګر ګڼي، ډېر ورته د يوه آزادي غوښتونکي اتل په سترګه ګوري.
- څوك چي د آزادۍ، خپلواکۍ او عدالت لپاره جنګېږي او په خپلو هېوادونو کي د اشغالګرانو په ضد مقاومت کوي، چي هر څوك وي او په هر ځای کي دا کار کوي، موږ ئې ملاتړ کوو ، د دښمن په ضد هر چا ته د بالمثله چلند حق ورکوو ، که امريکايان له څو زرو کيلومترو آخوا آسيا او افريقا ته راځي، ملکونه نيسي، په

خلکو باندي بمونه وروي، د مظلومو فلسطينانو په ضد د بې رحمو صهيونستانو مرسته او ننگه کوي، نو دا د ټولو مسلمانانو ديني وجيبه گڼو چي د هغو مجاهدينو مرسته وکړي چي د امريکا په ضد جنگېږي. څه چي امريکا د دوی په ضد کوي، دوی ئې د هغوی په ضد د کولو حق لري.

پوښتنه: په دې وروستيو کي د استاد رباني په مشرۍ يوه ملي جبهه جوړه شوه چي په نوموړې جبهې کي د پخوانيو مجاهدينو رهبران او پخواني کمونستان برخه لري، او تاسو په وروستيو مرکو کي ويلي چي دا جبهه د بهرنيو هېوادو په اشاره او مرسته جوړه شوې، تاسو څه ثبوت لرئ؟ او بل دا چي پخوا د کمونستانو او مجاهدينو تر منځ ډېرې جگړې وشوې او په زرگونو مجاهدين او د کمونستانو پلويان په کي له منځه ولاړل، د دې جبهې جوړېدا د وژل شوو کسانو په کورنيو او په خپله پر ملت څه منفي اغېز درلودی شي؟

ځواب: دا جبهه تر دې د مخه د روسانو د وتلو پر مهال د مسکو په اشاره او د ايران په وساطت جوړه شوې وه، اوس چي له افغانستان نه د بهرنيو ځواکونو د وتلو گونگوسی دی، يو ځل بيا همغو ملکونو د همغې مړې جبهې د بيا راژوندۍ کولو هڅه پيل کړې، خو إن شاء الله دا به د وچي ونې ښخ ته د اوبو تويولو په څېر يوه بې فايدې هڅه وي، دا بد نامه، کرغېړنه، او منحوسه جبهه او د پرديو د لاس آله نه بېرته راژوندۍ کېدی شي او نه څه ترې جوړېدی شي، نه روسان په هغه موقعيت کي دي چي له دې جبهې نه همغه پرونی کار واخيستلی شي، او نه کمونستان او د دوی منافق ملگري د پرديو لپاره پرونی خدمت کولی شي، که څه هم ايران زموږ د هېواد په اړه تر ټولو ملکونو خطرناك سياست غوره کړی، افغانانو ته ئې تر بل هر چا زيات تاوان رسولی، او د روسانو له وتلو وروسته ترنن پورې ئې د جگړو د دوام لپاره تر هر ملك نه زياتې وسلې او پيسې افغانستان ته لېږلې او د همدغي جبهې په واك کي ئې ورکړې، خو إن شاء الله ايران به هم بيا همغه پرونی کار ونه کړی شي. تاسو ثبوت غواړئ، ثبوت هغه په زرهاوو ټُنه وسلې او مهمات دي چي د نجيب حکومت له نسکورېدو وروسته له مسکو نه مشهد ته او له هغه ځايه لومړی بگرام ته، بيا تخار ته او بيا کولاب ته انتقالېدل او دغي جبهې ته

سپارل کېدل، او هره ورځ به له باروتو ډکي څو طيارې په دغو ځايونو کي تخليه کېدې.

دا بايد په قاطع الفاظو ووايم چي د عدالت له تأمين او د مجرمانو او جنايتکارانو له عادلانه محاکمې پرته سوله نه شي راتلی، قرآن په واضحو الفاظو وايي چي که د جګړې خاتمه او د سولې تأمين غواړئ نو لومړی عدالت او قسط تأمين کړئ،

فاصلحوا بينهما بالعدل و اقسطوا إن الله يحب المقسطين

د دواړو جګړه کوونکو ترمنځ په عدالت سره روغه جوړه وکړئ او قسط تأمين کړئ (هر لوري ته خپل خپل حق وسپارئ)، يقيناً چي الله تعالی مقسطين خوښوي.

پوښتنه: استاد رباني، استاد سياف او يو شمېر نور جهادي مشران د روسانو سره وجنګېدل او هغوی اوس د کرزي د حکومت ترڅنګ ولاړ دي، او تاسو ورسره جنګېږئ، ستاسو او د ياد شوو جهادي مشرانو ترمنځ څه توپير دی؟ او آيا تاسو اوس هم ياد شوو جهادي رهبرانو ته د مجاهدينو خطاب کوئ؟

ځواب: موږ نه له دوی دواړو سره کوم شخصي مخالفت لرو او نه له نورو سره، که دوی د جهاد ليکي ته راګرځي موږ پرې خوشحاله کېږو او دا د دوی د دنيا او آخرت لپاره غوره ګڼو، خو د مجاهد خطاب په هغه صورت کي چا ته کېدی شي چي مجاهد وي، او عملاً د دښمن مقابله کوي، نه هغه چا ته چي له جهاده ئې لاس اخيستی او د جهاد او اسلام دښمنانو ته تسليم شوی.

پوښتنه: دا هم راته ووايئ چي افغانستان ته روسان په کومو موخو راغلي وو او امريکايان په کومو موخو راغلي، ، د دواړو تر منځ څه توپير دی؟ تاسو، استاد سياف، رباني، مجددي او يو شمېر نور جهادي مشران له روسانو سره جنګېدئ او اوس هغوی نه جنګېږي او تاسو جنګېږئ، ولې تاسو د دوی په شان په اوسني حکومت کي برخه نه اخلئ؟

ځواب: د دواړو موخې سره ورته دي، توپير يوازي په دې کي دی چي روسانو غوښتل له شمال نه جنوب ته ولاړ شي، او د افغانستان له لاري د هند سمندر ته ځان ورسوي، او امريکا غواړي له جنوب نه شمال ته ولاړ شي او د افغانستان له لاري د

مرکزي آسیا په زېرمو مسلط شي. مخکي هغوی غوښتل موږ د خپلو استعماري موخو لپاره قرباني کړي او اوس دوی د شورويانو همغه زړه تجربه تکراروي او مظلوم افغانان د خپلو استعماري موخو لپاره قرباني کوي.

د دې پوښتنه ته له دوی وکړه چي آیا د روسانو په ضد جنګېدلي يئ؟ څنګه او ولې جنګېدئ؟ اوس ولې د امریکایانو په ضد د مجاهدینو ملګرتیا نه کوئ؟ د روسانو او امریکایانو تر منځ او د دوی او د هغوی د یرغل او موخو تر منځ څه توپیر شته؟

پوښتنه: داسي ویل کېږي چي د افغانستان په ختیځ د کنر په ولایت کي د کرزي حکومت او د هغه د پلویانو او بهرنیو ځواکونو په وړاندي ستاسو زوی جنګېږي او د جګړي مشري هم په غاړه لري، دا خبره څومره حقیقت لري؟

ځواب: کاش زما زوی دا کار کړی وی یا ئې کولی شوی، که هغوی په جهاد کي برخه اخلي نو د یوه مجاهد په توګه به برخه اخلي نه د قومندان په توګه، ما تر اوسه له خپلي کورنۍ نه هیڅوك د حزب په کومي رسمي دندې نه دی ګمارلی، زه هر هغه مجاهد خپل زوی او ورور ګڼم چي د وطن د آزادۍ لپاره جنګېږي.

پوښتنه: که چېري بهرنیان له افغانستان څخه ووځي فکر نه کوئ چي خپل منځي جګړي به د ۹۱او ۹۲کلونو په شان چي په افغانستان کي د مجاهدینو تر منځ پیل شوې یو ځل بیا پیل شي؟

ځواب: هغو جګړو ته د خپل منځیو جګړو په ځای باید د مخکنیو جګړو د تسلسل او ادامې نوم ورکړو، په دغو جګړو کي د کمونستانو ونډه همدومره وه لکه تر دې د مخه، هغه جګړي هم د جنرال آصف دلاور او جنرال نبي عظیمي تر قومندې لاندي رواني وې، له مخکنیو جګړو سره ئې توپیر یوازي په دې کي وو چي د ایران په وساطت شورای نظار او ایران پلوه شیعه ډلي هم ورسره یوځای کړی شوې، د سابق په څېر وسلې او پیسې مسکو ورکولې خو د ایران له لاري، نږدې شل زره ملیارده افغانۍ په مسکو کي چاپ او دې ائتلافي جبهې ته د جنګي مصارفو لپاره ورکړی شوې، مخکي به وسلې مخامخ له مسکو نه بګرام ته راتلې خو په دې وخت کي به له مسکو نه مشهد او له مشهد نه بګرام ته انتقالېدې!!

دا اندېښنه په هغه صورت کي په ځای وه چي د بهرنيانو په شته والي کي نه جګړه وی او نه بې امنيتي، خبره خو د دې عکس ده، زموږ ټولي ستونزي له بهرنيو لاسوهنو او د بهرنيو فوځونو له شته والي راولاړې شوې، د روانو جګړو اور روسانو بل کړ، له وتلو وروسته ئې خپل نيمګړی مأموريت هغه شمالي ائتلاف ته وسپارو چي د روسانو په وينا او د ايران په وساطت جوړ شو او امريکا او امريکا پلوه ملکونو ئې مرسته کوله او هغه ئې د ډاکټر نجيب د حکومت د ځای ناستي په توګه قبول کړ او د افغانستان سفارتونه ئې دې ائتلاف ته وسپارل، او دا دی اوس امريکايانو د روسانو په پل ګام کيښود او د دوی ناکامه تجربه ئې تکرار کړه او زموږ هېواد ئې اشغال کړ، او همغه ائتلاف ئې بيا قدرت ته ورساوو، د تېرو پنځو کلونو تجربې وښوده چي دا ځواکونه د جګړې د دوام باعث دي نه د امنيت او سولې د راوستو ضامن، تر څو چي اشغال ادامه لري جګړه به دوام کوي.

خو دا پوښتنه چي څنګه کولی شو د بهرنيو ځواکونو له ايستلو وروسته د جګړو مخنيوی وکړو او پرې نه ږدو چي د اتيايمو کلونو په څېر ناورين رامنځ ته شي، ځواب ئې دا دی چي ټول هېوادپال او په خپل وطن مين باايمانه افغانان دې په خپلو کي تعهد وکړي چي آزاد او خپلواك افغانستان به جوړوو، د پرديو د لاسوهنو مخه به نيسو، هغه وطن پلورونکي ډلي به په خپل ځای کښېنوو چي د پرديو د متو په زور پر افغانانو د حکومت کولو تکل کوي، اقتدار به د ولس امانت ګڼو او د ولس رأيې ته له مراجعې پرته له نورو لارو قدرت ته رسېدل به تحريمو، هر څوك به په هغه څه قناعت کوي چي ولس ئې ورته مناسب ګڼي.

دې ته هم بايد متوجه وو چي اوس نه مسکو په هغه موقعيت کي دی چي موږ ته د مخکي په څېر مشکلات راولاړ کړي، او نه به امريکايان په افغانستان او عراق کي له ماتې وروسته موږ ته د ستونزو د راولاړولو په موقعيت کي وي، زموږ له ګاونډيو نه يوازي ايران او پاکستان بيا هم کولی شي چي د مخکي په څېر د مشکلاتو باعث شي، خو نړيوال حالات او د دې سيمي وضعيت داسي معلومېږي چي دوی به هم إن شاء الله د مخکنيو ناکامو تجربو تکرارولو ته زړه ښه نه کړي.

پوښتنه: د افغانستان په هره سيمه کي کله چي د بهرنيانو او د کرزي د دولت د

سرتېرو په وړاندي برید ترسره شي طالبان ئې مسئولیت په غاړه اخلي، آیا په دې کي په رښتیا یوازي طالبان ونډه لري او که تاسو هم او که چېري تاسو په کي ونډه لرئ نو بیا ولې په رسنیو کي ستاسو د گوند او ستاسو نوم نه یادېږي؟

ځواب: د دښمن د اعتراف له مخي هره ورځ په اوسط توگه تر شلو زیات بریدونه په بهرنیو ځواکونو ترسره کېږي، په دوه دریو ئې دښمن اعتراف وکړي، د یوه دوو مسئولیت طالبان په غاړه واخلي، تاسو ما ته ووایئ چي دا پاته عملیات څوك كوي؟

موږ په موجوده ظروفو او شرایطو کي نه جبهه ای جنگونه مفید گڼو او نه د سیمو آزادول، برعکس چریکي جنگونو ته ترجیح ورکوو او مجاهدینو ته په کلکه توصیه کوو چي د دښمن په امنیتي پوستو، اداري واحدونو او عسکري مرکزونو باندي د برید په ځای د دوی په گزمو او وړو وړو قطارونو باندي برید ته ترجیح ورکړئ، په هغه ځای او هغه وخت برید وکړئ چي دښمن غافل وي او د مقابلې لپاره نه تیاری لري او نه ئې په وس پوره وي. د اجیر او وطن پلورونکي افغاني فوځ او پولیس په قطعاتو د بریدونو په ځای په بهرنیو ځواکونو برید ته ترجیح ورکړئ، د مکتب، شفاخانې، پل او نورو عام المنفعه تأسیساتو له ورانولو او په جومات او مدرسه کي له چاودنو او د سرکاري ملایانو له وژلو ډډه وکړئ، جبهه ای جنگونه له یوې خوا ډېرو امکاناتو ته ضرورت لري، چي موږ ئې اوس په واك كي نه لرو، له بلې خوا د عام ولس د تلفاتو باعث گرځي، دا ځکه چي زموږ دښمن ډېر بې رحمه او وحشي دی، د مجاهدینو د بریدونو غبرگ له عام ولس نه اخلي، داسي عملیات یوازي دومره گټه رسولی شي چي د دښمن اصلي کرغېړنه څېره بربنډه کړي او له تبلیغاتي پلوه څه ناڅه اهمیت لري.

پوښتنه: په هېواد کي د ننه او بهر یو شمېر سیاسي کارپوهان گاونډی هېواد پاکستان په دې تورنوي چي د افغانستان په کورنیو چارو کي لاسوهنه کوي او د دوی په وینا کوم وران کاران چي په افغانستان کي د دولت او بهرنیو ځواکونو په ضد جنگېږي له پاکستان څخه رااوړي چي د کابل دولتي چارواکو هم په وار وار سره دغي موضوع ته اشاره کړې، آیا دا تاسو هم منئ، چي پاکستان په افغانستان

کي لاسوهنه کوي، او د بهرنیو ځواکونو په ضد جګړي کي طالبانو ته سرتېري روزي او بیا ئې افغانستان ته لېږي؟

ځواب: هو؛ پاکستان د نورو ګاونډیو په شمول لاسوهنه کوي خو د امریکا په وینا او ګټه، او د کابل د اوسني حکومت په دفاع او حمایت کي، پاکستان خو اوس په هغه جنګ کي چي امریکا د تروریزم خلاف د جنګ نوم ورکړی او په حقیقت کي د اسلام په ضد بل صلیبي جنګ دی، په لومړي خط کي او د امریکایانو خوا ته په څرګنده ولاړ دی، د افغانستان په نیولو کي ئې د امریکایانو دومره مرسته وکړه چي له دې مرستي پرته نه د افغانستان نیول ورته ممکن وو او نه تر نن پوري دلته پاتې کېدل، په پاکستان کي خو اوس د امریکایانو اډې دي، سي آی اې او ایف بي آی دفترونه لري، خلك نیسي او ګوانتانامو ته ئې انتقالوي، د امریکایانو ټول اکمالات د پاکستان له لاري کېږي، خو زما د اټکل له مخې د افغانستان په اړه د ایران سیاست تر پاکستان نه هم زیات خطرناك دی، که پاکستان یوازي له امریکا سره د افغانستان په نیولو کي مرسته کړې نو ایران هم له روسانو سره د افغانانو په ضد ملګرتیا وکړه او هم له امریکایانو سره، که ایران د بغداد او کابل په نیولو کي تر پاکستانه د امریکا زیاته مرسته نه وي کړې نو لږ خو ئې په هیڅ صورت کي نه ده کړې. که پاکستان اډې ورکړې نو ایران ځمکني فوځونه ورکړل، ایران پلوه افغاني او عراقي ډلي ئې دې ته چمتو کړې چي د امریکا ځمکنیو فوځونو په توګه د دوی تر قومندې لاندي وجنګېږي.

پوښتنه: نن سبا په امریکا کي کي دیموکراتانو په ولس مشر بش فشار راوړی چي امریکائي سرتېري دې له عراق څخه وایستل شي، که چېري له عراق څخه ووځي، تاسو په افغانستان کي د بهرنیو ځواکونو په ځانګړې توګه د امریکائي سرتېرو په اړه څه نظر لرئ، د کرزي پر حکومت به څه اغېز وکړي؟

ځواب: امریکایان به حتماً او إن شاء الله ډېر ژر له افغانستان او عراق نه وځي، زما اټکل دا دی چي دا کال به د اشغال او د بهرنیو فوځونو د پاتې کېدو وروستی کال وي، مقاومت به هغه پړاو ته ورسېږي چي نیواکګران به د اشغال له ادامې مأیوس او په دې پوه کړي چي له وتلو پرته بله چاره نه لري.

د اشغالگرانو له وتلو وروسته د دوی لاس پوڅی حکومت د لنډې مودې لپاره هم نه شي پاتې کېدی، چي د ځلوېښت زرو بهرنیو ځواکونو په شته والي کي وضعیت نه شي مهار کولی نو د دوی له وتلو وروسته به څنګه حکومت وکړی شي؟

پوښتنه: تاسو ولې له طالبانو او د کرزي له دولت سره یو ځای کېدل نه غواړئ، علت ئې څه دی؟

ځواب: تاسو له ښاغلي کرزي او طالبانو نه پوښتنه وکړئ چي ولې له حزب اسلامي سره نه یو ځای کېږي؟ کوم ځواب چي دوی درکړ زما ځواب همغسي وګڼئ!! په داسي حال کي چي موږ د ټولو اسلامي ډلو په یووالي او وحدت باور لرو او په دې لار کي له هیڅ ډول هڅو، ایثار او قربانۍ نه ډډه نه کوو، خو دا حقیقت باید په پام کي ولرو چي په افغانستان کي روان اسلامي نهضت د حزب اسلامي په لاس پیل شوی، جهاد د حزب اسلامي مجاهدینو پیل کړ، د روسانو او کمونستانو په ضد جهاد کي حزب اسلامي د مقاومت د ملا تیر وو، نورې ډلي ډېر وروسته او ټولي له هېواد نه بهر جوړې شوې، په کار خو دا وه چي دوی د نویو ډلو له جوړوبو ډډه کړې وی، او چا چي اسلامي حکومت غوښتو له حزب اسلامي سره یو ځای شوي وی، ښایي دا غوښتنه به سمه نه وي چي حزب سلامي په هغو ډلو کي مدغم شي چي مشران ئې هم د حزب اسلامي د جهادي مدرسې شاګردان دي.

پوښتنه: په کابل کي د امن په نامه یوه جرګه چي مشري ئې پخوانی جهادي مشر پیر سید احمد ګیلاني په غاړه لري او د دې جرګې موخه د ډیورنډ د کرښې د دوارو غاړو د قومونو یو نظر، یو ځای کېدل او له هغوی سره خبري کول دي چي په خپلو سیمو کي به د دوی په وینا ترهګرو ته ځای نه ورکوي، ستاسو په نظر دغه جرګه به د کومي بلي موخې لپاره جوړه شوې وي او که څنګه؟ او آیا دا جرګه به وکولی شي چي په هېواد کي اوسنی بحران ته د پای ټکی کېږدي؟

ځواب: داسي جرګې هیڅ ارزښت نه لري او هیڅ نه شي کولی!! دا هسي له واقعیتونو نه د خلکو توجه بل لوري ته د اړولو یوه بې فایدې هڅه ده، د افغانستان بحران په داسي جرګو نه بلکي د بهرنیو ځواکونو په وتلو او د افغانستان په کورنیو چارو کي د لاسوهنو په بندېدو سره حل کېدی شي، په داسي حال کي چي

افغانستان د پردیو په اشغال کي دی او په پاکستان کي یو غیر منتخب فوځي حکومت اقتدار په لاس کي لري، د دواړو حکومتونو تر شا هغه ځواك ولاړ دی چي افغانستان ئې نیولی، د داسي حکومتونو په خوښه جوړه شوې جرگه به څنگه وکولی شي چي دا بحران حل کړي؟!!

پوښتنه: د طالبانو مشر ملا محمد عمر او د نوموړي تحریك یو وتلي قوماندان ملاداد الله او اسامه بن لادن د نړیوالو لخوا دهشتگر او تروریستان گڼل کېږي، تاسو ورته په کومه سترگه گرئ؟

ځواب: زه نه هغه چا ته د تروریست او ترهگر په سترگه گورم چي امریکا ئې تروریست گڼي او نه هغه چا ته د اتل په سترگه گورم چي امریکایان ورته د اتل لقب ورکوي، د هر مسلمان او مجاهد معیارونه د امریکایانو او ټولو استعماري ځواکونو له معیارونو سره ژور او اساسي توپیرونه لري.

د آزادو ولسونو اتلان د آزادۍ د جنگ تر ټولو نومیالي او توریالي مبارزین وي، هغه چي تر نورو مخکي ئې د آزادۍ لپاره ملا تړلې، وسله ئې پورته کړې، او تر ټولو مخکي سنگر ته وتلي، تر نورو زیات په سنگر کي پاتې شوي، تر بل هر چا ئې زیاته قرباني ورکړې، تر بل هر چا ئې پر دښمن زیات گذارونه کړي، او تر نورو زیات ئې دښمن ته تلفات اړولي، خو کوم قومونه چي غلامۍ ته غاړه کېږدي، نو بیا په دوی کي د دغو اتلانو ځای داسي څېرې ونیسي چي د غلامۍ د ژوند څو شېبې ورباندي په خوشحالۍ کي تېرې کړي، د جنگي حماسو ځای عشقي سندرې ونیسي، د وسلې ځای دبله او رباب ونیسي، د سنگر په ځای د نڅا، شراب او کباب محفلونه، د زخمونو په ځای شنه خالونه او سرې شونډې ستایل کېږي، د غلامو قومونو اتلان یا سندر غاړي وي، یا د دښمن په لاس قدرت ته رسېدلي واکمنان او یا د دښمن له لوري نومول شوي کاغذي اتلان.

پوښتنه: د حزب اسلامي یو شمېر پخواني مجاهدین او قوماندانان د کرزي په دولت کي دندې ترسره کوي، آیا دا د دې معنی نه ورکوي چي تاسو خپل پلویان له لاسه ورکړي دي؟

ځواب: تاسو ما ته ووایئ: د دغو کسانو شمېر څومره دئ، او په کومو مهمو

دندو گمارل شوي؟ آیا د دوی شمېر به د یوې افغاني کورنۍ د غړو د شمېر په اندازه وي؟ آیا په داسي سختو شرایطو کي چي حزب ورسره مخامخ دی د دومره لږ شمېر کسانو بېلبېدل داسي تعبیروئ چي موږ خپل پلویان له لاسه ورکړي؟ آیا د ګوتو په شمېر د څو ضعیفو او کمزورو کسانو بېلبېدل یو داسي ستر، مضبوط او افغانستان شمول حزب تضعیفولی شي چي هم روسانو ترې شکایت درلود او هم امریکایان؟

پوښتنه: نن سبا د نړۍ او هېواد په مطبوعاتو کي د طالبانو او د هغوی د سیاسي فعالیتونو په اړه زیات بحثونه کېږي، خو ستاسو د فعالیتونو په اړه څه نه ویل کېږي، په دې کي ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: دا له یوې خوا سیاسي وجوهات لري او له بلي خوا امریکایان غواړې داسي وښیي چي له ټول افغان ولس سره نه بلکي یوازي له یوې ډلي سره مخامخ دي، دوی له القاعدې او طالبانو نه د غچ اخیستلو تر نامه لاندي پر افغانستان برید وکړ، غواړي وښیي چي اوس هم د دوی جنګ یوازي له دغو ډلو سره دی، د دوی په ضد د نورو جنګیالیو جنګ په امریکا او ټولي نړۍ کي د دوی په هکله پوښتني راولاړوي، دوی هر هغه څوك د طالب او القاعدې په نامه یادوي چي د امریکا په ضد جنګېږي، که په افغانستان کي وي، یا عراق کي یا د نړۍ په بل ګوټ کي.

پوښتنه: طالبان بهرني او کورني خبریالان او دولتي مامورین اسیران نیسي او له دولت څخه د خپلو سرتېرو د خوشې کولو غوښتنه کوي، او کله چي دولت د دوی غوښتنو ته مثبت ځواب ورنکړي نو هغوی نیول شوي اسیران وژني، آیا تاسو د طالبانو له دغي کړنلاري څخه ملاتړ کوئ؟ که چېري تاسو ته یو بهرنی یا کورنی خبریال یا د افغان دولت یو انجنیر یا ډاکټر یا هغه بهرني انجنیران یا ډاکټران چي په افغانستان کي له شخصي یا بهرنیو کمپنیو سره کار کوي په لاس درشي تاسو به هم د طالبانو په شان ورسره رفتار کوئ او که څنګه؟

ځواب: نه مجاهدین غیر محارب کسان وژني او نه دې طالبان دا کار کوي.

پوښتنه: ستاسو او طالبانو د سیاست تر منځ څه توپیر شته، تاسو وایئ چي اسلامي هېواد او آزاد افغانستان غواړو او هغوی هم همدا وایي او بل دا چي په

افغانستان کي څه قسم نظام ، دولت یا حکومت غواړئ، که اسلامي دولت یا اسلامي نظام مو غوښتو خو بیا د طالبانو رژیم سره ولې نه ولاړې او ولې نه دربږئ، او یو ځای کېدل ورسره نه غواړئ؟

ځواب: اوس د دې وخت نه دی چي موږ له طالبانو سره په خپلو توپیرونو بحث وکړو، دې ته ترجیح ورکوو چي د اختلاف په ځای د وحدت او تقارب په مواردو بحث وکړو، موږ داسي افغانستان غواړو چي:

- آزاد او خپلواك وي او په هیڅ گوټ کي ئې د پردیو بیرغونه نه رپېږي.
- اقتدار د هغو چارواکو په لاس کي وي چي ملت غوره کړي، له خدایه وېږېږي او په خپل ولس ترحم او زړه سوی لري.
- اسلامي شریعت د ټولو قوانینو یوازنۍ او اساسي مرجع وي.
- مسلمان منتخب جمهور رئیس ولري.
- د هېواد لپاره نه پارلماني نظام مفید گڼو او نه داسي نظام چي زعیم ئې د منتخبې شورى د پرېکړو د ویټو کولو حق هم ولري.
- یوه مقتدره او باصلاحیته منتخبه شورى ولري (نه د انگلستان او امریکا په څېر دوه مجلسونه)
- قضائیه قوه ئې په واقعي معنى مستقله او ځواکمنه وي. هیڅوك د باصلاحیته محکمې له پرېکړې پرته د چا د نیولو او بندي کولو حق ونه لري.
- د دولت اداري تشکیلات محدود وي، امکانات ئې په تولیدي چارو او اجتماعي خدماتو مصرف شي.
- سیاسي احزاب ئې افغانستان شمول وي، شورائي نظام او منتخب مشران ولري، په ملي وحدت ترکیز کوي او داسي پردي پالې ډلي په کي د فعالیت حق او مجال ونه لري چي قومي او ژبني تعصباتو ته لمن وهي.
- د مرکز او اطراف تر منځ تعادل وي، داسي نه چي د مرکز اوسېدونکي له ټولو تسهیلاتو برخمن وي او د اطراف اوسېدونکي د ژوند له ضروري اړتیاوو محروم.
- انتخابات باید د اسلام له غوښتنو سره سم داسي وي چي هر افغان په کي برخه واخیستی شي، د جمهوري ریاست او پارلمان لپاره یو ځل او په یوه وخت کي

ترسره شي، په هېواد کي باید یوازي یوه منتخبه با صلاحیته شوری وي، نه د امریکا او انګلستان په څېر یوه د عوامو شوری او بله د اشرافو او خواصو شوری، د (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) په نامه، دا دوه جرګې په پانګوالو نظامونو کي په اصل کي د دې لپاره رامنځته شوې چي د (عوامو شوری) د (خواصو د جرګې) په واسطه مهار کړي او ولس ته د اقتدار د انتقال مخه ونیسي. نه داسي دوو بېلو بېلو جرګو ته ضرورت شته او نه زموږ مالي امکانات هومره دي چي په داسي جرګو مصرف شي. افغانستان یوې شوری، یوه مشر، یوه حکومت او یوې وړې ادارې ته ضرورت لري، امکانات ئې د پېچلو او پراخو ادارو په ځای باید د هېواد په ودانولو او د بې وزلو هېوادوالو د ستونزو په حلولو مصرف شي.

پوښتنه: څه موده وړاندي د طالبانو یوه وتلي قومندان ملا داد الله آخند ویلي وو چي دوی به په خپل تحریك کي حکمتیار ته د یو ځای کېدو اجازه ورنه کړي، آیا تاسو له طالبانو څخه د یو ځای کېدو غوښتنه کړې که نه؟ او دا په خپله په دې معنی نه ده چي که بهرني ځواکونه ووځي نو ستاسو او طالبانو ترمنځ به خپل منځي جګړې پیل شي که وایئ چي نه پیل کېږي نو دلیل به ئې څه وي؟

ځواب: زه ګمان نه کوم چي ملا داد الله به دا خبره کړې وي، ښایي دا به د هغو خبري رسنیو شرارت وي چي غواړي د بهرنیو ځواکونو مخالفین د دوی په ضد متحد نه شي، زه د هر هغه مجاهد قدر کوم چي د اشغالګرانو په ضد جنګېږي، که څه هم له ما سره مخالفت ولري او حتی ما ته ښکنځلي وکړي، که احیاناً چا دا خبره وکړه نو دا د هري ډلي حق دی چي څوك په خپلي ډلي کي مني او څوك نه مني، که ما د طالبانو په ډلي کي د شاملېدو عریضه وروړاندي کړه نو دوی کولی شي پرې ولیکي چي تا په خپلي ډلي کي نه منو.

پوښتنه: داسي ویل کېږي چي د پاکستان حکومتي چارواکي له طالبانو سره او ځیني غیر حکومتي مشران لکه جنرال حمید ګل او نصیر الله بابر او داسي نور له تاسو سره مرستي کوي، دا څومره حقیقت لري؟

ځواب: دا یا د استخباراتي کړیو تبلیغات دي او یا د ډېرو ناپوهو او بې خبرو خلکو خبري، د پاکستان اوسنی حکومت او نصیر الله بابر او ډله ئې د امریکایانو

ملگرتیا کوي، د افغانستان په اړه د دوی دواړو سیاست ورته دی، ډېر بې خبره انسان به داسي گمان کوي چي دا دواړه به د امریکا د مخالفینو ملاتړ وکړي، او جنرال حمیدگل اوس په داسي حالت کي دی چي خپل مشکلات هم نه شي حل کولی، پولیس ئې د خپلي کورنۍ د غړو په وړاندي نیسي او بې عزته کوي ئې، خو دی له ځانه د دفاع توان هم نه لري، له بل سره به څنگه مرسته وکړی شي، دومره ده چي جنرال حمیدگل په پوره جسارت او مېړانې سره د امریکا مخالفت کوي او پر افغانستان او عراق د امریکا یرغل محکوموي، امریکایانو د ده نوم هم د تروریستانو او د تروریستانو د حامیانو په لست کي نیولی. نو ځکه په امریکا پوري تړلې رسنۍ دی د مجاهدینو د حامي او مرستندوی په نامه یادوي.

پوښتنه: پنځه کاله وړاندي به تاسو د خپل گوند یا تنظیم د سرتېرو فعالیتونه د شهادت په ورځپاڼې کي چي تاسو ئې په خپله مسئول وئ خپرول آیا اوس هم د همدې ورځپاڼې نشرات کوئ او که کومه بله وسیله لرئ؟

ځواب: موږ اوس د حزب په نامه کومه رسمي نشریه نه لرو، دا ځکه چي نه په پاکستان کي د دې کار مجال راته میسر دی، نه په ایران کي او نه د نړۍ په بل گوټ کي، د شهادت ورځپاڼه هم په دې خاطر متوقف شوه چي آزادې لیکنې ئې نه شوی کولی، مسئولین ئې د پاکستاني چارواکو لخوا په دې وگواښل شول چي که د افغانستان د جریاناتو په اړه داسي څه ولیکي چي د دوی له سیاستونو سره تعارض ولري نو له بدو پایلو سره به مخامخ شي.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحيم

# د NBC له خبريال سره مرکه

پوښتنه - په افغانستان کي د بهرنيو قواوو او کرزي حکومت په وړاندي راتلونکي مشکلات څه دي، آيا افغان ولس به ورځ په ورځ د دوی په مخالفت کي ستاسو په څنګ کي ودرېږي؟

ځواب: د بهرنيو ځواکونو په وړاندي مشکلات دومره دي چي له حلولو ئې عاجز دي، نه د مقاومت د ورځ په ورځ پراخېدو او ځواکمنېدو مخه نيولی شي، نه د کابل حکومت داسي په خپلو پښو ودرولی شي چي د دوی له شته والي پرته خپل موجوديت وساتلی شي، نه د افغاني فوځ او پوليس په جوړولو او د افغان ولس په ضد د جنګولو له لاري خپله مرګ ژوبله راکمولی شي، نه د کابل په لاس پوڅي حکومت کي د اداري فساد، اختلاس، رشوت او شديد داخلي اختلاف مخنيوی کولی شي، او نه د بهرنيو ځواکونو او د دوی د لاس پوڅي حکومت په ضد د ولس زياتېدونکي کرکه او نفرت راکمولی شي، څنګه به له هغو خلکو يو صالح حکومت او منظم فوځ او پوليس جوړ کړی شي چي په څو پيسو ئې خپل دين، ايمان وطن او ولس پلورلي، پرون په روسانو او نن په امريکايانو؟!!

زه په ډېر ډاډ او اطمئنان سره ويلی شم چي اشغالګرانو ته له وتلو پرته بله هيڅ لاره نه ده پاتې.

پوښتنه - تاسو په تېرو دوو مرکو کي د اسامه او ايمن الظواهري په اړه د هغوی سره په توره بوره کي د همکارۍ خبره کړې وه او ويلي مو وو چي د حزب اسلامي مجاهدينو هغوی ته نجات ورکړی وو، حال دا چي په تورې بورې کي د

القاعدې جنګیالي وو او یا د اروښاد خالص په مشرۍ د اسلامي حزب، او ستاسي په مشرۍ د حزب اسلامي ځوك مخور قومندان هلته نه وو چي مرسته ئې کړې وی، لهذا تاسو په لوی لاس ځنګه ځان د القاعدې په نجات کي غورځوئ؟ حال دا چي که تاسو کومك کړی وي او اسامه مو بچ کړی وي ستاسي هدف څه وو؟ که مو کومك کړی نه وي او په دې خبري ټینګار کوئ چي حزب او القاعده رابطه نه لري بیا تاسي ولې القاعده او اسامه په زوره په خپلو څرګندونو کي رایادوئ، دا په داسي حال چي نن هر څوك د القاعدې نه سترګې پټوي خو شخصاً ته ئې په اړه خبري کوې!!

ځواب: د دې پوښتني په ځواب کي مجبور یم څو خبري تاسو ته وکړم:

• په دغو مرکو کي ما د خبریالانو پوښتنو ته ځواب ویلی، دوی له اسامه سره د ملاقات پوښتنه کړې او ما ورته ویلي چي هو؛ زما ملاقات په دغه خاص وخت او شرایطو کي ورسره شوی.

• د افغانانو په ضد دا تبلیغات کېدل چي خپل مسلمان انصار وروڼه ئې دښمن ته تسلیم کړل، او د دوی په ضد د امریکایانو تر قومندې لاندي وجنګېدل، ما غوښتل دا تبلیغات رد کړم او خلکو ته ووایم چي که ځینو بې مروتو او بې غیرتو ناافغانانو هغه کار کړی، نو ډېرو په مېړانه له دغو انصارو وروڼو نه په لویه بیه دفاع کړې!! زموږ ولس او مجاهدین په دغو دین او وطن پلورونکو نا افغانانو باندي مه قیاسوئ.

• که تاسو ته دا خبره کول سم نه برېښي نو ډېر داسي خلك هم شته چي په دې خبري ډېر خوشحاله شوي.

• اوس خو د لومړي ځل لپاره دا خبره ما وکړه، په دې هکله خو په هغه صورت کي د شك کولو احتمال راولاړېدو چي بل چا هم دا ادعا کړې وی.

• څوك چي په تورې بورې کي ول هغوی د امریکایانو تر سختو بریدونو لاندي ول، خپله ئې ځان ته د پناه ځای لټولو، بل ته به ئې ځنګه پناه ورکوله او د هغه د ایستلو په اړه به ئې ځنګه مرسته کوله؟!!

• موږ په رښتیا باور لرو، دروغ حرام ګڼو، که رښتیا ویل مو له خطر او ضرر سره مخامخ کوي تر دې ئې غوره ګڼو چي په دروغو ویلو سره کومه ګټه ترلاسه کړو.

• دواړه خبري مو رښتیا دي، هم دا چي د حزب څو زړه ورو مجاهدینو له دوی سره په وتلو او خوندي ځای ته په انتقال کي مرسته کړې او هم دا خبره چي موږ له القاعدې سره هیڅ تنظیمي اړیکي نه لرو ، ستا خوښه چي منې ئې که نه!!

• موږ هغه خلك نه یو چي په سختو ورځو کي خپل دوستان هېروي، او د هغوی له ملګرتیا انکار کوي.

پوښتنه: افغانستان او عراق کي د امریکا د مشر جورج بش د پالیسیو او تېرو کړنو په اړه او د امریکا ولس، کانګریس او سیاست مدارانو ته ستاسو پیغام څه دی؟

ځواب: جورج بش باید اوس په دې پوه شوی وي چي پر افغانستان او عراق باندي برید یوه لویه او تاریخي اشتباه وه، باید دې نتجې ته رسېدلی وي چي د خپلو فوځونو له ایستلو پرته بله چاره نه لري، باید افغانان او عراقیان پرېږدي چي خپل برخلیك په خپله وټاکي او د خپلي خوښي نظام ولري ، اسلامي نړۍ نور اسارت ته غاړه نه ږدي، د اسارت او غلامۍ دور ئې پای ته رسېدلی، دا واقعیت باید تسلیم کړي، او پرېږدي چي مسلمانان آزاد ژوند ولري، دا درې پېړۍ دوی او اروپایي انډیوالانو ئې آسیا او افریقا ولوټله، ظالم او بې رحمه پاچایان او جنرالان ئې پرې مسلط کړل، باید پرېږدي چي له دې وروسته د خپلي خوښي حکومتونه او نظامونه ولري.

د امریکا ولس ته وایو: جورج بش تاسو ته دروغ وایي چي امریکایي فوځ به بلآخره مقاومت وځپي او پر اوضاع به مسلط شي، موږ په یقین سره درته وایو چي دا هسي خوب او خیال او ستاسو د غولولو لپاره دروغجن تبلیغات دي. جورج بش د افغانستان او عراق په اشغال سره نه امریکایانو ته څه ګټه ورسوله او نه ئې د دې هېوادو مظلومو ولسونو ته، دواړو ته ئې له مرګ، ژوبلې او ورانۍ پرته بل څه نه دي ډالۍ کړي، په دې پنځه نیمو کلونو کي ئې نږدې اوه نیم لکه افغانان او عراقیان ووژل او په لکهاوو نور ئې زخمیان کړل او تر درې ملیونه زیات ئې هجرت ته اړ کړل.

کوم تاوان چي د جورج بش جنګي ټیم ئې امریکا ته رسوي بل څوك ئې نه شي

رسولی، هره میاشت اویا ملیارده ډالره تجارتي خساره، او د کال یو سل شل ملیارده د افغانستان او عراق د جنګ لګښت، هره میاشت له عراق او افغانستان نه سل تابوتونه انتقالول، چې په راتلونکي کال کي به إن شاء الله دا شمېره هره میاشت نږدې دوه سوو مړو او زرو زخمیانو ته لوړه شي، که په تېرو پنځه نیمو کلونو کي د امریکایانو د مړو او زخمیانو شمېر تر دېرش زره اوښتی، د مقاومت ورځ په ورځ تشدید او پراخېدا ښیي چې دا تلفات به په لنډې راتلونکې مودې کي هغه ځای ته ورسېږي چې د امریکا ولس به ویتنام هېر کړي، شوروي اتحاد د افغانستان د اشغال په لسو کلونو کي شاوخوا څلوېښت زره مړي او زخمیان درلودل او ټول مالي لګښت ئې اتیا ملیارده ډالرو ته ونه رسېدو خو په همدې سره ئې ملا ماته او ټغر ئې ټول شو، امریکا به څنګه وتوانېږي چې تر شوروي اتحاد څو برابره زیات تلفات د اوږدې مودې لپاره تحمل کړي؟ نن په ټولي نړۍ کي خلك سپینه ماڼۍ د جګړو، ورانۍ، فساد او بې امنیتۍ باعث ګڼي او له امریکا او امریکایانو نه هومره کرکه او نفرت لري چې د بشریت په تاریخ کي د هیڅ استعماري ځواك په ضد، داسي کرکه او نفرت نه دی تر سترګو شوی، تاسو ته ئې ویل چې د عراق او افغانستان په نیولو سره به هم د عراق د نفتو ځاګانې د امریکا په لاس کي پرېوځي او هم د مرکزي آسیا ذخایر، او په ټولي نړۍ کي به د تېلو بیه امریکایان ټاکي!! خو تاسو ولیدل چې نه یوازي د مرکزي آسیا په زېرمو د تسلط خوب رښتونی نه شو، بلکي د تېلو بیه له اتو ډالرو اتیا ډالرو ته نږدې شوه، که په ایران برید شوی وی نو دا به تر سلو ډالرو اوښت، حقیقت دا دی چې که د عراق او افغانستان جنګ نه وی نو ښایي اوس به دا زېرمې د امریکا په واك کي وي. سپینې ماڼۍ په نړۍ کي د اتمي وسایلو د خورېدو مخنیوی د یرغل لپاره د یوه مبرر او توجیه په توګه وړاندي کاوو خو دا دی کوریا اتمي آزموینه وکړه، ایران د یورانیم غني کول پیل کړل، دوی د مخدره موادو د مخنیوي خبره کوله خو په هغه افغانستان کي چې امریکایان پرې حکومت کوي، ځمکه او فضاء ئې د دوی په کنټرول کي ده، د مخدره موادو تولید شپږ زره ټنو ته ورنږدې شو.

موږ د امریکا له ولس سره دښمني نه لرو، ستاسو د زامنو قاتلان نه یو،

ستاسو قاتلان ستاسو خپل واکمنان دي، همغه چي تاسو نورو ملکونو ته د جنگ لپاره لېږي، نه له موږ نه امریکا ته کوم گواښ متوجه دی او نه له بل چا نه، هغه سرتېرو ځلمیانو چي د نیویارك او واشنگټن شهادت غواړې عملیات ئې ترسره کړل، د امریکا ظالمانه سیاستونو دې ته اړ کړي وو، د دې عملیاتو لړۍ به تر هغه ادامه کوي چي امریکا په اسلامي ملکونو خپله سیاسي، نظامي او اقتصادي سلطه پای ته ورسوي، د ظالمو او بې رحمو دیکتاتورانو، جنرالانو او پاچایانو له حمایت نه لاس واخلي. موږ امریکایانو ته وایو چي خپل زامن د ځو مفسدو بډایانو، جنرالانو او د وسلو جوړولو فابریکو د خاوندانو د گټو لپاره د مرگ کومي ته مه لېږئ، د بش جنگ ته د اسلام او غرب تر منځ د بل صلیبي جنگ بڼه مه ورکوئ، له افغانستان نه خپل فوځونه وباسئ. په دې پوه شئ چي د جورج بش ټیم په افغانستان او عراق کي اقتدار غلو، مفسدینو، وطن پلورونکو، ملي خائنانو او د پردیو جاسوسانو ته سپارلی، د افغانستان او عراق د بیا ودانۍ په نامه چي د امریکا له بانکونو څه ایستل کېږي هغه ستاسو د جنرالانو او د دوی د افغاني او عراقي غلو ملگرو تر منځ وېشل کېږي، د همدې لپاره له پنځو کلونو تېرېدو وروسته هم د دې بیا رغونې نښې حتی د کابل په ښار کي نه تر سترگو کېږي، پنځه کاله مخکي ئې ویل چي له څلورو ملیونو مهاجرینو نه درې ملیونه خپل هېواد ته ستانه شول، خو نن وایي چي اوس هم په پاکستان او ایران کي څلور ملیونه افغان مهاجرین مېشت دي!

د امریکا کانگرس او ولس ته زما مشورې دا دي:

- له افغانستان او عراق نه خپل فوځونه وباسئ، د نورو د گټو لپاره خپل زامن د مرگ کومي ته مه لېږئ.
- جورج بش کابل او بغداد د روسیې او ایران لپاره فتح کړي، د دوی لپاره ئې هغه کار وکړ چي مسکو او تهران په ډېر لگښت نه پرې توانېدل.
- خپلي گټې د افغانستان او عراق له جنگ سره مه تړئ.
- د تروریزم په هکله د جورج بش تعریف مه منئ.
- د سپینې ماڼۍ د چارواکو د وینا مطابق اسلام او مسلمانانو ته د گواښ او

خطر په سترګه مه ګورئ.

- سپینې مانۍ ته داسي څوك ولېږئ چي له ټول جهان مخصوصاً اسلامي نړۍ سره ستاسو ورځ په ورځ د مزید خرابېدونکو اړیکو مخنوی وکړي. په ټولي نړۍ د واکمنۍ خوبونه پرېږدي او نورو ته د حقارت په سترګه ونه ګوري.

پوښتنه - ستا په عقیده اسامه ژوندی دی او که مړ؟ که ژوندی وي نو بیا ولې د القاعدې موقف باندي الظاهري خبري کوي او د ډېر وخت نه بن لادن څه نه وايي، په دې رابطه ستاسي تحلیل څه دی؟

ځواب: زما د معلوماتو له مخې هغه ژوندی دی، او زما په څېر د نړۍ ډېر مظلوم مسلمانان دا دعا کوي چي الله تعالی دې د داسي اتلانو په مرګ د اسلام د دښمنانو زړونه هیڅکله ښاد نه کړي. تاسو ته معلومه ده چي جهادي تحریکونه د اشخاصو په محور نه بلکي د اهدافو پر محور جوړېږي، مرګ او ژوند ئې د شخصیتونو په مرګ او ژوند پورې نه وي تړلی، که یو مشر ئې مري بل ئې ځای نیسي، امریکایان د اسامه په وژلو سره دا تحریك نه شي ختمولی، د عراقي مجاهدینو څومره مشران ئې ووژل خو دا دی نن د عراقي مجاهدینو مقاومت تر بل هر وخته زیات مضبوط دی.

زه ګمان کوم دا یو حکیمانه تصمیم دی چي اسامه د زیاتو بیاناتو له ورکولو ډډه کوي. ایمن الظواهري ته هم زما مشوره دا ده چي مرکو او بیاناتو ته زیات اهمیت ورنه کړي.

پوښتنه - ځیني بهرنۍ حلقې په دې ګمان دي چي تاسي اوس هم د پاکستان سره روابط لرئ، آیا دا خبره رښتیا ده؟ آیا جماعت اسلامي د آی اس آی او ستاسي ترمنځ د رابطې وسیله ده که نه؟

ځواب: دا تبلیغات یا په کې جي بي پورې مربوطې کړۍ کوي او یا په سي آی اې پورې، آی اس آی د پاکستان د حکومت او بیا د فوځ یوه اداره ده، څوك چي د حکومت او فوځ مشر وي دا اداره به ئې په خدمت کي او تر امر لاندي وي، د حکومت او فوځ د مشر دوست به ئې دوست او دښمن به ئې دښمن وي، پرویز مشرف اوس هم جمهور رئیس دی او هم د فوځ مشر، آی اس آی به همغه څه کوي

چي دی ئې ترې غواړي، ډېر ناپوه او بې خبره انسان به دا خبره کوي يا مني چي دا اداره به د ده د امر خلاف کوم کار کوي، پرويز مشرف او جماعت اسلامي خو اوس د يوه بل سيوری هم په ګوليو ولي، څنګه به آی اس آی د جماعت په وساطت کوم کار وکړي؟ اوس خو آی اس آی د کشميري مجاهدينو ملګرتيا او مرسته هم پرېښي، په پاکستان کي ئې د دوی مرکزونه او دفترونه وتړل، د افغان مجاهدينو مرسته به څنګه کوي؟ پاکستان خو اوس په هغه جنګ کي چي امريکا د تروريزم خلاف د جنګ نوم ورکړی او په حقيقت کي د اسلام په ضد بل صليبي جنګ دی، په لومړي خط کي او د امريکايانو خوا ته په څرګنده ولاړ دی، د افغانستان په نيولو کي ئې د امريکايانو دومره مرسته وکړه چي له دې مرستي پرته نه د افغانستان نيول ورته ممکن وو او نه تر نن پورې دلته پاتې کېدل، په پاکستان کي خو اوس د امريکايانو اډې دي، سي آی اې او ايف بي آی دفترونه لري، خلك نيسي او ګوانتانامو ته ئې انتقالوي، د امريکايانو ټول اکمالات د پاکستان له لاري کېږي، پاکستان د خپل ولس په ضد هم هغه څه کوي چي امريکا ئې ترې غواړي، څنګه به د افغان مجاهدينو مرسته کوي؟!! زه په صداقت سره تاسو ته وايم چي د امريکا په ضد په دې جنګ کي مو له هغې ورځې نه چي دا جهاد مو اعلان کړی بيا تر نن پورې، نه د پاکستان له حکومت نه کومه مرسته ترلاسه کړې او نه له بل حکومت نه او نه له جماعت اسلامي نه، دا استخباراتي کړۍ په خپلو تبليغاتو کي ټول هغه حقايق هم له نظره غورځوي چي هر څوك پرې پوهېږي، نه دا ورته مهمه ده چي د پاکستان پاليسي څه ده او نه دا د جماعت تګلاره څنګه ده، جماعت اسلامي په انتخاباتي مبارزې باور لري، ګمان کوي چي له دې لاري کولی شي په ټولنې کي تبديلي راولي، نه د جهادي تګلارو حمايت کوي او نه د جهادي تنظيمونو ملاتړ، ما په دې اوږدې مودې کي د جماعت اسلامي له مسئولينو سره نه دي ليدلي، يوازي د دوی څو مشرانو ته مي داسي متحدالمآل ليکونه لېږلي چي د نورو ډلو مشرانو ته مي هم لېږلي، دا هم بايد ووايم چي د جماعت له ځينو مشرانو نه په دې خاطر ګيله لرو چي بې موجبه ئې زموږ د جهاد مخالفت وکړ.

پوښتنه - ستا په فکر آيا امريکا به په ايران حمله وکړي؟ که حمله وکړي

عواقب او نتائج به ئې څه وي؟

ځواب: مونږ ګمان نه کوو چې امریکا پر ایران د حملې په موقعیت کې وي، او یا دې پر ایران باندې د برید په اړه جدي وي، د ایران په ضد تبلیغات د بش یوه سیاسي مجبورتیا ده، ایران د بغداد او کابل په نیولو کې د امریکا دومره مرسته کړې چې د دوی له مرستې پرته ئې نه بغداد نیولی شو او نه کابل، دا په خپله د خاتمي په خبره د ایراني چارواکو وینا ده!!

مونږ په دې سیمې کې د روانو جګړو د ختمېدو هیله لرو، نورې جګړې نه خوښوو، زما اټکل دا دی چې د تهران او واشنګټن تر منځ د پردې شا ته ډېرې خبرې او توافقات شوي، د بغداد او کابل په نیولو کې د تهران تعاون د دې توافقاتو یوه برخه وه، ښایي د یورانیمو د غني کولو په اړه هم د پردې شا ته توافق شوی وي، د ایران په ضد د امریکا او د امریکا په ضد د تهران تبلیغات د خاصو مجبوریتونو او غرضونو په وجه دي.

پوښتنه - د امریکا او ایران تر منځ د اختلافاتو په تناظر کې آیا روس او ایران اوس په افغانستان کې مداخله کوي؟ آیا دا خبره رښتیا ده چې روس او ایران د شمالي ټلوالې پخواني غړو او اهل تشیع سره د امریکا په ضد مالي مرستې ورکوي او دوی د کرزي حکومت مخالفت ته هڅوي؟

ځواب: له شمالي ټلوالې سره د مسکو او تهران مالي او نظامي مرستې هغه څه دي چې ټول افغانان ئې د تېرو کلونو په اوږدو کې شاهد دي، او هیڅوك ترې انکار نه شي کولی، دا لړۍ اوس هم جاري ده، مسکو او تهران دې ته په پام سره چې بهرني ځواکونه له افغانستان نه د وتلو په حال کې دي، غواړي همغه څه یو ځل بیا په ګډه وکړي چې د روسي فوځونو د وتلو پر مهال ئې وکړل، هلته ئې د جبل السراج ائتلاف جوړ کړ چې د همدې ائتلاف له لارې ئې د جګړو یوه بله خونړۍ لړۍ پیل کړه، اوس ئې د ملي جبهې تر نامه لاندې همغه د شمالي ائتلاف پروني غړي راغونډ کړل، دوی خپلې ملي ګټې د افغانستان د جنګ په دوام کې لټوي، ګمان کوي چې د مرکزي آسیا په ذخایرو او په دې حساسې سیمې د دوی د واکمنۍ اعاده او دوام په دې جنګ پورې تړلی دی.

پوښتنه - افغانستان کي حزب اسلامي او طالبان د مخالفت په ليکو کي ولاړ دي، طالبانو د هلمند ، زابل، او نيمروز ځيني برخي نيولې دي، که حزب او وسله وال ئې قوت او ځواك وي نو ولې تراوسه هيڅ په لاس کي نه لري؟

ځواب: موږ په موجوده ظروفو او شرايطو کي نه جبهه ای جنگونه مفيد گڼو او نه د سيمو آزادول، برعکس چريکي جنگونو ته ترجيح ورکوو او مجاهدينو ته په کلکه توصيه کوو چي د دښمن په امنيتي پوستو او عسکري مرکزونو باندي د بريد په ځای د دوی په گزمو او وړو وړو قطارونو باندي بريد ته ترجيح ورکړئ، په هغه ځای کي او هغه مهال له دښمن سره له نښتو ډډه وکړئ چي دښمن ئې غواړي او تياری ئې ورته نيولی، په هغه ځای او هغه وخت بريد وکړئ چي دښمن غافل وي او د مقابلې لپاره نه تياری لري او نه ئې په وس پوره وي. جبهه ای جنگونه له يوې خوا ډېرو امکاناتو ته ضرورت لري، چي موږ ئې اوس په واك کي نه لرو، له بلي خوا د عام ولس د تلفاتو باعث گرځي، دا ځکه چي زموږ دښمن ډېر بې رحمه او وحشي دی، د مجاهدينو د بريدونو غچ له عام ولس نه اخلي، سره له دې چي موږ له داسي جنگونو سره موافق نه يو خو زموږ ځينو مجاهدينو هم په پکتيکا ، وردگ ميدان او خوست کي داسي عمليات کړي، د جلريز د ولسوالۍ نيول او بېرته پرېښودل ئې يوه بېلگه ده.

پوښتنه - په راتلونکي گرم موسم کي افغانستان کي د زياتو جنگونو د پيل کېدو خبره کېږي، ستاسي په عقيده دا خبره څومره حقيقت لري؟

ځواب: زما اټکل دا دی چي دا کال به د اشغال او د بهرنيو فوځونو د پاته کېدو وروستی کال وي، مقاومت به هغه پړاو ته ورسېږي چي نيواکگران به د اشغال له ادامې مأيوس او په دې پوه کړي چي له وتلو پرته بله چاره نه لري.

پوښتنه - د طالبانو فوځي قومندان ملا داد الله خپلو مرکو کي وروسته له دې چي تاسې د طالبانو سره د جوړ جاړي او روغي جوړي او مخالفتونو څرگندوني وکړې تاسي د خود خواه او جاه طلب په نامه ياد کړئ، ستاسي ځواب څه دئ؟

ځواب: ستا د دې سختي پوښتني په ځواب کي څو خبري لرم:

- زه گومان نه کوم چي ملا داد الله به زما په ضد څه ويلي وي، ښايي دا به د

ځینو شریرو خبري رسنیو شرارت وي چي ده ته ئې داسي خبري منسوب کړې او په دې سره غواړي د اشغالگرانو د مخالفو ځواکونو له یو ځای کېدو او گډ کار نه مانع شي. ولې به ملاداد الله بې موجبه زما په ضد دا تبلیغات کوي؟ ما خو نه د طالبانو په ضد څه ویلي او نه شخصاً د ده په ضد.

- ما نه له طالبانو سره د مخالفت خبره کړې او نه له دولت سره د روغې جوړې خبره، د اسوشییتید پریس د خبریال د یوې پوښتني په ځواب کي مي دومره ویلي وو چي د طالبانو یو شمېر مشرانو هغه مهال مکرر تماس ونیولو چي طالبان لا د امریکایانو په ضد د مقاومت ډگر ته نه وو راوتلي، موږ د گډ کار طرحه ورکړه، دوی ورسره موافق ول خو ځینو نورو مشرانو ئې ورسره موافقه ونه کړه، او اوس د مذاکراتو هغه مخکنۍ لړۍ قطعه شوې، د اسوشییتید پریس له لوري چي ما ته کومي خبري منسوب شوې وې زموږ نطاق په همغه ورځ تردید کړې.
- زه د ملاداد الله او د هر هغه چا قدر کوم چي د امریکایانو په ضد په روان مقاومت کي لږ یا ډېره برخه لري، که دوی ما ته ښکنځل هم وکړي زه ئې ځواب نه وایم، زه د هغه چا د تندي ښکلولو ته تیار یم چي د اشغالگرانو په ضد یو شعار ورکوي یا یوه ډبره ولي.
- له ملا داد الله سره زما لومړۍ او وروستۍ ټیلفوني خبري هغه وخت شوې چي دی د هېواد په شمال کي وو، هغه مهال چي د طالبانو په زرگونو جنگیالي جنرال دوستم ته تسلیم شول او نږدې ټول ووژل شول، ځیني ئې د ملاداد الله په شمول د حزب له مجاهدینو سره یو ځای شول، چي الحمدلله ټول له نیول کېدو او وژل کېدو وژغورل شول، کله چي دی په بلخ کي د حزب اسلامي له قومندان امیرجان سره وو، ما ته ئې څو ځلې ټیلفون وکړ، او ما قومندان امیرجان ته وویل چي په هره بیه چي کېدی شي دوی باید له هغې سیمي روغ رمټ وباسئ، الله تعالی دې ټولو هغو مجاهدینو ته اجر ورکړي چي له دغو طالبانو سره ئې مرسته وکړه.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اسوشييتيد پريس له خبريال سره مرکه

خبريال: السلام عليکم و رحمة الله
ډېره مننه چي تاسو موږ ته دا موقع راکړه،

پوښتنه: زما لومړۍ پوښتنه دا ده چي د خودکش حملو په هکله (چي فدائي حملې ورته وايي) ستاسو څه خيال دی، تاسو د دغو حملو تائيد کوئ؟ بله خبره دا ده چي ستاسو خلك د دښمن خلاف دغه تکتيك کاروي؟

ځواب: فدايي حملې که د ظالمانو، قاتلانو او اشغالگرانو په ضد وي او د هغو خلکو له لوري تر سره شي چي د حق، عدالت او آزادۍ لپاره جنگېږي او له دې پرته بله چاره ونه لري، نو دا نه يوازي يو جائز کار دی بلکي تر دې ئې هم مقام او اجر لوړ دی چي څوك له داسي دښمن سره په مخامخ جگړي کي په شهادت ورسېږي چي شمېر ئې تر ده لس ځلې زيات وي. د داسي شهادت طلبانه او فدائي عملياتو مخالفت به هغه څوك کوي چي يا له دين نه بې خبره وي او يا د دښمن په خدمت کي سرکاري مفتي وي.

موږ د هري ځان وژني تائيد نه کوو، بلکي په دغو ياد شوو شرايطو برابر فدائي عمليات تائيدوو.

خو دا بايد واضح کړم چي موږ تر اوسه د دې ضرورت نه دی احساس کړی چي په داسي عملياتو لاس پوري کړو.

پوښتنه: انجنير صاحب! له تاسو سره د دښمن په خلاف د جنگ لپاره څومره خلك دي؟ او د افغانستان په کومو مناطقو کي زيات سرگرم دي؟

ځواب: تاسو پوهېږئ چي حزب اسلامي يو ستر حزب دی، د هېواد په ټولو

سيمو او ټولو قومونو کي ژوري ريښې لري، په افغانستان کي اسلامي تحريك او اسلامي جهاد د حزب په لاس پيل شوی، د روسانو په ضد د جنګ په دوران کي حزب د مقاومت د ملا تير وو، په سلو کي تر پنځه اويا زيات مجاهدين او مهاجرين په حزب پورې مربوط ول، نورې اسلامي او جهادي ډلي ډېر وروسته او له هېواد نه بهر جوړې شوې، د امريکائي اشغالګرانو په ضد روان جهاد هم د حزب اسلامي په لاس پيل شوی، طالبان د دوی د حکومت له نسکورېدو نه نږدې يو نيم کال وروسته د جهاد لپاره تيار شول. اوس موږ د بشري قوت له ناحيې لوی شمېر مجاهدين مسلحانه جهاد ته تيارولی شو خو د وسايلو او امکاناتو د محدوديت په سبب مو دومره مجاهدين فعال کړي چي هم ئې پاللی شو او هم تر اوږدې مودې جنګ ته دوام ورکولی شو.

پوښتنه: انجنير صاحب! تاسو په يوې مخکنۍ انټرويو کي ويلي وو چي تاسو د امريکايانو خلاف د مشترکه جنګ لپاره طالبانو ته پيشکش کړی وو، خو طالبانو هغه ونه منلو، اوس چي ډېره موده پرې تېره شوې، له طالبانو سره اوس ستاسو تعلقات څنګه دي؟ او بله خبره دا چي آيا تاسو د طالبانو له مقصد او ارادې سره توافق لرئ؟

ځواب: کله چي طالبان د مقاومت لپاره تيار شول نو ځينو کسانو ئې له موږ سره ارتباط ونيولو، موږ ګډ کار ته راوبلل، د ګډ کار طرحه مو د دوی هئيت ته ورکړه، هيئت ورسره موافق وو خو د دوی ځينو مشرانو مخالفت وکړ، د خبرو اترو لړۍ تر يوه وخته جاري وه، بيا قطعه شوه، اوس له طالبانو سره هيڅ رابطه او معاهده نه لرو. طالبانو ته په کار وه چي د حزب اسلامي په شته والي کي ئې بېله ډله نه وی جوړه کړې، اوس هم دوی ته مناسب دا ده چي له حزب اسلامي سره يو ځای شي، په افغانستان کي يوازي حزب اسلامي کولی شي يو مضبوط اسلامي حکومت جوړ کړي.

پوښتنه: ستاسو د يوې مخکنۍ انټريو په رابطه زما سوال دی چي اسامه بن لادن او ايمن الظواهري سره ستاسو آخري بول چال (خبرې آترې) څه وخت شوی؟ آيا د دې امکان شته چي ما ته په تفصيل سره ووايئ چي کله مو له تورې بورې نه د

اسامه بن لادن او ایمن الظواهري د تښتېدو په اړه مرسته کړې وه او دا خلك مو چیرته رسولي وو؟

ځواب: ما چي په کومي مرکي کي له توري بوري نه د اسامه بن لادن او ایمن الظواهري د ایستلو په اړه څه ویلي وو، هلته مي کافي وضاحت کړی، تر هغه نه زیات څه د ویلو لپاره نه لرم. دومره ویلی شم چي هغوی اوس له ما سره یو ځای نه اوسېږي.

پوښتنه: د دې په حواله دا لازمي سوال پیدا کېږي چي له القاعدې سره اوس د حزب اسلامي تعاون شامله دی که نه؟ (اوس ورسره تعاون کوي که نه؟)

ځواب: موږ له القاعدې سره نه مخکي تنظیمي روابط درلودل او نه اوس، له دوی سره هغه مرسته مو یوازي د دې لپاره کړې چي هغوی د افغانانو مېلمانه وو او پر ټولو افغانانو دا لازمه وه چي دوی ته د هغه دښمن په ضد پناه ورکړي چي زموږ هېواد ئې نیولی.

پوښتنه: په تېرو وختونو کي د پاکستان آی اس آی د روسانو خلاف جهاد کي د حزب اسلامي ښه مدد کړی وو، اوس راته ووایئ چي اوس له آی اس آی سره څه تعلق لرئ؟ او بله خبره دا ده چي له حزب اسلامي سره د آی اس آی تعلق څه مددگاره وو که نه؟ (گټور وو که نه؟)

ځواب: موږ د پاکستان د هغو مرستو مننه کوو چي د روسانو په ضد د جهاد په دوران کي ئې له افغانانو سره کړې، نه به موږ دا مرسته هېره کړو او نه زموږ راتلونکي نسلونه ، که څه هم دا د مشترك دښمن په ضد یو مشترك جنگ وو، او که څه هم پاکستان د امریکایانو د فشار په وجه دا غلطي وکړه چي نورې ډلي ئې جوړې کړې او هغه مقاومت ئې په بېلو بېلو ډلو ووېشو چي یوازي د حزب اسلامي په لاس پیل شوی وو، که پاکستان دا غلطي نه وی کړې نو د روسانو له وتلو نه وروسته به مسکو او واشنگټن په دې نه توانېدل چي ځیني تش په نامه جهادي ډلي استخدام کړي او د واقعي مجاهدینو په ضد ائتلافي جبهه جوړه کړې او د دې جبهې په لاس د روسانو نیمگړی مأموریت بشپړ او د روسانو له وتلو نه وروسته هم هغه جگړه جاري وساتي چي د کمونستانو په لاس پیل شوې وه او همغې پرونی

جګړې ته د کورنۍ جګړې نوم ورکړي. امریکایانو د همدې لپاره پاکستان د دغو ډلو جوړولو ته مجبور کړی وو، دا دی ګورئ چې هغه ډلي نن د امریکائي افسرانو تر قوماندې لاندې له خپل ولس سره جنګېږي.

پوښتنه: په افغانستان کې خلك په تاسو باندې تنقید کوي چې له مسعود سره جنګ کې تاسو په کابل باندې د راکټونو باران کړی وو، او په هغې کې ډېر معصوم خلك مړه شوي وو تاسو په دې باره کې څه وایئ؟

ځواب: دا خو د افغانانو نه بلکې د غربي مطبوعاتو تورونه دي چې ځیني بې خبره کسان ئې تکراروي، په کابل باندې راکټې او بمونه د هغه ائتلاف له لوري ورېدلي چې پرون روسانو او ایران پیسې او وسلې ورکولې او نن ئې امریکایان جنګوي، په کابل کې یا د پښتنو سیمې ورانې شوې یا د هزاره وو، د کابل شرق، جنوب او غرب وران شوي، چې د دې سیمو خلك یا حزب اسلامي ته وفادار ول او یا د کابل د ائتلافي حکومت نورو مخالفینو ته، د کابل د شمال او مرکز هغه سیمې روغې رمټې پاتې شوې دي چې د کابل د حکومت په لاس کې وې. تاسو مهرباني وکړئ د کابل د هغو سیمو له خلکو نه پوښتنه وکړئ چې کورونه ئې وران شوي چې څوك د بمونو او راکټونو په ورولو او د خپلو کورونو په ورانولو تورنوي!!

پوښتنه: زما مشره! آیا د دې څه امکان شته چې له حامد کرزی سره څه خبرې آترې وکړئ؟ کېدی شي امریکنیان له افغانستان نه ولاړ شي، نو د دې څه امکان شته چې تاسو له حامد کرزي سره څه مذاکرات وکړئ؟

ځواب: په داسې حال کې چې د مذاکراتو له لارې د بحران د حل معقوله او عملي لار لټول یو ضرورت ګڼو، خو مذاکرات په هغه صورت کې مفید او ګټور ګڼو چې اشغالګر ځواکونه د کابل حکومت ته د دې خبرې صلاحیت ورکړي چې د بهرنیو ځواکونو د بلاقید و شرط او بشپړ وتلو په اړه له مجاهدینو سره توافق کولی شي او دا چې دا ځواکونه به د دې توافق درناوی کوي. دا ځکه چې د مجاهدینو او ټول افغان ولس لومړۍ او اساسي غوښتنه همدا ده او له دې پرته د افغانستان بحران نه شي حل کېدی. که مغرور امریکایان په دې پوه شي چې په جنګ سره نه خپلو ناولو موخو ته رسېدی شي او نه د افغانانو مقاومت ځپلی شي،

او د کابل د امریکایي حکومت چارواکو ته له مجاهدینو سره د مذاکراتو اجازه ورکړي او د هر راز معاهدې او توافق اختیار ورکړي په هغه صورت کي موږ له مذاکراتو سره توافق کولی شو.

پوښتنه: ډېره موده وشوه چي افغان قوم په جنګ کي دی آیا په مستقبل قریب کي د دې امکان شته چي د امن حالت راشي؟

ځواب: زه راتلونکي ته امیدوار یم، إن شاء الله اشغالګر ځواکونه به له افغانستان نه وځي، جګړه به پای ته رسېږي او زموږ په هېواد کي به ډاډمنه سوله او امنیت راځي.

پوښتنه: انجنیر صاحب تاسو د افغانستان ستر وزیر (صدراعظم) پاتې شوی یئ، آیا دا ګمان کوئ چي بیا به په افغانستان حکمراني وکړئ؟ او که داسي وخت راشي نو تاسو به له تاجکانو، ازبکانو او هزاره وو سره د بقای باهمي په اصولو باندي برابر اوسېدی شئ؟

ځواب: زه نه مخکي د اقتدار لپاره جنګېدلی یم او نه اوس اقتدار ته د رسېدلو لپاره جنګېږم، زه د خپل هېواد د آزادۍ او په خپلواك افغانستان کي د ملت د خوښي اسلامي حکومت لپاره جنګېږم، په ملي وحدت باور لرم، غواړم ټول افغانان د ورونو په څېر، له برابرو حقوقو سره، یو د بل څنګ ته په ډاډه او مطمئن زړه ژوند وکړي. قومي او ژبني اختلافات د هغو وطن پلورونکو ډلو په لاس راولاړېږي چي له بهر نه دا مأموریت ورکړی شوی، دا د بهرنیو لاس وهنو زېږنده ده، دې اور ته هغه پردي ناولې لاسونه لمن وهي چي خپلي ګټې په داسي جګړو کي لټوي چي افغانان په کي مري او افغانستان په کي ورانېږي، هغه هېوادونه چي کمزوری، ضعیف، محتاج او په جګړو اخته افغانستان خوښوي.

پوښتنه: زما یو بل سوال دا دی چي تاسو له اوږدې مودې همداسي (مخفي) اوسېږئ آیا کله داسي موقع راغلې چي امریکایان تاسو ته درنږدې شوي وي؟ (د تعقیب په دوران درنږدې شوي وي)

ځواب: هو؛ یو ځل د امریکایانو خاص ځواکونه په ما پسې هغه ځای ته راغلي وو چي زه په کي اوسېدم، ما ته ورونو ویل چي وضعیت خطرناك دی، له دې ځایه

باید ولاړ شو، ما ورته ویل چي که دغي ساحې ته هم راشي نو زه به فقط سل دوه سوه گزه پور ته غره ته خیژم او د دوی له تلو وروسته به بېرته راکوزېږم. همداسي وشول، دوی هغې ساحې ته راغلل، موږ د جنگ لپاره تیاری نه درلود، سل یو نیم سل گزه د اوسېدو له ځایه پورته غره ته وختو، دوی د گاونډي کور تلاشي کړ، موږ ورته کتل، د دوی غږ مو اورېدو، بېرته کوز شول او موږ خپل ځای ته راستانه شوو.

بیا مو دوه شپې د امریکا له هغو خاصو ځواکونو سره په یوه غره کي تېرې کړې چي زما د نیولو لپاره راغلي وو، دوی د غره په یوې برخي کي او موږ په بلي برخي کي، او زموږ تر منځ له څلورو سوو متره کمه فاصله وه. تر اوسه دا ارمان راسره دی چي کاش ورونه جنگ ته تیار وی، په امریکایانو د غازي کېدو لپاره ښه ځای او ښه فرصت وو. که د سیمي مجاهدین له عملیاتو سره موافق وی نو د دوی یو کس هم ژوندی نه شو وتلی، خو دا د عملیاتو د پیل شپې ورځې وې او د دا راز عملیاتو وخت لا نه وو رارسېدلی!!

پوښتنه: زما آخري تپوس دا دی چي تاسو د امریکي صدر جورج بش ته څه پیغام لرئ؟

ځواب: جورج بش باید اوس په دې پوه شوی وي چي پر افغانستان او عراق باندي برید یوه لویه او تاریخي اشتباه وه، له دې پرته بله چاره نه لري چي خپل فوځونه وباسي، افغانان او عراقیان پرېږدي چي خپل برخلیك په خپله وټاکي او د خپلي خوښي نظام ولري ، اسلامي نړۍ نور اسارت ته غاړه نه ږدي، د اسارت او غلامۍ دور ئې پای ته رسېدلی، دا واقعیت تسلیم کړئ، پرېږدئ چي مسلمانان آزاد ژوند ولري، دا درې پېړۍ تاسو او ستاسو اروپایي انډیوالانو آسیا او افریقا ولوټله، ظالم او بې رحمه پاچایان او جنرالان مو پرې مسلط کړل، پرېږدئ چي له دې وروسته د خپلي خوښي حکومتونه او نظامونه ولري. والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحیم

# د شمشاد تلویزیون له خبریال سره مرکه

پوښتنه: ښاغلی حکمتیار صاحب! هیله ده په پیل کي د شمشاد لیدونکو ته د افغانستان سیاسي او امنیتي حالت وارزوي.

ځواب: د هېواد په دردناك سیاسي او امنیتي حالت باید د هر غیرتي او مؤمن افغان اوښکي توی شي، څومره چي نن افغانستان د پردیو په اسارت کي دی د تاریخ په اوږدو کي کله هم دومره او په دې دردونکي بڼې کي د پردیو په اسارت کي نه دی پاتې شوی!! نن اشغالگر ځواکونه د نظامي اډو تر څنگ محبسونه لري، راډیوئي او تلویزیوني شبکي لري، فوځ او پولیس د دوی په لاس روزل کېږي، او د خپل ولس په ضد ئې جنگوي، هره ورځ په لسهاوو بې گناه افغانان د دوی په لاس وژل کېږي، په هر ځای چي وغواړي بمونه وروي، د هر کور د تلاشي او د هر افغان د نیولو، ځورولو او په زندان کي د اچولو واك او اختیار لري، د کابل د امریکائي حکومت افغاني چارواکي د دوی پر جنایاتو د اعتراض جسارت هم نه شي کولی، د اعتراض په ځای د اشغالگرو ځواکونو هغو قومندانانو ته د افتخار مډالونه ورکوي چي لاسونه ئې د سلهاوو افغانانو په وینو سره دي، خو ما ته د هېواد اوسنی وضعیت د هغه وخت له وضعیت سره ورته برېښي چي د شوروي اتحاد اشغالگرو ځواکونو زموږ له هېواده د وتلو لپاره تیاری نیولو، باور مي دا دی چي امریکائي اشغالگران او د دوی اروپایي ملگري په دې پوه شوي چي د افغانستان دائمي اشغال نه ورته ممکن دی او نه دومره گټور چي دلته په دائمي جنگ کي ښکیل شي او ملاماتونکي تلفات ئې د اوږدې مودې لپاره تحمل کړي، امریکایان

ونه توانېدل چي د جنګ له لاري خپلو موخو ته ورسېږي، دوی له خپل برید نه یوازي یوه نتیجه ترلاسه کړې، او هغه د طالبانو د حکومت نسکورول دي، نه ئې مقاومت وځپلی شو، نه ئې یو قوي مرکزی حکومت جوړ کړی شو، نه ئې د افغانستان له لاري د مرکزي آسیا تېل او ګاز انتقال کړی شو او نه ئې د مخدره موادو د کر او تجارت مخنیوی وکړی شو. امریکایانو افغانستان د روسانو او ایران لپاره فتح کړ، نن د کابل د حکومت اکثر مهم پستونه د هغو ډلو په واك کي دي چي په مسکو او تهران پورې تړلې دي. امریکایانو داسي قوي سیاسي ډله نه درلوده چي اقتدار وروسپاري او هېواد اداره کړی شي، نو ځکه ئې حکومت هغو ډلو ته وسپارو چي پرون د مسکو تر مشرۍ لاندي ائتلاف وسلې او پیسې ورکولې، امریکایانو د روسانو لپاره هغه کار وکړ چي دوی په ډېرو کلونو کي او په ډېرو مصارفو ونشو کړی.

زه په دې کي هیڅ شك نه لرم چي اشغالګر ځواکونه به حتماً له افغانستان څخه وځي او انشاء الله ډېر ژر، مجاهدین به ئې دې ته اړ کوي، د خپلو فوځیانو ورځ په ورځ زیاتېدونکې مرګ ژوبله به ئې دې ته اړ کوي. امریکایانو په تېرو شپږ شپېته میاشتو کي هیڅ (ښه خبر) له افغانستانه وانهورېدو، ګمان نه کوو چي تر اوږدې مودې دې د (بدو خبرونو) د مسلسل اورېدو حوصله ولري!! له پنځه نیمو کلونو مسلسل جنګ نه وروسته د هېواد وضعیت داسي دی چي که نن اشغالګر ځواکونه ووځي نو سبا به د دوی لاس پوڅی حکومت نسکورېږي.

امریکایان دې په دې پوه شي چي فقط یوه د حل لار په مخکي لري: له افغانستان او عراق نه وتل، د مظلومو فلسطینیانو بې رحمانه وژنه ودرول، د مسلمانانو له ځورولو، سپکولو، د دوی د شتمنیو له تالان او د دوی په هېوادونو د سیاسي، اقتصادي او نظامي واکمنۍ نه لاس اخیستل او مسلمانان دې ته پرېښودل چي د خپلي خوښي اسلامي نظام او له خپل لوري غوره کړي واکمنان ولري. دوی نور د غربي استعمارګرانو د دیموکراسۍ، آزادۍ او بشري حقوقو په غولوونکو شعارونو نه غولېږي، په فلسطین کي د دوی د بشري حقوقو اصلي څېره ګوري او په افغانستان او عراق کی د دوی د آزادۍ او دیموکراسۍ مصداق.

پوښتنه: ولې مو د ولس مشر حامد کرزي له دولت سره مخامخ خبرو ته زړه ښه نه کړ.

ځواب: له دولت سره مذاکرات يوازي په هغه صورت کي ګټور ثابتېدی شي چي د حکومت له چارواکو سره د بهرنيو فوځونو د ايستلو په اړه د خبرو کولو واك او اختيار وي، که امريکايان د کابل حکومت ته په دې اړه د خبرو کولو اجازه او اختيار ورکړي او موږ مطمئن شو چي دوی به د ټولو نيواکګرو ځواکونو د ايستلو په ارتباط د ګډ بين الافغاني توافق درناوی کوي، نو موږ مذاکراتو ته چمتو يو. له دې پرته مذاکرات بې فايدې او د وخت ضياع ګڼو، زموږ اساسي شرط او لومړۍ غوښتنه دا ده چي ټول بهرني ځواکونه دې په فوري او بشپړه توګه او له کوم قيد او شرط نه پرته ووځي او افغانان دې خپلي خوښي ته پرېږدي چي د پرديو له لاسوهنو او له هر راز بهرني فشار نه پرته خپل برخليك وټاكي، له دې پرته نه جګړه پای ته رسېدی شي او نه سوله او امنيت راتلی شي.

پوښتنه: د اسلامي نظام د تحقق لپاره له وسله والې مبارزې پرته بله کومه لار غوره ګڼئ؟

ځواب: که د آزادۍ او خپلواکۍ ترلاسه کول او په آزاد او خپلواك افغانستان کي د ملت د خوښي اسلامي حکومت قائمول له مسلحانه مبارزې پرته له بلي لاري ممکن او ميسر وی نو موږ به تر هر چا او هر کار نه مخکي دا لار غوره کړې وه، تاسو ته معلومه ده چي د سردار داؤد کودتا، بيا د کمونيستانو دوهمې کودتا، وروسته د روسانو يرغل، او اوس د امريکايانو تېري موږ وسله والې مبارزې ته اړ کړو، که دا نن نيواکګران ووځي، موږ په نورو ټولو مسايلو خبرو ته تيار يو، له دې سره موافق يو چي اقتدار دې يوه داسي موقت حکومت ته انتقال شي چي ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي، او بيا دې د دې موقت حکومت تر اشراف لاندي آزاد، عادلانه او د اسلام له غوښتنو سره سم انتخابات ترسره شي، په دې صورت کي نه يوازي تيار يو وسله پر ځمکه کېږدو بلکي د امنيت په راوستو کي هر راز مرستي ته چمتو يو.

پوښتنه: يو وخت مو له مسعود سره جنګ کاوو، بيا د جنګ په پای کي کابل

وران شو، دلته تباهي وشوه، خلك ووژل شول، تاسو بېرته له مسعود سره يو ځای شوئ، ولې اوس د حامد کرزي له دولت سره نه يو ځای کېږئ،د ملي پخلاينې له کميسيون سره نه يو ځای کېږئ؟

ځواب: کوم جنګ ته چې تاسو اشاره کوئ هغه د جنرال آصف دلاور او نبي عظيمي په څېر د کمونستو جنرالانو تر قومندې لاندې هغه جنګ وو چې مخکې د ټولو په ضد روان وو خو هغه مهال يوازې زموږ په خلاف توجيه شوی وو، دا په حقيقت کې د مخکني جنګ تسلسل وو، يوازې له يوه توپير سره چې کمونستو جنرالانو شورای نظار او ايران پلوه ډلې له ځان سره ملګرې کړل، موږ فقط له ځانه دفاع کړې، دا د شورای نظار ستره اشتباه وه چې په دې جنګ کې ئې د کمونستو جنرالانو تر قومندې لاندې برخه واخيسته، له روسانو سره په داسې وخت کې اوربند چې هيڅ غيرتي افغان د داسې اوربند تصور نه شو کولی، د جبل السراج په هغه ائتلاف کې ګډون چې د روسانو په وينا او د ايران په وساطت جوړ او د جګړو يوه خونړۍ لړۍ ئې پيل کړه، او په پای کې له امريکائي اشغالګرانو سره ملګرتيا او د امريکائي افسرانو تر قومندې لاندې د خپل ولس په ضد جنګېدل، د دوی ستر ستر اشتباهات ول. هر افغان ته دا حقيقت معلوم دی چې کابل د هغه چا په لاس وران شوی چې ټول افغانستان ئې هم وران کړی، د کابل په ورانولو کې د کمونستانو ونډه دومره وه لکه د ټول افغانستان په ورانولو کې د دوی ونډه.

په کابل کې يا د رحمن بابا مېنه، خوشحال خان مېنه، بګرامي، ارزان قيمت او نورې پښتون مېشتې سيمې ورانې شوې يا هغو ډلو ته د وفادارو خلکو سيمې چې د کابل ائتلافي حکومت ورسره جنګېدو، د کابل ډېره برخه د هغو ډلو تر منځ د جګړو په ترخ کې ورانه شوې چې په ائتلافي حکومت کې شاملې وې، د کابل مرکز او شمال له ورانېدو خوندي پاتې شوي، که دا سيمې ورانې شوې وی نو تاسو حق درلود چې د ائتلافي حکومت مخالفين مو د ورانۍ باعث ګڼلي وی. خو د ائتلافي حکومت د جرم پېټی د نورو په اوږو اچول ډېره بې انصافي ده.

زموږ موقف هغه مهال هم دا وو چې قدرت دې يوه موقت حکومت ته وسپارلی شي، بيا دې انتخابات تر سره شي او وسله وال رقابتونه دې د تل لپاره

تحریم شي، د جګړو لړۍ هغو خلکو پیل کړه چې غوښتل ئې د پردیو د متهو، پیسو او وسلو په زور پر کابل حکومت وکړي او خپل مخالفین وځپي.

پوښتنه: ښاغلی حکمتیار صاحب! د احمدشاه مسعود وژل د چا کار ګڼئ؟ او دغه وژنه څه ډول تعبیروئ.

ځواب: د دې پوښتنې ځواب باید هغه څوك ورکړي چې په پېښې کې حاضر وو او څرنګوالی ئې په خپلو سترګو لیدلی، زه څه ویل نه غواړم.

پوښتنه: په افغانستان کې د روانې او ناامنۍ د له منځه وړلو لپاره څه وړاندیزونه لرئ؟

ځواب: بهرني ځواکونه دې ووځي، قدرت دې یوه موقت حکومت ته انتقال شي، په دې حکومت کې باید هغه ډلې برخه ونه لري چې د بن په غونډې کې ئې برخه واخیسته او د افغانستان د اشغال سند ئې امضاء کړ، د دوی لپاره دا تېر پنځه کلن حکومت کفایت کوي، بیا دې عام او آزادنه انتخابات ترسره شي، دا انتخابات باید داسې وي چې ټول افغانان په کې برخه واخلي، د جمهوري ریاست او پارلمان لپاره یو ځل او په یوه وخت کې ترسره شي، په هېواد کې باید یوازې یوه منتخبه با صلاحیته شوری وي، نه د امریکا او انګلستان په څېر یوه د عوامو شوری او بله د اشرافو او خواصو شوری ، د (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) په نامه، دا دوه جرګې په پانګوالو نظامونو کې په اصل کې د دې لپاره رامنځته شوې چې د (عوامو شوری) د (خواصو د جرګې) په واسطه مهار کړي او ولس ته د اقتدار د انتقال مخه ونیسي. نه داسې دوو بېلو بېلو جرګو ته ضرورت شته او نه زموږ مالي امکانات هومره دي چې په داسې جرګو مصرف شي. افغانستان یوې شوری، یوه مشر، یوه حکومت او یوې وړې ادارې ته ضرورت لري، امکانات ئې د پېچلو او پراخو ادارو په ځای باید د هېواد په ودانولو او د بې وزلو هېوادوالو د ستونزو په حلولو مصرف شي.

• د یوه ممثل مجلس د جوړولو لپاره تر ټولو غوره لار دا ده چې د متناسبې نمایندګۍ په اساس انتخابات ترسره شي، داسې چې رأیه به د سیاسي احزابو او انتخاباتي جبهو مجموعي لست ته ورکول کېږي او هر حزب او انتخاباتي مجموعه

به د خپلو آراوو د شمېر په تناسب له خپل لست نه استاځي مجلس ته لېږي. د انتخاباتو تر ټولو آسانه، مصئونه، عادلانه او کم مصرفه طريقه همدا ده، په دې کي د مکرر او څو ځله رأيه اخيستنې، بې ځايه مصرف او د ولس له بې ځايه کړولو نه ډډه کېږي. هره رأيه چي صندوق ته لوېږي اعتبار او وزن لري او په مجلس کي ممثل او استاځی لري. داسي نه وي چي ناکام کانديد ته د رأيې په ورکولو سره په مجلس کي د استاځي او وکيل له درلودو محروم شي. اوسنۍ طريقه د قمار په څېر ده، په دې سره چي کوم پارلمان جوړېږي هغه د ټول ملت نه بلکي د يوه اقليت استاځيتوب کوي. انتخابات بايد د بډايانو او فيوډالانو له ولکې وايستل شي او د دريمې او متوسطې طبقې غوره او صالح کسانو ته هم لار پرانيستل شي.

منتخب مجلس بايد ترټولو اوچته باصلاحيته مرجع وي، د جمهور رئيس او حکومت په کړو وړو به نظارت کوي، د جمهور رئيس لخوا وړاندي شوې کابينه، تگلاره او کلنۍ بودجه به تصويبوي، د قانون د پلې کېدو بهير به څاري، له چارواکو نه به د استيضاح او پوښتني او د نااهله وزيرانو د عزل صلاحيت به لري، په بهر کي د هېواد لوړ پوړي استاځي، سفيران او دائمي استاځي به د دوی په موافقه ټاکل کېږي.

پوښتنه: د خپل وړانديز له مخې د سولې د ټينگښت لپاره څه ډول تضمين په گوته کولی شئ؟

ځواب: که زموږ له وړانديزونو سره توافق وشي، نورې ډلي د بهرنيو ځواکونو له وتلو، موقت حکومت ته د اقتدار له انتقال او له انتخاباتو سره توافق وکړي، نو موږ د هر راز صادقانه او مخلصانه مرستي اطمئنان ورکوو، د هر هغه کورني او بهرني ځواك مقابلې ته چمتو يو چي د جگړو، بې امنيو، او بې ثباتيو دوام غواړي او د افغانانو د يووالي او وحدت مخالفت کوي.

پوښتنه: داسي ويل کېږي چي تاسې په پاکستان کي پټ شوي ياست او د هغه هېواد له استخباراتو سره نږدې اړيکي لرئ، دا خبره څومره سمه ده؟

ځواب: که تاسو د امريکايانو او د دوی د غلامانو دا دروغجن تبليغات منئ نو له هغوی دا پوښتنه هم وکړئ چي ولې ئې زما د لټون لپاره په کنر، نورستان،

لغمان، ننګرهار، ميدان وردګ، پکتيا او نورو سيمو کي عمليات ترسره کړي؟ ولې ئې دا اعلان وکړ چي په کنر کي ئې پر ما له بې پېلوټه طيارې راکټي بريد وکړ چي زه ترې بچ شوم خو زما ځيني ملګري ژوبل يا ووژل شول؟ په پاکستان کي خو اوس سي آی اې او ايف بي آی په خلاص لاس د کار کولو هر امکان په واك کي لري، ولې ئې تراوسه زما د نيولو لپاره داسي کوم عمليات نه دي ترسره کړي؟ دا تبليغات د هغو کړيو لخوا کېږي چي په پرديو پورې تړلې دي او هر څوك په ځان قياسوي، هم ئې د روسانو د غلامۍ کړۍ په غاړه کي اچولې او هم د امريکا، نه د ايران له نوکرۍ ډډه کوي او نه د پاکستان، د پرديو د متو په زور قدرت ته رسېدلي او د دوی د پيسو او وسلو په زور په قدرت کي پاتې کېدل غواړي، د افغانستان په اړه د پاکستان د حکومت دريځ هر چا ته څرګند دی، چي په پوره اخلاص او تر اخلاص هم زيات، د امريکايانو ملګرتيا کوي، ډېر کم عقله انسان او يا په غرض او مرض ککړ انسان به دا خبره کوي يا مني چي د اسلام آباد چارواکي د امريکا له مخالفينو سره مرسته کوي!! ډېره عجيبه ده چي د کابل د لاس پوڅي حکومت چارواکي په ډېره بې شرمۍ سره ادعا کوي چي پردي او ګاونډي هېوادونه مجاهدين هڅوي!! خلك په دې خبرو خاندي، هغوی پوهېږي چي پردي څوکونه خو اوس په کابل کي دي او برېښي ئې د هغوی د جازونو تر وزر لاندي هلته د ذلت شپې تېروي، او ګاونډيان خو له همغې اولي ورځي له امريکايانو سره د افغان مظلوم ولس په ضد ملګري شول، چا ورته اډې ورکړې، چا مجاهدين ونيول‌ل او لاس تړلي ئې امريکايانو ته وسپارل، او چا خپلو لاس پوڅو ډلو ته امر وکړ چي له امريکايانو سره يو ځای شي او د دوی تر قومندې لاندي د افغان ولس په خلاف وجنګېږي، که د ګاونډيو مرسته نه وای نو صليبي ځواکونو نه افغانستان نيولی شو او نه تراوسه دلته پاتې کېدلی شول، په دې کي هيڅ شك نشته چي د افغانستان د روان جنګ اور زموږ هغو بې رحمو ګاونډيو بل کړی چي د کابل اوسني واکمنان ئې قدرت ته رسولي.

پوښتنه: د صدام حسين اعدام څه ډول تعبيروئ؟

ځواب: امريکايانو د صدام حسين نيونه او وژنه لوی بری وګڼلو، لده سره په

چلند کی ئی د کم ظرفو بدمعاشانو په څېر د بداخلاقۍ کرکجنه مظاهره وکړه، موږ د لوی اختر په لومړۍ ورځ، د بش په امر او د عراق د لاس پوڅي شیعه حکومت په لاس د صدام حسین اعدامول په کلکه غندو، او دا د اسلامي امت لپاره د لوی پېغور ځای ګڼو چي د دوی واکمنان د پردیو په لاس د اقتدار په ګدۍ کښېنول کېږي، یو په بل بدلېږي او په داسي سپکاوي او سفاکي سره وژل کېږي!!! ډېره عجیبه ده چي ګورو د اسلامي هېوادونو ځېنو بې مروته او ذلیلو واکمنانو په دې اعدام خوښي څرګنده کړه، په خپلو برېتونو ئې لاس راکښ کړ او دا ئې خپله بریا او د حق بریا وګڼله!!

موږ د عراق شیعه ډلو او د دوی بهرنیو حامیانو ته وایو: بې ننګي او بې مروتي هم ځان ته حد لري، ولې د ذلیلو کرسیو لپاره دې ته چمتو کېږئ چي د جاني امریکایانو هغه ناولې لاسونه په خپلو جامو پاکوئ چي د عراقیانو په وینو سره دي؟ تر څو به د پولیسو او فوځیانو په امریکایي یونیفورم کي مظلوم عراقي مسلمانان په داسي نامردۍ سره وژنئ چي له کورونو ئې راباسئ، لاس پښې ئې ورتړئ، په امبورانو ئې غوښې ترې شکوئ، په سرونو کي ئې مېخونه ټك وهئ، د کلشنکوف شاجورونه پرې تشوئ، په سر سینه ئې په ګولیو ولئ، بیا ئې په تورو پلاستکي کڅوړو کي اچوئ او د سړکونو خوا ته ئې غورځوئ؟!! او دا ټول هغه څه دي چي بش، بلیر او اسرائیلیان ئې په عراق کي لیدل غواړي!! دا ولې تاسو په دې نه پوهېږئ چي د اسلام دښمنان غواړي په دې سره په اسلامي نړۍ کي د شیعه او سني په نامه د یوې تلپاتې جګړې اور بل کړي، د همدې لپاره ئې صدام حسین د شیعه وو په لاس، د اختر په ورځ او د یو سل اته څلوېښت شیعه وو د وژلو په تور اعدام کړ!! امریکایانو د همدې لپاره د عراق له نیولو وروسته اقتدار شیعه ډلو ته وسپارو او دوی ته ئې اجازه ورکړه چي په خلاص لاس د سنیانو د وژلو لړۍ پیل کړي او په دې سره نه یوازي په عراق کي بلکي په ټولي اسلامي نړۍ کي مذهبي حساسیتونه راوپاروي او یوه بله جګړه په اسلامي امت تحمیل کړي!!

تاسو ما ته ووایئ: صدام حسین به ښه وو که سیستاني؟ یو د امریکایانو په لاس اعدام شو او بل د انګرېزانو په لاس په لندن کي (معالجه) شو!! یوه مرګ ومنلو

خو دښمن ته تسليم نه شو، بل پر كربلا او نجف د يرغلگرو د بيرغونو رپېدل ومنل او د خپلو سپېڅلو زيارتونو كيلي ئې امريكايانو ته وسپارلې!!

پوښتنه: له اسامه بن لادن او د هغه له ډلي څخه د ملا عمر ملاتړ څومره په حقه وو؟

ځواب: د ملا محمد عمر آخوند او د ټولو هغو افغانانو دې مېلمه پالنې ته په ډېره درنه سترگه گورم، الله تعالى دې ټولو هغو افغانانو ته اجر وركړي چي دا همت ئې وكړ، د افغانانو شمله ئې اوچته كړه او دا تاريخي پېغور ئې د افغان ملت لپاره پرې نه ښود چي خپل مېلمانه ئې دښمنانو ته تسليم كړل او يا ئې له خپل هېواده وايستل. كله چي امريكايانو طالبان وگواښل چي كه اسامه بن لادن دوى ته تسليم نه كړي نو جدي غبرگون ته دې منتظر اوسي، له ما نه د ايراني چارواكو يوه هيئت پوښتنه وكړه چي طالبان به اسامه بن لادن تسليم كړي كه نه؟ ما ورته وويل: نه، بيا ئې وپوشتل: حتى د دوى د حكومت د نسكورېدو په بيه؟ ما ورته وويل: هو؛ حتى د دوى د حكومت د نسكورېدو په بيه، وئې ويل: ولې په دومره ډاډ او اطمئنان سره دا خبره كوې؟ ځواب مي وركړ: زه خپل ولس، د افغانانو طبيعت او د خپل هېواد وضعيت ښه پېژنم، ما ترې پوشتنه وكړه: كه امريكا له تاسو نه وغواړي چي ما دوى ته تسليم كړئ ستاسو عكس العمل به څه وي؟ دوى د ځواب په ځاى وويل: ته څه گمان كوې؟ ما ورته وويل: گمان كوم ما به تسليم كړئ، په خندا سره ئې خبره تېره كړه، او تاسو وليدل چي همداسي وشول، طالبانو د خپل حكومت د ړنگېدو په بيه هغوى تسليم نه كړل او ايرانيانو زما د تسليمولو پرېكړه وكړه چي الله تعالى زه وژغورلم.

پوښتنه: څه فكر كوئ كه بهرنيان له هېواده ووځي د اتيايمو كلونو په څېر ناورين به رامنځ ته نه شي؟ او كه چيرته نه رامنځ ته كېږي د كوم تضمين له مخې؟

ځواب: دا انديښنه په هغه صورت كي په ځاى وه چي د بهرنيانو په شته والي كي نه جگړه وى او نه بې امنيتي، خبره خو د دې عكس ده، زموږ ټولي ستونزي له بهرنيو لاسوهنو او د بهرنيو فوځونو له شته والي راولاړې شوې، د روانو جگړو اور روسانو بل كړ، له وتلو وروسته ئې خپل نيمگړى مأموريت هغه شمالي ائتلاف ته

وسپارو چې د روسانو په وينا او د ايران په وساطت جوړ شو او امريکا او امريکا پلوه ملکونو ئې مرسته کوله او هغه ئې د ډاکټر نجيب د حکومت د ځای ناستي په توګه قبول کړ او د افغانستان سفارتونه ئې دې ائتلاف ته وسپارل، او دا دی اوس امريکايانو د روسانو په پل ګام کيښود او د دوی ناکامه تجربه ئې تکرار کړه او زموږ هېواد ئې اشغال کړ، او همغه ائتلاف ئې بيا قدرت ته ورساوو، د تېرو پنځو کلونو تجربې وښوده چې دا ځواکونه د جګړې د دوام باعث دي نه د امنيت او سولې د راوستو ضامن، تر څو چې اشغال ادامه لري جګړه به دوام کوي.

خو دا پوښتنه چې څنګه کولی شو د بهرنيو ځواکونو له ايستلو وروسته د جګړو مخنيوی وکړو او پرې نه ږدو چې د اتيايمو کلونو په څېر ناورين رامنځ ته نه شي، ځواب ئې دا دی چې ټول هېوادپال او په خپل وطن مين باايمانه افغانان دې په خپلو کې تعهد وکړي چې آزاد او خپلواک افغانستان به جوړوو، د پرديو د لاسوهنو مخه به نيسو، هغه وطن پلورونکي ډلې به په خپل ځای کښېنوو چې د پرديو د متو په زور پر افغانانو د حکومت کولو تکل کوي، اقتدار به د ولس امانت ګڼو او د ولس رأيې ته له مراجعې پرته له نورو لارو قدرت ته رسېدل به تحريموو، هر څوك به په هغه څه قناعت کوي چې ولس ئې ورته مناسب ګڼي.

دې ته هم بايد متوجه وو چې اوس نه مسکو په هغه موقعيت کې دی چې موږ ته د مخکې په څېر مشکلات راولاړ کړي، او نه به امريکايان په افغانستان او عراق کې له ماتې وروسته موږ ته د ستونزو د راولاړولو په موقعيت کې وي، زموږ له ګاونډيو نه يوازې ايران او پاکستان بيا هم کولی شي د مخکې په څېر د مشکلاتو باعث شي، خو نړيوال حالات او د دې سيمې وضعيت داسې معلومېږي چې دوی به هم د مخکنيو ناکامو تجربو تکرارولو ته زړه ښه نه کړي.

پوښتنه: په دې اړه چې بهرنيان بايد له هېواده ووځي او امنيت خراب نه شي ولسمشر حامد کرزي ته څه وړانديز لرئ؟

ځواب: زه د کابل واکمنانو ته د وړانديز په ځای يوه نېکه توصيه لرم او هغه دا چې لږ تر لږ اوس خو بايد دا خبره وکړي چې بهرني ځواکونه دې له افغانستان نه ووځي او افغانان دې پرېږدي چې خپلې ستونزې په خپله او د پرديو له فشار او

مداخلې پرته حل کړي، کېدی شي په دې سره الله تعالی دوی ته دا ستره ګناه او تاریخي اشتباه وبخښي چي د افغانستان په نیولو کي ئې د صلیبي ځواکونو ملګرتیا وکړه.

پوښتنه: په دې وروستیو کي داسي رپوټونه خواره شول چي حزب اسلامي یا ستاسو ګوند له طالبانو سره اتحاد کړی، دا خبره څومره سمه ده؟

ځواب: موږ تل د مجاهدینو په یووالي او وحدت ټینګار کړی، او خپلو مجاهدینو ته مو ویلي چي په خپلو خپلو سیمو کي له هر هغه چا سره مرسته وکړئ چي د اشغالګرانو په ضد جنګېږي او په خپلواك افغانستان کي اسلامي حکومت غواړي. له طالبانو سره په تنظیمي کچه د ګډ کار په اړه څه تنسیق او توافق نه لرو. د طالبانو له ځینو مشرانو سره خبري شوې دي، موږ ورته ویلي دي چي راشئ خپلي تګلاري او د دښمن په خلاف خپل دریځ توحید کړو، په هري سیمي کي ګډي شوراګانې جوړې کړو او مقاومت په ګډه مخکي بوځو، د افغانستان د راتلونکي په اړه هم ګډ تصمیم ونیسو، ولس ته اطمئنان ورکړو چي د بهرنیو ځواکونو له ایستلو وروسته به بیا د اقتدار په سر نښتې نه پیل کېږي، موږ د اقتدار لپاره نه بلکي د خپل هېواد د آزادۍ لپاره جنګېږو، د طالبانو زیات شمېر کسان له دې سره موافق ول خو متأسفانه ځینو مشرانو ئې توافق ونه کړ، که څه هم اوس له طالبانو سره د مذاکراتو لړۍ قطع شوې، خو که هغوی د دې ضرورت احساس کړي، موږ چمتو یو. موږ هر مجاهد ته په درنه سترګه ګورو، د هر مجاهد قدر کوو، له هیڅ مجاهد سره د رقابت او تنافس اراده نه لرو، هر مجاهد خپل مجاهد ګڼو او حزب د هغه کور او سنګر. موږ د یوې لویې اسلامي جبهې د جوړېدو ملاتړ کوو، دې ته تیار یو چي د صالح شخصیتونو یوه لویه جرګه جوړه شي او همدا جرګه هم د مقاومت لپاره یوه سیاسي او نظامي جبهه جوړه کړي، مشر ورته غوره کړي، یوه باصلاحیته شوری ورته جوړه کړي او د جبهې تګلاره وضع کړي او د افغانستان د راتلونکي اسلامي نظام څرنګوالی وټاکي.

پوښتنه: ښاغلی حکمتیار په افغانستان کي د روانو ځان مرګو بریدونو د مشروعیت په ارتباط ستاسو نظر څه دی؟

ځواب: دا عمليات بايد د فدايي عملياتو په نامه ياد کړو ، نه د ځان مرگو بريدونو په نامه، هغه ځان وژنه چي يأس او بې صبري ئې لامل وي، د اسلام له نظره حرامه ده، خو هغه فدايي عمليات چي قوي ايمان، له الله تعالی سره مينه او په اسلام او دين باندي غيرت ئې لامل وي نه يوازي جائز ده بلکي تر هغه شهيد ئې مقام او منزلت لوړ دی چي تر ځان لس برابره دښمن سره مقابلې ته وتلی او په شهادت رسېدلی.

پوښتنه: ښاغلی حکمتيار! که دا اوسني هېواد ته راغلي بهرنيان د روسانو په څېر يرغلگر وي نو بيا ولې د دوی په خلاف ملت ستاسو تر شا ونه درېدو؟

ځواب: که دوی يرغلگر نه گڼئ نو څه ئې گڼئ؟ د مېلمنو په سترگه ورته گورئ، که د انصارو او دوستانو په سترگه؟ که مېلمانه وي چا رابللي؟ مېلمه، دوست او ملگری خو د چا کور ته له جهازونو ، توپونو او ټانکونو سره نه ورځي، د کوربه په کور کي نظامي اډې او محبسونه نه جوړوي، او پر کور کلي ئې بمونه نه وروي!! ما ته ووايئ چي د دوی او روسانو تر منځ څه توپير په نظر درځي؟ په رنگ او څېرې کي ئې، په شعارونو او ادعاگانو کي ئې او له افغانانو سره په چلند کي ئې؟!! ډېر بې خبره انسان به د دوی دواړو تر منځ په توپير قائل وي، يوه ته به يرغلگر وايي او بل ته به د آزادي بخښونکي او بياودانوونکي په سترگه گوري!! خو دا چي ولې ټول ملت د دوی په ضد زموږ ترشا ونه درېدو او په عمومي پاڅون ئې لاس پورې نه کړ، د دې وجه دا نه ده چي زموږ ملت امريکايانو ته د شورويانو په څېر د يرغلگرو په سترگه نه گوري، وجه ئې دا ده چي د عمومي پاڅون لپاره هغه ضروري او لازمي شرايط نه دي برابر شوي چي هر پاڅون ورته ضرورت لري، په اوسنيو ظروفو کي د يرغلگرانو د مقابلې تر ټولو غوره طريقه چريکي جنگ دی نه عمومي پاڅون او مخامخ جبهه ئي جنگ.

پوښتنه: تاسو په څه ډول مذاکراتو باور لرئ چي د هغې له مخې به د افغانستان شتو امنيتي ستونزو ته د پای ټکی کيښودی شي؟

ځواب: موږ هغه مذاکرات گټور گڼو چي مقابل لوری د دوو خبرو په اړه د بحث او توافق واك او اختيار ولري: د ټولو بهرنيو ځواکونو بلاقيد او شرط او

فوري وتل او دا چې د افغانستان حکومت به د هېواد د ننه او په خپله د افغانانو په خوښه جوړېږي نه هغسې لکه تېر حکومت چې په بن کې جوړ شو او وزارتونه ئې په دوه جمع شپږ هېوادو او په دوی پورې تړلو ډلو باندي وو بېشل شول.

پوښتنه: د ډيورنډ کرښې په رابطه مو نظر څه دی چې آيا دا دې د دواړو هېوادونو پاکستان او افغانستان تر منځ نړيوال سرحد وپېژندی شي که نه دا د افغانستان يو جزء گڼئ؟

ځواب: موږ له خپلو گاونډيو سره د ډيورند په شمول ډېرې نورې لانجې لرو، اوس خو افغانستان هغه بې خاونده باغ ته ورته دی چې ديوالونه ئې نړېدلي او له مېوو ئې هر لاروی کولی شي خپلي ټکری ډکي کړي!! د ډيورنډ کرښه يوه ستره ملي قضيه ده، يوازي يو مقتدر او په واقعي معنی منتخب پارلمان به په دې اړه وروستی پرېکړه کوي، او دا هم هغه وخت چې افغانان له داخلي ستونزو ژغورل شوي او په داسي وضعيت کي وي چې هيڅوك خپل شرايط پرې تحميل نه کړی شي، په اوسني وضعيت کي هيڅوك د دې حق نه لري چې له گاونډيو سره د سرحدي لانجو په اړه خبره او موافقه وکړي، اوس اساسي خبره د هېواد آزادي او خپلواکي ترلاسه کول دي. تاسو ته معلومه ده چې زموږ نورو گاونډيو هم د گډو پولو په ارتباط لاسوهنې کړې دي، چا خپلي سرحدي پوستې هم په خپله خوښه جوړې کړې او زموږ د سرحدي پوستو موقعيت ئې هم په خپله ټاکلی او په خپله خوښه ئې جوړې کړې، نور زموږ اوبه وړيا ترلاسه کوي خو خپل تېل د سروزرو په بيه پر موږ پلوري!!

پوښتنه: په دې وروستيو کي دا رپوټونه توزيع شوي چې د افغانستان او پاکستان تر منځه به د امن يوه جرگه جوړېږي چې هغه به دې سيمي ته د امن راوستو ټول فکتورونه په گوته کړي، د دغسي جرگې څخه يا د راتلونکي جرگې څخه تاسو د څه ډول پايلو طمعه لرئ؟

ځواب: داسي جرگې هيڅ ارزښت نه لري او هيڅ نه شي کولی!! دا هسي له واقعيتونو نه د خلکو توجه بل لوري ته د اړلو يوه بې فايدې هڅه ده، د افغانستان بحران په داسي جرگو نه بلکي د بهرنيو ځواکونو په وتلو او د افغانستان په کورنيو

چارو کي د لاسوهنو په بندېدو سره حل کېدی شي، په داسي حال کي چي افغانستان د پردیو په اشغال کي دی او په پاکستان کي یو غیر منتخب فوځي حکومت اقتدار په لاس کي لري، د دواړو حکومتونو تر شا هغه ځواك ولاړ دی چي افغانستان ئې نیولی، د داسي حکومتونو په خوښه جوړه شوې جرگه به څنگه وکولی شي چي دا بحران حل کړي؟!!

پوښتنه: په افغانستان کي مو د جنگي جنایتکارانو په اړه نظر څه دی؟ آیا دا محاکمه چیرته وشي؟ څوك ئې وکړي؟ څه ډول ئې وکړي؟ او د کوم قانون په سیوري کي وشي؟

ځواب: موږ د جنگي جنایتکارانو له عادلانه محاکمې سره نه یوازي موافق یو بلکي ورباندي تأکید کوو، خو لومړی باید د (جنگي جنایت) لپاره یو واضح او د عدالت له غوښتنو سره سم تعریف پیدا کړو، بیا د دې تعریف په رڼا کي جنگي جنایتکاران تثبیت کړو، ورپسې هغه محکمه په گوته کړو چي د داسي جنایتکارانو د محاکمې صلاحیت ولري، بیا باید هغه قانون په گوته شي چي په رڼا کي ئې جنایتکاران مجازات شي. اوس خو امریکایانو د جنگي جنایت او جنایتکارانو لپاره د خپلي خوښي تعریف تحمیل کړی، آزادي غوښتونکي د ترهگر، تروریست او جنایتکار په نامه یادوي او په مقابل کي ئې هغو ته د قهرمانۍ او اتلولۍ القاب ورکوي چي د پردیو تر قومندې لاندي د خپل ولس په ضد جنگېدلي او جنگېږي.

پوښتنه: په پای کي ښاغلی حکمتیار که تاسو د شمشاد لیدونکو ته کوم ځانگړی پیغام لرئ مهرباني وکړئ.

ځواب: افغان ولس ته مي پیغام دا دی چي هېواد له ډېر حساس پړاو نه تېرېږي، نن زموږ پر هېواد داسي تورو وربځو خپل پرېږ وزر خور کړی چي مثال ئې د تاریخ په اوږدو کي لږ تر سترگو کېږي، نن باید هر غیرتي افغان لږ تر لږ د هغه څه کولو ته ملا وتړي چي د روسانو په ضد ئې وکړل.

ټول با ایمانه افغانان یووالي، ورورولي او وحدت ته رابلم، افغانان باید یو بل ته د ورورۍ او وحدت لاس ورکړي، په گډه د دښمن مقابله وکړي، باید پرې

نړدي چي د هېواد په هيڅ گوټ کي اشغالگران يوه شېبه آرامه تېره کړي، افغان ولس بايد هغه څېرې د دښمن خدمتگاران وگڼي چي قومي او ژبني تعصباتو ته لمن وهي، وروڼه قومونه سره جنگوي، د جهاد مخالفت کوي، او افغان ولس دې ته رابلي چي اشغالگرانو ته تسليم شي او د دوی واکمني ومني، کوم ناافغانان چي د څو پيسو لپاره خپل ايمان خرڅوي او د ملي اردو او ملي پوليسو په ليکو کي ودرېږي او د بهرنيو تر قومندې لاندي د خپل ولس په ضد جنگېږي، ډېری ئې همغه دي چي پرون له روسانو سره يو ځای شول، د هغوی د گټو لپاره له خپل ملت سره وجنگېدل، او نن امريکايانو ته تسليم شوي او د دوی لپاره همغه پرونی کار کوي.

افغان ولس بايد متوجه وي چي په مسکو او منطقوي ملگرو پورې ئې تړلې ډلي غواړي همغه کار بيا وکړي چي د روسانو د وتلو پر مهال ئې وکړ، دغو ملکونو يو ځل بيا خپل لاس پوخي راغونډ کړي او غواړي د امريکائي ځواکونو له وتلو وروسته مخکنۍ لوبه تکرار او د نويو جگړو اور بل کړي.

والسلام عليکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کریستوفر درېیمه مرکه

پوښتنه: ناټو په مارچ کي د پسرلي عملیات په هلمند کي پیل کړي، په دې اړه د لاندي امورو په ارتباط څه معلومات لرئ:

- ولسي تلفات
- د مجاهدینو نقصانات

ځواب: اوس هر چا ته څرګنده شوې چي په دغو عملیاتو کي تل عام ولس ته تلفات اوښتي، په کلیو او کورونو بمبارۍ شوې او بې دفاع او بې وزلي افغانان په کي وژل شوي. تاسو ته معلومه ده چي د ناټو ځواکونه له بمباریو استفاده کوي، په بې دریغه توګه ستر ستر بمونه وروي، دا په داسي حال کي چي مجاهدین ثابت سنګرونه نه لري، له مخامخ او جبهه ای جنګونو ډډه کوي، داسي نه ده چي د اوسېدو یا جنګېدو لپاره ئې ثابت ځایونه جوړ کړي وي او د ناټو جازونه ورشي او تر بمباریو لاندي ئې ونیسي، د مجاهدینو جنګي تکتیك داسي دی چي ټانکونه او جازونه د دوی په خلاف هیڅ نه شي کولی، دا ځکه چي دوی د دښمن وړو وړو کاروانونو او ګزمو ته د سړك یوې بلي خوا ته ریموټ کنټرول بمونه ږدي، په خاصو ځایونو کي کمین ورته نیسي، ناڅاپي برید پرې کوي او متصل ئې سیمه پرېږدي، د ناټو جازونه به څنګه دوی تر بمباریو لاندي نیسي؟ حقیقت دا دی چي د ناټو ځواکونه د دغو عملیاتو غچ له عام ولس او بې ګناه افغانانو اخلي، د مجاهدینو په ځای په هغو کلیو بمونه وروي چي د عملیاتو له ساحې ډېر لرې پراته وي.

پوښتنه: دې حملو د مجاهدینو تیاری څومره متأثره کړی؟

ځواب: تاسو ته په قاطع الفاظو ویلی شم چي په دغو عملیاتو سره نه یوازي د مجاهدینو فعالیتونه نه شي متأثره کېدی بلکي د مزید پراخېدو او ځواکمنېدو باعث به ئې شي، د دغو جنایاتو په وجه به هغه خلك هم د مجاهدینو خوا ته ودرېږي چي تراوسه ئې د اشغالگرانو په ضد وسلې ته لاس نه دی اوږد کړی.

پوښتنه: د عام ولس مالي او ځاني تلفات څومره دي؟ آیا د کابل حکومت د دې زیانونو د جبران لپاره کوم کار کړی؟

ځواب: تاسو به هم اورېدلي وي چي په دغو بمباریو کي د دوو اونیو په منځ کي په هرات، هلمند، کندهار او ننگرهار کي تر یو نیم سل زیات بې گناه افغانان ووژل شول، ملل متحد او په خپله د ناټو چارواکو پرې اعتراف وکړ، کرزی هم دې ته مجبور شو چي ووایي: دا حالت او د بې گناه افغانانو داسي بې دریغه وژنه نور د زغملو وړ نه ده. خو د کابل حکومت د داسي اعلامیو له خپرولو پرته د بل کار نه توان لري او نه اهلیت او کفایت.

پوښتنه: د جرمني پارلمان افغانستان ته د ټورنېډو طیارو د لېږلو اجازه ورکړې، د دې طیارو د نظامي تأثیر په اړه څه ووایئ؟ آیا ستاسو مجاهدینو دا طیارې په نښه کړې دي؟ په کوم ولایت او سیمي کي؟

ځواب: د ښځو عاطفه تر نارینه وو ډېره قوي وي، د همدې لپاره افغانانو گمان کولو چي د انجیلا مریکل په راتلو سره به جرمني خپل فوځونه له افغانستان نه وباسي، خو متأسفانه گورو چي د فوځونو د ایستلو په ځای ټورنېډو جازونه رالېږي، تاسو له هغې پوښتنه وکړئ: دا جازونه مو د څه لپاره لېږلي؟ آیا دا جازونه په بې گناه افغانانو د بمونو له ورولو پرته بل کار کولی شي؟ آیا د جرمني لپاره دا مناسب ده چي د امریکایانو د گټو لپاره په هغو مظلومو افغانانو د بمونو ورولو لپاره افغانستان ته جازونه لېږي چي په نړیوالې جگړې کي ئې د دوی مرسته کړې وه؟ آیا د افغانانو د وژلو لپاره د امریکا جازونه کافي نه وو؟ د انجیلا میریکل حکومت وښوده چي جرمني لا د امریکا له غلامۍ نه دی ژغورل شوی او په خپل خارجي سیاست کي کافي خپلواکي او استقلال نه لري، د ټورنېډو جازونو لېږل په حقیقت کي د یوه غلام له لوري د خپل آقا د خوشحالولو یوه شرمناکه هڅه ده، هر

اروپايي په دې پوهېږي چې د دوی هیڅ حکومت د خپلو ملي ګټو لپاره او په خپله خوښه افغانستان او عراق ته فوځونه او جازونه نه لېږي، له دې کار نه نه کومه اقتصادي ګټه دوی ته رسي او نه سياسي ګټه، يوازي د سپينې ماڼۍ د خوشحالولو لپاره دا احمقانه کار کوي. که دا اوس د جرمني له ولس نه عام پوښتنه وشي نو د امريکا تر ولس به هم زيات شمېر د دی کار په ضد رأيه ورکړي.

پوښتنه: په دې اړه څه وايئ چې:

- د پاکستان او د شمالي وزيرستان له طالبانو سره هغه معاهده چې له مخې ئې بايد له سرحد نه د جنګياليو د اوښتو رااوښتو مخنيوی وشي؟
- دا چې له پاکستانه ډېره وسله، پيسې او جنګيالي د CIA تر نظر لاندي افغانستان ته اوړي.
- او د طالبانو ګن شمېر مشران په پېښور، کويټه او نورو سيمو کي اوسېږي او افغانستان ته تګ راتګ کوي.

ځواب: ستاسو د پوښتني د لومړۍ برخي په ځواب کي عرض کوم: کومه معاهده چې په دې نامه يادېږي دا په حقيقت کي د اسلام آباد او د شمالي وزيرستان د هغو خلکو تر منځ وه چې د پاکستان حکومت غوښتل د شمالي وزيرستان د جنګياليو په ضد ئې وجنګوي، دا معاهده د وروستيو هغو جګړو لپاره مقدمه وه چې په دې سيمي کي پيل شوې او د طالبانو او محلي خلکو تر منځ د نښتو نوم ورکړی شو.

د دوهمې برخي په ځواب کي بايد ووايم: دا خوشې او بې بنسټه تبليغات دي، هيڅ عاقل انسان به دا خبره نه وکړي او نه ومني چې يا CIA د امريکا مخالفينو ته وسلې ورکوي يا د پاکستان حکومت، د پاکستان حکومت له امريکا سره د افغانستان په اشغال کي دومره مرسته کړې چې له دې پرته امريکا ته د افغانستان اشغال ممکن نه وو، ټول هغه کسان چې په ګوانتانامو يا د امريکا په نورو زندانونو کي پراته دي او هغه سلوك ورسره کېږي چې د بشريت په تاريخ کي ئې لږ مثالونه ليدل کېږي، دوی د نازيانو او کمونستانو مخ هم سپين کړ، دا ټول پاکستان نيولي او لاس پښې تړلې ئې امريکايانو ته سپارلي، د طالبانو حکومت

امریکایانو نه بلکي د پاکستان حکومت رانسکور کړ، دا اوس د امریکایانو ټول اکمالات د پاکستان له لارې ترسره کېږي، که دا نن پاکستان له امریکا سره خپلې مرستې بندې کړې نو د لنډې مودې لپاره به هم د ناټو فوځونو ته په افغانستان کې پاتې کېدا ډېره ګرانه شي.

او د درېیمې برخې په ارتباط باید ووایم چې د طالبانو جنګیالي د نورو مجاهدینو په څېر د افغانستان د ننه اوسېږي، امریکایان د خاصو موخو لپاره دا دروغجن تبلیغات کوي چې مجاهدین د پاکستان له پولو اوړي رااوړي، غواړي خپله ناکامي توجیه کړي، پاکستان مزید څه کولو ته اړ کړي، په داسې حال کې چې پاکستان تر خپل وس نه زیات څه د امریکایانو لپاره کړي. که په پاکستان کې یو غیر نظامي حکومت وی نو د دې لسمه برخه به ئې هم نه وو کړې، د همدې لپاره امریکا په پاکستان کې د یوه جنرال نظامي حکومت ته ترجیح ورکوي او دفاع ترې کوي.

پوښتنه: اوسنی جنګ د روسانو د وخت له جنګ سره څنګه مقایسه کوئ، د ناټو ونډه څنګه ګڼئ؟

ځواب: دواړه جګړې د ماهیت او موخو له پلوه سره ورته دي، یوازې په څو مواردو کې توپیر لري:

- روسان له شمال نه راغلل او غوښتل ئې په جنوب کې تودو اوبو ته ځای وروسوي او د خلیج د تېلو ځاګان تر خپل ګواښ لاندې ونیسي، امریکایان له جنوبه راغلل او غواړي شمال ته ولاړ شي او د مرکزي آسیا زخایر د روسانو له ولګې وباسي او د امریکائي کمپنیو په واک کې ئې ورکړي.
- د روسانو شمېر یو لك شل زره وو او د دوی شمېر څلوېښت زره.
- مسکو د وارسا پکت غړي په هغه جنګ کې ښکیل کړل او واشنګټن ناټو ښکیل کړه.
- د روسانو تلفات په لسو کلونو کې څه د پاسه څلوېښت زره مړي او زخمیان او نږدې اتیا ملیارده ډالر جنګي لګښت وو، خو د امریکایانو ځاني تلفات د روسانو په پرتله نسبتاً لږ دي خو مالي لګښت ئې څو برابره زیات دی.

- روسانو يو مضبوط سياسي حزب او يو جنگي افغاني فوځ په واك كي درلود چي امريكايان له دواړو محروم دي.

پوښتنه: يوه امريكايي له ما نه وپوښتل: كه مجاهدين قدرت ترلاسه كړي آيا دوی به د مخدره موادو مخنيوی وكړي؟ ما ورته وويل: هو؛ بې له شكه چي مخه به ئې نيسي! مهرباني وكړئ ما ته ووايئ چي ستاسو تګلاره به څه وي او څنګه به ئې مخنيوی كوئ؟ ما هغه ته دا هم وويل: د امريكايانو افغاني ملګري د مخدره موادو ستر ستر قاچاقچيان دي، د كرزي د ورور او د حضرت علي نوم مي ورته ياد كړل چي د امريكايانو ملګري دي او همدا كار كوي، تاسو به له دغو خلكو سره څه معامله كوئ؟

ځواب: موږ مكرر ويلي او بيا هم وايو چي د مخدره موادو د كښت، تجارت او استعمال مخالف يو، نه غواړو زموږ د هېواد په هيڅ ګوټ كي هيڅ افغان د مخدره موادو په استعمال روږدی او په غيرقانوني كښت او تجارت ئې بوخت وي، خو دې هدف ته رسېدل د جګړې خاتمه او د يوه قوي مركزي حكومت تشكيل ته ضرورت لري، او دا دواړه هغه څه دي چي امريكايان او زموږ ګاونډيان ئې نه خوښوي، همدا وجه ده چي تېر كال په هغه افغانستان كي چي امريكايان پرې حكومت كوي د مخدره موادو توليد شپږ زره ټُنو ته ورسېدو، د امريكا افغاني ملګري او په خپله د دوی لوړ پوړي افسران په دې ګنده دندې كي ككړ دي.

پوښتنه: د بهرنيو مرستو په اړه به ستاسو تګلاره څه وي؟ هغه مرستي چي د افغانستان د بيا ودانولو لپاره وركول كېږي، كومو برخو ته به ترجيح وركوئ:

- د برېښنا توليد، وړې صنعتي پروژې، سړكونه، بندونه
- روغتونونه، ښوونځي
- آيا په دې مواردو كي به د ښځو او نارينه وو تر منځ تعادل او توازن په پام كي نيسئ كه نه؟

ځواب: ډېر افغانان اوس د غربي هېوادو د مرستو په اړه دا خبره كوي چي ستاسو له خيره بې زاره يو شر مه رارسوئ!! ستاسو مرستي زموږ د هېواد د آبادولو لپاره نه بلكي د ورانولو لپاره دي، تاسو د جنګ د دوام باعث يئ، د تركتورونو په

ځای ټانکونه رالېږئ، زموږ په کليو او کورونو بمونه ورو‌ئ، مفسدين، غله، ملي خائنان او د پرديو جاسوسان مو پرموږ مسلط کړي، له شپږو کلونو تېرېدو وروسته هم ستاسو د بياودانولو ننبې حتی په کابل کي هم نه ترسترگو کېږي، ستاسو مخکني ملگري شورويان هم له اروپا راغلل او همدا د بياودانولو، کور، کالي او ډوډۍ شعارونه ئې ورکول، خو موږ ته ئې له مرگ، ژوبلې او ورانۍ پرته بل څه رانه وړل، تاسو د هغوی په پل گام ايښی او همغه څه کوئ چي هغوی کول، په ډېرو برخو کي هغوی ترتاسو ښه ول. ستاسو له بانکونو نه چي د افغانستان لپاره څه وځي نو دا يا د افغانستان په ورانولو مصرفېږي، يا د افغانانو په گمراه کولو او يا ستاسو د جنرالانو او د دوی د افغاني غلو ملگرو تر منځ وېشل کېږي.

خو په ځانگړې توگه ستاسو د پوښتني په اړه بايد ووايم چي د بياودانولو په ارتباط زموږ ترجيحات دا دي: د اوبو مهارول، ځمکي ښېرازه کول، وچي بېدياوي آبادول، زراعت ته وده ورکول، د برېښنا د توليد په اړه له اوبو اعظمي استفاده، سړکونه، وړې صنعتي پروژې، ښوونځي او روغتونونه جوړول.

د ښځو ونډه به نه يوازي له نارينه وو سره برابره وي بلکي په ډېرو مواردو کي به ښځو ته هغه امتيازات ورکول کېږي چي اسلام ورته منلي او موږ ئې د نړۍ په هيڅ مکتب او نظام کي د هغه بېلگې نه گورو، اسلام ښځو ته تر نارينه وو زيات امتيازات ورکړي.

پوښتنه: په افغانستان کي د ښکاره يا پټ مسيحي تبليغ په اړه څه وايئ؟ ، اميد دی په دې اړه په واضح الفاظو کي خپل دريځ څرگند کړئ، دې ته مو بايد پام وي چي په جرمني کي په دې وروستي کال کي څلور زره مسيحيان اسلام ته اووښتي، تاسو بايد په خپل دريځ کي حتماً بايد دې ته متوجه وئ چي په غربي هېوادونو کي په اسلامي دعوت منفي اغېز ونه کړي.

ځواب: متأسفانه ډېری غربي مؤسسې په دې لټه کي دي چي د افغانانو له مجبوريتونو او محروميتونو غلطه او ناروا استفاده وکړي، د څو کيلو غنمو، يوې وېزې او يوه بورس په مقابل کي د هغه دين او مذهب ترې واخلي، وطن پلورنې، ملي خيانت او جاسوسۍ ته ئې چمتو کړي، کاش دوی افغانان کوم معقول دين او

مذهب ته بللی، د دوی بلنه اخلاقي فساد ، شراب، قمار، سندرو او نڅا ته دی، د دې په ځای چي افغانانو ته ووایي ټوپك په ځمکه کېږده بېل او کلنگ واخله او خپل هېواد آباد او ښېرازه کړه، ورته وايي: رباب واخله، نڅا پیل کړه، مستي وکړه، په داسي حال کي چي زموږ ولس د ښځنلو پاکي اوبه نه لري دوی ورته وايي: ویسکي وڅښه چي مست شې او د دنیا غمونه هېر کړې!!

زه ستا له لاري ټولو مسیحیانو ته بلنه ورکوم چي راشئ ټول په گډه د یوه خدای عبادت وکړو او هغه مذهب چي تر ټولو غوره او ښه وي د یوازني مذهب په توگه غوره کړو ، د مذاهبو ترمنځ اختلاف له منځه یوسو او د مذهبي جنگونو ټغر د تل لپاره ټول کړو، مسیحیان او مسلمانان ډېر مشترکات لري، راشئ اختلافي موارد د معقولې مناقشې له لاري حل کړو ، هغه مذهب لري وغورځوو چي د علم، عقل او عدل خلاف اظهارات لري، ما په دې خاطر قرآن د الهي کتاب په توگه منلی او ټولو مسلمانانو هم، چي د هغه هره وینا مي د علم، عقل او عدل مطابق موندلې او راته ثابته شوې چي دا د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب دی، هیڅ انسان که هر څومره نابغه وي داسي کتاب نه شي وړاندي کولی، ما بایبل هم په دقیقه توگه مطالعه کړی، زه اوس د بایبل له هرو څلورو جملو نه په دریو داسي اعتراض لرم چي گمان نه کوم هیڅ مسیحي ئې جواب راکړی شي، موږ د مذهب په آزادۍ باور لرو ، هر چا ته دا حق ورکوو چي زموږ پر مذهب اعتراض وکړي او ځواب وغواړي، له نورو نه هم دا انتظار لرو چي پر خپل مذهب زموږ اعتراضونه په سړه سینه واوري او ځواب راکړي، ما پر بایبل باندي یو ضخیم کتاب لیکلی چي نږدې نه سوه صفحې دی، دمسیحیانو له ټولو علماوو سره د دې کتاب او په خپله د بایبل په اړه مناقشې ته تیار یم، زه په صداقت او جرأت سره دا ادعا کوم چي له عیسی او مریم علیهما السلام سره زما مینه تر مسیحیانو ډېره زیاته ده، او زه دوی دواړه تر مسیحیانو ښه پېژنم، موږ په همغه لار روان یو چي عیسی علیه السلام پرې تلو او همغه څه وایو او کوو چي ده ویل او کول.

پوښتنه: د کرزي حکومت غواړي چي ټولي بهرنۍ مرستي دې حکومت ته ورکړی شي، که ستاسو حکومت جوړ شو په دې اړه به څه دریځ غوره کوئ؟ که چا

خپلي مرستي بندولې ستاسو عکس العمل به څه وي؟

ځواب: دوی کرزی راووست او جمهور رئیس ئې کړ خو اعتماد پرې نه کوي، په خپلو NGO گانو د کرزي تر حکومت زیات باور او اعتماد لري، د استعمارگرانو چلند له خپلو لاس پوڅو حکومتونو سره تل او په هر ځای کي همداسي وي، موږ به هیچا ته دا اجازه ورنه کړو چي د خپلو NGO گانو له لاري زموږ د هېواد په کورنیو چارو کي لاسوهنې وکړي او زموږ ملي حاکمیت او خپلواکي ته گواښ متوجه کړي.

پوښتنه: ځیني څېړونکي په دې باور دي چي امریکایان غواړي د افغانستان له لاري د تېلو او گاز نل لیکه وغزوي، چي د مرکزي آسیا تېل او گاز د امریکایي کمپنیو لخوا انتقال شي، امریکایانو د دې مقصد لپاره طالبانو ته هم د نړیوال بانك لخوا د مرستي او پور وړاندیز کړی وو، تاسو په دې ارتباط څه وایئ؟ آیا په دې کار راضي یئ؟ اړوند شرکت به څومره خپلواکي لري؟ گټه به ئې څوك ترلاسه کوي، په کوم تناسب؟ کوم لوري ته ترجیح ورکوئ؟ تگلاره به مو څه وي او د کومو اصولو له مخې به عمل کوئ؟

ځواب: زه نه یوازي له دغو څېړونکو سره موافق یم بلکي په دې باور یم چي پر افغانستان د امریکایانو د یرغل اساسي موخه همدا ده چي غواړي د مرکزي آسیا په زېرمو مسلط شي او تېل او گاز ئې د امریکایي کمپنیو لخوا انتقال شي، له القاعدې غچ اخیستل او د طالبانو حکومت نسکورول هسي یوه بهانه وه، دا دی گورئ چي اوس نه د طالبانو حکومت شته او نه القاعده او مرکزونه ئې، خو امریکا بیا هم په افغانستان کي د خپلو فوځونو په پاتې کېدو او د خپل نظامي حضور په دوام ټینگار کوي!!

په داسي حال کي چي د افغانستان له لاري د مرکزي آسیا د تېلو او گاز له انتقال سره موافق یو او په دې ارتباط هرراز مرستي او تعاون ته چمتو یو، خو د هغه چا په لاس چي د افغانستان خپلواکۍ او استقلال ته په درنه سترگه گوري او نه غواړي چي افغانان د خپلو ناروا گټو لپاره قرباني کړي، موږ هر هغه چا ته د دښمن په سترگه گورو چي په افغانستان کي د جگړو او بې امنیتۍ دوام د دې لپاره خوښوي او خپلو مزدورانو ته پیسې او وسلې ورکوي چي مرکزي آسیا د دوی

په واك كي پربوځي، د دې ماركيټ دروازې د دوی پر مخ پرانيستې وي او د افغانستان له لاري له نړۍ سره وصل نه شي.

موږ دې ته ترجيح وركوله چي په دې معامله كي مو شريك جرمني وي، خو د جرمني د حكومت وروستيو سياستونو تجديد نظر ته اړ كړو، اوس به هغه چا ته د شريك په توګه ترجيح وركوو چي له افغانانو سره د دښمنۍ پر ځای د دوستۍ لار غوره ګڼي.

پوښتنه: د امريكا دوهم مقصد دا دی چي چين محاصره كړي، او په دې سيمي كي ئې د نفوذ مخه ونيسي، په دې ارتباط ستاسو دريځ څنګه دی؟ كه ستاسو حكومت جوړ شو نو كوم لوري ته ترجيح وركوئ: امريكا، چين، روسيه، پاكستان، سعودي عرب، مخصوصاً كه هلته د اسامه حكومت وي؟ او كه يو هم نه؟

ځواب: هو؛ دا د امريكايانو دوهم مقصد دی، د چين اقتصادي ودي پرېشانه كړي، امريكا هره مياشت اتيا مليارده تجارتي خساره لري، دا حالت د اوږدې مودې لپاره نه شي زغملی، د مثبت عكس العمل په ځای ئې د منفي عكس العمل لار غوره كړې، پر عراق او افغانستان د بريد له لاري غواړي خپل داخلي بحران حل كړي او د نړيوالو رقيبانو په وړاندي له مزيد ماتې نه مخنيوی وكړي.

موږ به له هغه چا سره په خپلي معاملې كي ډېر احتياط كوو چي د افغانستان په اشغال كي ئې د امريكايانو مرسته وكړه.

پوښتنه: د افغانستان د بحران د حل لپاره يو داسي نړيوال كنفرانس په پام كي دی چي د ټولو ښكېلو ځواكونو د غلطو لاسوهنو د مخنيوی لپاره مناسب ترتيبات ونيولی شي، تاسو په دې اړه څه وايئ؟

ځواب: كه دا كنفرانس واقعاً د بهرنيو لاسوهنو د مخنيوي په نيت جوړېږي نو موږ ئې ملاتړ كوو خو كه د بن د كنفرانس په څېر وي چي د افغانستان د اشغال سند په كي امضاء شو او د كابل د حكومت وزارتونه په هغو ملكونو پورې تړلو ډلو باندي ووېشل شول چي په دې كنفرانس كي ئې برخه اخيستې وه او د كابل په نيولو كي ئې د امريكا ملګرتيا كړې وه، نو موږ به ئې مخالفت كوو.

پوښتنه: د بحران د حل لپاره تاسو څه وړانديزونه لرئ؟

ځواب:

- ټول بهرني ځواکونه دې ووځي، د افغانستان په کورنيو چارو کي دې د ټولو هېوادو ، مخصوصاً زموږ د ګاونډيو لاسوهنې بندې شي، ايران او پاکستان دې دې ته اړ کړی شي چي افغانستان ته وسلې ونه لېږي.
- قدرت دې يوه داسي موقت حکومت ته انتقال شي چي ټولو ته د منلو وړ وي، او په دې کي هغه ډلي برخه ونه لري چي د اشغال په دوران کي ئې د پرديو د جازونو تر وزر لاندي پر کابل حکومت کړی.
- عام، آزاد او عادلانه انتخابات دې د جمهوري رياست او د پارلمان لپاره تر سره شي، دا انتخابات بايد داسي وي چي ټول افغانان په کي برخه واخلي، د جمهوري رياست او پارلمان لپاره يو ځل او په يوه وخت کي ترسره شي، موږ د متناسبې نمايندګۍ په اساس انتخاباتو ته ترجيح ورکوو.
- په هېواد کي بايد يوازي يوه منتخبه با صلاحيته شوری وي، نه د امريکا او انګلستان په څېر يوه د عوامو شوری او بله د اشرافو او خواصو شوری ، د (ولسي جرګې او مشرانو جرګې) په نامه، دا دوه جرګې په پانګوالو نظامونو کي په اصل کي د دې لپاره رامنځته شوې چي د (عوامو شوری) د (خواصو د جرګې) په واسطه مهار کړي او ولس ته د اقتدار د انتقال مخه ونيسي. نه داسي دوو بېلو بېلو جرګو ته ضرورت شته او نه زموږ مالي امکانات هومره دي چي په داسي جرګو مصرف شي. افغانستان يوې شوری، يوه مشر، يوه حکومت او يوې وړې ادارې ته ضرورت لري، امکانات ئې د پېچلو او پراخو ادارو په ځای بايد د هېواد په ودانولو او د بې وزلو هېوادوالو د ستونزو په حلولو مصرف شي.

والسلام علی من اتبع الهدی

بسم الله الرحمن الرحيم

# له سهيل قلندر سره مرکه

ځواب: د خبرو آترو او جرگو له لاري د بحران حلول ښه کار دئ خو چي واقعيتونه په کي مراعات شي، د جرگې هغه غړي چي منځگړيتوب کوي صالح کسان وي او خبري د نزاع د اصلي لورو تر منځ وي، که دا جرگه د دې جرأت وکړي چي ووايي: بهرني فوځونه دي له افغانستانه ووځي، بهرنۍ مداخلې دي بندي شي او افغانان دي پرېږدي چي د خپلي خوښي نظام او مشران غوره کړي، نو موږ ئې ملاتړ کوو، خو د دې جرگې ترکيب ته په پام سره ويلی شو چي ښايي د داسې پرېکړې جسارت ونه کړي، ځکه دا هغه دوديزه افغاني جرگه نه ده چي حران حل کړی شي، په دې کي نه د منازعې اصلي لوري شته او نه د دوی د اعتماد وړ کسان، دا د جنرال پرويز مشرف او حامد کرزي جرگه ده، د يوه ګډ دولتي کميشن په څېر ده، دوی دواړه کولی شي ترې طمعه ولري، خو افغانان هيڅ طمعه ترې نه لري، لکه څنگه چي په شمالي وزيرستان کي دې جرگې څه نتيجه ورنه کړه، نه امريکايانو اهميت ورکړ او نه اسلام آباد د جرگې پرېکړو ته اعتناء وکړه، امريکايانو په جرگې اعتراض وکړ او په مخالفت کي ئې پر جوماتونو او مدرسو بمبارۍ وکړې، دا دئ اورئ چي د شمالي وزيرستان د همدې جرگې غړو اعلان وکړ چي د کابل او اسلام آباد په جرگې کي برخه نه اخلي!! مجاهدين به څنگه هغه جرگه مني چي د کابل او اسلام آباد د خوښي څېرې په کي غړيتوب لري او هغه کسان هم په کي برخه لري چي تل ئې د مجاهدينو مخالفت کړی، د روسانو د تېري په وخت کي د روسانو خدائي خدمتگاران ول او اوس د امريکايانو نوکري کوي. هغه چي تل د اسلام په ضد د

اسلام له دښمنانو سره ملګري شوي، د پښتنو کورني دښمنان دي، تل ئې د پښتنو پر سر له دښمنانو سره سودا کړې.

په داسي حال کي چي اشغالګر ځواکونه په ډېره بې رحمۍ سره د افغان ولس په ضد نوې غير مجاز وسلې استعمالوي، هره ورځ په لسګونو بې وزلي او بې ګناه افغانان په خپلو وينو کي رغړوي، له افغانستان نه ئې د نويو وژونکو وسلو د آزمويلو ميدان جوړ کړی، څنګه باور وکړو چي دوی او ذليل لاس پوڅي ئې د جرګو له لاري د افغان بحران حلول غواړي؟!! لکه څنګه چي د شمالي وزيرستان جرګه د دې لپاره جوړه شوې وه چي ولس د مخالفو ځواکونو په ضد وجنګوي دا جرګه هم په همدې موخه جوړېږي.

پاکستان يو ځل مخکي هم دې ته ورته اشتباه کړې وه او دا هغه مهال چي مسکو او واشنګټن د شوروي فوځونو د وتلو او د نجيب د حکومت په پاتې کېدو او د مجاهدينو په ضد ګډ دريځ غوره کولو توافق وکړ، په معاهدې د امضاء لپاره ئې د اسلام آباد هيئت په جينوا کې د ډاکټر نجيب له پلاوي سره مخامخ کښېنولو، او هغه تياره شوې معاهده ئې پرې امضاء کړه، دا په داسي حال کي چي پاکستان د کشالې طرف نه وو نه ئې او دا حق ئې نه درلود چي د افغان ولس د واقعي استازو په غياب کي هغه معاهده امضاء کړي، دې ناستې او موافقې داسي وښوده چي دا جنګ د پاکستان او افغانستان تر منځ دئ نه د افغان ولس او د شوروي د لاس پوڅي حکومت تر منځ، تاسو د هغې معاهدې بدي پايلي وليدې، نه پوهېږو چي پاکستان بيا ولې همغه ناکامه تجربه تکراروي!!

ځواب: امريکا په افغانستان باندي د بريد پر مهال له شمالي ائتلاف نه د ځمکنی فوځ په توګه استفاده وکړه، دا کار د مسکو، واشنګټن او تهران تر منځ د يوې پټې معاهدي له مخي وشو، د کابل له نيولو وروسته د بن غونډه جوړه شوه، دا غونډه په اصل کي د ۲+۲ ملکونو تر منځ غونډه وه، په دغو ملکونو پوري تړلې افغاني ډلې ورته راوبللی شوې، د کابل لپاره ئې د خپلې خوښي حکومت جوړ کړ، وزارتونو ئې په دغو ډلو ووېشل، هر هېواد ته په جنګ کي د دوی د برخي متناسب وزارتونه ورکړی شو، جمهوري رياست امريکا پلو ته، او تر رياست وروسته مهم

پستونه، لکه د جمهور رئیس معاونین، د دفاع، خارجه، او داخله چارو وزارتونه روس او ایران پلو ډلو ته ورکړی شوو ، امریکا داسي حزب نه درلود چي یو مضبوط حکومت ترې جوړ کړي، ورو ورو ئې هڅه وکړه چي د کرزي پر محور یوه ډله جوړه کړي او د دولت مهم پستونه هم دوی ته ورکړي، خو دوی یوازي په هغو خلکو اعتماد کوي چي په غرب کي ستر شوي وي، له فکري او اخلاقي پلوه د دوی په څېر وي، د امریکا لپاره هر څه کولو ته تیار وي، نه دین ولري، نه اخلاق او نه ملي غیرت، خو له داسي کسانو یو مضبوط او صالح حکومت جوړول ممکن نه دئ، د امریکایانو اصلي ستونزه همدا ده، که څه هم د افغانستان په ارتباط د مسکو او واشنګټن تر منځ هغه مخکنی تفاهم او توافق کمزوری شوی خو د کابل د امریکائي حکومت مهمي څوکۍ اوس هم د روس پلو ډلو په لاس کي دي، فوځ او پولیس له دوی جوړ شوی، د دفاع، داخله او خارجه وزارت د ملي امنیت مهمي څانګي د دوی په واك کي دي.

ځواب: موږ په افغانستان کي د امریکا او ناټو نظامي حضور داسي ګڼو لکه د شوروي اتحاد د فوځونو حضور او د دوی په ضد جهاد داسي فرض ګڼو لکه د روسي فوځونو په ضد جهاد. لکه څنګه چي موږ د شورویانو له اشغالګرو ځواکونو سره د منافقینو او التقاطي ډلو اوربندونه او ملګرتیا غندله، او لکه څنګه چي د امریکایانو تر قومندي لاندي، د افغان ولس په ضد، د مسکو او تهران پلو ډلو جنګېدل غندو ، همداراز د اشغالګرانو په شتنه والي کي له مقاومته لاس اخیستل ناروا ګڼو. زه دومره ویلی شم چي څوك نن د صلیبي ځواکونو په ضد جهاد نه کوي، پرون هم مجاهدین نه وو ، هسې شرایطو پر جهاد تپلي وو ، او که احیاناً مجاهد وو نو پرونی جهاد ئې ټول حبط او ضایع شوی، دا زما شخصي رایه نه ده، دا د قرآن صریح او واضح حکم دی، د قرآن له نظره د اسلام له دښمنانو سره ملګرتیا له اسلام نه د وتلو په معنی ده، په جنګ کې ملګرتیا او هغه هم د مسلمانانو په ضد ملګرتیا خو پرېږده، څوك چې د کافرانو په ډلې کې ودرېږي او د دوی سواد او شمېر زیات کړي، دا هم د دوی له ډلې شخه ګڼل کېږي!! دې ته باید متوجه وو چې له مجاهدینو سره موقتي ملګرتیا یوه معنی لري او په جهاد باور درلودل او د لمانځه او روژې په

څېر ئې ديني فريضه ګڼل، دا ښېله معنى لري!! د مجاهد خطاب په هغه صورت کې چا ته کېدی شي چې مجاهد وي، او عملاً د دښمن مقابله کوي، نه هغه چا ته چې له جهاده ئې لاس اخيستى او د جهاد او اسلام دښمنانو ته تسليم شوی.

ځواب: زما او د ټولو مجاهدينو اصلي مشکل له اشغالګرانو سره دی نه له ښاغلي کرزي سره، که بهرني ځواکونه ووځي په نورو ټولو قضاياوو بحث او روغې جوړې ته تيار يو، په هغه حکومت کې چې د بهرنيو ځواکونو تر وزر لاندې پر افغانستان حکومت کوي هيڅکله د شاملېدو اراده نه لرو، زمونږ د مقاومت موخه دا نه ده چې په اقتدار کې برخه ترلاسه کړو، غواړو بهرني ځواکونه ووځي، يوه داسې موقت حکومت ته قدرت انتقال شي چې بهرنيو ځواکونو نه وي جوړ کړی او ټولو افغانانو ته د منلو وړ وي او بيا په آزاد او خپلواك افغانستان کې د ملت رايې ته رجوع وشي او د عادلانه او آزادو انتخاباتو له لارې يو واقعي منتخب اسلامي حکومت جوړ شي. زه هر هغه څوك د جمهور رئيس په توګه منلی شم چې مسلمان وي او افغان ولس په خپله خوښه، د پرديو له فشار او ګواښ نه پرته، په آزاد او خپلواك افغانستان کي غوره کړی وي، څوك چي د پرديو د متو په زور پر افغان تحميل شي او د پرديو د جازونو تر وزر لاندي پر افغانانو حکومت کوي، هيڅ افغان هغه د مشر په توګه نه مني.

ځواب: موږ د نرم په وړاندي نرم او د سخت په وړاندي سخت يو، له مسلمان سره په خپل چلند کي په انعطاف، ترحم، پېرزويني، عفو، نرمښت او ايثار سره عمل کوو، خو له هغه دښمن سره چي د خپلو متو زور موږ ته ښيي، زموږ پر هېواد تېری کوي، زموږ د دين، خپلواکي او ملي حاکميت دښمن وي، په بالمثله عمل باور لرو، داسې دښمن ته تسليمېدل د خپل ايمان منافي عمل ګڼو. موږ د روان بحران د حل لپاره معقوله، عادلانه او پر واقعيتونو ولاړه طرحه وړاندي کړې، او هغه دا چي ټول بهرني ځواکونه دي ووځي، قدرت دي يوه موقت حکومت ته انتقال شي، بيا دي عام او عادلانه انتخابات ترسره شي، په دې صورت کي موږ هم مذاکراتو ته چمتو يو او هم د جګړي په ختمولو کي هر راز مرستي ته.

ځواب: زه ګمان کوم که مقابل لوری له داسي معقول حل سره توافق وکړي، او بهرني ځواکونه له افغانستان نه وتلو ته تیار شي، طالبان به هم له جنګ نه لاس اخیستو ته چمتو شي، که ځوك له عادلانه او معقول حل سره مخالفت وکړي افغان ولس ئې ملګرتیا نه کوي.

ځواب: موږ نه بلکي یرغلګر امریکایان او ذلیل پلویان ئې تجرید شوي، هم د افغانانو له لوري او هم د ټولي نړۍ له لوري، نن د نړۍ مطلق اکثریت له امریکایانو نه کرکه لري، پر افغانستان او عراق د دوی تېری غندي، د امریکا د ولس اکثریت هم له دې سیاستونوسره مخالفت کوي. تاسو پوهېږئ چې حزب اسلامي یو ستر حزب دی، د هېواد په ټولو سیمو او ټولو قومونو کې ژورې رېښې لري، په افغانستان کې اسلامي تحریك او اسلامي جهاد د حزب په لاس پیل شوی، د روسانو په ضد د جنګ په دوران کې حزب د مقاومت د ملا تیر وو، په سلو کې تر پنځه اویا زیات مجاهدین او مهاجرین په حزب پورې مربوط ول، نورې اسلامي او جهادي ډلې ډېر وروسته او له هېواد نه بهر جوړې شوې، د امریکائي اشغالګرانو په ضد روان جهاد هم د حزب اسلامي په لاس پیل شوی، طالبان د دوی د حکومت له نسکورېدو نه نږدې یو نیم کال وروسته د جهاد لپاره تیار شول. اوس مونږ د بشري قوت له ناحیې لوی شمېر مجاهدین مسلحانه جهاد ته تیارولی شو خو د وسایلو او امکاناتو د محدودیت په سبب مو دومره مجاهدین فعال کړي چې هم ئې پاللی شو او هم تر اوږدې مودې جنګ ته دوام ورکولی شو.

ځواب: د پوښتني د لومړۍ برخي په اړه مي عرض دا دئ چي دا انصار مجاهدین د مجبوریت له مخي په افغانستان کي پاتې شول، خپلو هېوادو ته نشو تلی او د پنا بل ځای ئې نه درلود.

او د دوهمي برخي په ارتباط باید ووایم چي د روسانو له وتلو نه وروسته جګړه د مخکنۍ جګړي تسلسل وو، دا جګړه د مسکو او واشنګټن تر منځ د یوه سازش په نتیجه کي پر افغانانو تحمیل شوه، د روسانو له وتلو نه مخکي د مسکو او واشنګټن تر منځ په دې خبرې توافق وشو چي په ګډه به په افغانستان کي د

مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه نيسي، له روس پلوه او امريکا پلوه ډلو نه به يوه ائتلافي جبهه جوړوئ، له دغي ائتلافي جبهې نه په استفادې سره به هغه ځواکونه له منځه وړي چې د اسلامي حکومت جوړولو هڅه کوي، زموږ ګاونډيو هم په دې سازش کي برخه واخيسته، ايران د مسکو په وينا او پاکستان د امريکا په وينا، د ايران په وساطت د جبل السراج هغه ائتلافي جبهه جوړه شوه چې کمونستان او ايران پلوه ډلي په کي راغونډي کړی شوې، ايران دا نه شو زغملی چې په افغانستان کي قدرت د سني مجاهدينو په لاس کي پرېوځي، د روسانو له وتلو نه وروسته ايران افغانستان ته د جګړو د دوام لپاره هومره وسلې او پيسې لېږلې سلهاوو د مليونو ډالرو ته رسېږي، په دې مودې کي هيڅ هېواد د ايران په څېر زموږ په کورنيو چارو کي او د جنګ د ادامې لپاره لاسوهني نه دي کړې. موږ له يوه ستر بين المللي سازش سره مخامخ شوو، دا جنګ او له دې نه مخکي او وروسته ی‌جنګونه ټول له بهر نه پر موږ تحميل شوي، لکه څنګه چيب د امريکايانو د يرغل په دوران کي مسکو، تهران او اسلام آباد د دوی مرسته وکړه همداسي د روسي فوځونو د وتلو په وخت کي دغو هېوادونو زموږ په خلاف لاس يو کړ او افغانان ئې پرې نښودل چې د خپلي خوښي اسلامي حکومت جوړ کړي.

د جګړي د دوام يوه بله وجه دا ده چې ايران او پاکستان خپل رقابتونه افغانستان ته راانتقال کړل، ايران د جګړي دوام غواړي او پاکستان د امريکا د خوښي حکومت، يو خپلي ملي ګټي په دې کي لټوي چي په افغانستان کي جنګ، بې ثباتي او بې امني وي او بل په دې کي چي واشنګټن راضي کړي.

ځواب: امريکا په هر صورت غوښتل چي پر افغانستان بريد وکړي، د يولسم سيپتمبر پېښې دوی ته بهانه په لاس ورکړه او د دوی پلان شوی بريد ئې څو مياشتي رامخکي کړ، له دې پېښي نه مخکي مسکو او واشنګټن په دې سلا شوي وو چي د تاجکستان او ازبکستان له لاري او د ۱۷۰۰۰روسي فوځونو په مرسته به په ګډه پر افغانستان بريد کوي، تخار او مزار به نيسي او شمالي ائتلاف ته به ئې سپاري؟

ځواب: كه ومنو چي پر افغانستان باندي بريد د اسامه په وجه وو، نو پر عراق باندي بريد د څه لپاره وو؟ هلته خو اسامه نه وو، لكه څنګه چي ئې هلته د اټمي او بيولوژيكي وسايلو د شته والى په پلمه بريد وكړ، اصلي هدف ئې د عراق په شتمنيو او زيرمو قبضه كول وو، دلته ئې هم د اسامه شته والى بهانه كړ. زه د طالبانو د دې پريكړي قدر كوم چي د اسامه له تسليمولو ئې ډډه وكړه، او هغه څوك د نفرين وړ ګڼم چي مظلوم مسلمانان ئې نيولي او امريكايانو ته ئې تسليم كړي.

ځواب: د افغانستان ستراتيژيك اهميت امريكا دې ته هڅولې چي زموږ هېواد ونيسي، امريكا په دې سيمي كي ډېر استعماري اهداف لري، خپلو موخو ته د رسېدو لپاره د افغانستان دوامداره اشغال ورته زيات اهميت لري، د مركزي آسيا په زېرمو تسلط او د چين محاصره هم د دوى اهداف دي، خو د امريكا اصلي وېره له دې نه وه چي په افغانستان كي د مجاهدينو په لاس اسلامي حكومت جوړ نشي، او دا د نورو هغو اسلامي هېوادونو لپاره بېلګه نشي چي د امريكا مستعمرې ګڼل كېږي، په دې سيمي كي د اسلامي خوځښت ځپل او د پراخېدو مخه ئې نيول د امريكا اساسي هدف دئ، دوى پوهېږي چي د اسلامي امت نوى نسل د غرب له سلطې نه آزادي غواړي، كه په افغانستان كي دا هدف ترلاسه شي نو په نورو هېوادونو كي به هم حتماً دا كار كېږي، د همدې لپاره دوى د روسي فوځونو د وتلو پر مهال له مسكو سره د مجاهدينو په ضد لاس يو كړ، د شمالي ائتلاف په لاس ئې د جګړو اور بل وساتو، چي كله شمالي د ختمېدو پړاو ته نږدې شو نو د ګډ بريد پلان ئې جوړ كړ او دا دئ په پاى كي ئې زموږ پر هېواد بريد وكړ، خو زه باور لرم چي امريكايان به نه يوازي خپلو ناولو موخو ته ونه رسېږي بلكي إن شاء الله د شوروي اتحاد په برخليك به اخته شي

ځواب: دا خبره هيڅ حقيقت نه لري چي امريكائي ځواكونه د امنيت راوستو په غرض دلته پاتې دي، دوى نه امنيت راوستى او نه ئې راوستى شي، عملاً ګورو چي د دوى شته والى د جګړو او بې امنيو د دوام سبب دئ، تر څو چي دوى وي جګړه به دوام كوي، دا جګړه د بهرنيو لاسوهنو او يرغلونو په نتيجه كي پيل شوې،

که بهرني فوځونه ووځي او بهرنۍ لاسوهني متوقف شي جگړه پای ته رسېږي، افغانان د امنيت لپاره هيڅ بهرني فوځ ته ضرورت نه لري، کوم ناافغانان چي په بهرنيو ځواکونو ځان ساتي او د دوی شته والی په افغانستان کي ضروري گڼي، په خپل ولس دي باور وکړي، په پرديو دي ځان نه ساتي، که په رښتيا بهرني ځواك ته ضرورت وي ولې بايد له امريکا، اروپا او استراليا نه او له هغو ملکونو نه راشي چي مسيحيان او د امريکا پلويان دي، همغه چي له اسلام او مسلمانانو سره زړه دښمني لري، ولې نه وايي چي له د دې فوځ ځای دي د بې غرضه اسلامي هېوادو ځواکونه ونيسي.

ځواب: موږ د ځان لپاره کوم شرايط نه لرو، شخصي او حزبي غوښتني نه لرو، د بحران عادلانه او دايمي حل غواړو، په دې باور يو چي د افغانستان بحران هغه وخت حل کېدی شي چي اشغالگران بلاقييد وشرط وتل ومني، قدرت يوه موقت حکومت ته انتقال شي، له خپلواکۍ وروسته عام او عادلانه انتخابات ترسره شي.

ځواب: هو؛ دا خبره رښتيا ده، امريکايانو هند ته په افغانستان کي په خلاص لاس د هر ډول فعاليت اجازه ورکړې.

ځواب: امريکا د اسلامي هېوادو مزيد تجزيه، په وړو وړو ملکونو وېشل او په خپل منځيو جگړو کي د دوی ښکېلول غواړي، څه ئې چي په اندونيزيا کي وکړل په عراق، افغانستان او پاکستان کي ئې هم کول غواړي، دا لړۍ د اسلامي خلافت له ړنگېدو پيل شوې او تراوسه ادامه لري، په دغه ناولي مقصد کي تل له هغو ډلو کار اخيستل شوی چي د روشنفکر او ملت پال (نشنلست) نوم ورکړی شوی، دوی په اصل کي ملت پلورونکي او د خپل قوم دښمنان دي خو د ولس د غولولو لپاره ئې دا نومونه په ځان ايښي. دغه روشنفکران او نشنليان په افغانستان کي پرون له روسانو سره ملگري شول او اوس د امريکايانو خدائي خدمتگاران دي او د امريکائي افسرانو تر قومندې لاندي د خپل ولس او قوم په ضد جنگېږي.

ځواب: افغانان له اسلام آباد او تهران نه سخته گيله لري، په دې باور دي چي

د افغانستان په روان بحران کي د دوی دواړو لور لاس دئ، دوی خپل رقابتونه افغانستان ته راانتقال کړي، له تهرانه همدومره گیله لرو لکه له اسلام آباده، دواړو د کابل په نیولو کي د امریکایانو مرسته او ملگرتیا وکړه، پاکستان اډې ورکړې او ایران ځمکني فوځونه، دا تهران وو چي خپلو پلوي ډلو ته ئې امر وکړ چي له امریکایانو سره یو ځای شي او د دوی تر قومندې لاندي د افغانانو په ضد وجنگیږي، افغانان به د ایراني چارواکو دا خبري څنگه هېروي چي ویل ئې: که له امریکایانو سره د ایران مرسته نه وی نو نه ئې کابل داسي ژر او په آسانۍ نیولو شو او نه بغداد!! مطمئن یو چي الله تعالی به د مظلومو افغانانو انتقام له ټولو هغو خلکو اخلي چي دا نه هېرېدونکی ظلم ئې ورسره کړی.

ځواب: د روسانو د یرغل په دوران کي که څه هم ټول ولس او ټولو قومونو برخه اخیستې خو د پښتنو ونډه ډېره ځلانده وه، د مقاومت تر ټولو زیات تاوده سنگرونه د دوی په سیمو کي او د دوی په لاس جوړ شوي وو، د دوی سیمي تر نورو زیاتي وراني شوې، په سلو کي تر نوي زیات مهاجرین پښتانه ول، اوس هم مقاومت د دوی په سیمو کي پیل شوی او ورو ورو نورو سیمو ته خور شوی.

ځواب: تاسو ته معلومه ده چي په قبایلي سیمو کي روانه جگړه د امریکایانو په وینا او ټینگار پیل شوې، دوی له اسلام آباد نه په پرله پسې توگه وغوښتل چي دلته تصفیوي عملیات پیل کړي او گواښونه ئې وکړل چې که پاکستاني فوځ دا کار ونه کړي نو دوی به په خپله اقدام وکړي، تاسو ولیدل چي په باجوړ، شمالي او جنوبي وزیرستان کي ئې په جوماتونو، مدرسو او کلیو بمبارۍ وکړې، پاکستاني چارواکي ئې دې ته اړ کړل چي دغو سیمو ته فوځونه ولېږي او جگړه پیل کړي.

ځواب: زه تاسو ته په صداقت سره وایم چي د امریکایانو په ضد جنگ کي افغانان یوازي دي، له الله تعالی پرته هیڅ مرستندوی نه لري، په نړۍ کي داسي حکومت نشته چي د امریکایانو په ضد د افغانانو د مرستي جرأت وکړي، موږ الله تعالی ځان ته کافي گڼو، د مقاومت داسي طریقه مو غوره کړې چي په محدودو

امکاناتو تر اوږدې مودې مقاومت ته دوام ورکړی شو. څوك چي وايي له افغان مجاهدينو سره له بهر نه مرسته کېږي، دروغ وايي، که له موږ سره د نړۍ يوه هېواد هم مرسته کولی نو امريکايان به ډېر د مخه له افغانستان نه وتلو ته اړ شوي وو.

د پاکستان له چارواکو سره هيڅ رابطه نه لرو، نه په ټيټه کچه او نه په لوړه کچه، نه څرګنده او نه پټه، پاکستاني چارواکو د امريکا په وينا له حزب اسلامي سره لويه جفا کړې، موږ ئې له شا په خنجر وهلي يو، اوس د امريکايانو ملګرتيا کوي، د هغوی لپاره هم د خپل هېواد او خپل ولس په ارتباط هغه څه کوي چي امريکايان ئې ترې غواړي او هم د افغانانو او افغانستان په ارتباط. متأسفانه د اسلام آباد خارجي سياست، مخصوصاً د افغانستان په ارتباط تل د امريکا تر اغېز لاندې ټاکل شوی، او د امريکا ګټو ته پر هر څه ترجيح ورکړی شوې، د همدې لپاره دوی د روسي فوځونو د وتلو په دوران کي د امريکا په وينا د جبل السراج د هغه ائتلاف ملا تړ وکړ چي د مسکو او واشنګټن په وينا او د ايران په وساطت جوړ شوی وو، بيا ئې د حزب اسلامي په خلاف د طالبانو ملا تړ وکړ او اوس د کابل د امريکائي حکومت ملاتړ کوي، زما د حزب ډېر غړي ئې زما د زوم په شمول ونيول او امريکايانو ته ئې لاس تړلي وسپارل، چي ځيني له امريکايانو سره بنديان دي او د ځينو برخليك معلوم نه دئ. زه ستاسو له لاري د پاکستان له ستري محکمي غواړم چي زموږ د لادرکو بنديانو پوښتنه هم وکړي.

ځواب: د پاکستان مسلمان ولس ته زما پيغام دا دئ چي موږ او تاسو د يوې کښتۍ سورلۍ يو، برخليك مو مشترك دئ، ستاسو دښمن زموږ دښمن دئ او زموږ دښمن ستاسو دښمن، نن د اسلامي امت تر ټولو ستر دښمن امريکا ده، امريکا ستاسو په ضد همغه ناولي عزايم لري چي د افغانانو په ضد ئې لري، څوك چي له دې دښمن سره دوستي کوي هغه له اسلام، اسلامي امت او له خپل ولس سره دښمني کوي، دا د لستوڼي ماران وپېژنئ، راځئ چي دواړه لاس يو کړو او په ګډه د دې خبيث او زوړ دښمن مقابله وکړو، له دې سيمي ئې وباسو او خپله خاوره د دوی له شر نه وژغورو، که دا ونه کړو نو هره ورځ به د فتنو، جګړو او ورانيو شاهد وو، زموږ په مدرسو او جوماتونو به بمونه ورېږي، بې ګناه انسانان به په وينو کي

رغړول کېږي، او د پاکستان او افغانستان تر منځ د جګړو د اور بلولو هڅه به کېږي، د امریکا یو ناولی هدف دا دئ چي دا دواړه ورونه ملتونه سره وجنګوي، خو زه باور لرم چي پاکستان مسلمان ملت ویښ او هوښیار دئ، دوست او دښمن پېژني او له اسلام نه د دفاع لپاره هري قربانۍ ته چمتو دئ، زه دوی ته اطمئنان ورکوم چي امریکایان به له افغانستان او عراق نه حتماً او ډېر ژر وځي او د شوروي اتحاد په برخلیك به اخته کېږي.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحيم

# د ARY له خبريال ضياء الحق سره مرکه

ځواب: د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته د جنګ ادامه څو وجوهات لري:

تاسو ته معلومه ده چي د روسانو له وتلو نه مخکي د مسکو او واشنګټن تر منځ په دې خبرې توافق وشو چي په ګډه به په افغانستان کي د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه نيسي، د دې مقصد لپاره ئې له روس پلوه او امريکا پلوه ډلو نه يوه ائتلافي جبهه جوړه کړه، له دغي ائتلافي جبهې نه په استفادې سره ئې د جګړو يوه بله لړۍ پيل کړه، غوښتل ئې هغه ځواکونه وځپي چي د اسلامي حکومت جوړول غواړي، زموږ ګاونډيو هم په دې سازش کي برخه واخيسته، ايران د مسکو په وينا او پاکستان د امريکا په وينا ، د ايران په وساطت د جبل السراج هغه ائتلافي جبهه جوړه شوه چي کمونستان او ايران پلوه ډلي په کي راغونډې کړې شوې، ايران دا نه شو زغملی چي په افغانستان کي قدرت د سني مجاهدينو په لاس کي پرېوځي، د روسانو له وتلو نه وروسته ايران افغانستان ته د جګړو د دوام لپاره هومره وسلې او پيسې لېږلې چي سلهاوو مليونو ډالرو ته رسېږي، په دې مودې کي هيڅ هېواد د ايران په څېر زموږ په کورنيو چارو کي او د جنګ د ادامې لپاره لاسوهني او پانګوني نه دي کړې. موږ له يوه ستر بين المللي سازش سره مخامخ شوو ، دا جنګ او له دې نه مخکي او وروسته جنګونه ټول له بهر نه پر موږ تحميل شوي، لکه څنګه چي د امريکايانو د يرغل په دوران کي مسکو ، تهران او اسلام آباد د دوی مرسته وکړه همداسي د روسي فوځونو د وتلو په وخت کي دغو هېوادونو زموږ په خلاف لاس يو کړ او افغانان ئې پرې نښودل چي د خپلي خوښي اسلامي حکومت جوړ کړي.

د جګړو د دوام یوه بله وجه دا ده چي ایران او پاکستان خپل رقابتونه افغانستان ته راانتقال کړل، ایران د جګړي دوام غواړي او پاکستان د امریکا د خوښي حکومت، یو خپلي ملي ګټي په دې کي لټوي چي په افغانستان کي جنګ، بې ثباتي او بې امني وي او بل په دې کي چي واشنګټن راضي کړي.

ځواب: لویه جرګه د افغانانو نه بلکي تل د انګرېزانو او امریکایانو غوښتنه وه، دوی غوښتل چي د لویي جرګې له لاري هغه مخکنی شاهي رژیم بیا پر افغانانو تحمیل کړي چي انګرېزانو د هند په نیمي وچي د تسلط په وخت کي پر افغانستان مسلط کړ، اوس ئې لومړی افغانستان اشغال کړ، بیا ئې په بن کي د ۲+۲ملکونو په خوښه د کرزي حکومت جوړ کړ او وزارتونو ئې په همدغو ملکونو پوري تړلو ډلو باندي ووېشل، او بیا ئې دې حکومت ته د مشروعیت ورکولو لپاره د خپلو بي ۵۲ او ایف ۱۲ جازونو تر وزر لاندي داسي لویه جرګه ورته جوړه کړه چي غړي ئې دوی غوره کړي وو او همغه حکومت ته ئې رایه ورکړه چي دوی په بن کي جوړ کړی وو.

موږ جنګ غوښتونکي نه یو، جنګ پر موږ تحمیل شوی، آزادۍ ته د رسېدو لپاره بله لار نه لرو، که دا اوس بهرني ځواکونه ووځي، د ګاونډیو له لاري د افغانستان په کورنیو چارو کي مداخلت بند شي او په پردیو پوري تړلو ډلو ته د وسلو لېږلو لړۍ بنده شي، موږ د دې تضمین کوو چي ډېر ژر به په افغانستان کي امن او ثبات راځي. خو که همدا روان حالت وي نو تاسو ما ته ووایئ چي کوم منصف او آزاد انسان به له افغانانو وغواړي چي د اشغالګرانو په ضد ونه جنګېږي، د پردیو واکمني ومني او اسارت ته تسلیم شي؟ که افغانانو دا حالت منلی ولې د روسانو په ضد جنګېدل او ولې ئې یو نیم ملیون شهیدان ورکول.

ځواب: زه تاسو ته په صداقت سره وایم چي د امریکایانو په ضد جنګ کي افغانان یوازي دي، له الله تعالی پرته هیڅ مرستندوی نه لري، په نړۍ کي داسي حکومت نشته چي د امریکایانو په ضد د افغانانو د مرستي جرأت وکړي، موږ الله تعالی ځان ته کافي ګڼو، د مقاومت داسي طریقه مو غوره کړې چي په محدودو امکاناتو تر اوږدې مودې دوام ورکړی شو. څوک چي وایي له افغان مجاهدینو سره

له بهر نه مرسته کېږي، دروغ وايي، که له موږ سره د نړۍ يوه هېواد هم مرسته کولی نو امريکايان به ډېر د مخه له افغانستان نه وتلو ته اړ شوي وو.

ځواب: موږ هر مجاهد ته په درنه سترګه ګورو او د ټولو مجاهدينو په يووالي ټينګار کوو، د اوسني مقاومت له پيل نه مو دا هڅه کړې چي افغان مجاهدين په يوه ډاډمن اتحاد کي راغونډ شي او په ګډه د دښمن مقابله وکړي، متأسفانه تراوسه د داسي جبهې په جوړولو نه يو موفق شوي، خو سعی او کوشش مو روان دئ، تاسو ته معلومه ده چي پر عراق باندي د امريکا له بريد نه وروسته د القاعدې نږدې ټول مجاهدين له افغانستان نه وتلي او عراق ته تللي، دوی اوس افغانستان ته د يوه مرکز او پنا ځي په توګه ضرورت نه لري، خو له طالبانو سره په مختلفو پړاوونو کي مذاکرات شوي، له ملامحمد عمر سره زما ليدنه او کتنه نه ده شوې.

ځواب: زما د معلوماتو له مخي اسامه، ايمن الظواهري، ملامحمد عمر، او د طالبانو ډېر مشرا ژوندي دي.

ځواب: د دې پوښتني ځواب بايد له جورج بش نه وغواړئ، هغه بايد ووايي چي تر کله به د مظلومو افغانانو وژلو ته ادامه ورکوي، تر کله به د افغانانو په کليو او کورونو بمونه ورو‌ي، تر کله به د افغانستان پر اشغال ټينګار کوي، موږ خو له مقاومت نه پرته بله چاره نه لرو، زموږ مقاومت به تر هغه ادامه کوي چي ټول بهرني اشغالګر ځواکونه له افغانستانه ووځي، بهرنۍ مداخلې متوقف شي او افغانانو ته دا موقع ورکړی شي چي د خپلي خوښي اسلامي حکومت جوړ کړي.

ځواب: د خبرو آترو او جرګو له لاري د بحران حلول ښه کار دئ خو چي واقعيتونه په کي مراعات شي، د جرګې هغه غړي چي منځګړيتوب کوي صالح کسان وي او خبري د نزاع د اصلي لورو تر منځ وي، که دا جرګه غواړي د کشالې په حلولو کې مؤثره ونډه ولري نو دا جرأت دي وکړي چي ووايي: بهرني فوځونه دي له افغانستانه ووځي، بهرنۍ مداخلې دي بندي شي او افغانان دي پرېږدي چي د خپلي خوښي نظام او مشران غوره کړي، خو د دې جرګې ترکيب ته په پام سره ويلی

شو چي ښايي د داسې پرېکړې جسارت ونه کړي، ځکه دا هغه دوديزه افغاني جرګه نه ده چي بحران حل کړی شي، په دې کي نه د منازعې اصلي لوري شته او نه د دوی د اعتماد وړ کسان، دا جرګه يوه ګډه دولتي کميسيون ته ورته جرګه ده، د دوو جمهورو رئيسانو جرګه ده، دوی دواړه کولی شي ترې طمعه ولري، خو افغانان هيڅ طمعه ترې نه لري، لکه څنګه چي په شمالي وزيرستان کي دې جرګې څه نتيجه ورنه کړه، نه امريکايانو اهميت ورکړ او نه اسلام آباد د جرګې پرېکړو ته اعتناء وکړه، امريکايانو په جرګې اعتراض وکړ او په مخالفت کي ئې پر جوماتونو او مدرسو بمبارۍ وکړې، دا دئ اورئ چي د شمالي وزيرستان د همدې جرګې غړو اعلان وکړ چي د کابل او اسلام آباد په جرګې کي برخه نه اخلي!! مجاهدين به څنګه هغه جرګه مني چي د کابل او اسلام آباد په خوښه او د جورج بش په امر جوړه شوې او هغه کسان هم په کي برخه لري چي تل ئې د مجاهدينو مخالفت کړی، د روسانو د تېري په وخت کي د روسانو خدائي خدمتګاران ول او اوس د امريکايانو. هغه چي تل د اسلام په ضد د اسلام له دښمنانو سره ملګري شوي، د پښتنو کورني دښمنان دي، تل ئې د پښتنو پر سر له دښمنانو سره سودا کړې.

په داسي حال کي چي اشغالګر ځواکونه په ډېره بې رحمۍ سره د افغان ولس په ضد نوې غير مجاز وسلې استعمالوي، هره ورځ په لسګونو بې وزلي او بې ګناه افغانان په خپلو وينو کي رغړوي، له افغانستان نه ئې د نويو وژونکو وسلو د آزمويلو ميدان جوړ کړی، څنګه باور وکړو چي دوی او ذليل لاس پوځي ئې د جرګو له لاري د افغان بحران حلول غواړي؟!! لکه څنګه چي د شمالي وزيرستان جرګه د دې لپاره جوړه شوې وه چي ولس د مخالفو ځواکونو په ضد وجنګوي دا جرګه هم په همدې موخه جوړېږي.

پاکستان يو ځل مخکي هم دې ته ورته اشتباه کړې وه او دا هغه مهال چي مسکو او واشنګټن پدې سلا شول چي شوروي فوځونه له افغانستانه ووځي، د نجيب حکومت پاتې شي او د مجاهدينو په ضد ګډه دريځ غوره کړي، په معاهدې د امضاء لپاره ئې د اسلام آباد هيئت په جينوا کې د ډاکټر نجيب له پلاوي سره مخامخ کښېناوو، او هغه تياره شوې معاهده ئې پرې امضاء کړه، دا په داسي حال

کي چي پاکستان د کشالې طرف نه وو، او دا حق ئې نه درلود چي د افغان ولس د واقعي استازو په غياب کي هغه معاهده امضاء کړي، دې ناستې او موافقې داسي وښوده چي دا جنگ د پاکستان او افغانستان تر منځ دئ نه د افغان ولس او د شوروي د لاس پوځي حکومت تر منځ، تاسو د هغې معاهدې بدي پايلي وليدې، خو دا دئ پاکستان بيا همغه ناکامه تجربه بيا تکراروي!!

ځواب: د پاکستان له چارواکو سره هيڅ رابطه نه لرو، نه په ټيټه کچه او نه په لوړه کچه، نه ښرګنده او نه پټه، پاکستاني چارواکي خو اوس د امريکا ملګرتيا کوي، هم د خپل هېواد او ولس په ارتباط هغه څه کوي چي امريکا ئې ترې غواړي او هم د افغانانو او افغانستان په ارتباط، متأسفانه د اسلام آباد خارجي سياست، مخصوصاً د افغانستان په ارتباط تل د امريکا تر اغېز لاندي ټاکل شوی، او د امريکا ګټو ته پر هر څه ترجيح ورکړی شوې، د همدې لپاره دوی د روسي فوځونو د وتلو په دوران کي د امريکا په وينا د جبل السراج د هغه ائتلاف ملا تړ وکړ چي د مسکو او واشنګټن په وينا او د ايران په وساطت جوړ شوی وو، بيا ئې د حزب اسلامي په خلاف د طالبانو ملا تړ وکړ، او اوس د کابل د امريکائي حکومت ملاتړ کوي، زما د حزب ډېر غړي ئې زما د زوم په شمول ونيول او امريکايانو ته ئې لاس تړلي وسپارل، چي ځيني له امريکايانو سره بنديان دي او د ځينو برخليك معلوم نه دئ. تاسو ته معلومه ده چي زه هغه وخت له ايرانه ووتلم او خپل هېواد ته راستون شوم چي تهران غوښتل ما امريکايانو ته وسپاري، د ايراني چارواکو له خبرولو پرته له تهرانه ووتلم او شپږ ورځي وروسته د افغانستان يوې مصئوني او غرنۍ سيمي ته ورسېدم، څه وخت وروسته د امريکايانو د بې پيلوټه طيارې له لوري پر ما راکټي بريد وشو، چي الحمدلله څه تلفات ئې نه درلودل، له هغې نېټې وروسته زه د اوسېدو ثابت ځای نه لرم، نه چترال ته کوز شوی يم او نه پاړه چنار ته، زما د نيولو لپاره په لغمان، کنر، ميدان وردګ او پکتيا کي ګڼ شمېر عمليات ترسره شوي.

ځواب: زه د لال مسجد په پېښي سخت خواشينی شوی يم، هلته ستر ظلم

وشو، د ډېرو بې ګناه انسانانو ويني توی شوې، شهيدانو ته ئې دعا کوم، زه باور لرم چي په پاکستان کي پر مدرسو او جوماتونو ټول بريدونه يا مخامخ د امريکايانو لخوا ترسره شوي او يا د امريکا په وينا، تر څو چي امريکايان په دې سيمي کي نظامي حضور لري د داسي ډېرو نورو فاجعو شاهد به وو، په ډېرو نور مدرسو به بمونه وورېږي او د ډېرو نورو بې ګناه انسانانو ويني به توی شي. په دې ارتباط د طالبانو او القاعدې د ويناوو په اړه څه ويل نه غواړم. که هغوی له امريکايانو نه د دې غچ اخيستل غواړي زه ورته د توفيق دعا کوم.

ځواب: موږ هغه فدايي عمليات تائيدوو چي د مظلوم لخوا د ظالم او غاصب په ضد ترسره کېږي، داسي عمليات نه يوازي جايز ګڼو بلکي د شهيدانو درجه ئې تر هغو شهيدانو هم لوړه ګڼو چي د دښمن په ضد په داسي مخامخ جګړي کي په شهادت ورسېږي چي د دښمن شمېر د دوی په پرتله لس برابره زيات وي. خو موږ خپلو مجاهدينو ته توصيه کوو چي داسي عمليات بايد د سترو سترو او مهمو اهدافو لپاره ترسره شي، په هغه وخت او هغه ځای کي ترسره شي چي د فتنو او جګړو اصلي عاملين او د دښمن مهم او مؤثر شخصيتونه له منځه يووړل شي، زه باور لرم چي سل فدايان کولی شي د يوه هېواد مسير بدل کړي، په دې شرط چي د دوی عمليات په دقيقه توګه تنظيم شي. موږ قطعاً د دې مخالف يو چي داسي سرتېري د وړو وړو اهدافو لپاره قرباني شي.

دا هم بايد ووايم چي د نړۍ مظلوم مسلمانان له دې دردناك حالت نه وتلو لپاره مجبور شوي چي د فدايي عملياتو لار غوره کړي، فدايي عمليات د غربي استعمار د بې رحمانه او وحشيانه ظلمونو په وړاندي يو طبيعي عکس العمل دئ، د نړۍ مظلوم مسلمانان چي دا درې پېړۍ استعماري ځواکونه پرې حکومت کوي، د دوی هر څه ئې لوټ کړي، ظالم، او بې رحمه پاچايان، جنرالان او ديکتاتوران ئې پرې مسلط کړي، په فلسطين، عراق، افغانستان، کشمير، چيچين کي مسلمانان وژني، د اسلامي ملکونو د شتمنيو په تالان بوخت دي، د دوی ظلم هغه ځای ته رسېدلی چي د مظلوم اسلامي امت په زرګونو شازلميان ئې سرتېرو او فدايي عملياتو ته چمتو کړي، تر څو چي د ظلم دا لړۍ روانه وي دا فدايي عمليات به هم

روان وي او ورځ په ورځ به تشديد کېږي. تاسو به په نږدې راتلونکې کې وګورئ چې دا لړۍ د اسلامي انقلاب لپاره لار آواره کړي، ځکه مسلمانان ګوري چې د دوی ستونزې نه په کودتاګانو حل شوې، نه په انتخاباتو او نه له نورو لارو او د څېرو په بدلېدو رابدلېدو سره، ناچار به د اسلامي انقلاب او ولسي پاڅون لار غوره کوي، زه نه يوازې په دې باور لرم چې مسلمانان به دا لار غوره کوي بلکې په دې باور يم چې که اسلامي امت او زړه سوانده مشران او سياسي احزاب ئې له دې دردناك حالت نه نجات غواړي نو په نورو ناکامو لارو د خپل وخت او امکاناتو د ضايع کولو په ځای دي د اسلامي انقلاب له لارې خپلواك، آزاد او سرلوړي ژوند ته د رسېدو لپاره ملا وتړي، زه باور لرم چې داسې کار په ډېرو ملکونو کې ممکن دئ، په اسلامي امت کې د هغو شازلميانو شمېر زرګونو ته رسېږي چې د اسلام او د اسلامي امت د عزت او سرلوړۍ لپاره د خپل سر او وينو قربانۍ ته چمتو دي.

ځواب: يرغمل نيونه د يرغمل نيوني په مقابل کې بالمثله عمل او د عدالت مطابق کار دئ، امريکايان افغانان او د افغاني مجاهدينو خپلوان او دوستان نيسي، ګوانتانامو ته ئې انتقالوي او په افغانستان کې ئې په هغو محبسونو کې ساتي چې په خپلو نظامي اډو کې ئې جوړ کړي، او تاسو ته معلومه ده چې په دې زندانونو کې ذليلو او بې رحمو امريکايانو له مظلومو بنديانو سره څومره وحشيانه سلوك کړی، آيا افغانان حق نه لري د امريکايانو هغه ملګري ونيسي چې د نظامي او جاسوسي مأموريتونو لپاره راځي، اخلاقي فساد خوروي او له اسلام نه د افغانانو د بې لارې کولو او محرف مسيحيت ته د دوی د اړولو هڅه کوي؟ که د دغو جاسوسانو په ضد هر څه کېږي مسئوليت ئې په بشپړه توګه د امريکايانو په غاړه دئ، دوی له جنوبي کوريا او نورو هېوادونو نه د مسيحيت خورولو او مسحيت ته د افغانانو د اړولو په غرض ټيمونه رالېږي، د جنوبي کوريا د يوې کليسا کشيش اعتراف وکړ چې تر اوسه ئې دوه سوه ټيمونه د دې غرض لپاره افغانستان ته لېږلي، تاسو ما ته ووايئ که افغانان د دې په مقابل عکس العمل ښيي مسئوليت به ئې د چا په غاړه وي؟ افغانان هر څه منلی شي خو پر خپل دين باندې تېری نشي زغملی، له خپل دين نه د دفاع په خاطر هرې قربانۍ ته چمتو دي.

ځواب: پاکستاني چارواکو ته مي پيغام دا دئ چي د امريکايانو له ملګرتيا لاس واخلئ، لږ تر لږه د افغانستان او افغانانو په ضد د دوی مرسته مه کوئ، له هغي جګړي ووځئ چي امريکايانو د اسلام او مسلمانانو په ضد پيل کړې، د دوی ملګرتيا تاسو ته ډېر بد عواقب له ځان سره لري، امريکايان د پاکستان په ضد همغه ناولي عزايم لري چي د عراق، فلسطين، افغانستان او بل هر اسلامي ملك په ضد ئې لري، يو د دوستۍ تر پردې لاندي ځيي او بل په مخامخ نظامي يرغل سره، که د واشنګټن چارواکي اټمي عراق، ايران او ليبيا نشي زغملی نو اټمي پاکستان هم نشي زغملی، آيا پر پاکستان، حتی مکې او مدينې باندي د بريد ګواښونه کافي نه دي چي ستاسو د عقل او غيرت رګ وخوځېږي؟! دا د دوی د زړه خبرې دي چي کله کله ئې له خولې راوځي او د اسلام او مسلمانانو په ضد د دوی پټه او زړه کينه ځرګندوي.

ځواب: جورج بش بايد اوس په دې پوه شوی وي چي پر افغانستان او عراق باندې بريد يوه لويه او تاريخي اشتباه وه، له دې پرته بله چاره نه لري چي خپل فوځونه وباسي، افغانان او عراقيان پرېږدي چي خپل برخليك په خپله وټاکي او د خپلې خوښې نظام ولري ، اسلامي نړۍ نور اسارت ته غاړه نه ږدي، د اسارت او غلامۍ دور ئې پای ته رسېدلی.

د کابل د امريکائي حکومت چارواکو ته وايم: هغه ورځي په پام کي ولرئ چي امريکايان به د روسانو په څېر له افغانستانه وځي او تاسو به داسي يوازي پرېږدي لکه روسانو چي کمونستان پرېښودل، او بيا ئې حتی په روسيه کي هم پنا ځی نه درلود ، امريکايان دوستان او ملګري نه غواړي غلامان غواړي، د دوی ترغلامۍ خو د ګوانتانامو په زندان کي ژوند ډېر غوره دئ.

د اسلامي ملکونو مشرانو ته دا پيغام لرم چي امريکا ستاسو لپاره همغه څه په زړه کې لري چي له صدام حسين سره ئې وکړل، ډېره عجيبه ده که د اسلامي هېوادونو مشران په دې هم نه پوهېږي چي امريکا د دوی په خلاف څه اراده لري!! په داسې حال کې چي د واشنګټن چارواکي په ډېر صراحت او غرور سره وايي چې مونږ په نورو هېوادونو کې په ځانګړې توګه په منځني ختيځ کې هم د عراق او

افغانستان په څېر ديموکراسي راولو!! متأسفانه چې زمونږ ناپوه او بې همته چارواکي د دې خبرو په معنى ځان نه پوهوي!! عجيبه ده چې دوى بيا هم له امريکا نه د وسلو اخيستلو تکل کوي، دوى په دې نه پوهېږي چې دا وسلې د دوى هيڅ درد نشي دوا کولى، لکه چې د عراق وسايل د بغداد چارواکو ته ګټه ونه رسوله، فوځ ئې متلاشي شو او وسلې ئې د دښمن په لاس کي پرېوتې، د عراق ټول فوځ دومره مقاومت ونه شو کړى او دومره تلفات ئې دښمن ته وانه ړول لکه د فلوجې د وړې سيمي ولسي مجاهدينو چې په مېړانه تر ننه مقاومت وکړ او دښمن ته ئې درانه تلفات واړول، تجربو وښوده چې د اسلامي ملکونو فوځونه د غربي استعمار د سلطې له دور نه پاتې شوي فوځونه دي، يوازي د خپل ولس د ځپلو همت او جرأت لري، نه د بهرني تېري د دفعه کولو جرأت او همت.

عرب مشران بايد په دې پوه شي چې امريکا په منځني ختيځ کي دا حالت د همدې لپاره راوستى چې عربي هېوادونه له امريکا نه وسلو اخيستلو ته اړه کړي، تاسو وليدل چې له يوې خوا د دفاع او خارجي چارو وزيران (کوندااليزارايس او رابرټ ګيټز) په اوو عربي هېوادو د ۲۳ مليارده ډالرو په بيه د وسلو خرڅولو خبره کوي او له بلي خوا ډيك چيني د همدې اعلان په استناد او پدوى پسې وايي چې دا دئ د عراق په اړه د سپيني ماڼۍ سياستونه خپل نتايج ورکوي!! د دې خبري معنى دا ده چې د وسلو د خرڅلاو دا معامله د عراق په اړه د دوى د سياست نتيجه ده! د دغو هېوادو خلك بايد پوه شي چې دا وسايل نه د ايران په ضد دوى ته ورکول کېږي او نه د اسرائيل په ضد، له ايران نه دوى په خپل لاس ببو جوړ کړ، د دې لپاره چې عربان پرې ووېروي، د همدې لپاره ئې د بغداد حکومت شيعه وو ته وسپارو، د همدې لپاره ئې د تهران په ګټه او د يوې معاملې په توګه د مجاهدين خلق هغه ډله متلاشي کړه چې د ايران د موجوده رژيم مخالف او مراکز ئې په عراق کي وو، دا همغه ډله وه چې د ايران انقلاب د دوى په لاس بري ته ورسېدو او تهران ته ستر ګوانښ ګڼل کېده، دا هېوادونه څنګه ګمان کوي چې امريکا د ايران په ضد د دوى تقويه کول غواړي؟ امريکا خو بغداد او کابل د ايران لپاره فتحه کړل او هغه څه ئې د ايران په ګټه وکړل چې ايران ئې له کولو عاجز وو. دا اوس له يوې خوا په عربي

هېوادو تر دې نامه لاندې وسلې پلورې چې ایران دوی ته گواښ دئ، خو له بلې خوا په بغداد کې له ایرانیانو سره په مذاکراتو بوخت دي، ډېر ساده انسان به د دغو منافقانه سیاستونو په موخو نه پوهېږي، له تهران سره د کابل او بغداد له نیولو نه مخکې دا خبرې په پټه پیل شوې وې، اوس ئې هغه بربنډې کړې. اسلامي ملکونه باید دې ته متوجه وي چې دا مذاکرات د نویو سازشونو غمازي کوي، غرب غواړي په رواني صلیبي جگړې کې له ایران نه همغه کار واخلي چې په مخکنیو صلیبي جگړو کې ئې ترې اخیستی.

د دغو عربي هېوادو مشرانو ته وایو دا پیسې د وسلو اخیستلو په نامه د هغه چا په جیب کې مه غورځوئ چې ستاسو دښمنان پالي، په خپل ولس او د خپل هېواد په ترقي ئې ولگوئ، له عراقي، فلسطیني او افغاني مجاهدینو سره مرسته وکړئ، هغوی کولی شي په لږو امکاناتو سره هم امریکایان له دې سیمې وتلو ته اړه کړي او هم اسرائیل او د اسلام نور دښمنان په خپل ځای کښېنوي.

والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته

بسم الله الرحمن الرحيم

# د یوه مبارك آیت صحیح تفسیر

د (قرآن پوهنه) تر عنوان لاندي مي د سهار په درنې ورځپاڼې کي د یوه مضمون وروستۍ برخه تر سترګو شوه، په ډېر شوق او دقت سره مي د هغه لوستل پیل کړل، لیکوال په پښتو کي لیکل شوي تفاسیر او ترجمې معرفي کړې وې، په دې ضمن کي ئې د تفسیر حسیني پښتو ژباړي، بدر منیر په هکله داسي لیکلي وو: پښتو ته اړوونکی ئې نامتو عالم او صوفي او د پښتو ژبي پیاوړی لیکوال او ادیب دوست محمد ختك ... دی، ژباړه ئې خوږه او روانه ده او د تفسیر نمونه ئې دا ده:

(په تفسیر کشاف کي راوړي دي چي یو بادشاه وزیر ته وویل چي د دې آیت شریف تفسیر راته وکړه، حق تعالی فرمایلي دي کل یوم هو في شأن، دی الله هره ورځ په نوي شان کي، دا نوی شان له حق تعالی سره نشان د مخلوقیت قبلوي، او خالقیت او مخلوقیت هیڅ مناسبت نه لري او په دې سره اعتقادکفر راولي، وزیر ورته عرض وکړ چي درې ورځي موده ما له راکړه پس وزیر په دا درې ورځي موده کي هیڅ فایده وموصول ته ونه رسوله، نو دربیمه ورځ خپه او پریشان او ناتوانه سرګردانه ګرځیده یو خانه زاد د ده وهغه ته عرض وکړ اې صاحبه ولې داسي دلګیر او ملال یې؟ ده ورته وویل چي ملالت مي په دا خبره ده چي باد شاه د دې آیت شریف پوښتنه وکړه، ما درې ورځي مهلت غوښتی وو، اوس ئې له معنی څخه عاجز راغلم، ده ورته وویل: د الله په فضل سره دا ځواب به زه ورله ورکړم، وزیر ډېر خوشحاله شو، دی ئې په حضور د بادشاه راوست، ویل ئې بادشاه سلامت! ستا د

سوال مقصد له دې ځوانه څخه راغلی دی، بادشاه ورته وویل، وایه معنی د دې آیت شریف، ده ورته وویل بادشاه عرض داشت د بنده وتاته دا دی چې ته په اصل کې سوالګر یې، د سوال کننده دا ځای نه دی لکه چې ستا دی، ته زما په ځای ودرېږه، تخت وماته پرېږده چې زه پرې کښېنم نور به تاته د دې خبرې ځواب درکړم.

بادشاه عاشق د دې ځواب وو، دی ئې پر تخت کښیناوو او بادشاه د ده پر ځای ودرېدو، ده ورته وویل چې بادشاه په علم قدیم کې د رب تعالی دا راغلي وو چې زه به ستا پر تخت کښېنم او ته به زما پر ځای ودرېږې اوس هغه دلته په ظهور سره راغی، بادشاه تحسین د ده د قول وکړه آفرین ئې پرې ووایه)

زه نه پوهېږم د دې مضمون محترم لیکوال چې هم عالم دی او هم ښه لیکوال، څنګه ئې د نوموړي تفسیر دا ادبیات خوښ کړي، او څنګه ئې د نوموړي مبارك آیت دا ډېر غلط او بې بنسټه تفسیر خوښ کړی، که د نوموړي تفسیر ادبیات همدا وي او د نورو آیتونو په هکله ئې تفسیر دې ته ورته، نو دا خو ډېر بې خونده ادبیات او ډېر ضعیف تفسیر دی، ځوك چې د قرآن په ژبه پوه وي او له تفسیر نه ډېر لږ خبر وي، په دې پوهېږي چې د دې مبارك آیت معنی او تفسیر په هیڅ صورت کې هغه څه نه دی چې د بدر منیر په تفسیر کې راغلي، د آیت اصلي معنی چې ټولو درنو مفسرینو رااخسیتې دا ده:

الله تعالی د ځمکې او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتیاوو ته په خپله ځواب وایي، دی ئې ضرورتونه رفع کوي او اړتیاوې ئې پوره کوي. د دې عالم هر کار، هره شیبه، په خپله مالك الملك خدای ترسره کوي،الله تعالی داسې نه دی چې د دنیا کارونه ئې خپلې مخې ته پرېښې وي او دی هیڅ تصرف په کې نه کوي، بلکې هر کار، که ستر وي او که ووړ، د ده په اراده، إذن، حکم، قدرت او مخامخ تصرف سره ترسره کېږي، هغه یوه شیبه هم د عالم د چارو له ادارې، پالنې او ساتنې څخه نه غافله کېږي، د بدر منیر مفسر د دې آیت مخکې او وروسته مطالبو ته له پام نه پرته نیمګړې برخه تفسیر کړې، دې ته ئې نه دي کتلي چې له دې نه مخکې راغلي: یسئله من في السموات والارض (د آسمانونو او ځمکې هر څه ده ته خپلې غوښتنې وړاندې کوي، له ده نه د خپلو غوښتنو ترسره کېدل غواړي، او ورپسې راځي: کل

يوم هو في شأن (دی هره ورځ په يوه کار کي لګيا دی، يعني هغه هره شيبه په چارو کي د تصرف په حالت کي دی) د بدر منير مفسر شايد داسي ګمان کړی وي چي له شأن څخه په خپله د الله تعالی ذاتي حالت مراد دی، او دا د ذاتي حالت بدلېدل رابدليدل خو له مخلوق سره شايي نه له الله تعالی سره، نو ځکه ئې دا قصه رااخيستې، خو په دې قصې کي د وزير د خانه زاد ځواب داسي دی چي له آيت سره هيڅ اړخ نه لګوي، نه پوهېږم بادشاه سلامت څنګه په دې ځواب قانع شوی او په خپل وزير باندي ئې غصه سړه شوې!!! ځواب خو داسي دی چي الله له مخکي نه هر څه ټاکلي، او هر څه د همغه مقدراتو مطابق ترسره کېږي، د بادشاه سلامت پر تخت د ده کښيناستل هم دغسي له مخکي نه مقدر او د الله تعالی په علم قديم کي وو او دا دی ترسره شو، دا خو نه يوازي د پوښتني ځواب او د دې مبارك آيت معنی نه ده بلکي د اصلي معنی عکس او مغاير تعبير دی، آيت وايي چي کارونه الله تعالی په خپله ترسره کوي، ټول مخلوقات د خپلو اړتياوو لپاره چار ناچار ده ته رجوع کوي، خو د ده ځواب دا دی چي کارونه د مقدراتو مطابق ترسره کېږي، د مقدراتو مطابق د کارونو ترسره کېدل يو حقيقت دی خو دلته او د دې آيت په شرح او تفسير کي هغه وړاندي کول غلط تعبير دی او په اصلي معنی د پوهيدو مانع ګرځي، دا آيت خو داسي نه وايي چي الله تعالی مخلوقات پيدا کړي، سنن او مقدرات ئې وضع کړي او اوس ټول کارونه د همغو سننو او ضوابطو مطابق په خپله او د الله تعالی له عملي تصرف نه پرته ترسره کېږي، برعکس وايي چي الله تعالی په خپله هر کار د خپلو سننو مطابق ترسره کوي. دا مطلب د قرآن په ګڼ شمير آيتونو کي راغلی، په آيت الکرسي کي دوه ځله په مختلفو الفاظو دې ته اشاره شوې، لاتأخذه سنة و لانوم، (نه ئې پرمښکی نيسي او نه خوب)، يعني د عالم له اداري نه يوه شېبه هم نه غافله کېږي، وسع کرسيه السموات والارض ولايؤده حفظهما (د اقتدار کرسۍ ئې آسمانونه او ځمکه احتوی کړي او د دې دواړو ساتنه ئې نه ستومانه کوي)

د بدر منير مفسر دې ته هم نه دي کتلي چي له نوموړي آيت نه وروسته ويل شوي: فباي آلاء ربکما تکذبان (نو د خپل رب د پېرزوينو له کوم يوه نه انکار کوئ؟) له دې نه خو په ډاګه معلومېږي چي په مخکني آيت کي د الله نعمتونو او

پېرزوینو ته اشاره شوې، نه تقدیر او مقدراتو او د الله علم قدیم ته، دا وروستی آیت په خپله دا خبره واضح کوي چي له شأن نه مراد هغه کارونه دي چي الله تعالی ئې د مخلوقاتو د حوائجو د رفع کولو لپاره هره شیبه ترسره کوي، د همدې لپاره انسانان او پېریان مخاطب شوي چي د خپل رب له کوم کوم نعمت نه سترګي پټوئ.

ما دا مطلب د دې لپاره ولیکو چي له قرآن نه دفاع د هر مسلمان وجیبه ده، چي کله هم د قرآن د کوم آیت ناسم تعبیر وړاندي کېږي، که دا د کومي ډېرې مهمي مسئلې په اړه وي او که د کومي عادي قضیې په باب، باید هر مسلمان د هغه مخه ونیسي او حقیقت خلکو ته ورسوي. خلك باید د معتبرو تفسیرونو ویلو ته تشویق کړو، او د داسي تفسیرونو له ویلو ئې راوګرځوو چي ضعیف دي او په ضعیفو روایاتو ولاړ. دلته د یوه نامعلوم پاچا داسي کیسه چي له آیت سره هیڅ اړخ نه لګوي، د یوه داسي آیت په تشریح کي رااخیستل شوې چي یوه مهمه اعتقادي مسئله توضیح کوي، او داسي معلومېږي چي دا کیسه د آیت د تشریح په نیت نه بلکي د پاچا سلامت د توصیف په نیت رانقل شوې، حال دا چي قرآن د پاچایانو په هکله فرمایي: دوی د فساد عامل دي او د عزتمنو خلکو سپکول ئې کار!! پاچا او د یوه داسي آیت تفسیر لټول او د هغه لپاره له خپل تخته راکوځېدل، هیڅ عقل ئې نه مني، او په تاریخ کي ئې بېلګه نه ګورو.

بسم الله الرحمن الرحيم

# باغي معبود شو!!

د زمانې په هر پړاو کې چې خلکو د انسان په بڼې کې ځان ته معبود جوړ کړی، دا کاذب او دروغجن معبودان یا ټګمارو مذهبي مشرانو جوړ کړي، یا مکارو سیاسي مشرانو؟! کاذب معبود هم د مذهبي مشر په لاس کې دام وي او هم د مکار سیاسي مشر په لاس کې د خپل حریف د ماتولو توره او ډال، او دا دواړه د انساني نړۍ عجیبې او حیرانوونکي کرشمې دي. یو داعي او مصلح به د ظلم خلاف قیام وکړي، د محکومو او مظلومو انسانانو لپاره به آزادي او عدالت وغواړي او په اوچت غږ به وواییي: انسانان ټول برابر پیدا شوي، ظلم او جهل دوی په خپلو کې ویشلي، له یوه ئې بادار او له بل نه مریی جوړ کړی، دا د ظلم نظام رنګ کړئ، دا د مظلومانو په لاس پښو کې پراته زنځیرونه مات کړئ، انسان باید له خپل رب نه پرته بل ته سر ټیټ نه کړي... مظلومان به ده او د ده دعوت ته د شك په سترګه وګوري، ظالمان به ئې خطرناك وګڼي، د امپراطور له نظام، دین او مذهب نه د بغاوت په جرم به متهم شي، مذهبي مشران به ئې د وژلو فتوی ورکړي، قاضي به ئې په قتل محکوم کړي، په دار به شي، جسد به ئې په اور کې واچولی شي، په صلیب به وځړولی شي، خو همدا باغي، مطرود ، محکوم او په صلیب ځړول شوی به پس له لنډې مودې د یوه نوي امپراطور لپاره د خپل مخکني رقیب په ضد یوه مؤثره وسیله شي، هغه به د ظلم قرباني وګڼي، مجسمې به ئې جوړې کړي، هماغه مخکني مذهبي مشران به ئي یوه سپیڅلې هستي وګڼي، د ده د لمانځنې فتوی به ورکړي، له ده سره به هر مخالفت او د ده په ضد هره وینا او له عظمت نه ئې هر

انکار به له خدای او له نوې نظام او له نوې دین او مذهب نه بغاوت وګڼي، هومره تبلیغات به ورته وکړي چې عوام به ئې خدای وګڼي، د هغه مجسمې به جوړې کړي، یو به ئې د مجسمو دکان جوړ کړي، دا به ئې حرفه شي، په خرڅولو به ئې ډېر څه ترلاسه کړي، بل به ئې د څه ترلاسه کولو لپاره مجسمې ته په سجده شي، هغه ته به خپل حاجتونه وړاندي کوي، مرستي ته به ئې رابولي، د خدای ځای ناستی به ئې کړي، په دې ترتیب به د نوې سیاسي نظام په څنګ کي نوی مذهب رامنځته شي، د زوړ نظام باغي به د نوي نظام (اله) شي، تګمار مذهبي مشر به هم د (باغي) ګرځولو په فتوی سره خپله اجوره ترلاسه کړي او هم له هغه (باغي) نه د (اله) جوړولو په فتوی سره!! پرون د مخکني نظام د معبد مجاور وو او نن د هغه (باغي) د قبر مجاور او متولي، دا د طاغوت په لاس د هر محرف مذهب د رامنځ ته کېدو قصه ده او دا د شخصیتونو، قبرونو او بتانو د لمانځونکو قصه ده. له بودا سره همداسي وشول، له عیسی علیه السلام سره همداسي وشول او له ډېرو نورو سره همداسي!!

آیا دې ته مو توجه کړې چې څنګه نن د هري کلیسا په هر دېوال د عیسی علیه السلام هغه مجسمه ترسترګو کېږي چې په صلیب ئې ځوړند ښیي، په لاسونو او پښو ئې مېخونه ټك وهل شوي، وجود ئې تغمې تغمې، زخمي زخمي او په وینو سور؟ له مجاور نه پوښتنه وکړه چې دا څوك دی؟ ولې په داسي دردوونکي حالت کي ښودل شوی؟ ځواب ئې دا دی: دا مسیح، د خدای زوی او په خپله خدای دی، ځمکي ته راغلی وو، د خپلو بندګانو د ژغورنې لپاره!! پوښتنه وکړه: مګر څوك کولی شي چې خدای په دار کړي، په لاسونو ئې مېخونه ټك وهي، په درو ئې ووهي؟ ځواب ئې دا دی: هیڅکله نه، ده په خپله ځان قربانۍ ته وړاندي کړ، چې زموږ د ګناهونو فدیه ورکړي او د قیامت په ورځ د ده ټول منونکي له مؤاخذې او مجازات نه پرته مخامخ جنت ته ولاړ شي!! پوښتنه وکړه: دا نورې مجسمې د چا دي، دوی ولې په صلیب ځوړند ښودل شوي، دوی هم هر یو بېل خدای وو که همغه یو خدای په بېلو بېلو څېرو کي؟ وایي به: دا د مسیح حواریون وو، د ده ملګرتیا ئې وکړه او په همدې جرم په صلیب ځوړند او په اور کي وسوځول شول، پلار خدای او زوی مسیح همداسي غوره ګڼله!! پوښتنه وکړه: دا ولې د هغه صلیب نښه نن د هر

مسيحي په سينه ځوړنده ده؟ په دې صليب خو بايد د هغه امپراطور جسد ځوړند شوی وی او د هغه د قبر د پاسه نصب شوی وی چې دا ئې مسيح عليه السلام او د ده د حواريونو لپاره جوړ کړی وو!! ولې بايد د مسيحيانو د غاړو طوق وي؟صليب خو د ماتولو دی نه د لمانځلو، دا خو د وحشت او ظلم نښه ده، سپکول او سوځول ئې پکار ده، نه په غاړه ځوړندول؟ پوښتنه وکړه: هغه خدای به ستا حاجتونه څنګه ترسره کړی شي چې ځان ئې ونه ژغورو، خپل ملګري ئې ونه ژغورل؟ څنګه ومنو چې د ځمکي او آسمانونو پيدا کوونکی خدای د مسيح د وړوکي جسد په اندازه وړوکی کېدی شي، پر خپل ځان داسي لوبې هم منلی شي؟ او دې ته ورته سلهاوو نورو پوښتنو ته هيڅ ځواب نه شې ترلاسه کولی، يو ځواب به واورې: کليسا ته راشه، د زېړو اوبو غسل وکړه، د کشيش د لاس مقدس خواړه وخوره، مسيح ته په خپل زړه کي ځای ورکړه، په تندي او د خپلي سينې په ښي او کينې لوري داسي لاس کېده چې د صليب نښه ترې جوړه شي، حقيقت به درك کړې او د خپلو پوښتنو ځوابونه به ترلاسه کړې!!

حسين رضي الله عنه هم د ظالم او مفسد يزيد په ضد غږ اوچت کړ، د کوفې خلکو د ملګرتيا ډاډ ورکړ، خو دی ئې د کربلا په ميدان کي يوازي پرېښود، زړه ئې له ده سره خو توري ئې له يزيد سره شوې، د خپلي کورنۍ له اوياوو کسانو سره په شهادت ورسېدل، خو کله چې د يزيد واکمني پای ته ورسېده، اقتدار د ده د کورنۍ د مخالفينو په لاس کي پرېووت، نو حسين رضي الله عنه نه يوازي په خپله له شهادت نه وروسته امام حسين شو، بلکه امارت د ده د اولادې الهي مسلم حق، نه يوازي د ده په قبر زيارت جوړ شو، بلکه د ده د پلار علي رضي الله عنه لپاره هم په دغه وخت کي قبر په ګوته شو او د وخت حاکم ورباندي زيارت جوړ کړ، قبر ئې هم د وخت حاکم د يوه (خوب او رؤيا) په ترڅ کي وموندو، تر دې وخته ئې قبر هيچا ته نه وو معلوم، له دې نېټې وروسته نه يوازي په نجف کي بلکه په ډېرو نورو ځايونو کي هم د ده په نامه زيارتونه جوړ شول، په مزار شريف او د کابل په کارته سخي کي هم!! چا چې يزيد ته د امام حسين رضي الله عنه د وژلو فتوی ورکوله د يزيد له تلو وروسته د دې زيارتونو مجاور شو، د چا چې توري له يزيد سره وې

اوس د کربلا د پېښې په ياد خپلې سينې په زنځيرونو وهي، تورې جامې اغوندي او وير کوي!! همدا کسان د ده اولاده يوازني حقيقي امامان گڼي او يو پنځه کلن لمسی ئې داسې امام زمان گڼي چې خدای ته په خپلو دعاگانو کې وايي: خدايه! امام زمان له موږ نه راضي کړه، خدايه! د قيامت په ورځ مو د امام زمان په وړاندې شرمنده نه کړې، خدايه! زموږ دعا گانې امام زمان ته ورسوه!! اوس نو خدای د امام زمان قاصد شو، خدای د امام زمان په دربار کې يو شفيع شو، له هغه نه دا غواړي چې د امام زمان په وړاندې د دوی شفاعت وکړي!! ځينې وايي دا امام زمان پنځه کلن ماشوم وو چې له خپله کوره غايب شو، نه ئې تر دې وخته د شهادت کلمه زده وه، نه ئې يو رکعت لمونځ کړی، نه ئې روژه نيولې، نه په قرآن پوهېدو، ... خو سره له دې د خلکو لارښود او امام شو!! چا امام کړ؟ خدای، چا درته وويل چې خدای د خلکو لپاره يوه پنځه کلن ماشوم امام ټاکلی؟ نه قرآن دا خبره کړې او نه پيغمبر عليه السلام، قرآن خو د ابراهيم عليه السلام په هکله وايي چې په ډېر سختو آزموينو کې له بريا وروسته د امام په توگه وټاکل شو، دا ستا امام زمان څنگه په پنځه کلنۍ کې امام شو؟!! فوراً درته وايي: داسې خبرې مه کوه چې کافر کېږې!! امام او لارښود خو هغه چا ته وايي چې د خلکو مخې ته روان، په لمانځه کې ورته مخکې او په ژوند کې ئې لارښود وي، غايب کس ته د امام لقب کارول يوه مغالطه ده، الله تعالی به څنگه د خلکو لپاره غايب امام ټاکي؟!! دا په داسې حال کې چې د دغه امام زمان د پلار په اړه د ده ورور وايي چې زما ورور حسن عسکري زوی نه درلود!!

چا چې له قصرونو او د قصرونو له واکمنانو نه کرکه درلوده، هر قصر ئې د ظلم نښه گڼله او په همدې جرم له مخالفتونو سره مخامخ کېدو او چا چې هر جگ قبر ړنگاوو، اوس د دوی له قبرونو نه داسې قصرونه جوړ شوي چې نه فرعون په خپل ژوند کې درلود، نه نمرود او نه يزيد. عجيبه ده، عجيبه؛ د ژوندي لپاره قصر حرام دی او د مړي لپاره جائز او د ثواب کار!!

هو؛ په کربلا کې ستر جنايت وشو، دردوونکی او نه هېرېدونکی، خو کاش تا د کربلا د دردوونکې پېښې ترڅنگ هغه توره ورځ هم غندلې چې کربلا او نجف

صليبي ځواکونو اشغال کړل او په لسهاوو زره مظلوم عراقيان، د امام حسين د جد امتيان، په خپلو وينو کي ورغړېدل، خو دا دی برعکس ګورو چي د نجف مجاور په لندن کي معالجه کېږي او عراق ته له راستنېدو وروسته د نجف او کربلا کنجیانې امریکایانو ته سپاري!!

مسيحي د عيسی عليه السلام مذهب هېر کړ او د ده د مجسمې لمانځل ئې مذهب شو او ده د امام حسين د جد دين ته شا کړه، د امام حسين د قبر لمانځل ئې مذهب شو. ګورئ چي مسيحي د صليب طوق په غاړه ګرځوي او دا د کربلا له خاورې نه د جوړ شوي مهر ټاپې په خپل تندي!!

دا دی ګورئ چي سياست کله له پيغمبر نه د مذهب باغي جوړ کړي او کله له دينداره باغي نه خدای!! که د ټګمارو مذهبي مشرانو او د مکارو سياستمدارانو مکرونه عجيب دي، نو تر دې د هغه چا سفاهت د لازيات حيرت او تعجب وړ دی چي د دوی د مکر په دام کي پرېوځي او (دروغ) د (مذهب) په نامه مني!! خو نه؛ ترڅو چي دنيا وي، ساده لوح او سفيه انسانان به هم وي او د ټګمارو په دام کي به د دوی پرېوتل هم!! که سامري له سخوندر نه معبود جوړولی شي او هندو له غوا نه، که د يهودو ملايان د يوه واکمن په دربار کي مريم په زنا متهم کوي او زوی ئې ساحر ګڼي، خو د بل واکمن په دربار کي ئې دا د خدای مور ګڼي او زوی ئې د خدای زوی، نو له پنځه کلن غائب ماشوم نه امام زمان جوړول او خدای د ده قاصد ګڼل هم ډېره نادره خبره نه ده!! نو په دې هم ډېر تعجب مه کوئ چي څنګه يوه داسي کس ته له مرګ نه وروسته د امام لقب ورکوي چي له بل سره ئې بيعت کړی او د هغه تر امامت لاندي ئې په دولت کي کار کړی، وائې: دا د دې لپاره چي هغه (تقيه) کوله، (تقيه) خو د ثواب ستر کار دی، هومره چي ترشهادت نه ئې هم اجر زيات دی!! يعني (مذهبي خدعه) نه يوازي جائزه ده بلکه د ثواب موجب!! په دې هم حيرت مه کوه چي ولې به هغه څوك په خپله د زهرو جام څښي چي په غيب پوهېږي، همغه کار چي وايي امام کاظم وکړ!! او عالم الغيب به ولې په داسي خلکو اعتبار کوي چي د اعتبار وړ نه دي او دی به په ميدان کي يوازي پرېږدي او ولې به هغه څوك له خپل ملك نه شړل کېږي چي (متصرف الامور) ئې ګڼي او د (حاجتونو د تر سره کېدو

مرجع) ئې بولي، څوك چې په خپل ژوند كي نه خپل مشكلات حل كولى شي او نه د خپلو ملګرو، نو له مرګ نه وروسته به څنګه د ژوندیو ستونزي حل كړي؟

مسیحیان د عیسى علیه السلام بیا راتلو ته منتظر دي، خو كه هغه راغى نو تر هرڅه د مخه به دوى د ده مخالفت كوي، د خپلو پلرونو په څېر به د هغه د وژلو لپاره ملا تړي، پلرونو ئې په دې خاطر د ده د وژلو هوډ وكړ چې دى یو انسان دى، نه له ځانه دفاع كولى شي او نه له خپلو ملګرو نه، د خداى پیغمبر خو باید داسي نه وي، باید فرشته وي او د سترګې په یوه رپ او د ګوتې په یوې اشارې سره باید ځمكه او آسمان وخوځولى شي او د دوى اوسني زامن به ئې هم دروغجن ګڼي ورته وائې به: ته هغه عیسى نه یې چې موږ ورته منتظر وو، ته یو عادي انسان یې، عیسى خو د خداى زوى دى او په مټو كي ئې د خداى زور. یهودان مسیح ته منتظر وو خو چې مسیح راغى منتظر مسیح ئې ونه ګاڼو او ایمان پرې رانهووړ!!

كه دا نن هغه امام زمان راشي چې ځیني ورته منتظر دي او ووایي: د زمانې د فرعون او د وخت د یزید په خلاف قیام وكړئ، له اسلام نه دفاع ته چمتو شئ، خپل هېواد د صلیبي ځواكونو له سلطې نه آزاد كړئ، نو وبه ګورئ چې تر هر څه د مخه ئې هغه څوك مخالفت وكړي چې نن وایي: عجل الله فرجه الشریف: خداى دې د ده راوتل رانږدې كړي!! دغه خلك به ورته وایي: ته خو هغه امام زمان نه یې چې موږ ئې په انتظار كي وو، ته خو له موږ نه مرسته غواړې او له هغه نه خو به موږ مرسته غوښته!! ته موږ قیام او جهاد ته رابلې، حال دا چې امام زمان خو د یوې ګوتې په خوځولو سره ځمكه او آسمان خوځولى شي!!

موږ هم د مسیح راتلو ته منتظر یو، خو (انسان مسیح) ته، هغه چې د یوه انسان په څېر به ژوند كوي او لومړى كار به ئې د صلیب ماتول وي. موږ هم مهدي ته منتظر یو، خو یوه (انسان او مجاهد) مهدي ته، نه د خداى ځاى ناستي مهدي ته، داسي مهدي ته چې د توحید او عدالت لپاره به جهاد كوي او لومړى جنګ به ئې له هغو آخوندانو سره وي چې مشرك شوي، د جهاد مخالفت كوي او له دین نه ئې دكان جوړ كړى. په دې حیرانوونكو خبرو تعجب مه كوه، دا ځكه چې سیاست له پیغمبر نه د مذهب باغي جوړولى شي او له باغي نه خداى او معبود!!

# ادراك او احساس د زړه كار دی كه د دماغ ؟

محترم ورور داكتر ذاكر نايك السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

ستا ځيني ويناوي مي واورېدې، هغه مي ډېري په زړه پوري او مفيدي ومونديې، الله تعالى دي تاسو او ستاسو ملګرو ته ډېر اجر او مزيد توفيق دركړي.

د زړه او دماغ په اړه د يوې پوښتونكې خور په ځواب كي چي تاسو څه ويلي وو، هغه به حتماً ستاسو په ياد وي، ما دا لازم وګڼل چي په دې هكله تاسو ته لاندي مطلب وليكم:

قرآن ځيني خبري زړه ته منسوب كړې دي، لكه چي د كافرانو په هكله فرمايي: (لهم قلوب لايفقهون بها)، (ختم الله على قلوبهم) ...، په ګڼ شمېر نورو آيتونو كي هم دې ته ورته مطالب راغلي. د زړه په هكله د قرآن له دغو څرګندونو داسي معلومېږي چي ګواكي زړه د احساس او ادراك مركز دی، حال دا چي علمي تحقيقات زړه نه بلكي د انسان دماغ د احساس او ادراك مركز ګڼي، او زړه يوازي دويني د پمپ كولو وسيله بولي، دغه توپير ته په پام سره له حقيقت نه بې خبره خلك اعتراض كوي چي قرآن ولې هغه څه زړه ته منسوب كړي چي په اصل كي د زړه كار نه بلكي د دماغ كار دی. ولې ئې دا خبري د انسان دماغ ته نه دي منسوب كړې؟!! دې پوښتني ته د ځواب او د دغو كسانو د تشويش د رفع كولو لپاره لاندي وضاحت كوو:

- قرآن چي څه زړه ته منسوب كړي، دا د نړۍ په هر ګوټ كي، د هر قوم لخوا او په هره ژبه كي زړه ته منسوب شوي، تاسو به په هر ځاى كي له هر چا واورئ چي

مينه او کرکه، جرأت او جبن، تصديق او تکذيب، خوښي او خفگان، باور او انکار زړه ته منسوبوي، په دې هکله د قرآن وينا نه د تعجب وړ ده، نه اعتراض پرې وارد او معقول دی او نه د علمي تحقيقاتو خلاف ده. دا خبري نه يوازې په تورات، انجيل، زبور او ټولو مذهبي کتابونو کې زړه ته منسوب شوې بلکي د مارکس، انګلز او لينين په شمول د ملحدينو په کتابونو کې هم، شعراوو هم زړه ته منسوب کړې او ليکوالانو هم، عوامو هم او علماوو هم، ديندارو شعراوو او علماوو هم او بې دينه شعراوو او ساينس پوهانو هم! دا ولې او د څه لپاره؟ دليل ئې دا دی:

• زړه د دماغ لپاره د سترګو، غوږونو، پزې او پوستکي په شمول يوه وسيله ده، که دغه پنځه حواس ئې د پېژندو او احساس وسايل دي نو زړه ئې د خپلو پرېکړو د انعکاس لپاره داسې وسيله ده چې له دې لارې خپلې پرېکړې اعلانوي. موږ په خپلو سترګو کوم خطرناك شی وګورو، او يا په غوږونو کوم خطرناك غږ واورو، او يا د پزې له لارې د څه د سوځېدو بوی او په ژبه کوم تريخ او زهرجن خوند احساس کړو، دماغ مو خطر درك کړي، غواړي موږ له دې خطر نه خبر کړي، نو د خطر دا اعلان زموږ د زړه له لارې کوي، خپله پرېکړه د زړه له لارې منعکس کوي، موږ د خطر لومړی زنګ په خپل زړه کې احساسوو، ناڅاپه مو د زړه دربا زياته شي، همدا وجه ده چې په ټولو انساني ژبو کې وېره او د خطر احساس زړه ته منسوب شوی. هيڅېږي به له هيچا وانه ورئ چې ډاډ او وېره له زړه پرته بل څه ته منسوب کړي، جرأتمند ته زړه ور او ډارن ته بې زړه د همدې لپاره ويل کېږي. د ميني او کرکي احساس په زړه کې کېږي، د خپل ګران زوی، لور او کوم دوست شېره را په ياد شي، او له همدې سره سم په خپل زړه کې خاص حرکت احساس کړو، د همدې لپاره وايو: په زړه کې مي ځای لري، د زړه سر مي دی، زړه مي ورته پرېشانه دی. او له چا چې کرکه لرو، د شېرې په رايادولو سره ئې په خپل زړه کې خاص حالت احساسوو، او وايو: زړه مي ترې موړ دی، زما په زړه کې هيڅ ځای ورته نه دی پاتې. يوه خبره واورې، سمه درته معلومه شي، فيصله دې دماغ کړې، د غوږ له لارې لومړی دماغ ته رسېدلې، هلته ورباندې غور شوی، خو د دې غور نتيجه په خپل زړه کې محسوسوې، د همدې لپاره وايې: دا خبره مي زړه ته ولوېده، زړه مي راته وايي چې

دا خبره رښتیا ده، او د غلطي خبري په هکله وايې: زما زړه ئې نه مني، دا خبره مي زړه ته ونه لوېده، د زړه دړه مي ورته خلاصه نه شوه.

• زړه ته د دې خبرو منسوبول داسي دي لکه موږ چي لېدل سترګو ته منسوبوو، حال دا چي سترګې فقط دوه عدسيې دي چي له دې لاري نور دماغ ته انتقالېږي، د ليدل شوي شي په هکله پرېکړه په دماغ کي کېږي، ليدل په حقيقت کي د دماغ کار دی نه د سترګو، که ستا د دماغ هغه برخه صدمه وګوري چي کار ئې ليدل او د سترګو له لاري د وررسېدلو وړانګو په هکله پرېکړه ده، نو ته به په خپلو روغو سترګو هم څه نه شې ليدلی. همدا راز زموږ غوږونه په حقيقت کي دوه کړکۍ دي چي له دې لاري غږ تر دماغ پوري رسېږي، د غږ تشخيص د دماغ کار دی نه د غوږونو، همدا رنګه زموږ نور حواس هم چي هر يو ئې يوازي د دماغ لپاره د يوې وسيلې حيثيت لري، خپل راپور دماغ ته انتقالوي، تشخيص د دماغ کار دی، نه د دغو حواسو. خو هيڅوك داسي نه وايي چي ما په خپل دماغ سره ليدلي، يا اورېدلي، يا څکلي، يا بوی کړي، يا لمس کړي، که داسي خبره وکړي نو هرڅوك به ورباندي خاندي، حال دا چي ده غلطه خبره نه ده کړې، د ده اشتباه او غلطي دا ده چي د خلکو د معمول او عادت خلاف خبره ئې کړې.

• ما ته ووايئ: تاسو وېره چيرته احساسوئ، په زړه کي که په دماغ کي؟ د ميني احساس د خپل وجود په کومي برخي کي کوئ، په زړه کي که په دماغ کي؟ د يوې خبري په حقانيت د قانع کېدو احساس مو په زړه کي وي که په دماغ کي؟ دا او دې ته ورته ډېر نور څه موږ په خپل زړه کي احساسوو او د همدې لپاره ئې زړه ته منسوبوو، قرآن همدا کار کړی، او ټول انسانان همدا کار کوي.

• په قرآن کي زړه ته منسوب شوي امور نه يوازي د حقيقت او واقعيت مطابق دي بلکي د انسانانو د عام عادت او معمول سره سم، او په ټولو ژبو کي زړه ته منسوب شوي امور دي.

ستاسو ورور

حکمتيار

و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

## د کتاب له متنه

په افغانستان او عراق باندي د امريکائي ځواکونو د بريد له پيل نه د ۱۳۸۲کال د اسد ترمياشتي د امريکايانو مالي او ځاني تلفات د دوی د اعلان شوي احصايې له مخي داسي دي:

| | افغانســـتان | عـــراق |
|---|---|---|
| د فوځي مــــــاموريت ټولي ورځي | ۲۱۲۰ | ۱۵۹۲ |
| په فوځي عملياتو کي د مړو شمېر | ۲۲۵ | ۲۹۸۲ |
| له فوځي عملياتو پرته د مړو شمېر | ۱۲۱ | ۲۴۷ |
| د شديدو سوځېدلو فوځيانوشمېر | ۸۷۲ | ۱۲۱۱۵ |
| د ټولو استخدام شويو فوځيانو شمېر | ۲۷۰۰۰ | ۱۵۷۰۰۰ |
| د ۲۰۰۷ کال تر سپتمبر پوري ټول مصارف | ۱۲۲بیلیونه ډالره | ۴۴۸بیلیونه ډالره |
| د هري ورځي مـــــــتوسط مصرف | ۵۸,۷ ميليونه ډالره | ۲۷۱ ميليونه ډالره |

دا شمېره د ۲۰۰۷ کال د جولای په ۲۴ نېټه تجديد شوې ده او په **News Meat** کي خپره شوې ده. کانګريس د ۲۰۰۵ کال لپاره اتيا مليارده (شپېته د عراق او شل د افغانستان لپاره ټاکلي وو، د ۲۰۰۶ لپاره ئې يو سل شل او د ۲۰۰۷ لپاره ئې يو سل ځلوېښت مليارده منظور کړي. دا مالي او ځاني تلفات يوازي د امريکايانو دي، د امريکا د ائتلافي ملکونو تلفات هم د دوی د فوځونو د شمېر په تناسب دي، د بېلګي په توګه په افغانستان کي د آلمان په کال کي ۱،۲ مليارده مصارف ښودل شوي.

که دا تلفات په افغانستان کي د روسانو او په ويتنام کي د امريکايانو له تلفاتو سره مقايسه کړو نو په ډاډ او اطمئنان سره ويلی شو چي امريکا ته نه يوازي يوه ستره ماتې انتظار کوي بلکي برخليك به ئې تر شوروي اتحاد هم بد وي.

دا په پام کي ولرئ چي د ويتنام د جنګ ټول مصارف ۳۲۰ مليارده او په افغانستان کي د روسانو ټول مصارف نږدي اتيا مليارده ډالر وو.